تفسیر

حکمۃ القرآن


تألیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالی

جمع وترتیب : ابو زهیر سیف الله

المکتبۃ المحمدیۃ
مینگل مارکیٹ گنج - پشاور
Mob: 0301-8828402



حکمۃ القرآن

١١

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری
حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع وترتیب : ابو زهير سيف الله

المکتبۃ المحمدیۃ
مینگل مارکیٹ گنج - پشاور Mob: 0301-8828402

د تالیف او طباعت حقوق محفوظ دی

د کتاب نوم ———— تفسير حكمة القرآن (جلد يولسم)

د مؤلف نوم ———— الشيخ ابو محمد امين الله البشاوری حفظه الله

جمعه وترتيب ———— ابوزهير سيف الله "غفر له الله"

سنۀ طباعت ———— (١٤٣٨) هجری رجب ١٦/موافق (١١/٤/٢٠١٧)

فن ———— تفسير

ناشر ———— مكتبه محمديه گنج پيښور

كمپوزنگ ———— الراقم ابوزهير

د ملاویدو پته

١- **مکتبه محمدیه** بیرون گنج گیټ پهندو روډ منگل مارکیټ پیښور پاکستان

ولی الله: 03018828402 ابوسلمان: 03025953513 ابوزهیر: 03075924001

٢- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور.

٣- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنگی پیښور.

٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان.

٥- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی: 03002615402

٦- دینی کتب خانه تیمر گره پاکستان.

٧- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك گمرك مسجد ته نزدې دكان نمبر ٢

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ○

آیاتها (۲۹)	(۴۸) سورة الفتح مدنية (۱۱۱)	رکوعاتها (٤)

سورتِ فتح مدنی دے، په دے کښې نهیشت آیتونه، او څلور رکوع دی۔

تفسير سورة الفتح

نوم : د ﴿ إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحًا مُّبِيۡنًا ﴾ آیت نه اخستے شوے۔

مناسبت :

۱- مخکښې قتال وو، دلته بشارت دے په فتح او اِنۡزَالُ السَّكِيۡنَه سره۔

۲- هلته په منافقانو رد وو، دلته بیا په منافقانو رد۔ او هلته د مؤمنانو اتلس صفات ذکر شو چه هغه د قتال فی سبیل الله دپاره علتونه وو، نو دلته داسے اتلس صفات ذکر کوی چه هغه د الله تعالیٰ د رضا کیدو اسباب دی۔

۳- هلته منع وه د دعوت کولو نه صلح ته، نو دلته وائی چه که چرے کافران صلحے ته دعوت ورکړی نو صلح وکړئ۔ (احسن الکلام)

موضوع د سورت

بشارت دے په ډیرو فتوحو سره، اوله فتح د حُدیبیه، دویمه فتح د خیبر، دریمه فتح د مکے او څلورمه فتح د هوازن او حنین ذکر ده۔ او بیا ﴿ هُوَ الَّذِىۡۤ اَرۡسَلَ رَسُوۡلَهٗ بِالۡهُدٰى ﴾ کښې فتح ده په غلبه د اسلام سره۔

د نازلیدو زمانه : قرطبیؒ لیکی چه دا سورت د ټولو په نیز مدنی دے۔ د ابن عباس رضی الله عنه

او ابن الزبیر ﷺ هم دا قول دے۔ ابن اسحاقؒ، حاکمؒ او بیهقیؒ د مسور بن مخرمهؓ او مروان قول نقل کړے چه ټول سورتِ فتح د مکے او مدینے ترمینځه د حُدیبیه د صلح په باره کښ نازل شوے۔

امام مسلمؒ په خپل صحیح کښ د قتادهؒ نه روایت کړی دی، هغه وائی، مونږ ته انس بن مالك ﷺ بیان وکړو چه د ﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا﴾ نه تر ﴿فَوْزًا عَظِيمًا﴾ پورے د حُدیبیه نه د واپس کیدو په وخت نازل شو، هر کله چه د صحابو زړونه د غم او درد نه ډك وو، او دوئ د عُمرے قربانی په حُدیبیه کښ کړے وه۔

نو د الله رسول ﷺ وفرمایل: [لَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ آيَةٌ هِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا] چه په ما باندے یو داسے آیت نازل شوے چه هغه زما په نیز د دنیا او ما فیها نه زیات بهتر دے۔

(صحیح مسلم: ٤٧٣٧)

محمد بن سعدؒ لیکلی دی چه دا ځائے (ضَجنان) دے چرته چه دا سورت نازل شوے۔

سیوطیؒ په (الاکلیل) کښ لیکلی چه دا ځائے (کراع الغمیم) وو، او ابو معسرؒ وائی جُحفه وه۔ حافظ ابن حجرؒ وائی چه دا درے واړه ځیونه یو بل ته نزدے دی۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه دا سورت په رسول الله ﷺ باندے هغه وخت نازل شو کله چه په ذی القعده (٦) هجری کال نبی ﷺ د حُدیبیه نه مدینے ته واپس راتللو۔ مشرکانو نبی ﷺ د عُمرے اداء کولو دپاره د مسجد حرام نه منع کړے وو، او آخر خبره په صلح باندے ختمه شوه چه د هغے تفصیل لاندے راځی۔

د واقعے تفصیل

د صلح حدیبیه واقعه بیانولو سره ددے سورت په جملو باندے ښه پو هیدل راځی۔

چه د هغے بعض خاکه دا ده: رسول الله ﷺ چه کله مدینے ته هجرت وکړو مشرکان ډیر زور کښ وو، د مسلمانانو نه ئے هیڅوك مکے ته نهٔ پریخودل، هیڅا عمره او حج نشو کولے، د مکے مؤمنانو باندے هم تکلیف وو۔ پدے کښ د بدر غزا وشوه بیا د اُحد وشوه بیا د خندق غزا نه روستو لږ ساړه شول، لکه رسول الله ﷺ وفرمایل:

[اَلْآنَ نَغْزُوْهُمْ وَلَا يَغْزُوْنَا] اُوس به مونږ په دوی حملے کوو او دوی به ئے په مونږ نشی کولے۔ تر شپږم کاله پورے تقریباً څه دپاسه درے زره مسلمانان پیدا شویدی، دا په نولسو

کالو کښې، بیا د صلح حدیبیه نه روستو ډیر زیات شو ددې وجه دا وه چه مخکښې د کافرانو سره میل جول (تعلق) نۀ وو، نو دعوت مخکښې نۀ تللو او کله چه د صلح حدیبیه په موقعه راشه درشه شروع شوه نو خلق د اسلام د حقانیت نه خبر شو۔

په شپږم کال د هجرت کښې رسول الله ﷺ خوب ولیدو چه زۀ عمرې ته تلې يم او ملګری هم راسره دی، او طواف د بیت الله مو کړیدې او په هغې کښې بعض ملګرو سرونه خرئیلی او بعضو لنډ کړیدی۔

دا خوب ئې صحابه کرامؓ ته بیان کړو، هغوی پدې ډیر سخت خوشحاله شو (ځکه چه د نبی خوب وحی وی) (او دلته د کعبې پسې هم خفه دی) لیکن په خوب کښې د کال تعیین نۀ وو شوې۔ نو رسول الله ﷺ اعلان وکړو چه عمرې له به ځو (او دا عمره پدې وخت کښې فرض وه ځکه چه د رسول الله ﷺ د اتباع د وجه نه وه) تقریباً (څوارلس نیم سوه) مسلمانان تیار شو، دوی ځان سره هدایا واخستې (عمره کښې هدایا وړل نشته لیکن دلته دا ګمان کیدې شو چه کافران به ئې عمرې ته پرینږدی نو ددې هدایاؤ په ذبح کولو سره به د احرام نه ځانونه وباسی) او تورې او وسلې ئې هم ځان سره واخستې روان شول، مکې ته نزدې ورسیدل۔

(دلته منافقان پاتې شول ځکه چه دوی ویل چه دا خو د زمری په خوله کښې ځانٔ ورکول دی) صرف یو منافق لاړو۔ (مګر هغه هم الله د حدیبیه په علاقه کښې رابښکاره کړو) کله چه دوی حدیبیه علاقې ته ورسیدل، هلته ئې دمه وکړه او صحابه کرامؓ ته ئې وویل چه که مشرکان ما سره هر قسم صلح کوی نو زۀ تیار یم کله چه په هغې کښې د الله د حرم تعظیم راځی۔ بیا ئې اُوښه پورته کړه نو مکې طرفته نۀ تلله او کله چه به ئې بل طرفته متوجه کړه نو منډه به ئې کړه، صحابه کرامؓ وویل :

(خَلَأَتِ الْقَصْوَاءُ) اُوښې خو د خپل عادت خلاف وکړو۔ رسول الله ﷺ وفرمایل : (حَبَسَهَا حَابِسُ الْفِيْلِ) دا هغه ذات بنده کړه چه فیل (هاتی) ئې بند کړې وو۔ (مونږ هم حرم ته نۀ پریدی) اُوښه ئې چه بیا پورته کړه نو هغه حدیبیه علاقې ته لاړه چه هلته یو کوهې وو د هغې غاړې ته کیناسته نو رسول الله ﷺ هملته پړاؤ واچولو۔

او وې فرمایل چه څه به کوؤ۔ نو پدې کښې مشرکان خبر شو چه نبی ﷺ د عمرې په نیت راغلې دې۔ نو هغوی مشوره وکړه چه حرم ته ئې نۀ پریدو (پدې کښې زمونږ شرم

دے، عرب به وائی چه په زوره ئے ترے عمره وکړه) نو دلته ورسره خبرو اترو دپاره راغلل۔ یو تن ئے راولیږلو (بدیل بن ورقاء الخزاعی) د هغه سره خبرے وشوے چه مونږ جنګ له نهٔ یو راغلی او عمره کول غواړو، هغه واپس راغلو، مکے والو ته ئے وویل چه که زما خبره آورئ نو کوم ئے او که نهٔ وی نو نهٔ ئے کوم؟ کشرانو وویل : نهٔ آورو، مشرانو وویل چه وایه : وے ویل هغه وائی چه زهٔ صرف عمرے له راغلے یم او جنګ له نهٔ یم، او هر چه زما اسلام دے نو تاسو ما عربو ته پریدئ که زهٔ پرے غالب شوم نو ستاسو خوښه ده چه اسلام ته راځئ او که نهٔ؟ خو هغه وخت پورے به په راحت کښې شئ او که تاسو زما مقابله کوئ نو زهٔ به ستاسو سخته مقابله کوم۔ نو دهٔ وویل چه زما رائے دا ده چه دا به عربو ته پریدو۔ نو خلق ورته په غصه شو چه تهٔ ترے متأثره شوے۔

بیا عروه بن مسعود ثقفی راغے هغه د صحابه کرامؓ حالت وځارلو نو رسول الله ﷺ ته ئے وویل چه زما ګمان دے چه تا سره ګډوډ خلق رایوځای شویدی او کیدے شی چه دوی به تا نه وتښتی نو ابوبکر صدیق ﷺ ورته کنځلے وکړے :

[اُمْصُصْ بَظْرَ اللَّاتِ، اَنَحْنُ نَفِرُّ عَنْهُ وَنَدَعُهُ]، آیا مونږ به ترے تښتو او دے به یواځے پریدو؟ هغه وویل دا څوك دے؟ وویل شو، دا ابوبکر دے، وے وئیل : که ستا ما سره یو احسان نهٔ وے چه ما د هغے بدله لا نهٔ ده درکړے نو ما به تا ته جواب درکړے وے۔ دهٔ هم رسول الله ﷺ سره ډیرے خبرے وکړے، بیا قریشو ته واپس شو او دا ئے ورته وویل چه اے قومه!

[لَقَدْ وَفَدْتُ عَلَى الْمُلُوْكِ وَوَفَدْتُ عَلٰى قَيْصَرَ وَكِسْرىٰ وَالنَّجَاشِيِّ فَمَا رَأَيْتُ مَلِكًا قَطُّ يُعَظِّمُهٗ اَصْحَابُهٗ مَا يُعَظِّمُ اَصْحَابُ مُحَمَّدٍ مُحَمَّدًا]۔

زهٔ د ډیرو بادشاهانو ملاقات ته ورغلے یم او هرقل او کسریٰ او نجاشی ته ورغلے یم، خو ما هیڅ یو بادشاه داسے نهٔ دے لیدلے چه د هغهٔ ملګری داسے تعظیم او اکرام کوی څرنګ چه د محمد (ﷺ) ملګری د هغهٔ کوی۔ قسم په الله هغه خراچکے نهٔ ګوزاری مګر د یو تن په لاس کښې واقع کیږی او نزدے ده چه دوی د هغه د اوداسه په اُوبو باندے جنګ وکړی۔ او هغه تاسو ته ستاسو د فائدے یوه خطه (مشوره) پیش کړیده دا قبوله کړئ۔

بیا بل مشرك (مکرز بن حفص) راغے۔

پدے کښې رسول الله ﷺ عثمان ولیږلو چه تهٔ لاړ شه او هلته خبره وکړه چه مونږ جنګ له نهٔ یو راغلی، او بله دا چه په مکه کښې څه مؤمنان دی هغوی زمونږ د راتګ

نه خبر كړه، عثمان ﷺ چه مكے ته ورغے نو آل العاص چه ددهٔ خپلوان وو، هغوى ځان سره په اُوښ باندے كينولو او امن ئے وركړو، پيغمبر ئے ډيرے اُوچتے كړے وے نو مشركانو ورته وويل چه دا دِے څه كړيدى؟ (آيا اُويه خور خو نهٔ كوے) هغه وويل :
[هٰكَذَا يَتَّزِرُ صَاحِبُنَا] دا زمونږ د رسول طريقه ده. پداسے مقام كښ ئے هم دعوت وكړو، او مشرك ته ئے ددے دعوت وركړو. بيا هغوى ورته وويل چه ته عمره وكړه نو هغه وويل : قسم په الله ! كه زهٔ ئے وكړم، چه محمد رسول الله ﷺ نهٔ وى كړى او زهٔ به ئے كوم. (دے ته د صحابه كرامؓ فقاهت وائى) د رسول الله ﷺ نه ځان نهٔ مخكښ كوى.
دلته كښ شيطان خبر خور كړو چه عثمان ئے شهيد كړو نو رسول الله ﷺ ډير خفه شو او د ملګرو نه ئے بيعت واخستو چا په قتال بيعت وكړو او چا په مرګ باندے چه مونږ به ځان وژنو ترڅو چه د عثمان بدل مو نهٔ وى اخستے.
ټولو مسلمانانو بيعت وكړو او ټول جنګ ته تيار شو (الله ورله په نيت باندے اجر وركړو او د خپلے رضا اعلان ئے ورته وكړو) صرف يو منافق (جد بن قيس) ددے بيعت نه پاتے شو د هغه نه سور اُوښ ورك شوے وو، هغه وويل چه زما بيعتونو ته ضرورت نشته.
رسول الله ﷺ وفرمايل : ټول د ونے لاندے بيعت كونكو صحابه كرامو ته بخنه وشوه سوئ د سور اُوښ والا نه.
لږ وخت روستو عثمان ﷺ راغے. نو پدے كښ قريش پوهه شو چه دا خلك جنګ له نهٔ دى راغلى نو هغوى هم صلحے ته تيار شو نو سهيل بن عمرو ئے راوليږلو (چه دا روستو جليل القدر صحابى ګرزيدلے دے ﷺ) رسول الله ﷺ د هغه د سهيل د نوم نه فال ونيولو چه اُوس به كار آسانيږى، هغه د څه خبرو اترو نه روستو د صلح شرطونه مقرر كړل چه د هغے بيان دا دے :
١ – سږ كال به عمره نهٔ كوے ځكه چه دے كښ زمونږ شرم دے، عرب به وائى چه عمره ئے ترے په زوره وكړه.
٢ – كال له چه راځے نو مكه كښ به صرف درے ورځے تيروئ.
٣ – تورے به مو په تيكو كښ بندے وى.
٤ – كه ستا نه كوم شخص دلته پاتے كيږى هغه به پاتے وى، او كه زمونږ نه څوك درغلو نو مونږ ته به ئے بيرته واپس كوئ. دا شرط په صحابه كرامو ډير دروند ولګيدو

چه دا څرنګ وشي. د الله رسول وفرمایل چه که مونږ نه څوك لاړو نو هغه خو مرتد شو، الله دِے ئے هلاك كړي په هغه څه كوو؟ او كه د هغوی نه څوك راشي بيرته به ئے وركړو، الله به ورله يوه لاره پيدا كړي.

پدے شرطونو كښ د زنانو تذكره ونشوه،

٥- زمونږ او ستاسو به تر لسو كالو پورے صلح وی.

٦- كه ستا په صلح كښ كومه قبيله داخليږی او كه زمونږ هر چا ته اختيار دے، نو خزاعه د رسول الله ﷺ سره او بنو بكر د قريشو سره داخل شول.

٧- او دا شرط هم وو چه چا په خزاعه حمله وكړه هغه به په رسول الله ﷺ حمله وی او كه چا په بنو بكر وكړه نو هغه به په قريشو حمله وی. ددے وجه نه د مكے فتح هم پدے طريقه راغله چه بنو بكر په خزاعه حمله وكړه نو دوی دا وعده ماته كړه، رسول الله ﷺ د خپلو حليفانو په مدد كښ مكے طرفته روان شو.

رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته حكم وكړو چه پاخيږئ اول څاروی ذبح كړئ، بيا احرام كوز كړئ. ملګری ډير جذبه كښ وو چه دا خو زمونږ ذلت دے چه د دوی سره ئے منو. دے وخت كښ عمر فاروق ﷛ وفرمايل :اے د الله رسوله ! آيا تا مونږ ته نهٔ وو وئيلی چه مونږ به عمره كوو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :آيا ما وئيلی وو چه سږ كال به ئے كوو، نهٔ، كال له به ئے وكړو. بيا ئے ووئيل : آيا زمونږ مړی په جنت كښ نهٔ دی، او د هغوی مړی په اُور كښ؟ نو بيا مونږ په دين كښ ولے دوی ته خپل ذلت وركوو؟.

نبی عليه السلام وفرمايل : همداسے ده. ليكن ما ته د الله حكم دے. او زهٔ د الله رسول يم او الله به ما نهٔ ضائع كوی. بيا ئے ابوبكر صديق ﷛ ته دغسے خبرے وكړے نو هغه هم دغسے جوابونه وركړل څرنګ چه رسول الله ﷺ وركړی وو.

عمر فاروق ﷛ فرمائی : ما روستو ددے دپاره ډير عملونه وكړل چه ولے ما داسے تيزی وكړه (ليكن دا تيزی د الله د خاطره وه).

پدے كښ رسول الله ﷺ سره خيمه كښ ام سلمه وه، رسول الله ﷺ هغے ته شكايت وكړو نو هغه ډيره هوښياره وه، دا مشوره ئے وركړه چه اے د الله رسوله ! تهٔ بهر ووځه او خپل سر وخرئيوه، خلق به تا وينی، هغوی ستا تابعداری ضرور كوی.

نو رسول الله ﷺ څارویے ذبح كړو او بيا ئے يو صحابی راوغوختو او سرئے پرے

وخرئيلو۔ او ددے نه روستو مدينے طرفته واپس شول۔ په واپسئ كښ دا سورت هغه ځائے نازل شو چه د هغے تذكره مخكښ وشوه۔

په خط كښ چه ليكل كيدل نو اول ئے بسم الله الرحمن الرحيم وليكل نو سهيل بن عمرو وويل چه دا مۀ ليكه (مونږ رحمٰن نۀ پيژنو) بلكه (بِاسْمِهٖ تَعَالٰی) وليكه۔

(هٰذَا مَا قَاضٰی مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه) دا هغه شے دے چه پدے سره محمد رسول الله ﷺ د قريشو سره صلح كوی۔ نو سهيل وويل چه (رسول الله) لفظ پكښ مۀ ليكه، كه مونږ تۀ د الله رسول ګڼړلے نو آيا تا سره به مو جنګ كولے او د بيت الله نه به مو منع كولے؟۔ محمد بن عبد الله وليكه۔ رسول الله ﷺ وفرمايل: زۀ محمد بن عبد الله هم يم او د الله رسول هم يم۔ ليكن خبره نۀ جوړيده، بيا ئے محمد بن عبد الله وليكلو، علی رضی الله عنه ته ئے وويل (رسول الله) لفظ وران كړه نو هغه وويل قسم په الله كه زۀ ئے وران كړم، بيا رسول الله ﷺ ته ئے وخودو هغه په خپل لاس وران كړو۔

په دے سورت كښ الله تعالیٰ صلح حديبيه ته (فتح مبين) (يعنی ښكاره فتح) وئيلے ده۔ او د سيرتِ نبوی پاڼړے ګواه دی چه دا صلح د مسلمانانو په حق كښ د نتيجو په لحاظ سره زبردسته فتح ثابته شوه۔ امام بخاریؒ د براء بن عازب رضی الله عنه نه روايت كوی [تَعُدُّوْنَ اَنْتُمُ الْفَتْحَ فَتْحَ مَكَّةَ وَقَدْ كَانَ فَتْحُ مَكَّةَ فَتْحًا وَنَحْنُ نَعُدُّ الْفَتْحَ بَيْعَةَ الرِّضْوَانِ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ] چه تاسو خلق د مكے فتح ته فتح وايئ، او د مكے فتح يقيناً فتح وه، ليكن مونږه د حُديبيه په ورځ بيعتِ رضوان ته فتح وايو...... الحديث۔ (بخاری: ٤١٥٠)

نو په راتلونكو ورځو كښ د صلح لاندينی نتائج راښكاره شو:

١ – دا صلح په حقيقت كښ د قريشو او د نورو عربو كافرانو له طرفه په مدينه منوره كښ د نبی كريم ﷺ په قيادت او سردارئ كښ د موجود اسلامی حكومت اولنے اقرار وو۔

٢ – دا اولنئ موقع وه چه قريشو دا خبره اُومنله چه مسلمانان هم د نورو عربانو غونته د خانه كعبے د زيارت حق لری۔

٣ – د صلح يو شرط دا هم وو چه لسو كالو پورے به د دواړو ډلو ترمينځه جنګ نۀ كيږی۔ ددے فائده دا شوه چه مسلمانانو ښكاره طور سره د اسلام تبليغ وكړو، او د امام زهریؒ د قول مطابق په درے كالو كښ دننه دننه اسلام دومره تيزئ سره خور شو چه د

مکے د فتح په وخت نبی کریم ﷺ سره لس زره مجاهدین موجود وو۔
٤ - د صلح یوه لویه فائده دا اوشوه چه نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو د اطمینان ساه واخسته، او د اسلامی معاشرے بنیادونه مضبوط شول او د اسلام دار السلطنت (پائے تخت مدینه) د اسلام یوه محکمه او مضبوطه قلعه جوړه شوه۔
٥ - د قریشو او د جنوبی عربی قبائلو نه د مطمئن کیدو فائده دا شوه چه نبی ﷺ شمال او وسطِ عرب طرفته توجه وکړه۔ اول د یهودیانو دویمه قلعه خیبر د مسلمانانو په قبضه کښې راغله، بیا فدك، وادی القریٰ، تیماء، او تبوك د یهودیانو کلی یو یو د مسلمانانو د فرمان تابع شول۔
امام شعبیؒ وائی چه رسول الله ﷺ ته د حُدیبیه په صلح کښې هغه څۀ ملاؤ شو چه هغه په بل هیڅ یوه غزا کښې ملاؤ شوی نۀ وو:
١ - الله د هغۀ مخکنی او روستنی گناهونه معاف کړل۔
٢ - بیعتِ رضوان د صحابه کرامو دپاره یو ډیر لوئے نعمت وو۔
٣ - مسلمانان د خیبر د کهجورو مالکان شول۔
٤ - د قربانئ څناور د حلالیدو ځائے ته اورسیدل۔
٥ - رومیانو ته په فارس والو باندے غلبه حاصله شوه، چه ددے په وجه په مسلمانانو کښې د خوشحالئ چرچه شوه۔
امام ابن القیمؒ په خپل کتاب (زاد المعاد) کښې د صلح حُدیبیه دا عظیم حکمتونه په تفصیل سره بیان کړی۔
د صلح حدیبیه د مذکوره لویو فائدو د وجے نه په دوه کالو کښې دننه دننه د قریشو او د نورو مشرکانو قوت خپله ختم شو، او اسلام یو عظیم قوت جوړیدو سره راښکاره شو، چه ددے د ټولو نه ړومبنے اثر د مکے د فتح په صورت کښې راښکاره شو۔

إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴿١﴾ لِيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا
یقیناً مونږ فتح درکړه تا ته فتح ښکاره. دے دپاره چه بخنه وکړی تا ته د هغه
تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ
چه مخکښ تیر شویدی د خطائی ستا نه او هغه چه روستو شوی وی او پوره کوی
نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢﴾ وَيَنْصُرَكَ
نعمت خپل په تا باندے او روان کړی تا لره په لاره نیغه باندے. او مدد وکړی تا سره
اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيزًا ﴿٣﴾ هُوَ الَّذِىٓ أَنْزَلَ السَّكِينَةَ فِى قُلُوبِ
الله تعالیٰ مدد عزت والا. الله هغه ذات دے چه راوے لیږله تسلی (آرام) په زړونو
الْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوٓا إِيمَانًا مَّعَ إِيمَانِهِمْ
د مؤمنانو دے دپاره چه زیات شی دوی په ایمان کښں سره د ایمان ددوی نه،
وَلِلّٰهِ جُنُودُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ
او خاص د الله په اختیار کښں دی لښکرے د آسمانونو او د زمکے
وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٤﴾
او دے الله تعالی پوهه حکمتونو والا.

تفسیر: د (فتح) نه مراد (د حُدیبیه صلح) ده. امام بخاریؒ د براء بن عازب رضی الله عنه قول نقل کړے چه ((مونږه به د حُدیبیه په ورځ بیعتِ رضوان ته فتح وئیله))

امام احمدؒ، ابوداودؒ او حاکمؒ وغیره د مجمع بن جاریه انصاری رضی الله عنه نه روایت کړے چه کله د حُدیبیه نه د واپسئ په وخت رسول الله ﷺ (کُراع الغمیم) نومے ځائے کښں د ﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا﴾ تلاوت وکړو، نو یو صحابی (چه هغه عمر فاروق رضی الله عنه وو) د هغهٔ نه تپوس وکړو (أَفَتْحٌ هُوَ ؟ قَالَ : نَعَمْ، وَالَّذِىْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّهُ لَفَتْحٌ) چه آیا دا (فتح) ده؟ نو نبی ﷺ وفرمایل (هاؤ ! په هغه ذات مے دِے قسَم وی د چا په لاس کښں چه زما ساه ده، دا خامخا فتح ده). (ابوداود : ۲۷۳۸)

دے ته ئے فتح څنګه ووئیله نو ددے وجے مخکښ بیان شوے چه دا د مکے او د حنین د فتح دپاره مقدمه شوه۔
او دارنګه ددے په وجه د دعوت لارے کولاوے شوے نو غلبه د اسلام راغله، په څلورو کالو کښ یو لاکھ څلویښت زره کسان مسلمانان شول۔
او دے نه چه چا فتح د مکے مراد اخستے ده نو هغه تفسیر باللازم دے۔
لِيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ : لام د عاقبت (انجام) او غائے دپاره دے۔ یعنی فتح سبب دے دپاره ددے څلورو فائدو، یعنی ددے فتح انجام دا شو چه الله تا ته بخنه کوی الخ۔ بیا څرنګ فتح سبب د مغفرت ده؟ نو وجه دا ده چه دا فتح د جهاد او د تکلیفونو د برداشت کولو په وجه حاصل شوه چه د رسول الله ﷺ د مزاج خلاف شرطونه ئے د الله د حکم د وجه نه ومنل نو الله ورته دا انعام ورکړو چه تا ته به بخنه کوی، ځکه چه دا قانون دے [اِنَّ الْعَطَايَا عَلٰى مَتْنِ الْبَلَايَا] بخششونه (تحفے) د مصیبتونو په شاګانو باندے وی۔ او ﴿اِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ (هود : ١١٤) یقیناً نیکیانے ګناهونه ختموی۔
بیا **سوال** دا دے چه د رسول الله ﷺ کوم ګناهونه وو چه الله ورته فرمائی چه تا ته د ګناهونو بخنه کوی؟ حال دا چه نبی ﷺ خو د ګناهونو نه معصوم وو؟
(١) **جواب** دا دے چه دا په تعلیق باندے بناء دے، یعنی که بالفرض ستا مخکنی ګناهونه وی یا روستو درنه وشی نو هغه به درته معاف وی۔
(٢) جواب : دا جمله مستلزم ګناه لره نۀ ده ځکه چه ذهن نه مراد خلاف افضل کارونه دی چه هغه ګناه نۀ ده، لیکن د انبیاء علیهم السلام شان ډیر اُوچت وی، دغه خلافِ افضل کارونه د هغوی دپاره د خفګان سبب وی، نو الله تعالیٰ ورته د هغه خفګان لرے کیدو اعلان وکړو۔
مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ : (١) یعنی د نبوت نه مخکښ او د نبوت نه روستو۔ (دا قول د مجاهدؒ دے)۔ (٢) مخکښ د فتح نه او روستو د فتح نه۔
(٣) ددے وخت نه مخکښ او ددے وخت نه روستو۔
وَيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ : دا بله فائده ده : د نعمت پوره کیدو نه مراد غلبة الاسلام (د اسلام غلبه) ده۔ دارنګه نورو فتوحو ته اشاره ده۔
(٣) او اشاره ده نزول د هغه احکامو ته چه روستو د فتح نه نازل شویدی۔

(٤) او اشاره ده چه ستا ډیر دشمنان به په دین اسلام کښ داخل شی او د اسلامی حکومت فراخی به درکړی۔

وَيَهْدِيَكَ صِرَاطاً مُّسْتَقِيماً: نبی ﷺ ته خو الله هدایت کړے نو بیا څرنګ وائی چه الله تا ته هدایت د نیغے لارے کوی؟ نو بعض دے کښ دا معنیٰ کړیده چه خطاء ده چه تا ته د جنګ طریقے ښائی۔ آیا اُوسه پورے رسول الله ﷺ د جنګ په طریقو نهٔ پو هیدو؟!

نو ظاهر دا ده چه دلته شرعی هدایت مراد دے نو بیا د هدایت نه مراد (تَثَبُّت) دے په نیغه لاره۔ یعنی الله تا په دین اسلام باندے مضبوطوی چه دے ته استقامت وئیلے شی، نو دا فتح سبب شوه دپاره د استقامت فی الدین۔

مګر ظاهر دا ده چه هدایت کښ ډیرے مرتبے دی، او د هغے انتهاء الله ته معلومه ده نو د رسول الله ﷺ هدایت به وخت په وخت زیاتیږی تر مرګه پورے۔ لکه په ایمان کښ اعلیٰ مرتبے شته نو دغه شان د هدایت هم درجات دی۔

وَيَنصُرَكَ اللّٰهُ نَصْراً عَزِيزاً: دا څلورمه فائده ده: یعنی داسے مدد به درسره وکړی چه ددے نه پس به اسلام د قوی نه زیات قوی شی، کافران خوار او ذلیله شو، د دوئ شماره او د دوئ قوت کم شو، او د مسلمانانو شماره زیاته شوه، او د دوئ اجتماعی او مالی حالت هم بهتر شو۔

نصر عزیز داسے مدد چه عزتمند وی۔ ستا عزت به ورسره د خلقو ترمینځ زیات شی۔ یا غالب مدد چه د هغے نه روستو به شکست نهٔ وی۔ نو په رسول الله ﷺ باندے بیا هیڅکله کافرانو غلبه نهٔ وه کړے۔ یا عزیز الوجود (بے مثله) مدد مراد دے۔

هُوَ الَّذِیْ: اُوس مؤمنانو ته زیرے بیانیږی په نازلولو د سکینه (آرام) سره۔ یعنی د صلح د شرطونو د وجه نه ډیره پریشانی وه نو آخر ددے خبرے منلو ته تیار شو چه په هر حال کښ د الله او د هغهٔ د رسول په خبره منلو کښ خیر وی۔ ددے فوری نتیجه دا شوه چه د تمامو صحابه کرامؓ زړونه مطمئن شو او د دوئ پریشانی لرے شوه۔

لِيَزْدَادُوا إِيمَاناً: د سکینه د نازلیدو څلور فائدے رابنکاره شوے، یو دا چه د دوئ د زوړ ایمان سره نور ایمان هم زیات شو، او د رسول الله ﷺ د اطاعت جذبه پکښ پیدا شوه۔ د رسول الله ﷺ ډیر معجزات ئے پدے سفر کښ ولیدل۔

دا صریح دلیل دے چه ایمان کښ زیادت راځی لکه چه امام بخاریؒ او نورو ائمه کرامو

د همدے آیتِ کریمه نه د ایمان په زیاتیدو او کمیدو باندے استدلال کړے۔
نـو ددے تـاویـل په پوخ والي یا په ښکاره والي د ایمان سره کول تحریف دے، او د ایمان د زیاتیدو هیڅ مانع نشته۔
وَلِـلّٰهِ جُنُودُ السَّمَاوَاتِ: یعنی په آسمانونو او زمکه کښې د هغهٔ ډیرے لښکرے دی، هغـهٔ ډیر ملائك آسـمـانـونـو لپاره او ډیر د زمکے دپاره پیدا کړی دی، ددے نه علاوه د کـائـنـاتـو هره ذره د الله د فرمان تابع ده، ددے لښکرو په ذریعه چه کله اوغواړی د کافرانو لښـکرے نیست او نابود کولے شی، لیکن هغهٔ په خپلو مومنانو بندګانو باندِے جهاد او قتال د خپلو حکمتونو د وجے نه فرض کړے، چه هغه ئے ښهٔ پیژنی۔

لِيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي
دے دپاره چه داخل کړی مؤمنان سړی او مؤمنے ښځے جنتونو ته چه بهیږی
مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ
لاندے د هغے نه ولے، همیشه به وی په هغے کښې او وُبه رژوی د دوی نه ګناهونه د
وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٥﴾ وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ
دوی، او دے دا کار په نیز د الله تعالیٰ کامیابی لویه۔ او عذاب ورکړی منافقانو سړو
وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ الظَّانِّينَ بِاللّٰهِ
او منافقو ښځو ته او مشرکان سړو او مشرکو ښځو ته چه ګمانونه کوی په الله
ظَنَّ السَّوْءِ ؕ عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ وَغَضِبَ
باندے ګمان بد، په دوی باندے حادثه ده بده (مصیبتونه ناکاره)۔ او غضب کړیدے
اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ
الله په دوی باندے او لعنت ئے کړیدے په دوی باندے او تیار کړے ئے دے دوی لره جهنم
وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴿٦﴾ وَلِلّٰهِ جُنُودُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ
او بد دے هغه ځائے د ورګرځیدو۔ او خاص الله لره لښکرے د آسمانونو او د زمکے دی

وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿٧﴾

او دے الله تعالیٰ غالبه حکمتونو والا۔

تفسیر : کله چه مخکښې آیت نازل شو نو صحابه کرامو وفرمایل: [يَا رَسُوْلَ اللّٰه ! هَنِيْئًا لَكَ مَا اَعْطَاكَ اللّٰهُ فَمَا لَنَا؟] اے د الله رسوله ! تا ته چه الله څه درکړل دا دِے ستا مبارك وی خو زمونږ دپاره به څه وی؟ نو الله تعالیٰ ﴿لِيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ﴾ آیت نازل کړو۔ (مسند احمد : ١٢٢٤٨) وسنده صحيح)

لِيُدْخِلَ: دا هم متعلق دے د (انزل السکینه) سره، او دا دویمه فائده ده۔ یا دا متعلق دے د (لِيَزْدَادُوْا اِيْمَانًا) سره او مطلب دا دے چه جهاد سبب د سیکنه دے، او په انزال السکینه سره ایمان مضبوط شو، او د ایمان په مضبوطوالی سره جنت ته داخلیدل کیږی۔ نو څومره چه د بنده ایمان زیاتیږی نو جنت ته به نزدے کیږی۔

وَالْمُؤْمِنَاتِ : دلته دا وَهم کیدو چه جنت به د قتال په وجه حاصلیږی او هغه خو د نارینو کار دے، نو د دفع د وَهم دپاره ئے وفرمایل چه د جنت دپاره ځانله یو سبب نۀ دے بلکه نور صفات هم شته چه هغه په زنانو کښې هم راتلے شی، په هغے سره هم جنت ملاویږی۔

وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ: دا دریمه فائده ده چه الله به د دوی گناهونه خلقو ته نۀ راښکاره کوی، او دوئ ته به په هغے باندے عذاب نۀ ورکوی بلکه د اول نه به ئے جنت ته داخل کړی۔ او دلته ئے جنت ته داخلول د گناهونو رژولو نه مخکښې ذکر کړو اگرکه ترتیب برعکس دے دا ددے دپاره چه مؤمنانو ته زر تر زره خوشحالی حاصل شی۔

وَيُعَذِّبَ : دا څلورمه فائده ده : یعنی سکون او نصرت د مؤمنانو سبب د غمونو او خفګانونو د دشمنانو دے، او دلته د عذاب نه دنیاوی عذاب مراد دے، یعنی د کافرانو او منافقانو ذلیله کول او مغلوبه کول دی په قتل او قید کولو سره۔

الظَّآنِّيْنَ : یعنی دوئ گمان کوی چه الله لره شریکان او اولاد شته، شرك د بد گمانئ نه پیدا کیږی۔

دارنګه الله تعالیٰ په غیر د وسیلو نه حاجتونه نۀ پوره کوی، څکه ئے مونږ باباګانو ته وایو۔

يا د الله صفتونه د مخلوق صفتونو سره مشابه كوي، الله د مخلوق په شان گنړي۔
دارنگه د دوئ په الله باندے دا غلط گمان هم دے چه هغه به د خپل رسول او مسلمانانو
مدد نهٔ كوي۔ او د كفر كلمه به په كلمه د اسلام باندے غالبه كيږي، او روستو يو بل
گمان ذكر دے ﴿ بَلْ ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ ﴾۔
او دا قانون دے چه په الله باندے حسن ظن كول د هرے نيكئ سبب دے او په الله باندے
بدگمانی كول د هرے گناه سبب دے۔ په الله چه بد گمانه شي نو شرك، منافقت، او
وسوسے او نا اميدئ او بے صبري به پكښ راځي۔
ظَنَّ السَّوْءِ : سوء صفت د موصوف محذوف دے اَیْ ظَنَّ الْاَمْرِ السُّوْءِ۔ گمان د بد كار۔
يا اضافت د موصوف دے صفت ته۔ يعني بد گمان۔
عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ: يعني دوئ چه په مؤمنانو كوم گمان كوي او انتظار د بدئ كوي
نو همدغه بد انجام ډے په دوي باندے راشي۔ نو الله به دوئ په دنيا كښ په قِسما قِسم
عذابونو گرفتار كړي، منافقت باندے هميشه پريشاني راځي۔
او دا جمله خبريه ده۔ الله خبر وركړيدے چه په دوئ به بدے حادثے راځي۔ يا دعائيه ده، او
مؤمنانو ته تعليم د دعاء دے چه منافقانو ته دغه شان ښيرے وكړي۔
وَغَضِبَ اللهُ: د حادثاتو سره سره دوي د الله د طرفه د غضب او لعنت او د جهنم د عذاب
مستحق دي۔ يعني په دوئ به د هغهٔ غضب نازليږي، او د قيامت په ورځ به دوئ د
خپل رحمت نه لرے كوي، او هغهٔ د دوئ استوگنه جهنم مقرر كړے، چه ډير زيات خراب
ځائے دے۔
وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمَاوَاتِ : داسے آيت مخكښ (۷) كښ هم تير شو، فرق دا دے چه
مخكښ ئے وفرمايل: چه الله به تاسو سره مدد كوي ځكه چه د ټولو لښكرو اختيار د الله
سره دے، دلته په منافقانو او مشركانو رد دے چه تاسو دا گمان كوئ چه رسول الله ﷺ
او مؤمنان به ختم شي، ځكه چه دوي كمزوري دي نو دا گمان ستاسو غلط دے ځكه
چه الله به د خپل رسول مدد كوي او هغه هيڅكله خپل رسول او مؤمنان د دشمنانو په
لاس كښ نهٔ وركوي۔ نو دا وئيل شويدے دپاره د رد د بد گمان د دوئ۔

إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۸﴾
یقیناً رالیږلې ئې مونږ تهٔ گواه (بیان کونکې) او زیرې ورکونکې او یره ورکونکې۔
لِتُؤْمِنُوْا بِاللهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ
دې دپاره چه تاسو ایمان راوړئ په الله او په رسول د هغه، او مدد اوکړئ تاسو د هغهٔ
وَتُوَقِّرُوْهُ وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّأَصِيْلًا ﴿۹﴾ إِنَّ
(د دین) او عزت ئې وکړئ او پاکي اُووایئ د هغهٔ صبا او بیگاه۔ یقیناً
الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللهَ يَدُ
هغه کسان چه بیعت کوی ستا سره یقیناً دوی بیعت (لوظ) کوی د الله سره، لاس د
اللهِ فَوْقَ أَيْدِيْهِمْ فَمَنْ نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنْكُثُ
الله دپاسه د لاسونو د دوی دې نو چا چه وعده ماته کړه نو یقیناً وعده ماتوی دې
عَلٰى نَفْسِهٖ وَمَنْ أَوْفٰى بِمَا
چه ضرر به ئې په نفس ددهٔ وی او چا چه پوره والې وکړو په هغه څه
عٰهَدَ عَلَيْهُ اللهَ فَسَيُؤْتِيْهِ أَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۰﴾
چه لوظ ئې کړیدې په هغې باندې د الله سره نو زر دې چه وربه کړی دهٔ ته اجر لوئې۔

تفسیر: اُوس د رسول الله ﷺ شان بیانوی چه ددهٔ په وجه فتح او مددونه او غلبه د اسلام راغله نو په ټول امت باندې ددهٔ توقیر (احترام) او اتباع فرض کوی۔

نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی فرمائی چه اې زما نبی! مونږ تهٔ د الله لپاره د وحدانیت او د مطلقِ کمال گواهئ ورکولو دپاره نبی جوړولو سره رالیږلې ئې، یعنی تا د دنیا والو مخې ته ددې خبرې اعلان وکړو چه د الله ذات یواځې دې، د هر عیب نه پاك، او هر لحاظ سره کامل دې، او مونږ تهٔ ستا د امت لپاره ددې خبرې گواهی ورکولو سره رالیږلې ئې چه تا د خپلِ رب دین دوئ ته رسولې دې۔ یا به تهٔ په قیامت کښې په دوی باندې گواهی کوې۔

لِتُؤْمِنُوْا: اُوس د رسول د رالیږلو څلور فائدې بیانوی۔ یو دا چه د رسول د رالیږلو

مقصد دا دے چه خلق په الله او د هغه په رسول باندے ایمان راوړی۔ او په دے کښې اشاره ده چه تفصیلی ایمان د رسول الله ﷺ په تابعدارئ سره حاصلیږی۔ او د رسول الله ﷺ ټول دعوت ایمان ته وو۔ لکه سورتِ حدید کښې به راشی۔

وَتُعَزِّرُوْهُ: (۱) (ه) ضمیر الله ته راجع دے۔ یعنی د هغه د دین مدد وکړئ، یا د هغه دپاره اولاد او شریکان مهٔ وایئ۔ (۲) یا ضمیر راجع دے رسول ته یعنی چه تاسو د هغه د دین او د سنت د مخالفت نه خلق منع کړئ او د هغهٔ مدافعت وکړئ۔ (قتادهٌ)

او د هغهٔ په ملګرتیا کښې په توره جنګ وکړئ۔ (عکرمهٌ)

وَتُوَقِّرُوْهُ: توقیر، تعظیم او اجلال او اکرام کولو ته وئیلے شی۔

(۱) او ضمیر یا الله ته راجع دے، یعنی چه تاسو د هغهٔ نوم په عزت سره واخلئ او د هغهٔ بندګی وکړئ، او د هغهٔ په ټولو صفتونو د کمال باندے ایمان وساتئ۔

(۲) یا ضمیر رسول ته راجع دے یعنی تاسو ددے رسول احترام وکړئ، په دهٔ باندے آواز مهٔ پورته کوئ، هغهٔ ته په نوم سره آواز نهٔ کول، د هغهٔ د سنتو احترام کول، د هغهٔ د نوم سره درود او سلام وئیل او د هغهٔ په ژبه او توره او عمل سره مدد کول، او د هغهٔ پوره تابعداری کول د هغهٔ احترام او توقیر دے۔

وَتُسَبِّحُوْهُ: دا څلورمه فائده ده: دا ضمیر صرف الله ته راجع دے۔ یعنی ددے رسول د راتللو فائده دا ده چه بندګان د الله هر وخت تسبیحات ووائی، او په دنیا کښې د الله بندګی زیاته وشی۔ بعض وائی چه دے کښې هم ضمیر رسول ته راجع کیدل صحیح دی، او د تسبیح نه مراد لغوی معنیٰ ده، یعنی هغه د ګناهونو او عیبونو نه پاك ګڼړل۔

یا د سُبحة نه دے په معنیٰ د درود سره۔ یعنی په هغهٔ باندے صلاة او سلام ووایئ لیکن په عرف او شرع کښې د تسبیح مشهوره معنیٰ د الله دپاره تسبیحات وئیل دی۔ نو اول احتمال غوره دے۔

إِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ: دلته د بیعت نه مراد بیعتِ رضوان دے، یعنی هغه بیعت چه د هغے په باره کښې الله تعالیٰ فرمایلی: ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾ (الله د مؤمنانو نه راضی شو کله چه دوئ ستا په لاس د ونے لاندے بیعت کولو)۔ صحابه کرامٌ د حُدیبیه په مقام کښې د یوے ونے لاندے د نبی کریم ﷺ په لاس بیعت وکړو چه دوئ به مکے والو سره جنګ کوی او په هیڅ حالت کښې به میدان نهٔ

پريدی او د تيښتے لاره به نۀ غوره کوی. بيعت وعده کول او چا ته لاس ورکول دی.
ددے بيعت په باره کښې الله تعالیٰ وفرمايل چه اگرکه په ظاهره کښې مسلمانان دا بيعت د رسول الله ﷺ په لاس کوی، ليکن په حقيقت کښې دا معاهده او بيعت د الله سره دے، بيعت کولو په وخت د الله تعالیٰ لاس د دوئ د لاسونو دپاسه وو، دوئ د جنت په بدله کښې الله سره د خپلو ځانونو سودا کړے ده. دے وجے نه اُوس چه څوك بيعت ماتوی، او کافرانو سره جنگ نۀ کوی، نو ددے نقصان به صرف دۀ ته رسيږی، يعنی ددے وبال او ددے سزا به صرف دۀ ته ملاويږی. او څوك چه الله سره د کړے معاهدے پابندی کوی، او رسول الله ﷺ سره ملگرے کيږی او کافرانو سره جنگ کوی، نو الله تعالیٰ به دۀ ته لوئے اجر ورکوی، يعنی دا به په جنت کښې داخلوی.
يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ: ځکه چه د رسول الله ﷺ تابعداری په حقيقت کښې د الله تعالیٰ تابعداری ده.
يَدُ اللّٰهِ: يعنی الله تعالیٰ به د دوئ نه خپل لاس نۀ راکاږی که چرے دوئ خپل لاس نۀ راکاږی. يعنی الله تعالیٰ خپله وعده نۀ ماتوی که چرے دوی وعده ماته نۀ کړی، الله تعالیٰ وعده کړے چه څوك ددے نبی سره بيعت کوی، زۀ به ترے راضی کيږم او جنت ته به ئے داخلوم مگر که دوئ ددے نبی مدد پريخودو او په لوظ کلك پاتے نشول نو بيا به الله تعالیٰ د دوئ سره وعده نۀ پوره کوی.
او دا ښکاره دليل دے چه د الله تعالیٰ دپاره لاس شته څرنگ چه د هغۀ د شايان شان سره مناسب وی، او همدا معنیٰ ئے مراد ده، او دے کښې تاويل ته ضرورت نشته. ځکه چه په نصرت يا احسان کولو يا حفاظت کولو يا په قوت وغيره سره ددے تاويل کول تحريف دے، او انکار دے د الله تعالیٰ د خوږ صفت نه.
د فوق اَيْدِيْهِمْ نه معلومه شوه چه په بيعت کښې لاس ورکول شرط دے، البته د زنانو دپاره په خوله باندے بيعت کافی دے، لکه چه عائشه رضی الله عنها فرمائی :
[وَاللّٰهِ مَا مَسَّتْ يَدُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ] قسم په الله د رسول الله ﷺ لاس د هيڅ (پردے) زنانه د لاس سره نۀ وو لگيدلے. (بخاری: ٤٨٩١) و (٥٢٨٩).
يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ: يعنی وعده ئے په ځان باندے ماته کړه، يعنی ځان ته ئے ضرر ورکړو، د الله تعالیٰ به هيڅ نقصان ونکړی.

بيا دا وعده تهولو صحابه كرامؓ پوره كړه، او رسول الله ﷺ وفرمايل : چه حُديبيه والا تهول جنتيان دي سوئ د يو منافق (جد بن قيس) نه. او روستو قرآن هم وويل چه الله تعالىٰ ترې راضي شو.

فائده : دا آيت دليل دے په مشروعيت د بيعت باندے، او د رسول الله ﷺ سره ډير بيعتونه په مختلفو عملونو باندے شويدي لكه كله په هجرت او جهاد، او كله په اقامت د اركان الاسلام، او كله د كفارو په معركو كښې په ثابت قدمئ او نۀ تښتيدو، او كله د فواحشو او منكراتو په پريخودو، او كله په تمسك بالسنة او اجتناب د بدعت نه، او په حرص على الطاعات لكه د انصارو زنانو سره ئے پدے بيعت وكړو چه دوی به خيانت نۀ كوی. او د بعض فقراؤ مهاجرينو سره ئے بيعت وكړو چه دوئ به د چا نه هيڅ شے نۀ غواړی، نو د هغوی د يو تن نه به چابك راپريوتو نو هغه به پسے راكوزيدو او هغه به ئے راخستو او د هيچا نه به ئے نۀ غوختل. (ابن ماجه فى الجهاد باب ٤١).

(فتح البيان)

ليكن ددے نه د پيرانو بيعتونه اخستل مراد نۀ دی، ځكه چه مونږ تولو د رسول الله ﷺ سره بيعت كړے كله چه مونږ په هغه ايمان راوړو، نو د رسول الله ﷺ په هر امر باندے مونږ وعده كړے او د هغه سره مو بيعت كړے چه دا به منو او پدے به عمل كوو.

سَيَقُوْلُ لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْأَعْرَابِ شَغَلَتْنَا
زردے چه وائي به تا ته روستو پاتے كړے شوی د باندو والو نه مشغوله كړی وو مونږ
أَمْوَالُنَا وَأَهْلُوْنَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا يَقُوْلُوْنَ بِأَلْسِنَتِهِمْ
لره مالونو زمونږ او بال بچ زمونږ نو بخنه وغواړه مونږ لره، وائي دوی په ژبو خپلو
مَّا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ قُلْ فَمَنْ يَمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ
هغه څه چه نۀ وی په زړونو د دوی كښې، اُووايه ! نو څوك به اختيار لري تاسو لره د
اللّٰهِ شَيْئًا إِنْ أَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا أَوْ أَرَادَ
عذاب د الله نه څه شے كه اراده اُوكړی هغه تاسو ته د ضرر دركولو يا اراده وكړی

بِكُمْ نَفْعًا بَلْ كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿١١﴾ بَلْ
تاسو ته د فائدے بلکه دے الله په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ خبردار۔ بلکه
ظَنَنْتُمْ أَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ إِلٰى أَهْلِيْهِمْ
گمان اُوکړو تاسو چه هیچرے به راواپس نشی رسول او مؤمنان خپل اهل ته
أَبَدًا وَزُيِّنَ ذٰلِكَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَظَنَنْتُمْ
هیڅ کله، او ښائسته کړے شوے وو دا (گمان) په زړونو ستاسو کښې او گمان کوو تاسو
ظَنَّ السَّوْءِ وَكُنْتُمْ قَوْمًا بُوْرًا ﴿١٢﴾ وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ
گمان بد او وئ تاسو قوم هلاك شوی۔ او چا چه ایمان رانهٔ وړو په الله او په رسول د
فَإِنَّا أَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِيْنَ سَعِيْرًا ﴿١٣﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ
نو یقیناً مونږ تیار کړیدے کافرانو لره لمبو والا اُور۔ او الله لره بادشاهي
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَاءُ وَيُعَذِّبُ
د آسمانونو او د زمکے ده، بخنه کوی چا له چه اُوغواړی او عذاب ورکوی
مَنْ يَّشَاءُ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٤﴾
چا له چه اُوغواړی، او دے الله ډیره بخونکے رحم کونکے۔

تفسیر: په دے آیتِ کریمه کښې د مدینے خوا اوشاته د اُوسیدونکو بانډه چی قبیلو حال بیانیږی، چه ددے نوم غِفار، مُزینه، جُهینه، اسلم، اشجع او دِئل وو۔ د صلح حُدیبیه په کال د عمرے دپاره مکے طرفته د روانیدو نه مخکښې رسول الله ﷺ دوئ ته هم د خپل ځان سره د تللو دپاره وئیلی وو، لیکن د قریشی کافرانو د ویرے نه دا خلق لا نهٔ رړل، د دوئ خیال وو چه قریش به مسلمانان ختم کړی، او د دوئ نه به هیڅ یو هم واپس رانشی۔ د دوئ ددے بد نیتئ د وجے نه الله تعالیٰ دوئ لره هم د خپل رسول د ملگرتیا او د بیعتِ رضوان غونډے برکتی بیعت او ددے د فضائلو او برکاتو نه محرومه اوساتل۔

کله چه رسول الله ﷺ د عمرے نه راواپس شو نو دے وخت کښې دا منافقان حاضر شول

او د دروغـو بهانے ئے شروع کړے چه الله تعالىٰ دلتـه د هغوى د زړه راز راښکاره کړو چه د دوى بهانے مهٔ منئ۔ يعني اے زما نبي ! کله چه تهٔ مدينے ته اُورسے نو دغه بانډه چيان به ستا خواته راځي، او د دروغو عذرونه به پيش کوى، او وائي به چه مونږ په خپل کارو بار کښې مشغـول پاتے شو، او زمونږ په نشتوالى کښې زمونږ د بال بچ پرورش والا څوك نهٔ وو، دے وجے نه مونږ تاسو سره لانهٔړو، تهٔ زمونږ د رب نه مونږ لپاره بخښنه وغواړه۔

الله تـعـالىٰ د دوئ نـفـاق راښکاره کړو، او دوئ ئے دروغژن کړل او وے فرمايل چه دوئ په خپـلـو ژبو سره هغه خبرے کوى کومے چه د دوئ په زړونو کښې نهٔ وى، دوئ خو په شك او مـنافقت کښې مبتلا دى، او تا نه په بخښنه غوښتلو کښې هم رشتينے نهٔ دى، ځکه چه دوئ په خپلو کړو باندے خپيمانه او د خپلے ګناه نه توبه ګار نهٔ دى۔ بلکه صرف تاسو نه ځان خلاصوى او ستاسو د ملامته کولو نه يريږى۔

قُلْ فَمَن يَمْلِكُ: اُوس الله تعالىٰ دوئ ته دعوت او دهمکى ورکوى۔يعنى که الله تاسو ته نـقـصـان رسـول غـواړى، يا تاسو ته نفع رسول غواړى، نو هغه به د هغهٔ د ارادو نه څوك مـنـع کـړى، يـعـنـى ستاسو د منافقت او دروغژن بيانئ د وجے نه ستاسو دپاره د رسـول الله ﷺ د بـخـښـنـے غـوښـتـلو هيڅ فائده تاسو ته نهٔ رسيږى۔ او الله ستاسو د کړو نه ښهٔ واقف دے، هغه به تاسو ته ددے بدله ضرور درکوى۔

بَلْ ظَنَنتُمْ : دا متـعـلـق دے د (شَغَلَتْنَا) سره، يعنى تاسو مشغوله نهٔ وئ بلکه ستاسو نيـت خـراب وو، او دا بد ګمان مو کولو چه رسول او مؤمنان به خپل کور والو ته راواپس نشى ځکه چه د کافرانو عظمت او د مسلمانانو سپکوالے ستاسو په زړونو کښې موجود وو، او بيـا دا خبره تـاسـو تـه ښائسته ښکاره شو چه مسلمانان او نبى ختم شى چه دا علاقه ترے وزګاره شى، او همدا کفر دے۔

ظَنَّ السَّوْءِ : يـعـنـى دا پـه الله بـدګـمـانـى وه چه هغه به خپل نبى او مؤمنان دشمن ته حـوالـه کـړى او هـغـوى بـه ئے ختـم کـړى۔ يا عام ګمانونه مراد دى۔ او دا د مخکښې ظن السوءِ دپاره تاکيد دے يا د هغے نه هم عام دے۔

وَكُنتُمْ: پـه خـپـلـه مـعـنـىٰ دے يعنى تاسو د مخکښې نه هم بيکاره او شريان خلق وئ۔ يعـنـى د نفاق او دروغ بيانئ او د مسلمانانو سره د غدارئ د وجے نه د الله د ناراضګئ او د خپل هلاکت او بربادئ حقدار جوړ شوى يئ۔ يا په معنىٰ د (صِرْتُمْ) سره دے، يعنى اُوس

بیکاره او بے خیره وګرځیدئ۔

بُوراً: جمع د بَائِرٌ ده، هلاك شده ته وئیلے شی۔ (مجاهدؒ) جو هرئ وائی: بور هغه سړی ته وئیلے شي چه فاسق هلاك شده وی او هیڅ خیر پکښې نهٔ وی۔

وَمَن لَّمْ يُؤْمِن: دا د هلاکت تشریح ده۔ او اشاره ده چه د منافقانو په الله او په رسول ایمان نشته بلکه کافران دی۔

وَ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ: یعنی د آسمانونو او د زمکے مالك اوحاکم هم هغه دے، او هم هغه په دے کښې د خپلے خوښے مطابق تصرف کوی، هغه چه چاله وغواړی، معاف کوی ئے او چاله چه وغواړی عذاب ورکوی۔ دے وجے نه اے هغه خلقو چه هغوئ د رسول الله ﷺ سره د عمرے لپاره تللو نه روستو پاتے شوی یئ! اُوس هم موقع شته دے چه د خپلے دے ګناه معافی د الله نه وغواړئ، او د رسول کریم ﷺ د طاعت لوظ وکړئ، دے دپاره چه هغه ستاسو ګناه معاف کړی، ځکه چه هغه ډیر زیات بخښونکے او نهایت مهربانه دے۔

او پدے کښې اشاره ده چه پدے منافقانو کښې به بعض کسان ایمان راوړی۔

سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ إِذَا انْطَلَقْتُمْ إِلٰى مَغَانِمَ
زردے چه وائی به روستو پاتے کړے شوی کله چه روان شئ تاسو غنیمتونو ته،
لِتَأْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ يُرِيْدُوْنَ
دے دپاره چه اُونیسئ هغه، پریږدئ مونږ لره چه روان شو تاسو سره، اراده لری دوی
أَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلَامَ اللّٰهِ قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ قَالَ
چه بدل کړی خبره د الله، ته اُووایه هیچرے نشئ تلے تاسو مونږ سره، دغه شان وئیلی
اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ
دی الله تعالیٰ مخکښې ددے نه، نو زردے چه وائی به دوی بلکه
تَحْسُدُوْنَنَا بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ إِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٥﴾
تاسو حسد (کینه) کوئ مونږ سره بلکه دوی نهٔ پوهیږی مګر لږ۔

تفسیر: کوم بانډه چیان منافقان چه د رسول الله ﷺ سره عُمرة الحدیبیه دپاره د تللو نه بهانـه جوړه کړه او روستو پاتـې شول، د همدوئ په باره کښې الله تعالیٰ خپل رسول ﷺ ته خبر ورکړے چه کله تهٔ د خپلو مخلصو صحابه کرامو سره د خیبر فتح کولو دپاره روان شې نو دوئ به د مالِ غنیمت په لالچ کښې تاسره تلل غواړي، تهٔ دوئ ته د خپل ځان سره د تـلـلـو اجازت مـهٔ ورکـوه، ځـکـه چـه الله تـعالیٰ د خیبر د مالِ غنیمت وعده صرف هغه صحابوٓ سره کړے کوم چه د حُدیبیه د صلح په وخت هلته موجود وو، بل چا دپاره په دے کښې هیڅ برخه نشته۔

الْمُخَلَّفُونَ : یعني الله تـعالیٰ د خپـل رسـول د مـلـگـرتیا نه پاتـې کړیدي، یا شیطان پاتـې کړیدي په وسوسو سره۔

إِلَىٰ مَغَانِمَ: ددے نـه د خیبر غنـیـمـتـونـه مراد دي، ځـکـه چـه خیبر کـښې مـالونـه او غـنـیـمـتـونه زیات وو، او دشمن کمزورے وو، نو دے ته د منافقانو طمعے هم راپورته شوے او زاري ئے کـولـه چـه مـونـږ ځان سره بوځه۔ په سیرت کښې راځي چه رسول الله ﷺ د مـنـافـقـانـو سره دا شرط ولـگـولو چه صحیح ده تاسو به ځان سره بوځو خو غنیمت به تـاسـو تـه نـهٔ مـلاویږي، نـو دوي بیا وویل چه غنیمت پکښې نهٔ وي بیا څه دپاره ځو۔ نو روستو پاتـې شول۔

يُرِيدُونَ أَنْ يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللَّهِ : (دوئ غواړي چه د الله خبرے بدلے کړي) مجاهدؒ، قتادهؒ او جـویبرؒ وغیره ددے هـمـدا مفهوم بیان کړے، یعني دا بانډه چیان منافقان حُدیبیه والو سره د الله تعالیٰ کړے وعده بدلول غواړي۔ الله پته وحي کړے وه خپل نبي ته چه منافقان بـه تـا سـره خیبـر تـه تـلـل غواړي لیکن تهٔ به ئے نهٔ بوځې نو که اُوس دوي لاړ شي نو د الله وعده به بدله شي۔

كَلَامَ اللَّهِ: دا ښـکـاره دلیـل دے چه د رسول الله ﷺ حدیث هم د الله تـعالیٰ کلام دے، او هغه هم حجت دے د قرآن کریم په شان۔

قُل لَّن تَتَّبِعُونَا : یـعـنـي تـهٔ دوئ تـه اووایه چه تاسو مونږ سره نشئ تللے، ځکه چه الله تعالیٰ مـونږ تـه زمونږ مدینے ته د راتللو نه مخکښې دا خبر راکړے چه د خیبر مالِ غنیمت بـه صرف هـغـه خـلقو ته ملاویږي چه هغوئ په عُمرة الحدیبیه کښې شریك وو۔ یا الله مونږ ته وئیلي چه منافقان دے تاسو سره خیبر ته لاړ نشي۔

فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا: یعنی منافقان به ستا د دے خبرے آوریدو نه پس مسلمانانو ته وائی چه تاسو مونږ سره حسد کوئ، ځکه مونږ د ځان سره بوتللو نه بندوئ، یعنی دا د الله تعالیٰ حکم نهٔ دے، بلکه تاسو مونږ سره د حسد د وجے نه داسے خبرے کوئ۔

دلته وګوره منافقان مؤمنانو ته کینه ګر وائی۔ حال دا چه د منافقانو سره څه کمال وو چه مسلمانانو د هغوی سره کینه کړے وے۔ ضد او کینه خو د هغه چا سره کولے شی چه د هغهٔ سره کمال وی، او کمال خو د مؤمنانو سره وو چه قرآن او حدیث او ایمان ورسره وو، نو په حقیقت کښ منافقانو ضد او کینه کوله۔ ؎ رَمَتْنِی بِدَائِهَا فَانْسَلَّتِ۔

بَلْ كَانُوا لَا يَفْقَهُونَ: الله تعالیٰ د دین په پوهه کښ د دوئ کموالے بیان کړے چه دا خلق بیخی د دین هیڅ پوهه نهٔ لری، صرف د دنیا د کارونو لږ شان پوهه لری، چه دد ے په وجه په خپلے دوپرقئ باندے د پردے اچولو کوشش کوی۔

او دا آیت دلیل دے چه د دوی د ګناه دنیاوی سزا هم شته چه د آینده غنیمتونو نه به محرومه وی او اخروی سزا هم شته۔

قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ
اُووایه ته! روستو پاتے کړے شوو ته د بانډچیانو نه زردے چه را وبه بللے شئ تاسو
إِلٰى قَوْمٍ أُولِىْ بَأْسٍ شَدِيْدٍ تُقَاتِلُوْنَهُمْ أَوْ
یو قوم ته چه خاوندان د جنګ سخت دی، جنګ به کوئ تاسو د هغوی سره تردے
يُسْلِمُوْنَ فَإِنْ تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ أَجْرًا
چه هغوی اسلام راوړی، نو که تاسو خبره اُومنله، دربه کړی تاسو ته الله تعالیٰ اجر
حَسَنًا وَإِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ
ښائسته او که چرته واوړیدئ لکه څنګه چه اوړیدلی وئ مخکښ دد ے نه عذاب به
عَذَابًا أَلِيْمًا ﴿١٦﴾ لَيْسَ عَلَى الْأَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ
درکړی تاسو ته عذاب دردناك۔ نشته په ړوند باندے ګناه او نهٔ په ګوډ باندے ګناه

وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ ۗ وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ
او نۀ په مریض باندے گناه او چا چه تابعداری اُوکړه د الله او د رسول د هغه
يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ
داخل به ئے کړی جنتونو ته چه بهیږی به لاندے د هغے نه ولے
وَمَنْ يَتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٧﴾
او چا چه مخ واړو عذابه ورکړی هغه ته عذاب دردناك۔

تفسیر: اُوس ددے منافقانو په امتحان کښں اچول غواړی، یعنی که تاسو د جهاد شوقیان یئ او د زړۀ نه دا دعوه کوئ نو زر دے چه ستاسو حال به معلوم شی، نزدے زمانه کښں به تاسو یو زبردست طاقتور قوم سره د جنگ کولو دپاره را اوبللے شئ۔

طاقتور قوم څوك وو؟

ددے طاقتور قوم په تعیین کښں د تفسیر د علماؤ ګڼړ اقوال دی، چا فارس، چا روم، چا دواړه مراد کړیدی چه دوئ ته عمر فاروق ﷛ دعوت ورکړے وو۔

(ابن عباس ﷛، عطاء بن ابی رباحؒ، عطاء الخراسانیؒ، والحسنؒ)۔

چا هوازن او ثقیف مراد کړی یعنی غزوه د حنین او د اَوطاس او طائف۔ چه دوی ته رسول الله ﷺ دعوت ورکړے وو (سعید بن جبیرؒ، عکرمهؒ، قتادهؒ)

او دے قول ته خازنؒ اَقویٰ وئیلے دے۔ ځکه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښں قوی قوم همدغه وو۔ او د هغه په زمانه کښں یا مؤمن طاهر او یا کافر مجاهر وو۔

او چا بنو حنیفه یعنی د مسلیمه کذاب منونکی مراد کړی چه دوی ته ابوبکر ﷛ دعوت ورکړے وو۔ (زهریؒ ومقاتلؒ)

رافع بن خدیج وائی ﷛: مونږ به (سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِىْ بَاْسٍ) لوستلو خو نۀ پو هیدو چه دوی به څوك وی؟ تردے چه مونږ ته ابوبکر صدیق دعوت راکړو قتال د بنو حنیفه ؤ ته نو مونږ ته پته ولګیده چه هم دوی مراد دی۔

پدے کښں اشاره ده چه الله تعالیٰ به دا ټولے علاقے فتح کړی او اسلامی خلافتونه به

راځي.

واحديّ د اکثرو مفسرينو نه آخري قول نقل کړے، ځکه چه دلته صرف دوه صورتونه ښودلے شوي دي، يا خو به دا خلق اسلام راوړي، يا به د دوئ فيصله توره وکړي، دوئ نه به جزيه نهٔ اخستل کيږي. او د مسيلمه کذاب منونکي هم هغه خلق وو چه د هغوئ نه جزيه اخستل جائز نهٔ وو. اهلِ فارس او اهلِ روم نه خو جزيه اخستلے کيږي، ځکه چه دا خلق د اسلام راوړو نه پس مرتد شوي نهٔ وو.

او چا چه ثقيف او هوازن مراد کړے په هغه باندے اعتراض دا دے چه دلته خو (لَنْ تَتَّبِعُوْنَا) راغلے دے، او په سورت توبه (: ۸۳) کښې تير شويدي (وَلَنْ تُقَاتِلُوْا مَعِيَ عُدُوًّا) د هغے نه معلوميږي چه دوی ته نبي ﷺ بيا د قتال کولو دعوت نهٔ دے ورکړے؟

جواب دا دے چه دواړو آيتونو کښې فرق دے، د سورت توبه آيت د غزا د تبوك په باره کښې دے، او هغه خو ډير روستو نازل شويدے، او دلته لَنْ تَتَّبِعُوْنَا کښې منع خاص وه د خيبر د غزا پورے، او دا په اوم کال د هجرت نازل شوے وو.

سَتُدْعَوْنَ: دا آيت دليل دے په فضيلت د خلفاء راشدينو کوم چه جهاد طرفته دعوت ورکونکي وو او پدے خبره چه د هغوی طاعت پدے باره کښې واجب دے. (السعديّ)

تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ: يعني دے دواړو کښې به يو کار وي قتال يا اسلام ليکن د سورت توبه (۲۹) آيت نه معلوميږي چه دا حکم د اهل کتابو په باره کښې نهٔ دے بلکه د هغوی نه جزيه اخستل هم جائز دي.

يعني که د مخکښې ذکر شوي (سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ) کښې د قوم نه مراد عام واخستے شي، نو بيا به دا حکم د هغه کفارو وي چه د هغوی نه جزيه نهٔ اخستلے کيږي.

يا په واقع کښې ترے وانخستے شوه بلکه د هغوی سره جنگ وکړے شي او چا په کښې اسلام راوړو. يعني جزيه اخستل به جائز وو ليکن الله پيشنگوئي ورکړه چه دوی سره به يا جنگ وي يا به دوی اسلام قبلوي او جزيه ته به نهٔ تياريږي.

حافظ ابن جريرؒ ليکي: چه ددے قوم په تعيين کښې هيڅ دليل نقلي او عقلي نهٔ دے موجود نو ددے وجه نه مونږ دا په خپل اجمال باندے پريدو، او تعيين ته هيڅ حاجت نهٔ وينو.

فَاِنْ تُطِيْعُوْا: يعني که تاسو په هغه زمانه کښې هم د هغوی قتال ته تيار شوئ نو الله به

ستاسو توبه قبوله کړي وي او اجر به درکړي۔
پدے کښې اشاره وه چه روستو پاتے کیدونکی ډیر قبائل وو او په هغوی کښې هغه خلق هم وو چه د هغوی د توبے امید کیدے شو نو الله تعالیٰ د هغوی د توبے د قبلولو علامه دا وخودله چه که تاسو د طاقتور قوم سره مقابلے دپاره تیار شوئ نو تاسو به د ایمان والو نه شئ او اجر به درکړي۔ (خازن)
أَجْرًا حَسَنًا: ددے نه مراد په دنیا کښې غنیمت او په آخرت کښې جنت دے۔
وَإِن تَتَوَلَّوْا: یعنی که چرے دا ځل هم تاسو جهاد ته د تللو نه ځان راښکلو، نو هغه به تاسو له دردناك عذاب درکړي چه قتل، قید او په دنیا کښې مغلوبه کیدل او په آخرت کښې دوچنده عذابونه به ستاسو انتظار کوي۔
مِّن قَبْلُ: اشاره ده تښتیدو ته په ورځ د اُحد او د حدیبیه او نورو واقعاتو ته۔
لَّيْسَ عَلَى الْأَعْمَىٰ: کله چه مخکښې آیتونه نازل شول نو بعض معذور صحابه کرامؓ ویریدل چه زمونږ خو وس نۀ کیږي، او مونږ د عمرے او د جهادونو نه پاتے کیږو آیا مونږ ته به هم عذاب راکړے کیږي؟ نو الله پدے آیت کښې د هغوی عذر نازل کړو۔
او د پورتنی وعید (عذاب بیانولو) نه ئے دوی مستثنیٰ کړل او وے فرمایل چه ړندو، ګوډانو او مریضانو لپاره هیڅ حرج نشته که دوئ په جنګ کښې نۀ شریکیږي۔
ړوند دشمن نشي لیدلے، دے وجے نه جنګ نشي کولے، او نۀ د دشمن نه خپل ځان بچ کولے شي، او ګوډ د تللو طاقت نلري، دے وجے نه دا د جنګ او حملے نه مجبوره وي، او ناجوړه اګرکه لیدل کولے شي او پاسیدلے شي، لیکن د خپلے بیمارئ او کمزورئ په وجه په دشمن نشي غالب کیدلے، بلکه د خپل ځان نه د دشمن حمله هم نشي دفع کولے۔
حَرَجٌ: یعنی ګناه نشته که د حدیبیه د عمرے نه پاتے شوي وي۔ یا د نورو فرضي جهادونو نه پاتے شي۔
وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ: دے ته اشاره ده چه اګرکه داسے مجبوره خلق په جهاد کښې برخه نۀ اخلي، لیکن که چرے د دوئ په زړونو کښې د الله او د هغۀ د رسول (ﷺ) د اطاعت جذبه موجوده وي، نو الله به دوئ داسے جنتونو ته داخل کړي چه د هغے لاندے به نهرونه بهیږي، او څوك چه د الله او د هغۀ د رسول (ﷺ) د خبرے نه مخ اړوي، الله به هغۀ له دردناك عذاب ورکړي۔

لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ
یقیناً رضا شویدے الله د مؤمنانو نه کله چه بیعت کولو دوی تا سره لاندے د ونے نه
فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ
نو الله خبر وو په هغه خبرو چه په زړونو د دوی کښ وو نو راوے لیږلو آرام په دوی
وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۱۸﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيْرَةً يَّأْخُذُوْنَهَا وَكَانَ
او بدله کښ ئے ورکړه دوی ته فتح نزدے۔ او غنیمتونه ډیر چه اخلی ئے دوی او دے
اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۹﴾ وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً
الله تعالیٰ زورور حکمتونو والا۔ وعده کړیده تاسو سره الله تعالیٰ د غنیمتونو ډیرو
تَأْخُذُوْنَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هٰذِهٖ وَكَفَّ أَيْدِيَ
چه اخلئ به تاسو هغه نو په جلتئ سره ئے درکړل تاسو ته دا او بند ئے کړل لاسونه
النَّاسِ عَنْكُمْ وَلِتَكُوْنَ آيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَيَهْدِيَكُمْ
د خلقو ستاسو نه او دے دپاره چه شی دا نخه دپاره د مؤمنانو او هدایت وکړی تاسو
صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۲۰﴾ وَأُخْرٰى لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا
ته د لارے نیغے۔ او نور غنیمتونه چه تاسو قادر نهٔ یئ (اُوس) په هغے باندے
قَدْ أَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ﴿۲۱﴾
یقیناً راګیر کړیدی الله تعالیٰ هغه (په علم خپل کښ) او دے الله په هر شی پوره قدرت لرونکے۔

تفسیر: پدے آیتونو کښ اُوس د صلح حدیبیه فوائد او ښکلے نتیجے بیانوی، یعنی کوم صحابه کرامؓ چه په حدیبیه مقام کښ د یوے ونے لاندے د رسول الله ﷺ په قتال او جهاد باندے بیعت وکړو چه د قریشو کافرانو سره به په جنګ کولو کښ هر یو کس په خپل ځان لوبے کوی، او په هیڅ حال کښ به میدان پرینښودو سره نهٔ تښتی، نو د دوی

نـه الله تـعـالـیٰ د خپـلـے رضـا او خـوشـحـالـئ اعلان وکړو دے وجه نه دے بیعت ته بیعتِ رضوان وئیلے کیږي۔

الشَّجَرَةِ: دا یـوه ونـه وه چـه روستـو زمانه کښې امیر المؤمنین عمر فاروق رضی الله عنه ووهله، ځـکـه چـه بـعـض خـلـق به ورتلل او د هغے لاندے به ئے مونځ کولو، او دا به ئے وئیل چه دلتـه رسـول الله ﷺ بیـعـت کـړیـدے، پـدے سره یـو بدعت ته لاره کولاویده نو عمر رضی الله عنه وفـرمـایـل: پـخـوانـی قـومـونـه پـدے هـلاك شو چه هغوی به د پیغمبرانو د آثارو پسے گـرزیـدل او د ځـان نـه ئے عبادتونه رائج کړل نو الله مونږ ته پدے باندے امر نهٔ دے کړے نو هغه ونه ئے ووهله، بیا به چا دغه ځای نهٔ پیژندلو۔

فَعَلِمَ: کـله چه الله تعالیٰ د مـومـنـانو په زړونو کښې رشتینوالے او په لوظ باندے د دوئ مـضبـوطـه اراده اوپیـژنـدلـه، نو دوئ له ئے صبر او ثابت قدمی او د زړهٔ سکون ورنصیب کړو۔

مَا فِيْ قُلُوبِهِمْ: ۱- د ما نه مراد خیر او رشتینوالے دے۔

۲- یا اَلْقَلَقُ عَلَى الشُّرُوْطِ الْجَائِرَةِ ده۔ (یعنی په ظالمانه شرطونو باندے پریشانی)۔

وَأَثَابَهُمْ فَتْحاً قَرِيْباً: او د دوئ د صبر او کنټرول په بدله کښې ئے دوئ ته د مکے والو د غـنـیـمـتـونـو په ځـائـے ډیر زر د خیبر فتح او هلته د ملاویدونکو ډیرو غنیمتونو زیرے ورکـړو۔ پـه دے زمـانـه کـښې د خیبـر زمکه ډیره زیاته زرخیزه گڼړل کیده، او د هغه ځائے یهـودیانو سره ډیر لوی دولت وو۔ نبی کریم ﷺ دا تهولے میوے، زمکے او مال او دولت په بیعتِ رضوان کښې د برخه اخستونکو صحابه کرامو ترمینځه تقسیم کړل۔

وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً: دے نـه مـراد نـور غنیمتونه دی چه هغه په اتم کال باندے د هـوازن او ثـقیف نـه پـه حـنـیـن غـزا کـښې ونـیـولے شـو چه دا ځلیریشت زره اوښان او اته ځـلـوېښت زره گډے بزے او شپږ زره غلامان زنانه او ماشومان وو۔ او داسے غـنـیـمـتـونـه به مؤمنانو مجاهدینو ته تر قیامته پورے ملاویږي۔

فَعَجَّلَ لَكُمْ: یـعـنی تاسو ته ئے اُوس دغه د خیبر غنیمتونه په جلتئ سره درکړل، او نور به روستو درکوي۔

وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ: یـعـی پـه حُـدیبیـه مـقـام کـښې ئے د قریشو لاسونه ستاسو نه بند وساتل لـکه بعض ځوانانو اراده وکړه چه په مسلمانانو حمله وکړي دے دپاره چه دا صلح

ونشي لکه روستو راځي۔
دارنګه د یهودیانو لاسونه ئې د مدینې نه بند کړل کله چه نبی کریم ﷺ حدیبیه ته راووتو، هغوی اراده کړې وه چه په مدینه حمله وکړي لیکن رعب پرې راغے۔ (قتادهؒ ورجحه ابن جریرؒ)
دارنګه کله چه رسول الله ﷺ خیبر والا محاصره کړل نو عُیینه بن حِصن فَزَاری او عوف بن مالك النضری او ددوی ملګرو اراده وکړه چه د خیبر والو مدد وکړي او په مدینه حمله وکړي، او د دوی ماشومان او زنانه قتل کړي۔
خو په هره زمانه کښې الله تعالیٰ د کافرانو لاسونه د ایمان والو نه بند ساتي او د هغوی په زړونو کښې رعب غورزوي۔
وَلِتَكُونَ: ددے نه مخکښې عبارت پټ دے [لِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ/ وَلِتَنْتَفِعُوْا/ وَلِتَشْكُرُوْهُ]
یعنی دا کارونه ئې دے دپاره وکړل چه ستاسو زړونه مطمئن شي او تاسو ددے غنیمتونو نه فائدے واخلئ او د الله شکر وکړئ۔ او دے دپاره چه دا د ایمان والو دپاره نښه شي په رشتینوالي د رسول الله ﷺ په ټولو وعدو کښې، چه الله تعالیٰ وعده کړے وه نو هغه ئې پوره کړه۔
وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطاً مُّسْتَقِيمًا: او دے دپاره چه ستاسو هدایت او بصیرت او یقین او د الله په احسان او مهربانئ باندے اعتماد زیات شي، او جهاد سبب د هدایت دے۔
وَأُخْرٰى لَمْ تَقْدِرُوْا: اَیْ وَعَدَكُمْ مَغَانِمَ اُخْرٰی یعنی الله تاسو سره د نورو غنیمتونو وعدے کړیدی چه اُوس لا تاسو د هغے په حاصلولو قدرت نۀ لرئ۔
ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: چه ددے نه مراد نور غنیمتونه دي (چه هغه د روم (یرموك) او فارس او بنو حنیفه او د عراق غنیمتونه وو) چه روستو زمانه کښې مسلمانانو ته حاصل شول۔
بعض وائی: واخری عطف دے په (هٰذِهٖ) باندے اَیْ فَعَجَّلَ لَكُمْ هٰذِهٖ وَمَغَانِمَ اُخْرٰی۔
یعنی تاسو ته ئې په جلتئ سره دا غنیمتونه هم درکړل او نور غنیمتونه چه تاسو پرے قادر نۀ وئ چه هغه د خیبر او د حنین والو غنیمتونه دي۔
أَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا: یعنی الله په خپل علم کښې هغه راګیر کړیدي۔ یا الله تعالیٰ تاسو لپاره محفوظ ساتلي دي۔

وَلَوْ قَاتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا
او كه چرته جنګ كړے وے تاسو سره هغه كسانو چه كفر ئے كړيدے خامخا اړولے به
الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٢٢﴾ سُنَّةَ اللهِ
ئے شاګانے بيا به ئے نۀ موندلے دوست او نۀ مددګار۔ پشان د طريقے د الله تعالىٰ
الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللهِ تَبْدِيْلًا ﴿٢٣﴾
هغه چه تيره شويده مخكښں، او هيچرے به ونۀ مومے دپاره د طريقے د الله بدلول۔
وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ
او الله هغه ذات دے چه بند ئے كړل لاسونه د دوى ستاسو نه او لاسونه ستاسو
عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ
د دوى نه په خيټه د مكه كښں روستو د هغے نه چه كامياب ئے كړئ تاسو
عَلَيْهِمْ وَكَانَ اللهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿٢٤﴾
په هغوى باندے او دے الله تعالىٰ په هغه عملونو چه تاسو ئے كوئ ليدونكے۔

تفسير : اُوس ددے حكمت بيانوى چه صلح د حديبيه چه وشوه نو ددے دا مطلب نۀ دے چه ګنے الله تعالىٰ د مسلمانانو په مدد قادر نۀ وو ځكه ئے د صلح كولو حكم وكړو بلكه كه بالفرض جنګ هم شوے وے نو تاسو به خامخا غالبه كيدے ليكن جنګ ونكړے شو پدے كښں د الله تعالىٰ ډير حكمتونه وو۔

ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ : يعنى ضرور به هغوى شاګانے راړولے او څوك به ورله مدد ته هم نۀ راتللے۔

سُنَّةَ اللهِ: دا د الله تعالىٰ طريقه ده چه كوم كافر سخت كفر كوى، او د نبى او د مؤمنانو په خلاف كښں ودريږى نو الله تعالىٰ ئے ذليله كوى۔ او د الله تعالىٰ طريقه هيڅكله نۀ بدليږى ځكه چه د الله تعالىٰ ذات نۀ بدليږى نو پخوا چه ئے څرنګ كافران ذليله كول اُوس به ئے هم ذليله كوى۔

وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ: ددے مثال راوړی چه الله تعالیٰ تاسو ته غلبه درکولے شی۔
رسول الله ﷺ په حدیبیه کښې وو، د مشرکانو ځوانانو شر جوړولو اراده وه، په خپلو مشرانو پوهه شو چه دوی صلحے ته مائله کیږی نو اتیا کسانو مشوره وکړه چه حمله به وکړو، جنګ به جوړ شی نو صلحه به خرابه شی، نو د تنعیم په غر باندے راواوړیدل چه د دوی اراده وه چه د نبی علیه السلام او د هغهٔ د ملګرو غفلت مونده کړی او حمله پرے وکړی، دا د سهار مانځه وخت وو نو رسول الله ﷺ ملګرو ته حکم وکړو نو هغوی ټول ئے راونیول او د هغوی نه ئے وسلے واخستے، او دلته ئے راوستل بیا رسول الله ﷺ هغوی ټولو لره آزاد کړل، احسان ئے ورسره وکړه او دا آیت نازل شو۔
(احمد : ١٢٢٤٩، مسلم : ٤٧٧٩، ابوداود، ترمذی او نسائی وغیره د انس رضی الله عنه روایت دے)
په دے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ دے واقعے طرفته اشاره کړے او په مسلمانانو ئے خپل احسان زباتلے دے چه هغهٔ مشرکانو لره تاسو ته د ضرر رسولو نه منع کړل، او تاسو ئے هغوئ سره د مسجدِ حرام په خوا کښې د جنګ کولو نه منع کړئ، او صلح دپاره ئے حالات سازګار کړل چه د نتائجو په لحاظ مسلمانانو لپاره ډیره زیاته مفیده ثابته شوه۔
أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ: یعنی تاسو ئے پرے کامیاب او غالب او قادر کړئ۔ مسلمانان په عامو مشرکانو باندے غالبه وو او مشرکان مرعوبه وو، پدے وجه خو صلح ته تیاریدل۔

هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ
دا هغه کسان دی چه کفر ئے کړیدے او منع کړی یئ تاسو د مسجد حرام نه او هدیو
مَعْكُوْفًا أَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ ؕ وَلَوْلَا
لره چه بندے کړے شویدی ددے نه چه اُورسیږی ځائے د حلالے ته، او که چرته نهٔ وے
رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ أَنْ تَطَئُوْهُمْ
سړی مؤمنان او ښځے مؤمنے چه تاسو هغوی نهٔ پیژندل چه تاسو به ئے د خپو
فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ مَّعَرَّةٌ بِغَيْرِ عِلْمٍ
لاندے کړئ پس چه وبه رسی تاسو ته د دوی نه نقصان په غیر د پو هے نه

لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَاءُ لَوْ
دے دپاره چه داخل کړی الله تعالیٰ په رحمت خپل کښې چا له چه اُوغواړی، که چرته
تَزَيَّلُوْا لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ
دوی (مؤمنان) لرے شوی وے خامخا عذاب به ورکړے وے مونږ هغه کسانو ته
كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿٢٥﴾ اِذْ جَعَلَ الَّذِيْنَ
چه کفرئے کړیدے د دوی نه عذاب دردناک۔ کله چه اُوګرځوو هغه کسانو
كَفَرُوْا فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ
چه کفرئے کړیدے په زړونو خپلو کښې غیرت، غیرت د جاهلیت نو راولیږلو الله
سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَلْزَمَهُمْ
آرام خپل په رسول خپل او په مؤمنانو باندے او مضبوطه ئے کړه په دوی باندے
كَلِمَةَ التَّقْوٰى وَكَانُوْا
کلمه د تقویٰ (توحید) (یا : او الله لازمه کړه د دوی سره خبره د تقویٰ) او وو دوی
اَحَقَّ بِهَا وَاَهْلَهَا وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿٢٦﴾
ډیر حقدار د هغے او لائق د هغے او الله تعالیٰ دے په هر څه باندے پوهه۔

تفسیر: اُوس دا بیانوی چه دا مشرکان د قتال لائق وو که دوی سره جنګ شوے وے، نو هیڅ اعتراض به نۀ وے ځکه چه دوی کښې سبب د قتال موجود وو، لیکن روستو بیا مانع د قتال بیانوی۔ یعنی کافران خو د قتال لائق وو لیکن بل طرفته په قتال نۀ کولو کښې حکمت وو۔ نو په دے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ د قریشو د کافرانو او د نورو عربو مشرکانو بدی بیانوی، او مسلمانان هغوئ سره په جنګ کولو باندے راپورته کوی۔

فرمائی چه همدا هغه خلق دی چه دوئ د الله تعالیٰ د توحید او د نبی کریم ﷺ د نبوت نه انکار کړے دے، او نبی کریم ﷺ او صحابه کرامؓ ئے مسجدِ حرام او د عمرے کولو نه منع کړی دی، او د قربانئ آویا (۷۰) اوښان کوم چه نبی ﷺ د مدینے نه ځان سره اخستی

وو، هغه ئې هم د حرم حدودو ته د دننه تللو نه منع کړی دی۔
د کفارو او مشرکانو دا جرمونه ددې تقاضا کوی چه دوئ سره جنګ اُوکړے شی، لیکن رکاوټ دادے چه په مکه کښې د مشرکانو ترمینځه څۀ مومنان سړی او ښځې دی، چه د دوئ د قتل کیدو ویره ده۔ که چرے دا مومنان سړی او ښځې هلته نۀ وے چه ددے پته به د مدینے مجاهدینو ته نۀ وے، او چه د دوئ په باره کښې ویره ده چه د جنګ کیدو په صورت کښې به کافرانو سره دوئ هم اُووژلے شی، او په ناپوهئ کښې به د مسلمانانو نه ګناه وشی، او کفار به وائی چه مسلمانانو خپل مسلمانان ورونه اُووژل، که چرے دا ویره نۀ وے نو الله به مسلمانان مکے ته داخل کړی وے، او د جنګ کولو صورت به ئې جوړ کړے وے۔
وَالْهَدْيَ: دا عطف دے په صَدُّوْكُمْ کښې په كُمْ ضمیر باندے۔ اَیْ صَدُّوا الْهَدْيَ او **مَعْكُوْفًا** حال دے۔ یعنی دوی منع کړیده هَدْی په داسے حال کښې چه بنده کړے شویده ددے نه چه ځای د حلالے او نازلیدو ته ورسیږی چه هغه مکه ده۔
لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ: یعنی تاسو ته د هغوی د ایمان علم نشته۔ یا تاسو هغوی شخصی طور سره نۀ پیژنئ۔
اَنْ تَطَئُوْهُمْ: دا بدل اشتمال دے د (رِجَالٌ او نِسَاءٌ) نه او ددے نه د قتال په وخت کښې د هغوی پائیمال کول مراد دی په قتل او زخمی کولو سره۔
فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ مَّعَرَّةٌ: نو ددے په وجه به تاسو ته نقصان رسیدلے وے۔ معرة په اصل کښې ځای د خارښ ته وئیلے شی، او دارنګه ګناه او سخت اذی (تکلیف) او جنایت او تاوان ته وئیلے کیږی۔ (لسان العرب)
یعنی که تاسو مؤمنان په ناخبرئ کښې وژلی وے، نو تاسو ته به لوی نقصان رسیدلے وے، هغه دا چه د کافرانو بدنامه لګول او د قتیلانو دیتونه وغیره ځکه چه په دار حرب کښې یو مؤمن وی او قاتل ته د هغه د ایمان علم نۀ وی او هغه ئې قتل کړی نو دیت لازمیږی۔
بِغَيْرِ عِلْمٍ: پدے کښې عذر د مؤمنانو مجاهدینو بیانوی چه دا کار به دے مؤمنانو په ناخبرئ کښې کړے وے ځکه چه کامل مؤمن بل مؤمن لره قصداً هیڅکله نۀ وژنی۔
وَلَوْلَا: ددے جواب پټ دے [لَاَذِنَ اللّٰهُ لَكُمْ فِیْ قِتَالِهِمْ] الله تعالیٰ به تاسو ته د هغوی سره

د قتال اجازت درکړے وے۔

لِيُدْخِلَ اللّٰهُ : پدے کښې د قتال نۀ کولو دویم حکمت بیانیږي، یعنی الله تعالیٰ مسلمانانو له د جنګ کولو اجازت ځکه ورنۀ کړو چه هغه په خپلو بندګانو کښې چاله چه غواړي په خپل رحمت کښې داخل کړي، د مدینے مجاهدین د ننګ او شرم نه، او په مکه کښې پټ مسلمانان د وژلو نه بچ کړي، او د مکے کوم مشرکان چه په اسلام کښې داخلیدل غواړي دوئ له د کفر نه پس ایمان، او د ګمراهۍ نه پس هدایت ورکړي۔

رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ وَنِسَاءٌ مُّؤْمِنَاتٌ : دا دوه قسمه وو، یو هغه وو چه فی الحال ئے ایمان راوړے وو او په مکه کښې د ظلمونو ښکار شوي وو، او هغه رسول الله ﷺ او مؤمنانو ته نۀ وو معلوم۔ او دویم بالقوه مؤمنان مراد دي، لکه اُوس د کفر په حالت کښې دي لیکن روستو به مؤمنان کیږي لکه سهیل بن عمرو، ابو سفیان، معاویه، عکرمه بن ابی جهل، صفوان بن امیه، خالد بن الولید وغیره روستو په اسلام مشرف شو۔ (رضی الله عنهم اجمعین) که جنګ شوے وے نو دوي به په کفر کښې تلي وے لیکن الله تعالیٰ ته د دوئ د ایمان معلومات وو۔ نو ګویا که دے کښې د مشرکانو فائده هم وه۔

فِي رَحْمَتِهِ : د رحمت نه مراد ایمان او بیا جنت ته داخلول دي۔

لَوْ تَزَيَّلُوا : یعنی که چرے په مکه کښې موجود نارینه او زنانه مومنان د مشرکانو نه یو طرفته شوي وے، نو مونږ به د مدینے مجاهدین په مکه کښې ورداخل کړي وے، او کفارو سره به مو د جنګ اجازت ورکړے وے، او کافرانو له به مو د دوئ په لاس دردناك عذاب ورکړے وے، یعنی وژلے شوي به وے، او کوم چه ژوندي پاتے شوي وے هغه به قید شوي وے۔ نو دوي دِے مؤمنانو ته دعا کوي۔

قتادةؒ نه نقل دي چه دا آیت دلیل دے چه د مؤمنانو په وجه الله تعالیٰ د کافرانو نه عذاب دفع کوي۔

علامه قرطبیؒ لیکی : [فِي الآيَةِ دَلِيلٌ عَلَى مُرَاعَاةِ الْكَافِرِ فِي حُرْمَةِ الْمُؤْمِنِ]

دا آیت دلیل دے چه کافر ته به ضرر نۀ ورکړے کیږي کله چه په هغے کښې مسلمان ته تکلیف رسیږي۔

إِذْ جَعَلَ الَّذِينَ : دا بل سبب د قتال بیانوي چه دوئ د قتال ځکه لائق وو چه د جاهلیت غیرت ئے کړیدے، او هغه دا چه دوي وئیلي وو [قَتَلُوا أَبْنَاءَ نَا وَإِخْوَانَنَا ثُمَّ يَدْخُلُونَ

عَلَيْنَا فِيْ مَنَازِلِنَا، فَتَتَحَدَّثَ الْعَرَبُ اَنَّهُمْ دَخَلُوْا عَلَيْنَا رَغْمَ اَنْفِنَا، وَاللَّاتِ وَالْعُزّٰى لَا يَدْخُلُوْنَهَا اَبَدًا] چه ((دے مسلمانانو زمونږ وړونه او ځامن قتل کړی دی، او اُوس زمونږ کورونو ته ننوتل غواړی۔ که چرے داسے وشی نو د عربو قبائل به وائی چه مسلمانان د مکے والو کورونو ته په زبردستئ سره ننوتل، په لات او عُزیٰ قسم ! مونږ به دوئ مکے ته راننوتو نه نهٔ پریدو))۔ (فتح الرحمن فی تفسیر القرآن والقرطبی)

دے ته ئے د جاهلیت غیرت ځکه ووئیلو چه غلط وو، ځکه چه حرم خو یوائے د قریشو جاگیر نهٔ وو، دا خو په اصل کښ مؤمنانو لره جوړ دے، نو چه مؤمن خپل کور ته راننوتو نو دے کښ تا ته څه ضرر دے، لکه دا د جاهلانو طریقه ده چه په حق به پابندی لګوی، او دا به وائی چه دا زمونږ د غیرت خلاف ده، خلق به وائی چه په زوره ئے ترے سنت طریقه عملی کړه۔

او حمیة الجاهلیة دا هم وو چه د رسول الله ﷺ په رسالت ئے اقرار نکولو۔ دارنګه هغهٔ ئے مکے ته نهٔ پریخودو، دارنګه د بسم الرحمن الرحیم او د محمد رسول الله لفظ لیکلو نه ئے انکار کولو، ابن بحرؒ وائی : د خپلو آلهو دپاره ئے تعصب کولو نو د هغوی نه علاوه د الله بندګی ئے نهٔ کوله۔ (قرطبی)

فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ : لیکن د دوئ د تمامو شرونو او تکلیفونو سره سره، الله تعالیٰ د خپل رسول او د مومنانو په زړونو کښ سکون او اطمینان واچولو، دے وجے نه دوئ مشرکانو سره د جنګ کولو سوچ ونهٔ کړو، د الله تعالیٰ په فیصله ئے صبر وکړو، او د صلح د شرطونو پابندی ئے وکړه۔ او د پیغمبر په خبره ئے تسلی وکړه۔

وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى : یعنی پیوسته ئے کړه د دوی سره کلمه د تقویٰ، یعنی دوی له ئے غوره کړه، نو دا د دوی اکرام او تشریف دے۔

د کلمة التقویٰ (۱) یو مصداق دے لا اله الا الله۔ یعنی داسے کلمه چه په هغے سره بچاؤ کیدے شی د شرك نه، او بعضو ورسره محمد رسول الله هم زیاتی کریده۔ لکه بیهقیؒ په ((الاسماء والصفات)) کښ ذکر کریدی او ابن کثیرؒ وئیلی دی چه هغه د زهریؒ اِدراج دے۔

او مطلب ددے دا دے چه مشرکان په شرك باندے کلك وو نو الله تعالیٰ مؤمنانو لره په توحید باندے کلك کړل۔

یا مقصد دا دے چه لازم ئے کړو په دوی باندے رعایت او لحاظ کول د کلمے د توحید

یعنی داسې طریقه اختیار کړئ چه په هغې سره کلمه د توحید اُوچتیږي.
(۲) دویم: کلمه د تقویٰ بعینهٖ تقویٰ ته هم وئیلې شي. نو دا اضافت بیانی دے. یعنی الله د دوی سره لازمه کړه تقویٰ، او تقویٰ د الله د حدودو پابندیٔ ته وئیلې شي. او دا د الله قانون دے چه په وخت د تکلیف کښې مؤمن ته د ایمان فائده رابښکاره کوي. یو وخت کښې به تهٔ هلاکت ته نزدے شې، او سخت تکلیف او مصیبت کښې به راګیر شې نو زَړه نیکي او زور ایمان به تا ته فائده درکړي او مصیبت نه به خلاص شې.
(۳) مجاهدؒ نه دا هم نقل دي چه د کلمة التقویٰ نه مراد اخلاص دے.
(٤) زهریؒ وائي: ددے نه بسم الله الرحمن الرحیم کلمه مراد ده چه مشرکانو پدے اقرار نکولو. (قرطبی)
وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا: یعنی دوی کښې الله تعالیٰ ددے استعداد او لیاقت اچولے وو چه دوی کښې تقویٰ راتللے شوه. پدے کښې اشاره ده چه په دوی باندے دا الزام جبراً او کرهًا نهٔ وو او نهٔ په دے کښې د دویٔ اهانت او سپکوالے وو بلکه دویٔ ددے حقدار وو. او اَحق اسم تفضیل کښې اشاره ده چه کوم خلق د دویٔ نه روستو ایمان راوړي هغوی هم ددے کلمے حقدار دي لیکن د حدیبیه والا صحابه کرامؓ ئے زیات حقدار وو.
وَأَهْلَهَا: یعنی دوی ئے لائق هم وو. پدے کښې اشاره ده چه د دویٔ حقداری عارضی نهٔ وه بلکه دویٔ په علم د الله تعالیٰ کښې ددے کلمے اهل وو. یعنی دا خلق د دینِ اسلام او د رسول الله ﷺ د ملګرتیا د وجے نه همدویٔ ددے لوئے نعمت لائق وو. او چونکه الله تعالیٰ هر یو شے پیژني، دے وجے نه هغهٔ ته ښه پته ده چه ددے نعمت حقدار څوك دے.
انسان د یو شي حقدار کیږي هله چه سخته پرے تیره کړي، او اهل هله ګرځي چه استعداد پکښې وي. نو احق کښې اشاره ده چه (جَاهَدُوا) دوی مجاهده کړے ده او (اَهْلَهَا) کښې اشاره ده چه (اِسْتَعَدُّوا) دوی کښې قابلیت او استعداد موجود وو.

كَـأَنَّ رَبَّكَ لَـمْ يَـخْـلُـقْ لِخَشْيَتِـهٖ	❁	سِوَاهُـمْ مِنْ جَمِيعِ النَّـاسِ اِنْسَانَا

ګویا که ستا رب د خپلے یرے (تقویٰ) دپاره د دوی نه سویٰ نور انسانان نهٔ وو پیدا کړي.
نو دے نه دا معلومه شوه چه څوك په کلمه د توحید خواری نهٔ کوي، او دا ورته دومره اهمه نهٔ ښکاره کیږي نو الله ئے ترے د مرګ په وخت بیرته اخلي. والعیاذ بالله.

او دا آيت ښكاره دليل دے چه څوك د صحابه كرامؓ پسے خبرے كوى نو هغه مسلمان او تقوىٰ والا نشى كيدے، بلكه د الله تعالىٰ په ضد كښې ولاړ دے۔

لَقَدْ صَدَقَ اللهُ رَسُوْلَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ لَتَدْخُلُنَّ
يقيناً رشتينى كړو الله رسول خپل سره خوب په حق سره خامخا داخليږئ به تاسو
الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِنْ شَاءَ اللهُ آمِنِيْنَ مُحَلِّقِيْنَ رُؤُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ
مسجد حرام ته كه اُوغواړى الله امن والا به يئ خريونكى د سرونو خپلو او لنډونكى
لَا تَخَافُوْنَ فَعَلِمَ مَا
(د ويختو)، نۀ به يريږئ (د دشمن نه) نو الله ته معلوم وو هغه څه (فائدے) چه
لَمْ تَعْلَمُوْا فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿٢٧﴾
تاسو ته نۀ وو معلوم، نو وے ګرځول مخكښې ددے نه فتح نزدے۔(صلح حديبيه)۔

تفسير: نبى كريم ﷺ په (٦) هجرى كښې خوب اوليدۀ چه هغه د خپلو صحابه كرامؓ سره مكے ته ننوځى، او د خانه كعبے طواف كوى، دے وجے نه هغۀ د صحابه كرامؓ سره د عُمرے كولو اعلان وكړو، او په لاره كښې ئے هغوئ ته د خوب خبردارے وركړو، نو تمام صحابه كرامؓ ډير زيات خوشحاله شو، ليكن كله چه مكے ته داخل نشول او د صلح تراخۀ شرطونه ئے قبول كړل، او بيرته مدينے ته واپس كيدل نو دوئ رسول الله ﷺ نه تپوس وكړو چه تاسو چه كوم خوب ليدلے وو، د هغے تعبير څۀ دے؟

او منافقانو ويل چه مونږ نۀ ويښتۀ خرئيلى، نۀ مو پريكړى، او نۀ مسجدِ حرام ته ننوتى يو، آخر دا څنګه عمره ده؟! پداسے حالاتو كښې منافقانو دا شكونه راپورته كړل چه د الله رسول خو مونږ سره وعده كړے وه چه عمره به كوو نو مونږ خو ونكړه، مطلب ئے دا وو چه دا خبر دروغژن وو۔

او بعض مؤمنانو ته هم د حالاتو د ناخبرئ د وجه نه وسوسه راغله ځكه چه د حالاتو نه خو روستو خبر شو، كله د علم د كموالى د وجه نه انسان ته يو اشكال راځى نو دے كښې ښه خبره دا وى چه خبره سمدست رد كول نۀ دى پكار بلكه تسليميدل پكار دى، روستو

خبره واضحه کيږي۔

نو الله تعالیٰ دا آيتونو نازل کړل چه په دے کښې الله تعالیٰ خبر ورکړو چه هغه به د خپل رسول خوب خامخا رشتينی څرګندوی، د هغهٔ خوب حق دے۔

اے مسلمانانو! که چرے الله غواړی نو تاسو به خامخا مسجدِ حرام ته داخليږئ، په داسے حال کښې چه تاسو به د هر خوف او خطر نه بيغمه ئے، او د عُمرے کولو نه پس به د خپلو سرونو ويښتهٔ يا خو خروئ اويا به ئے وړوکی کوئ، تاسو ته به هيڅ قِسم ويره نهٔ وی۔

او مطلب دا دے چه خوب کښې خو دا خبره نهٔ وه چه سږ کال به عمره کوو، بلکه رسول الله ﷺ د خپل اجتهاد مطابق او د زياتے خوشحالئ په توګه سمدست روان شو۔ خوب رشتينی وو ليکن تعبير کښې ئے وخت لګيدو۔

بِالْحَقِّ: اَیِ الَّتِیْ کَانَتْ بِالْحَقِّ۔ يعنی هغه خوب چه هغه په رشتيا سره وو، او شيطانی خوب نهٔ وو۔ يعنی رشتينی خوب وو۔

يا د حق نه مراد حکمة دے، يعنی هغه خوب چه مشتمل وو په کامل حکمة باندے ځکه چه پدے خوب سره ابتلاء راغله، او د مخلص مؤمن او د هغه چا چه په زړه کښې ئے مرض وو تميز او جدائی راغله۔

لَتَدْخُلُنَّ: اَیْ فِی الْعَامِ الْقَابِلِ۔ يعنی تاسو به راتلونکی کال کښې عمره کوئ۔

اِنْ شَاءَ اللّٰهُ: دا خوب اګرکه رشتينی دے ليکن ان شاء الله پکښې د تبرك دپاره راوړی، او همدا ظاهره وجه ده، ځکه چه په الله تعالیٰ باندے خو يوه خبره هم لازمه نهٔ ده، که الله وغواړی او يوه خبره هم رشتينی نهٔ کړی هم په هغه هيڅ ملامتيا او زور د هيچا نشته۔ نو په ان شاء الله راوړو کښې تفويض (خبره الله ته سپارل) او تبرك وی۔ او پدے کښې مسلمانانو ته ادب هم دے چه دوی دِے په هره خبره کښې ان شاء الله وائی۔

مُحَلِّقِيْنَ: حلق ئے مخکښې راوړو ځکه چه حلق په حج او عمره کښې د قصر نه زيات بهتر دے، او په عامو اوقاتو کښې سر پريخودل افضل دی د خرئيلو نه۔

فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا: يعنی الله تعالیٰ ته معلومے وے هغه فائدے چه تاسو ته نهٔ وے معلومے، نو پدے وجه ئے خبره صلحے ته برابره کړه، که دا نهٔ وه شوے او عمره ئے درباندے کړے وے، نو دغه ايمانی او ظاهری فائدے به نهٔ حاصليدے کوم چه د صلحے په وجه

حاصلے شوے۔

دے وجے نه هغۀ په دے کال کښ تاسو مکے ته د داخلیدو نه منع کړئ، او د خوب مطابق مکے ته د داخلیدو نه وړاندے ئے د صلح حُدیبیه لپاره حالات جوړ کړل کوم چه په حقیقت کښ د نتائجو په لحاظ سره د مسلمانانو لپاره یوه عظیمه فتح وه۔

بعضِ خلقو دلته د ﴿فَتۡحًا قَرِيۡبًا﴾ (نزدے فتح) نه مراد (د خیبر فتح) اخستے ده، لیکن د زیاتو خلقو رائے داده چه ددے نه مراد (صلح حُدیبیه) ده۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه د نبی کریم ﷺ خوب په ذی القعده (۷) هجری کښ د عُمرة القضاء په صورت کښ پوره شو۔ ذی القعده (٦) هجری کښ د حُدیبیه نه واپس کیدو نه پس، نبی کریم ﷺ ذی الحجه او محرم دوه میاشتے په مدینه کښ پاتے شو، په صفر کښ ئے خیبر فتح کړو، او په ذی القعده (۷) هجری کال کښ د عُمرے په نیت سره مکے ته روان شو۔ نبی ﷺ سره هم هغه صحابه کرامؓ وو کومو چه په بیعتِ رضوان کښ برخه اخستے وه، او دا ځل هغۀ د خپل ځان سره (٦٠) شپیتۀ اوښان اخستی وو۔

مکے ته د رسیدو نه پس نبی ﷺ صحابه کرامؓ سره عمره اداء کړه، چه ددے تفصیل د سیرت او تاریخ په کتابونو کښ موجود دے۔

هُوَ الَّذِىۡۤ اَرۡسَلَ رَسُوۡلَهٗ بِالۡهُدٰى وَدِيۡنِ الۡحَقِّ
الله هغه ذات دے چه را وے لیږلو رسول خپل په هدایت او دین حق باندے
لِيُظۡهِرَهٗ عَلَى الدِّيۡنِ كُلِّهٖ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيۡدًا ﴿۲۸﴾
دے دپاره چه غالبه کړی دا په دینونو ټولو باندے او پوره دے الله گواه۔

تفسیر: پدے آیت کښ بل بشارت دے په فتح عام سره چه هغه غلبة الاسلام ده۔ یعنی فتح د مکے لا څه چه الله تعالیٰ به دا دین ټولے دنیا ته ورسوی، کافران غواړی چه دا دین خکته کړی لیکن الله به ئے غالب کوی۔ او دا وعدے الله تعالیٰ زمونږ د نبی کریم ﷺ سره پوره کړیدی، نو ددے آیتونو وعدے مخکښ هم تیرے شوے، او روستو هم راتلونکی دی۔ د مهدی آخر زمان او د عیسیٰ علیه السلام په دور کښ به الله تعالیٰ ټولے دنیا باندے دین اسلام غالب کړی، او یو اسلامی خلافت به راولی۔ او دا آیت دلته دویم کرت

ذکر کیږی، او دریم کرت به په سورة الصف کښ راځی۔ او تفصیلی تشریح ئے په سورة التوبه کښ ذکر ده۔

بِالْهُدَی : ۱ – (بِالْعِلْمِ النَّافِعِ وَالْعَمَلِ الصَّالِحِ)۔ (ابن کثیرؒ) یعنی الله خپل رسول ته نفعمن علم او د عمل طریقے ورکړے او راوے لیږه چه دا حق دین دے۔

(۲) بِالتَّوْحِيدِ وَالسُّنَّةِ۔ هدیٰ توحید ته وائی او دین الحق سنت ته وائی۔

(۳) هدیٰ ایمانیات او دین الحق اعمالو ته وائی۔ چه دے ته اصول او فروع هم وائی۔ اشاره ده چه د رسول د رالیږلو مقصد دا دے چه د بندګانو عقیدے صحیح شی او هغوی د الله دپاره صحیح عملونه وکړی او همدا مقصد د انسانانو د پیدائش دے۔

لِيُظْهِرَهُ: یعنی د هغهٔ وعده ده چه هغه به دا دین د دنیا په تمامو اَدیانو باندے اُوچت او غالبه کوی۔ نو همدغسے اوشوه چه دینِ اسلام په ټوله دنیا کښ خور شو، او نور باطل دینونه په کمزورتیا شو۔

ابن جریر طبریؒ د ﴿ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ ﴾ (دے دپاره چه په ټولو ادیانو ئے غالبه کړی) په تفسیر کښ لیکلی دی چه دا به هغه وخت وی کله چه عیسیٰ ؑ آسمان نه راکوز شی، او دجال قتل کړی۔ هغه وخت به تمام ادیان باطل شی، او هر طرفته به د اسلام چرچه شی۔ نو دا وعده د رسول الله ﷺ په زمانه کښ هم رشتینی شوه او روستو به بیا رابنکاره کیږی۔

وَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا : یعنی الله تعالیٰ پدے هرڅه د مخکښ نه خبردار دے، او ددے ګواهی ورکوی او د الله ګواهی د هرڅه نه کافی ده۔ یعنی الله تعالیٰ په دے ګواه دے چه هغه به دینِ اسلام په نورو ټولو ادیانو غالبه کوی، او په دے خبره هم ګواه دے چه محمد (ﷺ) د هغهٔ رشتینے رسول دے، او هغه به ددهٔ خامخا مدد کوی۔

مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ
محمد (ﷺ) رسول د الله تعالیٰ دے او هغه کسان چه ددهٔ ملګری دی، سخت دی
عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا
په کافرو، رحم کونکی دی په مینځ خپل کښ، وینے به ته دوی لره رکوع کونکی،

سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ
سجده کونکی، لټوی فضل د الله او رضا د هغهٔ، نخے د دوی په مخونو د دوی کښی
مِّنْ أَثَرِ السُّجُوْدِ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ
دی، د وجے د نخو د سجدو نه، دا حال (صفت) د دوی دے په تورات کښی
وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيْلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهٗ
او صفت د دوی په انجیل کښی پشان د کروندے دے چه را اُوباسی تیغ خپل
فَآزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ
نو کلک کړی هغه نو غټ شی (سخت شی) بیا برابر اُودریږی په پونډئ خپله باندے،
يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ
خوشحالوی زمیدارو لره (عاقبت دا دے) چه غصه کړی په دوی باندے کافرانو لره،
وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا
وعده کړیده الله تعالیٰ د هغه کسانو سره چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړیدی
الصَّالِحَاتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّأَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٢٩﴾
نیک د دوی نه بخنه او اجر لوئی۔

تفسیر: ربط :

مخکښی آیت کښی الله تعالیٰ گواهی ورکړه چه محمد ﷺ الله تعالیٰ خپل رسول رالیږلے دے۔ نو دلته اُوس د هغے تاکید بیانوی چه محمد ﷺ د الله رسول دے۔ نو مخکښی د رسول الله ﷺ رشتینوالے بیان شو، اُوس د هغهٔ او د هغه د ملگرو لس صفات راوړی، چه دوی کښی دومره کمالات موجود دی۔

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ: دے کښی دوه ترکیبه دی (۱) دا مبتداء او خبر دی۔ یعنی الله تعالیٰ دا خبر ورکوی چه محمد ﷺ د الله رسول دے۔ نو سوال دا دے چه دا خو خلقو ته معلومه ده نو ولے خبر ورکوی؟ جواب دا دے چه دا ددے دپاره چه رد راشی په مشرکانو باندے چه

په صلح حدیبیه کښې کوم خط لیکلے کیدو، نو په هغے کښې دوی د محمد رسول الله لفظ نهٔ پریخودو، نو الله تعالیٰ په قرآن کښې ولیکلو چه محمد ﷺ د الله رسول دے اګرکه تاسو ئے په وړوکی کاغذ کښې نهٔ لیکئ خو زهٔ به ئے داسے کتاب کښې ولیکم چه دا به تر قیامته پورے لوستلے کیږی۔

(۲) بعض وائی : دلته هُوَ مبتداء پټه ده، یعنی دغه رسول چه الله رالیږلے دے، دا محمد دے چه د الله رسول دے۔ لیکن اول ترکیب غوره دے۔ په قرآن کریم کښې محمد لفظ څلور کرته ذکر دے، په دوه معانیو استعمال دے، هغه شخص چه د هغه بار بار صفتونه کیږی۔ یا كَثِيْرُ الْمَحَامِدِ لِرَبِّهٖ۔ هغه شخص چه د خپل رب ډیر صفتونه ئے کړیدی۔

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ: اُوس د صحابه کرامؓ صفات راوړی، د سورت په اول کښې هم ذکر وو، اُوس ئے بیا راوړی، هلته ئے وویل چه دوی ایمان راوړے نو الله به جنت ورکړی، دلته وائی چه دوی عابدان، صالحین، دُعاة دی نو ځکه به الله جنت ورکوی۔

امام مالك رحمه الله فرمائی: (الْآيَةُ عَامَّةٌ فِیْ جَمِيْعِ الصَّحَابَةِ)

دا آیت د ټول صحابه کرامؓ په باره کښې عام دے۔ برابره ده صلح حدیبیه ته حاضر شوی وی او که د هغوی نه روستو خلق وی، کشران او مشران ټول پکښې داخل دی۔

مَعَهٗ: د معیت نه مراد صحبت (ملګرتیا) ده، او ددے نه مراد صرف صحابه کرامؓ دی، یا د معیت نه مراد ملګرتیا د تابعداریٔ ده، نو بیا پکښې ټول مؤمنان داخلیږی، لیکن اول احتمال غوره دے۔

اَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ: دے ته ولاء او براء وائی۔ او ددے نه ایمان جوړ دے۔ کفار چه د الله دشمنان دی په هغوی باندے سختی کونکی دی، ځکه چه د کفر او شرك نه ئے نفرت دے۔ او صحابه کرامؓ پدے باندے په ډیره کامله طریقه عمل کړیدے، حسن بصری رحمه الله فرمائی : [كَانُوْا يَتَحَرَّزُوْنَ مِنْ ثِيَابِهِمْ اَنْ تَلْزَقَ بِثِيَابِهِمْ وَتَمَسَّهَا وَمِنْ اَبْدَانِهِمْ اَنْ تَمَسَّ اَبْدَانَهُمْ وَتَلْزَقَ بِهَا] دوی به خپلے جامے د هغوی د جامو نه ساتلے چه د هغوی سره ونهٔ لګیږی، او بدنونه به ئے هم د هغوی د بدنونو نه ساتل۔ (فتح البیان)

حسن بصریؒ او ابن عباس ﷺ به فرمائیل : [مَنْ صَافَحَ مُشْرِكًا فَلْيَتَوَضَّأْ] چا چه د مشرك سره مصافحه وکړه نو هغه دِے اَودس وکړی۔ (لغوی اودس مراد دے یعنی لاس دِے وینځی)۔ او داسے الفاظو سره مرفوعا د ابن عباسؓ نه ابو الشیخ او ابن مردویهٔ روایت

کړیدے لیکن ضعیف دے۔

او د عاصم بن عدی ﷺ واقعه مشهوره ده چه هغه د الله تعالیٰ سره وعده کړے وه چه [اَنْ لَّا یَمَسَّ مُشْرِكًا وَّلَا یَمَسُّهٗ مُشْرِكٌ اَبَدًا فِیْ حَیَاتِهٖ] دے به هم مشرك ته گوتے نهٔ وروړی او مشرك به هم دهٔ له گوتے نهٔ وړی په ټول ژوند کښ)

(دلائل النبوة للبیهقی (۳۲۸/۳) مصنف ابن ابی شیبة (۳۵٦۱٤) والخصائص الکبریٰ للسیوطی)

او د شدت نه مراد د هغوی نه نفرت کول دی، او د هغوی د مداهنت نه ځان ساتل، او په حق دین باندے مضبوط پاتے کیدل دی، او کنځل کول او رد بد وئیل مراد نهٔ دی ځکه چه مؤمن به بد اخلاقه نهٔ وی۔

او ددویٔ د کفر او شرك نه داسے نفرت وو چه که پلار به ئے مشرك وو هغه به ئے هم وژلو لکه ابوعبیده بن الجراح ﷺ خپل پلار وژلے دے، او مصعب بن عمیر ﷺ د خپل ورور ابوعزیز په باره کښ یو صحابی ته وویل چه کلك ئے وتړه مور ئے مالداره ده، ډیر مال به درکړی۔ او ډیرو صحابه کرامو خپل خپلوان د الله دپاره وژلی دی۔ دے ته د الله تعالیٰ دپاره غیرت وائی۔

رُحَمَاءُ بَیْنَهُمْ: حسنؒ فرمائی : د دوی خپل مینځ کښ حالت دا وو : [لَایَرٰی مُؤْمِنٌ مُؤْمِنًا اِلَّا صَافَحَهٗ وَعَانَقَهٗ] یو مؤمن به بل مؤمن نهٔ لیدلو مگر هغه سره به ئے مصافحه کوله او غاړه به ئے ورکوله) او په هره زمانه کښ د مسلمانانو دا حق دے چه دوی دا قسم تذلل او دا قسم شفقت او نرمی وکړی، د مؤمنانو ورونو سره ښکلے ژوند تیر کړی، محبت وساتی، او د هغوی مدد وکړی، هغوی معاف کړی، د هغوی سره صله رحمی وکړی، د هغوی نه ضرر دفع کړی۔

تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا : یعنی مخلوق سره ئے دغسے معامله ده، اُوس د الله تعالیٰ سره معامله بیانوی۔ یعنی مجاهدین هم دی او ورسره عابدان دی۔ رکوع او سجده د دویٔ په عباداتو کښ زیاته ده او مونځ ورته ډیر اَهم ښکاره کیږی ځکه ئے ورله دا صفت ذکر کړو۔

فَضْلًا مِّنَ اللهِ وَرِضْوَانًا: د فضل نه مراد ثوابونه او جنت دے، او رضوان نه مراد د الله راضی کیدل دی۔ او پدے کښ اشاره ده چه څوك په خپل عمل کښ اخلاص کوی نو هغه په خپل عمل سره د الله نه اجر طلب کوی او ریاکار په خپل عمل سره اجر نهٔ غواړی۔

سیما څه شے دے؟

سِیۡمَاهُمۡ: دا شپږم صفت دے، سیما نخے او علامے ته وائی۔
او پدے کښ اشاره ده چه دوئ په ډیره توجه سره عبادتونه کوی، چه د هغے په وجه د هغوی په مخونو باندے نښے د عبادت ښکاره کیږی، په مخونو کښ ئے رنړا او تازگی وی، (از هريؒ، سفيان الثوریؒ) تواضع او عاجزی وی۔ (مجاهدؒ)
ضحاكؒ وائی : کله چه سړے بے خوبه شی نو سهار کښ د هغهٔ مخ زیړ وی نو دا هغه نخه ده۔ (یعنی دوی تهجد گذار دی)۔
ابن جریجؒ وائی : دا نخه هغه وقار دے چه د دوی په مخونو باندے وی۔
حسنؒ وائی : کله چه تهٔ وینے نو تا ته به مریضان ښکاری حال دا چه هغوی مریضان نهٔ وی۔
ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : ددے نه مراد ظاهری نخے د تندی نهٔ دی [وَلٰكِنَّهٗ سِيۡمَا الۡاِسۡلَامِ وَسَمۡتُهٗ وَخُشُوۡعُهٗ وَالسَّمۡتُ الۡحَسَنُ] دا د اسلام نخه ده او د خشوع او ښکلے سیرت۔ ځکه چه څوك ډیر عبادت کوی نو هغهٔ کښ یو قسم خشوع پیدا کیږی او زړهٔ کښ نرمی پیدا شی او سیرت ئے ښائسته شی۔ دا ډیر ښه مصداق دے۔
بعض وائی : دا به په قیامت کښ د دوی په مخونو رنړا وی لکه دا په حدیث د طبرانی کښ راغلے دے او سیوطیؒ ورته اسناد حسن وئیلے دے۔
عطاء الخراسانیؒ وائی : [دَخَلَ فِيۡ هٰذِهِ الۡاٰيَةِ كُلُّ مَنۡ حَافَظَ عَلَى الصَّلَوَاتِ الۡخَمۡسِ] پدے آیت کښ هر هغه څوك داخلیږی چه په پنځو مونځونو حفاظت کوی) چه د هغه په مخ کښ به هم دغه شان رنړا او خشوع پیدا کیږی۔
بقاعیؒ وئیلی دی چه ددے نه ظاهری د تندی توره غوټه نهٔ ده مراد ځکه چه هغه خو اکثر د ریاکارو په تندو کښ پیدا کیږی او هغه د خوارجو نخه ده۔ (نظم الدرر)
او ابن کثیر د مجاهدؒ نه نقل کړیدی چه کله کله دغه نخه د دواړو سترگو په مینځ کښ د هغه چا وی چه زړه ئے د فرعون نه هم سخت وی۔ لیکن ددے نه مراد هغه کسان دی چه داسے نښه د ریاء دپاره جوړه وی یا مشرك یا بدعتی وی او ډیر مونځونه کوی نو دغه علماؤ داسے نخه بده گنړلے ده۔ او کله دا د وینے د فرق د وجه نه د نیکانو خلقو هم جوړیږی۔ یعنی په تندی کښ محراب جوړیدل خامخا د نیکئ نښه نهٔ ده۔

ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ : دا اُوم صفت دے، دلته د مفسرینو دوه قوله دی، یو قول دا دے چه دلته وقف دے یعنی دا مخکښې صفات د صحابه کرامو صرف په تورات کښې ذکر وو۔ او په انجیل کښې راتلونکی طریقے سره د دوی حالت او صفت ذکر دے۔ نو وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ به نوے کلام وی۔

دویم قول دا دے چه وقف به په (فِي الْاِنْجِيْلِ) بانـدے کولے شی۔ یعنی دغه صفتونه په تورات او انجیل دواړو کښې ذکر دی۔ او دا قول د ابن عباس رضی الله عنهما دے۔ او كَزَرْعٍ به نوے کلام وی، او خبر به د مبتداء وی یعنی (هُمْ كَزَرْعٍ) دوی په شان د فصل دی۔ الخ۔

اول قول غوره دے ځکه چه د انجیل سره ئے مستقل لفظ (مَثَلُهُمْ) ذکر کړیدے، او په ماقبل ئے عطف کړیدے۔

او بله وجه دا ده چه سنن دارمی، او دارنګه مشکاة باب فضائل سید المرسلین کښې د کعب الاحبارؒ نه د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو په صفت کښې د تورات عبارت نقل دے۔

او بقاعیؒ هم ددے آیت په تشریح کښې د تورات عبارت راوړیدے، نۀ د انجیل۔

مَثَلُهُمْ: د مثل نه مثال او صفت دواړه مراد کول صحیح دی۔ او مثل بیان ته هم وائی۔ یعنی په انجیل کښې د صحابه کرامو مثال د هغه بوټی دے چه د زمکے نه خپل تیغ را اوباسی، بیا هغه غټ شی او وُنه جوړه شی، بیا وُنه غټه شی، بیا هغه په خپلے تنے باندے اُودریږی، چه ددے په لیدو سره زمیندار خوشحالیږی۔

شوکانیؒ لیکی چه الله تعالیٰ ددے مثال په ذریعه د صحابه کرامو حالت بیان کړے چه په شروع کښې به د دوئ شماره کمه وی، بیا به د دوئ شماره زیاته شی، او هغه به د بوټی پشان قوی نه قوی ترین شی، او داسے به ځکه کیږی چه الله تعالیٰ د دوئ د کثرت او طاقت په ذریعه د کافرانو غیظ او غضب زیاتوی۔

شَطْأَهُ : شطأ فَرَاخُ الزَّرْعِ (د فصل بچی) ته وائی، دلته ترینه د غنمو، وریشو، جوارو وغیره تیغ دے۔ او په اَخْرَجَ کښې ضمیر زرع ته راجع دے، یا الله ته راجع دے۔

فَآزَرَهُ: آزَرَ کښې ضمیر د فاعل شَطْأَ ته راجع دے او (ہ) ضمیر زرع ته راجع دے۔ یعنی مضبوط کړی دغه تیغ فصل لره۔

فَاسْتَغْلَظَ : یعنی دغه تیغ نور سخت شی، یعنی دغه تیغ غټ شی، دنګ والے او پلن

والے ئے ډیر شی۔ یا په فاستغلظ کښں ضمیر زرع (فصل) ته راجع دے، یعنی دغه فصل سخت شی ددے تیغ په وجه۔ لکه فَاسۡتَوٰی کښں هم ضمیر فصل ته راجع دے۔
دا مثال مفسرینو په مختلفو طریقو لګولے دے، لیکن دوه طریقے پکښں ښکاره دی، یو تشبیه المرکب او بل تشبیه المفرد۔

تشبیه المفرد داسے ده:

د زرع نه مراد رسول الله ﷺ دے، او اَخۡرَجَ شَطۡأَهٗ او فَآزَرَهٗ نه مراد ټول صحابه کرامؓ دی۔ نو صحابه کرامؓ راولګیدل رسول الله ﷺ ئے مضبوط کړو، د هغوی مدد ئے وکړو، څکه چه هغوی هم دعوت شروع کړو، نو پدے کښں د رسول الله ﷺ مضبوطوالے راغے او د هغه دعوت مکمل شو۔ یعنی اول کښں ابوبکر صدیق ؓ ایمان راوړو، نو هغوی بیا نورو ته دعوت وکړو نو هغوی نورو ته دعوت وکړو تردے چه دعوت کامل شو۔
پدے کښں بعض مفسرینو تعیین کړیدے لکه عکرمهؒ فرمائی: اَخۡرَجَ شَطۡأَهٗ نه مراد ابوبکر صدیق ؓ دے او فازره کښں عمر فاروق ؓ ته اشاره ده، او فَاسۡتَغۡلَظَ کښں عثمان ؓ ته او په (فَاسۡتَوٰی عَلٰی سُوۡقِهٖ) کښں علی ؓ ته اشاره ده څکه چه رسول الله ﷺ فرمائی: [اَلۡخِلَافَةُ بَعۡدِیۡ ثَلَاثُوۡنَ عَامًا] زما نه روستو خلافت به دیرش کاله وی، او هغه تقریباً په علی ؓ او د هغه په څوی حسن ؓ باندے مکمل شو۔
(مسند احمد: ٥/٢٢٠،٢٢١) وابوداود فی السنة باب (٨) والترمذی فی الفتن باب (٤٨) وصححه ابن حبان وانظر صحیح الجامع (٣٣٤١) واسناده صحیح)
مګر مفسرین وائی چه دا د لطائف الکلام نه ده او تفسیر د قرآن نهٔ دے۔
او بعض صحابه کرامو به چه کله دا آیت ولوستلو نو ویه ئے فرمایل: [تَمَّ الزَّرۡعُ وَقَدۡ دَنَا حَصَادُهٗ] فصل تمام شو (سر ته ورسیدو) او د لَوۡ کولو وخت ئے رانزدے شویدے۔

تشبیه المرکب داسے ده:

یعنی داسے تدبر وکړه چه چا یو ځای کښں فصل وکرلو، هغے اول تیغ راویستو بیا د دغه تیغ په وجه دغه فصل مضبوط شو، بیا زر زر نور مضبوط شو، زمیندار چه راغے ویے کتل چه زما پټے خو ډیر مزیدار شو نو خوشحاله شی، او دشمن پرے خفه شی چه دا

څرنګ زر ترقي ئے وشوه۔ نو دغه شان اسلام په اول کښې کمزورے وو، بیا اسلام ته الله تعالیٰ په مختلفو طریقو غلبے ورکولے ترديے چه په خپله پونډۍ باندے ودریدو، نو زمیندار چه رسول الله ﷺ دے پدے فصل ډیر خوشحاله شو او کافران پرے خفه وو، خو هیڅ ئے نشو کولے۔ یعني په انجیل کښې الله داسے لیکلي وو چه د رسول الله ﷺ ملګري به دغه شان لږ لږ ډیریږي۔

او دا ترتیب الله تعالیٰ ځکه ذکر کړو چه فصل په یو دم نۀ غټیږي بلکه لږ لږ غټیږي نو دغه شان دین اسلام هم لږ لږ مضبوط شو، ملګري به لږ لږ پیدا کیدل۔

صاحب د فتح البیان لیکي : دا مثال الله تعالیٰ د نبي کریم ﷺ د ملګرو دپاره بیان کړیدے چه دوی په اول کښې لږ او کم وو بیا به لږ لږ زیاتیدل او قوي کیدل به لکه د فصل په شان چه اول کښې ضعیف وي بیا وخت په وخت قوي کیږي تردے چه په پنډۍ باندے مضبوط شي۔

په انجیل متی او لوقا کښې دے مثال ته داسے اشاره شویده چه د عربے نه د هغے ترجمه داسے ده : ((وګورئ یو زمیندار ته چه د فصل دپاره راووتو او پدے مابین کښې هغه فصل کرلو چه بعض تخم په لاره کښې پریوتو نو مارغان راغلل او هغه تخم ئے راپورته کړو او بعض تخم په کانړي پریوتو چه هلته خاوره زیاته نۀ وه، او سمدست راوتو کیدو ځکه چه په زمکه کښې ژور والے نۀ وو، او هرکله چه نمر راوختو نو وسوزیدو او وچ شو ځکه چه ددے دپاره بیخ نۀ وو او بعض تخم په ازغو کښې پریوتو نو ازغي رازیات شول او هغه ئے راتنګ کړو۔ او بعض په پاکه مزیداره زمکه کښې پریوتو او بعضو سل چنده میوه ورکړه، او بعضو شپیته او بعضو دیرش، نو د چا چه آوریدونکي غوږونه وي هغه دِے واوري))۔ ترجمه ختمه شوه۔ او همدا بعینهٖ ددے آیت معنیٰ ده۔

دا قول چه (بعض تخم په لاره کښې پریوتو) پدے کښې اشاره ده هغه وحي ته چه د یونان فلاسفهٔ په لاس کښې پریوتے وه چه د هغوی په زړونو کښې ددے قابلیت نۀ وو نو شیطان په باطلو شبهاتو سره د هغوی نه دغه وحي وتښتوله۔

او دا قول چه (بعض تخم په کانړي پریوتو) پدے کښې اشاره ده هغه وحي ته چه د یهودیانو په لاسونو کښې پریوته ځکه چه د دوی زړونه د کانړو نه زیات سخت وو په قبلولو د وحي کښې، نو د هغے د رانیولو قابلیت ئے ونۀ لرلو بلکه لږے مودے پورے د

هغوی په ژبه جاري وه او بیا د هغوی د لاسونو نه د نصاراؤ لاسونو ته نقل شوه۔
او دا هغه نمر راختل وو، نو هرکله چه دوی د عیسی علیه السلام په وحی باندے یقین ونکړو نو د دوی د زړونو نه هغه وغورزیده او زائل شوه لکه د نمر په گرمائش سره چه دغه کرلے شوے گیاه د کانړی نه زائله شوه۔
او دا قول چه (بعض تخم په ازغو کښې واقع شو) اشاره ده هغه وحی ته چه د نصاراؤ لاسونو ته ورغلے وه، ازغی عبارت دے د هغه مشتبه کارونو نه چه د عیسیٰ علیه السلام نه به صادریدل لکه مړی ژوندی کول، مریض ته شفاء ورکول او مورزادی ړوند ته نظر راواپس کول او کوڼ روغول او چاړا گویا کول دی، او د ازغو زیاتیدو کښې ددے کارونو زیاتیدو ته اشاره وه، او د هغے تنگیدو کښې د هغے نه عقیده زائل کیدل مراد دی۔
او دا قول چه (بعض تخم په پاکه زمکه کښې واقع شو) دا یقیني او پرقیدونکے دلیل دے په هغه وحی باندے چه د عربو په لاسونو کښې واقع شوه په واسطه د پیژندگلیٔ د محمد بن عبد الله ﷺ سره څکه چه د دویٔ زړونه ساده وو، ددے لائق وو چه ددے وحی دپاره لوښے وگرځي۔
او دا قول چه (میوه ورکړه) د مطلق میوے ورکولو نه مراد ابوبکر صدیق رضی الله عنه دے، او سل چندونو نه عمر فاروق رضی الله عنه او شپیته چندونو نه عثمان رضی الله عنه او دیرش چندونو نه علی بن ابی طالب رضی الله عنه مراد دے او د میوے نسبت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته وشو څکه چه ددهٔ خلافت په خپله زمانه کښې مضبوط وو او د عمر رضی الله عنه په زمانه کښې سل چنده اسلام ته ترقی ملاؤ شوه، او د عثمان رضی الله عنه په زمانه کښې شپیته چنده او د علی بن ابی طالب رضی الله عنه په زمانه کښې دیرش چنده ترقی ملاؤ شوه، او دا مصداق دے ددے قول د نبی کریم ﷺ چه ((خلافت زما نه روستو دیرش کاله دے))۔
او پدے کښې دا هم جائز ده چه زمیندار نه مراد رسول الله ﷺ دے، او د زمکے نه مراد امت دے او د تخم نه مراد ایمان دے، موافق د مراتبو د مؤمنانو، او آخری قسم نه مراد ددے امت غوره خلق دی د هغوی د مرتبو موافق۔
الزُّرَّاعَ: جمع د زارع ده، زمیندارو ته وئیلے شي۔
وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ: یعنی الله تعالیٰ د خپلو دے بندگانو سره وعده کړے چه هغه به د دویٔ گناهونه معاف کوی، او دویٔ له به اجر عظیم یعنی جنت ورکوی۔ او ددے نه تول

صحابه کرامؓ مراد دی او (مِنۡهُمۡ) ئې پکښې د یره ولو دپاره ذکر کړې۔ دے دپاره چه هغوی هم په یره کښې وی چه که د چا عاقبت په ایمان باندې راغې نو دغه وعده به وی۔

فائده : د امام مالك شاګرد سعید بن عمر الزبیریؒ وائی چه مونږ د امام صاحب په مجلس کښې ناست وو نو چا وویل چه دلته یو تن دے چه د صحابه کرامؓ تنقیص (ګستاخی) کوی نو هغه متوجه شو او دا آیتونه ئې ولوستل (لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّار) او بیا ئې دا استدلال وکړل [مَنۡ اَصۡبَحَ وَفِیۡ قَلۡبِهٖ غَیۡظٌ عَلٰی اَصۡحَابِ رَسُوۡلِ اللّٰهِ ﷺ فَقَدۡ اَصَابَتۡهُ هٰذِهِ الۡاٰيَةُ] څوك چه صبا کړی او د هغه په زړۀ کښې د رسول الله ﷺ د ملګرو سره بغض وی نو هغه به کافر وی۔

(دا هله چه دا بغض د هغوی سره د صحابیت او د ایمان د وجه نه وی، البته که د یو صحابی سره د بل صحابی دنیاوی یا سیاسی امورو کښې اختلاف او جګړه راغلی وی نو هغه کفر نۀ دے، دواړه ډلے الله معاف کړیدی)۔ وبالله التوفیق۔

(البغوی، ۲۷۸/۷) والقرطبی والتحریر والتنویر)

امتیازات د سورة الفتح

۱- د صلح حدیبیه او خیبر فتوحاتو تشریح پکښې ذکر ده۔

۲- بشارت په غلبه د اسلام۔

۳- د محمد رسول الله لفظ پکښې ذکر دے۔

٤- د صحابه کرامؓ صفات پکښې ذکر دی۔

٥- اَلۡحِکَمُ فِیۡ اَفۡعَالِ اللّٰهِ ۔ د الله په کارونو کښې ډیر حکمتونه وی۔ شرعی وی او که قدری۔ نو ددے نه به انکار نشی کیدے۔

ختم شو تفسیر د سورة الفتح په رحمت د رب العزت په تاریخ ۳۰ اپریل ۲۰۱٦/ موافق : جمادی الثانیه ۱٤۳۷/۲۲ هجری۔ صباح یوم الخمیس۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

آیاتها (١٨)	(٤٩) **سورة الحجرات مدنية** (١٠٦)	رکوعاتها (٢)

سورتِ حجرات مدني دے، په دے کښې اتلس آیتونه، او دوه رکوع دي۔

تفسیر سورة الحجرات

نوم : د (٤) آیت ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴾ نه اخستے شوے۔ حجرات ورته ځکه وائي چه بعض کسانو رسول الله ﷺ ته د کوټو نه بهر آوازونه کړي وو چه پدے کښې بے ادبي وه نو الله تعالیٰ دا سورت د هغه د اَدب کولو دپاره نازل کړو۔

د نازلیدو زمانه : قرطبیؒ لیکي چه دا سورت د ټولو په نیز مدني دے۔ ابن عباس ﷛ نه هم دا نقل شوي، ددے د مضامینو د تالاش کولو نه معلومیږي چه دا د مدني دور په آخر کښې نازل شوے، او دا چه پوره سورت په یو وخت کښې نۀ دے نازل شوے، بلکه ددے آیتونه مختلف اوقاتو کښې نازل شوي چه دا رسول الله ﷺ یو ځائے ته راغونډ کړي دي۔

ددے ټولو نه اهم مضمون د تعلیم (ښودنے) آداب دي، چه هر مسلمان دپاره د نبي کریم ﷺ سره د معاملے کولو په وخت ددے لحاظ ساتل ضروري دي، دے دپاره چه د نبي کریم ﷺ په شان کښې ددۀ نه بے ادبي اونشي، او نبي کریم ﷺ ته ددۀ نه تکلیف ونۀ رسي۔

مناسبت

١- مخکښې بشارت بالفتح وو نو دلته اسباب د فتح بیانیږي چه هغه ښه صفات د مؤمنانو دي۔

٢- مخکښې فتح وه نو اُوس اَلآدَابُ الْمَاْمُوْرُ بِهَا بَعْدَ الْفَتْحِ بیانوي، یعني هغه آداب

ښائی چه د فتح نه روستو په هغې باندے امر کیږی۔ چه د الله او د رسول اطاعت به کوئ او د هغه ادب به کوئ او دغسے نور کارونه۔

د سورت موضوع او مقصد

ددے سورت دوه موضوع ښکاره کیږی۔

۱- اَلآدَابُ الشَّرْعِيَّةُ الَّتِيْ هِيَ سَبَبُ الْفَتْحِ وَسَبَبُ الْجَنَّةِ ۔ یعنی هغه شرعی آداب بیانوی چه هغه سبب د فتح او سبب د جنت دے، انسان پرے ښکلے ښکاره کیږی۔

او دغه آداب تقریباً یولس دی، معاشره پرے جوړیږی۔

۲- داسے هم وئیلے شی چه پدے کښ ترغیب الی الایمان دے، او د ایمان دوه قسمونه بیانوی چه یو فائده مند او بل غیر فائده مند دے، مَعَ بَيَانِ صِفَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ (ورسره د مؤمنانو صفات بیانوی)۔

قَالَتِ الْاَعْرَابُ سره وائی چه د خولے ایمان فائده مند نهٔ دے۔ بلکه عملی ایمان فائده مند دے۔ د ایمان لفظ پکښ زیات ذکر دے۔

که انسان غواړی چه پوره تقویٰ هغه کښ راشی، نو پدے سورت او پدے کښ ذکر شوی آدابو باندے دِے عمل وکړی۔

دارنګه که یو انسان د معاشرے د صفا کولو کوشش کوی او لانجے ختمول غواړی نو دا سورت دِے ولولی۔ او پدے سورت کښ ډیر زیات احکام دی۔

۳- زمونږ شیخ محترم ابو زکریا رستمیؒ فرمائی :

دعویٰ د سورت ده، ذکر د اصولو او آدابو دپاره د دفع د اختلاف او تفرق او دپاره د بقا د اتحاد او اتفاق چه هغه په طریقه د لسو اوامرو او اته نواهیو سره دی۔

خلاصه : اول کښ اُوه آداب ذکر دی، او دا د ایمان والو ښکلے صفات دی،

او بیا منافقانو ته زجرونه دی چه هغوی ددے آدابو لحاظ نکوی۔

او بیا صفات د ایمان والو راوړی چه پدے سره د منافقانو نه راجدا کیږی،

او بیا منافقانو ته زجر دے چه دعوے د ایمان کوی او صحیح او فائده مند ایمان ورسره نشته، او په نبی باندے د خپل ایمان زباتنه کوی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللهِ وَرَسُولِهِ وَاتَّقُوا
اے ایمان والو ! مهٔ مخکښ کیږئ مخے ته د الله او د رسول د هغه نه او ویریږئ
اللهَ إِنَّ اللهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١﴾
د الله نه یقیناً الله آوریدونکے دے په هر څه پو هه دے۔

تفسیر : مقصد د آیت دے : اَلنَّهْيُ عَنْ مُخَالَفَةِ اللّٰهِ وَالرَّسُوْل ۔ (منع د مخالفت د الله او د رسول نه) ذکر ده۔ بیا مخالفت د رسول الله ﷺ په دیرو طریقو کیږی پدے وجه ئے دلته عام لفظ استعمال کړیدے (لَا تُقَدِّمُوْا)۔ یعنی د الله او د رسول نه مهٔ مخکښ کیږئ۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا : دے نه روستو مقتضیات الایمان ذکر کیږی یعنی ستا د ایمان تقاضا دا ده چه دا روستنے کار مهٔ کوه۔ او دا مقتضیات یولس پدے سورت کښ ذکر دی۔

شان نزول

۱- بعض صحابه کرامؓ وئیلی وو : [لَوْ نَزَلَ كَذَا وَكَذَا فِيْ كَذَا وَكَذَا] آرمان چه د فلانی شی په باره کښ آیت نازل شوے وے نو ښه به وه۔ نو الله دا آیت نازل کړو چه د الله تعالیٰ او د رسول نه ځان مهٔ مخکښ کوئ، ځکه چه الله تعالیٰ پو هیږی چه کوم آیت د نازلیدو لائق دے هغه به نازلوی، ستا غوختو ته ضرورت نشته لکه مخکښ سورت کښ د منافقانو دا عیب بیان شو ﴿وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ﴾ چه اول کښ به ئے سورت نازلیدل غوختل چه کله به نازل شو بیا به تختیدل۔

پدے معنیٰ به دا آیت د صحابه کرامؓ د دور پورے خاص وی، ځکه چه اُوس خو آیتونه نهٔ نازلیږی۔

۲- بعض مفسرین وائی چه دا آیت د هغه صحابی په باره کښ نازل وو چه هغه قربانی د اختر د مانځه نه مخکښ کړے وه لکه ابوبرده بن نِیار (د براء بن عازب ؓ ماما) نو الله دا آیت نازل کړو چه د الله او د رسول نه مهٔ مخکښ کیږئ، رسول الله ﷺ لا قربانی نهٔ ده کړے او یو انسان د هغه نه ځان مخکښ کوی۔ (قاسمیؒ)

معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ د فعل او طریقے نه به خپل فعل او طریقه نهٔ

مخکښې کوی.
او پدے آیت سره دلیل نیولے شویدے چه نص به مقدم کولے شی په قیاس باندے.
(السیوطیؒ فی الاکلیل)

د آیت مصداقات او مطلبونه

۱ - مجاهدؒ وائی : [لَا تُفْتُوا حَتّٰی یَقُوْلَهُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ] - یعنی الله او رسول چه یوه خبره نهٔ وی کړی نو د هغوی نه مخکښې به فتوه نهٔ ورکوئ. قرآن او حدیث کښې چه یوه خبره صراحةً، دلالةً یا اشارةً نهٔ وی ذکر نو په هغے به فتویٰ نهٔ ورکړے کیږی.
۲ - لَاتَقُوْلُوْا خِلَافَ الْکِتَابِ وَالسُّنَّةِ - د قرآن او سنت خلاف خبرے مهٔ کوئ. او دا بیا عام آیت دے، ډیر څیزونه پدے کښې داخلیږی، مثلاً الله تعالیٰ د یو شی بدی بیانوی، او بنده ئے صفت کوی، الله د یو شی صفت کوی او بنده ئے بدی بیانوی، الله تعالیٰ یو شے نازل کړے او بنده وائی نهٔ ئے دے نازل کړے، یو شے حرام او دے ورته حلال وائی، او ددے برعکس.
او پدے کښې تاویل د الله په اسماء او صفاتو کښې کول هم داخلیږی چه الله فرمائی : یَدُ اللهِ. (د الله لاس شته)، او دے وائی چه د ید نه مراد قدرت دے، او لاس د الله نشته ځکه چه بیا جسمیت ثابتیږی، او دا خو عیب او بے ادبی ده، نو ګویا که خپل ځان ئے د الله او د رسول نه ډیر ادب والا وګرځولو، دغه شان استواء علی العرش وغیره صفات واخله. نو ټول مُؤَوِّلِین د الله او رسول نه ځان مخکښې کوی.
حافظ ابن کثیرؒ د آیت معنیٰ دا بیان کړے چه اے مسلمانانو ! د نبی ﷺ نه مخکښې په هیڅ کار کولو کښې تادی مهٔ کوئ، بلکه په ټولو کارونو کښې د هغهٔ پیروی کوئ.
ابن جریرؒ ددے معنیٰ دا بیان کړے چه اے هغه خلقو چه هغوئ د الله د وحدانیت او د هغهٔ د نبی ﷺ د نبوت اقرار کړے ! تاسو په خپل کوم جنګی یا دینی معامله کښې د الله او د هغهٔ د رسول د فیصلے نه مخکښې خپله څهٔ فیصله مهٔ کوئ، هسے نهٔ داسے اوشی چه د الله او د هغه د رسول (ﷺ) د مرضئ خلاف فیصله وکړئ.
عرب وائی : [فُلَانٌ یَتَقَدَّمُ بَیْنَ یَدَیْ إِمَامِهٖ] (یعنی فلانے شخص د خپل بادشاه نه مخکښې امر او نهی صادروی).

بیا لَا تُقَدِّمُوْا: متعدی دے نو دلته به مفعول پټ وی۔ اَیْ لَا تُقَدِّمُوْا اَفْعَالَکُمْ وَاَقْوَالَکُمْ۔ یعنی خپل افعال او اقوال (خبرے) د الله او د رسول نه مخکښ کوئ۔

او دے کښ ادب دا شو چه د قرآن او سنت په مقابله کښ د چا رائے او خپله رائے مخ پیش کوئ پدے سره تفرق او اختلاف راځی۔ او په ټولو کارونو کښ د قرآن او سنت رعایت کول لازم دی۔

۲– دویم دا چه باب تفعیل په معنیٰ د تفعل سره زیات استعمالیږی۔ نو بیا به دا لازم وی یعنی مخ مخکښ کیږئ د الله او د رسول نه۔

ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: [نُهُوْا اَنْ یَّتَکَلَّمُوْا بَیْنَ یَدَیْ کَلَامِهٖ]

امت ددے نه منع شو چه د رسول الله ﷺ د خبرے مخامخ خپله خبره وکړی۔

صاحب د فتح البیان لیکی: [وَهٰذَا یَشْمُلُ مُعَارَضَةَ السُّنَّةِ وَالْکِتَابِ بِالرَّأْیِ وَالتَّقْلِیْدِ اَیْضًا]۔ دا نهی شاملیږی د کتاب او سنت مقابلے کولو ته په رأی او تقلید سره هم۔ ته به آیت او حدیث پیش کوے او یو تن به د خپل امام اقوال ذکر کوی۔

یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَکُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِیِّ
اے ایمان والو! مه پورته کوئ آوازونه خپل دپاسه د آواز د نبی (ﷺ) نه
وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ کَجَهْرِ بَعْضِکُمْ لِبَعْضٍ
او په زوره وینا (آواز) مه کوئ هغهٔ ته پشان د زوره وینا د بعضو ستاسو بعضو نورو ته،
اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُکُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿۲﴾
(هسے نهٔ) چه برباد به شی عملونه ستاسو، او تاسو به نهٔ پوهیږئ۔

تفسیر: مقصد د آیت: ۱– تَوْقِیْرُ الرَّسُوْلِ ﷺ۔ د رسول الله ﷺ عزت وکړئ هسے نهٔ چه د هغه بے ادبی درنه وشی، عملونه به مو برباد شی۔

۲– اَلنَّهْیُ عَنِ التَّجَاوُزِ فِی الْکَیْفِیَّاتِ۔ منع د تجاوز کولو نه په کیفیاتو کښ۔

مخکښ ئے وویل چه د رسول الله ﷺ د افعالو نه به مخکښ والے نهٔ کوئ نو دلته وائی چه د رسول الله ﷺ د کیفیاتو نه به نهٔ مخکښ کیږی۔ لکه رسول الله ﷺ ته آواز کول جائز دی لیکن کیفیت بدلول ناجائز دی۔

شان نزول

۱ - بخاریؒ د عبد الله بن الزبیر ﷺ نه روایت کړي چه د بنو تمیمو څۀ سوارۀ خلق نبی کریم ﷺ خواته راغلۀ، ابوبکر ﷺ نبی کریم ﷺ ته ووئیل چه د دوئ امیر قعقاع بن معبد جوړ کړه، او عمر ﷺ ووئیل : اقرع بن حابس جوړ کړه، ابو بکر ﷺ ووئیل : ستا مقصد صرف زما مخالفت کول دی. عمر ﷺ ووئیل : زما مقصد ستا مخالفت کول نۀ دی. د دواړو ترمینځه خبره زیاته شوه، او د دواړو آوازونه پورته شول، نو دا آیت نازل شو.

ابن ابی ملیکةؒ فرمائی : [كَادَ الْخَيِّرَانِ اَنْ يَّهْلِكَا] نزدے وه چه دواړه غوره انسانان هلاك شوی وے. په روایت د بخاری کښې دی [قَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ : فَكَانَ عُمَرُ بَعْدُ اِذَا حَدَّثَ النَّبِيَّ ﷺ بِحَدِيْثٍ حَدَّثَهٗ كَاَخِي السِّرَارِ لَمْ يُسْمِعْهُ حَتّٰى يَسْتَفْهِمَهٗ]

ابن الزبیر فرمائی : چه ددے آیت نه روستو به عمر ﷺ د رسول الله ﷺ سره داسے په آرام خبرے کولے چه رسول الله ﷺ به ترے دوباره تپوس کولو، چه تا څه ووئیل، او دغه شان روایت د ابوبکر صدیق ﷺ په باره کښې هم راغلے دے. (بخاری : ۷۳۰۲)

بخاریؒ او مسلمؒ د انس ﷺ نه روایت کړے چه کله دا آیت نازل شو نو ثابت بن قیس بن شماس ووئیل : (چه ددۀ آواز اُوچت وو،) چه زما آواز به د رسول الله ﷺ د آواز نه اوچتیدلو، زما اعمال برباد شوی دی، او زۀ د جهنم والو نه یم، او د غم او خفګان نه ډك په خپل کور کښې کیناستۀ. رسول الله ﷺ د هغۀ پوښتنه وکړه چه ثابت څنګه نۀ ښکاری، (چا ووئیل هغه به بیمار وی، سعد ووئیل زما ګاونډی دے که ناجوړه وے زۀ به ترے خبر وے) نو سعد د هغه د خبر راوړو دپاره لاړو،

[مَا شَاْنُكَ ؟، قَالَ شَرٌّ، كَانَ يَرْفَعُ صَوْتَهٗ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ ﷺ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ وَهُوَ مِنْ اَهْلِ النَّارِ]

څه حال دے ؟ هغه ووئیل، ناکاره، (څکه) چه زما آواز د رسول الله ﷺ د آواز نه پورته دے او هغه ته به مے په زوره آواز کړے وی نو زما عمل برباد دے، او زۀ د اُور والو نه یم نو هغه رسول الله ﷺ ته خبر راوړو نو دغه شخص په دویم ځل لوی بشارت یوړو ورته ئے ووئیل چه داسے ورته ووایه :

[اِنَّكَ لَسْتَ مِنْ اَهْلِ النَّارِ وَلٰكِنَّكَ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ] ته د اُور والو نه نۀ ئے بلکه تۀ د جنت والو

نَه ئې۔ (چنانچه هغهٔ په یمامه کښې د مرتدینو په خِلاف جنگ کولو کښې شهید شو)۔
(بخاري في تفسیر سورة ٤٩، باب ١، ٢) ومسلم في الایمان حدیث: ١٨٧، ١٨٨) وابن کثیر ٣٤٢/٧)

ادب دومره ښه شے دے چه دهٔ ته د جنت زیرے ورکړے شو۔
او دے آیت کښې مونږ ته دا سبق هم پروت دے چه د رسول الله ﷺ د حدیث به انتهائی سخت ادب کوے، د هغے نه به جوابونه نهٔ کوے، په هغه باندے به د بل چا خبرے نهٔ پورته کوے، بلکه حدیث ته به تسلیمیږے هله به مؤمن گرځې۔
پدے کښې استنباطی تفسیر دا دے: [لَایَجُوزُ رَفْعُ الْعَقْلِ وَالذَّوْقِ عَلَی الْحَدِیْثِ الصَّحِیْحِ] په صحیح حدیث باندے عقل، قیاس او ذوق پورته کول جائز نهٔ دی۔
نو ددے نه دا هم معلومه شوه چه اذکار شرعیه کښې رسول الله ﷺ کوم کښې جهر کړے او څومره جهر ئے کړے نو تهٔ به هم په هغے کښې جهر کوے او یو ځای کښې هغه جهر نهٔ دے کړے نو نهٔ به کوے۔
وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ: ددے دوه مصداقه دی (١) بِنِدَاءِ الْاِسْمِ۔ یعنی د نوم په اخستو سره لکه یو بل ته چه خلق نوم اخلی رسول الله ﷺ ته به د هغه په نوم آواز نهٔ کوے، یا محمد وئیل حرام دی۔ بلکه ''اے د الله نبی، اے د الله رسوله'' به وائی۔
(٢) کَجَهْرِ بَعْضِکُمْ بِرَفْعِ الصَّوْتِ۔ یعنی داسے په زوره آواز به ورته نهٔ کوے لکه څرنگ چه یو بل ته خلق په زوره آواز کوی بلکه هغه ته به په آرام سره اے د الله نبی او اے د الله رسوله وئیلے شی۔ د وړاندے نه آواز به هم نهٔ کوی دا د ادب خلاف ده۔ او داسے ادب به د علماؤ او مشرانو او بیا د ټولو مسلمانانو سره هم کولے شی۔
او دلته توهین غرض نهٔ دے ځکه چه دا خطاب اول کښې صحابه کرامؓ ته شویدے او په هغوی کښې هیڅ یو تن دے ادبئ په طریقه خپل آواز د رسول الله ﷺ په آواز باندے نهٔ پورته کولو، او نهٔ ئے ورته دے ادبئ په طریقه آواز کولو۔ بلکه دلته دے باکئ او بے پروایئ نه منع ده، یعنی کله به ستا توهین کول غرض نهٔ وی لیکن بے باکی به درنه وشی نو د رسول الله ﷺ سره به د انتهائی احترام نه کار اخستلے شی۔
أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ: اَیْ خَشْیَةَ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُکُمْ۔
یعنی یره ده چه ستاسو اعمال به برباد شی او تاسو به نهٔ پو هیږئ۔ عمل لویه سرمایه

ده ځکه ئې ددے بربادیدل په وعید کښې ذکر کړل۔

إِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ
یقیناً هغه کسان چه خکته کوی آوازونه خپل په خوا کښې د رسول الله (ﷺ)
أُولٰئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ
دا هغه کسان دی چه صفا کړیدی الله تعالیٰ زړونه ددوی تقویٰ ته، دوی لره بخنه ده
وَّأَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٣﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ
او اجر لوئی دے۔ یقیناً هغه کسان چه آوازونه کوی تا ته اخوا د کوټو نه ډیر د دوی نه
لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٤﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ
عقل نۀ لری۔ او که چرته دوی صبر کړے وے تردے چه را اُوځې تۀ دوی ته
لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٥﴾
خامخا بنه به وه دوی لره او الله بخونکے دے رحم کونکے دے۔

تفسیر :إِنَّ الَّذِيْنَ: اُوس الله تعالیٰ د هغه ایمان والو صفت کوی او زیرے ورکوی چه هغوی د رسول الله ﷺ اکرام او عزت کوی۔ او دا څلور صفات او احوال د صحابه کرامو دی۔

امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ : دا د امتحان الذهب والفضه نه دے، یعنی د سرو او سپینو زرو د خیرو نه صفا کول یا د امتحان الادیم نه دے، یعنی د څرمنے مخل (مړل) ددے دپاره چه فراخه شی یعنی د دوئ زړونه ئې د هر غلط فکر او غلطے عقیدے نه صفا کړی او د تقویٰ د قبلولو دپاره ئې فراخه کړیدی۔

بعض داسے تعبیر کوی : [أَخْلَصَهَا وَجَعَلَهَا مَحَلًّا لِلتَّقْوٰى] یعنی زړونه ئې خالص کړیدی او هغه ئې د تقویٰ محل ګرځولے دے۔ [كَمَا يُمْتَحَنُ الذَّهَبُ لِيَخْرُجَ خَالِصُهٗ] لکه سرو زرو باندے په اُور کښې امتحان کیږی چه د هغے خالص راوځی۔

معلومه شوه چه چا کښې ادب وی هغه کښې به تقویٰ راځی لکه الله فرمائی : ﴿وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَائِرَ اللّٰهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ﴾ ځوك چه د الله تعالیٰ د شعائرو تعظیم کوی نو دا د

اخلاص د زړونو نه دے.

حافظ ابن کثیرؒ لیکی : [قَالَ الْعُلَمَاءُ : یُکْرَهُ رَفْعُ الصَّوْتِ عِنْدَ قَبْرِهٖ ﷺ کَمَا کَانَ یُکْرَهُ فِیْ حَیَاتِهٖ عَلَیْهِ الصلاة والسلام، لِأَنَّهٗ مُحْتَرَمٌ حَیًّا وَفِیْ قَبْرِهٖ صَلَوَاتُ اللّٰهِ وَسَلَامُهٗ عَلَیْهِ]

د علماؤ وینا ده چه لکه څنګه چه د نبی ﷺ په ژوند کښ به د هغهٔ په حضور کښ د اُوچت آواز سره د خبرو کولو ممانعت وو، دغه شان د نبی کریم (ﷺ) د قبر خواته آواز پورته کول منع دی، ځکه لکه څنګه چه هغویٔ په ژوند کښ واجب الاحترام وو، د مرینے نه پس په خپل قبر کښ هم واجب الاحترام دے. (ابن کثیر : ۳۴۳/۷)

سائب بن یزیدؓ فرمائی : زهٔ په مسجد نبوی کښ ولاړ وم چه یو سړی زما طرفته شګه ویشتله نو ما چه وکتل هغه امیر المؤمنین عمر بن خطاب ﷺ وو، ما ته ئے وویل : [إِذْهَبْ فَأْتِنِیْ بِهٰذَیْنِ فَجِئْتُهٗ بِهِمَا] لاړ شه دا دواړه کسان ما ته راوله نو ما هغه دواړه راوستل هغوی ته ئے وویل : [مَنْ أَنْتُمَا أَوْ مِنْ أَیْنَ أَنْتُمَا] تاسو څوك یئ یا تاسو د کوم ځای یئ. هغوی وویل : د طائف والو نه یو. وے فرمایل : [لَوْ کُنْتُمَا مِنْ أَهْلِ الْبَلَدِ لَأَوْجَعْتُکُمَا تَرْفَعَانِ أَصْوَاتَکُمَا فِیْ مَسْجِدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ] که تاسو ددے ښار (مدینے) وسیدونکی وے نو ما به تاسو په وهلو سره درمند کړی وے، آیا تاسو د رسول الله ﷺ په مسجد کښ آوازونه پورته کوئ. (بخاری باب رفع الصوت فی المسجد : ٤٧٠)

إِنَّ الَّذِیْنَ یُنَادُوْنَكَ: پدے آیت کښ زجر دے هغه چا ته چه د ادب لحاظ نهٔ کوی.

شان نزول

محمد بن اسحاقؒ د نهم (۹) هجری کال په واقعاتو کښ لیکلی دی چه د مکے د فتح، د تبوك د فتح، او د بنو ثقیف د مسلمانیدو نه پس د څلور واړو طرفونو نه به د عربو د قبائلو وفدونه راتلل. په دویٔ کښ یو وفد د بنو تمیم وو. د دوی مشر اقرع بن حابس وو هغه مسجد ته د داخلیدو سره سم رسول کریم ﷺ ته د کمرو نه بهر آوازونه شروع کړل، [یَا مُحَمَّدُ اُخْرُجْ إِلَیْنَا]: اے محمده ! بهر را اوځه او زمونږ خواته راشه.

رسول الله ﷺ جواب ورنکړو بیا ئے وویل : [یَا مُحَمَّدُ إِنَّ مَدْحِیْ زَیْنٌ وَإِنَّ ذَمِّیْ شَیْنٌ]

زهٔ چه د چا صفت وکړم هغه ښائسته کیږی او د چا بدئ چه بیان کړم هغه بدرنګیږی.

رسول الله ﷺ د غصے شان حالت کښ رابهر شو او وے فرمایل: [ذَاكَ اللّٰهُ]

دغه صفت والا خو الله تعالیٰ دے۔ نو الله دا آیت نازل کړو۔

(احمد، ابن جریر، بغوی، طبرانی، ابن مردویه والترمذی (۳۲۶۷) بسند صحیح- سیوطی، البانی)

بیا رسول الله ﷺ هغوی سره د اخلاقو د وجه نه کیناستو نو هغوی تقریر وکړو او په یو شاعر باندے ئے شعرونه هم وویل نو رسول الله ﷺ ثابت بن قیس د خطبے دپاره پاڅولو او حسان ئے د شعرونو دپاره، نو دوی وویل چه ستاسو خطیب زمونږ د خطیب نه او شاعر زمونږ د شاعر نه غوره دے۔

الْحُجُرَاتِ: جمع د حُجْرَةٌ ده، کوټو ته وئیلے شی۔ او الحجرات کښې اشاره ده ځایونو د خلوت ته، یعنی رسول الله ﷺ غائب دے او هغه ته آوازونه کوی لکه یو تن چه بے قدره انسان ته د لرے نه آواز کوی، نو دوی ډیره زړه ورتیا وکړه چه د عظیمے هستئ سره داسے د ادنیٰ خلقو په شان سلوك کوی۔ یو تن ته الله تعالیٰ داسے مرتبه ورکړی وی چه هغه ته په زوره ویناځ حرامه کړے وی نو هغه ته د وړاندے نه چغے وهل به څومره لویه بے ادبی وی۔ الله تعالیٰ د خپل نبی ډیر لوی ادب کړیدے۔

أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ: یعنی دوئ د داسے قوم نه دی چه اکثر د دوی جاهلان او بے عقله دی یا اکثرئے ددے وجه نه وویل چه د بعضے کسانو آوازونه بے اختیاره اُوچت شی۔

او دوی ته ئے بے عقله ځکه وویل چه دوی د رسول الله ﷺ شان نهٔ پیژندلو، او بل د ظروفو او ضرورتونو خیال ئے نهٔ کولو، خپل ضرورت راخستی وو، عقل دا دے چه د مسلمان او د نبی لحاظ پکار دے، آیا د هغهٔ د استراحت او خوب وخت به نهٔ وی، هغه به ضرورتونه نهٔ لری، مسلمان لهٔ د بل مسلمان د ظروفو او اَوقاتو او ضرورتونو لحاظ پکار دے، څه وخت د خوب او څه د ملاقات او څه د عباداتو وی۔

وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوْا: اُوس الله تعالیٰ صحابه کرامؓ ته د نبی کریم ﷺ سره د انتهائی با ادب اوسیدو تعلیم ورکړے، فرمائی چه که دے خلقو صبر کړے وے او ادب سره جومات کښې ناست وے، او د نبی ﷺ د راوتو انتظارئے کړے وے نو دوئ دپاره به دنیوی او اُخروی دواړو لحاظ سره ډیره بهتره وے ځکه چه یو به ئے د الله د رسول سره ښکلے ادب کړے وے او د الله تعالیٰ د طرفنه به د شاباسی او اجر مستحق شوی وے، ځکه چه د رسول الله ﷺ اکرام او تعظیم او ادب کول لوی عمل صالح دے۔

خَيْرًا لَّهُمْ : پدے کښې اشاره ده چه د مشرانو شرعي ادب د خیر او برکت او سبب د مغفرت او رحمت دے۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِنْ جَاءَ كُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوْا
اے ایمان والو ! که چرته راوړی تاسو ته ګناهګار یو خبر لره نو تحقیق اُوکړئ (هسے
أَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا
نه) چه تاسو به تکلیف اُورسوئ یو قوم ته په ناپوهئ نو وُبه ګرځئ په هغه کار
فَعَلْتُمْ نَادِمِيْنَ ﴿٦﴾ وَاعْلَمُوْا أَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ
چه کړے وی تاسو خپیمانه۔ او پوهه شئ چه یقیناً په تاسو کښې رسول د
اللهِ لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْأَمْرِ
الله تعالیٰ دے، که چرته هغه تابعداری اُوکړی ستاسو په ډیرو کارونو کښې
لَعَنِتُّمْ وَلٰكِنَّ اللهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيْمَانَ
خامخا تاسو به په مشقت کښې پریوزئ، لیکن الله خوښ کړیدے تاسو ته ایمان
وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ
او ډولی کړے ئے دے دا په زړونو ستاسو کښې او بد ئے ښکاره کړیدے تاسو ته کفر
وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ أُولٰئِكَ هُمُ الرَّاشِدُوْنَ ﴿٧﴾
او ګناهونه او نافرمانی (واړه ګناهونه) دا کسان هم دوی هدایت والا دی۔ (خاص دوی
فَضْلًا مِّنَ اللهِ وَنِعْمَةً وَاللهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٨﴾
کامیاب دی)۔ په فضل د الله سره او په نعمت سره او الله پوهه دے حکمتونو والا دے۔

تفسیر : اُوس پدے آیت کښې الله تعالیٰ تحقیق الخبر بیانوی یعنی هره خبره چه تا ته راغله نو د هغې تحقیق به کوے، او سمدست به عمل نهٔ کوے لکه څوک درته ووائی چه حمله درباندے کیږی، او تهٔ د هغهٔ د حملے نه مخکښې په هغهٔ باندے حمله وکړے حال دا

چه هغه به د سره د حملې اراده نهٔ وي کړي، يو تن تا پسې خبرې نهٔ وي کړي يو جاهل تا ته ووائي چه فلاني درپسې خبرې وکړې، نو تهٔ به کنځلې وکړې بيا به معلومه شي هغه به تا ته دعاء کړي وي نو خپيمانه به شې. او اکثر انسانان پدې آيت عمل نهٔ کوي.

شان نزول

جمهورو مفسرينو دا شان نزول ليکلې دې او په صحيح حديث کښې هم راغلې دې، حافظ ابن کثيرؒ ليکلي دي چه دا آيت د وليد بن عُقبه بن ابي مُعيط په باره کښې نازل شوې وو، چه دا رسول الله ﷺ د بنو المصطلق د صدقاتو (زکاتونو) وصولولو دپاره ليږلې وو.

او دا قول په سلفو کښې د ابن ابي ليلیٰؒ او يزيد بن رومانؒ او ضحاکؒ او مقاتل بن حيانؒ دې چه دا آيت د وليد په باره کښې نازل دې. (ابن کثيرؒ)

دا واقعه امام احمدؒ، ابن ابي حاتمؒ، طبرانيؒ، ابن مندهؒ او ابن مردويهؒ (د سيوطيؒ د قول مطابق) په جيّد سند سره د حارث بن ضرار خزاعي نه روايت کړې، او شيخ الباني په الصحيحة رقم (۳۰۸۸) کښې ددې ډير طرق راجمع کړيدي او دې ته ئې صحيح وئيلې دې چه ددې خلاصه داده چه حارث خزاعي رسول الله ﷺ خواته راغې او اسلام ئې قبول کړو، او هغوئ ته ئې ووېل چه زهٔ به د خپل قوم د مسلمانانو زکاة جمع کوم او ځان سره به ئې ګدم، او ستا نماينده به راشي او ما نه به هغه مال وصول کړي. نبي ﷺ وليد بن عُقبه بن ابي معيط ددې کار دپاره وليږلو، ليکن هغه د بنو خزاعه د ويرې نه د لارې نه واپس شو، (ځکه چه هغوي ورته د اکرام دپاره استقبال ته راووتل، د رسول الله ﷺ د استازي او د هغه د امر اکرام ئې کولو نو د تورو په لاس د هغوي يو جماعت دهٔ ته رابښکاره شو نو ددهٔ خيال شو چه ما وژني نو مدينې ته راستون شو او دا بهانه ئې جوړه) او نبي ﷺ ته ئې ووېل چه حارث د زکاة ورکولو نه انکار وکړو او ما لره ئې وژل اُوغوښتل.

رسول الله ﷺ څهٔ خلق حارث طرفته وليږل. ديخوا حارث چه کله د رسول الله ﷺ د استازي په راتلو کښې تاخير محسوس کړو، نو د څهٔ خلقو په ملګرتيا کښې د رسول الله ﷺ سره د ملاويدو لپاره را روان شو، (دلته نه رسول الله ﷺ يو وفد تيار کړو چه په حارث بن ضرار او د هغه په قوم حمله وکړي ځکه چه زکاة ئې منع کړې) لاره کښې د

دواړو ډلو ملاقات اُوشو نو حقیقتِ حال معلوم شو۔ او حارث رسول الله ﷺ ته وویل چه ولید بن عُقبه زما خواته نۀ وو راغلے، او نۀ مونږ لیدلے، نو ددۀ په سهوه سره رسول الله ﷺ ته ددۀ خلافِ حقیقت خبره معلومه شوه، او په همدے موقع دا آیت نازل شو۔

دے روایت ته بعض علماؤ ضعیف وئیلے دے د وجه د ضعف د عطیه او د موسیٰ بن عبیده راویانو نه، لیکن صحیح خبره دا ده چه دا په ډیرو سندونو نقل دے، او د مسند احمد (٤/٢٧٩) او طبرانی فی الکبیر (٣/٣١١/٣١٠) روایتونه صحیح دی لکه ددے تفصیل په السلسلة الصحیحة رقم (٣٠٨٨) کښې وګوره۔

او حافظ ابن کثیرؒ ورته په خپل تفسیر کښې احسن روایت وئیلے دے۔ وانظر تفسیر ابن جریر الطبریؒ رقم الحدیث (١٣١٩٦١)

ابن قتیبهؒ په خپل کتاب (المعارف) کښې لیکلی دی چه ولید بن عقبه بن ابی معیط د عثمان بن عفان ﷛ مور شریك ورور وو۔ د دواړو مور اروىٰ بنت کُریز وه، د مکے د فتح په ورځ ئے اسلام راوړے وو، رسول الله ﷺ دا د بنو المصطلق د زکاة راوړلو دپاره لیږلے وو، لیکن هغه د لارے نه واپس راغے او نبی ﷺ ته ئے وویل چه هغویٔ د زکاة ورکولو نه انکار کړے دے، هغه په دے خبره کښې خطاء وو۔ (یعنی په اجتهادی خطائی باندے وو او دا ګناه نۀ ده) او ددۀ په باره کښې دا آیت نازل شو۔ آه۔ (المعارف فی التاریخ ص: ٣١٩)

بیا د آیت سبب اګرکه خاص شخص دے لیکن د آیت الفاظ عام راوړے شویدی، نو عبرت عامو الفاظو لره وی نۀ خاص سبب لره، ځکه چه الله تعالیٰ دلته قانون د تَثَبُّت او تحقیق بیانوی، ددے وجه نه صحابی ته به د فسق نسبت نشی کیدے، هغه په خپل ګمان کښې خطاء شوے وو او دا اجتهادی خطائی وه، صحابه کرامؓ ټول عادلان دی، په اجتهادی خطائی باندے بنده ګناهګار نۀ دے۔

الله تعالیٰ په دے آیتِ کریمه کښې مومنانو ته نصیحت کړے چه کله یو فاسق څۀ اَهم خبر راوړی نو تادی مۀ کوئ، او څۀ اقدام کولو نه وړاندے ددے پوره تحقیق کوئ، هسے نۀ داسے اوشی چه په تادئ او خپیمانتیا کښې د یو قوم ځان او مال ته نقصان اورسوئ، او د حقیقت معلومولو نه پس تاسو خپیمانتیا اُوچته کړئ۔

دا آیت دلیل دے چه د فاسق خبر به رد کولے شی۔ او خبر ورکونکے که راوی وی، ګواه وی، یا مُفتی وی، ددۀ ثقه او عادل کیدل ضروری دی، اوکه چرے هغه ثقه او عادل وی نو

ددهٔ روایت به قبلیږی، اګرکه هغه یواځے روایت کونکے وی۔
او دا آیت دلیل دے چه د خبر د واحد عادل به مقبول وی ځکه که هغه قبول نکړے شی نو بیا به هغه د فاسق سره برابر شی، نو بیا د فاسق تخصیص کښ به هیڅ فائده نهٔ وی۔
او دا هم دلیل دے چه د مجهول الحال راوی روایت قبول نهٔ دے ځکه چه کیدے شی چه هغه بے اعتماده سړے وی، او مونږ د هغه د ځان نه خبره ومنو نو د ځان نه به دین کښ خبره جوړه کړو یا به د ځان نه دین وران کړو۔
نو کوم احناف علماء چه وائی چه په قرون ثلاثه ؤ کښ د مجهول راوی روایت قبول دے نو دا کمزورے خبره ده۔ مګر صحابه کرام رضی الله عنهم ددے نه مستثنیٰ دی، د هغوی جهالت هیڅ ضرر نهٔ ورکوی ځکه چه ټول صحابه کرامؓ عدول (عادلان) دی۔
دا قانون د یو کتاب په باره کښ هم دے چه په یو کتاب کښ یوه خبره یا یوه مسئله راشی نو د تحقیق نه بغیر به د هغے منل صحیح نهٔ وی۔
نَادِمِيْنَ : که د رسول الله ﷺ صحابه کراموؓ په حارث او د هغه په قوم حمله کړے وے او دواړو ډلو جنګ کړے وے نو خومره به خپیمانه شوی وے، دیتونه به ئے ادا کولے او کفارو به وئیلے چه مسلمانان خپل مینځ کښ ونښتل۔
او دیے تحقیقه خبرو د وجه نه جاهلان غلطے فتوے لګوی چه فلانے کافر شو، فلانے د کفارو جاسوس دے، فلانی دومره پیسے واخستے، هر خومره بد ګمانی او جګړے دے تحقیقه خبرو د وجه نه پیدا کیږی۔
وَاعْلَمُوْا : پدے کښ اشاره ده تحقیق د خبر ته، او مطلب دا دے چه په تاسو کښ رسول الله ﷺ موجود دے، او د هغهٔ د وفات نه روستو د هغهٔ سنت موجود دی، نو د فاسق خبر به هغه ته پیش کیږی او بیا به د هغه سنت ته پیش کیږی نو پدے طریقے سره به د هغه فاسق دروغ او رشتیا معلومیږی یعنی په تاسو کښ رسول الله ﷺ موجود دے، او د هغه طریقه دا وه چه هغه به د بے تحقیقه خلقو په خبره عمل نهٔ کولو لکه په یو مجلس کښ د مالك بن الدُّخَيْشِن ﷺ په باره کښ وویل شو چه [ذٰلِكَ مُنَافِقٌ لَايُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ] هغه منافق دے، د الله او د رسول سره مینه نهٔ لری (ځکه د رسول الله ﷺ مجلس ته رانغلو)۔ رسول الله ﷺ پرے رد وکړو وے فرمایل: [لَا تَقُلْ ذٰلِكَ، أَلَا تَرَاهُ قَدْ قَالَ : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يُرِيْدُ بِذٰلِكَ وَجْهَ اللّٰهِ] چه داسے مهٔ وایه، آیا نهٔ ګورے چه هغه د لا اله الا الله

ګواهي ورکوي چه پدې سره ئې صرف د الله د مخ اراده ده.

(بخاري باب المساجد في البيوت رقم : ٤٢٥)

دارنګه پدې کښې مسلمانانو ته دا تنبيه ورکوي چه دا خبره ډېره ستاسو نه هيره نهٔ وي چه ستاسو ترمينځه د الله رسول هم اوسيږي، که چرې تاسو دروغ اووايئ، چاته د دروغو خبرو نسبت وکړئ نو الله تعالیٰ به ستاسو د حقيقتِ حال نه هغه خبر کړي.

دويم ښه مطلب دا هم دې چه په تاسو کښې رسول الله ﷺ موجود دې، يو تن راشي هغه ورته يوه خبره وکړي او بل ورته بله خبره وکړي نو که هغه د ټولو خبره ومني ډېر نقصان به وشي، نو رسول الله ﷺ به د خپل ځان تابع کوئ نهٔ چه هر يو تنووائي زما خبره دې ومني ځکه د امت خواهشات خو مختلف دي، که رسول الله ﷺ د دوئ ټولو ومني او هغه شان عمل وکړي نو بيا به د هغه تابعداري لازمه وي، نو نور امت ته به مشکلات پيدا شي.

او ډېر کرته به د امتي رائې او خبره خطاء وي نو ټول امت به په لوي مشکلاتو اخته شي، لهذا نبي د خپل ځان تابع کول مهٔ غواړئ. لکه ډېر خلق مشران د خپل ځان تابع کوي، چه فلانې عالِم دې زما د مزاج مطابق خبره وکړي، او زما رايه دې ومني.

رسول الله ﷺ ته صحابه کرامؓ وويل چه مونږ ته تراويح په جَمعې سره وکړه نو هغه د درې شپو نه سوئ ونهٔ منله ځکه چه بيا به فرض شي، امت ته به ګرانه شي. رسول الله ﷺ هره ورځ بيان نهٔ کولو ځکه چه د امت دپاره سنت جوړيږي او بيا به مشکل شي.

وَلَـٰكِنَّ اللّٰهَ: يعني هر امتي دا غوښتله چه رسول الله ﷺ د هغه خبره ومني او د هغه خواهش دې پوره شي ليکن تاسو نبي د خپل ځان تابع نکړو بلکه تاسو د هغه تابع شوئ په تکليف او راحت کښې، ددې وجه دا وه چه الله ستاسو په زړونو کښې ايمان محبوب وګرځولو.

يعني الله تعالیٰ په تاسو دا احسان کړې چه ستاسو په زړونو کښې ئې ايمان مضبوط کړې، او په دې کښې ئې په الله باندې کفر کول، دروغ وئيل او د رسول الله ﷺ د مخالفت نفرت اچولې دې، چه ددې په برکت سره تاسو د ډېرو مشقتونو نه نجات مومئ.

وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ: الفسوق کبائرو ګناهونو ته وئيلې شي، او عصيان واړه ګناهونه. يا فسق هغه دې چه طبيعت ترې نفرت کوي، او عصيان هغه دې چه

طبیعت ترے نفرت نهٔ کوی۔

هُمُ الرّٰشِدُوْنَ: الله تعالیٰ د صحابه کرامؓ په باره کښې ګواهي ورکړه چه په حقیقت کښې همدا خلق په حقه لاره روان، او په دے باندے په سختیٔ سره قائم اوسیدونکی دی۔ مبتداء او خبر دواړه ئے معرفه راوړل او په مینځ کښې ئے ضمیر فصل راوړو دا په حصر او کمال باندے دلالت کوی۔ او د رشد نه مراد هدایت موندل دی سره د کامیابیٔ او پوخوالي او د عقلمندیٔ نه۔

فَضْلًا مِّنَ اللهِ وَنِعْمَةً: یعنی په صحابه کرامؓ باندے د الله تعالیٰ خالص فضل او کرم وو چه هغهٔ د دویٔ په زړونو کښې د ایمان سره محبت واچولو، او د کفر او ګناه نفرت ئے پیدا کړو۔ او الله تعالیٰ ښهٔ پیژنی چه څوك ښهٔ عمل کوی او څوك بد۔ او د هغهٔ هیڅ یو کار د حکمت نه خالي کیږی نهٔ۔ او په دے کښې اشاره ده چه دغه تیر شوی صفتونه د الله تعالیٰ د طرفه احسان دے، هغه مجبور نهٔ دے، په هغهٔ باندے د چا واجب حق نشته۔

مخکښې دوه څیزونه ذکر وو، د ایمان محبت او د هغے زینت دا فضل دے او کفر بدے ښکاره کیدل نعمت دے۔

لطیفه: په دے آیت کښې الله تعالیٰ درے څیزونه د کامل ایمان په مقابل کښې ذکر کړیدی، چه هغے کښې درے څیزونه راجمع وی، د ژبے اقرار، د زړه تصدیق، او د اندامونو اعمال۔ نو کفر بد ګنړل د ایمان د محبت او د هغے په زړونو کښې د ښائسته کیدو په مقابله کښې دے او فسوق چه دروغ دی د ژبے د اقرار په مقابله کښې او عصیان د عمل بالارکان په مقابله کښې دے۔

وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَأَصْلِحُوْا
او که چرته دوه ډلے د مؤمنانو نه یو بل سره جنګ اُوکړی نو جوړ جاړے اُوکړیٔ
بَيْنَهُمَا فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى
په مینځ د دوی کښې نو که چرته زیاتے کوی یوه د دواړو نه په بله باندے
فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى تَفِيْءَ
نو جنګ اُوکړیٔ تاسو د هغه ډلے سره چه زیاتے کوی تردے چه را اُوګرځی

إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ فَإِن فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ

د الله حکم ته، نو کچرته را اُوګرځیده نو جوړه اُوکړئ په مینځ د دواړو په انصاف سره

وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿٩﴾

او انصاف کوئ یقیناً الله تعالیٰ مینه کوی د انصاف کونکو سره۔

تفسیر: پدے آیت کښ بل قانون دے [اَلْإِصْلَاحُ بَيْنَ الْفَرِيقَيْنِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ] د مؤمنانو دوه ډلے که په خپل مینځ کښ جنګ وکړی نو تاسو د هغوی ترمینځ جوړ جارے راولئ۔

مناسبت :

کله نا کله یو تن د فاسق خبره ومنی نو د هغے په وجه جګړه پیدا شی، نو نورو مؤمنانو له پکار دی چه د دوئ دا اختلاف ختم کړی۔

شان نزول

ددے آیت د شانِ نزول په باره کښ بخاری او مسلم او نورو محدثینو د انس ﷺ نه روایت کړے چه نبی کریم ﷺ تـه بـعـض صحابو د عبد الله بن ابی ابن سلول خواته د هغهٔ د زړهٔ اخستـلـو دپاره د تللو مشوره ورکړه، دے وجے نه رسول الله ﷺ پـه یـو خر باندے سوریدو سره روان شـو او صـحـابـهٔ کرام پیدل روان شو، د دغه ځائے زمکه مالګیژنه وه۔ هغهٔ چه رسول الله ﷺ اولیدلو نو وے وئیل : [إِلَيْكَ عَنِّي وَاللَّهِ لَقَدْ آذَانِي نَتْنُ حِمَارِكَ] لرے شه، ستا د خرهٔ پـه بوئے سره ماته تکلیف رسی، نو یو انصاری وویل [وَاللَّهِ لَحِمَارُ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ أَطْيَبُ رِيحًا مِنْكَ] چـه قسَم په الله! د رسول الله ﷺ د خـرهٔ بـوئے ستا د بدن د بوئے نه زیات ښهٔ دے، په دے خبره د عبد الله بن اُبی د قوم څهٔ افراد خفه شول۔ دے خوا صحابهٔ کرام هم خفه شو، [فَكَانَ بَيْنَهُمَا ضَرْبٌ بِالْجَرِيدِ وَالْأَيْدِي وَالنِّعَالِ] او د دواړو طرفونو نه د کهجورو د څانګو، لاسونو او څپلو په ذریعه په یو بل باندے حمله وکړے شوه۔ دے وخت کښ دا آیت نازل شو۔ (بخاری : ۲۶۹۱)

بیا رسول الله ﷺ د دواړو ترمینځ صلح وکړه۔

او صحابه کرامو دا آیتونه روستو د علی بن ابی طالب او معاویه بن ابی سفیان رضی

الله عنهم په جنګونو کښې عملي کړي وو چه د دوئ ترمینځ ئې د صلح مصالحت کوشش وکړو.

د آیت مفهوم دادے چه د مسلمانانو دوه ډلے خپلو کښې جنګ وکړي، نو مسلمانانو له پکار دي چه دے دواړو ډلو ته د الله تعالیٰ د کتاب مطابق فیصله کولو دعوت ورکړي، که چرے قبول ئے کړي نو همدا مطلوب ده، اوکه یوه ډله د الله تعالیٰ د کتاب مطابق د فیصلے کولو نه انکار وکړي، نو مسلمانان ډے دے باغي ډلے سره جنګ وکړي، تردے چه هغه په قرآن کښې د الله تعالیٰ د ذکر کړي حکم په قبلولو باندے راضي شي. په داسے صورت کښې مسلمانانو له پکار دي چه د دوئ ترمینځه د عدل او انصاف مطابق فیصله وکړي، یعني د الله تعالیٰ د هغه حکم مطابق کوم چه د هغۀ په کتاب کښې ذکر شوے، او کوم چه عینِ عدل دے.

وَإِنْ طَائِفَتَانِ: د ابن عباس ﷺ نه قرطبیؒ وغیره نقل کړیدي چه طائفه یو نفر او زیاتو ته هم وئیلے کیږي ددے وجه نه د جَمع ضمیر هم ورته راجع کیږي.

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ: دے نه معلومه شوه چه مؤمن به دے ته نۀ وائي چه جنګ به ئے نۀ راځي بلکه د مؤمن به کله نا کله اختلاف هم راځي. لیکن د حدودو نه به نۀ بهر کیږي.

وَأَقْسِطُوْا: د زیاتي تاکید په توګه الله وفرمایل چه اے مومنانو ! ستاسو هره فیصله په انصاف باندے مبني کیدل پکار دي. اِقساط (انصاف) کول دا دي چه هر حقدار ته د هغه حق ورکړے شي. نو په اَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ کښې اقوالو ته اشاره ده، او په (وَاَقْسِطُوْا) کښې افعالو ته، یعني قولًا او عملًا عدل وکړئ.

بیشکه الله تعالیٰ انصاف کونکو سره محبت کوي، او ددے محبت تقاضا داده چه هغه به دوئ ته بهترینه بدله ورکوي.

إِلٰى أَمْرِ اللّٰهِ: د الله تعالیٰ د امر نه مراد د الله تعالیٰ او د هغۀ د رسول طاعت دے، او دارنګه صلح ده.

د تفسیر عالمانو ددے آیتِ کریمه نه لاندیني مسائل مستنبط کړي دي :

۱ - د مسلمانانو د ډلو ترمینځه صلح کول ضروري دي.

۲ - بغاوت کونکے ډلے سره جنګ کول ضروري دي، او دا حکم مکے او نورو تولو

مسلمانانو ته شامل دے۔

۳ – کوم کس چه د بغاوت کونکے ډلے نه جدا شی، هغهٔ سره به جنګ نهٔ کیږی، ځکه الله تعالیٰ ﴿حَتّٰى تَفِيْءَ﴾ (تردے چه را واپس شی) وئیلی دی، یعنی کله چه باغی ډله د بغاوت نه منع شی نو هغے سره به جنګ نهٔ کیږی۔

٤ – د روسته کیدونکو قتل او زخمی وژل حرام دی۔

٥ – نهٔ به د دوئ مال، مالِ غنیمت وی، اونهٔ به د دوئ اولاد غلامان جوړیږی، ځکه د بغاوت په وجه دوئ کافر شوی نهٔ دی۔

٦ – که چرے د جنګ په حالت کښ د دوئ مالونه واخستے شول، نو دوئ ته به واپس کولے شی، اوکه چرے دوئ د مقابلے ډلے ځان یا مال ته څهٔ نقصان رسولے وو، نو دوئ به د هغے ضامن نهٔ وی۔

۷ – که چرے باغی اُووژلے شی، نو هغهٔ له به غسل ورکولے شی، کفن کولے به شی، او ددهٔ د جنازے مونځ به کولے شی۔

۸ – که چرے په انصاف باندے د ولاړے ډلے یو کس اُووژلے شی، نو هغه به شهید وی، نهٔ به هغهٔ له غسل ورکړے کیږی، او نهٔ به د هغهٔ د جنازے مونځ کیږی۔

۹ – که چرے د دواړو ډلو ترمینځه د نسلی یا قومی تعصب یا د حکومت غوښتلو په وجه جنګ وشی نو دواړه ډلے به ظالمانے وی، او په دواړو کښ به هره یوه ډله د یو بل د تاوان ضامنه وی۔ ددے نه د علی او معاویه رضی الله عنهما جنګونه مستثنیٰ دی۔

امام قرطبیؒ لیکی چه دا ټول اجتهادی اختلاف وو، او مونږ لره جائز نهٔ دی چه په دے کښ یو طرفته یا یو صحابی ته د یقینی خطائی نسبت وکړو، هغوی ټول زمونږ امامان دی، مونږ به د هغوی د جنګونو د ذکر کولو نه خپلے ژبے محفوظ ساتو لکه چه زمونږ تورے د هغوی د وینو نه الله تعالیٰ محفوظ ساتلی دی، او دا به وایو چه تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ۔

۱۰ – چه څوك یوه ګناه په تاویل سره جائز کوی لیکن هغه سبب د فساد وی نو هغه تاویل سبب د منع د قتال نشی کیدے ځکه چه باغی ضرور ځان دپاره تاویلات کوی لیکن هغے ته اعتبار نشی ورکیدلے۔

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ

یقیناً مؤمنان ورونه ورونه دی نو روغه کوئ په مینځ د ورونو ستاسو کښې

وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٠﴾

او اُویریږئ د الله نه دے دپاره چه په تاسو باندے رحم اُوکړے شي۔

تفسیر: اُوس د صلح علت بیانوی یعنی مخکښې چه د مسلمانانو د دوه ډلو ترمینځه د کومے صلح حکم وشو نو ددے وجه بیانوی چه مسلمانان خپلو کښې ورونه ورونه دی، دینی رشته د تولو رشتو نه زیاته مضبوطه وی، چه ددے تقاضا داده چه کله د دوه مسلمانانو یا ډلو ترمینځه اختلاف پیدا شي، نو د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول د حکم مطابق خپلو کښې صلح اُوکړی، او الله نه اُویریږی، او په دے کښې لږه سستی هم ونهٔ کړی، دے دپاره چه اختلاف زیاتیدو ته پرے نښودے شی، او مسلمانان د یو بل وینه ونهٔ بیوی۔ د صلح لاره هغه لاره ده چه په دے باندے تللو سره الله تعالیٰ د مسلمانانو په حال رحم کوی، او د دوئ خپل مینځی اختلاف به زیاتیږی نهٔ۔

د نبی کریم ﷺ په مبارکو احادیثو کښې هم اسلامی اُخوّت (ورورولئ) له ډیر زیات اهمیت ورکړے شوے۔ امام بخاریؒ د ابن عمر ﷺ نه روایت کړے، رسول الله ﷺ وفرمایل: [اَلْمُسْلِمُ اَخُو الْمُسْلِمِ لَايَظْلِمُهٗ وَلَايُسْلِمُهٗ] مسلمان د مسلمان ورور دے، نهٔ به پرے ظلم کوی او نهٔ به ئے دشمن او هلاکت ته پریدی) (یعنی دشمن ته به ئے نهٔ پریدی)۔

(بخاری: ٦٩٥١)

او بخاریؒ د ابو موسیٰ اشعری ﷺ نه روایت کړے چه یو مومن د بل مومن لپاره د عمارت (آبادئ) پشان دے چه ددے یوه برخه بلے برخے ته طاقت رسوی۔ (بخاری: ٤٨١)

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ: دا جمله خبریه ده، او په حقیقت کښې انشائیه ده، او مطلب دا دے چه مؤمن دِے بل مؤمن خپل ورور وګنړی، او هغه سره دِے د ورور په شان سلوک وکړی، نو کله چه د یو ورور د بل ورور سره جګړه راشی، نو دریم ورور له پکار ده چه د هغوی ترمینځ ورورولئ باقی وساتی او جوړ جاړے راولی، نهٔ دا چه د هغوی ترمینځ چغلی او فساد خور کړی لکه اکثرو نفسونو کښې دا مرض دے۔

او دا آيت دليل دے چه د نسب اختلاف له اعتبار نشته بلکه صرف ايمان سبب د اخوت او ورورلئ دے۔

او مفسر شربينيؒ د ابوعثمان حيريؒ نه نقل کړيدي چه اخوت د دين کلك دے د اخوت د نسب نه ځکه چه اخوت د نسب قطع کيږي په ديني مخالفت سره، او اخوت ديني نهٔ قطع کيږي په مخالفت د نسب سره۔

او زجاجؒ وائي: کله چه دوی په دين کښ متفق وی نو دوی د دين په اتفاق کښ اصل نسب ته واپس شول، ځکه چه دوی د آدم عليه السلام او حواء رضی الله عنها اولاد دی۔

أَخَوَيْكُمْ: د ضمير په ځاے ئے اسم ظاهر راوړو دپاره د زياتے مبالغے، او دپاره د اعلان کولو چه ديني اخوت د اصلاح سبب دے۔

او اخوين ئے تثنيه ذکر کړه پدے کښ اشاره ده چه هر دوه ورونو ترمينځ اصلاح ضروري ده نو د لوی جماعت او ډلے ترمينځ اصلاح خو به خامخا ضروري وی، ځکه چه د هغوی په اختلاف کښ فساد زيات رامينځ ته کيږي۔

لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ: اصلاح د مسلمانانو ترمينځ کول ولے سبب د رحمت دے؟ وجه دا ده چه تهٔ د الله په مخلوق رحم کوے، د هغوی نه شر لرے کوے، نو الله به په تا باندے رحم کوی۔ جزاء من جنس العمل وی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰى
اے ايمان والو! توقے دِے نهٔ کوی يو قوم د بل قوم پورے کيدے شی
أَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّنْ نِّسَاءٍ عَسٰى
چه هغوی به غوره وی د دوی نه او نهٔ دِے زنانه د زنانو پورے (توقے کوی) کيدے شی
أَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوْا أَنْفُسَكُمْ
چه وی به هغوی غوره د دوی نه او عيب مهٔ لګوئ په خپلو ورونو (همجنسو)
وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْإِيْمَانِ
او مهٔ ولئ يو بل په ناکاره نومونو سره، بد دے نوم د نافرمانئ روستو د ايمان نه

وَمَنْ لَّمْ يَتُبْ فَأُولٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُوْنَ ﴿١١﴾

او چا چه توبه اُونهٔ ویستله نو دغه کسان ظالمان دی۔

تفسیر : عنوان د آیت : اَلنَّهْیُ عَنْ تَذْلِیْلِ الْمُؤْمِنِیْنَ وَتَحْقِیْرِهِمْ۔

پدے آیت کښې منع ده د ذلیله کولو او سپکاوی بیانولو د مسلمانانو نه، او دا سپکاوے راځی په مسخرے کولو او دویم په عیب لګولو، دریم په تنابز بالالقاب (غلطو نومونو) سره، او څلورم په بد ګمانۍ او پنځم په جاسوسۍ او شپږم په غیبت کولو۔ نو په دے آیت کښې د اولنو درے خبرو نه منع ده۔ او تویے ته ترغیب ورکوی او که څوك توبه نهٔ وباسی نو هغه به ظالمانو کښې حساب وی۔

او ربط ئے د مخکښې سره دا دے چه مخکښې د جګړے خبره وشوه نو اُوس ځینے هغه کارونو نه منع فرمائی چه هغه د مسلمانانو ترمینځه د اختلاف او جګړے او قتل اوقتال سبب جوړیږی۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه اے هغه خلقو چه تاسو ایمان راوړے ! ستاسو یوه ډله دِے بلے ډلے پورے توقے نهٔ کوی، چه مثلًا فلانے قوم حرصناك، بزدله، سپی، شومان، بے عقله دی، کیدے شی چه هغوی به ددے توقے کونکی نه غوره وی، او دا واقعی خبره ده ځکه چه څوك د بل پورے مسخرے کوی نو هغه کښې تکبر وی او چا پورے چه مسخره کیږی نو هغه کښې تواضع (عاجزی) وی، او تواضع والا د الله تعالیٰ په نیز د متکبرانو نه غوره وی۔ لکه دا خبره په تجربه او مشاهده کښې راغلے ده۔

مفسر ابو السعودؒ لیکی چه په دواړو ډلو کښې د یوے ډلے د بنهٔ کیدو تعلق د هغے د شکل او صورت او نور ظاهری اسبابو د وجے نه نهٔ دے، بلکه ددے تعلق په زړونو کښې پټو خبرو سره دے۔ دے وجے نه هیڅوك دے چالره سپك نهٔ ګنړی، کیدے شی چه څوك سپك ګنړلے کیږی، هغه د سپك ګنړونکے ډلے نه د الله په نیز بهتر وی۔

او د عَسٰی اَنْ یَّکُوْنُوْا خَیْرًا مِّنْهُمْ : یوه بله معنیٰ دا هم شویده چه کیدے شی چه په راتلونکی وخت کښې دا مسخره کونکے شخص ذلیل، مسکین او عیبژن شی او بل عزتمن شی نو معامله به اُلټه شی۔

عبد الله بن مسعود ﷺ نه قرطبیؒ او نورو مفسرینو نقل کړیدی چه اَلْبَلَاءُ مُوَکَّلٌ

بِالْقَوْلِ، لَوْ سَخِرْتُ مِنْ كَلْبٍ لَخَشِيْتُ اَنْ اُحَوَّلَ كَلْبًا]
((مصيبت د خبرو سره تړلے شويدے، كه زۀ په يو سپي پورے خندنئ وكړم نو ويريږم چه زۀ به سپے وګرځم))۔
او د قشيريؒ نه نقل دی چه [مَا اسْتَصْغَرَ أَحَدٌ أَحَدًا اِلَّا سُلِّطَ عَلَيْهِ] ((چا چه بل مسلمان سپك ګنړلے دے، نو الله تعالیٰ هغه مسلمان په دۀ باندے مسلط ګرځولے دے))۔ او هغه ته ئے په دۀ باندے فوقيت وركړيدے۔ (تفسير القشيري ۲۹۳/۷)
وَلَا نِسَاءٌ: د زنانو ذكر ئے پكښ وكړو سره ددے نه چه دا په مؤمنانو كښ داخل دی، ددے حكمت دا دے چه دا مرض په زنانو كښ زيات دے ځكه چه د دوئ همت كمزورے دے، او د همت د كمزورئ د وجه نه د بلے مؤمنے پورے مسخرے او ټوقے كوی او هغه سپكه ګنړی، لكه وائی : دا فلانئ څنګه لنډئ ده، فلانئ اُوږده ده، دے جامو ته ئے وګوره، بورقے ته ئے وګوره، دے شكل ته ئے وګوره۔ ددے ټولو خبرو حساب كتاب به كيږی او دا د انسان په عملنامه كښ ليكلے كيږی۔
وَلَا تَلْمِزُوْا اَنْفُسَكُمْ : د انفس نه مراد همجنس مسلمانان دی، او تعبير ئے په انفس سره وكړو پدے كښ اشاره ده چه نور مسلمانان داسے ګنړه لكه خپل ځان، او عاقل انسان په خپل ځان باندے عيب نۀ لګوی۔
او چونكه ايمانی رشته د ټولو نه زياته مضبوطه رشته وی، دے وجے نه مسلمانان خپلو كښ د يو بدن غوښته دی، نو په يو مسلمان باندے عيب لګول ګويا كه په خپل ځان باندے عيب لګول دی، ځكه ئے تعبير په لفظ د (انفس) سره وكړو۔
او لمز عيب لګولو ته وائی مخامخ وی او كه پښے شا۔ او لاس او سترګه او ژبه او اشارے سره وی، او همز صرف په ژبه سره وی (او د همز او لمز تفصيلی فرق به په تفسير د سورة همزه كښ راشی ان شاء الله) يعنی يو مسلمان نارينه يا زنانه ډے په خپل مسلمان ورور يا خور باندے عيب نۀ لګوی، چه تا كښ دا نقصان دے، او تۀ په خبره نۀ پو هيږے، او تۀ ساده جاهل ئے، په تا كښ حرص ډير دے، تۀ بے عمله ئے، تۀ د سنت پابند نۀ ئے، او پدے كښ مقصد د هغۀ سپكاوے كول وی،
او ددے نښه دا ده چه د نورو خلقو په مخامخ دا سرے شرموی، او كه دعوت غرض وی نو بيا جائز ده خو پدے شرط چه يواځے ورته نصيحت وكړی، او د زړۀ د يخولو په نيت به

نهٔ وي. او د رسول الله ﷺ طريقه به دا وه چه كله به ئے يو تن كښې يو عيب وليدو نو فرمايل به ئے : [مَا بَالُ اَقْوَامٍ] څه وجه ده بعض كسانو لره چه داسے كار كوي. نو هغه شخص به پوهه شو چه ما يادوي.

وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ : تنابز يو بل ويشتلو ته وئيلے شي، او القاب نه مراد غلط او بد نومونه دي. د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دي چه تنابز دا دے [اَلرَّجُلُ يَتُوْبُ مِنَ الْمَعْصِيَةِ ثُمَّ يُعَيَّرُ بِهَا] يو تن د ګناه نه توبه ويستلې وي بيا ورته څوك د هغے پيغور وركوي چه تهٔ زاني، غل او ډاكو ئے. نو الله منع وكړه چه هغه ته به په مخكنو ګناهونو پيغور نهٔ وركوي.

ابن مسعود رضی الله عنه فرمائي : كله چه يو تن يهودي وي بيا اسلام راوړي نو دے ورته وائي اے يهودي، يا مسلمان ته فاسق وائي.

او علماء وائي چه پدے كښې انسانانو ته د حيواناتو نومونه كيخودل هم داخل دي لكه كلب، حمار، خنزير وغيره.

لكه په كتاب الصمت د ابن ابي الدنيا رقم (۳۵۰) كښې دي، د ابراهيم نخعيؒ نه نقل دي چه كله يو تن بل ته حمار يا خنزير ووائي نو دهٔ ته به د قيامت په ورځ وئيلے كيږي چه آيا ما دا شخص خر يا خنزير پيدا كړے وو (چه تا ورته خر يا خنزير وئيلے وو).

او د عيب هغه نومونه اخستل منع دي چه يو تن د هغے په ذكر كولو خفه كيږي، او كه چرے هغه پرے نهٔ خفه كيدو نو بيا ئے اخستل جائز دي لكه غلطے معنے والا لقب د چا دپاره نوم وي لكه اخفش (خاپيرك) اعمش (ضعيف نظر والا). يا لكه اعرج (ګوډ) احدب، (شاكوړے) يا ذو اليدين (اُوږدو لاسونو والا)، يا چا ته لنډے ووائي، او سپكاوے ئے مقصد نهٔ وي او هغه پرے نهٔ خفه كيږي. او كه پدے خفه كيږي نو دا به هم منع وي. او قرطبيؒ د سلفو نه ددے مثالونه ذكر كړيدي.

فائده ۱ : په كومو نومونو كښې چه مدح او صفت وي او هغه رشتيني او حق وي نو د هغے ذكر كول منع نهٔ دي لكه ابوبكر صديق رضی الله عنه ته صديق، او عتيق وئيلے شي او عمر ته فاروق او عثمان رضی الله عنه ته غني او ذو النورين او علي رضی الله عنه ته ابوتراب او خالد رضی الله عنه ته سيف الله خزيمة رضی الله عنه ته ذي الشهادتين او وئيلے شي.

فائده ۲ : ددے آيت دا مقصد نهٔ دے چه ګنے يو سړے بے دينه دے، شرك او بدعات كوي، بيلمازه دے هغه ته به خلق دغه نومونه نهٔ وائي لكه ددے زمانے بعض ملنګان

واخلـه چـه کـنـے هـغـه ډېـ هم د احترام او عزت حقدار وي پدے گمان چه دے به په باطن کښې د الله ولي او بزرگ وي دا غلطه ده ځکه چه د الله ولي د شريعت نه خلاف نکوي۔

بِئۡسَ الۡاِسۡمُ الۡفُسُوۡقُ: ١- أَيْ بِئْسَ أَنْ يُسَمَّى الرَّجُلُ كَافِرًا أَوْ زَانِيًا بَعْدَ إِسْلَامِهِ وَتَوْبَتِهِ۔

يـو مـطـلـب دا دے چـه بـد دے د فسق (نافرمانۍ) نوم ورکول يو تن ته پس د هغے نه چه هغه ايمان راوړو او توبه ئے ويستله يعني يو سړي ته د توبے نه روستو کافر او زاني وئيل بد نوم دے۔ او همدا ظاهر مصداق دے۔

٢- شيخ الاسلام ابن تيميةؒ وغيره دے کښې دا هم وئيلي دي چه تۀ چا ته بد نوم کيږدے نـو تـۀ بـه فـاسـق جـوړ شې، نو يو مؤمن له دا نۀ دي پکار چه هغه د ايمان نه روستو ځان فـاسق کړي نو دا به د ورونکي صفت شي، ځکه چه څوك بل ته فاسق ووائي (او هغه ئے اهل نۀ وي) نو خپله فاسق کيږي۔ دا هم پکښې داخليږي۔

قرطبيؒ ددے نه داسے تعبير کړيدے: [مَنْ لَقَّبَ اَخَاهُ اَوْ سَخِرَ مِنْهُ فَهُوَ فَاسِقٌ]

چا چه يو ورور ته بد نوم کيخودو او يا ئے ورپورے مسخرے وکړے نو هغه فاسق دے۔ نو دا بـه د مـخکښې سخريه او همز او نبز سره ولګيږي، يعني د ايمان نه روستو دغه کارونو کولو سره انسان فاسق کيږي۔ (قرطبي)

وَمَنۡ لَّمۡ يَتُبۡ : اُوس تـوبے تـه ترغيب ورکوي۔ دلته الله تـعـالیٰ دوه ډلے جوړے کړے، يو تائبين او بل ظالمين۔ يا به توبه وي يا به ظلم وي۔ نو توبه ويستل فرض شو۔

الظّٰلِمُوۡنَ : دۀ تـه ئے ظالم ووئيلو [لِـجَـهْـلِهٖ بِحُقُوْقِ رَبِّهٖ وَحُقُوْقِ عِبَادِهٖ] ځـکه چه دے د خپل رب او د بندګانو د حقوقو نه جاهل دے، او د بل چا حقوق ئے برباد کړل۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ
اے ايمان والو! ځان اُوساتئ د ډيرو گمانونو نه يقيناً بعض گمان گناه ده
وَلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ
او جاسوسي مۀ کوئ (او عيبونه د يو بل مۀ لټوئ) او غيبت دِے نۀ کوي
بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ط أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَّأْكُلَ لَحْمَ أَخِيْهِ
بعض ستاسو بعضو لره، آيا خوښوي يوتن ستاسو چه اُوخوري غوښه د ورور خپل

مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾

چه مړ وی نو تاسو خو دا بد ګنړئ، او یره وکړئ د الله نه یقیناً الله توبه قبلونکے رحم کونکے دے۔

تفسیر : پدے کښی بیا د مؤمنانو د تحقیر او تذلیل نه منع ده، او دارنګه منع ده د هغه شی نه چه جګړے راپیدا کوی چه هغه بدګمانی، جاسوسی او غیبت کول دی۔ او دا درے واړه څیزونه انسان کښی تکبر راولی۔

كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ : پدے کښی نهی ده د ذرائعو نه، یعنی د ډیرو ګمانونو نه ځان وساته ځکه چه بعض ګمان ګناه ده، او په ډیر کښی دا بعض راځی نو ډیر مۀ کوه نو په ګناه کښی به نۀ واقع کیږے۔

بیا دلته الله تعالیٰ داسے ونۀ وئیل چه (لَا تَظُنُّوا) ګمانونه مۀ کوئ بلکه کثیر لفظ ئے ووئیلو پدے کښی اشاره ده چه ګمانونه په ډیر قسمه دی بعض جائز او بعض ناروا دی۔

د ګمان اقسام

اول کښی ګمان په دوه قسمه دے (۱) یو ګمان په الله دے، (۲) او بل ګمان په بندګانو دے۔
په الله تعالیٰ باندے ګمان دوه قسمه دے (۱) حُسْنُ الظَّنِّ بِاللهِ (نیك ګمان کول)۔
(۲) سُوْءُ الظَّنِّ بِاللهِ ۔ (په هغه بد ګمان کول) په الله باندے ښائسته ګمان کول فرض دی۔
په یو حدیث کښی دی : (حُسْنُ الظَّنِّ مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ) (ابوداود : ٤٩٩٥) وفی اسناده شتیر او سمیر بن نهار نکرة) په الله باندے ښائسته ګمان کول ښائسته عبادت دے۔
او رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : [لَا يَمُوتَنَّ اَحَدُكُمْ اِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللهِ] یو تن دِے په تاسو کښی نۀ مری مګر هغه دِے په الله باندے ښائسته ګمان کوی۔ (مسلم : ٢٨٧٧)
په هر حالت کښی به په الله باندے بنده ښه ګمان کوی، کله به ترے یو شے غواړی او هغه به ئے نۀ ورکوی دے کښی به ستا فائده وی۔ د الله تعالیٰ هر کار د حکمتونو نه ډك وی۔
او په بندګانو باندے ګمان دوه قسمه دے ځکه چه بندګان دوه قسمه دی۔
(۱) فاسق باندے بد ګمانی کول جائز دی (ظَنَّ بِالْمَظْنُوْن) جائز دے۔ یعنی متهم شخص باندے ګمان جائز دے۔ یعنی یو تن همیشه غلا کوی بیا په یو ځای کښی غلا وشی، نو

څوك ووائي چه دا به هم فلاني غل کړی وي. دغه شان قاتل وغيره باندې.

(٢) او په مؤمن باندې نيك ګمان کول لازم دي. او بد ګمان کول حرام دي، او دا هغه بعض الظن دې چه ګناه دې. که يو مؤمن په غلط ځای کښ ووينې هم ښه ګمان کوه چه کيدې شي په دې ځای کښ به ئې ضرورت وي. داسې به نۀ وائې چه دا فلانې دلته ولاړ دې، دا به پردو ښځو ته ګوری، يا به غلا ته ولاړ وي. او دې زمانه کښ دا قسم بدګماني ډيره زياته ده چه ددې د وجه نه معاشره کښ ډيرو فسادات خوريږي.

بل تقسيم : ظن دوه قسمه دې (١) يو اختياری ګمان دې (٢) بل غير اختياری.

اختياری دا دې چه بنده د هغه پسې ګرځي، د هغه تجسس کوی، دې وجه نه ئې روستو ورپسې (وَلَا تَجَسَّسُوا) وئيلې دې. او غير اختياری بدګماني زړه ته راتللو سره بنده نۀ ګناهګاروی، او ددې نښه دا ده چه روستو ورپسې لټون نۀ کوی چه چرته لاړو او څه کوی.

او دلته ئې اِجْتَنِبُوا لفظ ذکر کړو پدې کښ اشاره ده چه احتياط کوئ چه بې اختياره مذموم ګمانونه ستاسو زړونو کښ رانشي.

وَلَا تَجَسَّسُوا: تجسس د مسلمانانو پټ عيبونه تالاش کولو ته وئيلې شي. نو دلته الله تعالىٰ منع کوی ددې نه چه مؤمن به د مسلمانانو پټ عيبونه نۀ لټوی پس د هغې نه چه الله تعالىٰ پرې پرده اچولې ده. جاسوسي دوه قسمه ده (١) مسلمانانو دپاره جاسوسي کول، يعني تلل او د کافرانو حالات معلومول، او مسلمانانو حُکامو ته پيش کول جائز بلکه بهتر دي، او د جهاد يو قسم دې، او (٢) دويم تجسس په مؤمنانو دې، يعني د مؤمنانو عيبونه معلومول او هغه بيا حُکامو ته وئيل يا د يو مؤمن عيب بل ته وئيل دې دپاره چه د دوئ دشمني پيدا شي، دا کار حرام او کبيره ګناه ده.

بل دې تحسس، دا خبرونه او د چا عيبونه طلب کول او تالاش کول دي د خپل ځان دپاره. او بعض وائي : تجسس د پټو خبرو يا عيبونو معلومات ته وائي په طريقه د جاسوسئ. او تحسس هغې ته وائي چه داسې ورپسې ګرځي چه هغه په حواسو سره معلوموی.

وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ : د غيبت معنىٰ په حديث د مسلم کښ راغلې ده رسول الله ﷺ وفرمايل : آيا تاسو پوهيږئ چه غيبت څه ته وائي؟ صحابه کرامؓ ووئيل : الله او رسول

ښه پو هه دې۔ وېې فرمایل : [ذِكْرُكَ اَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ] يعنې د يو ورور مسلمان په نشتوالي کښې داسې خبره وکړې شي چه هغه ئې نۀ خوښوي۔
صحابه کرامو ووېل : [اَرَاَيْتَ اِنْ كَانَ فِيْ اَخِيْ مَا اَقُوْلُ؟ قَالَ : اِنْ كَانَ فِيْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وَاِنْ لَّمْ يَكُنْ فِيْهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ] که زما په وروړ کښې هغه څه وي چه زۀ ئې وايم؟ وېې فرمایل : که هغه کښې څه وي او ته ئې بیانوې نو تا د هغۀ غیبت وکړو، او که چرې دغه بدي په هغۀ کښې پرته نۀ وي نو دا خو بهتان دې۔ (مسلم : ۷٤۱۲)
معلومه شوه چه که یو تن په یوه خبره نۀ خفه کیدو لکه خلق وائي فلانې اوږد سړې راغلې وو نو دا به غیبت نۀ وي۔ دارنګه د بدعتي عیب ذکر کول او په هغې باندې د حدود شرعیه ؤ لاندې رد کول غیبت نۀ دې، او همدا مراد د قول د حسن بصريؒ دې چه وائي د بدعتي غیبت کول جائز دي۔
او دارنګه هغه فاسق چه خپل فسق ښکاره کوي، او دارنګه مدعي لره جائز دي چه د مدعیٰ علیه هغه نقصان د قاضي په وړاندې ذکر کړي چه د کوم په باره کښې دعویٰ کوي ځکه چه په هغې کښې مقصد د هغۀ خفه کول نۀ دي بلکه خپل حق ثابتول دي۔
دارنګه په علم د اسماء الرجال (فن جرح او تعدیل) کښې د یو راوي عیبونه ذکر کول غیبت نۀ دې بلکه په هغې کښې د دین حفاظت دې۔
دارنګه چا نه مشوره واخستې شي د یو شخص په باره کښې لکه هغۀ سره معامله کوي یا ورسره نکاح کوي نو د هغه عیب ذکر کول هم جائز دي ځکه چه پدې کښې خیرخواهي د مسلمان ده او دا ضروري ده۔ (وَاَمَّا اَبُوْ جَهْمٍ فَضَرَّابٌ لِلنِّسَاءِ)
غیبت په نص د قرآن او سنت باندې او دارنګه په عقل سره حرام دې ځکه چه غیبت د هغه چا کار وي چه متکبر وي، مسلمان ورته سپك ښکاري، د خپلو نیکیو غم ورسره نۀ وي۔

د غیبت صورتونه او اقسام

غیبتونه په څوارلس قسمه دي چه شیخ الاسلامؒ په خپله فتاوی کښې ذکر کړیدي، د مثال په طور غیبت کله خلق په صورت د دعاء کښې کوي۔ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلٰى فُلَانٍ لَقَدْ وَقَعَ فِيْ ذَنْبٍ كَذَا۔ الله دې په فلاني رحم وکړي په فلانئ ګناه کښې واقع شو۔

مقصد ئے دعا نۀ وی بلکه د هغه عیب راښکاره کول وی۔ کله په صورت د دینداریٔ او صلاحیت کښې وی لکه وائی چه زما عادت دا نۀ دے چه څوك ذکر کړم مګر په خیر سره او غیبت او دروغ نۀ خوښوم خو زۀ به تاسو ته د هغه احوال بیان کړم۔

هغه خو ښه سړے دے لیکن په هغه کښې دا دا عیب دے۔ کله وائی : هغه پریده الله دِے هغه ته او مونږ ته بخنه وکړی او مقصد ئے د هغه سپکاوے او د هغه اړخ کمول وی۔

کله د بل چا صفت وکړی په طریقه د ریاء دے دپاره چه خپل ځان په هغه باندے پورته کړی لکه ووائی : [لَوْ دَعَوْتُ الْبَارِحَةَ فِيْ صَلَاتِيْ لِفُلَانٍ لَمَا بَلَغَنِيْ عَنْهُ كَيْتَ وَكَيْتَ]

که ما بیګاه شپه فلانی ته په مانځه کښې دعا کړے وے نو ما ته به د هغه فلانے فلانے عیب نۀ رارسیدے۔

بعض غیبت په قالب مسخرو او لوبو کښې کوی دے دپاره چه بل څوك د هغه پورے وخندوی، او بعض خلق د تعجب په صورت کښې غیبت کوی، داسے وائی :

[تَعَجَّبْتُ مِنْ فُلَانٍ كَيْفَ لَايَفْعَلُ كَيْتَ وَكَيْتَ/ وَمِنْ فُلَانٍ كَيْفَ وَقَعَ مِنْهُ كَيْتَ وَكَيْتَ]۔

د فلانی نه تعجب راغے چه دا فلانے فلانے کار ترے فوت شو۔ او د فلانی نه مے تعجب وکړو چه څرنګه ترے فلانیٔ فلانیٔ ګناه وشوه۔

کله په صورت د غم او توجع ښکاره کولو کښې وی، داسے وائی : فلانی باندے ډیر خفه شوم چه په فلانیٔ ګناه کښې واقع شو، د خلقو ګمان وی چه دے ورسره خفه دے، او حال دا چه زړه کښې پرے ښه خوشحاله وی۔ او کله یو تن د هغه د دشمنانو په مجلس کښې ذکر کوی دے دپاره چه هغوی پرے خوشحالي وکړی۔

او بعض خلق د انکار د منکر او غضب او د نهی عن المنکر په صورت کښې کوی چه فلانے ولے داسے عظیم جرم او د الله مخالفت کوی، دا خو دۀ له نۀ وو پکار۔ او مقصد ئے دا نۀ وی۔ شیخ الاسلامؒ فرمائی : [وَهٰذَا وَغَيْرُهُ مِنْ اَعْظَمِ اَمْرَاضِ الْقُلُوْبِ وَالْمُخَادَعَاتِ لِلّٰهِ وَلِخَلْقِهٖ] او دا او ددے په شان نورے خبرے د زړونو مرض دے، او الله او مخلوق ته په خپل ګمان دهوکه ورکول دی۔ (مجموع الفتاوی ۲۸/۳۶/۲۳۸)

او شیخ الاسلامؒ پدے باره کښې انتهائی مزیدار تفصیلات ذکر کړیدی، د هغے کتل پدے موضوع کښې ډیر زیات مفید دی۔

د غیبت ډیر قبائح دی په قرآن او احادیثو او په اقوالو د علماؤ کښې ذکر دی۔

ځوك چه د بل چا غيبت كوي، د هغه حسنات هغه ته بخښي او د هغه ګناهونه په ځان باندے راچوي. چا د حسن بصريؒ غيبت كړے وو نو هغه ورته د كجورو توكرئ وليږله چه الله دِے تا لره جزاءِ خير دركړي، تا ته ما ايله د كجورو توكرئ وليږله او تا ما ته د خپلو حسناتو راوليږله، نو زما سخا ستا د سخا په نسبت ډيره كمه ده. نو پدے سره هغه ملامته شو او و شرميدو او مسئله ئے هم ورته وكړه.

په هغه مجلس د الله تعالىٰ رحم نهٔ كيږي په كوم كښ چه غيبت كيږي. د درے مجالسو نه د الله تعالىٰ رحمت مصروف (اړولے شوے) وي، يو چه د دنيا صفت پكښ كيږي، او بل چه غيبت پكښ كيږي، دريم چه خنداګانے پكښ كيږي.

فَكَرِهْتُمُوْهُ : يعني د مړ ورور مسلمان غوښه خوړل خو تاسو طبعاً بد ګنړئ نو دغه شان غيبت شرعاً بد وګنړئ.

دلته د مړي د غوښے خوړلو سره د غيبت تشبيه ځكه وركړے شوے چه لكه څنګه چه مړي ته خبر نهٔ وي چه څوك ددهٔ غوښه خوري، دغه شان غيبت كړے شوي ته پته نهٔ وي چه څوك په دهٔ كښ عيب لټوي.

او دلته ورور مسلمان ئے د خپل ورور سره مشابه كړو او د هغه عزت ئے د غوښے سره مشابه كړو، لكه څنګه چه ددهٔ غوښه خوړل حرام دي، دغه شان ددهٔ د عزت په باره كښ خبره كول حرام دي، او د هغه غيبوبت ئے د مرګ سره مشابه كړو.

او په غيبت كښ مقصد د هغهٔ نه نفرت وركول وي ځكه چه انساني طبيعتونه د انسان د غوښے نه نفرت كوي.

د يو تن د انسان غوښے ته زړه نهٔ كيږي، بيا د خپل ورور ته نهٔ كيږي، او بيا كله ژوندى ورور باندے د غصے په حالت كښ چك لګوي، ليكن چه مړ شي بيا ئے پرے شفقت وي، نو دغه شان مخامخ يو سړي ته كله نا كله بنده په قاريدے شي خو چه غائب شي نو بيا پرے شفقت پكار دے.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ: يعني اے مسلمانانو! د كومو بدو اعمالو نه چه تاسو په دے آيت كښ منع شوئ هغه مهٔ كوئ او د الله د عذاب نه ويريږئ. اوكه د چانه څهٔ داسے غلطي وشي او بيا په خپله ګناه خپيمانه وي، او د هغے نه توبه كړي نو الله توبه قبلونكے او بيحده رحم كونكے دے، نو پدے كښ ترغيب دے توبه ويستلو ته.

فائده : د کومو بدو اعمالو نه چه په دې آيتِ کريمه کښې منع راغلې، ددې ممانعت د نبي کريم ﷺ په ګڼړو حديثونو کښې هم راغلې۔

بخاريؒ او مسلمؒ د ابو هريره ؓ نه روايت کړے چه رسول الله ﷺ وفرمايل :

[إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَحَسَّسُوا، وَلَا تَجَسَّسُوا، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَاتَحَاسَدُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللّٰهِ إِخْوَانًا]

(مسلمانانو ! تاسو د بدګمانۍ نه پرهيز اوکړئ، ځکه چه بدګماني د ټولو نه زياته دروغژنه خبره ده، او د چا عيبونه مهٔ لټوئ، او چا پسې سوے مهٔ رنړا کوئ، او خپلو کښې يو بل سره حسد، دشمني او بغض مهٔ ساتئ، او چا پسې مهٔ لګيا کيږئ، او د الله بندګان او خپلو کښې ورونه جوړ شئ)۔ (بخاری : ٦٠٦٥) مسلم : (٦٦٩٠)

او ابوداوٗدؒ د معاويه ؓ نه روايت کړے چه رسول الله ﷺ وفرمايل :

[إِنَّكَ إِنِ اتَّبَعْتَ عَوْرَاتِ الْمُسْلِمِيْنَ أَفْسَدْتَهُمْ]

(که چرے تاسو د خلقو د پټو خبرو په تالاش پسې لګيا شوئ، نو هغوئ به خراب کړئ)۔

(ابوداود : ٤٨٠٩) وصحيح الترغيب والترهيب : ٢٣٤٢) باسناد صحيح)

او ابوداوٗدؒ د ابن عمر ؓ نه روايت کړے چه رسول الله ﷺ خطبه ورکړه، او آواز ئے دومره پورته کړو چه ښځو ته ئے د هغوئ په کورونو کښې واورولو، وے فرمايل :

[يَا مَعْشَرَ مَنْ قَدْ أَسْلَمَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يُفْضِ الْإِيْمَانُ إِلٰى قَلْبِهِ لَا تُؤْذُوا الْمُسْلِمِيْنَ وَلَا تُعَيِّرُوهُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنِ اتَّبَعَ عَوْرَاتِهِمْ يَتَّبِعِ اللّٰهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ يَّتَبِعِ اللّٰهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ وَلَوْ فِي جَوْفِ رَحْلِهِ] (ابوداود : ٤٨٨٢ والترمذی : ٢٠٣٢)

(اے هغه خلقو چه هغوئ په ژبه ايمان راوړے، په داسے حال کښې چه ايمان ستاسو زړونو ته کوز شوے نهٔ دے ! د مسلمانانو د پټو خبرو په تالاش کښې مهٔ لګيا کيږئ، کوم کس چه د مسلمانانو د پټو خبرو په تالاش کښې لګيا اوسي، الله تعالیٰ به د هغهٔ د پټو خبرو په تالاش کښې لګيا شي، تردے چه رسوا به ئے کړي، اګرکه هغه په خپل کور کښې ناست وي)۔

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ
اے خلقو! یقیناً مونږ پیدا کړی یئ تاسو د نارینه او زنانه نه او ګرځولی ئے مونږ تاسو
شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ
خاندانونه او قبیلے دیے دپاره چه یو بل اُوپیژنئ یقیناً عزتمند ستاسو نه په نیز
اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿۱۳﴾
د الله تعالیٰ ډیر تقویٰ دار ستاسو دیے یقیناً الله پوهه خبردار دیے۔

تفسیر : عنوان د آیت : ۱- اَلنَّهْیُ عَنِ التَّفَاخُرِ بِالْاَنْسَابِ وَالْاَحْسَابِ۔ یعنی په نسبونو او شرافتونو باندیے به فخر نهٔ کوئ۔

۲- مَدَارُ الْكَرَامَةِ عَلَى التَّقْوٰی ۔ د عزت دارومدار په تقویٰ دیے۔ چا کښں چه تقویٰ راغله که د هر نسب او قبیلے او قوم سره تعلق لری هغه به عزت والا وی۔

نو په دیے آیتِ کریمه کښں الله تعالیٰ انسانانو له خبر ورکړیے چه دوئ ټول د آدم او حواء علیهما السلام اولاد دی، دیے وجیے نه د نسب په لحاظ ټول برابر دی، اُوس چه په دوئ کښں څوک څومره زیات د الله او د هغهٔ د رسول فرمانبردار او خبره منونکے وی، هغومره به ددهٔ مقام د الله په نیز اُوچت وی۔

او الله تعالیٰ انسانان په قومونو او قبائلو کښں دیے دپاره نهٔ دی ویشلی چه دوئ د یو بل په مقابله کښں دروغژن فخر وکړی، چه ددیے هیڅ حقیقت نشته، ددیے مقصد صرف دادیے چه دوئ د ځناورو پشان زندګی تیره نهٔ کړی چه هیڅوك چالره نهٔ پیژنی، بلکه د دوئ ترمینځه خپل مینځی تعارف او پیژندګلی پکار ده، دیے وجیے نه الله تعالیٰ دوئ په قومونو، قبیلو او خاندانونو کښں وویشل، دیے دپاره چه د دوئ ترمینځه د خپل مینځی تعاون جذبه پیدا شی، او یوه درسته معاشره په وجود کښں راشی۔

شُعُوبًا : جمع د شعب ده، لړیے نیکونو ته وئیلے کیږی لکه چه په عربو کښں ربیعه، مضر، اَوس او خزرج وو، او قبائل د هغے نه خکته نیکونو ته وئیلے شی۔ (مجاهدؒ)

ابوعبیدهٔ لغوی وائی چه اول شعب وی، دا لویه وی د قبیلے نه، بیا قبیله وی، بیا عماره، بیا بطن، بیا فخذ، بیا فَصِیْله، بیا عَشِیْره او هره روستنئ په مخکښنئ کښں داخله وی۔

نو مثلًا خزیمه شعب دے، او کنانه قبیله ده، او قریش عماره ده، او قصی بطن دے، او عبد مناف فخذ دے، او بنو هاشم فصیله ده، او عباس عشیره ده۔ او د عشیره نه روستو بله قبیله نشته چه خاص نوم ورکړے شی۔ نو شعوب غټے قبیلے شوے او قبائل وړے قبیلے۔ (ابن عباسؓ)

فوائد او مسائل

ددے نه ډیر مسائل راوځی یو دا چه (۱) دا آیت ددے خبرے دلیل دے چه د نسبونو د حفاظت اهتمام کول یوه مطلوبه خبره ده، ځکه چه د همدے په ذریعه خپلو کښ تعارف کیږی، د صله رحمئ جذبه پیدا کیږی، خپلو کښ د میراث تقسیم کیږی، او رشته داریٔ قائمیږی، لیکن د نسب په بنیاد باندے فخر کول بد دی،

(۲) او پرهیزګاره انسان اګرکه خاندانی لحاظ سره ښکته وی، دابه د غیر پرهیزګار خاندانی انسان باندے مخکښ وی۔

(۳) دے نه معلومه شوه چه مؤمنان خپل مینځ کښ ټول یو شان اکفاء (هم سیال) دی۔

ابن ابی حاتمؒ د ابن وهبؒ نه روایت کړے چه ما امام مالکؒ نه پوښتنه وکړه چه یوے عربیٔ ښځے سره د غلام د وادهٔ کولو په باره کښ د دهٔ څهٔ خیال دے؟ نو هغهٔ وویل : حلال دے، بیا ئے همدا آیت اولوستلو، یعنی سیال کیدو دپاره ئے د آزادیٔ شرط ونهٔ لګولو۔

حافظ ابن کثیرؒ وائی چه کومو خلقو په نکاح کښ د کفو (سیال) کیدو شرط نهٔ دے لګولے، هغویٔ د همدے آیت نه استدلال کړے، او وئیلی ئے دی چه د دین نه سویٔ بل هیڅ شرط نشته۔

(٤) په آیت کښ ذکر شوے مضمون نبی کریم ﷺ په ډیرو احادیثو کښ بیان کړے۔

امام بخاریؒ د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړے، نبی ﷺ نه پوښتنه اوشوه (مَنْ اَکْرَمُ النَّاسِ؟) چه کوم یو کس زیات عزتمن دے؟ نو نبی ﷺ وفرمایل : (اَتْقَاهُمْ) (د الله په نیز په خلقو کښ زیات عزتمن هغه دے کوم چه د الله نه زیات یریدونکے وی)۔ (بخاری : ۳۳۵۳)

امام مسلمؒ د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړے، رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اِنَّ اللّٰهَ لَا یَنْظُرُ اِلٰی صُوَرِکُمْ وَلَا اِلٰی اَمْوَالِکُمْ وَلٰکِنْ یَنْظُرُ اِلٰی قُلُوْبِکُمْ وَاَعْمَالِکُمْ]

(الله تعالیٰ ستاسو شکلونو او ستاسو مالونو ته نهٔ ګوری، بلکه هغه ستاسو زړونو او

عملونو ته ګوري)۔ (مسلم: ۶۷۰۸)

فخر په تقویٰ پکار دے۔ رسول الله ﷺ د مکے د فتح په ورځ خطبه کښې وفرمايل:
[فَالنَّاسُ رَجُلَانِ بَرٌّ تَقِيٌّ كَرِيمٌ عَلَى اللّٰهِ وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ هَيِّنٌ عَلَى اللّٰهِ وَالنَّاسُ بَنُو آدَمَ وَخَلَقَ اللّٰهُ آدَمَ مِنْ تُرَابٍ] انسانان دوه قسمه دي، يو نيك عمله متقي چه په الله باندے عزتمن دے، او بل بد عمله بد بخته چه په الله باندے سپك دے او ټول انسانان د آدم اولاد دے او الله تعالیٰ آدم د خاورے نه پيدا كړے۔ (ترمذی باسناد صحيح: ۳۲۷۰)

نو د ټولو انسانانو اصل خاوره ده، نو يوه خاوره څرنګ په بله خاوره فخر وكړي۔

رسول الله ﷺ فرمائی: [لَيَدَعَنَّ رِجَالٌ فَخْرَهُمْ بِأَقْوَامٍ إِنَّمَا هُمْ فَحْمٌ مِنْ فَحْمِ جَهَنَّمَ أَوْ لَيَكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللّٰهِ مِنَ الْجُعْلَانِ الَّتِي تَدْفَعُ بِأَنْفِهَا النَّتْنَ)

(ترمذی ۴۲۳۳) وابوداود (۵۱۱۶) صحيح الجامع: ۱۷۸۷) باسناد حسن)۔

خامخا څه سړی به په خپلو قومونو باندے فخر پريدی ځكه چه دوی خو د جهنم د سكارو نه سكارۀ دي، يا به دوی په الله باندے د هغه ګونګټانو نه هم ډير سپكيږی چه هغه په خپلو پوزو سره ګندګی ديكه كوی۔ اشاره ده چه په خپل نسب باندے فخر كول ډيره بد بويه كلمه ده۔

عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی: په قرآن كښې په درے آيتونو باندے خلقو عمل نۀ دے كړے يو د هغے نه دا آيت دے۔ يعنی خلق په خپلو نسبونو باندے فخر نۀ پريدی۔

(۵) كوم متل چه مشهور دے چه ((شخصيت بلحاظ علم فوقيت بلحاظ تقویٰ)) نو دا متل برعكس پكار دے (شخصيت بلحاظ تقویٰ فوقيت بلحاظ علم) ځكه چه إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ أَتْقَاكُمْ كښې شخصيت بلحاظ تقویٰ ته اشاره ده۔ او يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ) نه معلوميږی چه فوقيت په علم سره حاصليږی۔

شان نزول

امام ابوداودؒ په مراسيل كښې او ابن مردويهؒ او بيهقيؒ په خپل سنن كښې ذكر كړيدی چه رسول الله ﷺ بنی بياضه ته حكم وكړو [أَنْ يُزَوِّجُوا أَبَا هِنْدٍ امْرَأَةً مِنْهُمْ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَنُزَوِّجُ بَنَاتِنَا مَوَالِيَنَا؟ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ] چه دوی ابو هند ته د دوی د قوم نه يوه ښځه په نكاح وركړي نو هغوی ووېل: اے د الله رسوله! آيا مونږه خپلے لونړه خپلو غلامانو ته

ورکړو؟، نو پدے باندے دا آیت نازل شو۔

بیهقیؒ فرمائی : رسول الله ﷺ په فاطمه بنت قیس رضی الله عنها چه قریشیه وه د بنو فهر نه جرګه وکړه د اسامه بن زید ﷺ دپاره، او هغه د غلامانو نه وو، او ضباعه بنت الزبیر بن عبد المطلب رضی الله عنها مقداد بن الاسودﷺ ته په نکاح شوے او د عبد الرحمن بن عوف خور بلال ﷺ ته په نکاح شوه، او ابوحذیفه بن عتبه بن ربیعه خپله وریره خپل غلام (سالم) ته په نکاح ورکړه۔

(معرفة السنن والآثار رقم : ٤٣٤٣)

لِتَعَارَفُوْا: اَیْ لَا لِتَکَرَّمُوْا۔ یعنی الله ستاسو په ډلو کښ ویشل ددے دپاره کړیدی چه یو بل وپیژنئ او د ژوند نظام مو برابر شی نۀ ددے دپاره چه تاسو دا سبب د عزت وګنړئ، او بیا فخرونه شروع کړئ۔

قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا
وئیلی وو باندچیانو ایمان راوړیدے مونږ اُووایه ! تاسو ایمان نۀ دے راوړے
وَلٰكِنْ قُوْلُوْا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا
لیکن وایئ چه مونږ اسلام منلے دے (مونږ تابعداریو) او تر اُوسه پورے نۀ دے
يَدْخُلِ الْإِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَإِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ
داخل شوے ایمان په زړونو ستاسو کښ او که چرته تاسو تابعداری کوئ د الله او د رسول د
لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْئًا إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٤﴾
هغه کم به نکړی د عملونو ستاسو نه هیڅ شے یقیناً الله بخنه کونکے رحم کونکے
إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ
دے۔ یقیناً مؤمنان هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړیدے په الله او په رسول د هغه
ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا وَجَاهَدُوْا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ
باندے بیا ئے شك نۀ دے کړے او جهاد ئے کړیدے په مالونو خپلو او نفسونو خپلو

فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ﴿١٥﴾

په لاره د الله تعالیٰ کښې دغه کسان دوی رشتینی دی۔

تفسیر : ابن عباس ﷺ، قتادهٌ او مجاهدٌ نه په مختلفو سندونو سره نقل شوی دی چه دا آیت د بنو اسد قبیلے په باره کښې نازل شوے۔ دا خلق قحط کالیٔ نه پریشانه شو او خپل بال بچ سره مدینے ته راغلهٔ، او په ظاهره کښې ئے اسلام قبول کړو، او رسول الله ﷺ ته ئے ووئیل چه فلانئ فلانئ قبیلے ستا خواته په خپلو سورلیو باندے راغلے، او مونږ خو ستا خواته د خپل بال بچ سره راغلو، او مونږ د فلانئ فلانئ قبیلو پشان تاسره جنګ نهٔ دے کړے، نور خلق په توره مسلمانان شویدی، او مونږ په خپله طبع ایمان راوړو۔ او ددے احسان کولو نه د دوئ مقصد زیاته نه زیاته صدقه حاصلول وو، نو دا آیت د دوئ د ایمانی تربیت دپاره نازل شو۔

او دا خلق نوی مسلمانان وو (منافقان نهٔ وو) لیکن ایمان ئے کمال ته نهٔ وو رسیدلے، او دعوه ئے د حقیقة الایمان کوله، نو الله تعالیٰ د هغوی تربیت کوی،

او دا آیت بیا د هر هغه چا په باره کښې دے چه د حقیقی ایمان دعوه کوی او د ایمان پوره شعبے پکښې نهٔ وی، نو دا دعوه به ئے په الله تعالیٰ باندے نهٔ چلیږی، لکه یو تن ځان ته ډاکټر وائی او د ډاکټرئ صفات پکښې نشته، نو دا دعوه به ئے صحیح نهٔ وی۔ لیبل لګولو له اعتبار نشته، صفاتو لره اعتبار دے۔

نو ددے نه دا هم معلومه شوه چه د خولے ایمان مفید نهٔ دے، او حقیقی ایمان فائده مند دے۔ شیخ الاسلام ابن قیمؒ په بدائع التفسیر کښې لیکی چه دا خلق منافقان نهٔ وو بلکه مؤمنان وو لکه دلته الله تعالیٰ ورله اسلام ثابت کړیدے او ایمان ئے ترے نفی کړیدے۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه دے باندې چیانو ووایل : مونږ په الله او د هغهٔ په رسول باندے ایمان راوړے، دے وجے نه مونږ مومنان یو، او د هر اکرام او ډیر عزت حقدار یو۔ الله د نبی کریم ﷺ په ژبه دوئ ته ووئیل چه تاسو لا اوسه پورے مومنان شوی نهٔ یئ، ځکه ایمان د زړهٔ د عقیدے، د نیت د خلوص او د اطمینان حاصلولو نوم دے، تاسو دا وایئ چه هاؤ ! مونږ د غلامئ او د قتل د ویرے نه یا د صدقے په لالچ کښې په ظاهری توګه په اسلام کښې داخل شوی یو، او دا د منافقانو او ضعیف مسلمان صفت دے۔

دے وجے نه الله تعالیٰ وړاندے وفرمایل چه لا اوسه پورے ایمان ستاسو زړونو ته کوز شوے نهٔ دے، ګنے ددے اثر به ستاسو په بدنونو باندے راښکاره شوے وے، او د نیکو عملونو په ذریعه به ددے رشتین والے کیدلے.

مفسرین لیکی چه ((لَمَّا)) د توقع او امید فائده ورکوی، دے وجے نه دا لفظ دلالت کوی چه دا خلق روسته په صحیح معنو کښ مومنان شوی دی.

حافظ ابن القیمؒ لیکی : [وَهٰذِهٖ حَالُ اَکْثَرِ الْمُنْتَسِبِیْنَ اِلَی الْاِسْلَامِ] او دا حال د اکثرو هغه خلقو دے چه اسلام ته منسوب دی او برائے نام مسلمانان دی.

که یو انسان ځان ته وګوری نو ځان به هم په دے اعرابو کښ داخل وګنړی ځکه چه دا خلق کفار نهٔ وو (وَلٰكِنَّهُمْ لَمْ يَذُوْقُوْا حَلَاوَةَ الْإِيْمَانِ) لیکن دے خلقو لا د ایمان خوند نهٔ وو څکلے. او مونږ تول همداسے یو. څوك چه د ایمان خوند وڅکی نو هغه باندے قرآن او عبادتونه یو خاص قسم اثر کوی.

فائده : ایمان دوه قسمه دے، یو الایمان المطلق. یعنی کامل ایمان. دا ایمان انسان د دخول النار نه منع کوی په پوره طریقے سره. بیخی به اُور ته نهٔ ځی. او بل دے مطلق ایمان چه دا ناقص ایمان ته وائی او دا ایمان خلود فی النار (اُور کښ همیشه پاتے کیدل) منع کوی. نو اکثرو خلقو سره مطلق ایمان شته لیکن ایمان مطلق ډیرو کمو سره دے.

نو د کامل ایمانّ د حاصلولو دپاره روستو طریقه ښائی فرمائی :

وَإِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ: اشاره ده چه کامل ایمان انسان ته پدے حاصلیږی چه بنده هر ځای کښ د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول طاعت ته ورمنډه وهی، او د هغوی منع کړی کارونو نه بچ کیږی. او که څوك په بعضو خبرو کښ تابعداری کوی او بعض پریدی، نو معلومیږی چه دهٔ کښ پوره ایمان نشته.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ: اُوس فرمائی : رشتینی ایمان څهٔ ته وائی؟ او حقیقی مومن څوك دے؟ الله تعالیٰ ددے تشریح کوی فرمائی چه په حقیقی معنو کښ ایمان والا خو هغه خلق دی چه هغویٔ په الله او د هغهٔ په رسول باندے د زړهٔ په صدق سره ایمان راوړی، داسے ایمان چه د هغے نه پس د هغویٔ د زړونو په هیڅ یو ګوټ کښ هیڅ قِسم شك او شبه پاتے نشی، او د خپلو مالونو او ځانونو په ذریعه د الله په لاره کښ جهاد وکړی، او نور نیك عملونه هم کوی. همدا خلق د خپل ایمان په دعویٰ کښ رشتینی دی، نهٔ هغه

بانده چیان چه د هغوئ په زړونو کښې ایمان داخل شوے نهٔ دے، او نهٔ د هغوئ عمل د هغوئ د رشتینی مومن کیدو تصدیق کړے۔

قُلْ أَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي
اُووایه ! آیا تاسو ورښایئ الله تعالیٰ ته دین خپل او الله پو هیږی په هغه څه چه په
السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١٦﴾
آسمانونو او په هغه څه چه په زمکه کښې دی او الله تعالیٰ په هر شی پو هه دے۔
يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوْا قُلْ لَّا تَمُنُّوْا
زباتنه کوی دوی په تا باندے چه دوی اسلام راوړیدے، تهٔ اُووایه ! زباتنه مهٔ کوئ
عَلَيَّ إِسْلَامَكُمْ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَاكُمْ
په ما باندے د اسلام ستاسو بلکه الله تعالیٰ زباتنه کوی په تاسو چه هدایت ئے کړے
لِلْإِيْمَانِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ ﴿١٧﴾ إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ
تاسو ته ایمان طرف ته که تاسو رشتینی یئ۔ یقیناً الله تعالیٰ پو هیږی په پټ څیزونو
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٨﴾
د آسمانونو او د زمکه باندے او الله لیدونکے دے د هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ۔

تفسیر : قُلْ أَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ: په دے آیتِ کریمه کښې هم دغه بانده چیانو ته، چه د هغوئ په زړونو کښې ایمان داخل شوے نهٔ وو او د ایمان دعویٰ به ئے کوله، الله تعالیٰ رټنه ورکوی چه تاسو الله تعالیٰ ته د خپل دین او ایمان خبر ورکوئ، دے دپاره چه تاسو مومنان اُومنلے شئ حالانکه هغه خو د آسمانونو او د زمکے د هر یو شئ خبر لری، دے وجے نه هغه بنهٔ پیژنی چه ستاسو ایمان د کومے درجے دے، او د الله علم هر یو شئ لره راگیرونکے دے، دے وجے نه ستاسو په زړونو کښې چه کومه خبره ده د هغے خِلاف هیڅ خبره مهٔ کوئ گنے د هغهٔ د عذاب نه به بچ نشئ۔

بیا پدے آیت کښې هر هغه څوك داخلیږی چه حق قبول کړی او بیا په مشرانو باندے

احسانات زباتوى چه مونږ ستا ملګرى شوى يو، او ستا دعوت مو منلے دے، نهٔ بلكه بنده له پكار ده چه داسے ووائى چه الله تعالىٰ ما سره احسان وكړو چه حق ئے راوخودو او حق طرفته ئے راوستم، او د خپل مشر قدر او شكريه به كوى چه دوى سخته تيره كړه او مونږ ته ئے دين وخودو،

اول به د رسول الله ﷺ شكريه وكړى چه هغه په ډيرو مشكلاتو سره دين مونږ ته راورسولو، بيا به د علماؤ شكريه وكړے بلكه د هر چا په وجه چه تا ته خير رسيدلے د هغه شكريه لازم ده، او په هغوى به زباتنه نهٔ كوى ځكه چه بيا خو ددے مطلب دا جوړيږى چه ايمان او دين او صحيح عقيده صرف د هغه ده او ستا په كښ هيڅ نشته.

نهٔ بلكه دا آيت دليل دے چه د داعى الى الحق په خلقو باندے لوى احسان دے.

أَتُعَلِّمُونَ اللَّهَ : كله كله سړے الله تعالىٰ ته د خپل اقرار په توګه داسے وئيلے شى لكه سجده كښ وائى : [اَللّٰهُمَّ لَكَ اَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ]

پدے كښ احسان زباتول نهٔ وى بلكه خپل ايمان مضبوطول او خپل ايمان د روستو دعا دپاره وسيله كول مقصد وى.

يَمُنُّونَ عَلَيْكَ: يعنى دا خلق يوه بله غلطى كوى، او هغه دا چه په تا احسان كوى چه دوئ اسلام قبول كړے، او د دوئ په وجه د مسلمانانو شماره زياته شوے ده، نو تهٔ دوئ ته اُووايه چه تاسو د خپل اسلام راوړو احسان په ما مهٔ كوئ، ځكه چه ځوك د هدايت په لاره روانيږى هغه خپل ځان سره ښيګړه كوى، بلكه كه چرے تاسو په خپل ايمان كښ رشتينى وئ نو الله به په تاسو احسان وكړى چه د ايمان توفيق به دركړى.

امام رازىؒ ليكى : پدے كښ د دوئ د فعل زياته بدى ذكر ده، ځكه چه د ايمان دوه شرافته دى، يو د الله په نسبت چه هغه د شرك نه پاك ګڼړل او د هغهٔ توحيد منلو سره د هغه تعظيم كول دى، او دويم په نسبت د مؤمن دے ځكه چه مؤمن په ايمان سره ځان د جهالت نه صفا كوى او په حق او صدق سره ئے ښائسته كوى نو دوى په خپل اسلام سره د الله جانب نهٔ طلب كوى او نهٔ د خپل نفسونو د شرافت جانب طلب كوى بلكه زباتنه كوى، خو كه دوى پوهه وے چه پدے كښ خو د دوى شرافت دے نو دوى به زباتنه نهٔ كولے بلكه شكر به ئے كولے. (مفاتيح الغيب)

أَنْ هَدَاكُمْ لِلْإِيمَانِ : **سوال** : په دوى كښ خو په حقيقت كښ ايمان موجود نهٔ وو نو

څنګه ئې وفرمايل: چه تاسو ته ئې د ايمان هدايت کړيدے؟

(١) جواب: دلته ئې د دوى دپاره د ايمان حصول نۀ دے ذکر کړے بلکه ايمان طرفته هدايت کول مراد دى په راليږلو د رسول الله ﷺ سره لکه چه په سورة آلعمران (١٦٤) کښې ذکر شويدى۔

(٢) جواب: د (للايمان) نه مراد دا دے چه تاسو د کوم ايمان دعوه کوئ (اګرکه په حقيقت کښې نشته) نو ددے ايمان خودنه خو الله تعالىٰ کړيده نو د هغه احسان منل پکار دى۔ (٣) يا ددے نه روستو الله تعالىٰ شرط بيان کړے (ان کنتم صادقين) يعنى الله تاسو ته د ايمان هدايت کړيدے که تاسو رښتيني شوئ او صحيح ايمان ته راننوتئ۔

إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ: يعنى الله تعالىٰ د آسمانونو او د زمکے د هر پټ څيز نه خبر دے۔ هغۀ ته ښه پته ده چه په تاسو کښې څوك رښتينے ايمان والا دے، او څوك دروغژن ايمان والا۔

بَصِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ: يعنى الله باندے ستاسو پټے خبرے نۀ پټيږى نو د هغه نه يره په پټ والى کښې مۀ پريدئ او د هغه نه په ښکاره والى کښې مۀ په امن کښې کيږئ۔

امتيازات د سورة الحجرات

١- ښکلے آداب شرعيه پکښې ذکر دى چه د فرائضو په درجه کښې دى۔

٢- د ايمان تقسيم پکښې دے۔

٣- د ايمان او د اسلام فرق پکښې ثابت شو۔

٤- دا خبره ثابته شوه چه انسان ته کرامت او عزت په تقوىٰ ملاويږى۔

٥- د انسانانو تقسيم شعوب او قبائل ته د تعارف دپاره دے، نۀ د فخرونو دپاره۔

٦- د غيبت، بهتان، تجسس او بد ګمانئ نه ښکاره منع وشوه چه معاشره پرے خرابيږى۔

٧- د ايمان تعريف پکښې ذکر شو په (انما المؤمنون) سره۔

ختم شو تفسير د سورة الحجرات په توفيق د اله العالمين سره۔ ١٤٣٧ هـ /جمادى الثانيه ٢٦/ موافق: ٢٠١٦/٤/٢)۔ السبت۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

آیاتها (٤٥)	(٥٠) **سورة قٓ مکیة** (٣٤)	رکوعاتها (٣)

سورتِ قٓ مکي دے او پدے کښې پنځه څلویښت آیتونه او درے رکوع دي۔

تفسیر سورة قٓ

نوم : د اولنی آیت په شروع کښې موجود حرفِ مقطع (قٓ) ددے نوم کیښودے شوے۔ دیته سورة (الباسقات) هم وئیلے کیږي۔

د نازلیدو زمانه : د ټولو په نیز ددے د نازلیدو زمانه مکي دَور دے۔

ابن عباس ﷺ او قتادهؒ نه د نقل شوی یو روایت مطابق صرف یو آیت ﴿وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا السَّمَاوَاتِ وَالۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِيۡ سِتَّةِ أَيَّامٍ وَّمَا مَسَّنَا مِنۡ لُّغُوۡبٍ﴾ مدنی دے۔

حافظ ابن کثیرؒ او امام شوکانیؒ په نیز صحیح دا ده چه د مفصّل سورتونو شروع ددے سورت نه کیږي۔ د مالکیو په نیز ددے شروع د سورة الحجرات نه کیږي۔

د سورتِ (قٓ) نه واخله تر سورتِ (الناس) پورے د قرآن کریم سورتونه په درے برخو کښې ویشل شوی دي۔ سورتِ (قٓ) نه (النازعات) پورے سورتونو ته (طوالِ مفصّل)، د سورتِ (عبس) نه واخله تر (اللیل) پورے (وسطِ مفصل) او د (الضحیٰ) نه (الناس) پورے (قصار مفصّل) وئیلے کیږي۔

د صبا په مانځه کښې د طوالِ مفصل نه، د ماسپخین او ماسخوتن په مونځونو کښې د وسطِ مفصل نه، او د ماښام په مانځه کښې د قصار مفصل نه لوستل مستحب دي۔

فضيلت :

امام احمدؒ، مسلمؒ او اصحاب سنن روايت كړى دى چه عمر بن خطاب ﷺ د ابو واقد ليثي ﷺ نه پوښتنه وكړه چه رسول الله ﷺ به د اخترونو په مانځه كښ څۀ لوستل؟ نو هغۀ ووئيل : قٓ او اِقْتَرَبَتْ۔ (مسلم : ٤٣٣)

امام مسلمؒ وغيره د قُطبه بن مالك ﷺ نه روايت كړيدے چه ((نبي عليه السلام به د سهار مانځه په اول ركعت كښ ق والقرآن المجيد لوستلو))۔ (مسلم فى الصلاة حديث ١٦٨، ١٦٩)

او مسلمؒ، ابوداؤدؒ او نسائيؒ وغيره د اُم هشام بنت حارثه بن النعمان نه روايت كړے چه [أَخَذْتُ قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ مِنْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَهُوَ يَقْرَأُ بِهَا عَلَى الْمِنْبَرِ فِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ] ما سورۀ قٓ د رسول الله ﷺ د خولے نه آوريدو سره ياد كړے وو، نبي ﷺ به هره جُمعه دا لوستلو او خطبه به ئے وركوله۔ (مسلم : ٢٠٤٩)

يو روايت كښ دى : نبي ﷺ به د هرے جُمعے په ورځ كله چه خلقو ته خطبه وركوله نو دا به ئے په منبر باندے لوستلو۔ (يعنى په كومه جمعه چه به ام هشام حاضره وه ورنه رسول الله ﷺ پدے داسے هميشوالے نۀ دے كړے لكه چه د نورو احاديثو نه معلوميږى)

مقصد دا چه رسول الله ﷺ به سورۀ قٓ په اخترونو او جُمعے غونډه مجمعو كښ لوستلو، ځكه په دے كښ د انسان د پيدائش، مرګ نه پس د دوباره ژوندى كيدو، قيامت، حساب كتاب، جنت او جهنم، ثواب او عقاب او ترغيب او ترهيب ذكر شوے چه ددے په آوريدو سره په انسان كښ د آخرت فكر پيدا كيږى۔

مناسبتونه

١ – مخكښ آداب ذكر شو نو اُوس د قيامت هيبت بيانوى چه دا آداب په قيامت كښ پكار راځى۔

٢ – مخكښ سورت كښ ئے وفرمايل چه كرامت په تقوىٰ سره راځى نو دلته د متقيانو شان بيانوى۔

موضوع د سورت

(١) – مشهوره موضوع : كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ۔ ده يعنى د قبر نه راوتل حق دى۔

دا په (۱۱) او (۴۲) آیت کښې ذکر ده۔ ددے دپاره په اول کښې دلیل راوړی چه قرآن ئے دلیل دے، د الله علم پرے دلیل دے، آسمان او زمکه او بارانونه او بوټی پیدا کیدل او د وریځے نه باران راوریدل ئے دلائل دی۔

(۲) د حافظ ابن القیمؒ د الفاظو نه معلومیږی چه (سُوْرَةُ قَ مُتَضَمِّنَةٌ لِعَقَائِدِ الْإِسْلَامِ) سورت ق مختصر سورت دے لیکن د اسلام ټول عقائد پکښې ذکر دی، لکه قرآن د الله کلام دے، اثبات د یوم القیامه، د رسالت عقیده، عقیده په ملائکو، عقیده په کرام کاتبین او د هغوی په عملنامو لیکلو۔ جنت او جهنم باندے عقیده۔ د مؤمنانو ایمان او د کافرانو کفر، او نفخ فی الصور۔

لیکن د سورت سیاق او ترتیب دا دے چه اکثر بحث ئے په اثبات د بعث بعد الموت او قیامت باندے کړیدے، او د هغے دپاره ئے متعلقات ذکر کړیدی چه قیامت کښې کوم شے فائده مند دے، ځکه چه د قرآن بیان نیمګړے نهٔ وی، صرف د قیامت ګرانی نهٔ بیانوی، ددے وجه نه دوه قیامتونه ئے ذکر کړیدی، قیامتِ صغریٰ (مرګ) او قیامت کبریٰ (د دنیا ورانیدل)۔

او ددے دپاره فائده من څیزونه ایمان دے، احتیاط په خپلو خبرو کښې۔ او دارنګه روستو به وائی اوابیت، انابت، تقویٰ، مونځونه او تسبیحات وغیره۔

ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ ﴿۱﴾
ق، او قسم دے په قرآن شرافت والا۔

تفسیر: ق: د حروف مقطعاتو نه دے چه په معنیٰ ئے الله تعالیٰ خبردار دے۔ تاویلی معانی پکښې دا دی: واحدیؒ د مفسرینو نه نقل کړیدی چه دا د زبرجدو یو غر دے چه د ټولو دنیا نه ئے احاطه کړیده۔ او بعض وائی چه د شنو زمردو نه دے، او ددے د وجه نه آسمان شین شویدے، او آسمان پدے باندے د خیمے په شان راتاو دے، او دا د هغه پردے شاته دے چه د هغے نه اخوا نمر غائبیږی۔ دا هسے ګمانی بے ثبوته خبره ده۔

او کوم علماء چه وائی چه دا کوهِ قاف (غر) ته اشاره ده نو ابن کثیرؒ وئیلی دی چه دا د زنادقو خبرے دی، او پدے کښې چه کوم روایت د ابوحاتم رازیؒ دے نو هغه اکثر منقطع دے۔

(۲) فـراءؒ او زجـاجؒ دِ بعض علماؤ نه نقل کړیدی چه د ق معنیٰ ده [قُضِيَ الْاَمْرُ وَقُضِيَ مَا هُوَ كَائِنٌ] فیـصـلـه وشـوه د کار او فیـصـلـه به وشی د هغه شی چه موجود دے۔ یعنی ختمیږی به۔ (۳) ابوبکر الوراقؒ وائی : ددے معنیٰ ده : قِفْ عِنْدَ اَمْرِنَا وَنَهْيِنَا وَلَا تَعُدْهُمَا ۔ زمونږ د امر او نهی سره ودریږه او ددے نه تجاوز مهٔ کوه۔

(٤) انطاکیؒ وائی : [هُوَ قُرْبُ اللّٰهِ مِنْ عِبَادِهٖ] دا د الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته قریب کیدو ته اشاره ده۔ لکه آیت کښی دی :﴿ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ﴾ (ق : ١٦) دا ټولے معنے په طریقه د ګمان سره وئیلے شی، او حقیقی معنیٰ ئے الله تعالیٰ ته معلومه ده۔

(بغوی، قرطبی، قاسمی وابن کثیر)

الْمَجِيْدِ: د مـجـد نه دے شرافت ته وئیلے شی۔ مجد عظمت ته هم وائی۔ یعنی د لوی شان والا کتاب دے۔ مجد ډیرو فائدو ته هم وائی۔

په دے آیتِ کریمه کښی الله تعالیٰ په خپل کتاب (قرآن) باندے قسَم خوړلے، کوم چه ډیر زیات اوچتے مرتبے والا کتاب دے۔ او ددے قسَم جـواب پټ دے پـه مـخـتـلـفـو تعبیرونو سره۔

څوك وائی جواب ئے (اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ) دے، یعنی تهٔ د پیغمبرانو نه ئے۔

(۲) یا جواب دا دے : [اِنَّ مُحَمَّدًا لَرَسُوْلٌ اَمِيْنٌ] منلے دے، یعنی په اوچت شان والا قرآن باندے قسَم دے چه محمد (ﷺ) د الله امانتدار رسول دے۔

(۳) بـعـضـو ددے تقدیر [اَنْـزَلْنَاهُ اِلَيْكَ لِتُنْذِرَ بِهِ النَّاسَ] مـنـلے دے، یعنی په اوچت مقام والا قـرآن بـانـدے قسَم دے ! مونږ دا قرآن په تا باندے څکه نازل کړے چه تهٔ ددے په لوستلو سره خلق د عذاب نه اویروے۔

(٤) بعض وائی : (بَلْ عَجِبُوْا) ئے جواب دے۔

(۵) غوره دا ده چه ددے جواب (لَتُبْعَثُنَّ) تـاسـو بـه خامخا راپورته کولے شئ۔ (یا كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ) بیا د قرآن او د قیامت خپل مینځ کښی مناسبت دے چه قرآن د قیامت په راتللو دلالـت کـوی۔ او د قـرآن پـه کتو سره آخرت رایادیږی، او د آخرت نه یریدو سره د قرآن نه فائده حاصلیږی۔ پدے وجه په آخر د سورت کښی دواړه جمع شویدی ﴿ فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ﴾ او جـواب قسـم ددے دپاره حـذف کیـږی چه بندګان خپله سوچ وکړی، او متوجه شی او ذهن مختلفو جوابونو ته لاړ شی۔

بَلْ عَجِبُوْا أَنْ جَاءَهُمْ مُنْذِرٌ مِنْهُمْ فَقَالَ
بلکه تعجب کوی دوی ددے نه چه راغے دوی ته یره ورکونکے د دوی نه نو ووئیل
الْكَافِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ﴿٢﴾ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ذٰلِكَ رَجْعٌ
کافرانو دا یو شے دے ناشنا۔ آیا کله چه مړه شو مونږ او شو خاورے دا واپس کول دی
بَعِيْدٌ ﴿٣﴾ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْأَرْضُ مِنْهُمْ
لرے (د عقل نه)۔ یقیناً معلوم دی مونږ ته هغه چه کموی ئے زمکه د دوی نه
وَعِنْدَنَا كِتَابٌ حَفِيْظٌ ﴿٤﴾ بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ
او زمونږ سره کتاب ساتونکے (د عملونو د دوی) دے۔ بلکه دوی دروغژن کړو حق لره
لَمَّا جَاءَهُمْ فَهُمْ فِيْ أَمْرٍ مَّرِيْجٍ ﴿٥﴾
هر کله چه راغے دوی ته نو دوی په خبره ګډه وډه کښې دی۔

تفسیر: اُوس رد ذکر کوی په انکار د رسول او انکار د بعث بعد الموت باندے۔ یعنی د مکے مشرکانو د محمد ﷺ په رسول کیدو کښې شك وکړو، بلکه دے نه هم وړاندے لاړل او د هغهٔ نبی کیدل ئے یو عجیب خیز وګنړلو او وے وئیل چه دا څنګه کیدے شی چه زمونږ ترمینځه یو شخص رسول جوړ کړے شی او مونږ ته د الله تعالیٰ د طرف نه یرولو دپاره را اولیږلے شی۔

بَلْ: دا اِضراب دے د جواب قسم نه یعنی د بعث بعد الموت نه دوی تعجب کوی۔

﴿فَقَالَ الْكَافِرُوْنَ﴾ (کافرانو اووئیل دا یو ناشنا شے دے) دا تفصیل د تعجب دے، یعنی ددے نه زیاته حیرانتیا والا خبره نشی کیدے چه محمد نبی جوړ کړے شی کوم چه زمونږ پشان انسان دے۔

او په لفظ د کافرون راوړو کښې اشاره ده چه د دوئ حال ډیر قبیح دے، دوی پدے انکار او تعجب سره کافران شو۔

هٰذَا: (۱) اشاره ده انذار ته او د انسان پیغمبر کولو ته۔ (۲) قتادةؒ وائی چه (هذا) سره

اشاره (د یو معبود د عبادت دعوت) طرفته ده، یعنی دا عجیبه خبره ده چه مونږ ته د تمامو معبودانو پریښودلو او د یو معبود د عبادت دعوت راکولے شی۔ ظاهر دا ده چه دا بعث بعد الموت ته اشاره ده لکه چه روستو ﴿ أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ﴾ کښې ذکر کیږی، یعنی مرګ نه پس دوباره ژوندی کول او دوباره پورته کول عجیبه شان خبره ده۔

أَئِذَا مِتْنَا: اُوس په انکار د آخرت او په انکار د دوباره ژوند باندے رتنه ورکوی څکه نبی ﷺ به د قیامت د ورځے د عذاب نه دوئ یرول، کوم چه د مرګ نه پس د دوباره ژوندی کیدو نه روستو راتلونکے دے۔ نو دوی دا حیرانتیا ښکاره کوی چه آیا کله چه مونږ د مرګ نه پس خاورے شو، ددے جواب پټ دے (اَنُبُعَثُ ؟) آیا نو مونږ به دوباره ژوندی کولے شو؟، څنګه چه محمد (ﷺ) مونږ ته د قرآن په لوستلو سره ددے یقین راکوی۔ زمونږ دوباره ژوندی کیدل وَهم او خیال دے، او د امکان او عقل نه ډیره لرے خبره ده۔ څکه چه ذرات راجمع کول ګران دی او په راجمع کولو کښې ئے فائده نشته۔

رَجْعٌ: دا متعدی دے۔ واپس کولو ته وئیلے شی، او رجوع لازم دے واپس کیدو ته وائی۔

قَدْ عَلِمْنَا: اُوس په اثبات د آخرت باندے دلائل راوړی، او اول دلیل د الله علم ذکر کوی۔ یعنی مرګ نه پس کله چه انسان ښخ کړے شی، نو زمکه ددهٔ بدن په مزه مزه خوری، الله تعالیٰ ته ددے ښهٔ علم دے، هغه د انسانانو په یوه یوه ذره پوهه دے، او د هغے په راجمع کولو قادر دے، نو داسے قادرِ مطلق او علام الغیوب لپاره دا خبره څنګه د امکان نه لرے ګنړلے کیږی چه هغه به دوباره مړی ژوندی کوی !۔

مِنْهُمْ: دا څکه وائی چه د پیغمبرانو او بعض صالحینو بدنونه نهٔ خاوری کیږی، او عام انسانان غالباً خاورے کیږی، او د هغے عجب الذنب (لکه لکمے) پاتے کیږی، په هر قبر کښې پروت وی۔ او په یو روایت کښې دی چه هغه د ذرے په اندازه پاتے وی۔ نو الله به ئے د دغه ذراتو نه رایو ځای کړی، او خپلے مخے ته به ئے ودروی۔

د (تَنْقُصُ الْاَرْضُ) بله معنیٰ دا ده چه بعض کسان مړهٔ شی او بعض ژوندی پاتے وی څه وخته پورے۔

كِتَابٌ: (۱) ددے کتاب نه مراد یا لوحِ محفوظ دے، یعنی په لوحِ محفوظ کښې د تمامو انسانانو شماره، د دوئ نومونه، او هر یو شے محفوظ دے، او کله چه قیامت

راشي نو لکه څنګه چه دا ټول په اول ځل پیدا شوي وو، دوباره به بغیر د زیادت او نقصان نه پیدا کیږي، په هیڅ یو شئ کښې به د ذرے هومره هیڅ فرق نۀ راځي. نو د حفیظ نه مراد محفوظ دے. یعني د شیطانانو او د تغییر او تبدیل نه ساتلے شوید ے.

(۲) یا د کتاب نه مراد هغه کتاب دے چه ملائکو پکښې د انسانانو عملونه لیکلی دي. نو د حفیظ معنیٰ ده :اَیْ حَافِظٌ لِاَعْمَالِهِمْ وَاَقْوَالِهِمْ وَاَحْوَالِهِمْ. یعني د دوی د اعمالو او اقوالو او احوالو ساتونکے دے.

بَلْ كَذَّبُوْا : اُوس وائي چه د مکے مشرکانو یواځے دا جرم نۀ وو کړے چه دوئ د مرګ نه پس دوباره ژوند نه انکار کولو، بلکه ددے نه هم لوئے جُرم د دوئ دا دے چه دوئ د قرآن کریم نه انکار وکړو، او د نبی کریم ﷺ نه ئے انکار وکړو چه په دۀ باندے قرآن نازل شوے دے، او په دے باره کښې دوئ انتهائي پریشانئ کښې آخته دي، په یو حال باندے دوئ ولاړ نۀ دي، رسول اکرم ﷺ ته کله جادوګر، کله شاعر، اوکله دروغژن او دروغ تړونکے او کله لیونے وائي، او قرآن ته د تیرو شوو قومونو خیالي قیصے وائي. دوئ ته خپله معلومه نۀ ده چه دوئ څۀ وئیل غواړي.

نو پدے آیت کښې رټنه ده په انکار د قرآن او رسول نه.

بِالْحَقِّ : نه مراد قرآن او رسول دے او د دواړو حاصل مطلب یو دے.

لَمَّا جَآءَهُمْ : کښې اشاره ده چه دوی ددے حق نه ښه خبر شویدي، او بیا ئے هم انکار او تکذیب کړیدے.

مَّرِيْجٍ : د مرج نه دے ګډوډوالي ته وائي. یعني دوی په یوه خبره نۀ ټینګیږي.

أَفَلَمْ يَنظُرُوا إِلَى السَّمَاءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَاهَا وَزَيَّنَّاهَا
آیا نو نۀ ګوري دوی آسمان ته پورته د دوی نه چه څنګه جوړ کړیدے ما او ښائسته
وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ﴿٦﴾ وَالْأَرْضَ مَدَدْنَاهَا وَأَلْقَيْنَا
کړے مو دے او نشته دے لره چاودونه. او زمکه خوره کړیده مونږ او اچولي دي مونږ
فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ ﴿٧﴾
پدے کښې پاخۀ غرونه او رازرغون کړیدي مونږ پدے کښې د هر قسم بوټي تازه نه.

تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ
دپاره د عقلمندئ (دپاره د خودنے د قدرت خپل) او نصيحت دپاره د هر بنده
مُّنِيْبٍ ﴿٨﴾ وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً مُّبٰرَكًا فَأَنْبَتْنَا
واپس كيدونكى (الله ته)۔ او نازل كړيدى مونږ د آسمانه اُوبۀ بركت والا، نو رازرغون
بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ﴿٩﴾ وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ
كړو پدے سره باغونه او دانه (د هغه فصل چه) لَو كولے شى۔ او كجورے اُوږدے اُوږدے
لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ﴿١٠﴾ رِزْقًا لِّلْعِبَادِ
هغے لره غونچكونه وى د يوبل دپاسه۔ دپاره د خوراك د بندګانو
وَأَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ﴿١١﴾
او راژوندے كوو پدے سره كلے اُوچ دغه رنګ راوتل دى (د قبرونو نه)۔

تفسير : اُوس عـقلي دليلونه ذكر كوى په اثبات د دوباره ژوند، فرمائى : آيا دا مشركان او د قيامت منكرين په خپلو ستركو سره د خپلو سرونو دپاسه اُوچت آسمان ته نۀ ګورى چه څنګه الله تعالىٰ پـه غيـر د ستونو د ذريعے نه دا قائم اوثابت اُودرولے دے، او دائے په نمر او سپوږمـئ او پـه بے شمـاره ستـورو سره ډولى كړے دے، او په دے كښې هيڅ سُورے او خرابتيا نشتـه، آيا هغه الله چه هغه د داسے آسمان په پيدائش باندے قادر دے، هغه د مړو پـه دوبـاره ژونـدى كـولـو بـانـدے قادر نۀ دے؟ هغه يقينًا په دے خبره قادر دے چه كوم شے هغۀ اول ځل پيدا كړے دے، او بيا ئے وژلے دے، هغه به دوباره ژوندے كوى۔

مِنْ فُرُوْجٍ: فروج جمع د فرج ده، چاودونه۔

وَالْأَرْضَ مَدَدْنٰهَا : يعنى مـونږ زمكه خوره كړے، او ددے دپاسه مو د غرونو ميخونه وهـلى، دے دپاره چه زمكه د خپل دننه جوش د وجے نه ونۀ خوزيږى۔ او په دے كښې مو قِسم قِسم ښائسته بوټى زرغون كړى، چه دا د خپل حُسن او جمال د وجے نه ګويا مُسكا كوى (خاندى)۔ د قدرت دا ننداره هر هغه بنده ته د فكر او نظر دعوت وركوى، كوم چه الله طـرفـتـه رجوع كوى، او د هغۀ د رضا په تالاش كښې اوسيږى۔ كوم الله چه په دے خبرو

قادر دے هغه یقینًا د انسانانو په دوباره پیدا کولو هم قادر دے۔

تَبۡصِرَةً وَّذِكۡرٰى: ۱- دا دواړه مفعول لَهٗ دی د مخکښ دپاره، یعنی مونږ دا کارونه وکړل دپاره د عقلمندی ورکولو او د خلقو د بصیرت پیدا کولو او د هغوی د پوهے حاصلولو او دپاره د یاداشت۔

۲- یا دواړه مفعول بهٖ دی اَیۡ جَعَلۡنَاهَا تَبۡصِرَةً۔ مونږ ګرځولی دا څیزونه تبصره (عقلمندی) او یاداشت۔ او تبصرة په معنیٰ د اسم فاعل سره دے اَیۡ مُبَصِّرَةً یعنی مونږ دا څیزونه ګرځولی دی چه بصیرت ورکوی خلقو ته۔

یا پوهه او عقلمندی ورکوی خلقو ته۔

(۳) یا حال دی اَیۡ مُبَصِّرِیۡنَ وَمُذَكِّرِیۡنَ ۔ مونږ ګرځولی دی دا څیزونه په داسے حال کښ چه مونږ عقلمندی ورکونکی یو او یاداشت ورکونکی یو۔

❁ یا حال دے د مفعول نه اَیۡ حَالَ كَوۡنِ تِلۡكَ ذَاتَ تَبۡصِرَةٍ وَتَذۡكِیۡرٍ۔ یعنی په داسے حال کښ چه دغه څیزونه تبصرے او تذکیر والا دی۔

بیا دا دواړه فائدے د آسمان او زمکے دواړو سره لګیږی، یعنی هر یو کښ تبصره او ذکریٰ شته۔ یا تبصره د آسمانونو سره لګیږی او ذکریٰ د زمکے سره۔

د تبصره او ذکری فرق

او د تبصره او ذکریٰ فرق دا دے چه په زمکه او آسمانونو کښ داسے دائمی نخے شته چه د لیدو سره تعلق لری، او دارنګه بعض داسے نخے دی چه نوے نوے راپیدا کیږی، او د هیریدو نه پس بیرته رایادیږی۔

دویم فرق دا دے چه تبصره هغه عبرت دے چه په نظر کولو سره حاصلیږی، او ذکریٰ هغه نصیحت دے چه د عقل او د زړه په ذریعه حاصلیږی۔

یا تبصرةً دلیلونو د توحید ته او ذکریٰ دلیلونو د بعث بعد الموت ته اشاره ده۔

عبد کښ اشاره ده چه دا فائدے په صفت د عبدیت سره حاصلیږی نهٔ په تکبر سره۔ او په منیب کښ اشاره ده چه دا فائدے په عناد او ضد سره نهٔ حاصلیږی بلکه هغه څوك چه د شهواتو نفسانیو نه حق طرفته راوګرځی نو فائده اخستے شی۔

وَنَزَّلۡنَا: دا بل دلیل دے یعنی الله تعالیٰ د آسمانونو نه ډیرو فائدو والا اُوبهٔ را اوروِلی دی،

چه ددې په ذریعه هغۀ میوه دارې وُنې راټوکولي، او غنم، جوار او نورې دانې ئې را زرغون کړې، او د کهجورو دنګې وُنې ئې راویستلي، چه د هغې د میوو غونچکونه لاندې باندې وي۔ الله تعالیٰ دا ټول څیزونه د خپلو بندګانو د روزئ لپاره پیدا کړي۔

مُّبَارَكًا: د باران سره نور برکات دا پیدا شي چه هوا مزیداره صفا شي، او مرضونه ختم شي، انسانان خړوبه شي، صحتونه مزیدار شي، قسماقسم بوټي راوخیژي، ګردونه او ګندګیانې ختمې شي۔

وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ: حصید (لَو کړې شوی) دا صفت د الزرع دې، یعني دانې د هغه فصل چه پریکولې شي۔ او ددې نه مراد غنم، جوار، اُوربشې وریژې وغیره دي چه بوټي د اُوچیدو نه پس لَو کړې شي او بیا په غوبل سره یا په نورو آلاتو سره د هغې نه دانې راویستلې شي۔

طَلْعٌ: د کجورې میوې چه اول په یوه بنده کسوړه کښ ښکاره شي او بیا پرانستې شي نو هغې ته طلع وئیلې کیږي۔

نَضِيْدٌ: اَیْ مُتَرَاكِم۔ یعني د یو بل دپاسه غونچك۔

كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ: دا د مخکنو ټولو څیزونو سره تشبیه ده۔ اَیْ كَمَا اَخْرَجْنَا الْحَبَّ مِنَ الزَّرْعِ وَالْمَاءَ مِنَ السَّحَابِ وَالنَّبَاتَ مِنَ الْاَرْضِ] لکه چه مونږ د فصل نه دانې او د وریځې نه اُوبه او د زمکې نه ګیاه راویستله نو دغه شان به ستاسو د قبرونو نه راوتل وي، او د محشر میدان ته منډې وهل به وي۔

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَّأَصْحَابُ الرَّسِّ
دروغژن ګنړلي وو (پیغمبران) مخکښ د دوی نه قوم د نوح او خاوندان د کوهي
وَثَمُوْدُ ﴿١٢﴾ وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ وَإِخْوَانُ لُوْطٍ ﴿١٣﴾ وَأَصْحَابُ الْأَيْكَةِ
او ثمودیانو۔ او عادیانو او فرعون او ورونو د لوط (عليه السلام)۔ او خاوندان د بنړ (باغ والا)
وَقَوْمُ تُبَّعٍ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيْدِ ﴿١٤﴾
او قوم د تبع، دې ټولو دروغژن ګنړلي وو رسولان نو ثابت شو زما عذاب (په دوی

أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ بَلْ هُمْ
باندے)۔ آیا ستړي شوي يو مونږ په اول پيدائش بلکه دوی
فِي لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾
په شك كښې دي د نوي پيدائش نه۔

تفسیر : كذبت : اُوس د آخرت مكذبينو هلاكت بيانيږي (١) او دا د اثبات د آخرت دپاره ښكلے دليل دے چه آخرت راتلل ځكه حق دي چه ددے مكذبين الله تعالىٰ تباه كړيدي۔ ﴿اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِمَنْ خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ﴾ ځكه چه د ناحقه او دروغجن شي په نهٔ منلو سره انسان نهٔ هلاكيږي۔

(٢) دارنگه په بله طريقه داسے هم وئيلے شي چه د مرگ نه پس ژوند حق دے، ځكه چه تمامو انبياء كرامو خپلو قومونو ته دا ښودلے چه مرگ نه پس ژوند او د قيامت ورځ حقه ده، په دے كښې هيڅ شك نشته، او كوم كس چه ددے نه منكر شي، الله تعالىٰ به ورته عذاب وركوي۔

(٣) دارنگه ددے تفصيل نه مقصد د قريشو مشركان ويرول او دهمكي وركول دي چه كه دوئ خپل حالت بدل نهٔ كړو، او د رسول الله ﷺ د دروغژن گڼړلو نه منع نشول، نو په دوئ به هم د دغه قومونو پشان د الله تعالىٰ عذاب نازل شي۔

(٤) دارنگه نبي كريم ﷺ ته تسلي وركول هم مقصد دے چه كه ستا قوم تا دروغژن گڼړي نو غم مهٔ كوه، ځكه د دوئ نه د مخكنو قومونو هم همدا طريقه را روانه ده چه دوئ خپل پيغمبران دروغژن وگڼړل، او په دوئ كښې ډيرو كمو خلقو د هغوئ دعوت قبول كړے۔

وَإِخْوَانُ لُوطٍ : دائے د لوط عليه السلام ورونه وگرځول ځكه چه دوی ئے سخرانه وه، نو دا اُخوّت د رشتے دے، نهٔ د قوميت۔ او په دے كښې د دوئ سختيے بدئ ته اشاره ده چه دے خلقو د خپل زوم لحاظ هم ونكړو او د هغه تكذيب ئے وكړو۔

او دلته ئے د اقوامو ترتيب د هغوی د زمانے د ترتيب مطابق ذكر نكړو ځكه چه په دے سورت كښې عقلي دليلونه ذكر كيږي، او په دے ترتيب والا قومونو كښې ددے دليلونو نه

جهالت زيات وو۔ اول قوم نوح وو، او دويم اصحاب الرس نه يو داسے قوم مراد دے چا چه خپل نبي كوهي ته غورزولے وو، د بعضو په نيز د شعيب عليه السلام قوم مراد دے، او د بعضو نورو په نيز عيسىٰ عليه السلام باندے د ايمان نهٔ راوړونكو يوه ډله مراد ده۔
يا اصحاب اُخدود يعني هغه خلق مراد دي چه هغوئ يو ډير لوئے اُور بل كړو او په دے كښې ئے د دغه كلي مومنان گذار كړل۔ يعني نجران والا۔
وَأَصْحَابُ الْأَيْكَةِ : ددے نه مراد د شعيب عليه السلام قوم دے لكه د مدين والو په شان، يا دواړه يو قوم دے۔
وَقَوْمُ تُبَّعٍ: د تبع حِمْيَرِي قوم چه د هغه نوم ابوكرب اسعد يا سعد دے۔ قتادهؒ وائي : الله تعالىٰ د تبع د قوم بدي بيان كړه او د هغه بدي ئے بيان نكړه۔
كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ : دے تمامو قومونو خپل خپل رسولان او د هغوئ راوړے دين ئے دروغژن وگنړلو، نو د الله تعالىٰ عذاب دوئ لپاره واجب شو۔
فَحَقَّ وَعِيدِ : اَىْ ثَبَتَ وَوَجَبَ عَذَابِيْ عَلَيْهِمْ ۔ يعني ثابت او واجب شو عذاب زما په دوي باندے۔
أَفَعَيِينَا: دا بل دليل دے د اثبات د آخرت دپاره۔ آخرت به هله نهٔ راتللے چه الله تعالىٰ اول پيدائش كړے وے او پدے ورته ډير تكليف رسيدلے وے او پرے ستړے شوے نو بيا ئے څه دپاره قيامت راوستو، نو الله تعالىٰ دا تپوس كوي چه آيا گنے مونږ په اولني پيدائش سره ستړي شوي يو چه دوباره انسانان نهٔ راژوندي كوو څكه چه مونږ ته به تكليف راورسيږي؟ داسے هيڅ خبره نشته۔
أَفَعَيِينَا: همزه د استفهام انكاري دپاره ده، او د فاء معطوف عليه پټه ده۔ تقدير د عبارت داسے دے : [اَكَذَّبُوْا فَعَيِيْنَا بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ] يعني آيا دوي پدے وجه تكذيب كوي چه مونږ به په اول پيدائش ستړي شوي يو، او دوباره به هغه نشو راوستے، هيڅكله داسے نهٔ ده۔ هر كله چه مونږ په اول ځل د مخلوق پيدا كولو نه عاجزه نهٔ وو، نو د دوئ د دوباره پيدا كولو نه به څنګه عاجزه پاتے شو۔
او د مكے مشركان چه هر كله اقرار كوي چه صرف الله تعالىٰ اول ځل تمام مخلوقات پيدا كړي، نو بيا دوئ ددے نه ولے انكار كوي چه هغه د دوئ په دوباره پيدا كولو هم قادر دے۔ د دوئ د كور مغزئ د وجے نه دوئ نهٔ پوهيږي چه د مرګ نه پس چه كله د انسان

اندامونه خوارهٔ شي او خاوره خاوره شي، نو الله تعالیٰ به دا اندامونه دوباره رایوځائے کوی، او د هغهٔ په قدرت سره به په دے کښې ژوند راځی۔ دویٔ دا خبره هیروی چه الله تعالیٰ قادرِ مطلق دپاره دا کار ډیر زیات آسان دے۔

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ
او یقیناً پیدا کړیدے مونږ انسان او پو هیږو په هغه څه چه وسوسه اچوی دهٔ ته
بِهٖ نَفْسُهٗ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ﴿۱۶﴾ إِذْ يَتَلَقَّى
په هغے سره نفس ددهٔ او مونږ ډیر نزدے یو دهٔ ته د رګ د مریٔ نه۔ کله چه اخلی
الْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿۱۷﴾ مَا يَلْفِظُ
دوه اغستونکی (ملائک) د ښی طرف او ګس طرف نه ناستے دی۔ نهٔ غورزوی دے
مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴿۱۸﴾ وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ
هیڅ وینا مګر ددهٔ سره انتظار کونکے تیار وی۔ او راغله نشه د مرګ په رشتیا سره
ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيْدُ ﴿۱۹﴾
دا هغه څه دی چه تهٔ به ددے نه تختیدلے۔

تفسیر: پدے رکوع کښې الله تعالیٰ اول قیامتِ صغریٰ او بیا قیامت کبریٰ ذکر کړیدے او اول د دویم د راتللو دپاره د علت په طریقه ذکر دے۔ یعنی مرګ راتلل خو منے نو دویم لوی قیامت هم ومنه۔ دویمه طریقه د استدلال دا ده چه په هر انسان باندے دوه ملائک مقرر دی ددهٔ هر عمل او هر قول نوټ کوی، نو چه د قیامت ورځ نهٔ راځی نو بیا الله تعالیٰ دا نظام ولے روان کړیدے، او ملائک ئے ولے مقرر کړیدی؟ معلومیږی چه د جزاء او سزا ورځ یقینی ده، پدے باندے به د بنده سره حساب کیږی۔

اول کښې ئے خپل ځینی قدرتونه ذکر کړیدی، الله تعالیٰ فرمائی: مونږ انسان د خاورے نه پیدا کړے، او مونږ په خپل علم کښې ددهٔ تمام کارونهٔ راګیر کړیدی تردے چه مونږ هغه خبرے هم پیژنو چه هغه ددهٔ په زړهٔ کښې تیریږی، او هغه خپل بنده ته د مریٔ د رګ نه هم زیات نزدے دے، هغه ددهٔ د تمامو احوالو نه په غیر د واسطے د ملائکو نه انتهائی

درجه خبر دے، دۀ سره د ملائکو مقررول، او د دوئ په ذریعه ددۀ اعمال په ریکارډ کښې راتلل صرف د حجت د پوره کولو دپاره دی چه ددۀ بهانه ختمه کړی۔

حسنؒ، قتادهؒ او مجاهدؒ وائی : هر انسان سره الله تعالیٰ دوه ملائك لګوی چه هغه ددۀ ښی او ګس طرفته وی، او ددۀ نیکئ او بدئ لیکی۔

د مجاهدؒ یو بل قول دادے چه الله تعالیٰ هر انسان سره دوه د شپے او دوه د ورځے ملائك لګولی دی چه هغوئ ددۀ عملونه لیکی۔

انسان چه څۀ وخت د خپلے ژبے نه خبره را اوباسی، په دۀ باندے مقرر ملائك فوراً هغه ددۀ په عملنامه کښې لیکی، ښی اړخ والا ملائك ددۀ نیك عملونه، او د ګس اړخ والا ملائك ددۀ بد عملونه لیکی، او دا ملائك انتهائی بیدار او هر وخت تیار اُوسیږی، د خپلے ذمه داریٔ نه هیڅ کله غافله کیږی نۀ۔

مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ: انسان ته وسوسه یو شیطان اَچوی اِنسی او جنی او بل ددۀ نفس۔

وسوسه په اصل کښې پټ آواز ته وئیلے شی، او دلته ترے مراد هغه د شر خبرے او غلط خیالونه دی چه ددۀ په زړه کښې راپیښیږی۔

او په حدیث کښې دی : [إِنَّ اللّٰهَ تَجَاوَزَ لِیْ عَنْ أُمَّتِیْ مَا وَسْوَسَتْ بِهٖ صُدُوْرُهَا مَالَمْ تَعْمَلْ اَوْ تَکَلَّمْ] چه الله تعالیٰ دے امت ته د زړه غیر اختیاری وسوسے معاف کړیدی ترڅو چه هغه ئے په ژبه نۀ وی وئیلے یا ئے پرے عمل نۀ وی کړے۔

(بخاری : ۲۵۲۸)

وَنَحْنُ أَقْرَبُ: ۱- ددے یو مطلب دے بَيَانُ اِطِّلَاعِ عِلْمِ اللّٰهِ عَلَيْهِ۔ پدے کښې بیان دے چه دا انسان د الله تعالیٰ په علم کښې راګیر دے، نو دا نزدے والے په اعتبار د علم سره دے۔ او الله تعالیٰ مونږ ته په اعتبار د علم سره څکه نزدے دے

[لِاَنَّ اَبْعَاضَنَا يَحْجِبُ بَعْضُهَا بَعْضًا] څکه چه بعض اندامونه زمونږ نه نور اندامونه پټوی لکه مونږ خپله شا او اُوګے او ترخونه نۀ وینو۔

۲- دویم مطلب دا دے چه الله تعالیٰ بندګانو ته نزدے دے او د هغے په کیفیت باندے مونږ نۀ پوهیږو، او د هغے تشبیه د مخلوق سره نشته، او نۀ ئے تاویل کوو او دا قرب د فوقیت د عرش سره منافات نۀ لری څکه چه الله تعالیٰ په هر څه قادر دے۔

۳- دے کښې حافظ ابن کثیرؒ وئیلی دی چه د (نحن) نه مراد ملائك دی، او الله تعالیٰ

خپل ځان ته نسبت کوی ځکه چه د بادشاه د خادمانو د عمل نسبت بادشاه ته کیږی، او ددے تائید په سورة الواقعه کښ راغلے دے ﴿وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ﴾ ۔ (۸۵) آية، یعنی (زمونږ ملائك مړی ته ستاسو نه زیات نزدے وی لیکن تاسو ئے نهٔ وینئ) لیکن که دلته الله تعالیٰ مراد شی او هلته ملائك نو هیڅ بعیده خبره نهٔ ده۔

مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ: دا اضافت د موصوف دے صفت ته، یعنی هغه رګ چه ورید دے، یا اضافت بیانیه دے، او وریدان دوه رګونه دی چه د څټ د دواړو طرفونو نه راتاو دی مخے طرفته او دا د سر نه راکوز شویدی او د وتین رګ سره یو ځای شویدی، او وتین د زړه رګ دے چه د هغے په قطع کیدو سره انسان مړ کیږی، نو ورید دلته جنس دے دواړو رګونو ته شامل دے، یا هر ورید ترے مراد دے پدے وجه ئے مفرد ذکر کړیدے۔

قُشیریؒ وائی : پدے آیت کښ د بعض خلقو دپاره هیبت او یره او کبرا هټ پروت دے، او د بعض خلقو دپاره راحت، اُنس او د زړه سکون دے۔ (ذکره الخطیبؒ)۔ (فتح البیان)

إِذْ يَتَلَقَّى: اُوس الله تعالیٰ دا خبره ذکر کوی چه هغه سره ددے نه چه په بنده بنهٔ پو هه دے خو دوه ملائك ئے پرے مقرر کړی چه ددهٔ عملونه لیکی او دهٔ دپاره ئے ساتی، دے دپاره چه په دهٔ باندے حجت پوره شی او د بنده عذر ختم شی۔

د ښی طرف والا ملائك امیر دے او ګس طرف والا مامور، په حدیث کښ دی: [إِنَّ صَاحِبَ الشِّمَالِ لَيَرْفَعُ الْقَلَمَ سِتَّ سَاعَاتٍ عَنِ الْعَبْدِ الْمُسْلِمِ الْمُخْطِئِ فَإِنْ نَدِمَ وَاسْتَغْفَرَ اللّٰهَ مِنْهَا أَلْقَاهَا وَإِلَّا كُتِبَتْ وَاحِدَةً] که یو بنده ګناه وکړی نو ښی طرف والا وائی چه دا شپږ ګینتهو پورے مهٔ لیکه کیدے شی چه خپیمانه شی نو که دے خپیمانه شی او د الله نه بخنه طلب کړی نو الله هغه وغورزوی او که توبه ونهٔ باسی نو شپږ ګینتے روستو هغه یوه ګناه ولیکی۔ (الطبرانی عن ابی امامة وصحیح الجامع الصغیر رقم (۲۰۹۷) والصحیحة : ۳/۲۱۰/۱۲۰۹) باسناد حسن) دا هم د الله تعالیٰ ډیره مهربانی ده۔

عَتِيْدٌ: تیارے او حاضرے وی۔ ملائکو ته الله تعالیٰ دا قدرت ورکړے دے چه د ټائپ او موبائل کیمرے د ریکاړ په شان هر قسمه اشارے او خبرے او هر حرکت او سکون نوټ کړی۔ او اُوس دا خبره بیخی په لیدو کښ راغلے ده۔

مِنْ قَوْلٍ: دلته ئے قول ذکر کړو نهٔ عمل، آیا عمل به نهٔ لیکی؟ جواب دا دے چه هرکله خبرے لیکی نو عمل خو به خامخا لیکی۔ او د عمل تذکره په سورة الانفطار آیت (۱۰)

کښې راغلې ده ﴿ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ كِرَامًا كَاتِبِينَ، يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴾ هلته فعل ذکر دے۔
ابن عباس رضی الله عنه فرمائي : دا ملائك هر خير او شر ليكي۔
ابن عباس رضی الله عنه فرمائي : هره خبره چه بنده ئې د خولې نه وباسي كه خير وي او كه شر هغه ليكي تردے چه دا هم ليكي ما وخوړل، ومے څکل، لاړم، راغلم، ومے ليدل تردے چه كله د خميس (زيارت) ورځ شي، نو دده قول او عمل په الله تعالىٰ باندے پيش شي نو الله ترے خير او شر پريدي او باقي گوزار كړي۔ لكه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يَمْحُو اللّٰهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ ﴾ (الرعد : ٣٩)۔ (ابن كثير والدر المنثور وابن جرير وابن ابى حاتم)
وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ: يعني هر كله چه عملونه وليكلے شي او آخر د دنيا نه د رخصتيدو وخت راځي، او د مرگ سختئ په دهٔ باندے راغورځيږي، او د مرگ نه پس د دوباره ژوند او د قيامت د ورځے د جزاء اوسزا نقشه دهٔ د سترگو مخامخ تاويږي، او د كومو حقائقو نه چه دهٔ انكار كولو، د هغے نه پرده پورته كيږي، او دے وخت كښې دهٔ ته وئيلے كيږي چه دا هغه مرگ دے چه ددے نه تهٔ تښتيدلے۔ نو مطلب دا دے چه اے بنده! په تا باندے داسے حالات راتلونكي دي، ددے نه انكار مهٔ كوه او ددے نه غفلت مهٔ كوه۔
جَاءَتْ ئې ماضي راوړه پدے كښې بنده ته دا تنبيه ده چه د مرگ داسے سختيانے يقيني راروانے دي لكه چه په تا باندے پخوا راغلي دي لكه رسول الله صلی الله علیه وسلم هم ددے آيت نه دا حديث اخستے دے [وَعُدَّ نَفْسَكَ فِيْ اَهْلِ الْقُبُوْرِ] ځان خپل په مړو كښې وشماره۔
(ترمذى باسناد صحيح رقم : ٢٣٣٣)
سَكْرَةُ الْمَوْتِ: ((نشه د مرگ))۔ انسان باندے د مرگ په وخت داسے سختي او تكليف راځي چه انسان د سكر (نشے) په حالت كښې وي، خبرے ئې د اختيار نه بهر شي۔
رسول الله صلی الله علیه وسلم چه كله وفات كيدو نو په حالت د نزع كښې ئې وفرمايل : [لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ] (بخارى : ٤٤٤٩) د مرگ دپاره نشے دي۔ او فرمايل ئې : اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى سَكَرَاتِ الْمَوْتِ] ۔ د مرگ دپاره ډيرے نشے دي او اے الله! ما سره د مرگ په سختيو كښې مدد وكړه۔ (ترمذى : ٩٧٨) وسنده ضعيف لجهالة موسى بن سرجس وقال الحافظ اصله فى الصحيحين وقال فى فتح البارى ٣٧٠/١١ اسناده حسن)
بِالْحَقِّ : يعني دهٔ ته د مرگ په وخت حق ښكاره شي او رسولانو چه كوم خبرونه وركړي وو چه بعث بعد الموت به كيږي، او كومے وعدے او وعيدونه ئې بيان كړي وو

هغه به ورته رشتینی ښکاره شي۔ یا د حق نه مراد یقین دے۔
تَحِیْدُ: دا د حَیْدَةٌ یا حَیْدُوْدَةٌ نه دے، کږیدو، مائل کیدو او تښتیدو ته وئیلے شي۔

وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ ذٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيْدِ ﴿٢٠﴾ وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ
او پو کے به اُوکړے شي په شپیلئ کښ دا ورځ د عذاب ده۔ او رابه شي هر نفس
مَّعَهَا سَائِقٌ وَّشَهِيْدٌ ﴿٢١﴾ لَقَدْ كُنْتَ
چه د هغهٔ سره به چلونکے (ملائك) او گواهي کونکے وي۔ یقیناً خامخا وے ته
فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿٢٢﴾
په غفلت کښ ددے نه نو لرے کړو مونږ ستا نه پرده ستا، نو نظر ستا نن تیز دے۔
وَقَالَ قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿٢٣﴾ أَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ
او وُبه وائي ملگرے ددهٔ دا هغه څه دے چه ما سره دے تیار۔ وغورزوئ په جهنم کښ
كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ
هر کفر کونکے عناد کونکے (ضدی)۔ منع کونکے د خیر، زیاتے کونکے،
مُّرِيْبٍ ﴿٢٥﴾ الَّذِيْ جَعَلَ مَعَ اللهِ إِلٰـهًا آخَرَ
شك کونکے۔ هغه دے چه گرځولے ئے دے د الله سره حقدار د بندگئ بل
فَأَلْقِيَاهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيْدِ ﴿٢٦﴾ قَالَ قَرِيْنُهٗ
نو وغورزوئ دهٔ لره په عذاب سخت کښ۔ وُبه وائي ملگرے ددهٔ (شیطان)
رَبَّنَا مَا أَطْغَيْتُهٗ وَلٰـكِنْ كَانَ فِيْ ضَلَالٍ بَعِيْدٍ ﴿٢٧﴾
اے ربه زمونږ ! ما نهٔ دے گمراه کړے دهٔ لره لیکن دا په گمراهئ کښ وو لرے د حق نه۔

تفسیر: اُوس د لوی قیامت احوال او هیبتونه بیانیږی۔ په کومه ورځ چه اسرافیل علیه السلام د مرگ نه پس د دوباره ژوند شپیلئ اووهی، او تمام مخلوق گهبراویدو سره میدان محشر طرفته منډے وهی، همدا به د کافرانو د عذاب ورځ وی۔ او اگرکه دا ورځ به

مومنانو سره د جنت د شوي وعدي پوره کیدو هم وي. لیکن کافرانو دپاره د تیار شوي جهنم د عذاب د خطرناکئ بیانولو دپاره صرف عذاب ذکر شوي دي.

وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ: په شپیلئ کښې د پوکې کیدو نه پس به هر یو انسان سره دوه ملائك اُولګي، یو به ئې میدانِ محشر طرفته شړي، او بل ملائك به ددهٔ د نیکو او بدو عملونو ګواهي ورکوي. د حسنؒ، قتادهٔؒ او مجاهدؒ همدا قول دي، او همدا د عثمان بن عفان ﷺ نه نقل دي، او قرطبي وائي چه همدا قول ډیر صحیح دي. او ضحاكؒ وائي چه شړونکي خو به ملائك وي، او ګواه به ددي انسان لاسونه او خپي وي. یا به عملونه ګواهي ورکوي، یا به هغه عملنامي چه لیکلي شوي وي.

سائق او شهید نه مراد جنس دي، نو دا ډیر ملائك دي.

لَقَدْ كُنتَ فِي غَفْلَةٍ: دي کښې دوه قوله دي چه دا خطاب چا ته دي؟.

(۱) ضحاكؒ وائي چه دا خطاب کافر ته دي چه هغه د آخرت د ورځي نه غافل دي.

(۲) حافظ ابن کثیرؒ او ابن جریرؒ وائي چه دا خطاب هر چا ته دي، او همدا قول د جمهورو دي ځکه چه عامو مسلمانانو د آخرت نه څه نا څه غفلت کړیدي.

نو په دي ورځ به پیریانو او انسانانو ته وئیلي کیږي چه تاسو تول د آخرت د ورځي او ددي د خطرناکیو نه غافل، او په دنیا او ددي په خوندونو کښې مشغول وئ، نو نن مونږه ستاسو د سترګو نه پرده لري کړي ده، اُوس هر یو شي تاسو خپل مخي ته ښکاره مومئ.

مجاهدؒ ددي تفسیر دا بیان کړي چه نن به ستاسو نظرونه ستاسو د عمل په تله باندي داسي لګیږي چه لري کیږي به نهٔ، ستاسو په بینائي کښې تیزي راغلي ده، ډیر غور سره ګورئ چه ستاسو د نیکیو چاپړي خو سپکیږي نهٔ.

غِطَاءَكَ: ددي پردي نه مراد اَلْإِشْتِغَالُ بِالْعَالَمِ الْمَحْسُوْس دي. یعني په ظاهر د دنیا باندي مشغوله کیدل، او ددي په خوندونو کښې ننوتل. دا مونږ ته د آخرت دپاره یوه پرده، نو دا پرده د ایمان په قوت باندي لري کول پکار دي، تیك ده، دي دنیا ته ګوره او ددي نه فائدي اخله لیکن په زړهٔ باندي اخوا آخرت ته هم فکر کوه او اعمال برابره وه.

وَقَالَ قَرِينُهُ: یعني کله چه د انسانانو ترمینځ د عدل فیصله وشي او د کافر حساب اوشي، نو الله تعالیٰ به شړونکي او ګواه دواړو ملائکو ته ووائي چه اُونیسئ دا کافر چه د الله تعالیٰ د وحدانیت او د هغهٔ د رسول د رسالت انکار کونکي سرکشه کافر وو، او دا په

جهنم کښې اُوغورزوئ.

(۱) قرین (ملګری) نه مراد خو یا هغه ملائك دے کوم چه هر یو انسان سره په دنیا کښې لګیدلے وی، او ددهٔ نیك او بد عملونه لیکی،

۱ – او هٰذا اشاره ده عمل د انسان ته نو د آیت تفسیر به دا شی چه دا ملائك به الله تعالیٰ ته اووائی چه دا دے هغه انسان او د هغهٔ عملونه چه ددهٔ پسے تا زهٔ لګولے وم. یعنی ددهٔ عملونه ما سره تیار دی.

۲ – یا هٰذا اشاره ده انسان ته او د عتید معنیٰ ده تیار ګناهونه. یعنی دا انسان چه زما خوا کښې دے تیار دے اُور دپاره، او تیار وو ګناهونو دپاره چه مونږ ددهٔ ګناهونه لیکلی دی.

(۲) اوکه د (قرین) نه مراد هغه شیطان شی کوم چه په دنیا کښې ددهٔ ملګرے جوړ کړے شوے وو دے دپاره چه دے ګمراه کوی، نو تفسیر به دا وی چه دا شیطان به رب العالمین ته ووائی چه دا هغه انسان دے چه ددهٔ د ګمراه کولو دپاره تا زهٔ ددهٔ پسے لګولے ووم، ما دے ګمراه کړو او جهنم دپاره مے تیار کړو.

اَلْقِیَا : دا خطاب دے د الله تعالیٰ د طرف نه سائق او شهید دوه ملائکو ته. یا دغه یو ملائك ته خطاب دے، او دا د عربو محاوره ده چه یو ملګری ته په تثنیه سره خطاب کوی. یا تثنیه د تکرار دپاره ده. لکه د لَبَّيْكَ په شان. یعنی اَلْقِ اَلْقِ. ګوزار کړه، ګوزار کړه. (مبرّد) یا اَلْقِیَا کښې الف بدل دے د نون تاکید خفیفه نه په اصل کښې اَلْقِیَنْ دے. نو دا مفرد دے.

مَنَّاعٍ لِلْخَیْرِ : خیر قرآن او سنت، او ایمان او انفاق فی سبیل الله او ټولو واجبو حقوقو ته وئیلے شی. او په دے کښې اشاره ده چه دا شخص ضال او مُضِل دواړه وو. خپله هم ګمراه او د بل د ګمراهئ کوشش ئے کولو.

یعنی دهٔ له الله تعالیٰ مال ورکړے وو، نو دے په هغے باندے لکه د مار غونته ناست وو، په دے کښې ئے د الله تعالیٰ او د هغهٔ د محتاجو بندګانو حق بیخی هیر کړے وو، په خلقو به ئے په لاسونو او خپو دواړو سره زیاتے کولو، هغوئ ته به ئے کنځل کول، د هغوئ په عزتونو به ئے حملے کولے، او د طاقت په نشه کښې به ئے په هغوئ باندے د ظلم او زیاتی غرونه بارول، او د ډیرو دلائلو باوجود به ئے د دینِ اسلام په حقانیت او د رسول اکرم (ﷺ)

په رشتين والى كښې شبهه كوله۔

مُعۡتَدٍ: يعني دے حقوق العباد هم ضائع كونكے وو۔

مُرِيۡبٍ : خپله هم شك كونكے وو او نوروته به ئے هم شكونه اچول، نو دا لازم او متعدى دواړه معنو سره راځى۔

الَّذِىۡ جَعَلَ: دا ئے منشأ ده د ټولو قبائحو، ځكه چه څوك د الله تعالىٰ سره نور مخلوق برخه دار جوړوى، نو هغه كښې هر قسم شر او فساد راجمع كيږى۔

فَأَلۡقِيَاهُ: په دويم كرته ئے ذكر كړو اشاره ده ترقئ د عذاب ددۀ ته۔

قَالَ قَرِيۡنُهٗ : دلته د قرين نه مراد شيطان دے۔ يعني دغه شيطان چه په دنيا كښې د دغه كافر ملگرے جوړ كړے شوے وو، په دغه ورځ به د هغۀ نه د خپلے بيزارئ اعلان كوى، او وائى به چه اے زمونږه ربه ! دا ما گمراه كړے نۀ وو، اصل كښې دا خپله د حقے لارے نه ډير لرے وو، كه چرے دۀ د الله تعالىٰ د توحيد لاره پريښے نۀ وے، او د الله سره د شرك په لاره باندے تلے نۀ وے، او د گناهونو په ذريعه ئے خپل روغ فطرت مسخ كړے نۀ وے، نو زما په قبضه كښې به نۀ راتللے او زما وسوسے به ئے نۀ قبولولے۔

ابن جرير طبرىؒ ليكى چه دلته د كافر د شيطان ملگرى خبره په دے وجه نقل كړے شوے ده، چه انسان ته معلومه شى چه د قيامت په ورځ كفار او د دوئ شيطانان ملگرى به د يو بل نه جدا كيږى۔

قَالَ لَا تَخۡتَصِمُوۡا لَدَىَّ وَقَدۡ قَدَّمۡتُ إِلَيۡكُم
وبه وائى الله، جگړه مۀ كوئ زما په خوا كښې حال دا چه ما مخكښې ليږلے وه تاسو ته
بِالۡوَعِيۡدِ ﴿٢٨﴾ مَا يُبَدَّلُ الۡقَوۡلُ لَدَىَّ وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِّلۡعَبِيۡدِ ﴿٢٩﴾
يره (د عذاب)۔ نشى بدليدلے خبره زما په نيز او نۀ يم زۀ هيڅ ظلم كونكے په بندگانو۔

تفسير : رب العالمين چه كفار او د دوئ شيطانان ملگرى خپلو كښې په جگړه باندے اووينى، نو وبه وائى چه اُوس تاسو زما خواته جگړے مۀ كوئ، ددے هيڅ فائده نشته، ما په دنيا كښې په خپل كتاب كښې، او د خپل رسول په ژبه دا خبره واضح كړے وه چه كوم انسان د الله تعالىٰ نه انكار وكړى، هغۀ سره نور څوك شريكان جوړ كړى، او د هغۀ د

رسول نافرمانی وکړی، د هغهٔ ځای به جهنم وی، دے وجے نه نن ورځ ستاسو د دواړو استوګنه جهنم دے، ځکه چه تاسو باندے حجت قائم کړے شویدے۔

وَقَدْ قَدَّمْتُ: (ما مخکښ بیان کړے وو تاسو ته یره) (ما مخکښ لیږلی وو تاسو ته عذابونه)

بِالْوَعِيدِ: یعنی دنیا کښ تاسو ته وعیدونه او عذابونه بیان کړے شویدی۔

مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ: (۱) یو مطلب: مَا يُكْذَبُ عِنْدِيَ۔ زما په خوا کښ او ما ته څوك دروغ نشی وئیلے، او نهٔ ئے دروغ په ما باندے چلیږی۔ چه دے وائی چه دا ما نهٔ دے ګمراه کړے، او الله تعالیٰ ئے ورسره ومنی او په مینځ کښ هغه دروغجن وی، ځکه چه الله تعالیٰ ته خو ټول حقائق معلوم دی۔

(۲) یا د قول نه مراد د الله تعالیٰ وینا ده۔ یعنی ما چه کومه خبره کړیده هغه نهٔ بدلیږی چه الله فرمائیلی دی: ﴿لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾

(زهٔ به خامخا جهنم د پیریانو او انسانانو نه ډکوم)۔ (هود: ۱۱۹)۔

نو اُوس به تاسو جهنم ته داخلیږئ، دے خبره کښ هیڅ بدلون نشته۔

وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ: (مَا أَنَا بِمُعَذِّبٍ مَنْ لَمْ يَجْتَرِمْ) (ابن عباسؓ) یعنی زهٔ چا ته په ظلم سره عذاب نهٔ ورکوم چه هیڅ جرم او ګناه ئے نهٔ وی کړی۔ یعنی تاسو دواړه جرمونه کړیدی یو د ګمراهئ او بل د ګمراه کولو۔

دارنګه زهٔ دا هم نهٔ کوم چه فرمانبردار او خبره منونکو له عذاب ورکړم، یا کافر او نافرمان جنت ته داخل کړم۔

مفسر قاشانیؒ د ﴿وَمَآ أَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ﴾ تفسیر دا کړے چه [مَا أَنَا بِظَلَّامٍ: حَيْثُ وَهَبْتُ الْإِسْتِعْدَادَ، وَأَنْبَأْتُ عَلَى الْكَمَالِ الْمُنَاسِبِ لَهُ وَهَدَيْتُكُمْ إِلَى طَرِيقِ اكْتِسَابِهِ، بَلْ أَنْتُمُ الظَّلَّامُونَ أَنْفُسَكُمْ بِاكْتِسَابِ مَا يُنَافِيهِ، وَإِضَاعَةِ الْإِسْتِعْدَادِ بِوَضْعِ النُّورِ فِي الظُّلْمَةِ وَاسْتِبْدَالِ مَا يَفْنٰى بِمَا يَبْقٰى] (محاسن التاویل للقاسمیؒ)

((ما بندګانو له د حق د قبلولو استعداد ورکړے، هغوئ مے د خیر او شر نه خبر کړی، او حقے لارے طرفته مے د دوئ رهنمائی کړے، دے وجے نه زهٔ نهٔ، بلکه هغوی خپله په خپل حق کښ ظالمان دی چه رنړا پریدی او تیارهٔ اختیاروی، او ابدی نعمت یعنی جنت شاته ګذاری او فانی یعنی دنیوی خوندونو او شهوتونو پسے منډے وهی))۔

ظلام کښې سوال او جواب په سورة انفال وغیره کښې تیر شویدے۔

يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ
په هغه ورځ چه مونږ به اُووایو جهنم ته آیا ډك شوے تهٔ او هغه به اُووائی آیا څه
مَّزِيْدٍ ﴿٣٠﴾ وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ غَيْرَ بَعِيْدٍ ﴿٣١﴾ هٰذَا مَا
زیات شته دے۔ او نزدے به کړے شی جنت متقیانو ته چه نهٔ به وی لرے۔ دا هغه شے
تُوْعَدُوْنَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيْظٍ ﴿٣٢﴾
دے چه وعده ئے کیدے شی تاسو سره، دپاره د هر توبه ویستونکی، حفاظت کونکی
مَنْ خَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ
دے۔ څوك چه یره کوی د رحمٰن نه په حال د نهٔ لیدو کښې او راغے په زړهٔ
مُّنِيْبٍ ﴿٣٣﴾ ادْخُلُوْهَا بِسَلَامٍ ۖ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُوْدِ ﴿٣٤﴾
ګرځیدونکی (حق ته)۔ داخل شئ دے ته په سلامتیا سره، دا ورځ د همیشوالی ده۔
لَهُمْ مَّا يَشَاؤُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴿٣٥﴾
دوی لره به هغه څه وی چه دوی ئے غواړی په هغے کښې او مونږ سره زیاتی شته۔

تفسیر :يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ : دا د عذاب شدید بیان دے او دا د هغه قول تشریح ده چه مخکښې په (مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ) کښې ذکر شوه۔ یعني جهنم به د انسانانو په غورزیدو هم نهٔ ډکیږی، او صحیح حدیث کښې دی چه [لَا تَزَالُ جَهَنَّمُ يُلْقٰى فِيْهَا وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَزِيْدٍ؟ حَتّٰى يَضَعَ رَبُّ الْعِزَّةِ فِيْهَا قَدَمَهُ، فَيَنْزَوِىْ بَعْضُهَا اِلٰى بَعْضٍ وَتَقُوْلُ : قَطْ قَطْ، وَعِزَّتِكَ وَكَرَمِكَ] (بخاری : ٦٦٦١) مسلم : (٧٣٥٦)

جهنم کښې به همیشه همداسے انسانان غورزولے شی (الله به ورته وفرمائی : آیا تهٔ ډك شوے) او جهنم به وائی چه آیا نور څوك زیات شته؟ تردے چه رب العزت به په هغے کښې خپل قدم کیږدی، نو بعض حصه د جهنم به بعضو ته راغونډ شی او ویه وائی چه بس بس، ستا په عزت او کرامت باندے قسم دے۔ نو په جهنم کښې به هیڅ یو ځای

خالي پاتے نشي. عطاءؒ، مجاهدؒ او مقاتل بن سليمانؒ همدا تفسير بيان كړے.
مَّزِيْدٍ: دا يا مصدر دے لكه د مجيد په شان په معنىٰ د زيادت سره، يعني آيا شته څه زياتي شے چه زۀ پرے ډك شم. يا اسم مفعول دے لكه د مَبِيْعٌ په شان او معنىٰ دا ده :
[هَلْ مِنْ شَيْءٍ تَزِيْدُ فِيْهِ؟] آيا څه شے شته چه تۀ په هغے كښې زيادت وكړے؟)
وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ : د قيامت په ورځ د كافرانو حال بيانولو نه پس اُوس د مومنانو حال بيانولے شي. الله تعالىٰ فرمائي : په دے ورځ به جنت پرهيزګارو ته بيخي رانزدے كړے شي، دومره نزدے چه د ميدانِ محشر نه به د هغے ننداره كوي، او هغه نعمتونه به اُووينى چه هغه په دنيا كښې هيڅ سترګے نۀ دي ليدلي، نۀ كوم غوږ آوريدلي، او نۀ د كوم انسان زړۀ د هغے تصور كړے.
غَيْرَ بَعِيْدٍ : ددے يوه معنىٰ دا ده چه جنت راتلونكے دے، او وړاندے نۀ دے بلكه نزدے راروان دے. او بله معنىٰ ئے دا ده چه په قيامت كښې به رانزدے كړے شي، يعني د قيامت په موقف كښې به دوئ جنت او د هغے نعمتونو ته ګوري. او غير بعيد يا مفعول مطلق دے په اعتبار د موصوف محذوف سره اَىْ اِزْلَافًا غَيْرَ بَعِيْدٍ . يعني داسے رانزدے كول چه وړاندے به نۀ وي.
يا حال دے د جنت نه، او جنت په تاويل د مكان سره دے، يعني په داسے حال كښې چه دغه جنت به نۀ وي وړاندے.
هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ: ددے نه روستو د جنت د اهل خلقو صفتونه بيانيږي.
اَوَّابٍ حَفِيْظٍ : انسان كښې دوه قوتونه دي، قوة الطلب او بل قُوَّةُ الْاِمْسَاكْ دے نو اوّاب كښې قوة الطلب ته اشاره ده ځكه چه اواب هغه چا ته وائي چه هغه الله تعالىٰ ته راواپس كيږي په توبے سره، طلب ئے مضبوط وي، او په حفيظ كښې قوة الامساك ته اشاره ده، يعني ځان د ګناهونو نه رابندوي.
اَوَّاب: ١ – اَلرَّجَّاعُ اِلَى اللّٰهِ وَطَاعَتِهٖ بِالتَّوْبَةِ عَنِ الْمَعَاصِىْ.
(چه الله ته او د هغه طاعت ته راواپس كيږي په توبه كولو سره د ګناهونو نه).
٢ – اَلْمُسَبِّحُ. چه ډير تسبيحات وائي.
٣ – اَلذَّاكِرُ لِلّٰهِ فِى الْخَلْوَةِ. په يواځے والي كښې الله تعالىٰ يادونكے.
٤ – اَلَّذِىْ يَذْكُرُ ذُنُوْبَهٗ فِى الْخَلْوَةِ فَيَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ مِنْهَا . (شعبيؒ ومجاهدؒ) دا هغه شخص دے

چه په یواځې والی کښې ګناهونه رایاد کړي بیا پرې د الله تعالیٰ نه بخښنه وغواړي۔
۵- عبید بن عمیرؒ وائی : هُوَ الَّذِیْ لَایَجْلِسُ مَجْلِسًا حَتّٰی یَسْتَغْفِرَ اللّٰهَ فِیْهِ۔ په هیڅ مجلس کښې نهٔ کیني مګر په هغې کښې د الله تعالیٰ نه بخښنه غواړي۔
حَفِیْظٍ: ۱- لِحُدُوْدِ اللّٰهِ۔ د الله د حدودو حفاظت کوي۔
۲- حَفِیْظٌ لِمَا ائْتَمَنَهُ اللّٰهُ عَلَیْهِ وَافْتَرَضَ عَلَیْهِ ۔ حفاظت کونکے دے د هغه څه چه الله تعالیٰ ورته کوم امانت ورکړیدے، او په هغهٔ باندے ئې فرض کړیدي۔
۳- حَفِیْظٌ لِاَوْقَاتِ عُمُرِهٖ۔ د خپل عمر د اَوقاتو ساتنه کونکے وي۔
٤- حَفِیْظٌ لِعَهْدِهٖ۔ د خپلو لوظونو حفاظت کونکے به وي۔
۵- حَفِیْظٌ لِذُنُوْبِهٖ حَتّٰی رَجَعَ عَنْهَا ۔ (ابن عباسؓ) د خپلو ګناهونو ساتنه کونکے وي تردے چه د هغې نه رجوع کوي۔ (فتح البیان، قرطبي، بغوي وغیره)
مَنْ خَشِیَ الرَّحْمٰنَ: دا بدل یا صفت دے د اَوَّابٍ حَفِیْظٍ نه۔ او پدے آیت کښې د متقیانو دوه صفتونه ذکر دي، مخکښې صفتونه عبادات لساني وو او دا صفتونه عبادات قلبیه دي۔ خشیة او انابت۔ خشیت هغه خوف ته وائي چه د تعظیم سره وي، نو ددے وجه نه ئې اَلرَّحْمٰنُ لفظ ذکر کړو چه د هغهٔ عظمت شان راشي۔
یعني دا جنتیان به هغه خلق وي چه د الله تعالیٰ نه په داسے حال کښې هم یریږي کله چه دوئ لره هیڅوك نهٔویني، دوئ په دے دنیا کښې دے یقین سره ژوند تیروي چه اګرکه هیڅ یو انسان دوئ لره نهٔ ویني، لیکن الله تعالیٰ خو دوئ په هر ځائے او په هر حال کښې ویني، او د دوئ دویم صفت دادے چه په هر وخت کښې د خپل رب په حضور کښې د خپلو ګناهونو نه توبه کوي، او کوم کارونه چه الله تعالیٰ نهٔ خوښوي هغې ته نزدے نهٔ ورځي۔
بِسَلَامٍ: ۱- په سلامتیا سره د مصیبتونو او عذابونو نه۔ او د زائله کیدو د نعمتونو نه۔ ۲- یا په سلام سره د طرف د الله تعالیٰ او د هغهٔ د ملائکو نه۔
مَزِیْدٌ: یعني مونږ سره زیاتي نعمتونه شته چه د هیچا په خیال کښې نهٔ دي راغلي۔
بعض وائي چه دا د الله تعالیٰ نوراني مخ ته کتل دي۔ (جابر وصهیب رضی الله عنهما)
انس بن مالكؓ فرمائي : دوي ته به الله تعالیٰ د هرے جُمعے په شپه په خپل کور د عزت کښې رابښکاره کیږي نو دا هغه مزید دے۔
دارنګه د روایاتو نه معلومیږي چه دا خاص قسم حورو ته اشاره ده چه هغه به جنتیانو

ته ملاویږي.

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْنٍ هُمْ أَشَدُّ مِنْهُمْ
او ډیر هلاك کړیدي مونږ مخکښ د دوی نه پیړئ، چه هغوی ډیر سخت وو د دوی
بَطْشًا فَنَقَّبُوا فِي الْبِلَادِ هَلْ
نه په نیولو کښ (په طاقت کښ) نو دوی ګرځیدلي وو په ښارونو کښ آیا شته دے
مِنْ مَحِيصٍ ﴿٣٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَنْ كَانَ لَهُ
ځائے د تختیدو۔ یقیناً پدے کښ خامخا نصیحت دے دپاره د هغه چا چه هغهٔ لره
قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾
زړهٔ وی یا کیږدی غوږ او دے حاضر (زړهٔ والا) وی۔

تفسیر : اُوس تخویف دنیاوی بیانوی یعنی الله تعالیٰ مکے والا د مخکنو قومونو په عذابونو سره ویروی، فرمائی: چه ددے مشرکانو نه مخکښ ډیر قومونه تیر شوی، چه هغوئ د دوئ نه په قوت کښ زیات وو، لکه عاد او ثمود قومونه او فرعون وغیره، او دوئ د مختلفو ملکونو هم ښهٔ چکرونه لګولی وو، لیکن کله چه د الله تعالیٰ عذاب راغے نو آیا دوئ په زمکه کښ داسے څهٔ ځائے اوموندلو چرته چه دوئ اوتښتی او د عذاب نه بچ شی؟ یا کله چه د دوئ د مرګ وخت راغے، نو آیا ددے نه اُوتښتیدل؟

همدا حال به د مکے د مشرکانو هم وی، چه که دا خلق دغسے مسلسل نبی کریم ﷺ دروغژن ګنړی، نو د الله تعالیٰ عذاب به دوئ په خپل ګرفت کښ واخلی، او ددے نه به د تیښتے لاره اختیار نهٔ کړے شی۔

بَطْشًا: په اصل کښ حملے ته وائی، دلته ترے قوت او طاقت مراد دے۔

فَنَقَّبُوا : تنقیب په اصل کښ سورنګ کول او په سورنګونو کښ داخلیدو ته وئیلے شی، دلته ترے مراد دا دے چه په دنیا کښ ګوټ په ګوټ باندے په ډیرو ښارونو کښ د تجارتونو او مالونو او سیلونو دپاره ګرځیدلی وو۔ یا هغوی په مختلفو لارو باندے تختیدلی وو دے دپاره چه د الله تعالیٰ عذابونو نه خلاص شی لیکن خلاص نشو۔

یا ضمیر موجوده مشرکانو ته راجع دے، یعنی دوئ د هغوی په ښارونو کښې گرځیدلی دی او هرځه ئے کتلی دی۔

مَّحِيصٍ: ځای د تختیدو او ځای د خلاصیدو۔

إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ: دا ترغیب دے قرآن او دے سورت ته۔ نو ذٰلِكَ کښې قرآن ته یا ددے سورت مضمون ته، یا هلاکت د اقوام مکذبه ؤ ته اشاره ده۔

لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ : د قرآن نه د فائدے اخستو دپاره درے خبرے ضروری دی، یو دا چه محل به قابل وی، دویم مُقْتَضِي او مُؤثر به موجود وی، دریم مانع به موجود نهٔ وی۔ لکه زمکه چه قابلیت پکښې نهٔ وی، نو دانه پکښې نهٔ راخیژی، او که مُقْتَضِي او مؤثر نهٔ وی لکه باران پرے نهٔ کیږی یا مانع (کانړی وغیره) موجود وی، نو دانه به نهٔ راخیژی۔ نو یو زړهٔ پکار دے۔ (لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ) او د هغے دپاره مؤثر (اَلْقَى السَّمْعَ) چه غوږ باندے به خبره آوری۔ دریم دا چه مانع به نهٔ وی چه بل طرفته به متوجه نهٔ وی (وَهُوَ شَهِيْدٌ) اَیْ حَاضِرُ الْقَلْبِ، یعنی زړهٔ به ئے حاضر وی۔

بیا ئے د غوږ کیخودو دپاره اَلْقَى السَّمْعَ (اِلْقَاء) غورزول لفظ ذکر کړو پدے کښې اشاره ده چه دا انسان د قرآن آوریدل داسے قیمتی او لوی او دروند گنړی چه گویا که غوږ ئے ورله خکته غورزولے دے۔

(اَوْ) کلمه ئے راوړه پدے کښې تقسیم د انسانانو ته اشاره ده، چا باندے قوت عقلانی غالب وی خپله سوچ کولے شی، او چا باندے قوت د سمع (غوږ کیخودو) غالب وی، نو که خپله دِے عقل قوی وی، نو خپله سوچ وکړه، او که هغه کمزورے وی نو بیا بل ته غوږ کیږده۔ اوله درجه د اجتهاد ده، او دویمه درجه د اتباع ده۔

ددے نه چه څوك د تقلید اثبات کوی نو هغه یقیناً چه د تقلید د معروفے معنے د حقیقت نه جاهل دے، یا به تلبیس او تحریف کوی، دلته کوم ځای دی چه د یو امام تقلید به کوی۔ بلکه دلته وائی چه د الله تعالیٰ کتاب ته به غوږ کیږدی، د بل چا نه به ئے واوری۔

قَلْبٌ: لفظ ئے راوړو اشاره ده چه عقل په زړهٔ کښې وی خو دماغو سره ئے کنکشن شته۔

او مطلب د آیت دا دے چه د مخکنو قومونو ددے واقعاتو نه هغه خلق نصیحت اخلی چه هغوئ د عقل نه کار واخلی او د کفر نه توبه اوباسی، او په خپلو غوږونو باندے د

هغویٔ خبرونه واوري، بیدار زړهٔ او دماغو سره سوچ وکړي چه که مونږ په کفر باندے تینګ پاتے شو نو زمونږ انجام به ددے کافرو قومونو غونته شي چه د هغویٔ واقعات دلته بیان شوی دي۔

وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا
او یقیناً پیدا کړیدی مونږ آسمانونه او زمکه او هغه چه په مینځ د دواړو کښې دي
فِيْ سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿٣٨﴾ فَاصْبِرْ
په اندازه د شپږو ورځو کښې او نهٔ دے رسیدلے مونږ ته هیڅ ستړي والے۔ نو صبره کوه
عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ
په هغه خبرو چه وائي دوی، او تسبیح وایه سره د حمدونو د رب ستا نه مخکښې
طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿٣٩﴾ وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ
د راختلو د نمر نه او مخکښې د پریوتو د نمر نه۔ او د شپے نه، پس تسبیح وایه د هغهٔ
وَأَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿٤٠﴾ وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ
او روستو د سجدے کولو نه۔ او غوږ کیږده هغه ورځے ته چه آواز به اُوکړي
الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يَسْمَعُوْنَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ
آواز کونکے د ځائے نزدے نه۔ په هغه ورځ چه آوري به دوی چغه په رشتیا سره،
ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوْجِ ﴿٤٢﴾
دا ورځ د راوتلو ده (د قبرونو نه)۔

تفسیر: بیا دلائل راوړي په اثبات د آخرت۔ حافظ ابن کثیرؒ لیکي چه ددے آیت نه مقصد مرګ نه پس د دوباره ژوند اثبات او ددے تاکید دے، ځکه چه الله تعالیٰ زمکه او آسمانونه پیدا کړي، او ددے په پیدائش سره هغهٔ ته هیڅ ستړي والے نهٔ دے رسیدلے، هغه یقیناً او په طریقه اولیٰ سره د مړو په دوباره ژوندي کولو باندے قادر دے۔

د سورتِ احقاف پـه (۳۳) آیت کـښې راغلي : ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ بِقَادِرٍ عَلٰى أَنْ يُّحْيِيَ الْمَوْتٰى بَلٰى إِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ (آیا دوئ نـهٔ ګوري چـه کوم الله چه آسمانونه او زمکه پیدا کړي، او ددے په پیدا کولو ستړے نشو، هغه یقینًا د مړو په دوباره ژوندی کولو قادر دے۔ هاؤ، هغه یقینًا په هر شي قادر دے)۔

قتـادهٔ وائـي : یهودو به وئیلې : الله تـعالیٰ آسـمـانـونـه او زمکه په شپږو ورځو کښې پیدا کړل، بیائے په اُوومه ورځ یعنی د هفتے په ورځ آرام وکړو، او د خپلے دے باطلے عقیدے په سبب دا خلق د هفتے ورځے ته د آرام ورځ وائي۔

الله تـعـالـیٰ د دوئ ددے دروغ تـرلـو تـردید وکړو او وے فرمایل : ﴿وَمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ﴾ (مونږ ته د آسمانونو او زمکے په پیدا کولو هیڅ ستړی والے ونهٔ رسیدهٔ)۔

فَـاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ : اُوس نبی کریم ﷺ لـه تسلـي ورکولے شي چه که مشرکان د مرګ نـه پـس د دوبـاره ژوند او د توحید او رسالت نه انکار کوی، نو تهٔ غمژن کیږه مهٔ، د صبر او بـرداشت نـه کـار اخله، او د خپـل رب حمد او ثناء وایه او د تسبیح په ذریعه قوت حاصلوه۔

وَسَبِّحْ: تسبیح نه مراد یا خو ظاهری تسبیح ده، یعنی د الله تعالیٰ پاکی بیانول، یا ددے نـه مراد مـونـځ دے۔ پـه دویم صورت کښې به د نمر ختـهٔ نه د مخکښې مونځ نه به مراد د سهار مونځ، د نمر پریواتهٔ نه مخکښې مونځ نه به مراد د ماسپخین او مازیګر مونځ وی، او د شپے د مـانـځـه نـه مراد به د ماسخوتن او د تـهجدو مونځ، او د ﴿أَدْبَارَ السُّجُوْدِ﴾ نه مراد به هغه نوافل وی کوم چه د فرض مونځونو نه پس اداء کولے شي۔

حـافـظ ابـن کـثیرؒ فرمائي چه د معراج نه مخکښې فرض مونځ دوه رکعتـه د نمر ختـهٔ نه مـخـکـښې د سهـار په وخت وو، او دوه رکعتـه د نمر پریواتـهٔ نه مخکښې د مازیګر په وخت وو، او قیام اللیـل (تهجد) په نبی کریم ﷺ او مسلمانانو باندے یو کاله پورے فرض وو، بیـا امـت دپاره ددے وجوب منسوخ کړے شو۔ او د معراج په شپه د پنځو مونځونو په ذریعـه دغـه مـخکنی مونځونه منسوخ شول، لیکن د سهار او مازیګر مونځونه باقی پاتے شول۔

د ابن عباس ﷺ نه ترمذیؒ او حاکمؒ (۱۱۹۸) او ابـن مردویهؒ روایت راوړیدے، او حاکمؒ ورته

صحیح وئیلے دے چه ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل : اے ابن عباس !
(رَكْعَتَانِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ اِدْبَارُ النُّجُوْمِ وَرَكْعَتَانِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ اَدْبَارُ السُّجُوْدِ)
د سهار نه مخکښ دوه رکعاته (سنت) ادبار النجوم دے، او دوه رکعاته د ماښام نه روستو ادبار السجود دے۔ او داسے روایت د عمر فاروق رضی الله عنه نه موقوفاً مصنف ابن ابی شیبه (٨٨٤٦) راوړیدے۔

وَأَدْبَارَ السُّجُوْدِ : سجود دلته مونځونو ته هم وائی، او دا قول د ابن عباسؓ دے هغه فرمائی : (اَمَرَهُ اَنْ يُّسَبِّحَ اَدْبَارَ الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا) الله تعالیٰ خپل نبی ته حکم وکړو چه د ټولو مونځونو نه روستو تسبیحات ووائی۔ لکه رسول الله ﷺ فرمایلی دی :

چه څوك د هر فرض مانځه نه روستو درے دیرش کرته سبحان الله، درے دیرش کرته الحمد لله او درے دیرش کرته الله اکبر وائی او بیا وروسے لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ووائی نو ددهٔ ګناهونه به معاف شی اګرکه د دریاب د ځګ په اندازه وی۔(مسلم : ١٣٨٠)

او لس لس کرته وئیلو سره د ورځے دوه نیم زره نیکئ ملاویږی، او دغه شان اُوده کیدو وخت کښ درے دیرش درے دیرش کرته وئیل څوك چه پدے دواړو کارونو پابندی وکړی الله تعالیٰ ورله خامخا جنت ورکوی۔ مسلم : (٧٠٩٠) (ابوداود : ٥٠٦٧) اسناده صحیح)

علی رضی الله عنه فرمائی : ما دا په جنګ صفین کښ هم نهٔ دی پریخودی۔

وَاسْتَمِعْ : اُوس وائی چه دا عملونه به کله فائده ورکوی؟ نو یوه درنه ورځ راروانه ده۔
د استماع نه مراد انتظار کول دی، یا ددے نه مراد غوږ کیخودل دی حالاتو د هغه ورځے ته۔ الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ ته خطاب کوی فرمائی :

تاته چه د وحی په ذریعه د قیامت د ورځے کوم حالات بیانولے شی، هغه غور سره واوره، په کومه ورځ چه اسرافیل علیه السلام دویمه شپیلئ پوك وهی، او قیامت قائم شی، او هر مړے ژوندے شی، او میدانِ محشر طرفته منډے وهی۔

بل مقصد دا دے چه اسرافیل علیه السلام به شپیلئ پوك وهی، او جبریل علیه السلام به محشر والو ته آواز کوی چه حساب دپاره لاړ شئ، او دا آواز به دومره نزدے وی چه د محشر د میدان هر یو کس به ئے آوری۔ اول قول غوره دے، اسرافیل علیه السلام به شپیلئ هم وهی او ددے سره به دا الفاظ هم یو ځای کوی چه [اَيَّتُهَا الْعِظَامُ الْبَالِيَةُ وَالْجُلُوْدُ الْمُتَمَزِّقَةُ هَلُمُّوْا اِلٰى

عَرْضِ الرَّحْمٰنِ] اے زړو هډوکو، او ذره ذره شوو غوښو د رحمٰن ذات پیشئ ته راشئ.
(شعب الایمان ١/٦٣٧) رقم (٣٤٧)

يَوْمَ يَسْمَعُوْنَ : دا بدل دے د مخکښې (يَوْمَ يُنَادِ) نه. او پدے کښې مقصد دفع د وَهم ده چه منادی خو به د نزدے ځای نه آواز کوی خو کیدے شی چه دا خلق د مرګ یا د غفلت د وجه نه نۀ آوری، نو جواب ئے وکړو چه دوئ به ئے خامخا یقینی آوری.

الصَّيْحَةَ: نه مراد نفخ فی الصور ده چه یوه چغه به ترے راوخیژی.

بِالْحَقِّ: د حق نه مراد یقین دے.

إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا الْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾
یقیناً مونږ ژوندی کول او مړۀ کول کوو او خاص مونږ ته راګرځیدل دی.
يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ذٰلِكَ حَشْرٌ
په هغه ورځ چه وُبه چوی زمکه د دوی نه، جلتی به کوی، دا راجمع کول دی
عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ وَمَا أَنْتَ
په مونږ باندے آسان. مونږ ښۀ پوهه یو په هغه خبرو چه دوی ئے وائی او نۀ ئے تۀ
عَلَيْهِم بِجَبَّارٍ فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَنْ يَخَافُ وَعِيدِ ﴿٤٥﴾
په دوی باندے زورکونکے نو بیان کړه قرآن هغه چا ته چه یریږی د عذاب زما نه.

تفسیر: د اثبات د آخرت دپاره بل قسم دلیل راوړی.

إِنَّا نَحْنُ: یعنی خاص مونږ ژوندی کول او مړۀ کول کوو، مونږ سره پدے کښې هیڅوك شریك نشته، نو د انسانانو ژوندی کول هم څه ګران کار نۀ دے لکه څرنګ چه وژل ئے ګران نۀ وو.

يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ: یعنی د اسرافیل ﷺ د شپیلئ پوکلو نه پس به زمکه اوشلیږی، او ټول مری به ژوندی شی، او هغه خوا به منډے وهی چرته نه چه آواز راځی.

الله تعالیٰ وفرمایل چه خلق د خپلو قبرونو نه را اُوځکل او میدانِ محشر کښې جمع کول زمونږ دپاره ډیر زیات آسان دی.

سِرَاعًا: اَیْ مُسْرِعِیْنَ۔ یعنی په داسے حال کښ چه په جلتئ به زغلیدونکی وی آواز کونکی طرفته۔

عَلَیْنَا: دا متعلق دے د (یَسِیْرٌ) پورے۔ یعنی خاص مونږ ته آسان دے۔

نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا یَقُوْلُوْنَ: اُوس نبی کریم ﷺ له تسلی ورکړے کیږی چه د مکے د مشرکانو د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول خِلاف دروغ تړل او مرګ نه پس د دوباره ژوندی کیدو نه انکار کول مونږ ته ښهٔ معلوم دی، او هم زهٔ به دوئ سره حساب کوم۔ ستا کار خو دوئ ته زمونږ پیغام رَسَول دی۔ دوئ په ایمان راوړو باندے مجبورول ستا کار نهٔ دے، تهٔ د قرآن کریم په تلاوت کولو سره هغه خلقو ته نصیحت کوه څوك چه زما د عذاب او سزا نه یریږی۔ یعنی ستا وعظ او ستا نصیحت خو د ټولو دپاره دے، لیکن ددے نه به فائده صرف هغه څوك پورته کوی څوك چه په آخرت او په جنت باندے ایمان لری۔

فَذَکِّرْ: دلته تقدیر دے اَیْ یَنْفَعُ مَنْ یَّخَافُ وَعِیْدِ۔ یعنی فائده به ورکوی هغه چا ته چه د الله د وعیدونو (عذابونو) نه یریږی۔ دا د فَذَکِّرْ اِنْ نَفَعَتِ الذِّکْرٰی په شان دے۔

او پدے کښ اشاره ده چه د قرآن نه فائده هغه څوك اخستے شی چه د الله تعالیٰ د عذابونو نه یریږی، او څوك چه نهٔ یریږی هغوی له فائده نهٔ ورکوی۔

دلته د تذکیر نه مراد د قرآن وعظ او نصیحت او درس او تدریس دے۔

وَعِیْدِ: کښ یاء د متکلم حذف شویده او د هغے کسره په دال باندے پاتے ده۔ اَیْ وَعِیْدِیْ۔ یعنی زما د عذابونو نه۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات د سورت ق

۱- پدے کښ عقائد د اسلام وو۔ خاصکر د بعث بعد الموت دپاره ئے ډیر دلیلونه راجمع کړل۔

۲- پنځو مونځونو طرفته اشاره ذکر وه۔

۳- قرین ملائك او قرین شیطان تذکره پکښ راغله۔

ختم شو تفسیر د سورة ق په تاریخ ۲۹ جمادی الثانیه ۱۴۳۷ هـ موافق: (۷/۴/۲۰۱۶) صباح یوم الخمیس۔

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آیاتها (٦٠)	(٥١) **سورة الذاريات مكية** (٦٧)	رکوعاتها (٣)

سورت ذاریات مکی دے او پدے کښې شپیتۀ آیتونه او درے رکوع دی۔

تفسیر سورة الذاریات

نوم: دا یو نوم ئے دے اَلذّٰرِيٰت، او دا د هواګانو صفت دے۔ د الله تعالیٰ د قدرت نخے پکښې ذکر دی۔

مناسبت

۱- هلته ئے وویل : كَذٰلِكَ الْخُرُوْج ۔ نو دلته وائی (اِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ) یعنی د قبرونو نه پاخیدل او بیا حساب ته وراندے کیدل حق دی۔

۲- مخکښې ئے د انسان پیدائش ذکر کړو نو دلته د انسان د پیدائش مقصد او حکمت ذکر دے۔

۳- هلته ئے هم د آخرت د ورځے دپاره عملونه ذکر کړل، خشیت، اوّابیت، حفاظت، انابت نو دے سورت کښې بعض عملونه ذکر کیږی چه د هغے نه تعبیر په عبادت سره کوی۔

٤- هلته ئے وویل : وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ نو دلته وائی (فَفِرُّوْا اِلَى اللهِ) الله ته تیښته وکړئ په نیکو اعمالو کولو سره۔

د سورت مقصد او موضوع

دا آخری سورتونه پدے خبره روان دی چه اے خلقو ! رابیدار شئ او جزاء د اعمالو حقه

ده، د هر عمل سزا او جزاء شته، او د الله تعالیٰ قانون د مجازات حق دے، رب العالمین داسے نۀ کوی چه بندګان دِے مهمل پریدی او هغوی دِے عملونه کوی او د هغوی جزاء او سزا دِے نۀ وی۔
نو ددے سورت مقصد او موضوع ظاهر دا ده چه اِثۡبَاتُ یَوۡمِ الۡقِیٰمَةِ وَوَقُوۡعُ الۡجَزَاءِ عَلَی الۡاَعۡمَالِ۔ یعنی د قیامت د ورځے اثبات او په عملونو باندے به جزاء واقع کیږی۔
لکه دا خبره په ﴿ اِنَّمَا تُوۡعَدُوۡنَ لَصَادِقٌ وَاِنَّ الدِّیۡنَ لَوَاقِعٌ ﴾ کښ ذکر ده۔ نو په اِنَّمَا تُوۡعَدُوۡنَ به دلائل راوړی او اِنَّ الدِّیۡنَ لَوَاقِعٌ د الله قانون دے۔
نو هرکله چه په عملونو جزاء او سزا شته نو ددے وجه نه دا سورت به اعمال ښائی چه دا کول پکار دی، یو د هغے نه ﴿ اِنَّ الۡمُتَّقِیۡنَ فِیۡ جَنّٰتٍ ﴾ دے، د متقیانو عملونه به ذکر کوی، او په آخر د سورت کښ ﴿ وَمَا خَلَقۡتُ الۡجِنَّ وَالۡاِنۡسَ اِلَّا لِیَعۡبُدُوۡنِ ﴾ کښ عبادت ذکر دے۔
او چه سزا پرے ملاویږی هغه انکار دے، خرص، افك، غفلت، عذاب په جلتئ سره غوختل او نور فسادونه دی لکه د قوم لوط واقعه ئے پدے سورت کښ مخکښ راوړیده۔ اسراف، تکبر، نور فسق او فجور ﴿ اِنَّهُمۡ کَانُوۡا قَوۡمًا فٰسِقِیۡنَ ﴾ شرك د الله سره، انکار د رسول نه، نو پدے سورت باندے جانب د سزا ډیر غالب دے چه الله تعالیٰ خپلو دشمنانو ته سزا ورکوی او که الله تعالیٰ په اعمالو جزاء او سزا ورنکړی نو هغۀ ته بد نسبت راځی او نظام د عالَم مُهمل (بیکاره) کیږی۔
نو ددے مقصد دپاره اول کښ څلور قسمونه ذکر کوی په طریقه د ګواهئ سره۔ پدے قسمونو کښ به یو اثبات د آخرت او اثبات د سزا او جزاء کوی، بیا به د دوه ډلو تذکره کوی چه د سزا او جزاء مستحق څوك دی، د هغوی صفتونه به بیانوی۔
بیا په یوه رکوع کښ د دنیا عذابونه بیانوی، پدے کښ به اشاره وی چه په اعمالو باندے جزاء او سزا حقه ده تردے چه الله تعالیٰ په دنیا کښ واقع کړیده۔
پنځه واقعات به ددے دپاره راوړی۔ او پیغمبران او د هغوی ملګرو ته الله تعالیٰ څومره ښے بدلے ورکړے ځکه چه دوی کښ نیك اعمال وو۔
په دے سورت کښ الله تعالیٰ د رزق تذکره هم درے ځل کړیده۔ ﴿ وَفِی السَّمَاءِ رِزۡقُکُمۡ ﴾ او په واقعه د ابراهیم علیه السلام کښ، او بیا په آخر کښ ﴿ مَا اُرِیۡدُ مِنۡهُمۡ مِّنۡ رِّزۡقٍ ﴾ پدے کښ

حکمت دا دے چه الله تعالیٰ دنیا کښې مخلوق ته رزق ورکوی د عمل دپاره چه سزا او جزاء به پدے مرتب کیږی، د رزق ذمه واری الله تعالیٰ اخستے ده او عملونه د انسان کار دے۔ که څوك د رزق شکر وکړی ښه جزاء ده، او که څوك د رزق ناشکری وکړی نو بده جزاء ده۔

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ﴿١﴾ فَالْحٰمِلٰتِ
قسم دے په هغه هواګانو چه راالوزی په الوتلو۔ پس قسم دے په هغه وریځو چه
وِقْرًا ﴿٢﴾ فَالْجٰرِيٰتِ يُسْرًا ﴿٣﴾
اُوچتونکی دی بوج لره۔ پس قسم دے په هغه ستورو چه روان دی په آسانئ۔
فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ﴿٤﴾ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ
پس قسم دے په هغه ملائکو چه تقسیمونکی دی کار لره۔ یقیناً هغه چه وعده ئے
لَصَادِقٌ ﴿٥﴾ وَاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ﴿٦﴾
کیدیشی تاسو سره خامخا رشتینی دے۔ او یقیناً حساب خامخا واقع کیدونکے دے۔

تفسیر : اول کښې د عظمت دپاره الله تعالیٰ په څلورو څیزونو قسم کړیدے په طریقه د ګواهئ چه دا څیزونه ګواه دی چه قیامت راتلل، او دارنګه جزاء او سزا حقه ده۔

بیا دا څلور صفات دی چه موصوفات ئے حذف شویدی ځکه چه دا صفات مقصود دی، او دے دپاره چه ذهن د سامع هر طرف ته لاړ شی، او ډیرو څیزونو سره ولګی۔ (التحریر والتنویر)

نو ددے وجه نه دے کښې یو قول د علی بن ابی طالب او ابن عباس رضی الله عنهم نه نقل دے، ابن جریرؒ، ابن ابی حاتمؒ، حاکمؒ او بیهقیؒ وغیره د علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه روایت کړے چه هغهٔ د کوفے په مسجد کښې خطبه ورکوله، نو ابن الکواء نومے کس د هغهٔ نه ددے سورت د څلورو اولنو آیتونو معنیٰ اوتپوسله۔ هغهٔ ووئیل چه د ﴿وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا﴾ نه مراد تیزے هواګانے دی چه خاوره اوچتوی، او د ﴿فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا﴾ نه مراد وریځے دی، چه د باران اوبهٔ ئے بار کړے وی او ګرځی، او د ﴿فَالْجٰرِيٰتِ يُسْرًا﴾ نه مراد کشتئ دی چه هغه په سمندرونو کښې د هواء په ذریعه نرم رفتار سره روانے وی، او د ﴿فَالْمُقَسِّمٰتِ

أَمْرًا ﴾نه مراد ملائك دي چه د الله تعالیٰ د حکم مطابق د هغهٔ د مخلوقاتو ترمینځه باران، روزي اونور د زندګئ اسباب تقسیموي۔ (الحاکم ۳۷۳۶ وصحح اسناده هو والذهبیؒ وقال الحافظؒ فی فتح الباری ٤٦٤/٨ هو مشهور عن علي ﷺ)
پدے کښې شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ وئیلي دي چه دا د مختلفو څیزونو صفات دي، خو جاریات صفت د ستورو دے ځکه دلته ترقي ده د دنیا نه بره آسمان ته، هواء په زمکه ده، بره وریځے دي، او بیا د هغے نه بره ستوري دي نو د هغے نه بره ملائك دي۔
وَالذّٰرِيَاتِ: د ذَرْوٌ نه دے، آلوزولو ته وئیلے شي، ذرواً: ئے مفعول مطلق دے۔
فَالْحَامِلَاتِ: فاء د ترتیب دپاره ده په قسم کښې نهٔ په مقسم بهٖ کښې۔
وِقْرًا: مفعول بهٖ دے، یعنی بوج د باران۔
يُسْرًا: دا مفعول مطلق دے، موصوف ئے پټ دے۔ اَیْ جَرْيًا يُسْرًا۔ یعنی په روانیدو آسانو سره۔
أَمْرًا: امر دلته جنس دے یعنی هر کار۔ یا مفرد ئے پدے وجه راوړو چه هر جماعت جدا جدا کار کوي، څوك یو کار کوي او څوك بل۔ او دغه شان وجه په وِقْراً کښې هم ده۔
(۲) دویم قول دا دے چه [الذّٰرِيَاتِ، الْحَامِلَاتِ، الْجَارِيَاتِ، الْمُقَسِّمَاتِ]
ددے موصوفات ټولے هواګانے دي۔ یعنی دا څلور واړه صفتونه د هواګانو دي۔
یعنی هواء ګرد او غبار راپورته کوي او آلوزوي ئے، یا هواګانے د وریځے ټکړے راجدا کوي، او بیا ئے خوروي نو دے ته ئے ذرو وئیلے ده ځکه چه د ذرو معنیٰ ده د راغونډ شوي څیزونو په هوا کښې ویشتل دے دپاره چه په زمکه باندے راپریوزي۔ لکه په پټي کښې دانے ویشتل د کروندے دپاره۔ او بعض هواګانے وریځے رایو ځای کوي تردے چه هغه د اُوبو د بوج نه ډکے شي بیا ئے یو ځای نه بل ځای ته نقل کوي۔ او ځینے په نرمئ سره روانے وي او ځینے سختے وي، او بعض هواګانے بارانونه تقسیموي۔
امام شوکانيؒ لیکي چه دا رائے ډیره زیاته کمزورے ده۔
بناء پدے تفسیر به مناسبت دا وي چه هواء کښې اول نفخ وي، بیا په کښې التئام وي، یعنی هواء وریځے رایو ځای کړي، بیا په هغے کښې حیات پیدا کړي نو هغه روانے شي بیا هغه رزقونه او بارانونه تقسیموي۔ نو دا به د آخرت دپاره مثال وي چه اول نفخ في الصور وي، بیا به اِلْتِئَامُ الْاَعْضَاء (اندامونه یو ځای کیدل) به وشي بیا به پکښې حیات پیدا

شي، او آخرت ته به راروان شي او د حيات نه بعد به د هغوی سزا او جزاء کيږي۔ نو د هواء د حالاتو مشابهت دے د قيامت د حالاتو سره۔

إِنَّمَا تُوعَدُونَ: دا جواب د قسم دے۔ مناسبت د قسم او جواب قسم دا دے چه دنيا کښې تغير الاحوال کيږي، هواګانے رالوزي او وريځے رالوزي، کشتئ روانے دي، ملائك قسماقسم کارونه کوي، حالات بدلوي رابدلوي، تکليف او راحت راځي، نو دا تغير الاحوال دلالت کوي په اثبات د ورځے د آخرت۔ يعنې لکه څنګه چه دنيا کښې الله تعالیٰ تغيرات راولي نو دغه شان د قيامت په وخت به الله تعالیٰ په دنيا باندے ډير لوی تغير او بدلون راولي، او دا نظام به په بل نظام باندے بدل کړي۔

لکه قرآن کښې دا قسم استدلال زيات دے ﴿وَمَنْ نُعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ﴾ لکه انسان نۀ وو بيا پيدا شو بيا بوډا شو نو بيا پرے مرګ راغے نو دغه شان به بيرته راپورته کولے شي۔

دارنګه دا په جزاء او سزا باندے دليل دے چه دا ناشنا نظام چه الله تعالیٰ روان کړيدے دا ددے دپاره چه بندګانو سره به حساب کيږي او هغوی ته به جزاء او سزا به ورکوي، دا نظام خو مهمل (بيکاره) نۀ دے۔

وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ: دين سزا او جزاء ته وائي۔ دَانَ يَدِينُ معنیٰ ده چا ته په عمل باندے بدله ورکول۔ په دنيا کښې هم د هر نيك او بد عمل جزاء او سزا شته، ليکن دنيا کښې ډيره نۀ ښکاره کيږي، او په آخرت کښې به راښکاره شي۔

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ﴿٧﴾ إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ
او قسم دے په هغه آسمان باندے چه خاوند دښائست دے۔ يقيناً خامخا تاسو په خبرو
مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾ يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴿٩﴾ قُتِلَ
ګډوډو کښې يئ۔ اړولے کيږي ددے (خبرونه) هغه څوك چه اړولے شويدے۔ هلاك شول
الْخَرَّاصُونَ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي غَمْرَةٍ
اټکل باندے خبرے کونکي۔ (دروغژن خلق) هغه کسان دي چه دوی په جهالت کښې

سَاهُوْنَ ﴿١١﴾ يَسْأَلُوْنَ أَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٢﴾ يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ
غافل دي۔ تپوسونه کوي چه کله به وي ورځ د جزا۔ په هغه ورځ چه دوي به په اُور
يُفْتَنُوْنَ ﴿١٣﴾ ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ هٰذَا الَّذِيْ
باندے عذابولے شي۔ (سيزلے شي) اُوڅکئ عذاب ستاسو دا هغه شے دے
كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿١٤﴾
چه تاسو به دا په جلتئ سره غوختلو۔

تفسیر: مخکښې قسم وو دپاره د اثبات د جزاء، او دا عام قسم دے دپاره د باطلوالی د اقوالو د دوی په باره د آخرت او نورو ایمانیاتو کښې۔ (التحریر)

او دا یوه وجه ده د جدا کولو ددے قسم د مخکښې نه۔

❁ دویم دا جواب د وَهُم دے چه څوك به ووائی چه جزاء او سزا واقع کیدل به یقینی نهٔ وی، هسے خبره به وی۔ نو الله تعالیٰ وفرمایل چه قسم دے په آسمان چه قیامت به راځی او ستاسو خبرے د هغے په باره کښې ګډے وډے دی۔

❁ دریم پدے قسم کښې تاکید د ماقبل دے مخکښې قسم وو په عالَم وسطی او سفلی باندے (سویٰ د مقسَمات نه په یو تفسیر) او دا قسم دے په عالَم علوی (آسمان) باندے۔

ذَاتِ الْحُبُكِ: جمع د حَبِيْكَةٌ ده، لارے، مضبوطوالے، جمال ته وائی۔

ددے په تفسیر کښې ډیر اقوال دی: (۱) حافظ ابن کثیرؒ د [ذَاتِ الْحُبُكِ] تفسیر د ابن عباس رضی الله عنه نه [ذَاتِ الْجَمَالِ وَالْبَهَاءِ وَالْحُسْنِ وَالْإِسْتِوَاءِ] نقل کړے دے، او وئیلی ئے دی چه همدا قول د مجاهدؒ، عکرمهؒ، سعید بن جبیرؒ او قتادهؒ اونورو هم دے،

یعنی قسم دے په هغه آسمان چه ښائست او تازګئ او حسن والا او برابرئ والا دے۔ او په ستورو ښائسته شوید ے۔

(۲) او ضحاكؒ وائی: [ذَاتِ الطَّرَائِقِ] یعنی په هغه آسمان قسَم دے چه په هغے کښې لهرونه، لارے او کرښے جوړے شوی دی، لکه څنګه چه د ملغلرو او سروزرو سره ښائسته کړے شوے کپړه کښې کرښے جوړیږی۔ په آسمان کښې هم مختلفے لارے دی، د ستورو لارے، دروازے پکښې شته۔

(۳) د حسن بصریؒ یو قول دے چه د [ذَاتِ الْحُبُكِ] نه مراد ستوری دی، یعنی ستورو سره ښائسته شوی آسمان باندے قسَم دے۔

(٤) ذَاتِ الْبُنْيَانِ الْمُتْقِنِ۔ هغه آسمان چه مضبوطے آبادئ والا دے۔

(٥) حبك كله په معنیٰ د شدت (سختئ) سره راځی۔ (یعنی سختئ او کلك والی والا دے)

ددے ټولو اقوالو خلاصه صرف یو شے دے چه الله تعالیٰ په هغه آسمان باندے قسَم خوړلے چه هغه ډیر زیات قوی او ښائسته او ډولی او په ستورو سره ښائسته شوے دے۔

إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ: (۱) بعض مفسرین وائی : د قول مختلف نه مراد د رسول الله ﷺ او د قرآن په باره کښ دے،

نو پدے قسم کښ د مکے والو قباحت او بدی بیانیږی چه اے د مکے کافرانو ! تاسو د قرآن کریم او د نبی کریم ﷺ په دشمنئ کښ په دومره اخلاقی ښکته والی کښ مبتلا شوی یئ چه څۀ غواړئ زمونږ په نبی ﷺ باندے تهمتونه تړئ۔ کله ورته شاعر، کله جادوګر، او کله لیونے او پاګل وایئ، او د قرآن په باره کښ کله کهانت، کله سحر، کله اَضْغَاثُ اَحْلَام (ګډوډ خوبونه)، کله اساطیر الاولین (د پخوانو قصے)، کله افتراء او کله دروغ وایئ۔

(۲) غوره دا ده چه دا اختلاف د آخرت په باره کښ دے، څوك وائی چه آخرت بیخی نۀ راځی، یهودیان وائی چه قیامت به راځی خو صرف اَرواح به پکښ راژوندی کیږی، نۀ اجسام۔ کله وائی آخرت صرف زمونږ دپاره دے، نۀ د بل چا دپاره۔ او د مؤمنانو عقیده دا ده چه قیامت ورځ د هر چا دپاره ده، او نیکانو ته به نیکه، او بدانو ته به بده بدله ملاویږی۔ مګر ټولو سره لګیدل ئے صحیح دی۔

(۱) بیا د قسم او د جواب قسم مناسبت دا دے

چه لکه څرنګ چه د آسمان ډیرے لارے دی او په مختلفو پرقیدونکو ستورو او شغلو او کرخو باندے مشتمل دے، نو دغه شان ستاسو خبرے هم زمونږ د نبی او د قرآن او د قیامت په باره کښ متناقضے او بے بنیاده دی۔

(۲) مناسبت : د آسمان مضبوطوالے او خائست ګواه دے چه ددے جوړونکے الله تعالیٰ

دے، او هغه عالِم او قادر په هر شی باندے دے نو د هغه په خلاف کښې ستاسو خبرے باطلے او ګډے وډے دی۔

(۳) یا لکه څنګه چه د آسمان ستوری مختلف دی، او د آسمان او د ستورو په باره کښې د خلقو اختلاف دے بغیر د دلیل نه، څوك وائی آسمان د اُوسپنے نه جوړ دے، او څوك وائی د تانبے نه، څوك وائی ستوری د فلانکی څیز نه جوړ دی، یا د فلانی څیز نه۔ څوك وائی فلانے ستورے سپیره دے، او فلانے نیك بخت دے، فلانے ستورے وژل کوی او فلانے ستورے باران وره وی۔دا ټولے بے دلیله خبرے دی۔ نو دارنګه ستاسو په بے دلیله اقوالو کښې هم اختلاف دے۔ (احسن الکلام)

(٤) یا آسمان چه خاوند د ستورو او د ښائست او جمال والا دے، دا دلالت کوی چه د هغه الله تعالیٰ خبره ومنلے شی او د آسمان د ښائست نه عبرت واخستے شی چه دا د یو مقصد دپاره پیدا دی مګر تاسو راولګیدئ ددے مقصد نه غافل او منکر شوئ، پدے باندے مو الله ونهٔ پیژندو۔

يُؤْفَكُ عَنْهُ: پدے جمله کښې مفسرینو ډیر اقوال ذکر کړیدی چه خبره ئے ګرانه کړیده، چا د مؤمن صفت جوړ کړیدے، او چا د کافر او د عَنْهُ ضمیر چا قرآن ته راجع کړیدے، او چا نبی ﷺ ته۔

(۱) اول د مؤمن صفت جوړ کړه۔ یعنی اړولے شی ددے قول مختلف نه هغه څوك چه د الله په رحم سره اړولے شوے وی۔ یعنی الله تعالیٰ ددے مختلفو خبرو نه مؤمن اړوی۔ هغه داسے خبرے نهٔ کوی او د آخرت ورځ منی۔

(۲) یا صفت د کافر دے، او عَنْهُ ضمیر نبی او قرآن ته راجع دے۔

یعنی اړولے شی د قرآن او ددے نبی نه هغه څوك چه اړولے شویدے په علم د الله تعالیٰ کښې۔ یعنی کافران الله تعالیٰ ګمراه کړیدی څکه دا نبی او قرآن نهٔ منی۔

(۳) مجاهدؒ داسے تفسیر کوی: [يُصْرَفُ بِسَبَبِ الْقَوْلِ الْمُخْتَلِفِ النَّاسُ عَنِ الْإِيْمَانِ] یعنی په سبب ددے مختلفو خبرو خلق د ایمان نه اړولے کیږی۔ یعنی ستاسو پدے مختلف قول سره ډیر خلق د ایمان نه او د آخرت د منلو نه واوړیدل۔ (معالم التنزیل)

مګر ظاهره او ددے سیاق سره مناسبه دا ده چه دلته د کافرو بدی بیانوی څکه چه افك په لغت کښې د حقٓ نه باطل ته او د رشتیاؤ نه دروغو ته او د جمیل نه قبیح ته اوړیدو ته

وئیلے شی۔ او عَنْهُ کښې ضمیر (اَلذِیْن) ته راجع دے۔
او مطلب دا دے چه اړولے کیږی د قیامت د ورځے نه هغه څوك چه اړولے شویدے په علم او تقدیر د الله تعالیٰ کښې، یعنی د قیامت د ورځے نه هغه څوك اوړی چه څوك دروغجن وی۔ یعنی دروغجن انسان الله تعالیٰ د قیامت نه منکر کوی۔
قُتِلَ الْخَرّٰاصُوْنَ: خراصون اټکل کونکو ته وئیلے شی، او ددے نه مراد د مکے کافران دی چه د دوئ انکار د قرآن او د نبی نه او د آخرت نه خالص په تش گمان او اټکل باندے بناء وو، هیڅ دلیل ورسره نهٔ وو۔ پدے وجه الله تعالیٰ ورته ښیرے وکړے، یعنی لعنت دِے وی په داسے اټکل کونکو دروغژنو باندے۔
د قتل نسبت چه کله الله تعالیٰ ته کیږی نو د هغے نه مراد لعنت وی، یعنی الله تعالیٰ دِے ئے د خپل رحمت نه محروم کړی۔
اَلَّذِیْنَ هُمْ فِیْ : د دوئ د جهالت او نادانئ حالت دادے چه کوم قرآن دوئ لپاره د دنیا او آخرت ښیگړه راوړے ده، ددے نه بیخی غافله، په خپلو بدنی خوندونو او شهوتونو پوره کولو کښې ډوب دی، او که چرے کله د قیامت په باره کښې پوښتنه هم کوی نو په نبی کریم ﷺ پورے د ټوقو کولو دپاره۔
غَمْرَةٍ: د غمرے نه مراد غفلت او ړوندوالے او جهالت دے د امورو د آخرت نه۔
ابن عباس ﷛ وائی : دلته د غمرے نه کفر او شرك دے۔
سَاهُوْنَ: یعنی غافل دی په خواهشاتو خپلو، /خطائی کونکی دی۔
یَسْأَلُوْنَ: دا تپوس د دوئ په طریقه د ټوقو او انکار دے۔ یعنی نشته۔
یَوْمَ: دا جواب دے په طریقه د اسلوب الحکیم سره، یعنی دا ورځ به راځی خو دا به ستا د عذاب ورځ وی۔
یُفْتَنُوْنَ : اَیْ یُحْرَقُوْنَ وَیُعَذَّبُوْنَ۔ یعنی وبه سیزلے شی او عذاب به ورکړے شی۔ فتنه اصل کښې جو هر ویلے کول دی دے دپاره چه د هغے غش (گندگی) راښکاره شی۔
فِتْنَتَکُمْ: یعنی عذاب خپل۔ فتنه کښې معنیٰ د تکلیف پرته ده۔
هٰذَا الَّذِیْ : یعنی قیامت په جلتئ سره غوختل خو عذاب په جلتئ سره غوښتل دی۔

إِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنَّاتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿١٥﴾ آخِذِيْنَ مَا
یقیناً متقیان به په جنتونو او چینو کښې وي۔ اخستونکي به وي هغه څه
آتَاهُمْ رَبُّهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ﴿١٦﴾
چه ورکوي ئې دوی ته رب د دوی، یقینا دوی وو مخکښې ددې نه نیکي کونکي۔
كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ﴿١٧﴾ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ
وو دوی چه لږ شان د شپې نه به اُوده کیدل۔ او په وخت د پیشمنی کښې دوی بخښنه
يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿١٨﴾ وَفِيْ أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿١٩﴾
غواړي۔ او په مالونو د دوی کښې حق وو دپاره د سوال کونکي او محروم (سوال نهٔ
وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَفِيْ أَنْفُسِكُمْ
کونکي)۔ او په زمکه کښې نخې دي دپاره د یقین کونکو۔ او په نفسونو ستاسو کښې
أَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٢١﴾ وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا
(هم) آیا نو نهٔ ګورئ تاسو۔ او په آسمان کښې رزق ستاسو دے او هغه څیز دے
تُوْعَدُوْنَ ﴿٢٢﴾ فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ
چه تاسو سره ئې وعده کیدیشي۔ پس قسم دے په رب د آسمان او د زمکه
إِنَّهُ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَا أَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ ﴿٢٣﴾
چه یقیناً دا (قیامت) حق دے پشان د هغې چه تاسو خبرې کوئ۔

تفسیر: د قرآن کریم د عامې قاعدې مطابق ترهیب (ویرولو) نه پس ترغیب، او د جهنمیانو د بدترین انجام بیانولو نه پس اُوس د جنت او د جنتیانو ذکر کیږي۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه د هغهٔ نه یریدونکي به د داسې باغونو اوچینو ترمینځه وي چه د هغې خوبي په الفاظو کښې نشي بیانیدلې۔ د دوئ رب به دوئ ته خپل بخششونه او انعامونه په دې وجه ورکوي چه دوئ په خپل دنیا والا ژوند کښې ډیر ښهٔ خلق وو، د خپل

رب د حکمونو پابندی به ئے کوله، او د منع شوو کارونو نه به ئے ځان ساتۀ، د شپې به کم اُودۀ کیدل، یعنی د شپې زیاتره برخه به ئے د تهجدو په مانځه کښې تیروله، او کله به چه د صبا په وخت پاسیدل نو د خوب د کموالی او د تهجدو د مانځه د زیاتوالی سره سره به دوئ ته احساس کیدلو چه لکه د دوئ گناهونه او جرمونه ډیر وی، دے وجے نه په توبه او استغفار کښې به لگیا شو، او په خپل مال کښې به ئے د غوښتونکو او نا غوښتونکو فقیرانو او محتاجانو حق گنړلو۔

آخِذِيْنَ مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ : ۱- دا په جنت کښې مراد دے، یعنی دوئ به اخستونکی وی د هغه نعمتونه چه دوی ته ئے د دوئ رب ورکوی۔ آتَاهُمْ ماضی په معنیٰ د مضارع ده، او د تحقق الوقوع دپاره ماضی ذکر شوه۔ نو پدے کښې ددے نعمتونو کمال ته اشاره ده چه دا به داسے نعمتونه وی چه الله تعالیٰ ئے دوئ ته ورکوی نو دوی به ئے په خوشحالئ سره قبلوی، او د هغے نه به نفرت نکوی چه دا مے خوښ دے او دا نۀ، بلکه هر یو نعمت به ورته مزیدار ښکاری او د هغے استقبال به کوی۔

او پدے کښې بله دا اشاره هم ده چه دوئ به وخت په وخت نوی نوی نعمتونه اخلی۔ ځکه چه آخذ اسم فاعل په تجدد او حدوث باندے دلالت کوی۔

او آخِذِيْنَ کښې بله اشاره ده چه دا نعمتونه څوك آخر ته نشی رسولے ځکه چه دا نۀ ختمیدونکی دی، نو دا انسان پوره نشی راگیرولے چه ټول واخلی او نور ختم۔ ځکه چه د جنت نعمتونه نۀ ختمیدونکی دی۔

۲- ابن جریر طبریؒ وائی چه دے کښې دا هم جائز ده چه دا ددے مؤمنانو په دنیا کښې صفت وی۔ یعنی دوئ په دنیا کښې رانیونکی وو او قبلونکی وو هغه دین او احکامو لره چه دوئ ته د دوئ رب ورکړی وو۔

دا تفسیر جائز دے لیکن دلته نۀ دے مراد ځکه چه متقین نه معلومیږی چه دوئ په دین عمل کړیدے او روستو ﴿ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ﴾ لفظ ذکر دے۔ نو بیا به په آیت کښې درے جملے یوه معنیٰ ورکړی، حال دا چه تاسیس د تاکید نه بهتر دے۔

قَبْلَ ذٰلِكَ: اَیْ قَبْلَ الْجَنَّةِ۔ یعنی دوئ جنت ته د راتللو نه مخکښې په دنیا کښې د الله او د مخلوق سره احسانات کول۔ كَانُوْا قَلِيْلًا ئے د الله سره احسان شو او (وَفِىْ اَمْوَالِهِمْ) کښې د مخلوق سره احسان ذکر دے۔

كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ: هجعه معمولي خوب ته وئيلے شي۔ او دلته ما مصدريه ده، او مَا يَهْجَعُوْنَ په تاويل د مصدر سره فاعل د قَلِيْلًا دے۔

اَىْ كَانُوْا قَلِيْلًا هُجُوْعُهُمْ بِاللَّيْلِ۔ يعنى د دوئ خوب د شپے كم وو۔ دا ظاهر تفسير دے خو پدے باندے مفسرينو سوال كړيدے او بيا ئے نور دوه تفسيرونه كړيدى۔

سوال دا دے چه دا د كومو مؤمنانو صفت دے چه د هغوى د شپے عبادت زيات وى او خوب ئے كم وى، د صحابه كرامؓ هم داسے عادت نهٔ وو بلكه هغوى به صرف د تهجدو په وخت راپاڅيدل او د هغوى نه خو لوى عابدان نشته۔ نو بيا هغوى وئيلى دى چه دلته ما نافيه ده، او معنىٰ دا ده چه وو دوى د شپے نه په لږه حصه كښ به ئے خوب نهٔ كولو بلكه خوب به ئے ډير وو او عبادت به ئے كم وو۔ ليكن پدے معنىٰ كښ پوره صفت نهٔ راځى چه د دوئ خوب به زيات وو او عبادت كم۔

(۳) عبد الله بن عباس ﷺ پكښ داسے تفسير كړيدے چه قَلِيْلًا صفت د لَيَالِىْ دے او تقدير داسے دے : قَلَّ لَيْلَةٍ تَأْتِىْ عَلَيْهِمْ فِيْهَا يَنَامُوْنَ اِلَّا وَهُمْ يُصَلُّوْنَ۔

يعنى ډيره كمه به داسے شپه په دوى راتلله چه دوى به پكښ اُوده پاتے شو مگر په عامو شپو كښ به ئے مونځ كولو۔ يعنى دا به ډيرے كمے شپے وى چه دوى به پكښ مونځ نهٔ وى كړے د مرض يا د سفر د وجه نه، نور به ئے په عامو شپو كښ تهجد كولو۔ دا هم ښه تفسير دے ليكن يو مصداق دے۔

ليكن اوله معنىٰ غوره ده، او د اشكال جواب دا دے چه همدا دلته د متقيانو مؤمنانو صفت ذكر دے، او د هغوى د شپے خوب كم او عبادت زيات وى۔ او هغه پدے طريقه چه شپه د ماښام نه شروع كيږى، او په اشراق باندے ختميږى،

نو د كاملو متقيانو طريقه دا ده چه ماښام مونځ كوى، بيا د هغے نه روستو نوافل كوى، اذكار پوره كوى، بيا د ماسخوتن مونځ كوى، بيا اذكار كوى، بيا چه كله اُوده شى نو د شپے په نيمه يا آخرى حصه كښ راپاڅيږى نو تهجد وكړى او بيا ذكر اذكار او تسبيحات وائى بيا سهار مانځه ته لاړ شى بيا تر اشراق پورے ذكر اذكار كښ مشغول شى، كله د اشراق مونځ وكړى او كله نهٔ۔ نو پدے طريقه عبادت زيات شو د خوب نه۔

دا خو د صحابه كرامؓ زمانه وه چه په عبادتونو باندے ئے اوقات روښانه وو، زمونږ په زمانه كښ خو فرض مونځ ته ځوك لس مينټه نشى وركولے پاتے لا نور عبادتونه۔

وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ: اسحار، چرباننگ وخت او د تهجدو وخت ته وئیلے شي۔
ددے استغفار غوښتو مطلب دا نهٔ وی چه دوی گناه وکړه او د هغے نه بخنه غواړی،
صحیح ده، انسان نه گناه کیږی، د هغے نه به هم بخنه غواړی لیکن دا استغفار د الله
تعالیٰ د حق د وجه نه غوښتلے شي چه بنده د الله پوره حق نشي ادا کولے نو د هغهٔ نه د
خپل تقصیر بخنه غواړی۔
وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُوْمِ : (۱) قتادهؒ او زهریؒ وائی : د (سائل) نه مراد
هغه محتاج دے چه لاس خورولو سره غوښتل کوی، او د (محروم) نه مراد هغه دے چه
هیچا ته خپل حاجت نهٔ بیانوی، دے وجے نه خلق دے مالدار گنړی، او هیڅ هم نهٔ
ورکوی۔ (۲) دارنگه محروم هغه شخص دے چه په هغهٔ باندے مصیبت راغلے وی،
میوه جات یا فصل یا گاډے بزے ئے هلاکے شوے وی۔ (زید بن اسلمؒ)
(۳) یا محروم : اَلَّذِیْ لَا یَکْتَسِبُ) چه کاروبار نشي کولے۔
(٤) یا اَلْمُحَارِفُ الَّذِیْ لَا یَکَادُ یَتَیَسَّرُ لَهٗ مَکْسِبُهٗ ۔ محروم هغه کاروباری شخص دے چه د
کاروبار ځای او کاروبار ورته نهٔ ملاویږی، او دیاړی او مزدوری ئے نهٔ لگیږی، او خرچه او
اخراجات ئے زیات وی۔
ابن ابی حاتمؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړے چه متقیان خلق د فرض زکاة اداء کولو نه
پس هم په خپل مال کښ د محتاج او محروم مسلمانانو حق گنړی، صله رحمی کوی،
میلمستیا ورکوی، او د پریشان حالو خلقو ضرورت پوره کوی۔ یعنی دا ځانله د زکاة
پورے خاص نهٔ دے۔
بیا سائل ته به ولے ورکړه کوی؟ نو ځکه چه د الله تعالیٰ نوم ئے اخستے دے، او هغهٔ په تا
ښه گمان کړے او تا ته ئے عاجزی کړیده، ددے لحاظ وکړه۔
بیا سائل ئے مخکښ ذکر کړو ځکه چه هغه له حق ورکول آسان دی ځکه چه هغه
خپل حاجت ښکاره کوی، هر سړے پرے پوهیږی، او محروم باندے هوښیار انسان
پوهیږی نو اشاره ده چه ځان کښ هوښیارتیا پیدا کړه۔
وَفِي الْأَرْضِ: اُوس د اثبات د بعث بعد الموت دپاره، او دارنگه د توحید دپاره دلیلونه
بیانوی۔ او پدے کښ اشاره ده چه متقیانو ته چه دغه کمالات حاصل شویدی، نو دا
پدے وجه چه دویٔ د کائناتو نه فائده اخستے ده، ددے په دلیلونو کښ ئے فکر او سوچ

کړیدې نو توحید ئې قبول کړې او آخرت ئې منلې دے۔ نو الله پدې کښې نورو خلقو ته دعوت ورکوی چه پدې دلائلو کښې سوچ کولو سره یقین وکړئ۔
او پدې کښې رټنه ده د مکې کافرانو ته چه دوئ په دلیلونو او براهینو کښې فکر نهٔ کوی بلکه خالص ګمان او اټکل نه کار اخلی حال دا چه که په آسمان او زمکه کښې په خورو نښو کښې ئې غور کولے، نو ایمان او یقین ته به رسیدلی وے۔
د الله په پیدا کړې زمکه کښې ډیرې نښې دی، که چرې انسان په دے کښې د فکر او تدبر نه کار واخلی نو هغه به د ایمان او یقین په دولت باندې مالداره شی۔
دا غرونه، دا نهرونه، دا پټی، رنګ په رنګ ګلان او میوې، قِسما قِسم خلق او مختلف قِسمه ځناور او حیوانات، او نور تمام ځیزونه چه په زمکه کښې موندې کیږی، د کائناتو د خالق په وجود او د هغهٔ په وحدانیت باندې علم ورکوی، لیکن ددے نښې نه په حقیقت کښې هغه خلق فائده پورته کوی چه هغوئ په الله تعالیٰ یقین لری، دا خلق چه کله په کائناتو کښې خورو ورو نښو کښې غور کوی، نو د دوئ ایمان زیاتیږی او د عمل په باب کښې د نورو نه وړاندې والے کوی۔
آیاتٌ: اَیْ عَلٰی قُدْرَةِ اللّٰهِ وَ کَمَالِهٖ وَحِکْمَتِهٖ ۔ یعنی دا نخې دی په قدرت د الله تعالیٰ او د هغهٔ په کمال او حکمت باندې، نو دغه دلیلونه د توحید او د اثبات د آخرت دپاره هم دی۔
وَفِیْٓ اَنْفُسِکُمْ: بعض علماء وائی چه په نفس کښې پنځه زره حکمتونه دی، لیکن دا هم کم دی، په هر اندام کښې په زرګونو حکمتونه دی۔ چه چا علم طب لوستلے وی هغه څه نا څه پوهه لری۔ په هر اندام کښې الله تعالیٰ درې قوتونه اچولی دی، قوتِ ماسکه، قوتِ جاذبه او قوت دافعه۔ په لاس وغیره کښې ئې حس اچولے دے، په پوزه کښې ئې قوت شامه دے، او په ژبه کښې ئې قوتِ ذائقه اچولے، که ذائقه نهٔ وے نو هیڅ خوراك به خوند نهٔ کولے، نُوکونه او ویښته غټیږی او غاښونه نهٔ غټیږی، ددے په حکمت کښې فکر وکړه، دغه شان نور واخله۔ د زنانه او سړی جدا جدا ساخت ئې جوړ کړیدې چه یو بل ته ئې توجه پیدا کیږی۔
د انسان د پیدائش طریقو ته وګوره، د انسانانو مختلف قسم رنګونه، ژبې او عقلونه پدې کښې بیشماره نخې دی۔

وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ : الله تعالیٰ باران د بره نه نازلوی چه د هغې نه رزقونه راپیدا کیږی، دارنګه الله تعالیٰ رزقونه د بره نه مقرر کړیدی۔

وَمَا تُوعَدُونَ : نه مراد جنتونه دی چه دا هم آسمان کښې دی۔ (ابن عباس ﷺ) او دے کښې د قیامت ورځ هم مراد ده چه دا هم د بره نه فیصله کیږی۔ او دے نه هر خیر او شر هم مراد دے چه دا په آسمان کښې تقدیر کړے شویدے۔ (کلبیؒ)

إِنَّهُ لَحَقٌّ: دا ضمیر مخکنو خبرونو د قیامت او آیات ته راجع دے۔

مِّثْلَ مَا أَنَّكُمْ تَنطِقُونَ : یعنی لکه ځرنګ چه ستاسو خبرے کول حق دی، او ستاسو پدے کښې شك نشته چه دا الفاظ ستاسو د خولے نه راوتی دی، نو دغه شان به قیامت یقینی راځی۔ او دا د عربو د وینا مطابق راغلے دے چه هغوی وائی :

[هٰذَا الْكَلَامُ حَقٌّ مِثْلَ مَا أَنَّكَ تَنْطِقُ] دا خبره حق ده لکه ځرنګ چه ته خبرے کوے۔

هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٤﴾ إِذْ
یقیناً راغلے دے تا ته خبر د میلمنو د ابراهیم (علیه السلام) چه عزتمند وو۔ کله چه
دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ
داخل شو دوی په هغهٔ باندے نو اُووئیل دوی، سلام کوو مونږ اُووئیل هغهٔ
سَلَامٌ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٢٥﴾ فَرَاغَ إِلَىٰ أَهْلِهِ فَجَاءَ بِعِجْلٍ
(په تاسو دِے) سلام وی، قوم ناشنا دی۔ نو پټ لاړو اهل خپل ته نو رائے وړو یو سخے
سَمِينٍ ﴿٢٦﴾ فَقَرَّبَهُ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٢٧﴾
چاق (وریت کړے شوے)۔ نو نزدے ئے کړو هغه دوی ته ورته ئے اُووئیل آیا نهٔ خورئ
فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُوا لَا تَخَفْ وَبَشَّرُوهُ
تاسو۔ نو پټه ئے کړه د هغوی نه یره (په زړه کښې) ووئیل هغوی مهٔ یریږه، او زیرے ئے
بِغُلَامٍ عَلِيمٍ ﴿٢٨﴾ فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ
ورکړو هغهٔ ته په هلك پوهه سره۔ نو رامخامخ شوه ښځه د هغهٔ په چغه کښې

فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوزٌ عَقِيمٌ ﴿۲۹﴾ قَالُوا كَذٰلِكِ
نو وہے وهلو مخ خپل او وہے وئیل زۀ بوډئ یم شنډه. اُووئیل دوی دغسے به ئے تۀ،
قَالَ رَبُّكِ إِنَّهُ هُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴿۳۰﴾
وئیلی دی رب ستا یقیناً هغه حکمتونو والا پوهه دے.

تفسیر: پدے رکوع کښې تخویفات دی.

مناسبت دا دے

چه اَلدِّيْنُ وَاقِعٌ حَتّٰى فِي الدُّنْيَا ۔ جزاء او سزا واقع کیدونکے ده تردے چه په دنیا کښې هم واقع شویده، وګورئ ابراهیم ﷺ ته الله تعالیٰ د هغۀ د نیك عملئ د وجه نه د زوی زیرے ورکړیدے، او لوط ﷺ ئے بچ کړیدے د وجه د ایمان او د اسلام نه. ﴿فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾ او په اشاراتو کښې ئے عملونه ذکر کړیدی. او بل طرفته فرعونیان او عادیان او ثمودیان او قوم لوط د بدو اعمالو د وجه نه دنیا کښې هلاك شول. دا یوه طریقه د استدلال شوه.

(۲) بله طریقه د استدلال: هٰذَا اِسْتِدْلَالٌ عَلَى الْبَعْثِ۔

دا دلیل دے په بعث بعد الموت باندے چه دا خلق د بعث نه منکرین وو، پخوانو چه کله د آخرت نه انکار وکړو، نو الله ورته په دنیا کښې عذاب ورکړو، نو دا دلیل دے چه آخرت حق دے، که حق نۀ وے نو دوی ته به ئے عذاب نۀ ورکولے.

(۳) بل پکښې تخویف غرض دے چه که تاسو انکار کوئ نو الله به عذابونه درکړی.

(٤) بل د الله تعالیٰ دوه صفتونه دی، رحم کوی په هغه چا چه په هغه کښې د رحم اهلیت وی، او غضب کوی په چا چه په هغۀ کښې د هغے اهلیت وی. او دا په انسان کښې په نیك اعمالو او بدو اعمالو پیدا کیږی.

او بیا دا صرف واقعات نۀ دی بلکه پدے کښې دننه ډیر احکام، حکمتونه او رازونه او اشارات او آداب ذکر دی. لکه په واقعه د ابراهیم ﷺ کښې د میلمستیا آداب ذکر دی.

هَلْ: د استفهام کلمے (هَلْ) نه ئے د قصے شروع وکړه، پدے کښې اشاره ده چه رسول الله ﷺ ته ددے واقعے د مخکښې نه خبر نۀ وو. د وحی په ذریعه الله تعالیٰ خبر کړو. او د

تپوس مقصد د مخاطب متوجه کول دی، او پدے متوجه کولو کښې مقصد تسلی ده رسول الله ﷺ ته چه الله به تا سره داسے احسانات کوی لکه چه ابراهیم علیه السلام سره ئے کړیدی۔ دارنګه په هَلْ سره راوړو کښې تفخیم (لوی والے د شان) د قصے دے۔

بعض وائی : چه هَلْ په معنیٰ د قَدْ دے۔

إِذْ دَخَلُوا: یعنی ملائك راغلل چه د هغوئ د الله تعالیٰ په نیز لوی مقام وو، کله چه هغوئ ابراهیم علیه السلام خواته اُورسیدل نو هغوئ سلام وکړو، ابراهیم علیه السلام د دوئ د سلام جواب ورکړو، او وے وئیل چه زهٔ تاسو نهٔ پیژنم، خپل تعارف وکړئ دے دپاره چه معلومه شی چه تاسو څوك ئے۔

د ابتدائی تعارف نه پس ابراهیم علیه السلام فوراً میلمنو ته د ښودلو نه په غیر خپل کور والو ته ورغے، دے دپاره چه د دوئ د میلمستیا انتظام وکړی، او لکه څنګه چه د سورتِ هود په (٦٩) آیت کښې راغلی : ﴿ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ﴾ (یو وریت کړے سخے ئے د دوئ مخے ته راوړو) او هغه ئے میلمنو ته رانزدے کړو، لیکن هغوئ د خوراك لپاره لاس اوږدهٔ نهٔ کړل، نو هغوئ نه ئے پوښتنه وکړه چه تاسو خوراك ولے نهٔ کوئ، او په زړهٔ کښې اویریدهٔ چه هسے نه ددے خلقو نیت زمونږ په باره کښې ښهٔ نهٔ وی، څکه زمونږ خوراك نهٔ خوری، لکه د سورتِ هود په (٧٠) آیت کښې راغلی :

﴿ فَلَمَّا رَاٰى أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ﴾ (کله چه ابراهیم ولیدل چه د هغوئ لاسونه خوراك طرفته نهٔ رسیږی، نو د هغوئ نه ئے ناشنا والے محسوس کړو او دننه دننه د دوئ نه اویریدهٔ)۔

کله چه دغه ملائکو اولیدل چه ابراهیم علیه السلام په زړه کښې یره پټه کړه او د کوم شر نه اویریدهٔ، نو هغهٔ له ئے د خپل حقیقت خبردارے ورکړو، او د یو هلك پیدا کیدو زیرے ئے ورته ورکړو چه هغه به غټیږی، او د علم او فضل خاوند به جوړیږی۔

د جمهورو اهلِ علمو په نیز ددے هلك نه مراد اسحاق علیه السلام دے، لکه د سورتِ هود په (٧١) آیت کښې ددے ډاګیزه الفاظ دادی : ﴿ فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ ﴾ (مونږ سارے علیها السلام له د اسحاق زیرے ورکړو)۔

او د سورتِ صافات په (١١٢) آیت کښې راغلی : ﴿وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ ﴾ (مونږ ابراهیم له د اسحاق زیرے ورکړو)۔ سارے علیها السلام (چه بو ډئ شوے وه) چه کله دا خبره

واوریده نو د ډیرے حیرانتیا نه د هغے د خُلے نه چغه اووتله، او خپل مخ وهل ئے شروع کړل، او وے وئیل چه زهٔ خو بوډۍ یم او شنډه یم، زما بچے به څنګه کیږی؟! نو ملائکو ووئیل چه لکه څنګه چه مونږه تاته خبر درکړے دغسے الله فرمائیلی دی، دے وجے نه په دے باره کښې هیڅ شك مهٔ کوه، الله چه څهٔ غوښتلی دی هغه به کیږی (دغه وخت ساره د نهه نوی کالو او ابراهیم علیه السلام د سلو کالو وو)

الله د آیت په آخره کښې وفرمایل چه هغه په خپلو اقوالو او افعالو کښې حکیم او د هر یو شئ علم لرونکے دے۔

فوائد الالفاظ

الْمُكْرَمِيْنَ: یعنی ملائك د الله په نیز باندے عزتمند وو۔ لکه الله فرمائی: ﴿بَلْ عِبَادٌ مُكْرَمُوْنَ﴾ (انبیاء: ٢٦)

فَقَالُوْا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ: په جواب د سلام کښې ئے جمله اسمیه راوړه، او د هغوی سلام په جمله فعلیه سره وو۔ (نُسَلِّمُ عَلَيْكَ سَلَامًا) مونږ تاته سلام کوو۔ دهٔ ووئیل چه (په تاسو دِے سلام وی) نو معلومه شوه چه د سلام په جواب کښې به ډیر تاکید کولے شی۔

قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ: اَیْ هٰؤُلَاءِ قَوْمٌ مُنْكَرُوْنَ۔ یعنی ځان سره ئے ووئیل چه دا خو ناشنا میلمانهٔ دی۔ او ناشنا والے پدے وجه وو چه شکلونه ئے ناشنا وو، او بغیر د اجازت نه راغلی وو، او سلام ئے وکړو او حال دا چه په هغه زمانه کښې عام خلق د ابراهیم علیه السلام مخالف وو، هغوی به په هغهٔ باندے سلام هم نهٔ کولو نو ددے وجه نه ئے دوی باره کښې منکرون ووئیل۔ او د ابراهیم علیه السلام سخاوت ته وګوره چه ناشنا میلمانهٔ دی بیا هم ورله ښه خوراك راوړی، څوك چه میلمانهٔ پیژنی نو غالباً د هغوی نه حیاء کوی خوراك ورکوی، او چه نهٔ ئے پیژنی او خوراك ورته راوړی نو دا کس د الله تعالیٰ نه حیاء کوی نو دا ډیر کمال دے۔

فَرَاغَ: یعنی راغے۔

د میلمستیا آداب

بِعِجْلٍ سَمِيْنٍ: دے نه د طعام متعلق یو څو آداب معلوم شول یو دا چه د میلمه راتللو سره زر د خوراك پروګرام پکار دے، لکه دلته (فراغ) کښې فاء راوړو نه معلومه شوه۔

دویم میلمه ته ښکاره کول نهٔ دي پکار چه زهٔ ستا دپاره د خوراك انتظام کوم، او څنګه خوراك به کوئ او که نهٔ ؟ کیدے شي چه هغه د حیاء د وجه نه انکار وکړي.
دریم دا چه د میلمستیا په خوراك تیارولو کښ هم جلتي پکار ده. لکه (فَجَاءَ) کښ فاء راوړل پرے دلالت کوي. څلورم دا چه عمده او غوره خوراك د طاقت مناسب پکار دے، او داسے تکلف د وَس مناسب د میلمه دپاره سنت طریقه ده.
سَمِيْنٍ: یعنی څورب. او بله معنیٰ ئے ده وریت کړے شوے لکه په سورة هود (٦٩) آیت کښ (بِعِجْلٍ حَنِيْذٍ) وریت کړے شوے ذکر وو.
فَقَرَّبَهٗٓ اِلَيْهِمْ: دا پنځم ادب د میلمه دے چه طعام به میلمه ته نزدے کیخودے شي.
اَلَا تَاْكُلُوْنَ: اوم ادب دا دے چه میلمه ته په خوراك کولو سره وینا نهٔ ده پکار، دا د ادب خلاف ده بلکه هغوی ته به پیشکش کولے شي چه آیا تاسو خوراك نهٔ کوئ، ولے نهٔ خورئ.
فَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيْفَةً: یعنی زړهٔ کښ ئے یره پټه کړه ځکه چه د هغه زمانے د عادت مطابق به چه څوك د چا د قتل په اراده راغلي وو نو هغوی به ورکره خوراك نهٔ کولو.
سوال دا دے چه ملائکو ته څه پته ولګیده چه ابراهیم علیه السلام په زړه کښ یره پټه کړه؟ جواب دا دے چه په سورة حجر (٥٢) آیت کښ تیر شوی وو ﴿قَالَ اِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُوْنَ﴾ ابراهیم علیه السلام ورته وفرمایل: مونږ تاسو نه یریږو. نو هغوی ورته وویل چه مهٔ یریږه.
دا دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام باندے هم د بشریت د وجه نه د دنیاوی اسبابو او حالاتو مطابق یره راتللے شي، او دا د نبوت منافي نهٔ دي.
وَبَشَّرُوْهُ: نو دوه زیری ئے راوړل، یو په غلام علیم چه اسحاق علیه السلام دے.
او دا دلیل دے چه جزاء او سزا حقه ده، الله تعالیٰ بندګانو ته په دنیا کښ هم زیری ورکوي. نو ددے نه اثبات د آخرت هم معلومیږي چه بوډا سړي او بوډئ زنانهٔ ته بچے ورکوي، نو الله به دغه شان انسانان هم د خاورے نه بیرته راپورته کړي.
فَاَقْبَلَتِ: نو زنانه خدمت ته ولاړه وه لکه د هغه زمانے د عادت مطابق (چه پرده هم نهٔ وه نازله) نو کله چه هغهٔ ته د بچي د پیدا کیدو زیرے ورکړے شو نو زنانه رامخامخ شوه په یوه چغه کښ چه اخ اُوس پدے عمر کښ به زما بچے پیدا کیږي؟!!.
صَرَّةٍ: ١- اَيْ صَيْحَةٍ وَضَجَّةٍ. یعني چغه او شور.

٢- او صرة جماعت ته هم وائي۔ نو معنیٰ به دا وي چه د ملائکو په جماعت کښې رامخامخ شوه۔
٣- صرة کلمه شدت او سختۍ ته هم وائي۔ یعني په تیزۍ او سختۍ کښې رامخامخ شوه۔ ٤- عکرمهٔ او قتادهٔ وائي چه صرة اَلرَّنَّةُ وَالتَّاَوُّهُ۔
یعني په آواز او هوسیلۍ کښې رامخامخ شوه۔
او صرة په معنیٰ د کړکۍ سره په هیڅ تفسیر کښې نشته۔ دا په لغت کښې نهٔ ده راغلې۔
عَجُوۡزٌ: اَیۡ اَنَا عَجُوۡزٌ۔ یعني زهٔ بوډۍ یم، شنډه شوې یم۔
عَقِیۡمٌ: دې ته هم وائي چه د ابتداء نه ئې د اولادو صلاحیت ختم شوې وي، او دې ته هم وائي چه داسې عمر ته ورسیږي چه بنده عادةً د اولادو راوړو نه عاجز شي۔ او دلته همدا مطلب دې۔ ځکه چه هغې نه خو مخکښې اسماعیل علیه السلام پیداشوې وو۔
فَصَکَّتۡ: نو مخ ئې په څپیړو ووهلو لکه د تعجب په وخت کښې د زنانو عادت دې۔
کَذٰلِكِ: اَیۡ اَنۡتِ کَذٰلِكِ۔ یعني تهٔ به دغه شان ئې څنګه چه مونږ تا ته وویل۔
قَالَ رَبُّكِ: دا خبره ستا رب کړیده نو دې کښې به شك نکوې او نهٔ به ددې نه تعجب کوې۔
او دا په طریقه د قیاس هم وئیلې شي چه دا خبره ستا رب کړیده (صغری) او هر هغه شې چه ستا رب ئې ووائي نو هغه حق او رشتیني وي، (کبریٰ) نو دا خبره هم رشتینې ده۔ (نتیجه) نو دا د اِنَّمَا تُوۡعَدُوۡنَ لَصَادِقٌ سره متعلق شو۔

قَالَ فَمَا خَطۡبُکُمۡ اَیُّهَا الۡمُرۡسَلُوۡنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوۡۤا اِنَّاۤ
اُووئیل دهٔ نو څه دې لوئې کار ستاسو اې رالیږلې شوو۔ اُووئیل هغوی یقیناً مونږ
اُرۡسِلۡنَاۤ اِلٰی قَوۡمٍ مُّجۡرِمِیۡنَ ﴿۳۲﴾ لِنُرۡسِلَ عَلَیۡهِمۡ حِجَارَةً مِّنۡ طِیۡنٍ ﴿۳۳﴾
رالیږلې شوي یو قوم مجرمانو ته۔ دې دپاره چه راولیږو په دوي باندې کانړي د خټې نه
مُّسَوَّمَةً عِنۡدَ رَبِّكَ لِلۡمُسۡرِفِیۡنَ ﴿۳۴﴾ فَاَخۡرَجۡنَا
(جوړ شوي)۔ نشاندار دي په نیز د رب ستا دپاره د زیاتي کونکو۔ نو راوویستل مونږ

مَنْ كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٣٥﴾ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا
هغه څوك چه پدے (كلي) كښې وو د مؤمنانو نه۔ نو ونۀ موندل مونږ پدے كښې
غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً
سوئ د يوے كوټے د مسلمانانو نه۔ او پريخوده مونږ پدے كښې نخه
لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٣٧﴾
دپاره د هغه كسانو چه يريږي د عذاب دردناك نه۔

تفسير : ابراهيم عليه السلام تـه شايد اندازه شوے وه چه ددے ملائكو دراتګ څۀ بل مقصد هم دے ځكه يواځے د زيرى دپاره خو يو ملائك راليږل هم كافي دى، دے وجے نه كله چه د هغـۀ ويره ختمه شوه، او د ځوى زيرے هم ملاؤ شو، نو د هغوئ نه ئے تپوس وكړو چه ستاسو د راتګ بـل مقصد څۀ دے؟ نو هغوئ وويـل چه مونږ يو مجرم قوم (قومِ لوط) طرفتـه ليږلے شوي يو، دے دپاره چه مونږ په هغوئ باندے د ټيكركو (د خاورو د سختو كانړو) باران وكړو چـه د هغے نـه په هر يو كانړي باندے د يو يو مجرم نوم ستا د رب د طرفه ليكلے شوے دے۔ دا د مُسَوَّمَةً معنىٰ ده۔

نو الله تعالىٰ لوط عليه السلام او د هغـۀ كـور والو تـه د دغـه ځاى نـه د وتلو حكم وكړو، دے دپاره چـه دوئ د عذاب په ګيره كښې رانشي۔ وئيلے كيږي چه دوئ صرف درے كسان وو، لوط عليه السلام او ددۀ دوه لـونـړه، او ددۀ ښځه مسلمانه نۀ وه دے وجے نه تباه كړے شوه۔ بعضِ وائي چه لوط عليه السلام او ددۀ د دوه لونړو نه علاوه نور لس (١٠) مسلمانان هم وو۔

دلتـه الله تعالىٰ د لوط عليه السلام واقعه د عاديانو او ثموديان نه مخكښې راوړه، يو ئے د ابراهيم عليه السلام د قصے سره نزدے والے دے، او پدے كښې خوف او رجاء پيدا كول مقصود وى۔

او بـل مـنـاسبت ئے د حال د قريشو سره زيات دے ځكه چه قوم لوط كښې هم اسراف او فساد زيات وو او په قريشو كښې هم وو۔

فَأَخْرَجْنَا مَنْ : دلتـه ئے دے مسـلـمـانانو تـه مومنان هم وويـل او مسلمانان هم۔ ځكه دا خـلـق مـومـنان هم وو په باطن كښې، او مسلمانان هم وو په ظاهره كښې۔ ځكه هر مومن مسـلـم وى، او هـر مسـلـم مومن نۀ وى، ځكه ممكنه ده چه دا په ظاهره كښې د اسلامي

شعائرو پابندي کوي، ليکن په زړهٔ کښې پوخ مومن نهٔ وي.
نبي کريم ﷺ پـه بخاري او مسلم کښې د روايت شوي په يو مشهور حديث کښې د اسلام او ايـمـان دواړو تشـريـح کړے ده، فرمائي : (اسلام د ((لا اله الا الله)) کلمے ګواهي ورکولو، مونځ کولو، زکاة اداء کولو، د بيت الله حج او د رمضان روژے ته وئيلے کيږي.
او ايـمان دادے چه په الله، د هغهٔ په ملائکو، د هغهٔ په کتابونو، د هغهٔ په رسولانو، او په ښهٔ او بد تقدير باندے ايمان اولرلے شي). (بخاري : ٥٠) مسلم : (١٠٦)
دے حـديـث نـه د ايـمـان او اسـلام ترمينځه فرق واضح کيږي. په قرآن کريم کښې ځينے ځاي اسلام او ايمان د يو بل په معنىٰ کښې لغوي اعتبار سره استعمال شوي دي، شـرعـي لـحـاظ سـره په دواړو کښې هغه فرق دے کوم چه په ذکر شوي حديث کښې بيان شـوے. بيـا ددے آيت نـه دا هـم مـعلـومه شوه چه نجات انسان ته په ايمان او اسلام سره ملاويږي، او عذاب به په مُسْرِف او مُفْسِد باندے نازليږي.
نو پدے يوه يوه جمله کښې دعوت دے.
وَتَرَكْنَا فِيهَا : يـعنې څوك چه د عذاب اليم نه چه د آخرت عذاب دے يريږي نو هغوي بـه ددے کـلـي نـه لـوي عبـرت اخـلـي، او تـاسو اے قريشو ! پدے ورتيريږئ نو بيا ددے نه عبرت ولے نهٔ اخلئ.
آيَةً: الله تـعـالىٰ د قـومِ لـوط د هلاکت نښے نښانے په زمکه باندے باقي پريښودے، دے دپاره چه روستو راتلونکي قومونه کوم چه دغه ځائے تيريږي دغه نښے نښانے اووينې او عبرت حاصل کړي. چنانچه اُوس د دغه کلو په ځائے تورے بدبويه اوبهٔ بهيږي، چه هغے ته نن صبا ((بحرِ ميت)) وئيـلے کيږي. بيشکه ددے نښو نښانو په ليدو سره هغه خلقو ته عبرت ملاويږي چه هغوئ د الله تعالىٰ د عذاب نه يريږي.

وَفِي مُوسَى إِذْ أَرْسَلْنَاهُ إِلَى فِرْعَوْنَ بِسُلْطَانٍ
او (نخه) په واقعه موسىٰ عليه السلام کښې، کله چه اُوليږلو مونږ هغهٔ لره فرعون ته په دليل
مُبِينٍ ﴿٣٨﴾ فَتَوَلَّى بِرُكْنِهِ وَقَالَ سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴿٣٩﴾
ښکاره. نو واوړيدو په طاقت خپل، او وے وئيل دا جادوګر دے يا ليونے دے.

فَأَخَذْنَاهُ وَجُنُودَهُ فَنَبَذْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ
نو رانیولو مونږ دهٔ لره او لښکرو ددهٔ لره نو ګوزار کړل مونږ دوی په دریاب کښې
وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿٤٠﴾ وَفِي عَادٍ إِذْ
او دے ملامته کونکے وو (خپل ځان لره)۔ او په عادیانو کښې (هم نخه ده) کله چه
أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيحَ الْعَقِيمَ ﴿٤١﴾ مَا تَذَرُ مِنْ شَيْءٍ أَتَتْ
راولیږلو مونږ په دوی باندے هوا شنډه۔ نهٔ ئے پریخودو هیڅ شے چه راتله به
عَلَيْهِ إِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيمِ ﴿٤٢﴾
په هغے باندے مگر گرځولو به ئے پشان د هډوکی ذره ذره۔

تفسیر: دا د وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً سره متعلق دے۔ اَىْ وَتَرَكْنَا فِيْ مُوْسٰى آيَةً۔ یعنی لکه ځنګه چه د قومِ لوط د کلی باقیمانده آثار د مکے د کافرانو او د نورو قومونو دپاره د عبرت نښے دی، دغه شان د موسیٰ ﷺ د دشمنانو هلاکت کښې هم مونږ د خلقو دپاره نخے د عبرت جوړے کړیدی۔

الله تعالیٰ موسیٰ ﷺ له د همسا معجزه ورکړه، او فرعون خواته ئے اولیږهٔ، دے دپاره چه هغه ورته په الله باندے د ایمان راوړو دعوت ورکړی، لیکن فرعون د تکبر په وجه د هغهٔ نه او د هغهٔ د دعوت نه مخ واړولو، او د هغهٔ په باره کښې ئے خپل قوم ته وویل: دا انسان یا خو جادوګر دے، یا ورته لیونتوب لګیدلے۔

مفسرین لیکی چه ددے ملعون مقصد خپل قوم بیوقوف جوړول او دهوکه کول وو، ګنے هغهٔ ته ښه پته وه چه د موسیٰ ﷺ په لاس چه کومے معجزے رابښکاره شوی دی هغه د هیڅ جادوګر کارنامه نشی کیدے، او نهٔ کوم لیونے داسے کارنامے کولے شی۔

فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ: (۱) رکن قوت او طاقت ته وئیلے شی، په اصل کښې ستنے او خپے ته وئیلے شی۔ (۲) حافظ ابن کثیرؒ وائی چه رکن دلته تکبر ته وائی۔

اَىْ اَعْرَضَ وَاسْتَكْبَرَ لِكِبْرِهٖ۔ یعنی مخ ئے واړه وو او تکبر ئے وکړو د وجه د ځان لوی ګڼړلو نه۔ خو دا تکبر ئے هم د قوت د وجه نه وو۔

(۳) رکن، ارکان مملکت ته وائی لکه فوج او وزراء شو، ددے ټولو سره واوړیدو او د حق نه ئے انکار وکړو۔ ﴿ اِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُوْدَهُمَا كَانُوْا خَاطِئِيْنَ ﴾
(٤) ابن عباس ﷺ نه نقل دی چه د رکن نه مراد قوم دے۔ یعنی د خپل قوم قبطیانو سره منکر شو۔ دا باقی تفسیرونه اول ته راجع کیږی۔ او بِرُكْنِهٖ کښې باء په معنیٰ د مَعَ سره ده۔ یعنی سره د خپل فوج او قوتونو نه۔
سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ : ددهٔ په کلام کښې هم تناقض او تضاد دے، قول مختلف کښې واقع شویدے، ځکه چه ساحر خو هوښیار وی او مجنون (لیونے) خو بیوقوف وی۔
وَهُوَ مُلِيْمٌ: ۱– یعنی ځان لره ملامته کونکے وو په هغه وخت کښې. کلمے ئے لوستلے۔
۲– آتٍ بِمَا يُلَامُ۔ یعنی راتلونکے وو په هغه کارونو چه د ملامتیا سبب وو۔ نو بیا ئے ځان هم ملامته کولو او خلقو هم او ملائکو او الله هم۔ یعنی ددهٔ ټول کارونه د ملامتیا لائق وو۔ د ربوبیت دعویٰ ئے کړے وه، د الله نه ئے انکار کړے وو، او د سرکشیٔ او کبر او غرور آخری حدونو ته رسیدلے وو۔
وَفِيْ عَادٍ: دا هم د تَرَكْنَا د لاندے دے۔ د قومِ عاد یعنی د هود ﷺ د قوم هلاکت هم د عبرت ډیرے نخے لری۔ هر کله چه د دویٔ سرکشی د حد نه زیاته شوه نو الله تعالیٰ د دویٔ د هلاکولو دپاره یوه داسے تیزه او تُنده هواء په دویٔ باندے مسلطه کړه چه په هغے کښې په هیڅ طریقه هیڅ خیر نهٔ وو، یعنی الله تعالیٰ دغه هواء صرف د قومِ عاد د تباه کولو دپاره چلولے وه۔ چنانچه دغه هواء چه په روح او په هر شیٔ باندے لګیدله، هم هلته به پندوکے شو، تمام خلق هلاك شو، د دویٔ مالونه مړهٔ شول، او د دویٔ د ژوند تمام اسباب تباه او برباد شو۔
الْعَقِيْمَ: اَيِ الضَّارَةَ وَالْمُفْسِدَةَ۔ یعنی ضرری او خرابونکے هواء وه، هیڅ خیر پکښې نهٔ وو چه په هر شی باندے به ولګیده نو هغه به ئے شنډه ولو او خیر او فائده به ئے ترے لرے کوله او روستو (مَا تَذَرُ) ئے تشریح ده۔
كَالرَّمِيْمِ :اَیْ کَالْعَظْمِ الْبَالِیْ الْمُفَتَّتِ ۔ لکه د زړو ذره ذره شوو هډوکو په شان۔ دارنګه رمیم هر هلاك کیدونکے، ذره ذره کیدونکے شے دے۔
قتادهٔ وائی : [هُوَ الَّذِیْ دِیْسَ مِنْ يَابِسِ النَّبَاتِ] دا د اُوچے ګیاه نه چه کوم شے غوبل او پائیمال شی او ذره ذره شی هغے ته رمیم وائی۔

(۳) سُدّیؒ او ابو العالیہؒ وائی : اَلتُّرَابُ الْمَدْقُوْقُ۔ په خپو باندے ټکولے شوے خاورے۔

(٤) قُطربؒ وائی : اِنَّهُ الرَّمَادُ۔ دا ایرو ته وئیلے شي۔ (قرطبی، قاسمی، بغوی، ابن کثیر)

وَفِيْ ثَمُوْدَ إِذْ قِيْلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوْا حَتّٰى
او په ثمودیانو کښې (هم نخه شته) کله چه اُووئیلے شو دوی ته فائدے واخلئ تر
حِيْنٍ ﴿٤٣﴾ فَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ فَأَخَذَتْهُمُ
یو وخت پورے۔ (درے ورځے)۔ نو دوی تیر شو د حکم د رب د دوی نه نو راونیول دوی
الصّٰعِقَةُ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿٤٤﴾ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ
لره تندر (سختے چغے) او دوی ورته کتل۔ نو طاقت نۀ لرلو دوی د پاڅیدلو
وَمَا كَانُوْا مُنْتَصِرِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَقَوْمَ نُوْحٍ
او نۀ وو دوی بدله اخستونکی۔ او (هلاك کړے وو مونږ) قوم د نوح (علیه السلام)
مِّنْ قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فَاسِقِيْنَ ﴿٤٦﴾
لره مخکښې ددے نه یقیناً وو دوی قوم نافرمان۔

تفسیر : دا هم د وَتَرَكْنَا د لاندے دے، او دا څلورمه نمونه د عذاب ده۔ یعنی د قومِ ثمود، یعنی د صالح علیه السلام د قوم هلاکت هم د مکے د کافرانو او نورو قومونو لپاره ډیرے د عبرت او نصیحت خبرے دی۔ کله چه د دوئ سرکشی هم د حد نه زیاته شوه، د صالح علیه السلام اُوښه ئے هلاکه کړه، او د دوئ د ایمان راوړو هیڅ امید پاتے نشو، نو الله تعالیٰ دوئ له په دنیا کښې د پاتے کیدو دپاره د درے ورځو مهلت ورکړو،

لکه د سورتِ هود په (٦٥) آیت کښې راغلی : ﴿ تَمَتَّعُوْا فِيْ دَارِكُمْ ثَلٰثَةَ أَيَّامٍ ﴾ (تاسو درے ورځو پورے په خپلو کورونو کښې مزے واخلئ)،

لیکن هغوئ د سرکشئ لاره غوره کړه، او د خپل رب د حکم منلو نه ئے انکار وکړو، نو د الله عذاب په رڼړا ورځ دوئ په خپل ګرفت کښې را اونیول، او مرګ دوئ لره یو یو اوتښتولو په داسے حال کښې چه دوئ په خپلو زنګنونو باندے پړمخے پراتۀ وو۔ او

هغوئ دا هر څۀ په خپلو سترګو سره لیدل، نۀ د خپل مجلس نه پاسیدے شول، او نۀ د دوئ د مدد لپاره څوك راغے چه دوئ ئے د عذاب نه بچ کړی وے.

الصَّاعِقَةُ: ددے نه مراد صیحه (چغه) ده.

وَهُمْ يَنظُرُونَ: یعنی دوی دغه عذاب ته کتل او په کتو کتو کښ پرے راغے. یا نظر په معنیٰ د انتظار سره دے. یعنی دوئ ورته درے ورځے په انتظار کښ وو.

مِنْ قِيَامٍ: یعنی دوئ د دغه عذاب نه په ودریدو باندے قادر نۀ وو، پاتے لا دا چه ددے نه وتښتی.

مُنتَصِرِينَ: یعنی د الله تعالیٰ نه بدله اخستونکی هم نۀ وو.

وَقَوْمَ نُوحٍ: دا پنځمه نمونه د عذاب ده. دا متعلق دے د (اَهْلَكْنَا) پورے. یعنی مونږ هلاك کړل قوم نوح. ددے په باره کښ ئے (وَفِي قَوْمِ نُوحٍ) ونۀ وئیل ځکه چه د نوح ﷺ د قوم څه نښے نښانے په دنیا کښ پاتے نۀ دی، او د نورو قومونو کنډرات او نشانات اُوس هم شته.

فَاسِقِينَ: یعنی فسق سببِ د هلاکت دے. لکه نور اسباب د واقعاتو په ضمن کښ تیر شو.

وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَّإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿٤٧﴾
او آسمان جوړ کړیدے مونږ په طاقت سره او یقیناً مونږ فراخی راوستونکی یو.
وَالْأَرْضَ فَرَشْنَاهَا فَنِعْمَ الْمَاهِدُونَ ﴿٤٨﴾ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ
(فراخونکی د هغے یو) او زمکه خوره کړیده مونږ نو ښۀ خورونکی یو. او د هر شئ
خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٤٩﴾
نه پیدا کړیدی مونږ جوړئ دے دپاره چه تاسو نصیحت واخلئ. (رایاده کړئ خبره).

تفسیر: اُوس په اثبات د بعث بعد الموت باندے درے عقلی دلیلونه ذکر کیږی، او دا د الله تعالیٰ د قدرت دلیلونه دی، او په حقیقت کښ اثبات د آخرت پکښ دے. یعنی کوم ذات چه د داسے عظیم ترین قدرت مالك دے، بیشکه هغه د هر یو شئ رب او د خپلو تمامو بندګانو یواځے معبود دے. او هغه د آخرت په راوستو پوره قدرت لرونکے دے.

الله تعالیٰ وفرمایل چه مونږ آسمان په خپل قدرت سره جوړ کړے دے، هغه مو اُوچت پیدا کړے، او په نمر او سپوږمئ او بے شماره ستورو سره مو ښائسته کړے۔

او مونږ هر یو شے چه څومره خورول غواړو د هغے د خورولو طاقت لرو، او مونږ زمکه د فرش په شان خوره کړے، دے دپاره چه بندګان ددے نه فائده پوره کړی، صرف مونږ ددے په ښهٔ شان سره خورونکی یو، یعنی زمونږ نه سوئ بل څوك ددے قدرت نهٔ لری۔

بِأَيْدٍ: ۱- اَیْد مصدر دے په معنیٰ د قوت او قدرت سره لکه حافظ ابن کثیرؒ او قرطبیؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړیدی۔

۲- یا اید جمع د یَدٌ ده، او په دے کښ د قَاضٍ اعلال شویدے، په اصل کښ اَیْدِیٌ دے، لاس ته وئیلے شی بیا دلته که اید جمع د ید هم شی هم د قوت معنیٰ ئے ده، او دا تاویل نهٔ دے، بلکه د عربئ محاوره ده چه په عربی لغت کښ ید په معنیٰ د لاس، قوت او قدرت او نعمت سره استعمالیږی۔

دلته ئے د قوت معنیٰ ده د وجه د دلائل خارجیه ؤ نه، او د الله تعالیٰ خپل لاسونه موجود دی څنګه چه د هغه د شان مناسب دی لکه څنګه چه ګڼړ نصوص پدے باندے دلیل دے۔ او د نورو دلائلو نه معلومیږی چه الله تعالیٰ آسمان په لاس سره نهٔ دے جوړ کړے بلکه په امر سره ئے جوړ کړیدے۔

لکه د حدیث نه معلومیږی چه الله تعالیٰ پنځه څیزونه په خپل لاس سره پیدا کړیدی آدم علیه السلام، جنة عدن، شجرة الطوبی، قلم، او تورات ئے په خپل لاس لیکلے دے۔

(مساوی الاخلاق لابی بکر الخرائطیؒ رقم: (۴۱۰) والابانة)

نو که آسمانونه هم په خپل لاس سره پیدا کړے شوی وے نو بیا ددے پنځو څیزونو د تخصیص وجه نهٔ ښکاره کیږی۔ تاویل په هغه ځای کښ حرام دے چه د الله تعالیٰ د صفت نه پکښ انکار راځی۔

لَمُوسِعُونَ: دے کښ ډیرے معانی دی: (۱) دا د وسع نه دے په معنیٰ د فراخی پیدا کولو سره، او مطلب دا دے چه مونږ وخت په وخت په آسمانونو کښ فراخی راوستونکی یو، نو د سائنسدانانو د قول مطابق وخت په وخت په کائناتو کښ غټوالے پیدا کیږی۔ لکه حدیث کښ دی: [مِنْ اِقْتِرَابِ السَّاعَةِ اِنْتِفَاخُ الْاَهِلَّةِ]

د قیامت د نزدے والی نښه دا ده چه سپوږمئ به ویړسیږی، د یوے شپے به د دوه شپو

ښکاره کیږی۔ (طبرانی فی الصغیر رقم (۱۱۳۰) باسناد صحیح)
څکه چه کائنات د دهماکے په شکل پیدا شوی نو د همدغه دهماکے اثر پکښ روان دے، او همداسے غتیږی۔
(۲) دا فاعل ذُوْ كَذَا دے، د وسع نه دے په معنیٰ د (ذُوْ وَسْعٍ وَطَاقَةٍ)۔ یعنی مونږ فراخه طاقت او قدرت لرونکی یو چه دا او ددے په شان نور آسمانونه پیدا کړو، مونږ ددے نه عاجز نهٔ یو۔
(۳) یا متعدٰی دے اَیْ لَمُوْسِعُوْنَ الرِّزْقَ بِالْمَطَرِ۔ مونږ فراخه کونکی یو رزقونو لره په بارانونو سره۔
(٤) لَمُوْسِعُوْنَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ۔ مونږ فراخی راوستونکی یو په مینځ د آسمان او د زمکه کښ۔
(٥) لَمُوْسِعُوْنَ اَرْجَاءَ السَّمٰوٰتِ۔ مونږ فراخه کونکی یو اطراف د آسمانونو۔ نو زمکه د آسمان په نسبت داسے ده لکه یو بنگړے چه په یوه دشته کښ گوزار کړے شی۔ او دا ټولے خبرے صحیح دی، او په خارج کښ واقع دی۔
نو دلته به دوه خبرے ذکر شی، یو دا چه آسمان مونږ په خپل قوت او قدرت پیدا کړیدے، او بل دا مو فراخه گرځولے دے۔ نو دا جمله به حال مؤسسه د ماقبل شی۔
فَرَشْنَاهَا: زمکه نهٔ نرمه ده چه انسان پکښ ننوزی، او نهٔ سخته ده چه فائده ترے وانخستے شی، داسے انداز ئے ورکړیدے چه اُویه پکښ د هر طرفنه روانیږی، که بیخی همواره وے، اُویه به ئے په کوم طرف وتلے، د باران اُویه به ډنډونه ولاړ وے، او آخر به سخا شوے وے، ددے وجه نه د شمالی طرف نه جنوبی طرفته اُویه روانے وی، زمکه لږه شان جنوبی طرفته کږه ده۔ د زمکے علم زده کولو سره بنده الله تعالیٰ پیژندلے شی۔
فَنِعْمَ الْمَاهِدُوْنَ: یعنی ښهٔ خورونکی یو مونږ۔ یعنی ډیره مزیداره فائده منه مو خوره کړیده۔ او پدے کښ بلے فائدے ته اشاره ده چه انسانان پکښ آرام کوی او د آرام ځایونه هم پکښ الله تعالیٰ جوړ کړیدی۔ څکه مهد زانگو او د آرام ځای ته وئیلے شی۔
وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ: مخکښ ذکر د کائناتو وو، اُوس د هغے مکین (وسیدونکی) ذکر کوی۔ چه د هر شی نه مونږ جوړه پیدا کړے دے، هیڅ یو شے په دے دنیا کښ فرد (یواځے) نهٔ دے، آسمان او زمکه، شپه او ورځ، نمر او سپوږمئ، اوچه او سمندر، تیارهٔ او

رنړا، ایمان او کفر، مرگ او ژوند، نیك بختي او بد بختي، جنت او جهنم، تردے چه حیوانات او نباتات ټول جوړه جوړه دي، صرف د الله تعالیٰ ذات وحده لا شریك دے۔

او په انسانانو او پیریانو او حیواناتو او څناورو کښې نر او ښځه کیدل، او د دوئ د نسلونو د بقاء دپاره په ظاهره کښې بے ساه نطفه کښې روح اچول، ددے خبرے ښکاره ثبوت دے چه الله قادرِ مطلق به مړی دوباره ژوندی کوی۔ دے وجے نه د آیت په آخره کښې ﴿لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ﴾ راغلے۔

یعنی دے دپاره چه تاسو غور او فکر وکړئ او دے نتیجے ته اورسئ چه ستاسو د عبادت حقدار صرف الله تعالیٰ دے چه هغهٔ هر یو شے جوړه پیدا کړے، یعنی یا خو ئے مذکر او مؤنث پیدا کړے، یا ئے د یو بل نه مخالف پیدا کړے، لکه اُور د اوبو، مرگ د ژوند، ایمان د کفر او جنت د جهنم او دنیا د آخرت مخالف دے۔

او د مزدوجاتو نه عبرت زر اخستلے کیږی، او استدلال ته بنده زر رسیږی ځکه چه اَلْاَشْيَاءُ تَتَبَيَّنُ بِاَضْدَادِهَا۔ څیزونه په خپل ضد سره ښه واضحه کیږی۔

تَذَكَّرُوْنَ: ١– یعنی رایاده کړئ دا خبره چه آخرت به هم راځی۔

٢– تَذَكَّرُوْنَ قُدْرَةَ الْخَالِقِ وَكَمَالَهُ۔ د الله قدرت او کمال رایاد کړئ۔

٣– تَذَكَّرُوْنَ اَنَّ الْخَالِقَ وَاحِدٌ۔ دا رایاد کړئ چه خالق یواځے ذات دے۔

٤– دارنگه دا عبرت واخلئ چه د هر شي جوړه شته نو دغه شان د دنیا جوړه آخرت دے۔ دے باندے دا اشکال کول چه د عرش او کرسی زوج (جوړئ) کوم دے؟

نو جواب دا دے چه د هغے جوړئ هم شته او هغه دا چه د عرش جوړئ فرش دے، او د کرسئ جوړئ سفل دے۔ ځکه چه کرسئ کښې علو ده۔ دارنگه دا دواړه جماداتو کښې داخل دی، نو ددے جوړئ حیوان دے۔

فَفِرُّوْا اِلَى اللّٰهِ اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ
نو اُوتختئ تاسو الله طرف ته یقیناً زهٔ تاسو لره د هغهٔ د طرف نه یره درکونکے
مُّبِيْنٌ ﴿٥٠﴾ وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا آخَرَ اِنِّيْ لَكُمْ
ښکاره یم۔ او مهٔ گرځوئ د الله سره حقدار د بندگئ بل یقیناً زهٔ تاسو لره

مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٥١﴾
د هغهٔ د طرف نه يره درکونکے ښکاره يم.

تفسیر: یعنی هرکله چه کائنات الله تعالیٰ ستاسو د فائدے دپاره پیدا کړل نو ستاسو کار به دا وی چه الله ته منډه وکړئ۔ مخکښ الله تعالیٰ عقلی او نقلی دلیلونه ذکر کړل نو اُوس د هغې نتیجه بیانوی۔یعنی هر کله چه په دلائلو سره دا خبره ثابته شوه چه د الله نه سویٰ بل هیڅوك د عبادت لائق نشته، د هغهٔ د در نه سویٰ بل هیڅ در نشته، د هغهٔ د ذات نه سویٰ بل هیڅ د پناه او خلاصی ځائے نشته، نو اے د مکے مشرکانو ! ددے نه سویٰ بله چاره نشته، چه تاسو په دهٔ باندے ایمان راوړئ، ددهٔ طاعت او بندګی وکړئ، ځکه چه د هغهٔ د عذاب نه د بچ کیدو ددے نه سویٰ بله ذریعه نشته چه د هغهٔ بندګی وکړے شی، او ګورئ ! زهٔ د هغهٔ د عذاب نه تاسو په ډیر وضاحت سره یروم، که چرے تاسو خپل حالت بدل نهٔ کړونو په تاسو به هم یو داسے عذاب نازل شی لکه څنګه چه په هغه قومونو نازل شوے وو چه د هغوئ قیصے تاسو اُوس واوریدے۔

د فرار الی الله مصداقات

فَفِرُّوْا إِلَى اللهِ: یعنی د ما سوی الله نه وتختئ الله طرفته ❁ او د ګناهونو نه طاعت د هغه ته، ❁ او د طاعت د شیطان نه طاعت د الله تعالیٰ ته، ❁ او د جهل نه علم ته ❁ او د بندګئ د غیر الله نه بندګئ د الله تعالیٰ ته۔یعنی شرك پریدئ او د الله بندګی وکړئ۔

(فتح البیان)

❁ حافظ ابن کثیرؒ فرمائی : ددے معنیٰ د توکل ده۔ اَیْ اِلْجَأُوْا اِلَيْهِ وَاعْتَمِدُوْا فِیْ اُمُوْرِكُمْ عَلَيْهِ ۔ یعنی الله ته مائل شئ او په ټولو کارونو کښې په هغهٔ باندے اعتماد او توکل وکړئ۔

فَفِرُّوْا إِلَى اللهِ : یوه شعبه ده د شعبو د ایمان نه او د سائرینو د منازلو نه یو منزل دے لکه چه حافظ ابن القیمؒ په مدارج السالکین کښې دا منزله ذکر کړیده۔ نو دلته دوه خبرے دی، یو دا چه د غیر الله نه به جدا کیږے، او بله دا چه الله ته به د هغهٔ په طاعت او بندګئ باندے ځان رسوے او په مینځ کښې به نهٔ پاتے کیږے ګنې هلاك به شے۔

إِنِّي لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ مُّبِينٌ: یعنی زۀ تاسو په ډاګه د هغۀ د عذاب نه ویروم، دے دپاره چه تاسو سره هیڅ عذر باقی پاتے نشی۔

كَذٰلِكَ مَا أَتَى الَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا
دغه شان نۀ دے راغلے هغه کسانو ته چه مخکښ وو د دوی نه هیڅ رسول مګر
قَالُوا سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴿٥٢﴾ أَتَوَاصَوْا بِهِ
وئیلی وو دوی جادوګر دے یا لیونے دے۔ آیا دوی یو بل ته وصیت کړیدے پدے خبره
بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٥٣﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَا أَنتَ
بلکه دوی یو قوم دے سرکشان۔ نو مخ واړوه د دوی نه نو نۀ ئے ته
بِمَلُومٍ ﴿٥٤﴾ وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَىٰ
ملامته کړے شوے۔ (د دوی په اعراض) او قرآن بیان کړه یقیناً قرآن بیانول (او د
تَنفَعُ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٥٥﴾
نصیحت خبرے کوه ځکه چه نصیحت) فائده ورکوی مؤمنانو ته۔

تفسیر: نبی کریم ﷺ له تسلی ورکړے کیږی چه که ستا قوم تاته جادوګر او لیونے وائی، نو دے سره زړۀ مه تنګوه، ځکه د کافرو قومونو همیشه راسے دا طریقه را روانه ده چه کله هم دوئ ته د الله له طرفه کوم رسول راغلے، او د هغۀ د توحید خبره به ئے ورته وکړه نو هغۀ ته ئے جادوګر او لیونے وئیلے دے۔

أَتَوَاصَوْا بِهِ: اُوس الله تعالیٰ د هر دور د کافرانو په حالت باندے تعجب ښکاره کړے چه داسے معلومیږی لکه چه تمامو کافرانو یو بل ته دا خبره ښودلے ده چه کله هم کوم نبی راشی نو هغۀ ته دِے جادوګر او لیونے ووئیلے شی، ګویا که د ټولو په دے اتفاق راغلے۔

مثلاً فرعون چه کله مړ کیدو نو بل قوم ته ئے وئیلی وی چه کله هم یو پیغمبر تاسو ته راځی نو هغه ته به جادوګر او لیونے وایئ، او دغه شان عادیانو او ثمودیانو او نورو قومونو دا وصیتونه کړی وی، تردے چه قریشو ته خبره راورسیده چه تاسو به هم داسے

خبرے کوئ۔

بِهٖ ضمیر دغه وینا ته راجع دے۔

بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ: بَلْ د اِضراب دپاره دے، یعنی وصیت خو ئے نهٔ دے کړے ځکه چه هغوی خو الله تعالیٰ تباه کړل، وصیت ته وزرگار نشول، خو اصل وجه دا ده چه کافران سرکشه شویدي او سرکشي ئے د حد نه تیره شویده، او کله چه یو انسان سرکشه شي، نو د هغه خبره د پخوانو سرکشانو سره خپله برابریږي،

لکه ابن عباس رضی الله عنه فرمائی:

[مَا رَأَیْتُ مِثْلَ تَقَارُبِ الْقُلُوْبِ]

ما د زړونو د نزدے والي په شان بل شے نهٔ دے لیدلے۔ (شعب الایمان للبیهقیؒ)

پخوانے فرعوني او عادي او اُوسنے فرعوني او عادي به یو شان خبرے کوی، او د حق په خلاف کښې چه هغوی کوم منګړت دلیلونه وئیلي دي، هغه به اُوس هم باطل پرست وائي۔ د خبیث فطرت نه همداسے ګنده او خرابے یو شان خبرے راوځی۔

إِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُوْنٌ: سوال دا دے چه دلته حصر شویدے، او دا دلالت کوی چه کافرانو صرف همدا دوه الفاظ ټولو انبیاؤ ته وئیلي دي حال دا چه دوئ خو نور الفاظ هم وئیلي دي لکه کذّاب اشر او داسے نور؟ جواب دا دے چه دواړه لفظونه ئے په کثرت سره وئیلي دي۔ یا دا چه دا دواړه جامع دي هغه ټولو قبائحو لره چه دوی ئے انبیاؤ ته نسبت کوو ځکه ساحر صفت ټولو فساداتو ته شامل دے، او مجنون هغه حالاتو ته عام دے چه سړے پړے د انسانیت نه بهر کیږي۔

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ: اُوس رسول الله ﷺ ته تسلي او ادب بیانیږي چه تهٔ دوئ سره مهٔ انښله، تا خپل کار وکړو، اُوس تهٔ د الله په نیز د ملامتیا لائق نهٔ ئے، ځکه چه تا خپله ذمه داري پوره کړه۔ نو د تَوَلّي (مخ اړولو) نه مراد دا دے چه د دوئ پرواه مهٔ ساته، خبره مني او که نهٔ مني۔

وَذَكِّرْ: ددے نه معلومه شوه چه د تَوَلَّ معنیٰ دا نهٔ ده چه بیان ورته مهٔ کوه بلکه دوئ ته تذکیر ورکوه، او تذکیر یاداشت ته وائي، یعني خلقو ته فائده منے خبرے رایادے کړه چه اے خلقو! ستاسو الله شته، زهٔ د هغهٔ رسول یم، قیامت حق دے، هغے دپاره په ایمان او توحید او زما په تابعداریٔ سره تیارے وکړئ او شرك او فسادونه او انکار پریدئ۔

فَإِنَّ الذِّكْرٰى: یعنی که کافران فائده نهٔ اخلی د وجه د طغیان (سرکشیٔ) د هغوی نه نو ستا بیان نهٔ ضائع کیږی بلکه ایمان والا به ضرور فائده واخلی۔ ځکه چه ایمان مقناطیسی څیز دے ځان ته خیر راکاږی، او شر دفعه کوی نو دویٔ کښې خیر دے ځکه دویٔ ته تذکیر فائده ورکوی۔

بیا دا قاعده ده چه [بِقَدْرِ اِیْمَانِكَ تَنْتَفِعُ بِالذِّكْرٰى] څومره اندازه چه په تا کښې ایمان وی هغومره به د نصیحت او بیان نه فائده اخلے، په صحابه کرامو کښې ایمان زیات وو نو هغوی ته به د رسول الله ﷺ بیان او قرآن ډیره زیاته فائده ورکوله، زندگی به ئے بدلیدله، د الله تعالیٰ اولیاء ترے جوړ شول۔ وخت په وخت کمزوری د ایمان راځی نو خلق د قرآن او د بیان نه فائده کمه اخلی۔

او ددے مفهوم دا دے چه چا له ذکریٰ فائده نهٔ ورکوی نو هغه بے ایمانه دے۔ سړی کښې چه ایمان نهٔ وی نو د دین خبرے پرے هسے شیشه لګیږی، هیڅ اثر به پرے نکوی نو اُوس ځان پدے باندے تلل پکار دی۔

او د تَعَلَّمْنَا الْاِیْمَانَ ثُمَّ تَعَلَّمْنَا الْقُرْآنَ (عن جندب بن عبد الله) (سنن ابن ماجه رقم: ٦١) وابن بطة فی الابانة رقم (١١٣٦) والاحادیث المرفوعة من التاریخ الکبیر للبخاری رقم: ٥٠٧)

مطلب هم دا دے چه اول اجمالی ایمان زده کړه، چه د الله خبرے حقے دی بیا قرآن ته کینه نو ډیر اثر به درباندے کوی۔ لکه همدغه حدیث کښې روستو الفاظ پدے باندے دلالت کوی۔ (ثُمَّ تَعَلَّمْنَا الْقُرْآنَ فَازْدَدْنَا بِهٖ اِیْمَانًا) بیا مونږ قرآن زده کړو نو پدے سره زمونږ ایمان زیات شو۔ قال فی زوائد ابن ماجه ١٢/١: اسناده صحیح رجاله ثقات)

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴿٥٦﴾
او ما نهٔ دی پیدا کړی پیریان او انسانان مگر ددے دپاره چه بندگی وکړی زما۔
مَا اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَا اُرِيْدُ اَنْ يُّطْعِمُوْنِ ﴿٥٧﴾
نهٔ غواړم د دوی نه څه رزق (د دوی ځانو نولره) او نهٔ غواړم د دوی نه چه خوراك
اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ ﴿٥٨﴾
راکړی ما ته۔ یقیناً الله تعالیٰ ډیر رزق ورکونکے دے خاوند د طاقت مضبوط دے۔

فَإِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا مِّثْلَ ذَنُوْبِ
نو یقیناً هغه کسانو لره چه ظلم ئے کړیدے برخه د عذاب ده په شان د برخے د عذاب
أَصْحَابِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۵۹﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ
د ملګرو د دوی، نو دوی دِے په جلتئ سره نۀ غواړی۔ نو هلاکت دے دپاره د هغه
كَفَرُوْا مِنْ يَّوْمِهِمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۶۰﴾
کسانو چه کفر ئے کړیدے د ورځے د دوی نه هغه چه دوی سره ئے وعده کیدیشی۔

تفسیر: پدے آیت کښې د انسانانو او د پیریانو د پیدائش اصل مقصد ذکر شویدے۔ الله تعالیٰ وفرمایل چه ما پیریان او انسانان صرف دے له پیدا کړی دی چه زۀ دوئ ته د خپل عبادت حکم وکړم، ګنې ماته د دوئ د پیدا کولو هیڅ ضرورت نۀ وو۔

ربط دا دے چه مخکښې ئے په تذکیر باندے حکم وکړو نو دلته ئے وفرمایل چه بندګانو ته د هغوی د پیدائش مقصد بیان کړه،

او پدے کښې بندګانو ته په خبره منلو باندے تیزی ورکوی چه ددے نبی خبره ومنئ ځکه چه تاسو همدے مقصد دپاره پیدا شوی یئ۔

لِيَعْبُدُوْنَ : اَیْ لِاٰمُرَهُمْ اَنْ يَّعْبُدُوْنِیْ ۔ یعنی دے دپاره چه زۀ دوی ته حکم وکړم چه زما بندګی وکړی۔ دلته بعض مفسرینو سوال وجواب لیکلے دے چه دومره فائده مند نۀ دے۔

سوال : هرکله چه الله تعالیٰ دا اراده وکړه چه زۀ بندګان ددے دپاره پیدا کوم چه زما عبادت وکړی نو بیا ډیرو انسانانو او پیریانو د الله تعالیٰ عبادت ونکړو نو دا خو د الله تعالیٰ د ارادے خلاف راغے؟

(۱) بیا ئے دا ضعیف جواب کړیدے چه دلته د عبادت نه مراد تکوینی عبادت دے، یعنی ټول الله تعالیٰ ته تابع دی، نو دا د كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ په شان دے۔

دا جواب ځکه ضعیف دے چه پدے سره د آیت اصل مقصد خرابیږی، ځکه چه د آیت مقصد دا دے چه الله فرمائی : د الله تعالیٰ بندګی وکړئ، او د هغه تفسیر مطلب دا دے چه تۀ الله ته محتاج ئے، عبادت کوے او که نۀ۔

(۲) صحیح جواب دا دے چه دلته امر شرعي مراد دے، نهٔ تکویني۔
یعني ما دے دپاره پیدا کړل چه زهٔ به ورته امر کوم چه زما عبادت وکړي بیا به دغه امر باندے څوك عمل کوي جنت ته به ځي او څوك به ئے نهٔ کوي نو جهنم ته به ځي۔
او الله تهولو انسانانو ته د عبادت امر کړیدے نو که څوك پرے عمل کوي نو د خپل ځان گټه کوي۔
(۳) بعض وائي : د جن او انس نه صرف مؤمنان مراد دي۔ لیکن دے تخصیص باندے دلیل نشته۔
او ددے آیتونو حاصل دا دے چه الله تعالیٰ کائنات د انسان دپاره پیدا کړل او انسان ئے خپل ځان له پیدا کړو چه د هغهٔ بندگي به کوي، چه بندگي ترے کټ شي بیا خو هیڅ پاتے نشو۔
مَا أُرِيدُ مِنْهُمْ مِنْ رِزْقٍ : دلته الله رب العزت خپل عظمت او لوئي او خپله استغناء او بے احتیاجي بیان کړے ده چه د هغهٔ مقام د خپلو بندگانو دپاره هغه نهٔ دے کوم چه د دنیا د آقاگانو د هغوئ د غلامانو په مقابله کښ وي۔ د دنیا آقا (مالکان) د خپلو غلامانو یو قِسم محتاج وي، د دوئ مالکان د دوئ نه د خدمت او تجارت یا مزدورئ په ذریعه د مال مطالبه کوي، حال دا چه الله د خپلو بندگانو نه د بندگئ نه سوئ د هیڅ یو شئ مطالبه نهٔ کوي۔ ځکه هغه غني (بے پرواه) دے، هغه د هیڅ یو شئ محتاج نهٔ دے، هم هغه تهولو له رزق ورکوي، او د هغهٔ قوت داسے زبردست او ناقابلِ شکست دے چه په آسمان او زمکه کښ هیڅ یو شے هغهٔ لره عاجزه کولے نشي۔
او دا جملے په طریقه د عادت د عربو وئیل شویدي چه هغوی به د غلامانو نه دوه قسمه مطالبے کولے، یو دا چه خپله خرچه ځانله خپله پیدا کوه، محنت مزدوري کوه، زهٔ تا ته رزق نشم درکولے۔ دویم دا چه ما ته به هم د ورځے دومره مال راوړے مثلاً یوه یا دوه کیلو کجورے، یا لس شل روپئ۔ دا وجه ده رسول الله ﷺ به فرمایل : چه
[وَلَا تُكَلِّفُوْهُمْ مَا يَغْلِبُهُمْ فَإِنْ كَلَّفْتُمُوْهُمْ فَأَعِيْنُوْهُمْ] (بخاری باب المعاصی من امر الجاهلية رقم : ۳۰)
دوئ باندے آساني راولئ، داسے تکلیف پرے مهٔ ایږدئ چه دوی ترے مغلوب شي، یعني ډیر ټیکس پرے مهٔ اږدئ، کیدے شي چه دومره به نشي پیدا کولے، او که تاسو

پرېے کوم تکلیف کیخودو نو بیا ورسره مدد کوئ.
نو الله فرمائي چه زما غلامی داسې نۀ ده، زما چه څوك بندګي کوی نو زۀ ترېے دا مطالبه هم نکوم چه لاړ شه ځانله خپله روټئ پیدا کړه بلکه زۀ هغه ته رزق ورکوم، اسباب ورته برابروم، او دا هم ترېے نۀ غواړم چه ما ته به ئې راکوې، بلکه الله د ټولو بندګانو پروګرام کوی، هر چا ته رزق رسوی، تۀ بندګي کوه نو فراخه رزق به درکوی.
لنډ مطلب ئې دا شو چه د روټئ ذمه واری ډېے په ما خو تۀ زما بندګي کوه.
دلته الله تعالىٰ رزق او عبادت جمع کړل :
[اِشَارَةٌ اِلٰی اَنَّ الْعِبَادَةَ سَبَبٌ لِلرِّزْقِ الطَّیِّبِ]
پدې کښې اشاره ده چه د پاك رزق دپاره ښکلے سبب د الله بندګي ده، عبادت چه څومره ډېر کیږی نو کور کښې به فراخیانې او رزقونه او نعمتونه وی.
دا راتلونکي آیتونه پرېے دلیل دی.
﴿ فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوْهُ وَاشْکُرُوْا لَهٗ ﴾ (عنکبوت:۱۷) ﴿ وَأْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَیْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰی ﴾ (طه: ۱۳۲) ﴿ وَمَنْ یَّتَّقِ اللهَ یَجْعَلْ لَهٗ مَخْرَجًا وَیَرْزُقْهُ مِنْ حَیْثُ لَا یَحْتَسِبُ ﴾ (الطلاق: ۳/۲).
دویمه **فائده** : یو اثر کښې دی الله فرمائي :
[یَا ابْنَ آدَمَ ! خَلَقْتُكَ لِلْعِبَادَةِ فَلَا تَلْعَبْ، وَکَفَلْتُ بِرِزْقِكَ فَلَا تُتْعِبْ].
اے د آدم ځویه ! ما تۀ د خپلے بندګئ دپاره پیدا کړې ئې نو لوبې مۀ کوه، او ما ستا د رزق ذمه واری اخستے ده نو ځان ډېر مستړے کوه. (لږ لاس خپه به خوزوے ځکه چه هغه د الله تعالىٰ امر دے لیکن شپه او ورځ به دنیا له نۀ ورکوے).
[یَا ابْنَ آدَمَ ! اُطْلُبْنِیْ تَجِدْنِیْ فَاِنْ وَجَدْتَنِیْ وَجَدْتَّ کُلَّ شَیْءٍ وَاِنْ فُتُّكَ فَاتَكَ کُلُّ شَیْءٍ وَاَنَا خَیْرٌ لَكَ مِنْ کُلِّ شَیْءٍ] اے د آدم بچیه ! ما تۀ طلب کړه ما به مونده کړے، که زۀ ډېے وموندم، نو هر شے به وموے او که زۀ درنه فوت شوم نو هر شے درنه فوت شو، او زۀ ستا دپاره د هر شی نه بهتر یم) د الله نه چه محروم شوے نو که ټوله دنیا ستا شوه هیڅ درسره نشته، او چه الله ډېے وګټلو نو هرڅه ستا دی، ډېر مزیدار اثر دے.
(الجواب الکافی ص ۱۹۸ لابن القیمؒ) وطریق الهجرتین ومدارج السالکین)

ډیر خلقو نه چه تپوس وشی چه څه کوې؟ هغه وائی وزګار یم. هیڅ کار مې نشته پریشانه یم. اکثرو انسانانو د خپل ژوند مقصد نهٔ دې پیژندلے، مسلمان به ولے او څنګه وزګار شی چه د هغه مالكِ حقيقي معبود موجود دې، ستا په سر باندې لوی کارونه دی، ځان په اُوږدو سجدو باندې عادت کړه، په اذکارو، د قرآن په لوستلو او په دعوت باندې ځان عادت کړه، او د شپې او د ورځې عبادتونو باندې ځان عادت کړه، نو هیڅ کار ته به وزګار نشې، لیکن مونږ ډیرو انسانانو دا نهٔ دې پیژندلے.

الْمَتِيْنُ: دا ورسره ځکه وائی چه کله یو شے طاقتور وی، لیکن چه بل شے ورته راخطا کړې شی نو هغه مات شی لکه وسپنه. نو الله داسے قوت والا دې چه د هغه قوت نهٔ ماتیږی.

فَإِنَّ لِلَّذِيْنَ : د اول د سورت سره متعلق دې. اُوس دلته رټنه ورکوی د مکے مشرکانو وغیره ته چه د الله تعالیٰ بندګی ئے په توحید سره نهٔ کوله، رسول الله ﷺ به ئے دروغژن ګنړلو او شرك او كفر او شر او فساد او سرکشی ئے کوله، او په خپلو ځانونو ئے ظلم کړے وو، نو دا خلق په مخکنو زمانو کښې د هلاکیدونکو قومونو پشان د لوی عذاب حقدار جوړ شوی دی، دوئ دِې تادی نهٔ کوی، هغه به خامخا راځی، او په مقرر وخت به راځی، الله د خپل معلوم حکمت د وجے نه دا روستو کړې دې، کله چه ددې وخت راشی، نو دا به هیڅوك لرے نهٔ کړی، او دابه ډیر زیات دردناك عذاب وی.

ذَنُوْبًا : اَیْ نَصِيْبًا مِنَ الْعَذَابِ . یعنی برخه د عذاب ده. او ذنوب په اصل کښې بوکے ته وائی یعنی د عذاب ډکے بوکے به پرې راوا چوی.

أَصْحَابِهِمْ: یعنی ددې نه مراد هغه خلق دی چه دوئ سره په ګناه کښې یو شان دی چه هغوی هم کفر او شرك کولو او دوی هم.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ: د عذاب د کومے ورځے وعده چه دوئ سره شوے ده هغه به د کافرانو لپاره د هلاکت او بربادئ ورځ وی. مفسرین لیکی چه ددې نه مراد یا خو د قیامت ورځ ده، یا د بدر غزا ده، هر کله چه د مشرکانو بیخ بنیاد ختلے وو.

مفسر ابو السعودؒ اولنئ رائے له ترجیح ورکړې ده.

مِنْ يَّوْمِهِمْ: یعنی د هغه ورځے د وجه نه چه دوئ ترے انکار کړے وو دوی ته به هلاکت ورسیږی. بله دا چه هغه ورځے له به ورشی نو هغه به د دوئ دپاره عذاب وګرځی نو تول

د هغې په وجه تباه شول. وبالله التوفيق.

امتیازات د سورت

۱- د قیامت د ورځې واقع کیدل او د هغې رشتینوالې.
۲- د بندګانو د پیدائش مقصد پکښې ذکر شو.
۳- ډیر عبادات ئې ذکر کړل دپاره د نجات.
ختم شو تفسیر د سورة الذاریات په مدد د اله العالمین ۳ رجب لیلة الاثنین ۱٤۳۷ هـ
موافق: (۱۰/٤/۲۰۱٦) بجه: ۱۱:۵۰. ابوزهیر شیخ آباد.



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آیاتها (٤٩)	(٥٢) **سورة الطور مكية** (٧٦)	ركوعاتها (٢)

سورة طور مکی دے، په دے کښ یو کم پنځوس آیتونه او دوه رکوع دی۔

تفسیر سورة الطور

نوم : ددے سورت اولنے لفظ [الطُّوْر] دے، همدا ددے نوم کیښودلے شوے۔

د نازلیدو زمانه : قرطبیؒ لیکی چه د ټولو په نیز دا سورت په مکی دور کښ نازل شوے، بیهقیؒ وغیره د ابن عباس ﷺ نه روایت کړی دی چه سورة الطور په مکه کښ نازل شوے۔

فضیلت

رسول الله ﷺ به دا کله د ماښام په مانځه کښ لوستلو۔ (بخاری عن جبیر بن مطعم ﷺ)

مناسبت

١- مخکښ ئے د اثبات د آخرت دپاره څلور ګواهیانے ذکر کړے، او دلته پنځه راوړی نو په شوا هدو کښ ئے مناسبت شو۔

٢- په سورت ذاریات کښ ئے خبر ورکړو چه د قیامت وعده صادقه ده، او د جزاء او سزا واقع کیدل حق دی، نو دلته یو صورت د جزاء ذکر کوی چه هغه عذاب دے، نو پدے سورت کښ به تخویف زیات ذکر کیږی۔

٣- مخکښ سورت کښ سبب دافِعه د عذاب بیان شو چه عبادت دے، نو دے سورت کښ عذاب بیانوی چه که دغه سبب مو اختیار نکړو نو عذاب راروان دے۔

٤– مخکښې سورت کښې اجمالي زيرے وو متقيانو ته، نو دلته تفصيلي زيرے بيانوي۔

د سورت مقصد

اَلْإِخْبَارُ بِوُقُوْعِ عَذَابِ اللّٰهِ عَلَى الْمُنْكِرِيْنَ۔ دا خبر ئے ورکړے چه د الله عذاب به په منکرينو خامخا واقع کيږي، دا هم د سزا او جزاء سره متعلق دے۔
بيا پدے کښې دوه قسمه عذابونه بيانيږي، يو اُخروي لکه روستو ﴿ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ﴾ کښې ذکر دے، او په آخر د سورت (٤٧) آيت کښې دنياوي عذاب ذکر دے۔
او پدے سورت کښې هم سبب دافعه د عذاب ذکر کيږي لکه تقویٰ، (وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا)، ايمان، بيا درے صفات لکه مُشْفِقِيْن، نَدْعُوْهُ، فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا۔
آخر د سورت کښې وائي : وَاصْبِرْ وَسَبِّحْ وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ الخ، د دواړو سورتونو دعوت يو شان دے خو تعبيرات ئې مختلف دي۔ گويا که داسے ئې ووئيل چه د الله عذاب واقع کيږي په چا؟ په منکرينو، څوك به ترے بچ کيږي؟ متقيان او نورو ښو صفات والا،
نو د عذابونو د دفع کولو دپاره اسباب اختيار کړئ، عذابونه چرته دي؟ نو په دنيا کښې هم شته او په آخرت کښې هم۔ دا حاصل شو۔

وَالطُّوْرِ ﴿١﴾ وَكِتَابٍ مَّسْطُوْرٍ ﴿٢﴾ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ﴿٣﴾ وَالْبَيْتِ
قسم دے په طور غر۔ او په کتاب ليکلے شوی۔ په پاڼړو خورو ورو کښې۔ او په کور
الْمَعْمُوْرِ ﴿٤﴾ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ﴿٥﴾ وَالْبَحْرِ
آباد کړے شوی باندے۔ او په چت پورته کړے شوی باندے۔ او په درياب
الْمَسْجُوْرِ ﴿٦﴾ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴿٧﴾
ډك کړے شوی باندے۔ يقيناً عذاب د رب ستا ضرور واقع کيدونکے دے۔
مَا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ ﴿٨﴾
نشته هغے لره هيڅ دفع کونکے۔

تفسير: په دے شپږو آيتونو کښې الله تعالیٰ په خپلو يو څو مخلوقاتو باندے قسم

خوری او مقصد پکښې د آوریدونکو په ذهنونو کښې د هغې خبرې اهمیت کینول دی په کومه باندې ئې چه قسَم خوړلے دے، او د کوم ذکر چه په (۷) آیت کښې راغلے دے، یعنی د جهنم عذاب چه دا یو یقینی څیز دے، او کوم خلق چه ددے حقدار وی په هغوئ به خامخا عذاب نازلیږی، دا یوه داسے خبره ده چه په دے کښې د ذرے هومره د شك او شبهے گنجائش نشته دے۔

وَالطُّوْرِ : په سُریانئ ژبه کښې غرۀ ته وائی، او په عربی ژبه کښې [كُلُّ جَبَلٍ ذُوْ نَبَتٍ حَسَنٍ] هر هغه غر چه شنه ښائسته گیاه پکښې وی۔

د صحرائے سیناء په کوم غرۀ باندے چه موسیٰ علیه السلام د رب العالمین سره خبرے کړے وے، هغې ته (طورِ سیناء) وئیلے کیږی، چه د الٰهی تجلیّ د طاقت نۀ لرلو په وجه دا ټکړے ټکړے شوے وو۔ او دلته هم دا طور مراد دے۔

وَكِتَابٍ مَّسْطُوْرٍ : (قسَم دے په یو لیکلے شوی کتاب) دے نه مراد ❁ یا خو قرآن کریم دے، ❁ یا لوح محفوظ ❁ یا تمام آسمانی کتابونه۔ ❁ یا تورات مراد دے۔ او همدا راجح ده ځکه چه هغه په خوره وره څرمنه کښې لیکلے شوے وو۔

(رق) هغه باریکے څرمنے ته وائی چه هغه به پخوانئ زمانه کښې د کاغذ په طور د لیکلو دپاره استعمالیده۔

وَالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ : (قسَم دے په آباد کور باندے) دے کښې درے قوله دی (۱) یا ددے نه مراد هغه کور دے چه هغه په اووم آسمان کښې دے، کوم چه نبی کریم ﷺ د معراج په شپه لیدلے وو، او وے لیدل چه روزانه اویا زره ملائك دیته ننوزی، او دوباره ددے نه واپس نۀ راوځی۔ ملائك ددے کور داسے طواف کوی څنگه چه زمکے والا د خانه کعبے طواف کوی۔ نبی کریم ﷺ ابراهیم علیه السلام اولیدۀ چه همدے بیت المعمور ته ئې تکیه لگولے وه ناست وو۔ او دا بیت المعمور د خانه کعبے مخامخ دے۔

او هم دغسے یو کور په هر آسمان کښې موندلے کیږی چه د هغې خوا او شاته د همدغه آسمان اوسیدونکی عبادت کوی۔ د دنیا د آسمان د کور نوم ((بیت العزة)) دے۔ نو دا کور د ملائکو په عبادتونو سره آباد دے۔

(۲) بعضِ خلقو د ﴿وَالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ﴾ نه مراد خانه کعبه اخستے ده چه دا په عبادتونو (د حج او عمره او طواف کونکو، اعتکاف کونکو او ذکر کونکو او نفلونه کونکو

باندے شپه او ورځ آباده ده، په هيڅ وخت کښې نهٔ فارغه کيږي).
(۳) بعض وائي : ددے نه مراد زمکه ده چه په انسانانو او نورو مخلوقاتو باندے آباده ده۔ ليکن ددے مناسبت دومره نشته۔ او په زمکه باندے د بيت اطلاق بعيد دے۔
مخکني قولونه صحيح دي۔ بيا صاحب د محاسن التنزيل دويم تفسير د سورتِ تين په دويم او دريم آيتونو ﴿ وَطُورِ سِينِينَ وَهٰذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ ﴾ په رڼړا کښې غوره کړے دے۔
يعني هلته د طورِ سيناء سره د بلدِ امين (مکے مکرمے) ذکر راغلے دے، دے وجے نه دلته هم د طور ذکر کولو نه پس د (البيت المعمور) نه مراد خانه کعبه ده چه په مکه کښې ده، ځکه د قرآن کريم يو آيت د بل آيت تفسير کوي۔
[سَقْفِ مَرْفُوعٍ] نه مراد آسمان دے، او چونکه دا د زمکے دپاره د چت پشان دے، دے وجے نه ددے نه په چت سره تعبير وکړے شو۔ او د [الْبَحْرِ الْمَسْجُورِ] نه مراد :
(۱) يا خو د اوبو نه ډک سمندر دے،
(۲) يا دا چه کله قيامت راشي، نو د سمندرونو اوبهٔ به اُور جوړ شي۔ اَيِ الْمُوْقَدِ الْمَحْمِيِّ۔ يعني بل کړے شوے په اُور سره۔
(۳) اَلْمَمْنُوْعُ عَنِ الْاَرْضِ ۔ د زمکے نه بند کړے شوے، سره ددے نه چه زمکه خکته ده، او د درياب سطح پورته ده، او دا د رب العالمين ناشنا قدرت دے چه ددے په وجه ډير کافران سائنسدانان مسلمانيږي۔
(٤) بعض وائي : دا د اَضدادو نه دے، فارِغ يعني خالي ته هم وائي۔ (ابو العاليهٔ)
يعني د قيامت په ورځ به د درياب اُوبه جهنم سره ملاؤ شي، نو د درياب زمکه به همواره شي، او پدے باندے تول عالَم الله ته ولاړ وي۔
(٥) بعضو ددے معنیٰ په (مَفْجُوْر) سره کړے ده، يعني تمام سمندرونه به اوشليږي، خوږے اوبهٔ به ترخو اُوبو سره ملاؤ شي۔ لکه ﴿ وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴾ (انفطار :۳)
امام شوکانيؒ دويمے معنے له ترجيح ورکړے، يعني په هغه سمندر باندے ئے قسَم خوړلے چه د هغے اُوبهٔ به د قيامت په ورځ اُور جوړ شي۔
إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ : ١-اَیْ عَلَی الْمُکَذِّبِيْنَ ٢- عَلَی الظَّالِمِيْنَ۔ ٣- عَلَی الْمُشْرِكِيْنَ۔
لکه دا درے واړه دے سورت ذکر کړيدي۔ دا عذابونه به تکذيب کونکو، ظالمانو او مشرکانو باندے نازليږي۔

مناسبت د قسم او جواب قسم دا دے

چه په طور کښې الله تعالیٰ عذاب راوستے وو په اَویا کسانو د بنی اسرائیلو باندے۔ او په کتاب مسطور (تورات) کښې د پخوانو قومونو عذابونه ذکر کړی وو۔ او په بیت المعمور کښې هر وخت ملائك د مؤمنانو نه د عذاب د دفع کولو دعاګانے د الله تعالیٰ نه غواړی۔ نو هغه ځای هم د ذکر د عذاب دے۔

او که کعبه مراد شی نو په دغه ځای کښې عذاب په اَبْرَهَه راغلے دے۔ او دغه شان قریشو له ئے سزا ورکړه۔

وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ : هم د عذاب ځای دے، قوم نوح او فرعونیان او نور کفار پکښې هلاك شویدی۔ نو دغه د عذاب ځایونه رایاد کړه چه په دنیا کښې الله تعالیٰ په دغه ځایونو کښې عذابونه نازل کړی او ذکر کړیدی، نو دغه شان به د آخرت عذاب هم راځی۔ نو ددے استحضار پکار دے۔

په یو حدیث کښې دی چه عمر فاروق ﷛ یوه شپه روان وو، نو د یو قاری نه ئے دا آیت واوریدو چه ﴿ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴾ نو دے د خپل خر نه راکوز شو او یو دیوال ته ئے تکیه ولګوله بیا کور ته لاړو، نو ددے په وجه بیمار شو، خلق د هغهٔ د بیماریٔ په وجه نهٔ پوهیدل، بیا ئے خپله حال ووئیلو چه په ما باندے دے آیت ډیر اثر وکړو۔

او ډیرو سلفو باندے به آیتونو داسے اثر کولو چه بیماران به شول، او ډیر پکښې د ډیر سوچ او فکر د وجه نه مړهٔ شوی هم دی۔ دا خو زمونږ زړونه سخت دی چه دومره اثر نهٔ اخلی۔

مَا لَهُ مِنْ دَافِعٍ : یعنی ددے دپاره څوك دفع کونکے نشته چه د کافرانو نه ئے واړه وی، واپس ئے کړی۔

يَوْمَ تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا ﴿٩﴾
په هغه ورځ چه تاؤ راتاؤ به شی آسمان په تاویدو سره۔ (وبه چورلی آسمان په
وَتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ﴿١٠﴾ فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ
چورلیدو)۔ او روان به شی غرونه په روانیدو سره۔ پس هلاکت دے په دغه ورځ

لِلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۱﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ ﴿۱۲﴾
دپاره د تکذیب کونکو۔ هغه کسان چه دوی په باطله مشغله (بکواس) کښې لوبے
يَوْمَ يُدَعُّوْنَ إِلٰى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ﴿۱۳﴾
کوی۔ هغه ورځ چه دوی به دیکه کولے شی اُور د جهنم ته په دیکه کولو سره۔
هٰذِهِ النَّارُ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿۱۴﴾ أَفَسِحْرٌ هٰذَا
(وئیلے به شی) دا هغه اُور دے چه تاسو به دا دروغژن گنړلو۔ آیا نو جادو دے دا
أَمْ أَنْتُمْ لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۱۵﴾ اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْا أَوْ لَا تَصْبِرُوْا سَوَاءٌ
که تاسو هیڅ نۀ وینئ۔ ورننوځئ دے ته پس صبر کوئ یا صبر مۀ کوئ برابره ده
عَلَيْكُمْ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾
په تاسو باندے، یقیناً تاسو له بدله درکړے کیږی د هغے عملونو چه تاسو به کول۔

تفسیر : د قیامت ددے ورځے ځینے نښے دا دی چه په دے ورځ به آسمان انتهائی تیزئ سره حرکت کوی، او غرونه به د خپلو ځیونو نه اخوا شی، د وریځو پشان به روان شی، او گرد او غبار به ترے جوړ شی او آلوزی به۔

او په کومه ورځ چه د آسمانونو او غرونو دا کیفیت وی، نو کومو خلقو چه الله او د هغۀ رسول او د هغۀ قرآن دروغژن گنړلے وی، هغوئ لپاره به د ډیر لوی هلاکت او بربادئ ورځ وی، یا به په جهنم کښې د دوئ استوگنه (وَيْلٌ) نومے کنده وی۔

يَوْمَ: یعنی دغه عذاب به پدے ورځ کښې واقع کیږی۔

تَمُوْرُ السَّمَاءُ مَوْرًا: مور گرد گرځیدو (چورلیدو) ته وائی۔ دارنګه تلو راتلو ته وائی۔ مراد ترے نه گډوډ حرکت کول دی۔ دارنګه دا معنیٰ هم ده چه روان به شی په روانیدو۔

ضحاکؒ وائی : [يَمُوْجُ بَعْضُهَا فِيْ بَعْضٍ] چپے به وهی بعضے په بعضو کښې۔

وَتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا: غرونه به د اسرافیل ﷺ په دویمه شپیلئ باندے روانیږی۔

فَوَيْلٌ: اُوس د ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ﴾ تشریح کوی چه دا عذاب به په چا واقع کیږی، نو هغه خلق بیانوی۔

الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ: (١) اَىْ فِيْ بَاطِلِهِمْ يَسْتَهْزِؤُوْنَ بِالنَّبِيِّ۔
یعنی دا هغه خلق دی چه په دنیا کښې د باطل تائید کوی، او په هغې کښې ننوزی، او د آخرت د ورځې د حساب او سزا نه غافله په لهو او لعب کښې مشغوله اوسیږی، او نبی کریم ﷺ پورې تـوقـې مسخرې کوی۔ یعنی په باطل کښې به روان وو او ښه خوشحاله به وو، او د هیڅ حساب او عذاب او عقاب نه به نۀ یریدل چه دا مونږ څه کوو۔
(٢) د ﴿فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ﴾ بـلـه مـعـنـىٰ دا هم بیان شوې چه دا به هغه خلق وی چه په دنیا کښې په عیش او آرام کښې ډوب او د آخرت د فکر نه بیخی غافل اوسیدل۔
يَوْمَ يُدَعُّوْنَ : دا د مـخکښې (وَيْلٌ) سره متـعـلـق دې۔ یـعنی دوئ به په دغه ورځ هلاك کړې شی چه دوئ به په نهایتِ بې دردئ سره په دیکو دیکو جهنم ته ګوزار کړې شی۔
مـقـاتـل وائـی چـه د دوئ لاسونه به د دوئ څټونو سره، او د دوئ سرونه به د دوئ د خپو سره اوتړلې شی، بیا به پرمخې جهنم ته وردیکه کړې شی۔
دع په اصل کښې اَلدَّفْعُ بِعُنْفٍ وَّجَفْوَةٍ ته وئیلې شی، یعنی په سختئ او بې دردئ سره دیکه کول، چه ملائك به دوئ لره په څټونو کښې په ګورزونو سره وهی او اُور ته به ئې راولی۔
هٰذِهِ النَّارُ الَّتِيْ: یـعنی دوئ ته به په جهنم باندې مقرر ملائك وائی چه همدا د جهنم هغـه اُور دې چـه پـه دنیـا کـښې به تاسو دا دروغژن ګڼړلو، او الله تعالىٰ به د دوئ د ذلت او سپـکـاوی زیـاتـولـو دپاره دوئ تـه وائـی چـه د جهنم دا اُور کوم چه تاسو اُوس په خپلو سترګو وینئ،
آیـا دا جـادو او تـوقـه ده څنګه چه تاسو په دنیا کښې زمونږ رسولانو ته جادوګر او زمونږ کتـابـونـو تـه جادو اوچتی قیصې وئیلې، یا تاسو ړانده یئ، او د جهنم اُور نۀ وینئ، څنګه چه تاسو په دنیا کښې د زړونو ړانده وئ او نیغه لاره به مو نۀ موندله۔
اِصْلَوْهَا: اُوس خو هغه حقیقت چه د هغې نه به تاسو په دنیا کښې انکار کولو ستاسو د سترګـو مـخـامخ دې۔ اُوس جهنم ته داخل شئ، او ددې د عذاب سختئ برداشت کوئ، که صبر کوئ او که نۀ ئې کوئ دواړه حالته برابر دی۔
هـیـڅکله ستاسو اُوس د جهنم د اُور نه خلاصون نشته، تاسو د خپل رب نه انکار کړې وو، او زمـکـه مـو د ګـنـا هـونـونـه ډکـه کړې وه، نو دا عذاب ستاسو د همدغه بدعملیو نتیجه ده۔

إِنَّ الۡمُتَّقِيۡنَ فِيۡ جَنَّاتٍ وَنَعِيۡمٍ ﴿١٧﴾ فَاكِهِيۡنَ
یقیناً تقویٰ والا بندګان به په جنتونو او نعمتونو کښې وي۔ مزې اخستونکي به وي
بِمَا آتَاهُمۡ رَبُّهُمۡ وَوَقَاهُمۡ رَبُّهُمۡ عَذَابَ
په هغه څه چه ورکړيدي دوی ته رب د دوی او ساتلي يې دوی لره رب د دوی د عذاب د
الۡجَحِيۡمِ ﴿١٨﴾ كُلُوۡا وَاشۡرَبُوۡا هَنِيۡئًا بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿١٩﴾
جهنم نه۔ خورئ او څکئ مبارك دې وي په سبب د هغه عملونو چه تاسو به کول۔
مُتَّكِئِيۡنَ عَلٰى سُرُرٍ مَّصۡفُوۡفَةٍ
تکيه به وهونکي وي په تختونو باندې چه صف صف کړې شوي به وي
وَزَوَّجۡنَاهُمۡ بِحُوۡرٍ عِيۡنٍ ﴿٢٠﴾ وَالَّذِيۡنَ
او يوځائې به کړو دوی سره حورې ښائسته سترګو والا۔ او هغه کسان
آمَنُوۡا وَاتَّبَعَتۡهُمۡ ذُرِّيَّتُهُمۡ بِإِيۡمَانٍ أَلۡحَقۡنَا
چه ايمان يې راوړيدې او تابعداری کړيده اولادو د دوی په ايمان کښې، يوځائې به کړو
بِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَمَا أَلَتۡنَاهُمۡ مِّنۡ عَمَلِهِمۡ مِّنۡ شَيۡءٍ كُلُّ امۡرِءٍ
دوی سره اولاد د دوی او کم به نۀ کړو دوی لره د عملونو د دوی نه هيڅ شے، هر سړے
بِمَا كَسَبَ رَهِيۡنٌ ﴿٢١﴾
به د هغه عمل چه کړے يې دے انتظار کونکے وي۔ (هر سړے به په هغه عمل چه کړے يې دے ګانړه وي) (بند وي)۔

تفسير : د قرآن کريم د عامې قاعدې مطابق، د جهنم والو د بد انجام نه پس اُوس د جنت والو دپاره د تيار شوو نعمتونو ذکر کيږي۔ او دا اسباب د دفع د عذاب دي۔ چه دا لاره اختيار کړئ د عذابونو نه به بچ شئ۔

الله تعالیٰ وفرمايل چه په دنيا کښې د شرك او ګناهونو نه بچ کيدونکي به د قيامت په

ورځ په جنتونو او باغونو کښې وي، او دوئ لپاره به هيڅ کله نۀ ختميدونکی نعمتونه وي، هلته به دوئ د الله له خوا د ورکړے شوو نعمتونو نه ښۀ راحت او خوندونه مومي۔ او يو ډير لوی نعمت به دا وي چه د دوئ رب به د دوئ د آزادئ اعلان کوي، پابندي ختمه، او دوئ ته به وئيلے کيږي چه په دنيا کښې چه تاسو کوم نيك عملونه کول، د هغے په سبب اُوس د جنت دے مثاله نعمتونو نه چه مو څۀ زړۀ غواړي خورئ څکئ، دلته به ستاسو په عيش او آرام کښې هيڅ خلل رانشي، او نۀ به تاسو له اُوس مرگ راځي۔

فَاكِهِيْنَ: اَىْ نَاعِمِيْنَ مُتَلَذِّذِيْنَ۔ يعني دوئ به مزے او خوندونه اخستونکي وي په هغه نعمتونو چه دوی ته ئے خپل رب ورکوي۔ تفکه په معنیٰ د تعجب او گپ شپ لگولو، تکبر کولو، او پښيمانه کيدو سره راځي لکه ﴿ فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ ﴾ (الواقعه : ٦٥) ليکن دلته ئے اوله معنیٰ مناسب ده۔

وَوَقَاهُمْ : يعني دوئ سره الله لوی احسان دا وکړو چه دوی ئے د عذاب د جهنم نه بچ وساتل۔

مُتَّكِئِيْنَ: دا د فَاكِهِيْنَ تشريح ده۔ يعني په دے جنتونو کښې به جنتيان په صفونو کښې لگيدلو تکيه گانو باندے تکيه لگولو سره کيني، او الله تعالیٰ به د دوئ سره غټو سترگو والا حُورے يو ځای کړي۔ دلته د تزويج نه مراد نکاح کول نۀ دي بلکه په معنیٰ د يو ځای والي سره دے ځکه چه حورو باندے به د انسان ملك يميني راځي، نۀ ملك نکاحي ځکه چه ملك يميني ډير قوی دے د ملك نکاحي نه۔

وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا : دا بل نعمت دے چه الله تعالیٰ مؤمن يواځے جنت ته نۀ بوځي بلکه کوم بچو چه په دنيا کښې ايمان راوړے وي، نيك عملونه ئے کړي وي، او د گناهونو نه بچ شوي وي، دوئ که چرے په خپلو عملونو باندے د جنت هغه مقام حاصلولے نشو کوم چه د دوئ د نيکانو مور پلار وي، نو الله تعالیٰ به د دوئ د والدينو په خوشحالئ کښې د زياتوالي دپاره د دوئ درجے پورته کړي، او د دوئ د مور پلار مقام ته به ئے اورسوي۔ سعيد بن جبيرؒ د ابن عباس ﷺ نه همدا تفسير روايت کړے دے۔ نو د مؤمن نيك عمل د اولادو دپاره هم مفيد ثابت شو۔

بيا غوره دا ده چه دا اولاد وړوکي وي او که بالغان وي خو د مور او پلار سره به ئے الله

تعالیٰ د هغوی د سترګو د یخوالی دپاره یو ځای کوی۔
بِـاِیْمَانٍ: دا حال دے یعنی په حال کون د دغه اولاد کښ چه دوئ ایمان سره وی، او د وړوکو ایمان تبعی دے، د مور او پلار تابع دی۔
او السراج المنیر ذکر کړیدی چه ذریت لفظ د اولاد نه عام دے، شامل دے پلارانو، اولادو او تابعداری کونکو ملګرو او شاګردانو ته، او دے ته ذُرِّيَّةُ الْوِلَادَة او ذُرِّيَّةُ الْإِفَادَة او ذُرِّيَّةُ الْمَحَبَّة وائی۔ او دلیل پرے (اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ) دے۔ نو بیا پدے کښ ډیر زیرے دے چه الله به د جنتیانو سره د هغوی روستو ټول مؤمن نسل یو ځای کوی، او د هغهٔ ملګری او شاګردان به هم ورسره وی۔ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْهُمْ ۔ دغه شان بل طرفنه واخله که ځوی اعلیٰ مقام والا وی، نو الله به ورسره پلاران یو ځای کړی۔
وَمَا اَلَتْنَاهُمْ: یعنی د دوئ د خوشحالولو دپاره چه د دوئ اولاد د دوئ سره یو ځای کولے شی، نو پدے سره به د پلارانو په اجر او ثواب کښ کمے نهٔ کیږی۔ دا په وَيَزِيْدُهُمْ مِنْ فَضْلِهٖ نعمت کښ داخل شو۔
كُلُّ امْرِءٍ بِمَا كَسَبَ رَهِيْنٌ : (۱) دا په حشر کښ مراد دے، او پدے کښ د الله تعالیٰ د عدل او انصاف بیان دے، یعنی هر چا چه څه عمل کړے وی، نو په هغے کښ به ګانړه وی او راګیر وی، الله به د چا نیوکه د بل چا د ګناهونو په وجه نهٔ کوی۔
هر انسان به صرف د خپل عمل ذمه وار وی، په دهٔ به د بل چا د ګناهونو بوج نشی اچولے، اګرکه ددهٔ پلار یا ځوی ولے نهٔ وی، لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورتِ مدثر په (۳۸/۳۹) آیتونو کښ فرمائیلی دی :
﴿كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ إِلَّا أَصْحَابَ الْيَمِيْنِ﴾
(هر نفس د خپلو عملونو په بدله کښ ګانړه دے، مګر ښی طرف والا)۔
رَهِيْنٌ: مُرْتَهَن (یعنی ګانړه کړے شوی) ته وائی۔ لکه څنګه چه یو سړی پورے ستا قرض دے، او تهٔ ترے د هغے په بدله کښ ګانړه ونیسے، نو دا شے به بند وی ترڅو چه قرض ادا شوے نهٔ وی، نو دغه شان هر انسان به په خپل عمل کښ بند وی۔
دلته كُلُّ امْرِئٍ نه کافران مجرمانِ مراد دی، مؤمنان به ګانړه نهٔ وی لکه د سورتِ مدثر په دغه آیت کښ د هغوی استثناء ذکر ده۔
(۲) دے کښ دا هم جائز ده چه د دنیا سره متعلق شی، یعنی هر سړے په خپل نیك او

بد عمل کښې بند دے، که نیک عمل ئے کړے وی نو هغه به ئے خلاصوی او که بد عمل ئے کړے وی نو هغه به ئے رابندوی او هلاکوی به ئے۔

وَأَمْدَدْنَاهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۲۲﴾
او وربه کړو دوی ته میوے او غوښې د هغې نه چه دوی ئے خوښوی۔
يَتَنَازَعُوْنَ فِيْهَا كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا
یو بل نه به اخلی په دے کښې کاسے ډکے نۀ به وی په هغے بے فائدے خبرے (بکواس) وی په هغے
وَلَا تَأْثِيْمٌ ﴿۲۳﴾ وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ
کښې او نۀ گناه۔ او گرځی به (د خدمت دپاره) په دوی باندے هلکان د دوی گویا کښې
لُؤْلُؤٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿۲٤﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ
دوی ملغلرے دی پټے ساتلے شوے۔ او مخامخ به شی بعض د دوی بعضو ته
يَتَسَاءَلُوْنَ ﴿۲٥﴾ قَالُوْا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ
یو بل نه به تپوس کوی۔ وائی به دوی یقیناً مونږ وو مخکښې ددے نه
فِيْ أَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ ﴿۲٦﴾ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا
په کورنۍ کښې یریدونکی (د الله نه)۔ نو احسان اوکړو الله تعالیٰ په مونږ باندے
وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ﴿۲۷﴾ إِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ
او وے ساتلو مونږ د عذاب د گرمے هوا نه۔ یقیناً مونږ به ددے نه مخکښې
نَدْعُوْهُ إِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ ﴿۲۸﴾
دعاگانے غوختلے د الله نه، یقیناً هغه ډیر احسان کونکے، رحم کونکے دے۔

تفسیر :وَأَمْدَدْنَاهُمْ بِفَاكِهَةٍ: او مونږ به د دوئ د رغبت (مینے) مطابق دوئ له ښے میوے او غوښه ورکوو هلته به دا خلق یو بل نه مخکښې کیدو سره د یو بل نه د شرابو پیالے راخلی، چه د هغے په وجه به دوئ نۀ بیهوده خبرے کوی، نۀ څۀ گناه او په دوئ

بانـدے بـه د دوئ دپاره خاص کړے شوی خـدمتـگاران هلکان تیریږی، چه هغه به په سیپیو کښ بندو ملغلرو غونته ښائسته وی۔
يَتَنَازَعُونَ: ١ - اَیْ يَتَعَاطَوْنَ۔ یعنی یو بل له به ورکوی۔
٢ - تنازع په لغت کښ جنگ ته وائی، یعنی یو بل سره به گلاسونه د شرابو جنگوی۔ لکه دا د شرابیانو طریقه ده چه کله شراب څکی، نو اول ئے د یو بل سره وجنگوی نو دے حالت ته اشاره ده۔
٣ - یا د نـزع نـه دے پـه مـعـنـیٰ د راښـکـلـو سره، یعنی د یو بل نه به د شرابو گلاسونه تښتـوی، او راکاږی بـه ئے لـکـه څـنـگه چه په دنیا کښ خوشحاله مست ملگری داسے کوی۔
كَأْسًا: د شرابـو لـوښـی تـه وائی، بیا هر هغه لوښی باندے ئے اطلاق کیږی چه ډك وی برابره ده چه د شرابو نه وی او که د بل څه نه۔
لَا لَغْوٌ فِيهَا: لـغـوه هـغـه خبرےتـه وائی چه په هغے کښ فائده نهٔ وی، اوتأثیم د گناه خبرے ته وائی۔ نو د لغو نه مراد د جگړے خبرے، کنځل او باطل دے۔
او تأثیم نه مراد ابن عباس ﷺ فرمائی: لَاكَذِبَ فِيهَا۔ دروغ به پکښ نهٔ وی۔
وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ: او د دوئ د خـدمت لپاره به د دوئ نه گیر چاپیره خادمان هـلـکـان گرځی، او د دوئ د خوراك دپاره به دوئ ته میوے او د څښکلو لپاره ډك جامونه پیـش کـوی، او دا به داسے ښائسته شکل والا وی لکه په سیپیٔ کښ بندے ملغلرے، چه پـه هغے بـانـدے چا لاس نـهٔ وی وهـلـے۔ نـو دا ئے خادمان شو نو د مخدومینو حسن او ښائست به څو مره وی!!۔ او هلکانو قید ځکه لگوی چه کله مشر سړے خدمت کوی نو انسان باندے بوج پریوزی، او چه کشر خدمت کوی نو دا ډیره مزه کوی۔
وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ: جـنـتیان به خپلو کښ داسے خبرے کوی چه ددے نه به مقصد په جنت کښ د رب العالمین د ورکړو نعمتونو ذکر او په دے باندے د هغهٔ شکر اداء کول وی۔
او دارنگه پدے تپوس کښ به مقصد خپل تعب او خوف رایادوی۔
یا بـه یـو بل ته وائی چه تاسو ته دا اُوچته مرتبه څنگه ملاؤ شوه؟ نو الله د ټولو خلقو د جـواب خـلاصه بیانوی چه هغه درے خبرے دی چه پدے سره بنده جنت ته داخلیږی۔ او پدے کښ په طریقه د جملے خبریې سره دعوت دے۔

اول :إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيْ أَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ: ١- اَىْ خَائِفِيْنَ وَجِلِيْنَ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ۔
یعنی مونږ به د قیامت د ورځے راتګ نه مخکښ په دنیا کښ د الله د عذابونو نه یریدو۔
(٢) خَائِفِيْنَ مِنْ عِصْيَانِ اللّٰهِ۔ یا یریدونکی وو د الله د نافرمانئ نه۔
(٣) مِنْ نَزْعِ الْإِيْمَانِ وَفَوْتِ الْأَمَانِ ۔ ددے نه یریدو چه چرته ایمان رانه وانخستے شی او هلاك نشو۔
(٤) مِنْ رَدِّ الْحَسَنَاتِ وَالْأَخْذِ بِالسَّيِّئَاتِ ۔ ددے نه یریدو چه زمونږ نیکیانے به قبولے نشی، او په ګناهونو به راونیولے شو۔ مقصد دا چه هر وخت په یره کښ وو ځکه چه په کور کښ انسان په امن کښ وی، نو دوئ چه هرکله په ځای د امن کښ په یره وسیدل، نو د خوف په ځای کښ خو به په طریق اولیٰ سره په یره کښ وو۔
او مُشْفِقِيْنَ کښ شفقت ته هم اشاره ده، یعنی دوئ د الله تعالی په مخلوق باندے شفقت لرونکی وو۔ لکه په اِنَّا كُنَّا نَدْعُوْهُ کښ د الله تعالیٰ د امر تعظیم ته اشاره ده۔
ابراهیم تیمیؒ به وئیل : [اَخْشٰى اَنْ مَنْ لَمْ يَكُنْ فِيْ قَلْبِهٖ حُزْنٌ وَلَا اِشْفَاقٌ اَنْ لَّا يَكُوْنَ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ] زۀ یریږم چه د چا په زړه کښ غم او یره نۀ وی چه هغه به د جنتیانو نه نۀ وی۔ ځکه چه الله تعالیٰ د جنتیانو په باره کښ فرمائی :
﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ﴾ او ﴿ فِيْ اَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ ﴾
یو سړی کښ یره نۀ وی، نو هغه به ځنګه ووائی چه مونږ به په دنیا کښ د الله تعالیٰ نه یریدو۔ او د یرے نښه دا ده چه د انسان په ژوندګئ کښ تبدیلی پیدا شی۔
فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا : دا دویم سبب د نجات دے۔ چه د الله احسان زمونږ سره شاملِ حال شو، هغه مونږ ته ګناهونه معاف کړل، او په مونږه ئے رحم وکړو او د خپل طاعت توفیق ئے راکړو۔
السَّمُوْمِ: دا هغه ګرمه هوا ده چه د بدن په مساماتو کښ ننوزی، او دلته د جهنم ګرمه هوا مراد ده۔
اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ : دا دریم سبب دے۔ او دعاء په معنیٰ د عبادت سره ده۔ یعنی مونږ به په دنیا کښ صرف د هغۀ عبادت کولو، نو مخکښ خوف او دلته عبادت ذکر دے۔
٢- یا دعاء په خپله معنیٰ ده، یعنی مونږ به د هغۀ مخے ته ژړا او فریادونه کول چه

ارحم الراحمين! تهٔ مونږ له د جهنم د عذاب نه نجات راکړه، او په جنت کښې مو داخل کړه، نو هغهٔ زمونږ دعاء قبوله کړه، ځکه چه څوك هغه رابلي، هغه خامخا ددهٔ آوري، او په هغهٔ باندې خامخا احسان کوي، او څوك چه صرف د هغهٔ عبادت کوي، او د هغهٔ د عذاب نه یریږي، په هغهٔ باندې رحم کوي، او هغهٔ له خامخا په نیغه لاره باندې د روانیدو توفیق ورکوي.

اَلْبَرُّ الرَّحِیْمُ: هغه فراخه احسان کونکے دے۔ رحیم کښې اشاره ده د عذاب نه بچاؤ ته او بر کښې اشاره ده جنت ورکولو ته.

فَذَكِّرْ فَمَا أَنْتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ
نو بیان کړه قرآن (نصیحت بیان کړه) پس نهٔ ئے تهٔ په نعمت د رب ستا تروېتي
وَّلَا مَجْنُوْنٍ ﴿٢٩﴾ أَمْ يَقُوْلُوْنَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهٖ رَيْبَ
(جوګی) او نهٔ لیونے۔ آیا وائی دوی دا شاعر دے انتظار کوو مونږ په دهٔ باندې د حادثے
الْمَنُوْنِ ﴿٣٠﴾ قُلْ تَرَبَّصُوْا فَإِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُتَرَبِّصِيْنَ ﴿٣١﴾
د مرګ۔ (حادثے د زمانے)۔ اُووایه انتظار کوئ یقیناً زهٔ تاسو سره د انتظار کونکو نه
أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُمْ بِهٰذَا أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿٣٢﴾
یم۔ آیا حکم کوی دوی ته عقلونه د دوی په دے کفر باندې بلکه دوی قوم سرکشان
أَمْ يَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ بَلْ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٣﴾
دی۔ آیا وائی دوی دا قرآن ئے د ځان نه جوړ کړیدے بلکه دوی ایمان نهٔ راوړی۔
فَلْيَأْتُوْا بِحَدِيْثٍ مِّثْلِهٖ إِنْ كَانُوْا صَادِقِيْنَ ﴿٣٤﴾
نو راد‌ې وړی یو کتاب پشان ددے قرآن که چرته وی دوی رشتینی۔

تفسیر: فَذَكِّرْ : دا تفریع ده په اوم آیت ﴿إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ﴾ ستا د رب عذاب راځی نو تهٔ بیان وکړه او خلق ویره وه، او د الله توحید ته ئے رادعوت کړه.

او پدے آیتِ کریمه کښې د رسول الله ﷺ رشتینوالے دے، او د مشرکانو ددے وینا رد

کول دی چه محمد یا خو کاهن (ترویتی) دے چه د غیبو خبرونو راوړلو دعویٰ کوی، یا دهٔ ته لیونتوب لګیدلے دے چه ددے په سبب ګډے وډے خبرے کوی۔

بِنِعْمَتِ رَبِّكَ : ددے دوه مطلبه دی، یو ۱- بِسَبَبِ اِنْعَامِ اللّٰهِ عَلَيْكَ۔ یعنی الله دربانده احسان کړیدے نو لیونتوب ئے درکښ نهٔ دے اچولے۔

۲- یا نعمت نبوت ته وائی۔ یعنی په تا باندے ستا د رب لوی انعام دے چه هغهٔ تاله نبوت، دروند عقل او عظیم شریفانه اخلاق درکړی دی، تهٔ کاهن او لیونے څنګه کیدے شے؟ تهٔ خو چه څهٔ بیانوے هغه د الله وحی وی، او بندګانو دپاره د هغهٔ پیغام وی، چه هغه تهٔ په غیر د زیاتی کمی نه دویٔ ته رسوے۔

بِكَاهِنٍ: کاهن : اَلَّذِیْ يُخْبِرُ عَمَّا فِیْ غَدٍ مِنْ غَيْرِ وَحْيٍ۔ هغه شخص دے چه د راتلونکے زمانے د غیبو خبرو خبر ورکوی چه وحی ورته نهٔ وی شوی۔ او دے ته ترویتی او جوګی هم وائی۔ دے د کوم ځای نه معلوموی؟ نو یا خو دهٔ ته پیریانو د دروغو خبره راوړی وی یا پیریانو د د ملائکو نه بعض خبرے آوریدلی وی، او دے ورسره دروغ یو ځای کړی او څه د بعض آلاتو او تجربو نه معلوموی، او اکثر کاهنان د غیبو دعوے کوی، پدے وجه دا کافر حسابیږی، او حدیث کښ دی :

[مَنْ اَتٰى كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُوْلُ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا اُنْزِلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ ﷺ]

څوك چه کاهن ته راغے او د هغهٔ تصدیق ئے وکړو نو دهٔ کفر وکړو په هغه کتاب چه په محمد ﷺ باندے نازل شویدے۔

(ابو داود : ۳۹۰۶) احمد (۹۵۳۲) اسناد صحیح)

اَمْ يَقُوْلُوْنَ: اُوس د مشرکانو د رسول الله ﷺ په باره کښ ګډے وډے خبرے رانقل کوی او بیا پرے رد کوی۔ د مکے مشرکانو به کله وئیل چه محمد (ﷺ) یو شاعر دے، څنګه چه په عربی ښارونو کښ لوی لوی شاعران تیر شوی دی۔ دا به هم مونږ ته یو څو کالو پورے خپله شاعری آوروی، بیا به طبعی عمر ته رسیدو سره مړ شی، او قصه به ختمه شی۔

رَيْبَ الْمَنُوْنِ : ریب په اصل کښ سخت شك ته وائی، دلته ترے مراد حوادث دی۔ او منون زمانے ته وائی یعنی حوادث د زمانے۔ او منون کله مرګ ته هم وائی۔ د مَنٌّ نه دے په معنیٰ د قطع سره او مرګ هم شمار کموی او مدد قطع کوی۔

او زمانه هم نیتې پریکوی۔ او دلته د حوادثو تشبیه د ریب (شك) سره ورکړې شویده، دا استعاره تصریحیه ده، یعنی لکه څنګه چه شك همیشه نهٔ وی او په یو حال باقی پاتې نهٔ وی نو دغه شان زمانه هم ده۔

اصمعیؒ وائی : منون واحد دې چه جمع ئې نشته۔

اخفشؒ وائی : دا جمع ده چه واحد ئې نشته۔

او قریشو په دار الندوه کښې دا خبره کړې وه چه دا جیل ته واچوئ نو د نورو شاعرانو زهیر او نابغه ذُبْیَانی په شان به مړه شی څکه چه دا هم د هغوی هم په شان یو شاعر دې۔ (ابن عباسؓ)

قُلْ تَرَبَّصُوْا : یعنی مرګ خو په تاسو هم راځی یواځې په ما خو نهٔ دې۔ نو دا ستاسو کور مغزی ده چه زما په باره کښې د مرګ انتظار کوئ، نو مونږ ستاسو په باره کښې د الله د فیصلې انتظار کوو چه په تاسو به عذاب نازلوی۔

دلته پنځلس کرته اَمْ ذکر شویدې، او مقصد پدې کښې اِلزام دې په مخاطبینو چه د دوئ سره ئې هیڅ جواب نشته۔

او مقصد پدې تپوسونو کښې د هغوی تقبیح (بدی بیانول) او هغوی ته زورنه ورکول دی۔

اَمْ تَاْمُرُهُمْ اَحْلَامُهُمْ : یعنی آیا دوئ ته د دوئ عقلونو پدې کفر او تکذیب حکم کړیدې او په دې خبره چه رسول الله ﷺ شاعر دې، یعنی د قریشو سرداران خو د غټ عقل والا ګنړل کیدل، هغوئ ته پته وه چه محمد نهٔ کاهن دې نهٔ لیونې، بلکه دا واقعی د الله رسول دې، نو بیا څرنګ داسې متناقضې او متضاد خبرې کوی څکه چه کاهن خو ډیر هوښیار او ذهین او زیرکه وی، او لیونې خو بې عقله وی۔

نو دا د دوئ څرنګه عقلونه دی چه حق او باطل پرې نشی پیژندلې، بلکه ددې وجه دا ده چه دوئ صرف د کبر او عناد په وجه داسې خبرې کوی، دوئ په عناد او ضد کښې د حد نه تیروتلی دی۔

احلام جمع د حِلْمْ ده، بُردباریٔ ته وئیلې شی او بردباری د عقلمند سړی کار وی پدې وجه حلم په معنیٰ د عقل سره هم استعمالیږی۔

بِهٰذَا: کښې اشاره ده کفر او تکذیب ته۔ او دې متناقضو خبرو ته۔

أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ : دا د دوئ بله سرکشي ده چه د قرآن په باره کښې غلطه خبره کوي، وائي چه قرآن د محمد (ﷺ) کلام دے، دهٔ د خپل ځان نه جوړ کړے دے، بلکه خبره ددے نه هم وړاندے تلے ده، په اصل کښې دا متضادے خبرے دوئ ځکه کوي چه دوئ کافران دي، نهٔ په الله ایمان لري، او نهٔ د رسول اکرم ﷺ د نبوت تصدیق کوي، په دے وجه دا قِسم دروغ تړي۔

فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ : پدے کښې چیلنج ورکوي چه که دوئ زما په پیغمبر باندے دا تهمت لګوي چه دهٔ دا کتاب د ځان نه جوړ کړیدے، نو بیا دِے دوئ تکړه شي ددے قرآن په شان کتاب دِے راوړي چه د دوئ رشتیا معلومه شي۔

بِحَدِيثٍ : د حدیث نه مراد یوه خبره نهٔ ده ځکه چه ددے جوړول خو هر چا ته آسان دي چه مثلًا (قَالَ) ووائي، بلکه ددے نه مراد ټول قرآن دے لکه داسے چیلنج په سورة الاسراء (۸۸) آیت کښې هم ورکړے شوے وو۔

﴿ اَنْ يَّأْتُوا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْآنِ﴾۔ حدیث دلته د قرآن نوم او صفت دے۔

مِّثْلِهِ : یعنی ددے قرآن پشان کلام دِے راوړي کوم چه په ښائسته بیان، ناشنا اسلوب او فصاحت او بلاغت کښې انتهاء ته رسیدلے وي، ځکه چه قرآن په عربئ ژبه کښې دے، او د دوئ عویٰ ده چه دوئ د فصاحت او بلاغت آخری سرته رسیدلي دي۔

أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿٣٥﴾
آیا دوی پیدا کړے شویدي په غیر د څه فائدے نه آیا دوی پیدا کونکي دي (د ځانونو
أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بَلْ لَا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ
خپلو)۔ آیا دوی پیدا کړیدي آسمانونه او زمکه بلکه دوی یقین نهٔ لري۔ آیا
عِنْدَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾
دوی سره خزانے د رحمت د رب ستا دي یا دوی مقرر کړے شویدي (د هغے په تقسیم
أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ
باندے)۔ آیا دوی لره پارسنګ (پوړئ) شته چه غوږ کیږدي په هغے کښې

فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُمْ بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾
نو رادِے وړی آوریدونکے د دوی دلیل ښکاره۔

تفسیر : اُوس د مکے مشرکانو ته په بله طریقه زورنه ورکولے شی او د هغوی په خلاف دلیل قائموی چه ددے په نتیجه کښ دوئ له د توحید اقرار کول پکار دی، ځکه چه که انکار کوی نو د دوئ په خلاف به حجت قائم شی۔

نو فرمائی چه دا خلق چه په پیغمبر اعتراض کوی، او دا نهٔ منی، او په دنیا کښ هسے بے مقصده ژوند تیروی، نو دوئ به څه خالق نهٔ لری ځکه به داسے کوی، څوك چه خپل خالق لری نو ضرور به د هغهٔ طاعت کوی۔

مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ : ددے درے مطلبه دی (۱) مِنْ غَيْرِ خَالِقٍ ۔ یعنی آیا دوئ د خالق نه بغیر پیدا شویدی، (ابن عباسؓ)

اَمْ هُمُ الْخَالِقُوْنَ: او که ځانونه ئے خپله پیدا کړیدی چه دوی ته به امر او نهی نهٔ کیږی۔ یعنی دوی به د الله بندګان نهٔ وی پدے وجه به دوئ د الله تعالیٰ بندګی نهٔ کوی، هرکله چه دوی الله خپل خالق ګنړی نو بیا خو په دوی باندے حجت (دلیل) قائم دے، بیا دوئ د هغهٔ توحید ولے نهٔ منی، د هغهٔ رسولان او کتابونه ولے نهٔ منی۔

أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ : که دوی دعوه وکړی چه مونږ خپله ځانونه پیدا کړیدی، نو اُوس ورته ترقی کوی چه بیا دا آسمانونه او زمکه چا پیدا کړل؟ آیا دا دوئ پیدا کړی؟، نو لازمی خبره ده چه دوئ به دا اقرار کوی چه دا یواځے الله پیدا کړیدی نو بیا ولے په هغهٔ ایمان نهٔ راوړی۔ خو اصل خبره دا ده چه (بَلْ لَّا يُوْقِنُوْنَ) بلکه دوی په الله باندے یقین نهٔ لری ځکه په داسے شکونو او ګډو وډو روان دی۔

او پدے کښ رسول الله ﷺ ته تسلی هم ده چه که دوی په تا اعتراضونه کوی او تا نهٔ منی نو دوی د الله په توحید هم اعتراضونه لری۔

جُبیر بن مطعم ؓ فرمائی : د ماښام په مانځه کښ رسول الله ﷺ دا سورت لوستلو نو دا آیت چه ما واوریدو زما په زړه کښ دننه ننوتو او دے وخت کښ زهٔ په قیدیانو کښ راغلے وم نو ایمان مے راوړو۔

(ځکه چه څوك پدے آیتونو کښ فکر وکړی نو د الله سره ئے مینه پیدا شی، او هغهٔ

باندے ئے یقین مضبوط شی، او د هغۀ طاعت او بندګئ ته غاړه ایږدی)۔

(۲) مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ : نه مراد فائده ده، یعنی بے فائدے او عبث پیدا دی لکه ﴿ أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ أَنْ يُتْرَكَ سُدًى﴾ په شان دے۔ یعنی آیا دوئ به په دنیا کښې بے مقصده بیکاره پیدا شوی وی، چه امر او نهی به ورته نۀ کیږی، نۀ بلکه دوی باندے لوی مقصد پروت دے۔

نو من په معنیٰ د (لام) سره دے۔ (ابن کیسان)

(۳) مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ : اَىْ مِنْ غَيْرِ اَبٍ وَلَا اُمٍّ مِثْلَ الْجَمَادِ ۔ یعنی آیا دوئ په غیر د مور او پلار نه پیدا شویدی لکه د جماد (کانړو) په شان چه نۀ ورته امر کیږی او نۀ نهی۔ او د الله به په دوی باندے هیڅ حجت قائم نۀ وی۔ یعنی دوئ خو مکلف مخلوق دے۔ آیا دوی ګنے د نطفے او علقے او مضغے نه نۀ دی پیدا۔ (ابن عطآء) اوله معنیٰ زیاته ظاهره ده۔

أَمْ عِنْدَهُمْ خَزَائِنُ : دا بل زجر دے چه د مخکښې سره متعلق دے، چه آیا د الله تعالیٰ خزانے د دوئ سره دی، او د دوئ په اختیار کښې دی،

(۱) یعنی د باران او د رزق وغیره خزانے۔ حَتَّى يَسْتَغْنُوا عَنْ عِبَادَتِهٖ۔ (ابن عباسؓ)

تردے چه د دوئ د الله بندګئ ته حاجت نۀ دے پاتے شوے۔ او خپله د هر څه نه پوره دی۔ نو دا هم نشته، بلکه دوی الله ته محتاج دی، نو بیا دوی ولے د هغۀ توحید او د هغۀ رسولان نۀ منی۔ (۲) (یا کنجیانے د رحمت مراد دی)

(۳) یا د خزائنو نه مراد د نبوت د تقسیمولو خزانے او اختیار دے، (عکرمهؒ)

او دا رد دے د مشرکانو پدے خبره چه د رسول الله ﷺ د نبوت به ئے انکار کولو او وئیل به ئے چه الله د مکے او طائف لوی لوی مشران پریښودلو سره څنګه محمد له نبوت ورکړو؟۔

نو الله فرمائی : چه آیا ستا د رب د رحمت خزانے د دوئ په اختیار کښې دی چه دوئ چاله غواړی ورکوی ئے، او چاله چه غواړی محروموی ئے۔ دے وجے نه دوئ په الله اعتراض کوی چه هغۀ خپل بنده او رسول محمد (ﷺ) له ولے نبوت ورکړے دے، حالانکه دا خو د الله په نظر کښې انتهائی حقیر او ذلیل خلق دی، د دوئ په اختیار کښې خو خپل نفع او نقصان هم نشته۔ دوئ په خپل طاقت سره د الله په بادشاهی او د هغۀ په اختیاراتو باندے قابض شوی نۀ دی چه داسے خبرے کوی، دوئ خو انتهائی محتاج او عاجزه خلق دی۔

خزائن ئے جمع راوړه څکه چه خزانه هغه کوټه ده چه د هر قسم سامانونو او څیزونو او ذخائرو د راجمعه کولو دپاره تیاره شوی وی او په هغې کښې هر جنس شے وی نو د الله مقدورات هم د خزانو په شان دی چه هر جنس پکښې شته او هیڅ انتهاء ئے نشته۔

(قرطبی)

أَمۡ هُمُ ٱلۡمُصَيۡطِرُونَ: (۱) یعنی آیا الله دوی مقرر کړیدی په تقسیمولو د خزانو چه دوی پکښې چا ته نبوت ورکول غواړی هغه له ئے ورکړی، او څوك منع کړی۔

مُصَيۡطِرُونَ: (۲) بله معنیٰ ده۔ اَلۡغَالِبُوۡنَ الۡمُسَلَّطُوۡنَ الۡقَاهِرُوۡنَ الۡجَبَّارُوۡنَ۔

یعنی آیا دوی غالبه او مسلط او زوره ور دی چه په زوره چا ته څه ورکول غواړی هغه ورکړی۔ (ابن عباسؓ)

(۳) اَلۡمُحَاسِبُوۡنَ لِلۡخَلَائِقِ (ابن کثیرؒ) یعنی آیا دوئ به د مخلوق سره حساب کوی چه تهٔ ولے د نبوت دعوه کوے او دا بل ئے ولے نهٔ کوی؟۔ او دا خبره هم نشته۔

أَمۡ لَهُمۡ سُلَّمٌ: په دے آیت کښې هم استفهام د نفی په معنیٰ سره دے، یعنی آیا دوئ سره څهٔ داسے پوړئ شته چه د هغې په ذریعه دوئ آسمانه پورے رسیږی، او د ملائکو هغه خبرے آوری کومے چه هغوئ ته د وحی په ذریعه معلومیږی،

او په هغې کښې د شرك اباحت وی، نو دوئ به هغه وحی آوریدلی وی، او بیا به ئے لاندے بیان کړی وی چه مونږ د ملائکو نه واوریدل چه شرك جائز دے۔

که څوك ددے دروغو دعوه وکړی، نو بیا دِے دوئ په خپل رشتینوالی باندے ښکاره دلیل راوړی۔

او دوئ به دلیل څنګه پیش کړے شی، د غیبو خبرے خو صرف الله سره دی، هغه خو په دے باندے هیچا لره نهٔ خبروی، سویٰ د هغه رسول نه چه هغهٔ لره د خپل پیغام رسولو دپاره چونړ کوی، نو هغهٔ له چه د څومره خبرو هغه غواړی خبر ورکوی۔

او محمد (ﷺ) د الله رسول دے، چه هغهٔ له ئے د خپل توحید او دینِ اسلام د رشتین والی خبر ورکړے، او د مکے مشرکان ناپوهه، ګمراه او په کبر او عناد کښې مبتلا دی، چه دوئ سره د آسمان نه هیڅ خبر نهٔ راځی، نو ښه اُوس د چا خبره اومنلے شی؟، د دوئ یا د محمد (ﷺ) چه ددهٔ خواته د آسمان نه وحی راځی۔

أَمْ لَهُ الْبَنَاتُ وَلَكُمُ الْبَنُونَ ﴿٣٩﴾ أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُمْ
آیا هغهٔ لره لونړه دی او تاسو لره ځامن دیٰ۔ آیا غواړې ته د دوی نه مزدوری نو دوی
مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٠﴾ أَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ
د وجې د تاوان نه درانهٔ شویدی۔ آیا دوی سره غیب (وحی) شته نو دوی د هغې نه
يَكْتُبُونَ ﴿٤١﴾ أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ
لیکل کوی۔ آیا اراده لری دوی د چل ول نو هغه کسان چه کفرئے کړیدے هم دوی به
الْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ
په مکر کښ کمزوری کړے شی۔ آیا دوی لره حقدار د بندگیٔ شته سویٰ د الله نه،
سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾
پاك دے الله د هغے نه چه دوی ورسره برخه داران جوړوی۔

آیا هغه لره لونړه دی او تاسو لره ځامن دی۔ آیا غواړې ته د دوی نه مزدوری نو دوی د وجې د تاوان نه درانه شویدی۔ آیا دوی سره غیب (وحی) شته نو دوی د هغې نه لیکل کوی۔ آیا اراده لری دوی د چل ول نو هغه کسان چه کفرئے کړیدے هم دوی به په مکر کښ کمزوری کړے شی۔ آیا دوی لره حقدار د بندگیٔ شته سویٰ د الله نه، پاك دے الله د هغے نه چه دوی ورسره برخه داران جوړوی۔

تفسیر: د مکے مشرکانو نه پوښتنه کیږی چه آیا ستاسو د گمان مطابق الله دپاره لونړه دی، او ستاسو دپاره ځامن دی؟ د الله تعالیٰ په خِلاف دا ځنګه بے ځای زړورتیا ده، چه تاسو خو خپل ځان له ځوی خوښوئ، او هغهٔ له لونړے ثابتوئ۔ آیا د رب العالمین ددے نه هم زیاته بله عیب جوئی کیدے شی۔

دا ستاسو ځنګه بیوقوفتیا او بے عقلی ده۔ او پدے کښ اشاره ده چه هرکله دوئ داسے پریوتے عقیده لری نو ددوئ فهم او عقل ختم شویدے نو که دوئ د بعث بعد الموت نه انکار کوی، او د الله توحید نهٔ منی نو د دوئ د شان نه دا لرے نهٔ ده۔

أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا: دا جمله روستو سورة القلم کښ بیا راغلے ده، ددے مطلب دا دے چه

دوئ چه انکار کوی نو کیدے شی چه ددے انکار سبب به ئے دا وی چه تهٔ به د دوئ نه ډیرے پیسے غواړے چه مثلاً یوه مسئله په زر روپۍ ده، نو مشرکان وائی چه دا خو مونږ ته گرانه ده، نو راځئ چه دا پیغمبر پریدو۔ دا دین خو په پیسو اخستل گران دی۔
نو الله دوی ته رټنه ورکوی چه اے زما حبیبه! تهٔ خو د دوئ نه هیڅ مزدوری نهٔ غواړے، چه دوئ د اسلام په نهٔ قبلولو کښ معذوره وګنړل شی بلکه تهٔ دوئ له مال ورکوے دے دپاره چه دوئ په اسلام کښ داخل شی، د دوئ هیڅ تاوان په دین او رسول منلو کښ نشته، او بیا هم خبره نهٔ منی معلومیږی چه دوئ لوی ضدیان دی۔
أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ: دلته درے مطلبه دی۔ (۱) أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ بِأَنَّ مُحَمَّدًا يَمُوتُ قَبْلَهُمْ۔
یعنی آیا دوئ سره د غیبو علم شته چه د هغے نه ئے دا خبره ځان سره لیکلی وی چه محمد (ﷺ) به د دوئ نه مخکښ وفات کیږی چه تاسو وایئ چه انتظار وکړئ په دهٔ باندے د مرګ۔
(۲) فَهُمْ يَكْتُبُونَ الَّذِينَ لِأَنفُسِهِمْ مِنْ عِبَادَةِ الْأَصْنَامِ ۔ آیا د دوئ سره د غیبو علم شته چه دوئ د هغے نه د خپلو خپلو ځانونو دپاره دین لیکی چه هغه د بتانو عبادت دے۔
یعنی چه دوئ وائی چه مونږ سره د لوح محفوظ علم دے، او د هغه ځای نه مو کشف وکړو چه شرك جائز دے۔ او د هغه ځای نه مو ځانله دا دین ولیکلو او رانقل مو کړو۔
(۳) فَهُمْ يَكْتُبُونَ بِأَنَّنَا لَا نُعَذَّبُ ۔ آیا د دوئ سره علم غیب شته چه مونږ ته به عذاب نهٔ راکړے کیږی، یعنی آیا دوی به لوح محفوظ کښ کتلی وی چه په هغے کښ ئے لیکلی وی چه دوئ ته به سره د شرك نه عذاب نهٔ ورکړے کیږی۔ دا هیڅ خبره نشته۔
أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا : یعنی آیا د مکے مشرکان په تا او په تا باندے په نازل شوی قرآن باندے عیب لګوی، او د دینِ اسلام او ستا په خِلاف څهٔ چل جوړوی؟ نو پوهه شئ چه د دوئ سازش به د دوئ د مرئ پلوانبهٔ جوړ شی۔
لکه چه دغسے وشوه، کافرانو نبی کریم ﷺ او دینِ اسلام ته د نقصان په رسولو کښ هیڅ کوتاهی نهٔ ده کړے، لیکن دوئ ماتے وخوړله، او الله د خپل رسول مدد وکړو، د هغهٔ دین ئے غالبه کړو، او کافران ئے ذلیله او رسوا کړل۔
كَيْدًا : اَیْ مَكْرًا بِرَسُولِ اللّٰهِ ﷺ ۔ یعنی آیا دوئ اراده لری چه د رسول الله ﷺ د وژلو دپاره چل جوړ کړی۔

او دا سورت مکی دے او دوئ چه په رسول الله ﷺ باندے په دار الندوه (مکه) کښں د هجرت په ابتداء کښں چل جوړه ولو هغه روستو وو، نو دا د الله تعالیٰ اخبار بالغیب دے چه د مخکښں نه ئے پیشن گوئی وکړه چه دوئ به په خپل مکر او فریب کښں راګیرېږی او خواری به ئے ضائع کیږی۔

اَمْ لَهُمْ اِلٰـهٌ غَيْرُ اللّٰهِ : آیا د مکے د مشرکانو بل کوم معبود شته دے چه هغه د رابللو مستحق دے، چه د هغهٔ د نفع امید کیدلے شی، او د هغهٔ د ضرر رسولو نه یره کیدلے شی؟ او مشرکان وائی چه بس زمونږ د بل معبود نه حاجت پوره دے، او همدغه غیر الله زمونږ حاجتونه پوره کوی۔ داسے څهٔ خبره خو نشته دے،

الله د مشرکانو د شرك نه پاك دے، نهٔ د هغهٔ په بادشاهئ کښں د هغهٔ څوك شریك شته، او نهٔ د هغهٔ په وحدانیت او عبودیت کښں۔

وَإِن يَرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَاءِ سَاقِطًا يَقُولُوا سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴿٤٤﴾
او که اُووینی دوی ټوټے د آسمان نه راپریوتونکی وائی دوی دا وریځ ده د یو بل دپاسه
فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي
۔(لاندے باندے)۔ نو پریږده دوی لره تردے چه ملاؤ شی د ورځے د دوی سره هغه
فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴿٤٥﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِي عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ
چه په هغے کښں به بیهوشه کړے شی۔ په هغه ورځ چه دفع به نکړی د دوی نه چل
شَيْئًا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّ لِلَّذِينَ
ول دوی هیڅ شے او نهٔ به دوی سره مدد اُوکړے شی۔ او یقیناً هغه کسانو لره
ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٧﴾
چه ظلم ئے کړیدے عذاب دے مخکښں ددے نه لیکن ډیر د دوی نه نهٔ پو هیږی۔
وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ
او صبر کوه دپاره د حکم د رب خپل نو یقیناً تهٔ زمونږ په سترګو ئے، او تسبیح وایه

بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٤٨﴾ وَمِنَ اللَّيْلِ
سره د حمدونو د رب ستا نه په هغه وخت چه اُودریږے تهٔ. او د شپے نه
فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ﴿٤٩﴾
پاکي وايه د هغهٔ او په وخت د شاګرځولو د ستورو کښې.

تفسیر : پدے آیت کښې د مکے د مشرکانو د زړه سختوالے بیانیږي، یعني د مکے د مشرکانو سرکشي د حد نه تیره شوے وه، دوئ باطل خپلے مرئ سره داسے لګولے دے چه د حق په تائید کښې که هر یو دلیل پیش کړے شي، هغه نهٔ قبلوي، او د کبر او عناد نه نهٔ منع کیږي.

کـه چرے په دوئ باندے د آسمان نه د عذاب غټے غټے ټکړے راشي او دوی ئے وینی نو دوئ بـه هغے تـه عذاب نهٔ وائي بلکه د هغے نسبت به وریځے ته کوی چه دا خو د لاندے باندے وریځے ټکړے دي. او وریځ راجمع کړے شویده په مونږ باندے باران کوی. ځکه چه دوئ ځان ګناهګار نهٔ ګنړي، نو که عذاب ئے په سر راروان وی، هم دومره سخت زړی دی چه هغوی ځان پاك ګنړي، خو چه کله پرے نازل شي بیا به ورته پته ولګی لکه عادیانو وئیلی وو ﴿هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا﴾ دا وریځ په مونږ باران کوی.

او بل طرفته د رسول الله ﷺ زړه دومره نرم وو چه سره ددے نه چه ګناهګار هم نهٔ دے، بیا بـه ئے هم چه کله وریځ ولیدله نو پریشانه به شو. او داسے د زړه سختي خو په اُوس زمانه کښې بیخي زیاته ده، سیلابونه راشي، خلق پکښې غلاګانے کوی، د زلزلو په وخت کښې غلاګانے، زناګانے کیږي. عذاب ته عذاب نهٔ وائي.

کسفا : دا که په زیر د کاف او سکون د سین سره شي نو واحد دے، او که د سین زبر وی نو جمعه ده. (اخفش ؒ، کذا فی صحاح اللغات ۲/۱۱۵)

مَرْكُومٌ : د رکام نه دے، یو بل دپاسه کیدل، تیه به تیه کیدل.

فَذَرْهُمْ : یعنـی تـهٔ دوئ د قیامت ورځے پورے په خپل حال باندے پریده، او د ښو مزو اخستـلو موقع ورکړه. د قیامت په ورځ به دوئ ته خپل انجام معلوم شي، هر کله چه د دوئ تمام سازشونه دړے وړے پاتے شي، او هیڅوك به د دوئ د مدد لپاره رانشي.

يُصْعَقُوْنَ: يعنى د عذاب د هيبت د وجه نه يا د قيامت د وجے نه به بے هوشه شى۔ يا د صعق نه مراد په دنياوى عذاب سره مړ كيدل دى۔

وَإِنَّ لِلَّذِيْنَ: يعنى كوم خلق چه د كفر او شرك په كولو سره په خپلو ځانونو ظلم كوى، دوئ لـه الله تعالىٰ د قيامت د ورځے نه مخكښ په دنيا كښ هم عذاب وركوى، او ددے نه مراد يا خو د قبر عذاب دے، (قاله براء بن عازب ﷺ)

يا دنيا كښ قحط كالى، ❁ يا د زمانے نور حوادث او مصيبتونه دى چه هغه د دوئ ځان او مال ته رسيږى، ليكن په دوئ كښ د اكثرو خلقو په ذهنونو كښ دا خبره نهٔ راځى چه د دوئ پشان فاسقانو او فاجرانو په باره كښ هميشه د الله تعالىٰ همدا سنت را روان دے، چه ظلمونه او گناهونه كوى، او په آخر كښ الله تعالىٰ رانيولى دى۔ او دوى پدے نهٔ پوهيږى چه دا عذاب دے، او د څه مقصد دپاره دے،

لكه چه يو حديث كښ دى: [وَإِنَّ الْمُنَافِقَ اِذَا مَرِضَ ثُمَّ أُعْفِيَ كَانَ كَالْبَعِيْرِ عَقَلَهٗ أَهْلُهٗ ثُمَّ أَرْسَلُوْهُ فَلَمْ يَدْرِ لِمَ عَقَلُوْهُ وَلَمْ يَدْرِ لِمَ أَرْسَلُوْهُ] منافق چه ناجوړه شى بيا جوړ شى نو ددهٔ مثال د اُوښ دے نهٔ پوهيږى چه د څه دپاره ئے تړلے وو او د څه دپاره ئے پرانستلو۔ (ابوداود: ۳۰۹۱) مرفوعا باسناد ضعيف والادب المفرد رقم: ۳۷۹/۴۹۳ صحيح موقوفا على سلمان)

دُوْنَ ذٰلِكَ: اَىْ غَيْرَ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ: يعنى ما سوىٰ د عذاب د قيامت نه۔ يا دون په مخكښ سره دے، يعنى مخكښ د قيامت نه۔

وَاصْبِرْ: هركله چه د قرآن كريم او د نبى كريم ﷺ په باره كښ د مكے د كافرانو تمام دروغ جوړول په دليلونو سره رد كړے شول، نو اُوس الله تعالىٰ خپل نبى ﷺ ته حكم وكړو چه تهٔ ددے كافرانو ډيره پرواه مهٔ ساته، په دوئ باندے به عذابونه خامخا راځى، د دوئ په تكليفونو صبر كوه، او تا ته چه د خپل رب دطرف نه كومه ذمه وارى راغلے ده، هغه پوره صبر او استقامت سره اداء كوه، او د خپل ځان په باره كښ هيڅ يره مهٔ كوه، الله به ستا حفاظت كوى، او كله چه د شپے راپاسے نو د خپل رب تسبيح بيانوه۔

امام احمدؒ، بخاريؒ او اصحاب سنن د عباده بن صامت ﷺ نه روايت كړے، رسول الله ﷺ وفرمايل چه څوك د شپے راويښ شى او دا دعاء ووائى: [لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ. سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ] بيا ئے اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِىْ ووئيل، يا ځانله دعاء وغواړى، نو الله

تعالیٰ د هغهٔ دعاء قبلوی. او که د هغې نه پس اودس اوکړی، او مونځ وکړی نو د هغهٔ مونځ قبلیږی. (بخاری : ۱۱۵٤ باب فضل من تعار من اللیل فصلی باب رقم : ۲۱)

مفسرین لیکی چه په دې کښې نبی ﷺ ته د قیام اللیل (د تهجدو د مانځه) حکم شوی دې. عبادتونه او تسبیحات د عذاب د دفع کولو او د صبر د آسانولو او په دشمن باندې د غلبې دپاره ښکلې اسباب دی.

بِأَعْيُنِنَا: د الله تعالیٰ دا صفت په ظاهری معنیٰ باندې دې، او کیفیت باندې ئې الله تعالیٰ عالِم دې، خو په دې کښې دا اشاره ده :

[اَیْ اِنَّكَ بِحَيْثُ نَرَاكَ وَنَحْفَظُكَ وَنَرْعَاكَ فَلَا يَصِلُوْنَ اِلَيْكَ] (زجاجؒ)

یعنی تهٔ په داسې مقام کښې ئې چه مونږ تا وینو او ستا حفاظت به کوو، دوئ به تا نشی وژلې نو پروا مهٔ کوه.

حِيْنَ تَقُوْمُ: (۱) [حِيْنَ تَقُوْمُ إِلَى الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ] یعنی کله چه تهٔ پنځه مونځونو ته ودریږې نو تسبیح وایه. امام مسلمؒ په خپل صحیح کښې د عمر ؓ نه روایت کړې چه نبی ﷺ به د مانځه په شروع کښې : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالیٰ جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ] لوستلو، (مسلم : ۹۱۸)

او په دې باندې دلیل روستو (٤۹) آیت دې چه په هغې کښې الله تعالیٰ نبی ﷺ ته د شپې د راویښیدو نه پس او د شپې په آخری برخه کښې د خپل رب د تسبیح بیانولو حکم کړې، نو ددې نه معلومیږی چه دلته د ﴿ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴾ نه مراد پنځه وخته مونځ دې.

(۲) مجاهدؒ وائی : ﴿ حِيْنَ تَقُوْمُ﴾ اَیْ مِنَ الْمَجْلِسِ یعنی کله چه د هر مجلس نه پاڅیږې. مسند احمد کښې د ابو هریره ؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ وفرمایل :

کوم شخص چه په یو مجلس کښې کینی، او په هغې کښې زیاتې خبرې وکړی، او د پاڅیدو نه وړاندې ووائی :

[سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوْبُ إِلَيْكَ]

نو الله تعالیٰ د هغهٔ د دغه مجلس گناهونه معاف کوی.

دا حدیث ترمذی (۳٤۳۳) او حاکم هم راوړې او سند ئې صحیح دې. (احمد : ۱۵۷٦۷)

(۳) حِيْنَ تَقُوْمُ مِنَ النَّوْمِ. یعنی کله چه د خوب نه رابیداریدلې نو تسبیحات وایه. رسول الله ﷺ به چه کله د خوب نه رابیدار شو نو سبحان الله، به ئې لس کرته ووئیله، الحمد

لله بـه ئـے وئيلـه۔ او نـورے دعـاگانے به ئے وئيلے، دارنگه سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ رَبِّىَ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ رَبِّىَ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، سُبْحَانَ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ به ئے ولوستلو۔ السنن الکبری للنسائی (١٠٦٣٢) دارنگه دعاء ذکر شوه۔

﴿إِدْبَارَ النُّجُوْمِ﴾ يعنى په وخت د شاګرځولو د ستورو كښ، او دا وخت د صبا د راښکاره كيـدو دے چه په دغه وخت كښ ستورى په پټيدو شروع شى، او ددے نه مراد د سهار دوه ركعاته سنت دى لکه چه په حديث د ترمذى كښ راغلى دى۔

او يا ددے نه مراد د سهار فرض او سنت دواړه دى۔

په بخارى او مسلم كښ د عائشے رضى الله عنها نه روايت دے چه نبى كريم ﷺ به د سهار د دوو ركعتونو نه زيات د بل هيڅ قِسمه نفل مانځه اهتمام نهٔ كولو۔

او د امام مسلمؒ (١٧٢١) په يو روايت كښ دى چه د سهار دوه ركعته د دنيا او ما فيها نه غوره دى۔ وبالله التوفيق۔

امتيازات د سورة الطور

١– په سورة الطور كښ ډير شواهد وو په وقوع د عذاب د رب باندے۔

٢– او د الله د عذاب د واقع كيدو خبر وركول۔

٣– د رسول الله ﷺ په باره كښ د مشركانو د ډيرو اعتراضونو جوابونه او هغوى ته زورنے ذكر شوے۔

٤– او پدے آيتونو كښ دوه تنبيهات وو چه كافران مغلوبه كيدو والا دى، او په دنيا كښ پرے عذاب راتلو والا دے۔

ختم شو تفسير د سورة الطور په فضل د رب العزت ١٤٣٧ هـ رجب ٧/ ١٣/٤/٢٠١٦ بجه : ١١:٥٤۔ يوم الثلاثاء۔



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آياتها (٦٢)	(٥٣) سورة النجم مكية (٢٣)	ركوعاتها (٣)

سورة النجم مكي دے، په دے کښې دوه شپيتۀ آيتونه او درے رکوع دي۔

تفسير سورة النجم

نوم : ددے سورت اولنے لفظ ﴿ النَّجْمِ ﴾ دے، همدا ددے نوم ايښودے شوے۔

مناسبت

١ – مخکښې سورت کښې د رسول الله ﷺ په باره کښې اعتراضات وو نو دلته د رسول الله ﷺ شان بيانيږي۔

٢ – هغه سورت کښې دا بيان شو چه رسول الله ﷺ باندے اعتراضونه مۀ کوئ نو دے سورت کښې د توحيد عقيده بيانيږي۔

٣ – مخکښې سورت کښې د عذاب وقوع ذکر وه نو دلته سبب د عذاب ذکر کوي۔

٤ – مخکښې سورت کښې زجرونه وو منکرينو ته، نو دلته د هغوی دليل باطلوی چه هغه اتباع د ظن او د هوئ ده۔

د نازليدو زمانه : د تفسير د اکثرو عالمانو په نيز ټول سورت مکي دے۔ ابن مردويةً د ابن عباس ﷺ نه روايت کړے چه سورتِ نجم په مکه کښې نازل شوے وو۔

بخاريؒ او مسلمؒ او نورو محدثينو د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت کړے چه اولنے سورت چه په هغے کښې سجده نازله شوے وَه، سورتِ النجم دے۔ [إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَرَأَ سُوْرَةَ النَّجْمِ فَسَجَدَ بِهَا فَمَا بَقِيَ أَحَدٌ مِنَ الْقَوْمِ إِلَّا سَجَدَ فَأَخَذَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ كَفًّا مِنْ حَصًى، أَوْ

تُرَابٍ فَرَفَعَهُ إِلَى وَجْهِهِ وَقَالَ يَكْفِينِي هٰذَا فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ بَعْدُ قُتِلَ كَافِرًا] (بخاری : ۱۰۷۰)
نبی ﷺ سورة النجم ولوستو او سجده ئے وکړه، او ټولو خلقو سجده وکړه، صرف یو سړے ما اولیدهٔ چه هغهٔ یو موټے خاوره را واخسته او په هغے ئے سجده وکړه۔ نو ما د هغے نه پس هغه اولیدهٔ چه هغه سړے د کفر په حالت کښې قتل کړے شو، (هغه سړے امیه بن خلف وو۔ بعضِ روایتونو کښې د هغهٔ نوم عتبه بن ربیعه ښودلے شوے)۔
بعضِ محدثینو (مثلًا اسود بن یزیدؒ، ابو اسحاقؒ، او زهیر بن معاویهؒ) د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په پورته ذکر شوی روایت کښې دا خبره په ډاګه بیان کړے چه سورتِ نجم اولنے سورت دے چه هغه رسول الله ﷺ د قریشو د کافرانو د عامے مَجمعے په وړاندے لوستلے وو، او کله چه رسول الله ﷺ په آخره کښې سجده وکړه، نو کفارو هم سجده وکړه۔ صرف یو سړی سجده ونهٔ کړه چه د هغهٔ ذکر پورته وشو۔

د سورت موضوع او مقصد

(۱) – رَدُّ عَقَائِدِ الْمُشْرِكِيْنَ۔ د مشرکانو د یو څو عقیدو رد کول دی۔
❁ اوله عقیده دا وه چه رسول الله ﷺ رشتینی نهٔ دے،
❁ دویمه عقیده ئے د بت پرستئ وه۔
❁ دریمه : ملائك د الله لونړه دی۔
❁ څلورمه : د ستورو عبادت دے خاصکر د شِعریٰ ستوری۔
❁ او پنځمه عقیده د آخرت نه انکار دے۔ دا ټول ئے پدے سورت کښې رد کړیدی۔
(۲) غوره دا ده چه پدے سورت کښې شان د رسول الله ﷺ ذکر دے، نو کله چه د هغه شان دِے وپیژندو نو د هغهٔ دعوت به رشتینی ګنړے، او د هغهٔ دعوت دے ته دے چه د الله سره شریکان مهٔ جوړوئ، او د آخرت دپاره تیارے وکړئ، ددے وجه نه په شرك به هم رد وی، د شرك انواع ئے ذکر کړیدی، چه لات، منات او عزیٰ شریکول، ملائك او ستوری د الله سره شریکول۔ او دا موضوع د اول ﴿مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ﴾ او د آخر ﴿هٰذَا نَذِيْرٌ مِنَ النُّذُرِ الْأُوْلٰى﴾ نه معلو میږی۔
په سورت کښې د رسول الله ﷺ شان او د هغهٔ د دعوت صدق پکښې ذکر دے۔
خلاصه : په اول کښې د رسول الله ﷺ شان او رشتینوالے ذکر دے تر (۱۸) آیت پورے، او

بیا د (۱۸) آیت نه روستو په شرك رد او بیا په راتلونکے رکوع کښې په انکار د آخرت رد دے۔ او په دریمه رکوع کښې زجر دے هغه چا ته چه په دین باندے عمل نکوی، او د اثبات د آخرت دپاره ئے دلیلونه راوړیدی، او په آخر کښې د رسول الله ﷺ صدق ذکر دے۔ او ترغیب دے قرآن کریم او د الله تعالیٰ بندګئ ته۔

دے سورت کښې هم ډیر ناشنا والے دے۔

وَالنَّجْمِ إِذَا هَوٰی ﴿۱﴾ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ
قسم دے په ستوری کله چه پریوځي۔ نهٔ دے ګمراه (بے لارے) ملګرے ستاسو
وَمَا غَوٰی ﴿۲﴾
او نهٔ دے د حد نه تیروتلے۔

تفسیر:وَالنَّجْمِ: ددے دوه مصداقه دی (۱) یو دا چه ددے نه مراد ستوری دی، بیا ددے ستورو نه مراد هغه ستوری دی چه شیطانان پرے ویشتلے کیږی۔ اَیْ وَالنَّجْمِ اِذَا رُمِیَ بِهَا الشَّیْطَانُ۔ قسم دے په ستورو چه کله په دے سره شیطان ویشتلے کیږی۔

❁ یا ددے نه مراد جنس ستوری دی چه کله د شپے په آخری حصه کښې پریوتی په نظر راځي۔

❁ او بعض مفسرینو ددے نه [ثُرَیَّا] ستورے مراد اخستے دے، چه دے ته (تلے پیرونه) ستوری وائی، دا اُوه ستوری دی چه په یو ځای راجمع شویدی۔ لیکن د زیاتره مفسرینو رائے داده چه ددے نه عام ستوری مراد دی۔

او مناسبت د قسم او جواب قسم (یعنی مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ) دا دے چه ستورو باندے شیطانان ځکه ویشتلے کیږی چه الله تعالیٰ ئے آسمان ته نهٔ پریدی چه د وحی خبره واوری، نو معلومه شوه چه رسول الله ﷺ ته شیطانان وحی نهٔ راوړی بلکه دا د الله رشتینی نبی دے، دهٔ ته جبریل وحی راوړیده۔

نو دا په شان د ﴿اِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُوْلُوْنَ﴾ (الشعراء : ۲۱۲) دے۔

❁ بل مناسبت : لکه څنګه چه ستوری د آسمان ښائست دے، دغه شان اِلٰهی وحی سره زمکے ته ډول ملاویږی، ځکه که د انبیاؤ په ذریعه دا الٰهی علم زمکے والو ته نهٔ

ملاویدے نو زمکه به د تیرے شپے نه هم زیاته تیارهٔ وی۔
دارنگه کله چه ټول ستوری غائب شی نو د صبا رنړا راښکاره کیږی او بیا نمر راښکاره کیږی نو دغه شان نور رسولان غائب شول او آخری رسول د صبا او د نمر د رنړا په شان ښکاره شو۔ (احسن الکلام)۔
(۲) یا د النجم نه مراد قرآن دے ځکه چه دا نَجْمًا نَجْمًا (لړ لړ) د بره نه نازل شویدے۔
او هویٰ په معنیٰ د نزول سره دے۔ یعنی قسم په قرآن چه کله نازل شی۔
نو دا به د ﴿ یٰسٓ وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ ۞ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴾ پـه شان شی۔ یعنی قرآن گواه دے چه ته گمراه نهٔ ئے۔
إِذَا هَوٰى: هویٰ د ماضی صیغه ده د باب د ضرب نه، په معنیٰ د سقوط (غورزیدو) سره لکه هاویه هغه کندے ته وائی چه انسان پکښ غورزیږی۔ او د باب د سمع نه په معنیٰ د خواهش او محبت سره راځی لکه روستو (وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى) کښ راغلے دے۔
إِذَا هَوٰى: کله چه په خپل مدار کښ پریوزی، یا د شیطانانو پسے و یشتلو وخت کښ پریوزی۔
مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى:
د ضلال او غویٰ فرق
(۱) ضال : اَلَّذِیْ یَسْلُكُ عَلٰی غَیْرِ طَرِیْقٍ بِغَیْرِ عِلْمٍ۔ وَالْغَاوِیْ اَلْعَالِمُ بِالْحَقِّ الْعَادِلُ عَنْهُ قَصْدًا اِلٰی غَیْرِهٖ۔ گمراه انسان هغه دے چه په صحیح لاره نهٔ وی روان په ناپو هئ سره۔ او غاوی هغه شخص دے چه په حق باندے پو هه وی لیکن د هغے نه اوړی، او بله لاره د ضد او عناد د وجه نه قصد کوی۔
(۲) ضلال گناهونو کولو ته وائی، او غی جهل مرکب ته وائی۔
(۳) یا دا عطف د خاص دے په عام باندے دپاره د اهتمام د شان د اعتقاد ځکه چه کله انسان هیخ عقیده نهٔ لری، نهٔ نیکه او نهٔ بده نو دا ضلال شو او کله چه د غلط شی عقیده لری نو دا غی شوه۔ (فتح البیان)۔
(٤) ضلال عام دے عقیدو او عملونو دواړو ته شامل دے، او غوایت خاص دے په عقیده فاسده پورے۔

(۵) ددے نه داسے تعبیر هم کیږی چه ضلال د لارے نه خطاء کیدل دی، او غوایت دا دے چه د مقصد نه محرومه شی۔
او پدے کښ اشاره ده چه رسول الله ﷺ کښ نۀ جهالت شته، او نۀ ضد او عناد، نو پدے کښ تعریض دے چه خوك په دۀ باندے اعتراض کوی او دے نۀ منی نو هغه په حقیقت کښ ضال او غاوی دے لکه قریش کافران۔
صَاحِبُكُمۡ: کښ ئے نسبت مخاطبینو ته وکړو، پدے کښ اشاره ده چه مشرکان د هغۀ د حقیقتِ حال نه ښه خبر وو۔
او په صحبت (ملګرتیا) سره ئے ترے تعبیر وکړو پدے کښ د هغوی متوجه کول او هغوی ته ترغیب ورکول دی، او د هغوی بدی بیانول دی چه هغوی په دۀ باندے په نبوت کښ تهمت لګوی حال دا چه هغوی ددۀ پاك اخلاق پیژنی۔

وَمَا يَنۡطِقُ عَنِ الۡهَوٰى ﴿۳﴾ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡىٌ يُّوۡحٰى ﴿۴﴾
او خبرے نۀ کوی دے د خواهش نه۔ نۀ ده دا مګر وحی ده چه وحی ورته کیدے شی۔
عَلَّمَهٗ شَدِيۡدُ الۡقُوٰى ﴿۵﴾ ذُوۡ مِرَّةٍ فَاسۡتَوٰى ﴿۶﴾ وَهُوَ
خودنه کړیده دۀ ته سخت قوتونو والا۔ خائست والا، نو برابر شو۔ او حال دا چه هغه
بِالۡأُفُقِ الۡأَعۡلٰى ﴿۷﴾ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ﴿۸﴾ فَكَانَ قَابَ
په اُوچته کناره باندے وو۔ بیا رانزدے شو نو ښه رانزدے شو۔ نو شو په شان د پاتو د
قَوۡسَيۡنِ أَوۡ أَدۡنٰى ﴿۹﴾ فَأَوۡحٰى إِلٰى عَبۡدِهٖ مَا أَوۡحٰى ﴿۱۰﴾
دوه لیندو یا ډیر نزدے۔ نو وحی اُوکړه الله بنده خپل ته هغه چه وحی ئے اُوکړه۔

تفسیر :وَمَا يَنۡطِقُ: دا دویم جوابِ قسم دے۔ او مطلب دا دے چه دا نبی د خپل خواهش نه خبرے نۀ کوی، یعنی ددۀ چه کوم دعوت دے، نو دا تول الله ته دے، او د خپل خواهش دپاره نۀ دے لکه انسانان کله کله داسے کوی چه په دعوت کښ خپل ځان ته تسکورے وهی، دے دپاره چه ددۀ اکرام وشی، او خلق ورته مال ورکړی، راحت ورته ملاؤ شی۔ نو دا نبی داسے نۀ دے چه په دعوت.کښ ئے هدف خپل خواهش پوره کول وی،

څوك ورته مال وركړي، يا ورته ښځه او جائيداد وركړي بلكه ددۀ تپوله خواري د الله دپاره ده۔ ددې وجه نه په ځان باندې سخته تيروي۔

وَمَا يَنْطِقُ: نطق هر هغه خبره ده چه د خُلے نه راوځي، او دا شامل دے قرآن او حديث ته چه دا دواړه د اتباع د خواهش نه نۀ دي صادر شوي۔

إِنْ هُوَ: هُوَ ضمير قرآن ته راجع دے، يعني قرآن ورته الله تعالىٰ د وحي په ذريعه راليږلے دے، دا ددۀ خپل جوړ كړے شوے كتاب نۀ دے۔ بعض مفسرين هُوَ ضمير (نطق) ته راجع كوي، او مطلب دا اخلي چه هره خبره د رسول الله ﷺ وحي ده۔ دا رايه مرجوحه ده ځكه چه د رسول الله ﷺ ډيرے خبرے اجتهادي وے، كله به ئے مشورے كولے او كله به ورته يوه خبره معلومه نۀ وه، او په خپل اجتهاد به ئے وكړه، نو خطاء به شو بيا به ورته الله تعالىٰ خبر وركړو لكه د بدر د قيديانو په باره كښې۔

دارنګه يو صحابي ترے په كور كښې د مانځه كولو اجَازت وغوختو ځكه چه ړوند وو نو ورته ئے وفرمايل چه تا ته اجازت دے، [فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ فَقَالَ: هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ؟، فَقَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَأَجِبْ] كله چه هغه روان شو آواز ئے ورته وكړو چه آيا تۀ اذان آورے؟ هغه ووئيل آؤ، نو وے فرمايل چه جُمعے ته به راځے۔ (صحيح مسلم :١٥١٨)

معلومه شوه چه دا خبره په اجتهاد شوے وه بيا ورته جبريل عليه السلام راغے او وحي ئے ورته وكړه چه دا اجازه وركول صحيح نۀ دي۔ نو معلوميږي چه عام احاديث د رسول الله ﷺ په اجتهاد سره وئيل شويدي، دے وجه نه كله نا كله به رسول الله ﷺ ځان ته نسبت كولو [لَوْلَا اَنْ اَشُقَّ عَلٰى اُمَّتِيْ لَاَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ] (كه ما په امت مشقت نۀ راوستے نو ما به ورته د مسواك په وهلو (فرضي) حكم كړے وے)۔ نو په كومو خبرو چه به الله نا رضا وو نو وحي سره به ئے هغه بدله كړه او په كومه چه به رضا وو نو هغه به سنتِ تقريري جوړ شو، دا وجه ده عام احاديث سنتِ تقريري د الله تعالىٰ دے۔

البته تپول صحيح احاديث چه الله تعالىٰ ئے تائيد كړے وي، او رد ئے پرے نۀ وي كړے نو هغه په وحي كښې داخليږي۔ يعني كومے خبرے چه د رسول الله ﷺ په زړۀ كښې اچولے كيدے او په هغے به د الله د طرفنه رد نۀ راتللو نو دا وحي ده۔

فائده: پدے آيتونو كښې د صحيح حديث شرطونه ذكر دي۔

(١) اول شرط دا چه د هغے تپول راويان به ثقات وي،

(۲) دویم دا چه اتصال السند به وی۔ مینځ کښې به انقطاع نهٔ وی راغلی،
(۳) دا چه اَنْ لَّا يَكُوْنَ الرَّاوِیْ مُبْتَدِعًا وَّلَا فَاسِقًا۔ یعنی راوی به بدعتی او فاسق نهٔ وی۔
(٤) اَنْ لَّایَكُوْنَ الرَّاوِیْ كَذَّابًا۔
راوی به دروغژن نهٔ وی، ورنه بیا به روایت ته موضوع او منګړت روایت وائی۔
(٥) اَنْ لَا يَكُوْنَ الرَّاوِیْ مُغَفَّلًا۔ راوی به مغفل (غافل) نهٔ وی۔
(٦) راوی به مدلس نهٔ وی بلکه د خپل مَرْوِی عَنْهُ سره به ئے ملاقات شوے وی، او هغه به ئے پیژندلے وی، چه دا زما استاذ دے، نو معنعن حدیث ضعیف حسابیږی۔
نو هر راوی کښې به دا کمال وی تردے چه رسول الله ﷺ ته دا خبره ورسیږی، نو داسے حدیث چه تا ته راورسیدو نو اُوس په تا فرض ده چه ددے اتباع به کوے۔ ځکه چه حجت دربانډے قائم شو، نو ددے انکار کول جرم دے۔
او همدا طریقه الله تعالیٰ دلته د قرآن کریم دپاره ذکر کړیده۔
نو دا قرآن د الله حدیث دے، سند ئے جبریل ؑ او محمد رسول الله ﷺ دے۔ یعنی عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ جِبْرِيْلَ عَنِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ۔ محمد ﷺ د جبریل ؑ نه او جبریل ؑ د الله تعالیٰ نه نقل کړیدے۔ نو اول راوی محمد ﷺ دے، نو هغه ﴿ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى﴾ دے، یعنی نهٔ په خطاء دے، او نهٔ پکښې غوایت (بدعت) شته۔ او بل راوی جبریل ؑ هم ډیر قوی او ثقه راوی دے ﴿ شَدِيْدُ الْقُوٰى ذُوْ مِرَّةٍ ﴾ دے۔
کیدے شی چه دواړه راویان قوی وی، لیکن سند به متصل نهٔ وی، مینځ کښې به انقطاع راغلی وی۔ نو الله فرمائی : ﴿ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى ﴾ او دوه ځله ئے ملاقات شویدے ﴿ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى﴾ لکه مشرکانو وئیلی وو چه کیدے شی چه شیطان ورته وحی راوړی وی او دے به وائی چه دا د الله د طرفنه ده۔
نو الله جواب ورکړو چه دے خپل استاذ جبریل ؑ پیژنی، دوه ځله ئے په خپل شکل لیدلے دے، نو ددهٔ سند متصل دے۔ نو هرکله چه دا د داسے کامل راوی نه نقل شو نو په امت بانډے ددے منل حق او لازم شو، او ددے تابعداری فرض شوه۔
نو پدے کښې چه کوم مسائل او احکام دی په هغے به عمل کولے شی، نو پدے کښې اُوس دا مسئله ده چه ﴿ اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى ﴾ یعنی د شرك نه به ځان ساتے، که ځان دِے ونهٔ ساتو، جهنم دِے ځای دے۔ نو پدے آیتونو کښې د مصطلح الحدیث بنیاد ذکر دے۔

فوائد الآيات :

شَدِيْدُ الْقُوٰى: ددے نه مراد جبریل علیه السلام دے چه ددهٔ قوتونه ډیر مضبوط دی۔ داسے قوی دے چه د قوم لوط کلی ئے د بیخ نه راویستل، او آسمان ته ئے پورته کړل، بیا ئے اپوته گوزار کړل۔ او په ثمودیانو باندے ئے داسے چغه ووهله چه ټول پرمخے پراته وو۔ او انبیاء علیهم السلام ته به ئے وحی په سیکنډونو کښں راوړه۔

ذُوْ مِرَّةٍ: (۱) مِرّه صحت او قوت د بدن او اندامونو ته وئیلے کیږی۔ لکه حدیث کښں دی : [لَاتَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِیْ مِرَّةٍ سَوِيٍّ] (ابوداود فی الزکاة باب ۲۴ والترمذی والنسائی)

او داسے قوت والا ته وائی چه د کوم شی اراده وکړی نو د هغے نه څه شے منع کونکے ئے مخے ته نشی راتللے۔ او کوم کار چه کوی په هغے ستړے کیږی نهٔ۔ (فتح البیان)

(۲) او مره خائسته شکل او صورت ته هم وائی۔ اَیْ ذُوْ مَنْظَرٍ حَسَنٍ۔ (ښکلے شکل والا دے)

(۳) قُطربؒ وائی چه څوك كامله رأی او صفا قوی عقل والا وی نو هغه ته عرب ذُوْ مِرَّه وائی۔ او دلته دا تفسیر اولیٰ دے ځکه چه مخکښں قوت د بدن بیان شو، نو اُوس قوت د عقل بیانیږی۔ کله د یو انسان بدن قوی وی لیکن عقل ئے کمزورے وی، جبریل علیه السلام کښں دواړه قوتونه راجمع دی۔ د هغهٔ د شدت او قوت نه دا ده چه هغه په مختلفو شکلونو راتللو باندے قادر دے۔

معلومه شوه چه دا وحی ترے کوم شیطان په لاره کښں نهٔ ده اخستے، د شیطان په هغهٔ باندے وس نهٔ برېږی۔

فَاسْتَوٰى: اُوس د ملاقات خبره بیانوی۔ اَیْ اِرْتَفَعَ جِبْرِیْلُ وَعَلَا اِلٰی مَکَانِهٖ فِی السَّمَاءِ بَعْدَ اَنْ عَلَّمَ مُحَمَّدًا۔ (سعید بن المسیبؒ وسعید بن جبیرؒ)

یعنی جبریل علیه السلام خپل ځای ته پورته شو چه کوم ددهٔ دپاره په آسمان کښں وو پس د هغے نه چه محمد صلی الله علیه وسلم ته ئے د وحی خودنه وکړه۔

بعض وائی : معنیٰ ئے ده : [قَامَ فِیْ صُوْرَتِهِ الَّتِیْ خَلَقَهُ اللّٰهُ عَلَيْهَا، لِاَنَّهٗ كَانَ يَأْتِی النَّبِیَّ صلی الله علیه وسلم فِیْ صُوْرَةِ الْآدَمِيِّيْنَ]۔ یعنی جبریل علیه السلام اُودریدو په خپل هغه صورت کښں چه الله تعالیٰ په هغے باندے پیدا کړیدے ځکه چه هغه به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د انسانانو په شکل راتللو

نو نبی کریم ﷺ ترے وغوختل چه دهٔ ته خپل اصلی شکل وښائی نو هغه ورته ځان په خپل اصلی شکل کښې دوه ځل وخودو، یو ځل په زمکه کښې د آسمان نه لاندے په کنارو د آسمان کښې، او بل ځل په اُوم آسمان کښې.

وَهُوَ بِالْأُفُقِ الْأَعْلٰى: دا ضمیر هم جبریل علیه السلام ته راجع دے، او پدے کښې واقعه د ابتداء د وحی ته اشاره ده چه رسول الله ﷺ ته جبریل علیه السلام په مکه کښې په اَبطَح مقام کښې (په روایت د ترمذیؒ کښې دی په محله اجیاد کښې) په اصلی شکل کښې ښکاره شو چه د هغه شپږ سوه وزرے وے او د آسمان کنارے ئے پټے کړے وے.

اَلْأُفُقِ: هغه طرف د آسمان ته وئیلے کیږی چه صبا او نمر ترینه ښکاره کیږی.

ابن جریرؒ وئیلی دی چه دا ضمیر محمد ﷺ ته راجع دے، او پدے کښې د معراج واقعے ته اشاره ده چه دواړه د معراج په شپه کښې د زمکے نه ملګرے شول او د آسمان افق ته ورسیدل. او پدے باندے ابن کثیرؒ اګرکه رد کړیدے لیکن د قرآن الفاظ دے ته هم شاملیږی، لهذا دا احتمال هم صحیح دے.

ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى: بیا جبریل علیه السلام رانزدے شو نو رازوړند شو یعنی راخکته شو رسول الله ﷺ ته.

فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ: قوس لیندے ته وائی، او قاب د لیندے موتی ته وائی، او د هرے لیندے یو یو موتے وی، نو دا په اصل کښې قَابَا قَوْسَيْنِ دے، لیکن عرب په دواړه تثنیه ؤ کښې د اختصار دپاره یو مفرد کوی.

نو معنیٰ دا شوه چه شو په اندازه د موتو د دوه لیندو، یعنی ډیر رانزدے شو. او د عربو عادت دا وو چه کله به دوه یارانو د یو بل سره صلح کوله نو دواړو به د یو بل سره لیندے یو ځای کړے، او موتی به ئے نزدے کړل پدے کښې به اشاره وه چه مونږ به د مخالف دشمن په مقابله کښې د یو طرف نه حمله کوو او مونږ به یَو یُو.

په کَانَ کښې ضمیر مقدار او فاصلے ته راجع دے چه د جبریل او د محمد علیهما السلام ترمینځ وه او قاب د کان دپاره خبر دے.

(۲) په صحاح کښې جو هریؒ لیکلی دی چه قاب او قیب دواړه په معنیٰ د اندازے سره استعمالیږی. یعنی شوه هغه فاصله او نزدے والے په اندازه د دوه لیندو.

دا مخکنے تفسیر د ابن مسعود، ابن عباس، عائشه رضی الله عنهم او حسنؒ او قتادهؒ

دي۔ پدې کښې بعض مفسرينو ددې دواړو نه مراد الله تعالىٰ او رسول الله ﷺ اخستى دى چه دواړه د يو بل سره داسې نزدې شو لکه د دوه ليندو په شان، دا روايت ابن عباس رضی اللہ عنہ او ضحاك رحمہ اللہ ته منسوب دې۔ او دا نزدې والې په ليلة المعراج کښې دې، ليکن ددې د حقيقت نه الله ښهٔ خبر دې۔

او په روايت د بخارى کښې ذکر دى [وَدَنَا الْجَبَّارُ رَبُّ الْعِزَّةِ فَتَدَلّٰى حَتّٰى كَانَ مِنْهُ قَابَ قَوْسَيْنِ] او رانزدې شو جبار رب العزت نو راخکته شو تردې چه هغهٔ ته په اندازه د دوه ليندو شو۔ (بخاری:۷۵۱۷) او رسول الله ﷺ ورته په سجده پريواتهٔ۔

بيا پدې کښې بعض ناپوهه قصه خوانان دا خبره زياتوى چه الله خپل حبيب ته وويل چه ما ته رانزدې شه، آخر دا چه العياذ بالله دواړه يو يې کمرې ته ننوتل او الله د خپل حبيب سره يو ځاى شو۔ دا سو چه ګمراهي خورول دى، او د الله تعالىٰ شان نهٔ پيژندل دي۔ خو دلته ظاهر اول تفسير دې د وجه د سياق نه۔

فَأَوْحٰى إِلٰى عَبْدِهٖ مَا أَوْحٰى : دې کښې دوه تفسيره دى (۱) يو دا چه اَوْحٰى کښې ضمير الله ته راجع دې، او مَا اَوْحٰى کښې ضمير جبريل ته۔ يعنى وحى وکړه الله تعالىٰ جبريل ته هغه وحى چه جبريل وکړه نبى کريم ﷺ ته۔ نو سند متصل شو۔

(۲) دا هم جائز ده چه اَوْحیٰ کښې ضمير جبريل ته راجع دې يعنى وحى وکړه جبريل علیہ السلام د الله بنده ته چه نبى علیہ السلام دې هغه وحى چه کومه ئې وکړه چه هغه الله ته معلومه ده۔ اوله معنىٰ دلته ظاهره ده۔

(۳) او په روايت د بخارى کښې دى : [فَاَوْحَى اللّٰهُ فِيمَا اَوْحٰى اِلَيْهِ خَمْسِيْنَ صَلَاةً عَلٰى اُمَّتِكَ] نو الله وحى وکړه په هغه وحى کښې چه کومه ئې هغه ته وکړه د پنځوسو مونځونو ستا په اُمت باندې)

مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأٰى ﴿۱۱﴾ أَفَتُمَارُوْنَهٗ
ندې خطاء شوې زړهٔ د هغهٔ د هغه څه نه چه ليدلې ئې دې۔ آيا جګړې کوئ تاسو دهٔ
عَلٰى مَا يَرٰى ﴿۱۲﴾ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً أُخْرٰى ﴿۱۳﴾ عِنْدَ
سره په هغه څه کښې چه دهٔ اُوليدو۔ او يقيناً دهٔ ليدلې وو هغهٔ لره بل ځل۔ په خوا د

سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ﴿١٤﴾ عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَأْوٰى ﴿١٥﴾ إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ
سدرة المنتهیٰ كښې۔ د هغې سره جنت المأوىٰ دے۔ كله چه پټ كړو بيرے لره
مَا يَغْشٰى ﴿١٦﴾ مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ﴿١٧﴾
هغه څه چه پټ ئے كړو۔ نۀ دے كوږ شوے نظر او نۀ د حد نه تير شويدے۔
لَقَدْ رَاٰى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ﴿١٨﴾
يقيناً دۀ ليدلى دى د نخو د رب خپل نه لوئى نخے۔

تفسير :مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى: اُوس دا خبره بيانوى چه رسول الله ﷺ هغه راوى نۀ دے چه هغه مُغَفَّل (كثير الغفلت) وى، كله يو ځاى ته ګورى او كله بل ځاى ته۔ نو فرمائى چه سترګو چه څه وليدل نو زړۀ د هغه نه خطائى نۀ ده كړے بلكه هغه ورته په زړۀ سره هم متوجه وو۔ كذب دروغ وئيل او مخالفت او خطائى كولو ته وائى۔
يعنى زړۀ د سترګو ليدلى حال تصديق كړے، او دروغ ئے ورته نۀ دى وئيلى، او نۀ ئے مخالفت كړيدے، او نۀ خطاء شويدے۔
((دروغ ونۀ وئيل زړه د محمد ﷺ هغه څۀ ته چه وے ليدل په سترګو سره))
أَفَتُمَارُونَهُ : اَىْ اَفَتُجَادِلُوْنَهٗ عَلٰى رُؤْيَتِهٖ جِبْرِيْلَ۔ آيا تاسو جګړے كوئ ددۀ سره د جبريل ؑ په ليدو كښې۔ لكه مشركانو وئيلى وو چه دۀ جبريل ؑ نۀ بلكه شيطان ئے ليدلے دے۔ نو الله پرے رد وكړو۔
عَلٰى مَا يَرٰى : غوره دا ده چه ددينه مراد جبريل ؑ دے۔ او كه ددے نه مراد د الله تعالىٰ ليدل شى، نو هغه اختلافى مسئله ده،
ابن عباس ؓ به وئيل چه (رَاٰهُ بِفُؤَادِهٖ مَرَّتَيْنِ) يعنى په زړۀ سره ئے خپل رب دوه كرته ليدلے دے۔ (مسلم عن ابى العاليه عن ابن عباس ؓ)
او په كوم روايت د ترمذى چه كښې مطلق راغلى دى چه محمد ﷺ خپل رب ليدلے دے، نو هغه به هم پدے مقيّد باندے حمل وى۔
او فراءؒ د انس بن مالك ؓ او حسنؒ او عكرمهؒ نه نقل كړيدى چه په سترګو ئے ليدلے دے۔ ليكن ابن كثيرؒ وائى چه (وفيه نظر) (پدے كښې نظر (يعنى اعتراض) دے)

او ددې مسئلې تفصيل په تفسير د سورة الاسراء کښې دوباره وګورئ.
نَزۡلَةً أُخۡرٰى: يعنى بل ځل. نزله په معنىٰ د مَرّة (کرت) سره دے. او نزله ئې ورته ځکه ووئيله چه په هغې کښې هم جبريل عليه السلام خکته راغلے وو، او رسول الله ﷺ په آسمانونو کښې وليدو او دا کار په ليلة الاسراء کښې شوے وو. او مقصد ددے جملې دا دے چه رسول الله ﷺ جبريل لره پيژنى د هغه په باره کښې نۀ خطاء کيږى ځکه چه هغه ئې دوه ځله په خپل اصلى شکل کښې ليدلے دے نو څنګه به خطاء شى.
او دا آيت دليل دے چه معراج د رسول الله ﷺ په قرآن کښې ذکر دے لکه څرنګ چه اسراء ذکر ده.
عِنۡدَ سِدۡرَةِ الۡمُنۡتَهٰى : ١– د هغه بيرے سره چه هغې ته منتهىٰ د اعمالو د بنيادمانو کيږى. ٢– اَىۡ مُنۡتَهَى الۡعُلُوۡمِ ـ لَا يُجَاوِزُهَا عِلۡمُ عَالِمٍ وَلَا مَلَكٌ مُقَرَّبٌ ـ يعنى ځاى د انتهاء د علمونو چه د هغې نه د هيڅ عالِم علم نۀ تيريږى او نۀ يو مقرب ملائك.
منتهىٰ، مکان الانتهاء ته وائى، يعنى بيرے د هغه ځاى ته چه هغې ته انتهاء (ختميدل) کيږى. چه هيڅ مخلوق ته دا پته نشته چه د هغې نه اخوا څه کيږى.
٣– يَنۡتَهِىۡ اِلَيۡهَا مَا يُعۡرَجُ بِهٖ مِنَ الۡاَرۡضِ وَاِلَيۡهَا يَنۡتَهِىۡ مَا يُهۡبَطُ بِهٖ مِنۡ فَوۡقِهَا) يعنى د زمکے نه چه کوم څيزونه خيژى، نو دغه ځاى ته ئې انتهاء کيږى، اخوا نشى تللے. او دغه شان د بره نه دغه ځاى ته څيزونه او اجرونه وغيره راځى. (صحيح مسلم)
٤– يا د شهداؤ د اَرواحو انتهاء هغې ته کيږى.
بعض وائى دلته جار مجرور حذف دے اَىۡ عِنۡدَ سِدۡرَةِ الۡمُنۡتَهٰى اِلَيۡهِ وَهُوَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ ـ يعنى خوا ته د ونے د بيرے د هغه الله چه هغه ته انتهاء کيږى. لکه چه الله روستو فرمائى: ﴿ وَاَنَّ اِلٰى رَبِّكَ الۡمُنۡتَهٰى﴾ (النجم: ٤٢) ستا رب ته انتهاء د ټولو کارونو کيږى.
او په حديث د مسلم کښې دى چه دا ونه په شپږم آسمان کښې ده.
او ماوردیؒ وئيلى دى چه تخصيص د بيرے ئې وکړو ځکه چه په بيره کښې درے صفتونه دى (١) اُوږد سورے. (٢) مزيدار خوند. (٣) خائسته بوئى.
نو دارنګه ايمان هم مشتمل دے په قول او عمل او نيت باندے، نو بوئى ددے په شان د قول د ايمان دے او سورے ددے په شان د عمل د ايمان دے، او خوند ددے په شان د نيت د ايمان دے، ددے وجه نه دا محل د اَرواحو د مؤمنانو دے.

عِنۡدَهَا جَنَّةُ الۡمَأۡوٰى: دا تعریف د مکان د جنت دے چه جنت اُوس په اُوم آسمان کښې د سدرة المنتهیٰ سره دے، اګرکه وسعت د جنت د آسمانونو او زمکے نه لوئی دے لکه چه سورة العمران (۱۳۳) او سورة حدید (۲۱) آیت کښې ذکر دی۔

لیکن الله تعالیٰ قادر دے چه په لږ ځای کښې لوی څیز راولی لکه چه په یوه سترګه کښې ډیره دنیا په نظر کولو کښې ځای کولے شی۔

په بعض روایاتو کښې دی چه سدرة المنتهیٰ په شپږم آسمان کښې ده، او جنت په اُوم آسمان کښې دے، نو معلومیږی چه د سدرة المنتهیٰ نه اخوا جنت شروع کیږی۔

رسول الله ﷺ فرمائی: ددے ونے میوه د هجر (مقام) د منګو په شان (غټے) وے۔ [وَاِذَا وَرَقُهَا مِثۡلُ آذَانِ الۡفِيَلَةِ] او د هغے پاڼړے د هاتی د غوږونو په شان وے۔

[وَاِذَا فِیۡ اَصۡلِهَا اَرۡبَعَةُ اَنۡهَارٍ نَهۡرَانِ بَاطِنَانِ وَنَهۡرَانِ ظَاهِرَانِ] او ددے په بیخ کښې څلور نهرونه وو، دوه نهرونه پټ او دوه نهرونه ښکاره۔ دوه نهرونه پټ جنت کښې روان دی او دوه ښکاره نهرونه دریائے فرات او دریائے نیل دی۔ (سنن النسائی : ٤٤٨)

الۡمَأۡوٰى: ورته ځکه وائی چه دے ته آدم ؑ پناهی وړے وه۔ بعض وائی د مؤمنانو روحونه دے کښې وسیږی۔ بعض وائی جبریل ؑ او عام ملائك ورته پناهی حاصلوی۔

إِذۡ يَغۡشَى السِّدۡرَةَ: اُوس د رسول الله ﷺ په لیلة المعراج کښې لیدلے شوی بعض څیزونه بیانوی۔ یعنی کله چه بیرے لره هغه څیزونو پټه کړه چه کوم پټه کړه چه د هغے بیان نهٔ دے کړے شوے۔ رسول الله ﷺ فرمائی: [فَغَشِيَهَا اَلۡوَانٌ مَا اَدۡرِیۡ مَا هِیَ؟] څه ښکلے رنګونه وو چه ما ته پته نهٔ وه چه هغه د څه رنګونه وو۔

(مسند احمد : ۲۱۳۲۶) واسناده صحیح علی شرط مسلم)

الله ورته د خپل قدرت نمونے خودلے۔ او بیره چونکه ډیره مزیداره فائده منه ونه ده ځکه الله تعالیٰ هلته هم راخیژولے ده۔ او په حدیث د مسلم کښې دا هم دی [فَرَاشٌ مِنۡ ذَهَبٍ] د سرو زرو پتنګان وو۔ (مسلم : ٤٤٩)

مَا زَاغَ الۡبَصَرُ: اَیۡ عَمَّا رَاٰی مِنَ الۡعَجَائِبِ۔ یعنی د رسول الله ﷺ نظر د هغه عجائبو او انواراتو نه نهٔ وو اوړیدلے، کوم چه ورته الله تعالیٰ په آسمانونو کښې خودلی وو۔ یعنی نبی او ګس طرفته ئے نظر نهٔ وو کوږ شوے۔

وَمَا طَغٰى: او نهٔ ئے د هغے نه پورته طرفته تجاوز کړے وو۔ بلکه څه چه الله ورخودل

هغې ته ئې کتل، او دې ته علماء حُسْنُ الْاَدَبِ مَعَ اللهِ وائی چه د الله سره ئې ډير ادب کړيدے، او دے ادبه خلقو طريقه دا وی چه د يو چا مجلس له راشی، کله يو شی او کله بل شی ته گوری، او مقصدی خبرے ته نهٔ متوجه کيږی۔

رَأَىٰ مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَىٰ: ددے نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ د خپل رب د قدرت لوی لوی نخے وليدلے په تلو راتلو کښې په دغه شپه کښې، او الله تعالىٰ ئې نهٔ دی ليدلے گنے هغه به ئې هم ذکر کړے وے۔ او دا نخے ئې ورته ددے دپاره وخودلے چه صبا له به امت ته بيان کوی نو دے دپاره چه د هغهٔ پوره حق اليقين پيدا شی او زړه ئې مضبوط شی۔

أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّىٰ ﴿۱۹﴾ وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ
آيا تاسو سوچ کړيدے په حال د لات او عزىٰ کښې۔ او په مناة کښې چه دريم دے،
الْأُخْرَىٰ ﴿۲۰﴾ أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْأُنثَىٰ ﴿۲۱﴾ تِلْكَ إِذًا
روستو دے۔ آيا تاسو لره دِے نارينه وی او الله لره به زنانه وی۔ دا په دغه وخت کښې د
قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ ﴿۲۲﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا أَسْمَاءٌ سَمَّيْتُمُوهَا
تقسيم دے د ظلم۔ نهٔ دی دا (باباگان) مگر نو مونه دی چه ايخودی دی تاسو
أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا أَنزَلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ
او پلارانو ستاسو، نهٔ دے رالیږلے الله په شراکت ددے باندے هيڅ دليل،
إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْأَنفُسُ
نهٔ دی روان دوی مگر د گمان پسے او هغه چه څه غواړی نفسونه د دوی
وَلَقَدْ جَاءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ الْهُدَىٰ ﴿۲۳﴾
او يقيناً راغلے دے دوی ته د طرف د رب د دوی نه هدايت۔

تفسير: ربط :

(۱) په پورتنو آيتونو کښې د دينِ اسلام او د نبی کريم ﷺ رشتين والے، د وحی الهی، او د

الله تعالیٰ د توحید ذکر وشو اُوس د مکے د مشرکانو بُت پرستی او د هغوی بدی او د هغوی د دروغژنو معبوډانو سپکاوے بیانیږی چه دا خو د خاورو او کانړو نه جوړ شوی بُتان دی چه ددے تاسو مختلف نومونه ایښی دی، چه دا تاسو ته نهٔ نفع رسولے شی، او نهٔ نقصان، آیا تاسو ړاندهٔ شوی یئ چه تاسو دا د هغه الله سره برابر ګنړئ کوم چه د آسمانونو او زمکے خالق دے ؟!۔

(۲) مخکښ د رسول الله ﷺ د جبریل علیه السلام سره ملاقات او د هغه رشتینوالے بیان شو نو اُوس د هغهٔ د دعوت رشتینوالے ذکر کیږی چه هغه رد د شرك دے۔

أَفَرَأَيْتُمُ: اَیْ هَلْ لَهَا مِنْ قُدْرَةٍ وَعَظَمَةٍ۔ یعنی ما ته ددے بتانو په باره کښ خبر راکړئ چه آیا ددے څه قدرت او عظمت شته، دوی کښ څهٔ کمالات دی، هغه خو لږ بیان کړئ۔

لات، منات، عزیٰ د درے مشهورو بتانو نومونه دی چه د عربو په دوی باندے ډیره عقیده وه، او د الله د نومونو نه ئے د دوئ نومونه راخستی وو،

د الله نه [اللَّات] او د العزیز نه [الْعُزّٰى] اخستے شوے دی، چه دا د [الْأَعَزُّ] مؤنث ده، او د [اَلْعَزِيْزَة] په معنیٰ سره دے۔ او د [الْمَنَّان] نه ئے [مَنَاة] اخستے وو۔ دغه شان دوئ به خپل دا بتان د الله شریکان ګنړل، او د دوئ عبادت به ئے کولو۔

په الصحاح کښ دی چه [اللَّات] د ثقیف قبیلے د یو بُت نوم وو چه په طائف کښ وو۔

مجاهدؒ وائی چه دا یو سړے وو چه د غر په سر کښ وسیدو هغه سره ګډے بزے وے د هغے د پیو او غوړو نه به ئے حلوا جوړه وله، او حاجیانو باندے به ئے خوره وله، او دے په بطن نخله کښ وو خو کله چه مړ شو نو خلقو ئے عبادت شروع کړو۔ (یعنی ددهٔ په شکل ئے بت جوړ کړو او د هغے بندګی ئے شروع کړه)

امام بخاریؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړیدی چه هغه ئیلی دی :

[كَانَ اللَّاتُ رَجُلًا يَلُتُّ السَّوِيْقَ لِلْحَاجِّ] (بخاری : ٤٨٥٩)

لات یو سړے وو چه د حاجیانو دپاره به ئے ستوان د غوړو یا اُوبو سره لړل، او هغوی ته به ئے د خوراك دپاره ورکول، یعنی سخی او بزرګ سړے وو۔

او قرطبیؒ وئیلی دی چه هغه کله مړ شو نو مشرکانو د هغهٔ د قبر عبادت کوو، او هغه چه په کومه ګټه باندے ناست وو، او ستوان به ئے د حاجیانو دپاره وړه کول نو ثقیف قبیلے د هغے ګټے عبادت شروع کړو، او د هغے دپاره ئے یوه کوټه جوړه کړه، او هغه به ئے

په غلافونو باندې پټه کړې وه، او طوافونه به ئې د هغې کول، او هرکله چه طائف فتح کړې شو نو رسول الله ﷺ مغیره بن شعبه او ابوسفیان رضی الله عنهما ولیږل او هغه ئې ونړوله او کوټه ئې وسیزله۔

او [الْعُزّٰی] د قریشو او بنی کنانه یو بُت وو۔ مجاهدؒ وائی چه دا په غطفان کښې یوه وُنه وه، چه خلقو به ددې عبادت کولو، ددې نه به یوه پیرئ رابنکاره کیده۔

نبی کریم ﷺ خالد بن ولید ولیږلو او هغه ئې پریکړه او هغه پیرئ ئې قتل کړه۔

او بعض وائی چه په بطنِ نخله کښې (د طائف او د مکې ترمینځ) یوه شیطانه وه چه هر کال به په درې موسمونو کښې راتلله۔

د سعید بن جبیرؒ وینا ده چه [الْعُزّٰی] یو سپین کانړے وو چه خلقو به ددې عبادت کولو۔ او په روایت د نسائی کښې دی چه په بطن نخله کښې د کیکر درې ونې وې، او یوه کوټه وه (چه په هغې کښې به د عزیٰ عبادت کیدو)۔

خالد بن الولید رضی الله عنه هغه ونې پریکړې او کوټه ئې ونړوله، بیا رسول الله ﷺ ته راغے خبر ئې ورکړو نو هغه ورته وفرمایل :آیا تا څه ولیدل؟ هغه ووېل : نهٔ، ورته ئې وفرمایل : واپس لاړ شه تا هیڅ کار نهٔ دے کړے (عزی درنه پاتے شویده) هغه چه واپس راغے نو د عزی منجوران ورته راجمعه شو او چغې ئې کړې یَا عُزّٰی یَا عُزّٰی (چه پدې سره ئې خالد بن الولید یره ولو) په بعض روایاتو کښې دی: چه داسې اشعار ئې ووېل :

اَعُــزَّاءُ شَــدِّیْ شِــدَّ ةً لَا تُـكَـذِّبِـیْ	❁	عَلٰی خَـالِـدٍ اَلْقِی الْخِمَارَ وَشَمِّرِیْ
فَـاِنَّكِ اِنْ لَا تَـقْتُـلِـیْ الْیَـوْمَ خَـالِـدًا	❁	تَبُـوْئِـیْ بِـذُلِّ عَــاجِلًا وَتَـنَـصَّـرِیْ

اے عزیٰ سخته رشتینی حمله په خالد وکړه لوپټه ګوزار کړه او پڼې ووهه، که تهٔ نن ورځ خالد لره قتل نهٔ کړے نو بیا به په لوی ذلت سره واپس شے، او شابه مدد وکړه۔

نو پدې کښې یوه توره زنانه برینډه ببر سرې رابنکاره شوه، او په سرئې خاورې اچولې نو خالد هغه په توره سره ووهله او هغې ته ئې ووېل :

یَـا عُـزّٰی كُـفْـرَانَكِ لَا سُبْحَـانَكِ	❁	اِنِّـیْ رَاَیْـتُ الـلّٰـهَ قَـدْ اَهَـانَكِ

اے عزیٰ مونږ په تا باندې کفر کوو، ستا هیڅ پاکی نهٔ بیانوو، زهٔ الله وینم چه تهٔ ئې ذلیله کړې ئې۔

پدے کښې ئې نورو خلقو ته دعوت ورکړو چه دا هیڅ نشي کولے۔ کله چه خالد راغے نو رسول الله ﷺ وفرمایل: (تِلْكَ الْعُزّٰى) دغه عزیٰ وه چه ددے نه روستو به ئې عبادت ونکړے شي۔

قریشو او بنو کنانه به دا په دویمه مرتبه کښې معبوده ګڼړله، او د هغې د کوټې نه به ئې طوافونه کول، او د هغې په نوم به ئې نذرونه ورکول۔

وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ: یعنی هغه منات بت چه په دریمه مرتبه کښې ئې معبود ګڼړلو چه د مخکنو دوه معبودانو نه روستو وو په مرتبه کښې۔

[مَنَاة] د بنو هلال قبیلے د بُت نوم وو۔ او ابن هشامؒ وئیلی دی چه دا د هُذیل او خُزاعه قبیلے د بُت نوم وو۔

صاحب د محاسن التنزیل لیکلی دی چه دا د مکے اومدینے ترمینځه د قُدید علاقے خواته په مُشَلَّل کښې یو کاڼړے وو، چه خزاعه او اَوس او خزرج والو به د جاهلیت په زمانه کښې ددے تعظیم (ادب) کولو، او د همدغه ځای نه به ئې د بیت الله د حج دپاره تکبیرونه وئیل شروع کړل۔

امام بخاریؒ د عائشے رضی الله عنها نه همدا روایت نقل کړے۔ او اَوس او خزرج والو د هغه په نوم یوه کوټه جوړه کړے وه، او په هغې باندے ئې غلافونه اچولی وو، د هغې نه به ئې طوافونه کول او په هغه ځای کښې ئې ډیر ځاروی د منات په نوم سره ذبح کول۔

بیا رسول الله ﷺ ابوسفیان ﷺ یا علی بن ابی طالب ﷺ ولیږلو او هغه ئې ونړوله۔

ددے بتانو په خپلو خپلو علاقو کښې ښه په جوش خروش سره عبادت کیدو، بیا شیطان ورته دا ښائسته کړه چه دا خو ډیر لرے دی، دے ته خو ورتلل ګران دی نو بیا ئې د هغے نه نور بتان د هغوی په شکلونو جوړ کړل، او په کعبه کښې ئې کیخودل دے دپاره چه د نزدے نه ئې عبادت کوی۔

دے وجه نه مفسرین لیکی: [كَانَتْ اَسْمَاءَ لِاَصْنَامِهِمْ فِيْ جَوْفِ الْكَعْبَةِ]۔ دا د دوئ د بتانو نومونه وو چه د کعبے په مینځ کښې ئې ایخودی وو۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه په جزیرۂ عرب کښې د دغه مذکوره بتانو نه علاوه هم طواغیت یعنی دروغژن معبودان وو، چه عربو به د هغې د خانه کعبے غونته قدر کولو، لیکن دغه درے زیات مشهور وو پدے وجه الله تعالیٰ دلته صرف درے ذکر کړل۔

أَلَكُمُ الذَّكَرُ: (۱) یعنی تاسو د عدل او انصاف نه څومره لرې یئ چه خپل ځان له خو ځامن خوښوئ، او جینکۍ ژوندئ ښخوئ، او کومې جینکۍ چه خپل ځان له نهٔ خوښوئ، هغه الله لره ثابتوئ، او دا وایئ چه ملائك او ستاسو دا بتان د الله تعالیٰ لونړه دی۔

(۲) بعض مفسرینو ئې دا مطلب بیان کړیدے چه لات او عزیٰ او منات کوم چه تاسو د الله شریکان جوړوئ، دوئ ته مؤنث نومونه وایئ (دوئ مؤنث ګنړئ)، حالانکه تاسو مؤنث سپك ګنړئ، او تاسو دا نهٔ برداشت کوئ چه ستاسو په کورونو کښې لونړه پیدا شی، او ستاسو طرفته د دوئ نسبت وکړے شی، نو بیا دا څنګه انصاف دے چه کوم دروغژن معبودان چه تاسو د الله شریکان ګنړئ، هغې ته مؤنث وایئ۔

ضِيزَىٰ: اَیْ اِنَّهَا قِسْمَةٌ خَارِجَةٌ عَنِ الصَّوَابِ، جَائِرَةٌ عَنِ الْعَدْلِ، مَائِلَةٌ عَنِ الْحَقِّ۔

یعنی دغه تقسیم د حق نه وتلے دے، او د ظلم تقسیم دے او د حق نه د کړیدو تقسیم دے، او دا ناقص تقسیم دے۔

عرب وائی: ضَازَ فِي الْحُكْمِ اَیْ جَارَ وَضَازَهٗ حَقَّهٗ اَیْ نَقَصَهٗ وَبَخَسَهٗ۔ (اخفشؒ) ضاز یعنی په فیصله کښې ئې ظلم وکړو، او ضازهٗ یعنی د هغه حق ئې نیمګړے او نقصانی کړو۔

إِنْ هِيَ إِلَّا أَسْمَاءٌ سَمَّيْتُمُوهَا: یعنی ستاسو دا دروغژن معبودان چه تاسو او ستاسو پلارانو ورته نومونه ایخودی دی چه دوی آلِهه (یعنی معبودان) دی، نو دا تش نومونه دی، د حقیقت سره ئې هیڅ تعلق نشته۔ په دوئ کښې د معبود جوړیدو هیڅ صفت نشته، او په دے باندے الله تعالیٰ هیڅ دلیل نهٔ دے نازل کړے۔ تاسو خالص د خپل وَهم او ګمان او د خپل نفس د خواهش پیروی کوئ۔

حالانکه تاسو ته ستاسو د خپل رب واضح دلیل راغلے چه دا بُتان ددے لائق نهٔ دی چه د دوئ عبادت وکړے شی۔ عبادت خو صرف هغه الله لره خاص دے چه د هر یو شئ خالق او د آسمانونو او زمکے او ددے ترمینځه د هر یو شئ مالك دے۔

سَمَّيْتُمُوهَا: دا جدید شرك ته اشاره ده، او (وَآبَاؤُكُمْ) کښې پخوانے شرك مراد دے۔ یعنی په واقع کښې خو سویٰ د الله نه بل هیڅ معبود نشته، خو تاسو د ځان نه مخلوق ته معبودان وایئ نو دا بے حقیقته نومونه دی۔

إِلَّا الظَّنَّ: ظن څکه دے چه بابا له لاړ شی هلته ئې الله بنهٔ کړی، بیا وائی چه زهٔ بابا بنهٔ

کرم۔ نو گمان ئے پیدا شی چه بابا ښۀ کول کولے شی۔ او فلانے بابا د من دانے ذمه وار دے او فلانے سر خوړیے دے۔

وَمَا تَهْوَى الْأَنْفُسُ: په شرك کښې د خپل خواهش تابعداری ده ځکه چه په خپل خواهش سره ځان له معبود مقرر کړی، کله کانړی او کله بوتې او کله انسانان او کله پیریان۔

الْهُدٰى: یعنی دا خلق الله تعالیٰ پوهه کړیدی، هدایت ورته راغلے دے لیکن دوئ د خپل خواهش تابعداری کړیده۔ نو هدی په مقابله د هویٰ کښې دے۔

أَمْ لِلْإِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿٢٤﴾ فَلِلّٰهِ الْآخِرَةُ
آیا وی به د انسان دپاره هغه څه چه دے ئے آرزو کوی۔ نو خاص الله لره آخرت دے
وَالْأُوْلٰى ﴿٢٥﴾ وَكَمْ مِنْ مَّلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِيْ شَفَاعَتُهُمْ
او دنیا ـ او ډیر ملائك شته په آسمانونو کښې چه فائده نشی ورکولے سفارش د دوی
شَيْئًا إِلَّا مِنْ بَعْدِ أَنْ يَّأْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ يَّشَاءُ
هیڅ شے مگر پس د هغے نه چه اجازه ورکړی الله تعالیٰ چا لره چه اُوغواړی
وَيَرْضٰى ﴿٢٦﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ
او رضا ئے شی۔ (او الله تړے رضا دے)۔ یقیناً هغه کسان چه ایمان نۀ لری
بِالْآخِرَةِ لَيُسَمُّوْنَ الْمَلَائِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنْثٰى ﴿٢٧﴾
په آخرت باندے خامخا نوم نه ایږدی ملائکو ته نوم نه د زنانو۔
وَمَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ إِنْ يَّتَّبِعُوْنَ إِلَّا الظَّنَّ
نشته دوی لره پدے باندے هیڅ علم، تابعداری نۀ کوی دوی مگر د گمان
وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ﴿٢٨﴾
او یقیناً گمان فائده نۀ ورکوی د حق (د ثابتولو) نه هیڅ شے۔

تفسیر: دا د مخکښې سره پدې طریقه متعلق دے چه د انسان آرزو دا ده چه زهٔ به شرك کوم او بابا به راله په دنیا او په آخرت کښې سفارش وکړی نو کامیاب به شم۔ نو الله فرمائی: چه آیا ددے انسان آرزو به حاصله شي څهٔ؟ یعنی په دے دنیا کښې د انسان د مرضئ او خواهش مطابق معاملات نهٔ ترسره کیږی، بلکه د تمامو کارونو تعلق د الله د مرضئ او د هغهٔ په ارادے او اختیار سره دے، نو بیا دوئ څنګه دا ګمان کړے دے چه د دوئ دروغژن معبودان به د دوئ د مرضئ مطابق د دوئ سفارشیان جوړیږی۔

یقیناً دا د دوئ ډیره لویه بے ځایه زړورتیا ده چه د نبی کریم ﷺ په ذریعه راغلے یقین پریدی، او د خپل باطل ګمان پیروی کوی، او د الله د شریعت نه آزادیږی او د خپل نفس د خواهشاتو پیروی کوی۔ الله تعالی د سورتِ مؤمنون په (۷۱) آیت کښې فرمائیلی:

﴿وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمٰوَاتُ وَالْأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ﴾

(که چرے شرعی دین د دوئ د خواهشاتو نوم شی نو آسمانونه او زمکه او د دوئ ترمینځه هر یو شے به دړے وړے شی)۔

مَا تَمَنّٰى: اَیْ مِنْ شَفَاعَةِ الْآلِهَةِ۔ هغه آرزو د دوی د دروغژنو معبودانو سفارش دے۔

ددے یو مطلب دا دے چه [لَيْسَ كُلُّ مَنْ تَمَنّٰى خَيْرًا حَصَلَ لَهٗ وَمَا كُلُّ مَنْ زَعَمَ أَنَّهٗ مُهْتَدٍ يَكُوْنُ كَمَا قَالَ وَلَا كُلُّ مَنْ وَدَّ شَيْئًا يَحْصِلُ لَهٗ]۔ (ابن کثیرؒ)

یعنی داسے نهٔ ده چه هر څوك د یو خیر تمنی وکړی هغه ته به حاصلیږی، او نهٔ هر هغه څوك چه ګمان وکړی چه دے په هدایت دے، نو هغه به هدایت والا وی، او نهٔ هر هغه څوك چه یو شے غواړی هغه دِے ورته حاصل شی۔ متنبی وائی: ۔

مَا كُلُّ مَا يَتَمَنَّى الْمَرْءُ يُدْرِكُهٗ	❀	تَجْرِي الرِّيَاحُ بِمَا لَا تَشْتَهِي السُّفُنُ۔

هر آرمان د انسان نهٔ پوره کیږی، هواګانے په هغه طریقه روانے وی چه کشتئ ئے نهٔ غواړی۔

❀ بل مطلب دا دے چه مشرکانو په خپل تمنا سره ځان ته هدایت والا وئیل، شرکونه به ئے کول او وئیل به ئے چه دا د خیر کار دے، نو پدے سره خو انسان د هدایت والا نهٔ ګرځی۔ دارنګه څوك نور بدعات او رسمونه کوی او په هغے کښې ثواب ګڼړی نو ددهٔ په وینا سره خو هغه د ثواب کار نهٔ ګرځی۔

او پدے کښې مقصد دعوت ورکول دی چه اے انسانه! تش آرمانونه مهٔ لره چه عمل نهٔ

کوی او عقیده دِې خرابه ده، بلکه تا له پکار دی چه په دلائلو او نخو سره حق وپیژنې اګرکه هغه به ستا د تمنا خلاف هم وی. نو دا د اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ سره لګیږی. یعنی اګرکه حق به ستا د خواهش خلاف وی خو تا له پکار دی چه تهٔ خپل نفس د حق په طلب کولو او د حق په قبلولو مجبوره کړې. (ابن عاشورؒ)

قرطبیؒ وئیلی دی چه ددې مطلب دا هم دې چه آیا د انسان دا ګمان دې چه دې کوم ارمان وکړی هغه به ورته حاصلیږی او دهٔ باندې به هیڅ جزاء او سزا نهٔ وی.

یا دې ارمان دَ ځامنو وکړی او هغه به ورته حاصل شی، یا دې د نبوت ارمان وکړی هغه به ورته حاصل شی، یا د بتانو د سفارش آرمان کوی هغه به ورته حاصل شی.

دا هیڅکله نشی کیدې، بلکه ټول کارونه د الله په اختیار کښې دی. نو د هغهٔ نهٔ ئې غوښتل پکار دی.

فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى : یعنی دنیا او آخرت کښې اختیارات صرف د الله تعالیٰ چلیږی نو بس هغهٔ ته متوجه کیدل پکار دی، او هم د هغهٔ نهٔ ئې غوښتل پکار دی، تش آرمانونه نهٔ دی پکار. نو پدې کښې رد دې په ټولو مشرکانو چه د لات منات او عزی هیڅ اختیار او تصرف نشته، نهٔ د غوث اَعظم (د دوی په نیز) او نهٔ د بل پیر فقیر.

او دارنګه د انسان د تمنا ګانو پوره کولو اختیار صرف د الله تعالیٰ سره دې، هغه ئې د خپل مشیت او ارادې مطابق چا لره چه غواړی پوره کوی او چا له ئې نهٔ پوره کوی.

وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ : که څوك ووائی چه مونږ د ملائکو عبادت پدې وجه کوو چه مونږ دپاره به دعاء او سفارش کوی، او ملائك خو د الله بنات (لونړه) دی؟

نو الله په دواړو خبرو رد کوی او مشرکانو ته رټنه ورکوی چه د الله تعالیٰ په نیز د ملائکو حالت دادې چه دوئ د خپل رب د مرضئ او اجازت نه بغیر هیڅا لپاره د شفاعت هیڅ خبره د خپلو ژبو نه نشی راویستلې. او بله دا چه ملائکو ته لونړه څنګه وایئ، دا خو بې علمه جاهلانه خبرې دی.

شَفَاعَتُهُمْ : د شفاعت نه مراد دلته دعاء ده په دنیا او په آخرت کښې.

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى : یعنی کوم مؤمن دپاره چه الله تعالیٰ وغواړی او الله تعالیٰ ترې راضی شی، یعنی مشرك نهٔ وی نو بیا به د الله تعالیٰ په اجازت سره سفارش کوی، نو پدې کښې د ملائکو عجز او الله تعالیٰ ته محتاجی ذکر شوه، چه دوئ هم بغیر د اجازت د

الله تعالیٰ نه هیڅ تصرف نشی کولے۔

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ: یعنی د مکے مشرکانو، چه دوئ به د مرگ نه پس په دوباره ژوند او د آخرت په ورځ ایمان نۀ لرلو، د دوئ یو لوی جُرم دادے چه دوئ ملائك د الله لونړه گنړی۔ نو دے نه معلومه شوه چه څوك آخرت نۀ منی، نو هغه به د خپل خواهش مطابق خبرے کوی، او ملائکو ته به لونړه وائی، او څوك چه آخرت منی نو د هغوی عقیده به د شریعت مطابق وی چه ملائك به د الله تعالیٰ مکرم او معزز بندگان گنړی، نۀ مؤنث دی او نۀ مذکر۔

وَمَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ: یعنی نشته دوئ لره پدے خبره چه ملائك لونړه دی، او مؤنث دی پدے خبره ئے هیڅ علم نشته۔ یعنی دا صرف د دوئ د خولے خبره ده ځکه چه دوئ هغوئ لره نۀ لیدلی او پیژندلی، او نۀ دوئ ته د الله له اړخه په دے باره کښې څۀ خبر راغلے، دا خبره دوئ صرف د خپل وَهُم او گمان او ناپوهئ او گمراهئ په بنیاد کړے ده۔ او معلومه ده چه حقیقت موندل د وَهُم او گمان په ذریعه نۀ، بلکه د یقینی دلائلو په ذریعه کیږی۔

وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا: ددے بل مطلب دا دے چه گمان د یقین په شان نۀ وی او نۀ د یقین په ځای قائمیږی، او نۀ څه فائده ورکوی۔ یعنی حق او عقیده په گمان نۀ ثابتیږی۔ نو دلته جنس ظن مراد دے، او مِنْ په معنیٰ د عَنْ دے او حق نه مراد علم دے۔ یعنی جنس گمان د علم (یقین) نه بے پرواهی نۀ راولی او د هغه په ځای نۀ قائمیږی۔

او دا آیت دلیل دے چه د دین په اصولو او عقائدو کښې ظن لره اعتبار نشته بلکه یقین لره اعتبار دے۔

البته په احکام شرعیه او مسائل عملیه ؤ کښې شریعت غالب گمان لره اعتبار ورکړیدے۔ هغه دلته مراد نۀ دے، بلکه دلته مقصد رد دے په مشرکانو چه دوئ په خپل گمان عقیدے جوړے کړیدی، دوی د یقین او علم حقیقی نه بیخی وړاندے دی، هیڅ دلیل یقینی ورسره نشته۔

نکته :

دلته ابن عاشورؒ ډیره مزیداره نکته وئیلے ده چه ظن په دوه قسمه دے، یو په اصطلاح د قرآن کښې دے، نو دا هغه خطاء عقیدے ته وائی چه د دلیل نه بغیر وی، او انسان په هغے

باندې د حق او صحيح ګمان لري، او ددې نه دا قول د نبي کريم ﷺ دے چه [وَإِيَّاكُمْ الظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ] (مسلم)

تاسو د ګمان نه ځان وساتئ ځکه چه ګمان ډيره دروغژنه خبره ده۔

او دويم ظن په اصطلاح د فقهاؤ کښې دے په امور تشريعيه (احکامو) کښې۔

نو د دوئ په نيز د ظن نه مراد [اَلْعِلْمُ الرَّاجِحُ فِي النَّظَرِ مَعَ احْتِمَالِ الْخَطَأِ احْتِمَالًا مَرْجُوحًا] دے معنى هغه علم چه په نظر کښې راجح وى اګرکه د خطائى احتمال به هم پکښې وى په احتمال مرجوح سره۔ يعنى غالب ګمان۔ نو دے له په شريعت کښې اعتبار دے۔

(التنوير والتحرير لابن عاشورؒ سورة الانعام : ١١٧)

فَأَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلَّى عَنْ ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا الْحَيَاةَ
نو مخ واړوه د هغه چا نه چه واوړيدو د ذکر زمونږ نه او اراده نۀ لري مګر ژوند
الدُّنْيَا ﴿٢٩﴾ ذَلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ إِنَّ
دنيوى۔ دغه دنيا انتهاء ده د دوى د علم نه (دا آخرى مقصد دے د علم د دوى)۔ يقينًا
رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ
رب ستا ښۀ پوهه دے په هغه چا چه ګمراه شو د لارے د الله نه او هغه ښۀ پوهه دے
بِمَنِ اهْتَدَى ﴿٣٠﴾ وَلِلَّهِ مَا
په هغه چا چه په هدايت روان دے۔ او خاص د الله په اختيار کښې دى هغه څه چه
فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ لِيَجْزِيَ
په آسمانونو کښې دى او په هغه څه چه په زمکه کښې دى دے دپاره چه بدله ورکړى
الَّذِينَ أَسَاؤُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ
الله هغه کسانو ته چه بدى ئے کړيده په هغه عملونو چه دوى کړيدى او بدله ورکړى
الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى ﴿٣١﴾ الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ
هغه کسانو ته چه نيکى ئے کړيده په نيکه بدله۔ هغه کسان دى چه ځان ساتى

كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ
د لویو گناهونو نه او د بې حیایانو نه مګر واړهٔ ګناهونه، یقیناً رب ستا فراخه بخښې
هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ
والا دے، هغه ښهٔ پوهه دے په تاسو باندے کله ئې چه پیدا کولئ تاسو د زمکے نه
وَإِذْ أَنتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ
او کله چه تاسو بچي وئ په خیټو د میندو کښې، نو پاکي مهٔ بیانوئ د ځانونو خپلو،
هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ ﴿٣٢﴾
الله ښهٔ پوهه دے په هغه چا چه اُویریدو د الله نه۔

تفسیر: ددے ځای نه روستو امر دے په اعراض کولو او د اِعراض کولو درے اسباب، او درے صفات د اعراض کونکوئے ذکر کړیدی۔ او پدے کښې رټنه ده چه دا کافران د آخرت منکرین دی پدے وجه پکښې داسے غلطے عقیدے راغلی دی۔

الله فرمائی : تهٔ د هغه کافرانو نه اعراض وکړه کوم چه زمونږ د یاد نه غافله دی، او د کومو آخري مقصد چه د دنیا د خوندونو نه فائده پورته کول دی۔

عَنْ ذِكْرِنَا : ١- اَیْ بِالتَّوْحِیْدِ۔ یعنی د یادولو زمونږ نه په توحید سره ځکه چه مشرکانو به هم الله تعالیٰ یادولو لیکن شرك به ئے ورسره کولو۔

٢- دویم ذکر په معنیٰ د قرآن سره دے۔ د دواړو مطلب یو دے ځکه چه مشرکانو د قرآن نه هم اعراض کولو۔

او د مخ اړولو نه مراد دا دے چه دوی سره بی ځایه جګړے مهٔ کوه ځکه چه تا دوئ ته تبلیغ وکړو، او د الله کومه ذمه واری چه په تا باندے وه هغه دِے ادا کړه۔ یا د دوئ هیڅ پرواه مهٔ لره که ایمان نهٔ راوړی۔

وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا : یعنی دوئ کښې دوه عیبونه راجمع دی، یو دا چه د الله د توحید نه مخ اړوی، او بل دنیا ئے اصلی مقصد جوړ کړیدے۔ او فَاَعْرِضْ کښې دَ فاء مطلب دا دے چه هرکله مشرکان د ګمان او د خواهش تابع دی نو په حق والو باندے لازم

ده چه د هغوی نه مخ واړوی او د هغوی د دین او مسلك نه ځان وساتی.
ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِنَ الْعِلْمِ : دا دریم عیب دے. ذلك اشاره ده دوه څیزونو ته، او دواړه مراد دی ۱ – یعنی دا وینا د دوئ چه ملائك د الله لونړه دی. دا د دوئ د علم انتهاء ده چه هیڅ دلیل ورسره نشته.
۲ – یا ذلك اشاره ده دنیا ته. یعنی د مشرك علم صرف دنیا پورے رسیږی، اخوا په الله او په آخرت باندے ئے نظر نۀ لګی. او د مؤمن بصیرت دومره زیات دے چه ناست په دنیا کښ په کوټه او خیمه کښ وی، او زړه ئے په آخرت کښ او په آسمانونو او په عرش باندے وی. او په غیب مخلوق باندے یقین لری، د دهریه ؤ په شان نۀ وی چه ظاهربین وی.
او ددے آیت نه معلومه شوه چه لوی علم د هغه چا سره دے چه څوك په الله او په آخرت باندے علم او یقین لری، او که پدے باندے یقین نۀ لری نو دا د الله په نیز لوی جاهل دے.
ددے نور مطلبونه دا هم دی (۱) یعنی دوئ صرف په دنیا او د دنیا په طلب باندے پو هیږی لکه په سورة روم (۷) آیت کښ ذکر وو.
(۲) یا دا چه د دنیا علمونه حاصلوی او په دین باندے نۀ پو هیږی.
(۳) یا دا چه د دین علم د دنیا د حاصلولو دپاره سبب جوړوی.
إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ : دا د امر د اعراض دپاره علت دے، یعنی الله تعالیٰ د دواړو حالات جدا جدا پیژنی، دے وجه نه هدایت والو ته ئے د اعراض او جدائی امر وکړو. یا مطلب دا دے چه تۀ بیان کوه الله تعالی ته هدایت والا او ګمراهان معلوم دی، چا ته به هدایت کوي او چا ته نۀ.
وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ: اُوس د اثبات د آخرت دپاره دلیل ا وحکمت بیانوی.
لِيَجْزِيَ: دا متعلق دے د پټ فعل پورے (وَخَلَقَ الْخَلْقَ بِالْحَقِّ) او الله تعالیٰ مخلوق په حق پیدا کړو دے دپاره چه الله بدله ورکړی هغه خلقو ته چه بدی ئے کړیده په خپلو عملونو کښ، یعنی بد عملونه ئے کړیدی، او نیکانو ته نیکه بدله ورکړی. یعنی آسمان او زمکه د څه دپاره پیدا دی؟ نو یو مقصد له پیدا دی، او هغه مقصد دا دے چه په دنیا کښ نیك عمله او بد عمله موجود دی، چه هغوی ته جزاء او سزا ملاؤ شی، نو

دا د اثبات د آخرت دپاره دليل شو.

بِمَا عَمِلُوْا: باء په معنىٰ د فِيْ سره ده لكه په تشريح كښ واضحه شوه. يا باء سببيه ده يعني بدي ئے كړيده په سبب د عملونو د دوئ.

بِالْحُسْنٰى: ۱ –اَيْ بِالْمَثُوْبَةِ الْحُسْنٰى وَهِيَ الْجَنَّةُ.

يعني ښائسته بدله چه هغه جنت دے.

۲ – اَوْ بِسَبَبِ اَعْمَالِهِمُ الْحُسْنٰى . يعني په سبب د ښائسته اعمالو د دوئ سره. او د دواړو ډلو سره ئے (لِيَجْزِيَ) لفظ جدا جدا ذكر كړو پدے كښ د اعمالو د بدلو اهتمام ته اشاره ده، او اشاره ده چه د دواړو جزاګانو كښ فرق دے.

او اَحْسَنُوْا كښ د احسان نه مراد ټول نيك اعمال دي چه هغه اتباع د وحی ده، او د اتباع د ظن او هوىٰ نه ځان ساتل دي، او د كتاب او سنت پوره تابعداري ده.

اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ: دا صفات دي د (اَلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا) دپاره يعني دا هغه خلق دے چه واجب ځيزونه اداء كوي چه د هغے پريښودل لويه ګناه ده، او د غټو حرامو كارونو نه هم بچ كيږي، مثلًا زنا كولو، شراب څكلو، سود خوړئ، نفس وژلو او ددے پشان نور غټ غټ حرام كارونه. البته دوئ نه كله نا كله ځينے واړهٔ ګناهونه كيږي.

د [لَمَم] لغوي معنىٰ ده [قَلِيْل اُوصَغِيْر] (كم او وړوكے).

او ازهريؒ وائي : عرب اِلْمَام په معنىٰ د نزدے والي سره استعمالوي.

زجاجؒ وائي : چه (لَمَم) هغه ګناه ده چه هغه د انسان نه كله نا كله كيږي، او په دے باندے تينګكار نهٔ كوي.

ددے درے تفسيرونه دي (۱) وړاندے تفسير دا دے چه لمم وسوسو ته وائي. لكه حديث كښ دي : (اِنَّ لِلشَّيْطَانِ لَمَّةً وَلِلْمَلَكِ لَمَّةً) (ترمذی : ۲۹۸۸) او دا استثناء منقطع ده. يعني لٰكِنِ اللَّمَمَ لَا يُؤَاخَذُوْنَ بِهٖ. ليكن په وسوسو باندے به نهٔ رانيولے كيږي.

(۲) د جمهورو عالمانو په نيز ددے نه مراد واړهٔ ګناهونه دي. ابو هريره ﷺ ددے مثال بوسه (چيه اخستل)، اشاره كول او كتل ښودلي دي. دارنګه پردو كورونو ته ورښكاره كيدل، فرض مانځه كښ خندل، د فاسقانو سره د هغوی د محبت د وجه نه كيناستل.

ابن عباس ﷺ نه ددے دا معنىٰ نقل ده چه انسان ګناه ته نزدے ورشي بيا توبه كړي. نو دے وخت كښ به دا استثناء متصل وي، او د ګناه نه به استثناء وي. يعني د دوئ نه واړه

گناهونه کیږي۔ او دا قول زجاجؒ او نحاسؒ غوره کړیدے۔
(۳) بعض واڼي ددے نه د جاهلیت د زمانے لوی گناهونه مراد دي چه د اسلام نه روستو په هغې باندے نیوکه نهٔ کیږي۔ دا قول د زید بن ثابت ﷺ او زید بن اسلمؒ دے۔
دے قِسم وړو گناهونو کولو په وجه انسان د ښو خلقو د صف نه نهٔ اُوځي، بلکه الله تعالیٰ دویٔ معاف کوي، ځکه د هغهٔ رحمت ډیر زیات فراخه دے، چه په هغې کښې دننه هغه خپل دغسے تهول بندگان پټهوي۔ الله تعالیٰ د سورتِ نساء په (۳۱) آیت کښې فرمایلي: ﴿إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ﴾ (که چرے تاسو د هغه غټو غټو گناهونونه ډډه وکړیٔ د کومو نه چه تاسو منع شوي يئ، نو مونږ به خامخا ستاسو (وړے وړے) کوتاهئ معاف کړو)۔
او د نبي کریم ﷺ صحیح حدیث دے: (پنځه مونځونه، او د جُمعے نه جُمعے پورے، او د رمضان نه رمضان پورے، ددے ترمینځه شوي گناهونه ختموي، تر څو پورے چه انسان د غټو گناهونو نه بچ اُوسیږي)۔ (مسلم: ٥٧٤)
كَبَائِرَ الْإِثْمِ: دے کښې کفر او شرك او لوی گناهونه داخل دي۔ او فواحش کښې زنا، لواطت، بُخل او قذف (مسلمان ته د زنا نسبت کول) دي۔
وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ: دا د وړو گناهونو سره هم لگي چه الله فراخه بخنے والا دے چه د لوی گناهونو نه د ځان ساتلو په وخت کښې واړه گناهونه معاف کوي۔ او د لوی گناهونو سره هم لگي چه هغه هم معاف کوي څوك چه ورته توبه وباسي۔ که دا نهٔ وے نو انسانان به ډیر گنده وے او د صفائي ذریعه به نهٔ وے۔
هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ: یعني اے انسانانو! ستاسو رب ستاسو د کمزوریو نه د هغه وخت راسے ښهٔ خبر دے هر کله چه هغهٔ ستاسو پلار آدم د خاورے نه پیدا کړو، او کله چه تاسو د خپلو میندو په خیټو کښې پرورش موندلو۔ هغه پیژني چه په تاسو کښې د نیکیٔ کولو جذبے سره د گناه کولو جذبه هم شته، کله چه د گناه سبب اُوموندلے شي نو ستاسو کشش دے طرفته زیاتیږي۔
دے وجے نه هغه په خپل فضل او کرم سره ستاسو واړهٔ گناهونه معاف کوي، او خاص طور سره د خپلو هغه بندگانو واړهٔ گناهونه چه هغویٔ هر وخت د خپل حقیقي مولیٰ په تالاش کښې لگیا وي، او کله نا کله د دویٔ نه څهٔ وړه گناه کیږي۔

او دَ دے ربط د مخکښې سره دا هم دے چه (بَعْضُ مَنْ يَّجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ يَتَبَجَّحُ بِعَمَلِهٖ) بعض خلق د لویو ګناهونو نه ځان ساتی نو په خپل عمل تکبر کوی او ځان لوی ګنړی او د ځان صفائی بیانوی، نو الله فرمائی چه ما ته ستاسو عملونه معلوم دی۔

فَلَا تُزَكُّوْا اَنْفُسَكُمْ: یعنی اے خلقو! تاسو د خپل ځان پاکی مهٔ بیانوئ، او دا مهٔ وائے چه مونږ خو د ګناهونو نه بیخی پاك صفا یو۔ الله ته ستاسو د بیانولو نه په غیر ښه معلومه ده چه د هغهٔ نه پریدونکے څوك دے۔

احمدؒ، مسلمؒ او ابوداوٗدؒ د زینب بنت ابی سلمه رضی الله عنها نه روایت کړے دے چه ددے نوم [بَرَّه] یعنی پاکیزه کیښول شوے وو۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل:

[لَا تُزَكُّوْا اَنْفُسَكُمْ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَهْلِ الْبِرِّ مِنْكُمْ، قَالُوْا بِمَ نُسَمِّيْهَا ؟ قَالَ : سَمُّوْهَا زَيْنَبَ]

(تاسو خپله پاکی مهٔ بیانوئ، الله تعالیٰ ته ښه معلومه ده چه پاکیزه څوك دے۔ ددے نوم زینب کیدئ)۔　　(مسلم : ۵۷۳۳)

او په بخاریؒ او مسلمؒ کښې د ابو بکر ﷺ نه روایت دے چه یو کس د نبی کریم ﷺ مخامخ د بل کس صفت وکړو، نو نبی ﷺ بار بار وفرمایل چه:

[وَيْحَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ صَاحِبِكَ، مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَادِحًا اَخَاهُ لَامَحَالَةَ، فَلْيَقُلْ : اَحْسِبُ فُلَانًا - وَاللّٰهُ حَسِيْبُهٗ، وَلَا اُزَكِّيْ عَلَى اللّٰهِ اَحَدًا، اَحْسِبُهٗ كَذَا وَكَذَا]

(بخاری : ۲۵۱۹، مسلم : ۳۰۰۰)

((تاله دے خرابی وی، تا د خپل دوست څټ پریکړو، که د چا تعریف کول ضروری وی، نو داسے دوایه چه زهٔ فلانے داسے ګنړم، او الله د هغهٔ د حال نه ښهٔ خبر دے، او زهٔ د الله د علم په موجودګئ کښې د هیچا پاکی نهٔ بیانوم۔ زما خیال دے چه فلانے انسان داسے دے))۔

بعض مفسرین وائی (خازنؒ، قرطبیؒ وغیره) چه دا آیت د هغه بعض مسلمانانو په باره کښې نازل وو چه هغوی به نیك اعمال کول، او بیا به ئے هغه ذکر کول، او داسے به ئے وئیل (صَلَاتُنَا، وَزَكَاتُنَا وَصِيَامُنَا وَحَجُّنَا) زمونږ مونځونونه، زمونږ زکاتونه، زمونږ حجونه، نو الله دا آیت نازل کړو۔

یا معنیٰ دا ده چه د خپل نفس تزکیه مهٔ بیانوه په طریقه د ریاء او تکبر سره، او داسے مهٔ وایئ د هغه چا په باره کښې چه تا ته ئے حقیقت نهٔ وی معلوم چه زهٔ ستا نه غوره یم، او زهٔ ستا نه ډیر پاك یم، او ډیر متقی یم ځکه چه علم د الله سره دے،

او پدے کښې اشاره ده چه د عاقبت نه يره کول واجب دی ځکه چه الله تعالیٰ ته معلومه ده چه د چا انجام په تقویٰ باندے دے۔ او د تزکیه نه ځکه منع وشوه چه څوك د ځان صفتونه نهٔ کوی د ریاء نه نفس وړاندے کوی او خشوع ته ئے نزدے کوی۔

او دلته د تزکیه قولیه نه منع راغلے ده، نهٔ تزکیه عملی ځکه چه هغه خو واجب ده چه مؤمن به ځان د ګناهونو او ګندونو نه ساتی۔

ابن عاشوړ وائی : پدے کښې مؤمنان يره ول دی د تعجب (تکبر) کولو نه په خپلو نیکو عملونو داسے تکبر چه بنده ئے په زړه کښې پیدا کړی، یا ئے یو تن د بل چا په زړه کښې راپیدا کړی چه د هغهٔ په عمل باندے ثناء او صفت ووائی۔ (التحرير)

بيا وائی : خپل نيك اعمال د تفاخر او عجب (تکبر) په طور ذکر کول، یا خلقو ته ښکاره کولو دپاره ذکر کول جائز نهٔ دی مګر که پدے کښې د عامو خلقو مصلحت وی لکه یوسف ﷺ وئیلی وو : ﴿ قَالَ اجْعَلْنِیْ عَلٰی خَزَائِنِ الْاَرْضِ اِنِّیْ حَفِیْظٌ عَلِیْمٌ ﴾ (یوسف : ٥٥) (دارنګه نورو ته دعوت ورکول وی)۔

بيا فرمائی : پدے آیت کښې ادب ورکول دی په ځان ساتلو د حکم کولو نه، او د احتیاط کولو نه په علم او خبر ورکولو کښې، او په قرائنو او نخو باندے تهمت لګول۔

نو پدے نهی کښې د خلقو د احوالو نه خبر ورکول نهٔ داخليږی کله چه دهٔ ته هغه معلوم وی، او په هغه کښې ئے دا تجربه کړی وی لکه د هغهٔ ثقه والے او په ګواهئ او روایت کښې د هغهٔ عدالت۔ (التحرير)

أَفَرَأَيْتَ الَّذِىْ تَوَلّٰى ﴿٣٣﴾ وَأَعْطٰى قَلِيْلًا
آيا خبر ئے تهٔ په هغه سړی چه واړيدو (د طاعت د الله نه)۔ او ور کړه ئے اوکړه لږه
وَّأَكْدٰى ﴿٣٤﴾ أَعِنْدَهٗ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرٰى ﴿٣٥﴾
(طاعت ئے لږ اوکړو) او بند شو۔ آيا دهٔ سره پوهه د پټو خبرو ده نو دا وينی (نجات
أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِىْ صُحُفِ
لره په لږ عمل)۔ آيا خبر نهٔ دے ورکړے شوے دهٔ ته په هغه خبرو چه په صحیفو د

مُوسٰى ﴿٣٦﴾ وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفّٰى ﴿٣٧﴾
موسیٰ۔ او د ابراهیم (علیه السلام) کښې وو هغه چه وفا داري ئې کړېده۔ (د حق د الله
أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرٰى ﴿٣٨﴾
تعالیٰ)۔(پدې خبره) چه نهٔ شي پورته کوي يو پورته کونکې بوج د بل چا۔

تفسیر : پدے آیتونو کښې زجر دے غیر مُستقیمینو ته یعني چه استقامت والا نهٔ وي لږ عمل وکړي، بیا ئے پریدی چه بس همدا کافي دے۔

او همدا انسانان په امت کښې ډیر زیات دي، په رمضان کښې اعمال کوي بیا ئے پریدی، د جُمعے په ورځ یا شپه عمل وکړي بیا ئے پریدی، د اختر یا جُمعے مانځه له راشي او نور مونځونه نهٔ کوي نو داسے خلقو باندے الله تعالیٰ رد کوي۔

شان نزول

د مجاهدؒ، ابن زیدؒ او مقاتلؒ وینا ده چه دا آیتونه د ولید بن مغیره په باره کښې نازل شوی وو، هغهٔ مخکښې اسلام قبول کړے وو، لیکن بعضِ مشرکانو هغهٔ ته د خپل پلار نیکهٔ د دین پریښودلو پیغور ورکړو، (ورته ئے وویل : تهٔ هوښیار سړے ئے، او د یو کشر سړي تابعداري کوے، (لِمَ تَرَكْتَ دِيْنَ الْاَشْيَاخِ وَضَلَّلْتَهُمْ وَزَعَمْتَ اَنَّهُمْ فِي النَّارِ؟)
تا ولے د خپلو مشرانو دین پریخودو او هغوی ته دِے د ګمراهئ نسبتونه وکړل، او ستا ګمان دے چه دوی په اُور کښې دي۔ (یعني د مشرانو خو دفاع پکار ده، لکه دا د باطل پرستو طریقه وي) نو هغهٔ ورته وویل :
(اِنِّيْ خَشِيْتُ عَذَابَ اللّٰهِ) زهٔ د الله د عذاب نه یریږم۔ نو هغه قریشي شیطان چه دهٔ له په مرتد کیدو باندے را پارولے وو، هغهٔ ورته ووئیل چه که تهٔ د قیامت د ورځے د عذاب نه یریږے نو مالِه روزانه دومره مال راکوه، زهٔ به ستا د طرفه د عذاب بوج اُوچتوم،
[فَاَعْطٰى بَعْضَ مَا كَانَ ضَمِنَ لَهٗ ثُمَّ بَخِلَ وَمَنَعَهٗ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ هٰذِهِ الْآيَةَ] چنانچه دهٔ هغهٔ ته روزانه مال ورکول شروع کړل، او بیائے د یوے مودے نه پس بند کړو۔ نو د اسلام نه واوړیدهٔ، او دوباره په مشرکانو کښې شامل شو۔ نو دا آیت نازل شو۔

(اسباب النزول للواحدي والخازن ٤/٢١٢)

بعض وائی : دا د عاص بن وائل سهمی په باره کښې نازل وو چه دهٔ به د رسول الله ﷺ موافقت کولو په ډیرو کارونو کښې لیکن بیائے هغه سر ته ونهٔ رسول۔

محمد بن کعب قُرَظیؒ وائی : دا د ابوجهل په باره کښې نازل دے ځکه چه هغه به وئیل : [وَاللّٰهِ مَا يَأْمُرُنَا مُحَمَّدٌ اِلَّا بِمَكَارِمِ الْاَخْلَاقِ]

قسم په الله محمد (ﷺ) مونږ ته د عزتمنو اخلاقو حکم راکوی۔ لیکن ددے خبرے نه روستو دهٔ د رسول الله ﷺ تابعداری ونکړه، نو دا اَعْطٰی قَلِیْلًا وَاَکْدٰی شو۔ (قرطبیؒ)

تَوَلّٰی: یعنی د دین او طاعت نه واوړیدو۔

وَاَعْطٰی قَلِیْلًا وَّاَکْدٰی: ۱- د ابن عباس ﷺ نه نقل دی چه لږ اطاعت وکړی او بیا بند شی۔ نو دغه شان دغه انسان لږ کار د دین وکړو او نور ورته سخت ښکاره شو نو هغه ئے پریخودو۔

وَّاَکْدٰی: د کُدْیَةٌ نه دے، صلابت (سختیٔ) ته وائی، او دا په اصل کښې هغه چا دپاره استعمالیږی چه څوك کوهے کنی او مخے ته ئے یوه سخته گټه راشی چه خکته کنستل بند کړی، نو عرب وائی : اَکْدٰی۔ یعنی عاجز شو د مخکښې تللو نه۔ او اَکْدَی الرَّجُلُ دے دپاره استعمالیږی چه کله د یو تن خیر کم شی۔

مقاتلؒ وائی : ولید به د قرآن صفتونه کول بیا بند شو نو د ژبے نه ئے لږ خیر ورکړو بیا ئے پریکړو۔ قَلِیْلًا نه مراد د شان نزول مطابق لږه زمانه ده، یعنی مال ئے ورکړو لږه زمانه بیا ئے پریکړو۔ یا قلیل صفت د طاعت دے، یعنی ورئے کړو لږ طاعت بیا بند شو د هغے نه، او دا معنیٰ غوره ده ځکه چه پدے کښې عموم دے۔

فَهُوَ یَرٰی: ۱- اَیْ نَجَاتَهٗ بِالْعَمَلِ الْقَلِیْلِ ۔ یعنی آیا ددهٔ سره د غیبو علم دے چه دے په لږ عمل سره د خپل ځان نجات وینی۔

۲- یا آیا دهٔ سره د غیبو علم دے، چه ددے په ذریعه دهٔ ته معلومه ده چه د قیامت په ورځ به څوك د چا د طرفه عذاب برداشت کوی۔ دا ددهٔ دروغ تړل دی، او ډیر لوی حماقت او جهالت دے۔

اَمْ لَمْ یُنَبَّاْ :آیا دے د موسیٰ علیه السلام په صحیفو او د ابراهیم علیه السلام په صحیفو کښې راغلی خبرو نه خبر نهٔ دے۔ په دے صحیفو کښې خو دا دی چه د قیامت په ورځ هیڅوك د بل

چا بوج نشي اوچتولے۔ او هر يو انسان ته به صرف دهٔ د خپل عمل بدله ملاويږي۔
وَفّٰى: ١- اَیْ وَفّٰى جَمِيْعَ شَرِيْعَتِهٖ۔ يعني د الله د ټول شريعت وفاداري ئے کړے وه۔
٢- بل تعبير دے: عَمِلَ بِجَمِيْعِ اَحْكَامِ اللهِ۔
د الله په ټولو احکامو ئے عمل کړے وو۔ او دا لفظ ئے هم دلته د مناسبت د وجه نه راوړو چه دغه شخص بے وفاء دے، د ابراهيم عليه السلام تابعدار هم نهٔ دے۔

وَأَنْ لَّيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعٰى ﴿٣٩﴾ وَأَنَّ سَعْيَهٗ
او نشته د انسان دپاره مګر هغه چه دهٔ کوشش کړيدے۔ او يقيناً کوشش دهٔ به
سَوْفَ يُرٰى ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفٰى ﴿٤١﴾
زر دے چه اُوخودلے شي دهٔ ته۔ بيا به بدله ورکړے شي دهٔ ته بدله پوره۔
وَأَنَّ إِلٰى رَبِّكَ الْمُنْتَهٰى ﴿٤٢﴾
او يقيناً رب ستا ته آخري رسيدل دي۔

تفسير: وَأَنْ لَّيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعٰى: يعني په هغه کتابونو او صحيفو کښ دا هم راغلي دي چه د هر انسان ته به د هغه شي اجر او سزا رسيږي چه دهٔ کړے وي۔ نيکي وي او که ګناه، نو د بل چا په نيکئ څوك فائده نشي اخستے، او د بل چا ګناه څوك نشي پورته کولے۔ او دهٔ کوشش به د قيامت په ورځ دهٔ ته راښکاره شي لکه ﴿ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ﴾ په شان دے۔ بيا به ورته پوره بدله ورکړے شي۔
وَأَنَّ إِلٰى رَبِّكَ الْمُنْتَهٰى: دا د اِلَى اللهِ الْمَصِيْرُ په شان آيت دے،
١- يعني ستا رب طرف ته انتهاء د مخلوق او د هغوی د عملونو ده، ټول مخلوق به الله ته ورګرځولے شي دپاره د حساب او جزاء ورکولو۔
٢- يا اِنْتِهَاء د اميدونو يو الله تعالىٰ ته، د بل هيچا نه اميد د نفع او د نقصان نشته۔
٣- يا اِنْتِهَاء د فکرونو الله تعالىٰ پورے ده۔ يعني هر څيز کښ فکر کيدے شي ليکن د الله په ذات کښ فکر نهٔ چليږي۔
وَأَنْ لَّيْسَ لِلْإِنْسَانِ: پدے آيت کښ ډيرو مفسرينو ته دا اشکال رامخکښ شويدے چه

دے آیت کښې خو دا دی چه د هر انسان کوشش او عمل د خپل ځان دپاره دے، او صرف همده ته به فائده ورکوی، حال دا چه په دین کښې د بل چا عمل هم کله نا کله بل ته فائده ورکوی لکه په مسئله د ایصال ثواب کښې۔

نو بیا ئے ددے نه جوابونه ورکړیدی۔

(۱) چا وئیلی دی چه لِلۡاِنۡسَانِ کښې لام د مِلۡك دے،

او مطلب دا دے چه په پردی عمل تهٔ فائده اخستے شے لیکن تهٔ ئے مالك نهٔ ئے۔ نو هر عمل د انسان په ملکیت او اختیار کښې دے که دے ئے ځانله ګرځوی او که بل ته ئے ثواب بخښی۔ نو دا منافی نشو د هغه روایاتو سره۔

(۲) قرطبیؒ وئیلی دی چه سعی په معنیٰ د نیت سره دے۔ [لَیۡسَ لِلۡاِنۡسَانِ اِلَّا مَا نَوٰی]

د انسان دپاره نهٔ وی مګر هغه شے چه دهٔ نیت کړے وی، نو که د ځان دپاره نیت وکړی نو خپله فائده، او که بل دپاره نیت وکړی نو د هغه دپاره جوړیږی۔

(۳) شوکانیؒ وائی : چه دا عام مخصوص البعض دے، یعنی د ځینے نورو آیتونو او حدیثونو په ذریعه ددے عموم تخصیص شوے دے۔ لکه د سورتِ طور په (۲۱) آیت کښې راغلی : ﴿ اَلۡحَقۡنَا بِهِمۡ ذُرِّیَّتَهُمۡ ﴾ (مونږ به دے جنتیانو ته د دوئ اولاد اورسوو)۔

او په حدیث کښې راغلی دی چه الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ د انبیاؤ او ملائکو شفارس قبلوی۔ او دا هم راغلی چه ژوندے انسان چه د مړی لپاره دعاء کوی نو الله تعالیٰ ئے قبلوی۔

(٤) چا وئیلی دی چه دا شرع د مَنۡ قَبۡلَنَا ده، یعنی دا په پخوانو کتابونو کښې لیکلے شوی وو چه انسان دپاره صرف خپل عمل فائده ورکوی۔

(٥) پدے کښې حقه ان شاء الله دا ده چه آیت په ظاهر بناء دے، او هر انسان ته خپل عمل فائده ورکوی، پردے عمل ورته فائده نهٔ ورکوی۔ او مسئله د ایصال ثواب په دین کښې نشته چه یو تن د بل دپاره ختمونه کوی، روژے نیسی، مونځونه کوی، او هرچه والدینو ته د بچو د عمل فائده رسیدل دی نو هغه پدے وجه چه (اِنَّ اَوۡلَادَکُمۡ مِنۡ کَسۡبِکُمۡ) د انسان اولاد د هغهٔ کسب او عمل دے۔ نو دا په مَا سَعٰی کښې داخل شو۔

او نورو خلقو ته صدقے بخښل، د بل دپاره تلاوتونه کول او مونځونه کول په دین کښې نهٔ دی ثابت۔

دلته يوه مسئله د ايصال ثواب ده، او بل د نيابت ده، دواړو كښې فرق دے، د نيابت مسئله دا ده چه يو تن په روژه كښې د پلار وغيره نائب جوړ شي، او د هغهٔ د طرفنه روژه نذري يا فرضي ونيسي، يا په هغه باندے حج وي او نشي ئے ادا كولے، يا ئے نهٔ وي ادا كړے نو دے ورله نائب جوړ شي۔

صرف په شريعت كښې دعاء او جنازه د بل مسلمان دپاره فائده وركوي، او د باقي اعمالو په باره كښې صحيح حديث نهٔ دے ثابت۔

حافظ ابن كثيرؒ ليكلي چه امام شافعيؒ او ددهٔ شاګردانو ددے آيتِ كريمه نه استدلال كړے چه د قرآن د تلاوت كولو ثواب مړو ته نهٔ رسيږي، ځكه چه دا د هغوئ خپل عمل نهٔ وي۔ دے وجے نه رسول الله ﷺ خپل امت ته په ډاګه يا اشارے هيڅ طريقے سره ددے ترغيب نهٔ دے وركړے، او نهٔ صحابه كرامو دا كار كړے۔

كه چرے دا كار ښهٔ وے نو صحابه كرامو به خامخا كړے وے۔ د ثواب په كارونو كښې په نص باندے اكتفاء كيږي، په دے كښې په رائے او قياس باندے عمل نهٔ كيږي۔

البته د دعاء او خپلے صدقے ثواب مړي ته رسيږي، ځكه دا په نص سره ثابت دي۔

امام مسلمؒ په خپل كتاب (الصحيح) كښې د ابو هريره ﷺ نه روايت كړے:

[إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ إِنْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُوْ لَهُ] مسلم : ٤٣١٠)

چه كله انسان مړي نو ددهٔ عمل بنديږي، صرف درے ذريعو سره دهٔ ته ثواب ملاويږي: صدقه جاريه او هغه علم چه په هغے سره خلق نفع حاصلوي، او نيك اولاد چه دهٔ دپاره دعاء كوي۔ ځكه چه په حقيقت كښې دا درے كارونه ددهٔ د كوششونو نتيجه ده، او ددهٔ د عمل يوه برخه ده،

لكه د عائشے رضي الله عنها په هغه حديث كښې راځي چه هغه نسائي او ابوداود روايت كړے، [إِنَّ مِنْ أَطْيَبِ مَا أَكَلَ الرَّجُلُ مِنْ كَسْبِهِ وَوَلَدُهُ مِنْ كَسْبِهِ]

چه د ټولو نه پاكيزه روزي هغه ده چه انسان خپله ګټلے وي، او ددهٔ ځوي ددهٔ ګټه ده،

(نسائي : ٤٤٤٩ وابوداود : ٣٥٣٠)

او صدقه جاريه لكه وقف وغيره ددهٔ د خپل عمل برخه ده۔

او كوم علم چه دے ئے په خلقو كښې خوروي هغه هم ددهٔ د عمل برخه ده۔

وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضۡحَكَ وَأَبۡكَىٰ ﴿٤٣﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَمَاتَ وَأَحۡيَا ﴿٤٤﴾
او یقیناً هغه خندول کوی او ژړول کوی، او یقیناً هغه مړهٔ کول کوی او ژوندی کول
وَأَنَّهُۥ خَلَقَ الزَّوۡجَيۡنِ الذَّكَرَ وَالۡأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن نُّطۡفَةٍ إِذَا تُمۡنَىٰ ﴿٤٦﴾
کوی۔ او یقیناً هغهٔ پیدا کړیدی دوه جوړیٔ نارینه او زنانه۔ د نطفے نه کله چه واړولے
وَأَنَّ عَلَيۡهِ النَّشۡأَةَ الۡأُخۡرَىٰ ﴿٤٧﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَغۡنَىٰ
شی (په رَحِم کښ)۔ او یقیناً د هغهٔ په ذمه دے پیدائش بل۔ او یقیناً هغه مالداره
وَأَقۡنَىٰ ﴿٤٨﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ الشِّعۡرَىٰ ﴿٤٩﴾
کول کوی او غریبول کوی۔ او یقیناً هغه رب د شعریٰ ستوری دے۔

تفسیر: ددے ځای نه تر (٤٩) آیت پورے د الله تعالیٰ نهه صفتونه ذکر دی دپاره د اثبات د توحید۔ او پدے کښ دوه دوه متضاد څیزونه ذکر دی، دے ته په علم بدیع کښ الطباق المتضادد وئیلے کیږی۔

د موسیٰ علیه السلام او ابراهیم علیه السلام په صحیفو کښ دا هم راغلے ده چه الله رب العالمین هغه ذات دے چه په انسان کښ ئے د خندولو او ژړولو طاقت ایښے۔ په آیت کښ عموم دے۔

(١) اَسَرَّ وَاَحۡزَنَ۔ الله خوشحاله کول او خفه کول کوی۔

یعنی په دنیا کښ چا لره خوشحالی ورکولو سره هغه خندوی، او چا لره په غم ورکولو سره په ژړا باندے مجبوره کول کوی۔

(٢) اَضۡحَكَ اَهۡلَ الۡجَنَّةِ فِی الۡجَنَّةِ وَاَبۡكٰی اَهۡلَ النَّارِ فِی النَّارِ۔ جنتیان په جنت ته بوتللو سره خندوی او جهنمیان په جهنم ته بوتللو سره ژړوی۔

(٣) اَضۡحَكَ الۡاَرۡضَ بِالنَّبَاتِ وَاَبۡكٰی السَّمَاءَ بِالۡمَطَرِ۔ زمکه ئے په ګیاه باندے خندولے ده او آسمان ئے په باران باندے ژړولے دے۔

(٤) اَضۡحَكَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ فِی الۡعُقۡبٰی بِالۡمَوَاهِبِ، وَاَبۡكَاهُمۡ فِی الدُّنۡيَا بِالنَّوَائِبِ۔

مؤمنان ئے په آخرت کښ په تحفو او هبو باندے خندولی دی، او په دنیا کښ ئے په مصیبتونو باندے ژړولی دی۔

وَأَنَّهُ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا: دے نه ظاهري مرګ او ژوند هم مراد دے او باطني هم۔ اَیْ اَمَاتَ بِالْكُفْرِ وَاَحْيَا بِالْإِيْمَان۔ په کفر سره مړه کول او په ایمان سره ژوندي کول کوي۔

وَأَنَّهُ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ: او الله چه چا لره غواړي په مړه نطفه کښې ئے ژوند اچولو سره ژوندے کوي۔ او هم هغهٔ سړے او ښځه د یو بے قطرے نطفے نه پیدا کړل کوم چه په توپ سره د مور رحم ته لاړه شي او هلته قرارے اُونیسي۔

مِنْ نُّطْفَةٍ: نطفه په اصل کښې (اَلْمَاءُ الْقَلِيْلُ) لږو اُوبو ته وئیلے شي۔

إِذَا تُمْنٰى :اَیْ اِذَا تُصَبُّ فِي الرَّحِمِ ۔ کله چه واړه ولے شي په رحم کښې۔ نو الله ترے کله نارینه او کله جینئ پیدا کړي د خپل حکمت مطابق، او ښځه او خاوند د هغے د پیدائش نه خبر هم نهٔ وي، دا خالص د الله په قدرت سره کیږي، چه پدے باندے رب پیژندلے کیږي۔

أَغْنٰى وَأَقْنٰى: پدے کښې ډیر اقوال او تفسیرونه دي :

(۱) اغنٰی : مالداره کول کوي۔ او اقنٰی : اَیْ اَقْنَعَ، وَاَرْضٰی بِمَا اَعْطٰی۔

یعني قناعت ورکوي او راضي کول کوي په هغه څه چه څه ورکوي۔ (ابن عباسؓ)

(۲) قنیه په اصل کښې ساتلے شوے/ خزانه شوے مال دے،

نو أَغْنٰی : مطلق مال ورکوي او أَقْنٰی : یعني زیات مال ورکوي چه هغه ساتلے او خزانه کولے شي۔ یعني ذخیره اندوزئ دپاره مال ورکوي۔

اَیْ زَادَ فَوْقَ الْغِنٰی۔ یعني د مالدارئ نه زیات ورکوي۔

(۳) اغنٰی : په نقودو سره، او اقنٰی په څاروو سره مالداره کول کوي۔

(٤) اغنٰی : په ډیرو مالونو سره او اقنٰی په خادمانو او نوکرانو ورکولو سره۔

(٥) اغنٰی مالداره کول کوي او اقنٰی غریبول کوي۔ (اخفشؒ وابن کیسانؒ)

(٦) اغنٰی : خپل ځان ئے د مخلوق نه بے حاجته کړیدے، او أَقْنٰی مخلوق ئے ځان ته فقیر او محتاج کړیدے۔

وَأَنَّهُ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰی: او هم هغه د شِعرٰی ستوري رب دے۔

پدے آیت کښې مقصد د خُزاعه قبیلے او هغه خلقو رد کول دي چه هغوئ به ددے ستوري عبادت کولو، ګنے الله تعالٰی خو د هریو شئ رب دے۔ یعني شِعرٰی ستورے د الله مخلوق دے، خلق دا ولے معبود ګڼړي او عبادت ئے کوي۔

شعرئ یو ستورے دے چه د جوزاء نه روستو په سخته ګرمئ کښې راښکاره کیږي، او دلته د شعرئ نه مراد هغه ستورے دے چه هغے ته عبور وئیلے شي، او دا په رنړا کښې د هغه شعرئ نه زیات دے چه هغے ته غُمیصاء وئیلے شي.

او ابوکبشه چه د عربو د سردارانو او اشرافو نه وو، هغه اول ددے ستوري عبادت شروع کړے وو، او د نورو خلقو دپاره ئے ددے عبادت بنیاد ایخودے وو، او ددے وجه دا وه چه نور ستوري په آسمان کښې په پلنو باندے مزل کوي او شعرئ ستورے په اُوږدو مزل کوي.

نو ددے ناشنا والي د وجه نه ابوکبشه ددے عبادت شروع کړو چه دے کښې څه کمال ښکاري او بیا به خزاعه او حِمۡیَر قبیلے ددے عبادت کولو.

او قریشو به رسول الله ﷺ ته ابن ابی کبشه وئیلو ځکه چه دهٔ هم د خپل قوم د دین مخالف شے راوړے وو، او رسول الله ﷺ هم د خپل قوم مخالف دین راوړو، خو فرق دا وو چه ابوکبشه شرك راوړے وو، او رسول الله ﷺ توحید راوړو.

او ابوکبشه د رسول الله ﷺ د مور د طرفنه نیکهٔ وو.

وَأَنَّهُۥٓ أَهۡلَكَ عَادًا ٱلۡأُولَىٰ ﴿٥٠﴾ وَثَمُودَاْ فَمَآ أَبۡقَىٰ ﴿٥١﴾
او یقیناً هغهٔ هلاك كړیدي عادیان زاړهٔ. او ثمودیان نو باقي ئے پرینخودو هیڅوك.
وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ هُمۡ أَظۡلَمَ وَأَطۡغَىٰ ﴿٥٢﴾
او قوم د نوح ﷺ مخکښې ددے نه یقیناً دوي وو ډیر ظلم کونکي او ډیر سرکشي
وَٱلۡمُؤۡتَفِكَةَ أَهۡوَىٰ ﴿٥٣﴾ فَغَشَّىٰهَا مَا
کونکي. او مؤتفکه کلي ئے د برے نه ګوزار کړو. نو پټ کړو هغے لره هغه څیز
غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾
چه پټ ئے کړو. نو په کوم یو د نعمتونو د رب ستا باندے تهٔ شك کوے.

تفسیر: وَأَنَّهُۥٓ أَهۡلَكَ عَادًا ٱلۡأُولَىٰ: او همدغه الله هغه ذات دے چه هغهٔ اولنے عاد قوم هلاك كړے وو، دوئ ته ئے [عَادِ اَوَّل] ځکه اُووئیلو چه د دوئ زمانه د ثمودیانو نه مخکښې وه.

نو د اُولیٰ نه مراد (اَلْقُدَامیٰ) یعنی زاړهٔ عادیان دی۔
بعضو وئیلی دی چه ددې نه مراد قومِ هود دے، او عادِ آخر قومِ ارم ته وئیلے کیږی۔
وَثَمُوْدَ: دا عطف دے په عاداً باندے یعنی همدغه الله ثمودیان هم تباه کړل، یعنی لکه څنګه چه الله تعالیٰ عادیان هلاك کړل، دغه شان ئے ثمودیان هم تباه کړل، د دواړو قومونو نه ئے هیڅوك پرے نښودلو۔
فَمَا اَبْقٰی: ١ – اَیْ وَاحِدًا مِنْهُمْ۔ یعنی د دوئ نه ئے یو تن هم پرینخودو۔
٢ – فَمَا رَحِمَهُمْ۔ یعنی په دوئ ئے هیڅ رحم ونکړو۔
وَقَوْمَ نُوْحٍ: او هم هغهٔ ددے دواړو قومونو نه مخکښ قومِ نوحؑ هلاك کړے وو، چه هغوئ د عاد او ثمود نه هم زیات ظالمان او سرکشه شوی وو۔
وَاَطْغٰی: د هغوی سرکشی او ظلم ځکه زیات وو چه هغوی په ګناهونو سره په الله باندے سرکشی کړے وه سره د اُوږدوالی د دعوت د نوح علیه السلام نه دوئ ته۔ په نهه نیم سوه کالو کښ یو څو کسانو ایمان راوړے وو، خیر والا خلق پکښ په نشت باندے حساب وو۔
اظلم کښ شرك ته اشاره ده، او اَطْغٰی کښ د پیغمبر مخالفت۔ یعنی د دوئ عقیده هم خرابه وه او عمل ئے هم خراب وو۔
وَالْمُؤْتَفِكَةَ اَهْوٰی: او الله تعالیٰ د قومِ لوط کلی اړولی وو، او د جبریل علیه السلام په لاس ئے پورته کړل، او زمکے ته ئے را ویشتل، بیائے دوئ د کاڼرو په باران کولو سره پټ کړل۔ لکه د سورتِ حجر په (٧٤) آیت کښ راغلی دی:
﴿فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيلٍ﴾
(یعنی آخر مونږ دا ښار لاندے باندے کړو، او په دے خلقو مو د کاڼرو باران وکړو)۔
فَغَشّٰهَا مَا غَشّٰی: (١) غَشّٰهَا کښ ضمیر مستتر الله ته راجع دے، او هَا مفعول اول او (مَا) موصوله مفعول ثانی دے۔ او غَشّٰی کښ دواړه مفعولونه حذف شویدی۔ معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ پټ کړل دغه کلی په هغه کاڼرو سره چه په کومو سره الله پټ کړل۔
(٢) او دا هم جائز ده چه مزید په معنیٰ د مجردو شی لکه د فَغَشِيَهُمْ مِنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ په شان۔ (اعراب القرآن للدرویش ٩/٣٦٨)
نو مَا فاعل د غَشّٰهَا دپاره دے۔ یعنی پټ کړو دغه قومِ لوط لره (مَا) هغه د کاڼرو باران کوم چه پټ کړل۔ او ابهام پکښ د تفخیم دپاره دے، یعنی د کاڼرو دومره باران پرے وشو

او دوئ پکښې پټ شول چه که زهٔ تا ته د هغې بیان وکړم هم ستا په ذهن کښې به واقع نشي.

تَتَمَارٰی: دا خطاب هر انسان او خاصکر دغه ولید بن مغیره کافر ته وو.

تَتَمَارٰی: د مِرْيَةٌ نه دے شك كولو ته وئیلے شي. یا د مِرَاءٌ نه دے جګړے کولو ته وائی. یعنی شك کوے او بیا د الله د طاعت نه اوړے.

او دے ذکر شوی څیزونو ته ئے نعمتونه ووئیل سره ددے نه چه پدے کښې خو نقمتونه (عذابونه) هم ذکر دی، وجه دا ده چه په دغه عذابونو کښې هم انسانانو ته لوی عبرتونه او نصیحتونه پراتهٔ دی، او پدے کښې د ګناهګارو مجرمانو نه بدله اخستل او د انبیاء علیهم السلام او صالحینو مدد کول دی او دا نعمتونه دی. (فتح البیان)

هٰذَا نَذِيْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْأُوْلٰى ﴿٥٦﴾ أَزِفَتِ الْآزِفَةُ ﴿٥٧﴾
دا یره ورکونکے دے د ویره ورکونکو مخکنو نه. رانزدے شو نزدے راتلونکے آفت.
لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ أَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ
نشته هغې لره سوئ د الله نه هیڅوك رابنکاره کونکے. آیا پس ددے خبر (قرآن) نه
تَعْجَبُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَأَنْتُمْ سَامِدُوْنَ ﴿٦١﴾
تعجب کوئ تاسو. او خندا کوئ او ژړا نهٔ کوئ. او تاسو غفلت کونکی یئ.
فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿٦٢﴾ (س).
نو سجده اُوکړئ الله ته او بندګی اُوکړئ (د هغهٔ).

تفسیر: هٰذَا نَذِيْرٌ: اُوس براعة الاختتام کوی (١) او هٰذَا کښې اشاره ده رسول الله ﷺ ته، یعنی محمد (ﷺ) د مخکنو رسولانو غونته ستاسو دپاره یو رسول دے، چه دهغهٔ د رالیږلو مقصد تاسو د الله د عذاب نه ویرول دی، لکه څنګه چه دے رسولانو خپل قومونه ویرولی وو. د ابن جریجؒ او محمد بن کعبؒ وغیره همدا قول دے.

(٢) او د قتادهؒ په نیز د [نَذِيْر] نه مراد قرآن کریم دے،

او د آیت مطلب دادے چه اے خلقو! دا قرآن تاسو د هغه عذاب نه ویروی د کوم نه چه

مخکنو آسمانی کتابونو قومونه ویرولی وو۔ نو د اَلنُّذُرِ الْاُوْلٰی نه به هغه صحیفے او کتابونه مراد وی چه انبیاؤ ته ورکړے شوی وو۔
(۳) او بعضِ مفسرینو وئیلی دی چه هذا کښې اشاره ده مخکنو قصو ته، یعنی په مذکوره آیتونو کښې چه د مخکنو سرکشه قومونو د هلاکت کومے قصے واورولے شوے، ددے نه مقصد امتِ محمدیه ویرول دی چه که دوئ هم د الله نافرمانی وکړه نو په دوئ هم د الله عذاب راتللے شی۔
اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ: اُوس چه دغه رسول په کومه خبره یره ورکوی هغه بیانوی چه هغه د آخرت نه خلق یره ول دی نو اُوس د آخرت یره بیانوی۔
آزفه د قیامت د نومونو نه یو نوم دے په معنیٰ د ساعت، یعنی نزدے راتلونکے ساعت معنیٰ دا ده: (قیامت) ډیر رانزدے شو۔ وخت ئے نزدے راغے۔ یا خلقو ته رانزدے شو۔ ددے رسول په راتللو سره۔
یا آزفة صفت د آفت دے اَیِ الآفَةُ الْقَرِیْبَةُ۔ رانزدے شو نزدے آفت او مصیبت۔
لَیْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللهِ كَاشِفَةٌ: ۱- (لرے کونکے) یعنی د الله نه سویٰ دے لره څوک لرے کونکے نشته۔ د ﴿لَا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللهِ يَوْمَئِذٍ يَّصَّدَّعُوْنَ﴾ (روم: ۴۳) په شان دے۔
(۲) یا کشف په معنیٰ د ظهور او معلومات سره دے۔ یعنی نشته دے لره سویٰ د الله نه هیڅ نفس راښکاره کونکے او معلومونکے چه په فلانئ ورځ به راځی بلکه ددے علم صرف الله ته دے۔
اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ: د قرآن نه په انکار باندے رټنه ورکوی۔
(۱) د حدیث نه مراد قرآن دے۔
تَعْجَبُوْنَ: قرآن خو تعجبی کتاب دے، نو بیا ددے نه په تعجب کولو څنګه رټنه ورکوی؟ جواب دا دے چه تعجب په دوه قسمه دے، یو تعجب (حیرانتیا) په طریقه د خوشحالئ او کمال سره دے چه د قرآن کریم په کمالاتو کښې تعجب کوی چه دا څومره عجیب کتاب دے، نو دا تعجب د مؤمن صفت دے،
او دویم تعجب دے په طریقه د انکار چه دا څنګه کیدے شی چه انسان ته دِے الله خبرے نازلے کړی، آیا الله ګنے داسے خبرے کوی۔
نو دا قسم تعجب د کفارو صفت دے، او دلته همدا قسم تعجب مراد دے۔

وَتَضۡحَكُوۡنَ: یعنی تاسو خندا کوئ په طریقه د مسخرو او سپکاوی۔
وَلَا تَبۡكُوۡنَ: په قرآن سره ژړا کول د نیکانو مؤمنانو صفت دے، لکه په سورة اسراء (۱۰۹) آیت کښې ذکر دے۔
(۲) یا د حدیث نه مراد خبر د اَزِفَتِ الۡآزِفَةُ دے۔ یعنی د قیامت ددے خبر نه تاسو حیرانتیا ښکاره کوئ، او دے پورے خاندئ حال دا چه هغه خو داسے سخت حالات دی چه د هغے په باره کښې خو ژړا پکار ده۔
وَاَنۡتُمۡ سَامِدُوۡنَ: د سمود ډیرے معانی دی، اعراض، غفلت، استکبار، لهو ولعب کول، او غزلے شعرونه وئیل په طریقه د سرودونو سره۔
مفسرینو ددے مصداقات دا ذکر کړیدی:
۱- [سَاهُوۡنَ لَاهُوۡنَ، غَافِلُوۡنَ لَاعِبُوۡنَ] - یعنی تاسو غفلت او ددے نه ځان غافل کونکی لوبے کونکی یئ۔
۲- مُسۡتَكۡبِرُوۡنَ مُعۡرِضُوۡنَ۔ تکبر کونکی یئ، مخ ګرځونکی یئ۔
❁ او ابوعبیدهؒ وائی: سمود په لغت د حِمۡیَر کښې ټنګ ټکور ته هم وائی، یعنی د قرآن نه په ټنګ ټکور باندے مشغول یئ۔
❁ په صحاح کښې دی چه سمود په طریقه د تکبر سره سر پورته کولو ته وائی۔
❁ او بعض وائی: سمود ځان پورته کونکی د قرآن نه، یعنی قرآن ته هیڅ ضرورت نهٔ محسوس کوی، او دا د بل چا کتاب ګنړئ او ځان ترے مستغنی کوئ او دے طرفته هیڅ توجه نهٔ ورکوئ۔ او دا صفتونه زمونږ په معاشره کښې د قرآن په مقابله کښې ځومره زیات موجود دی۔ په لوبو، ټنګ ټکور او ګانو بجانو او فیس بوك باندے خلك د الله تعالیٰ د کتاب او د هغهٔ د تعلق نه غافل دی، فیس بوك دپاره ورسره وخت وی، او د الله کتاب دپاره ورسره وخت نشته۔
فَاسۡجُدُوۡا: یعنی هرکله چه مشرکان د قرآن پورے استهزاء کوی، او ددے پورے مسخرے او خندنے کوی، نو ستاسو کار به دا وی چه تاسو به الله تعالیٰ ته سجدے لګوئ او د هغه په بندګئ کښې به مصروف شئ۔
او دا په ټول سورت باندے تفریع ده، یعنی هرکله چه ثابته شوه چه ددے رسول دلیل وحی ده، او تاسو سره صرف ظن او اتباع د خواهش ده، نو ثابته شوه چه الله تعالیٰ په

بندګانو باندے انعام کړیدے چه دا رشتینی رسول او قرآن ئے راولیږل، نو لازم ده چه تاسو ددے په بدله کښې الله ته سجده ولګوئ او تمام عبادات هغه لره خاص کړئ۔

سجده ئے مخکښې راوړه :

(۱) یوه وجه دا ده چه دا په مانځه کښې ډیر اَهم او د عاجزئ والا رکن دے۔

(۲) دویم دا چه د سجدے په وخت کښې الله تعالیٰ ته قربت زیات حاصلیږی۔

(۳) یا دا چه دلته سجده د تلاوت مراد ده، او هغه مستقل عبادت دے۔

لِلّٰهِ: کښې لام د تخصیص دپاره دے۔ ځکه چه مشرکانو هم الله ته سجده لګوله لیکن د الله تعالیٰ نه سویٰ نورو باطلو معبودانو ته ئے هم لګوله۔

او کله چه رسول الله ﷺ په مکه کښې دا سورت ولوستلو نو په مجلس کښې ناست مشرکان هم الله ته په سجده شول، سویٰ د یو شیخ د قریشو نه چه امیه بن خلف وو هغه خاوره تندی پورے راخکله چه د خلقو موافقت به وکړو ګنے زما سجدے ته ضرورت نشته۔

عبد الله بن مسعود ﷛ فرمائی : (فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ بَعْدُ قُتِلَ كَافِرًا) ما روستو زمانه کښې ولیدو چه په بدر کښې کافر مردار شو۔ (بخاری: ۱۰۷۰)

ددے وجه نه په حبشو کښې مشهوره شوه چه ټولو مشرکانو ایمان راوړے، نو د هغه ځای مهاجرین صحابه کرامؓ مکے ته راغلل، دلته په رارسیدو معلومه شوه چه ایمان ئے نۀ دے راوړے، نو څه کسان د قریشو د عذابونو نه په تنګیدو بیرته حبشو ته واپس شول، او څه کسانو د مشرکانو نه امان اخستو سره مکه کښې پاتے شول۔

او هغه واقعه غلطه ده چه مشرکانو پدے وجه سجده وکړه چه د رسول الله ﷺ د ژبے نه د هغوی د بتانو صفت ذکر شوے وو۔ او هغۀ داسے لوستلی وو۔

[أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزّٰى وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرٰى تِلْكَ الْغَرَانِيقُ الْعُلَا وَإِنَّ شَفَاعَتَهُنَّ لَتُرْتَجٰى]

(یعنی دا اُوچت ډینګان دی (اُوچتے مرتبے والا دی) او د دوی د سفارش اُمید کیدے شی)۔

لکه ددے خبرے بیان مخکښې په سورة الانبیاء کښې ذکر شوے وو۔

بلکه صحیح دا ده چه هغوی د موافقت د وجه نه سجده وکړه، او ددے سورت مضمون او سیاق او د الفاظو کشش او جاذبیت او تاثیر هغوی سجدے ته مجبوره کړل، او مشرکانو الله تعالیٰ ته سجده کول منل لیکن شریکان به ئے ورسره جوړه ول، نو پدے

وجـه ئې دلتـه الله تـه سـجـده وكړه. نو ددې نه هم معلوميږي چه دا سجده د تلاوت وه. وبالله التوفيق.

امتيازات د سورة النجم

١– د رسول الله ﷺ شان په كښې ذكر دې.
٢– د مصطلح الحديث قواعدو بنياد پكښې ذكر دې.
٣– واقعه د معراج په كښې ذكر ده لكه څنګه چه سورة الاسراء كښې اسراء ذكر ده.
٤– د جبريل عليه السلام صفات پكښې ذكر دي. او د رسول الله ﷺ هغهٔ لره دوه ځله ليدل.
٥– د لات او مناة او عزىٰ خاصو بتانو نومونه او په مشركانو باندې ردونه ذكر دي.
٦– د شِعرىٰ ستورى ذكر پدې سورت كښې راغلے دے دپاره د رد په مشركانو.

ختـم شـو تـفـسـير د سـورـة النجم په فضل د رب العزت ١٧ رجب ١٤٣٧ هـ يوم الاحد. موافق (٢٣/٤/٢٠١٦)



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آیاتها (٥٥)	(٥٤) **سورة القمر مكية** (٣٧)	ركوعاتها (٣)

سورة القمر مکی دے، په دے کښې پنځه پنځوس آیتونه او درے رکوع دی

تفسیر سورة القمر

مشهور نومونه ئے (١) سورة القمر دے (٢) او دے ته سورتِ اِقْتَرَبَتْ هم وائی۔
(٣) دارنګه سُوْرَةُ الْمُبَيِّضَه دے۔

د نازلیدو زمانه : ددے د نازلیدو زمانه مکی دور دے، په دے کښې د [شَقُّ الْقَمَر] واقعه بیان شوے، کوم چه د محدثینو اومفسرینو په نیز د هجرت نه تقریبًا پنځه کاله مخکښې راپیښه شوے وه۔

فضیلت

رسول الله ﷺ به د اختر په مانځه کښې لوستلو ځکه چه د قیامت د ورځے حالات پکښې ذکر دی۔

مناسبتونه

١– هلته ئے ووئیل : اَزِفَتِ الْآزِفَةُ (قیامت رانزدے شو) نو دلته بیا وائی چه قیامت ځکه رانزدے شو چه د هغے نخے رابنکاره شوے چه هغه شَقُّ الْقَمَر دے۔

٢– مخکښې سورت کښې شان د رسول الله ﷺ وو، نو دلته الله تعالیٰ توبیخ ورکوی معرضینو د معجزاتو ددے رسول ته۔

٣– هلته ئے د مشرکانو په عقیده او دلیل باندے رد وکړو، نو دلته هغوی ته تخویف اُخروی بیانوی۔

٤- هلته ذکر شو چه مشرکان د خواهش تابعدار دی په عقیده کښې، نو دلته وائی چه د خواهش د وجه نه د معجزاتو نه انکار کوی۔

د سورت موضوع او مقصد

١- زمونږ شیخ محترم (رستمیؒ) فرمائی: پدے سورت کښې تخویف اُخروی دے په ذکر د اِقْتِرَاب (نزدے والی) د ساعت، او سبب د تخویف تکذیب دے، او هغه سبب د عذابونو وو په پنځه قومونو مکذبینو باندے۔

٢- اَلتَّوْبِيْخُ بِالْإِعْرَاضِ عَنْ آيَاتِ اللّٰهِ الَّتِىْ هِىَ الْمُعْجِزَاتُ وَالْآيَاتُ الْقُرْآنِيَّةُ وَالْآيَاتُ الْمَشْهُوْدَةُ ـ د الله د آیتونو نه په اعراض کولو باندے زورنه بیانوی، برابره ده چه دغه آیتونه معجزات وی یا قرآنی آیتونه وی، یا د کائناتو دلیلونه وی۔

او دا د کافرانو صفت دے چه د داسے نخو نه اعراض کوی ﴿ وَكَاَيِّنْ مِنْ آيَةٍ فِى السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ﴾ (یوسف: ١٠٥) ﴿ وَهُمْ عَنْ آيٰتِهَا مُعْرِضُوْنَ ﴾ (انبياء :٣٢) سورة الم السجده (٤) آیت کښې ئے وفرمایل: ﴿ فَاَعْرَضَ اَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَايَسْمَعُوْنَ﴾۔

او دا موضوع د دویم آیت نه ثابته ده، او هلته ئے آیت مفرد راوړیدے اګرکه مراد ترے نه عموم دے ځکه چه یوه معجزه ذکر ده۔

وَالتَّوْبِيْخُ بِالْعَذَابِ الدُّنْيَاوِيِّ بِالْإِعْرَاضِ ـ یعنی څوك چه اعراض کوی نو هغوی ته په دنیاوی عذابونو سره زورنه ورکوی چه داسے به مو هلاك کړی لکه دغه پنځه قومونه ئے چه ذلیله کړل۔

وَالتَّوْبِيْخُ بِالْعَذَابِ الْاُخْرَوِيِّ ـ څوك چه اعراض او تکذیب کوی نو د آخرت په عذاب به راونیولے شی ﴿ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِىْ ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ۞ يَوْمَ يُسْحَبُوْنَ فِى النَّارِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ﴾ آخر کښې وائی چه د ټولو انسانانو عملونه الله ته معلوم دی، او په کتابونو کښې لیکلے شویدی د هغے مطابق به دوئ ته سزاګانے او جزاګانے ملاویږی۔

دا سورت هم پوره ذهن سازی کوی په آخرت او په قرآن او په معجزاتو باندے، او چه کله د انسان ذهن صحیح برابر شی، نو ټول کمالات پکښې پیدا کیدے شی۔

او دے سورت کښې تخویفات زیات دی، او بشارت صرف په یو آیت کښې راغلے دے ﴿ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِىْ جَنّٰتٍ﴾۔

شان نزول

مشرکانو وویل چه ته جادو گر یې، ته چه کومې خبرې کوې، نو دا جادو دې، مونږ به تا هله وومنو چه ته مونږ ته بره په آسمانونو کښې یوه معجزه راوښائې، دا خو ته په مونږ باندې په زمکه کښې جادو کوې، او زمونږ نظرونه بندوې، داسې بهانې ئې کتلې.

نو الله تعالیٰ خپل رسول ته وحی وکړه چه صحیح ده، دوی ته به په آسمان کښې ستا معجزه وښایو، پدې کښې د شپې سپوږمۍ راوختله چه څوارلسمه پنځلسمه شپه وه، او په آسمان کښې هیڅ وریځ نهٔ وه. نبی کریم ﷺ بهر ودریدو او مشرکان هم په دغه ځای کښې ولاړ دی، نو سپوږمۍ ته ئې په ګوته اشاره وکړه، نو هغه په مینځ باندې نیمه شوه او دواړه اړخونه ئې خکته راروان شو چه د سائنس مطابق دوه لاکهه څلویښت زره میله مزل ئې وکړو، او یوه ټکړه د جبل ابی قُبَیْس نه اخوا غائبه شوه (دوی دیخوا ولاړ وو) او بله ټکړه بل طرفته غائبه شوه، بیا دواړه ټکړې یو ځای شوې، او بیرته وختلې او سپوږمۍ بیرته په خپل مدار کښې روانه شوه. دا حالت مسلمانانو او مشرکانو او عامو انسانانو ولیدو نو د الله رسول وفرمایل: (إِشْهَدُوْا) زما په نبوت باندې ګواه شئ. (مسلم: ۷۲۵۰) یعنی په کائناتو کښې ما ته الله تعالیٰ تغیرات پیدا کړل.

پدې باندې خلق سوال کوی چه بیا دا د انسانانو ترمینځ مشهور ولې نهٔ دې؟

جواب دا دې چه د مسلمانانو ترمینځ دا په تواتر سره ثابت دې، او د کافرانو خبرو له اعتبار نشته.

بلکه د هندوستان تاریخ د انشقاق القمر د زمانې نه شروع شوې وو. او دا په عامه دنیا کښې هم خلقو لیدلې وه، اوسنی سائنسدانان وائی چه په سپوږمۍ کښې یو چاودې دې داسې ښکاری لکه چه ماته شوې وی او بیرته ګنډلې شوی وی.

مونږ وایو چه که ټول سائنسدانان ووائی چه بیخی روغه ده، او هیڅ چاودې پکښې نشته نو مؤمن به یقین کوی چه دا الله ماته کړې وه او دا د الله قدرت خودل او د رسول الله ﷺ معجزه وه، او په مشرکانو باندې حجت قائمول وو.

زمونږ نبی له الله تعالیٰ دومره عزت ورکړې چه آسمانونو کښې د هغهٔ معجزات الله راښکاره کړیدی، او سپوږمۍ ئې هم ورته ماته کړې وه د مشرکانو په مطالبه. او بره

آسمانونو ته ئے بوتللے دے۔ او دا د قیامت د علاماتو نه هم وه۔

او پدے معجزه کښ ډیرے فائدے دی، یو دا چه د رسول الله ﷺ رشتینوالے۔ دویم دا چه دومره لوی اَجْرَام دی او بیا هم په هغے کښ د الله په قدرت سره تغیرات پیدا کیږی، نو دغه شان به قیامت هم راځی۔ نو کوم سائنسدانان چه وائی چه نمر په داسے مدار کښ روان دے چه دا نشی کیدے چه د مغرب د طرفنه راوخیژی، نو دا خبره ئے د اسلام خلاف ده، ځکه چه دا د الله مخلوق دے، او الله ددے په تبدیلئ باندے پوره قدرت لرونکے دے۔ پدے وجه سائنس به خامخا د قرآن او حدیث تائید کوی که چرے نهٔ ئے کولو، نو هغه به غلطه نظریه وی۔ ځکه چه سائنس تجرباتی علم دے کله به خطاء کیږی هم۔ او نزدے زمانه کښ سائنسدانانو ته ښکاره شوه چه په مریخ ستوری کښ الله تعالیٰ نمر د مغرب طرف نه راوخیژولو، (په هر لوی ستوری کښ خپل خپل نمر او سپوږمئ وی)۔

دا وجه ده چه دلته د قیامت د رانزدے والی سره دا نخه ذکر کړه۔

مګر مشرکانو ددے هر څه لیدو باوجود هم نهٔ منله بلکه دے ته ئے هم د جادو نسبت وکړو چه دا خو ډیر لوی جادوګر دے چه د زمکے نه ئے آسمان ته جادو ورسیدو۔

نو پدے طریقه ئے د خلقو ذهنونه د رسول الله ﷺ ددے معجزے نه جادو طرفته واړه ول لکه همیشه د باطل پرستو دا طریقه وی چه د اهل حقو دعوت او دلیل په بل طرف تاووی او د هغے شکل بد ښکاره کوی۔ د جادوګر تاپه ئے چه ولګوله نو خلق بیا نبی چرته منی۔ لکه اُوس چه پرے د وهابی نوم کیږدی نو که هغه قرآن او صحیح حدیث هم وائی خو خلق ئے غلط ګنړی، او که دا ووائی چه الله یو دے، نو خلق وائی چه دے کښ به ئے هم څه چل وی۔ دا د خلقو جرمونه او د شیطان جالونه دی۔

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴿۱﴾ وَإِنْ يَّرَوْا آيَةً
ډیر رانزدے شو قیامت او اُوچودله سپوږمئ۔ او که چرته اُووینی دوی یوه نخه
يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿۲﴾
(نو) مخ اړوی او وائی دوی چه جادو دے تریخ۔(تیز) (قوی)۔

تفسیر: پدے کښ د آخرت یره ده، او د قیامت نخه ذکر ده۔ او بیا مشرکانو ته زورنه ذکر ده۔

اِقْتَرَبَتِ: دا د اِقتراب نه دے په معنیٰ د ډیر نزدے کیدو سره۔ الساعة د قیامت نوم دے۔ یا ددے نه مراد ساعت د فناء کیدو د عالَم دے۔ یا ساعت د بعث بعد الموت مراد دے په شپیلئ وهلو سره۔

او قیامت ځکه ډیر نزدے شو چه د رسول الله ﷺ د نبوت نه روستو زمانه تر قیامته پورے په نسبت د تیرے شوے زمانے ډیره کمه ده۔ یا دا چه هر هغه شے چه راتلونکے وی هغه نزدے وی نو قیامت هم نزدے راروان دے۔

د قیامت د نزدے کیدو په باره کښې خو الله تعالیٰ په نورو ګڼرو آیتونو کښې هم خبر ورکړے۔ د سورتِ نحل په (۱) آیت کښې راغلی: ﴿ أَتٰى أَمْرُ اللهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ ﴾ (د الله حکم راغے، نو تاسو په دے تادئ مهٔ کوئ)۔ او د سورتِ انبیاء په (۱) آیت کښې راغلی: ﴿ اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ﴾ (خلقو ته د دوئ د حساب وخت نزدے راغے، او دوئ په غفلت کښې پراته د حق دین نه مخ اړونکی دی)۔

ابن جریرؒ لیکی چه په دے آیتِ کریمه کښې خلقو ته د قیامت رانزدے کیدو خبر ورکولو سره خبردارے ورکړے شوے چه دا دنیا عنقریب فناء کیدونکے ده، دے وجے نه د قیامت د سختیو نه د نجات موندلو تیاری کول پکار دی۔

امام احمدؒ او بخاریؒ د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت کړے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو، او نمر د مازیګر نه پس پریوتو ته نزدے وو۔ نبی ﷺ وفرمایل:

[إِنَّمَا بَقَاؤُكُمْ فِيْمَا سَلَفَ مِنْ قَبْلِكُمْ مِنَ الْأُمَمِ كَمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلٰى غُرُوْبِ الشَّمْسِ] چه کوم خلق دنیا نه تیر شول، د هغوئ د عمرونو په مقابله کښې ستاسو عمرونه دومره باقی پاتے شوی دی څومره چه اُوس د ورځے برخه باقی پاتے شوے ده۔

(بخاری: ۵۵۷ باب من ادرك رکعة من العصر قبل الغروب)

او امام بخاریؒ او مسلمؒ د سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت کړے، رسول الله ﷺ وفرمایل [بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ] چه زهٔ دنیا ته هغه وخت را اُولیږلے شوم چه قیامت دومره رانزدے دے څومره چه زما دا دواړه ګوتے دی، او نبی ﷺ د شهادت او مینځ والا ګوتے طرفته اشاره وکړه۔ (بخاری: ۵۳۰۱) (ومسلم: ۲۰۴۲)

وَانْشَقَّ الْقَمَرُ: د [اِنْشِقَاقِ قَمَر] (سپوږمئ چودلو) په باره کښې د جمهورو علماءِ امت رائے داده چه د نبی کریم ﷺ په مکی دور کښې د هجرت نه تقریبًا پنځه کاله مخکښې د

نبی کریم ﷺ د یوے لوی معجزے په طور سپوږمۍ دوه ټکړے شوه، او د حِراء غرۀ دواړو طرفونو ته شوه، او په مینځ کښې غر راغے۔

قاضی عیاضؒ د مفسرینو او د اهلِ سنتو اجماع په دے نقل کړے ده۔

او ابن کثیرؒ لیکلی دی چه په دے مضمون باندے راغلی حدیثونه متواتر دی۔

ابن قتیبهؒ په (تاویل مختلف الحدیث) کښې لیکلی دی چه نَظامِ معتزلی په غیر د دلیل نه ددے احادیثو نه انکار کړے۔

زمخشریؒ، بیضاویؒ او ابو السعودؒ د عطاءؒ نه هم دا شان قول نقل کړے۔

نظام وئیلی دی چه سپوږمۍ به د قیامت په ورځ شلیږی، ددے رائے بنیاد په انکارِ سُنت باندے دے۔

بخاریؒ او مسلمؒ او د حدیثو نورو امامانو د انس ﷺ نه روایت کړے چه مکے والو د نبی کریم ﷺ نه د هغۀ د نبوت نښه وغوښتله، نو نبی ﷺ سپوږمۍ دوه ټکړے کړه، تردے چه خلقو حِراء غر د دوو ټکړو تر مینځه اولیدلو۔

بخاریؒ و مسلمؒ او د حدیثو نورو امامانو د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت کړے:

[إِنْشَقَّ الْقَمَرُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فِرْقَتَيْنِ، فِرْقَةً فَوْقَ الْجَبَلِ وَفِرْقَةً دُوْنَهٗ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِشْهَدُوْا] چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې سپوږمۍ دوه ټکړے شوے وه۔ یوه ټکړه د غرۀ دپاسه، او دویمه د هغے نه لاندے راغلے وه۔ نبی ﷺ خلقو ته وفرمایل: (اوګورئ یا ګواه شئ)۔ (بخاری: ٤٨٦٤)

او مسلمؒ او ترمذیؒ د انس ﷺ نه روایت کړی دی چه د همدے معجزے راښکاره کیدو نه پس ﴿ اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴾ نازل شو۔

اوامام احمدؒ، ترمذیؒ او حاکمؒ وغیره د جبیر بن مطعم ﷺ نه روایت کړی:

[اِنْشَقَّ الْقَمَرُ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ ﷺ حَتّٰى صَارَ فِرْقَتَيْنِ عَلٰى هٰذَا الْجَبَلِ وَعَلٰى هٰذَا الْجَبَلِ فَقَالُوْا سَحَرَنَا مُحَمَّدٌ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لَئِنْ سَحَرَنَا مَا يَسْتَطِيْعُ أَنْ يَّسْحَرَ النَّاسَ كُلَّهُمْ]

چه مونږ د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې وو چه سپوږمۍ اوشلیده او دوه ټکړے شوه، یوه برخه په یو غرۀ او بله برخه په بل غرۀ باندے، نو خلقو ووئیل چه محمد په مونږ جادو کړے۔ یو کس ووئیل چه که دۀ په تاسو جادو کړے نو دا خو په ټولو خلقو جادو نشی کولے۔ احمد: ١٦٧٩٦) (ترمذی: ٣٢٨٩) صحیح)

یعنی که تاسو نه علاوه نورو خلقو هم سپوږمۍ دوه ټکړې لیدلې ده. نو ستاسو خبره به صحیح نهٔ وي چه هغهٔ په تاسو جادو کړې، بلکه دا به د هغهٔ معجزه وي۔

وَإِنْ يَّرَوْا آيَةً: اُوس دے مجرمانو منکرینو ته زورنه بیانیږي چه د دوئ حال دا دے چه کله هم دوئ یوه نخه د رسول الله ﷺ د رشتینوالي وینی نو انکار کوي، نو کله چه دوئ دا معجزه ولیده نو په ځای ددے چه ایمان راوړي، په تکبر کښې راغلل او ددے د منلو نه ئے انکار وکړو او وے وئیل چه دا خو ډیر زبردست جادو دے چه محمد په مونږ کړے دے۔

يُعْرِضُوْا : یعنی مخ اړه وي د هغے د سوچ او غور کولو نه او په هغے باندے د ایمان راوړو نه۔

سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ : (۱) دا د استمرار نه دے، همیشوالي ته وائي۔ یعنی دا داسے جادو دے چه هر وخت کار کوي۔ (۲) یا د مِرَّةٌ نه دے قوت ته وائي۔ یعنی ډیر قوي جادو دے چه په آسمان کښې هم کار کوي۔

(۳) یا د مُرُور نه دے تیریدو ته وائي۔ یعنی د زمکے نه آسمان پورے رسیدونکے دے۔

(٤) یا د مُرٌّ او مَرَارَةٌ نه دے، تریخ ته وائي۔ یعنی داسے تریخ جادو دے چه په سپوږمۍ هم تاثیر کوي۔

وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْا أَهْوَاءَهُمْ وَكُلُّ أَمْرٍ
او دروغژن ګڼړي (حق لره) او تابعداري کوي د خواهشاتو خپلو او هر کار
مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳﴾ وَلَقَدْ جَاءَهُمْ
په وخت کیدونکے دے۔ (او هر کار قرارے نیونکے دے) او یقیناً راغلي دے دوی ته
مِّنَ الْأَنْبَاءِ مَا فِيهِ مُزْدَجَرٌ ﴿٤﴾ حِكْمَةٌ
د خبرونو نه هغه چه په هغے کښې پوره زورنه ده (وعظ دے)۔ (دا قرآن) حکمت دے
بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ﴿٥﴾
(پخے خبرے دي)، کامل، نو فائده نهٔ ورکوي دوی ته یره ورکول۔ (یا : نو څه فائده به ورکړي دوی ته یره ورکونکي)۔

تفسیر : دا بـل رد او زجر دے منکرینو ته او هغوی ته تخویف دے۔ یعنی دویٔ د هغهٔ د نبـو نـه انکار وکړو، او د خپل نفس د خواهش پیروی ئے وکړه، او د حق نه ئے مخ واړولو، لیـکن دویٔ له پیژندل پکار دی چه د الله فیصله به خپل انجام ته رسیږی، د نبی کریم ﷺ دیـن به غالبه کیږی، او الله تعالیٰ به ددهٔ ضرور مدد کوی، او ددهٔ منکرین به خامخا ذلیله او رسوا کوی۔

وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ : دا قـانـون دے چه یا به رسول منی یا به د خواهش پسے روانیږی۔ د رسول نهٔ منل بعینه د خواهش تابعداری ده۔

وَكُلُّ أَمْرٍ مُسْتَقِرٌّ : یـعنی هر کار او هره خبره قرارے نیونکے دے په خپل وخت باندے۔ یعنی د هرے خبرے دپاره وخت شته۔ اَیْ كُلُّ أَمْرٍ مِنَ الْخَيْرِ وَالشَّرِّ مُسْتَقِرٌّ بِاَهْلِهٖ فِى الْجَنَّةِ اَوِ النَّارِ۔ یعنی د هر خیر او شر وخت شته چه خپل اهل به په جنت یا اُور کښ اُووه وسوی۔

یـعـنـی د نیك عـمـل یو وخت شته چه انسان جنت ته بوځی، او د شرك او کفر او شر یو وخت شته چه انسان جهنم ته بوځی نو انتظار وکړئ، همداسے نشئ بچ کیدے۔

وَلَقَدْ جَاءَهُمْ : سـوال پیـدا شـو چـه دویٔ به چا نهٔ وی پوهه کړی پدے وجه به انکار او تکذیب او اتباع الهویٰ کوی؟ نو الله فرمائی چه دوی ما ښه پوهه کړیدی۔

مـا د مـکـے کـافـرانـو یـا د عـامو کافرانو دپاره په قرآن کریم کښ د مخکنو قومونو ډیر عبـرتـنـاك واقـعـات بیـان کـړی دی، چه دا د دویٔ د عبرت او نصیحت دپاره کافی دی، که چـرے دویٔ غـواړی نو په دے کښ ډِے غور او فکر وکړی، او په نبی کریم ﷺ او قرآن کریم ډِے ایـمـان راوړی۔ او د غفلت او لوبو تماشو ژوند ډِے پریدی، او د آخرت په فکر کښ ډِے ولګی، لیکن دویٔ ته ددے توفیق نهٔ ملاویږی۔

الله تـعالیٰ ددے پوره حکمت نه ښهٔ خبر دے چه هغه چاته غـواړی هدایت کوی، او چاله چـه غـواړی ګمراه کوی ئے۔ او چا دپاره چه بدبختی ولیکی، او د هغهٔ په زړهٔ باندے مهر ولګوی، هغهٔ ته څوك هدایت نشی کولے۔

مَـا فِيْهِ مُزْدَجَرٌ : دا د زجـر نـه دے، رټـنـے او نصیحت ته وائی۔ اَیْ مَـا فِيْـهِ وَاعِظٌ لَهُمْ مِنَ الشِّرْكِ وَالتَّكْذِيْبِ ۔ یـعـنـی دویٔ ته هغه خبرونه راغلی دی چه دویٔ ته په هغے کښ پوره نصیحت او منع کونکے شته چه د شرك او تکذیب نه۔

حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ: دے کښ دوه تفسیره دی :

(١) واضح تفسیر دا دے هِدَايَةُ اللّٰهِ لِبَعْضِهِمْ وَاِضْلَالُهٗ لِبَعْضٍ حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ ۔ یعنی الله چه چا ته هدایت کوی او څوك گمراه کوی نو دے کښې د الله کامل حکمت دے۔

(٢) یا دا د انباء سره لګی او د (مَا) نه بدل دے، یعنی دغه اَنباء خبرونه یو حکمتِ بالغه دے۔ یعنی الله تعالیٰ دوئ ته د دغه خبرونو او واقعاتو نه کامل حکمت راولیږلو خو دا نا اهله خلق وو دوئ ته یره ورکونکو هیڅ فائده ورنکړه۔

(٣) یا د حکمة بالغه نه مراد قرآن کریم دے۔ او دا خبر د مبتداء محذوفے دے، یعنی دا قرآن کامل حکمة دے چه انتهاء ته رسیدلے دے په فصاحت او بلاغت او په مواعظو او دلیلونو او لطائفو او احکامو کښې چه پدے کښې هیڅ نقصان او خلل نشی کیدے۔

فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ : (١) جمع د نَذِیْرٌ ده، پیغمبران مراد دی۔ یعنی یره ورکونکی پیغمبران دوی ته فائده نهٔ ورکوی۔ یا هغه څیزونه چه یره ورکونکی دی چه هغه حالات د مخکنو امتونو دی، او هغه عذابونه دی چه قریش هم د هغے نه خبر شویدی۔

(٢) یا نُذُر مصدر دے په معنیٰ د اِنْذَار سره، یره ورکول مراد دی۔ اول مطلب غوره دے ځکه چه تُغْنِ لفظ ئے مؤنث راوړو، که نذر مصدر وے، نو بیا (یُغْنِ) لفظ پکار وو۔

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلٰى شَيْءٍ نُّكُرٍ ﴿٦﴾
نو مخ واړوه د دوی نه په کومه ورځ چه آواز به وکړی آواز کونکے یو شی ناشنا ته۔
خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ
ذلیله به وی سترګے د دوی، را اُوځی به د قبرونو نه ګویا که دوی ملخان دی
مُّنْتَشِرٌ ﴿٧﴾ مُّهْطِعِيْنَ إِلَى الدَّاعِ يَقُوْلُ الْكَافِرُوْنَ هٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴿٨﴾
خوارهٔ وارهٔ۔ منډے وهونکی به وی آواز کونکی ته وائی به کافران دا ورځ سخته ده۔

تفسیر : اُوس رسول الله ﷺ ته تسلی ورکوی، او ورته فرمائی چه که د مکے کافرانو ته د لهو او لعب پریښودلو او د آخرت د فکر کولو توفیق نهٔ ورکړے کیږی، نو تهٔ دوئ په خپل حال پریده، او د دوئ د انکار او تکذیب هیڅ پرواه مهٔ کوه، او خپل بیان ورته جاری ساته، او د هغے ورځے انتظار کوه کله چه دوئ به دوی لره اسرافیل علیه السلام ناشنا حالاتو ته

راوویـلـی چـه هـغـه حشر، حساب کتاب، میزان او نور حالات، او دا ساعت به دوئ لپاره ډیر گران شی، د دوئ سترگے به د ذلت او رسوایئ په وجه لاندے ښکته وی۔
او کـلـه چـه الله تـعـالـیٰ یـا مـلائك دوئ را اوبلی، نو دوئ به د خپلو قبرونو نه د ملخانو پشـان راوتـو سـره خـلورو طرفونو ته خوراهٔ شی، او تیزئ سره به د رابلونکی آواز طرفته منـډے وهی، او کـافـران بـه خپل عملونه یادوی، او ددے ورځے حقیقتونه او ننداریے او د میدانِ محشر سختیٔ چه وینی نو وائی به چه دا خو ډیره سخته ورځ ده۔
مـفسـریـن لیـکـی چه ددے خبرے نسبت کافرانو طرفته کولو کښ دیته اشاره ده چه دا ورځ به مومنانو دپاره سخته نهٔ وی۔
الله تعالیٰ د سورتِ مدثر په (۱۰/۹) آیتونو کښ فرمائیلی :
﴿ فَذٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴾
(نو دا ورځ به ډیره سخته وی، چه په کافرانو به آسانه نهٔ وی)۔
يَوْمَ: ددے فعل پټ دے اَیْ اِنْتَظِرْ يَوْمَ. (انتظار وکړه د هغه ورځے)
یا وَاذْكُرْ. (رایاد کړه)
يَدْعُ الدَّاعِ: داعـی (رابلونکے) اسرافیل علیه السلام بـه یو رابلل په شپیلئ وهلو سره کوی، او بل به داسے الفاظو سره چه
[اَيَّتُهَا الْعِظَامُ الْبَالِيَةُ وَاللُّحُومُ الْمُتَمَزِّقَةُ هَلُمُّوا اِلٰى عَرْضِ الرَّحْمٰنِ]
اے زړو هډوکو او ذره ذره شوو غوښو د الله پیشئ ته راشئ۔ (شعب الایمان)
خُشَّعًا اَبْصَارُهُمْ: یعنی د ډیرے یرے په وجه به ددوئ زړونه عاجزئ والا وی۔
جَرَادٌ مُّنْتَشِرٌ: اول کښ به د قبرونو نه چه راوځی نو د ملخانو په شان به خوارهٔ وارهٔ وی بیا به ئے ملائك د حشر میدان ته راکاږی۔
مُّهْطِعِينَ: ددے ډیرے معانی دی (۱) تیز تلونکی،
(۲) سترگے اُوچتونکی۔
(۳) قصد کونکی، (قتادهؒ)
(٤) نیغ نظر کونکی۔
(٥) د آوریدو دپاره غوږونه کولاوونکی۔ (عکرمهؒ)
(٦) مُقْبِلِينَ۔ (مخ اړونکی) (ضحاكؒ)

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا

تکذیب کړے وو مخکښې د دوی نه قوم د نوح (علیه السلام) نو دروغژن ئے کړو

عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَّازْدُجِرَ ﴿۹﴾

بنده زمونږ او وے وئیل لیونے دے او اُورټلے شو۔ (د قوم د طرف نه) (اُوزوروَلے شو)۔

فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ ﴿۱۰﴾

نو دعا اُوکړه هغهٔ د رب خپل نه چه بیشکه زهٔ کمزورے یم نو بدله واخله (زما د دوی

فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴿۱۱﴾

نه)۔ نو راکولاوے کړے مونږ دروازے د آسمان په اُوبو رابېدونکو سره۔

وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا

او روانه کړه مونږ زمکه چینے چینے (او روانے کړے مونږ د زمکے نه چینے)

فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَىٰ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴿۱۲﴾ وَحَمَلْنَاهُ

نو یو ځائے شوے اُوبه په هغه کار چه مقرر کړے شوے وو۔ او پورته کړو مونږ هغهٔ لره

عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَّدُسُرٍ ﴿۱۳﴾ تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَاءً

په کشتئ د تختو او میخونو والا باندے۔ روانه وه په سترګو زمونږ، بدله اخستل وو

لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ ﴿۱٤﴾ وَلَقَدْ

دپاره د هغه چا چه انکار شوے وو د هغهٔ نه۔ (ناشکری ئے کړے شوے وه)۔ او یقیناً

تَّرَكْنَاهَا آيَةً فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۱٥﴾

مونږ پرېخوده دا (کشتئ) نخه نو آیا شته څوك نصیحت اخستونکے۔

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿۱٦﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ

نو څنګه شو عذاب زما او ویره ول زما۔ او یقیناً آسان کړیدے مونږ قرآن

لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿١٧﴾

دپاره د نصیحت اخستو نو آیا شته څوك نصیحت اخستونکے۔

تفسیر: دا تفصیل د هغه قومونو دے چه په څلورم (٤) آیت کښ ذکر شو۔

او پدے سره رسول الله ﷺ له تسلي ورکړے کیږي۔ د ټولو نه مخکښ الله تعالیٰ د نوح ؑ ذکر کړے دے، فرمائي چه د قریشو نه مخکښ د نوح ؑ قوم د الله رسول دروغژن وګڼړلو۔ دوئ زمونږ د بنده نوح تکذیب وکړو، هغهٔ ته ئے لیونے ووئیلو، او د ردو بدو او مختلف قِسم ضررونو رسولو په ذریعهٔ ئے هغه د دعوت او تبلیغ نه منع کړو۔

وَّازْدُجِرَ: یعني منع کړے شو د تبلیغ نه په وهلو او کنځلو سره۔ یا دا هم د هغوی وینا ده یعني دا لیونے دے او پیریانو ګډ وډ کړیدے۔ نو دا به د اِزْدَجَرَتُهُ الْجِنُّ نه وی، یعني پیریانو ګډوډ کړیدے او زړهٔ ئے ورله ختم کړیدے۔ اول قول غوره دے۔

فَدَعَا رَبَّهٗٓ: نوح ؑ چه کله د خپل قوم د هدایت نه بیخي نا امیده شو، او په کفر باندے چه د دوئ ټینګار او سرکشي د حد نه زیاته شوه، نو هغهٔ ورته ښیرے وکړے، او الله ته ئے ووېل چه اے زما ربه! زما قوم د خپلے سرکشئ په ذریعه زهٔ مغلوبه او کمزورے جوړے کړے یم، او زهٔ ئے د پیغام رسولو نه سختئ سره منع کړے یم، اُوس تهٔ دوئ سره پوهه شه او په دوئ عذاب را اولیږه۔

فَفَتَحْنَا اَبْوَابَ السَّمَاءِ: الله تعالیٰ د هغهٔ دعاء قبوله کړه، او د هغهٔ قوم ته ئے د سزا ورکولو دپاره د آسمان نه د شیبو شیبو باران تمامے دروازے پرانستے، او د زمکے د هر ګوټ نه داسے اُوبهٔ را اوخوټ کیدلے چه ګویا ټوله زمکه چینے چینے شوه، او د دواړو طرفونو اوبهٔ د قومِ نوح هلاك کولو دپاره را یوځائے شوے۔

اَبْوَابَ السَّمَاءِ: دا په حقیقت باندے حمل دے چه په هر طرف باندے د آسمان دروازے د باران دپاره راکولاوے شوے، او د آسمان دروازے شته چه بندولے او کولاوولے شي۔

بعض وائي چه دا په کنایه باندے حمل دے، او دا کنایه ده د ډیرو وریځو نه۔ لیکن اول قول غوره دے۔

مُّنْهَمِرٍ: ډیرے بهیدونکے وے۔

فَالْتَقَى الْمَآءُ: یعني د آسمان او د زمکے اُوبه یو ځای شوے۔

عَلٰٓى أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ : اَیْ وَهُوَ هَلَاكُ هٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ ـ یعنی یو ځای شوے اُوبه په داسے کار باندے چه هغه د الله د طرفنه مقرر کړے شوے وو چه هغه ددے قوم هلاکت وو۔ یعنی دوئ دپاره په تقدیر کښ لیکل شوی وو چه دوئ به په دومره طوفان سره هلاکیږی۔

وَحَمَلْنَاهُ: نوح علیه السلام په هغه کشتئ کښ سور شو کومه چه هغهٔ د همدے ورځے لپاره د الله په حکم سره فراخه تختو او لوی لوی میخونو په مدد سره جوړه کړے وه۔ دا کشتئ په طوفان کښ د الله په حفظ او امان سره روانه وه۔ او دا ځهٔ چه اوشو ناشکروته د دوئ د کفر د بدلے ورکولو دپاره اوشو، ځکه چه د نوح علیه السلام رالیږل دوئ دپاره د الله یو عظیم نعمت وو، چه دوئ له ددے قدر کول پکار وو، لیکن دوئ ناشکری وکړه نو الله نوح علیه السلام او په هغهٔ باندے ایمان راوړونکی بچ کړل او باقی پوره قوم ئے د طوفان په ذریعه هلاك کړو۔

ذَاتِ أَلْوَاحٍ : یعنی داسے کشتئ چه د تختو او میخونو والا وه۔

وَّدُسُرٍ : جمع د دِسَارٌ ده، دا هغه څیزونو ته وئیلے شی چه په هغے سره کشتئ کلك کیږی لکه میخونه، اُوسپنه، لرګی، رسئ ګانے وغیره۔

او دارنګه سینه د کشتئ چه په هغے سره اُوبه دفع کیږی او شلیږی ځکه چه دَسُر په لغت کښ دفع کولو ته هم وئیلے شی۔

تَجْرِیْ بِأَعْیُنِنَا : اعین جمع د عین ده۔ او دلته دا د متشابهاتو نه دے، او اشاره ده حفاظت ته د الله تعالیٰ د طرفنه۔ یا د اعین نه مراد چینے دی، یعنی زمونږ په چینو باندے کشتئ روانه وه۔ اول قول ظاهر دے۔

لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ : ددے نه مراد الله تعالیٰ دے، یا نوح علیه السلام۔ یعنی دا بدله وه دپاره د هغه الله او نوح علیه السلام چه د هغه نه انکار شوے وو۔ او په هغه باندے ناشکری شوے وه۔

وَلَقَدْ تَرَكْنَاهَا : الله تعالیٰ د قومِ نوح د هلاکت قصه د راتلونکو نسلونو دپاره د عبرت یوه نښه جوړه کړه، چه ددے نه خلقو لره عبرت حاصلول پکار دی، او سوچ کول پکار دی چه کله قومِ نوح د الله نه سرکشی وکړه نو اِلٰهی عذاب څنګه دوئ په خپل ګرفت کښ واخستل، نو همدا حال د نورو کافرانو او مشرکانو قومونو هم کیدے شی۔

تَرَكْنَاهَا : کښ ضمیر قصے ته راجع دے۔ یا کشتئ ته ضمیر راجع دے۔ او همدا ظاهر دے۔ چه څوك کشتئ وینی نو د نوح علیه السلام د قوم هلاکت ورته رایادیږی۔

یا دا چه دغه کشتئ په جودی غر باندے خلقو لیدلے وه، او روستو زمانو کښې په کوهستان اراراط کښې راښکاره شوے وه۔

عَذَابِیْ وَنُذُرِ : عذاب د قوم نوح دپاره وو او نذر د روستنو خلقو دپاره دے۔ او نذر مصدر دے په معنیٰ د انذار سره پدے وجه مضاف دے یاء د متکلم محذوفه ته۔

وَلَقَدْ یَسَّرْنَا الْقُرْآنَ : پدے آیت کښې تیزی او ترغیب ورکول دی درس د قرآن او تلاوت د هغے ته، او ددے نه عبرت اخستو ته۔

بیا ددے نه نصیحت اخستل آسان دی ځکه چه دا فکر وکړه چه قوم نوح ولے هلاك شو؟ هغوی خلاف کړے وو نو ما له خلاف نهٔ دے پکار نو ایمان راوړل پکار دی۔

شوکانیؒ لیکی چه په دے آیتِ کریمه کښې مسلمانانو ته د قرآن کریم لوستلو، ددے د ډیر ډیر تلاوت کولو، او ددے په زده کولو کښې د تادی کولو رغبت ورکړے شوے۔

او دا ګران کتاب هم دے ځکه چه ډیر علمونه او رازونه او اشارات پکښې دی، چه په ډیرو علمونو زده کولو سره معلومیږی، او په بعض خلقو باندے راکولاویږی۔

او د ذکر نه مراد حفظ هم دے ځکه چه د سلفو صالحینو (سعید بن جبیرؒ) نه نقل دی چه تورات، انجیل او زبور سوئ د انبیاء علیهم السلام نه امتیانو ته ټول په یادو یاد نهٔ وو، او دا د قرآن کریم خصوصیت دے چه واړه، لوی، او نارینه زنانه ئے ټول یا بعض سورتونه او آیتونه یادولے شی، لکه دا خبره په سورة عنکبوت (۴۹) آیت کښې ذکر شویده۔

مُّدَّكِرٍ : مدکر هغه چا ته وائی چه نصیحت واخلی او ګناهونه پریدی۔ ځکه ئے پدے لفظ کښې هم ادغام کړیدے۔ پدے وجه محمد بن کعب القرظیؒ داسے معنیٰ کوی : (مُنْزَجِرٌ عَنِ الْمَعَاصِیْ) ځان منع کونکی د ګناهونو نه ځوك شته۔

او دا آیت ئے د څلورو قصو سره ذکر کړیدے، اشاره ده چه هره قصه ددے قصو نه د تذکر (نصیحت اخستو) دپاره آسانه کړے شویده۔نو د قرآن نه مراد هره قصه ده چه د قرآن په عبارت سره لوستلے کیږی۔ (احسن الکلام)

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا
تکذیب کړې وو عادیانو نو څنګه وو عذاب زما او ویره ول زما۔ یقیناً راولیږلہ مونږ
عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنْزِعُ النَّاسَ كَأَنَّهُمْ
په دوی باندې هوا تیزه په ورځ سپیره همیشه کښې۔ راویستل ئې خلق ګویا که دوی
أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾
تنې دی د کجورو د بیخ نه راویستلې شوی۔ نو څنګه وو عذاب زما او یره ورکول زما۔
وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾
او یقیناً آسان کړیدې مونږ قرآن دپاره د نصیحت نو آیا شته څوك نصیحت اخستونکې۔

تفسیر: د قومِ نوح نه پس د قومِ هود ذکر کیږی، چه دیته قومِ عاد وائی، دے خلقو هم د الله رسول هود علیه السلام دروغژن وګڼړلو، او په هغهٔ باندے د ایمان راوړو نه ئې انکار وکړو او وے وئیل چه که تهٔ رشتینے ئے نو بیا د کوم عذاب چه تهٔ مونږ سره وعده کوے هغه په جلتئ سره راوړه۔ نو د الله عذاب دوی را اونیول، او دا عذاب د خلقو د تنبیه ذریعه جوړه شوه۔ او دا عذاب د تیزے او تندے هواء په شکل کښې وو، او هغه ورځ د دوئ دپاره ډیره خرابه ثابته شوه په کومه ورځ چه په دوئ باندے عذاب مسلط کړے شو۔

دا هواء هغه وخته پورے چلیدله تر څو چه د هغوئ یو یو کس هلاك شوے نهٔ وو۔ هغے به د دوئ یو یو کس په فضاء کښې پورته کولو، تردے چه هغه به د نظرونو نه غائب شو، د هغه ځائے نه به ئے پرمخے را غورزولو، نو هغه به په زمکه باندے دومره سختئ سره را اوغورزیدهٔ چه د هغهٔ سر به د تنے نه جدا شو۔ په دے طریقه دوئ او دنیا والو اولیدل چه د الله عذاب دوئ څنګه په خپل ګرفت کښې واخستل، څنګه دا بدترین عذاب د خلقو د تنبیه ذریعه جوړه شوه۔

صَرْصَرًا: تیز آواز (شغاری) ته وائی یا سخته یخه، یا دیر وخت چلیدونکے سیلئ وه۔
فِي يَوْمِ نَحْسٍ: دلته د ورځ نه مراد مطلق وخت دے ځکه چه دا سیلئ تر اته ورځو

پورې وه۔ یا ددې نه مراد ابتداء د ورځ ده، یعنی په یوم الاربعاء (بدهـ ورځ) کښې شروع شوې وه۔
مُّسْتَمِرٍّ : اَیْ دَائِمُ الشُّؤْمِ۔ تر همیشه پورې ددې سپیرهٔ والې وو۔ یا عذاب پکښې همیشه وو تردې چه دوی ئې تول هلاك کړل او د برزخ عذاب ته ئې ورسول۔
تَنْزِعُ النَّاسَ : نزع (راښکلو) لفظ ئې ذکر کړو ځکه چه خلق د یو شی بل شی پورې انختی وو، نو هوا دومره سخته شوه چه دوئ ئې د دغه ځیزونو سره راویستل او بره ئې پورته کړل، دوئ چونکه ځانونه لوی گڼړلی وو نو ځکه الله تعالیٰ په هواء سره سپك او ذلیله کړل۔ او د دوئ دا راویستل داسې مضبوط وو لکه د کجورې ونه چه په زمکه کښې کلکه ولاړه وی، او بیا د جرړو سره د ویخ نه راوویستلې شی۔
أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ : اعجاز جمع د عَجُز ده، د یو شی د بدن لاندې حصې ته وائی۔ مراد ترې نه دلته تنه ده، او په اعجاز سره ذکر کولو کښې اشاره ده چه د دوئ نه سرونه جدا شوی وو او د کجورو د تنو په شان پراته وو۔
او پدې کښې اشاره ده چه د دوئ تنې ډیرې اُوږدې وې، او د هواء ډیر مقاومت ئې وکړو لیکن هغه د برداشت نه وتلې وه۔
نَخْلٍ : دا اسم جمع ده، مذکر او مؤنث دواړو دپاره استعمالیږی، دې وجه نه ددې صفت کله مذکر راځی او کله مؤنث۔
مُّنْقَعِرٍ : اَیِ الْمُنْقَطِعِ الْمُنْقَلِعِ مِنْ اَصْلِهٖ ۔ یعنی پریکړې شوی، د بیخ نه راویستلې شوی۔ د انقعار نه دې، یو شے د جرړو او بیخونو نه راویستل۔
وَنُذُرِ : اَیْ اِنْذَارِیْ لَهُمْ بِالْعَذَابِ قَبْلَ نُزُوْلِهٖ ۔ یره ورکول زما دوئ لره په عذاب سره مخکښې د نازلیدو د عذاب نه۔
وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ : د قومِ هود د هلاکت او بربادئ قصې نه پس دوباره وئیلې کیږی چه الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې د بیان کړو دې واقعاتو په ذریعه نصیحت حاصلول آسان کړی دی، یعنی څوك چه په دې واقعاتو کښې غور او فکر کوی، هغه د الله په توفیق سره د گناهونو نه توبه گار کیږئ او خپل رب ته رجوع کوی۔ نو څوك دې چه ددې واقعاتو نه عبرت واخلی ؟۔

كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ بِالنُّذُرِ ﴿٢٣﴾ فَقَالُوْا أَبَشَرًا مِّنَّا
تکذیب کړے وو ثمودیانو د ډیره ورکونکو (پیغمبرانو) نو دوی اُووئیل آیا بنده زمونږ
وَاحِدًا نَّتَّبِعُهٗ إِنَّا إِذًا لَّفِيْ
نه یو تن تابعداری به کوو مونږ د هغهٔ، یقیناً مونږ به په دغه وخت خامخا په
ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ ءَأُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ
گمراهئ او په لیونتوب کښې یو۔ (په تکلیف کښې یو)۔ آیا راګوزار شوه وحی په دهٔ
مِنْۢ بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴿٢٥﴾
باندے د مینځ زمونږ نه بلکه دا دروغژن دے لوئی کونکے دے۔
سَيَعْلَمُوْنَ غَدًا مَّنِ الْكَذَّابُ الْأَشِرُ ﴿٢٦﴾
زر دے چه دوی به پوهه شی صبا له چه څوك دے ډیر دروغژن، لوئی کونکے۔
إِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ
یقیناً مونږ رالیږونکی یو اُوښے لره امتحان د دوی دپاره نو انتظار کوه د دوی
وَاصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌۢ بَيْنَهُمْ
او صبر کوه۔ او خبر ورکړه دوی ته چه یقیناً اُوبه تقسیم دی په مینځ د دوی کښې
كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾ فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ
هر نمبر د اُوبو ته به حاضری کیدیشی۔ نو آواز اُوکړو دوی ملګری خپل ته
فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾ فَكَيْفَ كَانَ
نو هغهٔ توره راواخسته پس زخمی ئے کړه (اُوښه) (پرے ئے کړه)۔ نو څنګه وو
عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَكَانُوْا
عذاب زما او ویره ول زما۔ یقیناً مونږ راولیږله په دوی باندے چغه یوه نو شو دوی

كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿٣١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ
پشان د مات راماتے گیاه د شپول جوړونکے۔او یقیناً آسان کړیدے مونږ قرآن دپاره
لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٣٢﴾
د نصیحت نو آیا شته څوك نصیحت اخستونکے۔

تفسیر : ثمودیانو هم رسولان دروغژن ګڼړلی وو، ځکه صالح علیه السلام ته د دروغو نسبت کول ګویا که ټولو انبیاؤ ته د دروغو نسبت کول وو، یا ئے هغه نبیے دروغژنے وګڼړلے د کومو په پیش کولو سره چه صالح علیه السلام هغوئ ته د توحید دعوت ورکړے وو۔ نو نذر جمع د نذیر ده، یا مصدر دے په معنیٰ د اِنذاراتو سره۔

فَقَالُوا : یعنی دا خنګه کیدے شی چه مونږ د خپل قوم یو کس نبی ومنو، او ټول جماعت پریدو او دهٔ پسے روان شو، د الله رسول خو د انسانانو نه اعلیٰ جنس یعنی ملائك کیدل پکار دی۔ دے وجے نه که چرے مونږ د صالح خبره اومنله او د هغهٔ پیروی مو شروع کړه، نو د حق نه به لرے او د لیونو په صف کښ به راشو۔

وَّسُعُرٍ: (١) اَیْ عَذَابٍ وَعَنَاءٍ وَشِدَّةٍ مِنْ طَاعَتِهٖ۔ (الفراءِ وغیره)

یعنی مونږ به ددهٔ د تابعدارئ په وجه په عذاب او مشقت او سختئ کښ اخته شو، ځکه چه د نبی خبره منے نو هغه به دربانُدے کله د نفس خلاف کارونه کوی، نو مجرمانو ته هغه مشقت ښکاری او مؤمن پرے خوشحالیږی چه مونږ ته انسانیت راښائی او ادب راکوی۔

(٢) او مجاهدؒ وائی چه سُعر په معنیٰ د بُعْد عَنِ الْحَقّ سره دے، یعنی د حق نه به لرے شو۔ (٣) او سعر کله لیونتوب ته هم وائی۔ چه دماغو کښ داسے اِلتهابات (لمبے) وی چه د هغے په وجه ګډ وډ ګرځی۔

(٤) سُدیؒ وائی : (فِیْ اِحْتِرَاقٍ) یعنی په سوزش کښ به شو۔ سعر په اصل کښ ګرم اُور ته وائی۔

ءَاُلْقِیَ الذِّكْرُ عَلَیْهِ: په صالح علیه السلام کښ کوم شرافت او خوبی موجوده ده چه الله زمونږ لوی لوی سرداران او مالداران پریښودل، او دا ئے خپل نبی جوړ کړو۔ داسے څهٔ خبره

نشتـه دے، بلکـه دا لوی دروغژن او متکبر دے، او ددهٔ کبر او غرور دے را پورته کړے دے چه دے په مونږ بانـدے خپـل ځان لـوی ښکاره کړی، او مونږ ته د خپلے پیروئ حکم وکړی۔

دا همیشه د باطل پرستو طریقه ده چه حق پرست، حق بیانونکے په غلطو نومونو او غلطو مقاصدو سره بدنام کړی، کله به وائی دے په مونږ باندے خپل ځان لوی کول غواړی، او کله به وائی مشروټ دے، او کله به وائی چه دے دروغژن دے، کله به وائی چه دے خپل شهرت په علاقه کښ غواړی۔

سَيَعْلَمُوْنَ غَدًا: الله تعالیٰ د دوئ ددے غلطے خبرے جواب ورکړو چه په ډیره نزدے زمانه کښ به دوئ ته پته ولگی چه کله په دوی باندے په دنیا کښ عذاب نازل شی چه دروغژن او متکبر څوك دے؟، دوئ دی او که صالح ﷺ۔ نو د غدًا نه مراد صبا د راتللو د عذاب دے۔ یا د غد نه مراد د قیامت ورځ ده۔

إِنَّا مُرْسِلُو النَّاقَةِ: اُوس د صالح ﷺ د رشتینوالی د ثابتولو دپاره معجزه ذکر کوی۔

فِتْنَةً: یعنی دا اُوښه په دوئ باندے امتحان وو، او د صالح ﷺ معجزه وه، چه پته ولگی چه څوك د هغهٔ تصدیق کوی، او څوك ئے تکذیب کوی۔

یا فتنه په معنیٰ د عذاب سره، یعنی ددے تکذیب به د دوئ دپاره د عذاب سبب وگرځی۔

وَاصْطَبِرْ: باب افتعال کښ معنیٰ د تاکید پرته ده، نو پدے کښ په صبر کولو کښ زیات تاکید ته اشاره ده۔ او د انتظار نه روستو ئے په ډیر صبر باندے حکم ځکه وکړو چه انتظار کول ډیره زمانه غواړی، او په ډیر وخت کښ د دشمنانو د طرفنه مصیبتونه هم ډیر وی نو صبر ته ضرورت راځی۔

وَنَبِّئْهُمْ: الله وفرمایل چه اے صالحه! تهٔ دوئ ته دا ووایه چه د کوم کوهی اُوبهٔ دوئ څښـکـی، اوس دا د دوئ او د اُوښے ترمینځه برابر برابر تقسیمے شوے دی۔ یوه ورځ به اوښه څکل کوی، او بله ورځ به دا خلق څکل کوی۔ هر نمبر والا به صرف د خپل نمبر په ورځ راځی، او د خپلے برخے اوبهٔ به څکی۔

شِرْبٍ: په زیر د شین سره نمبر د اُوبو ته وئیلے شی، د اُوښے یوه ورځ نمبر وو خو ټول قوم ته به ئے پیئ ورکول، او بله ورځ به د کلی والو نمبر وو، لیکن دوی تنگ شو او اصل

كښې تنګ نۀ وو خو فسادیان وو، نو یوه زنانه راپاڅیده او دا ئے وویل چه زۀ به هغه سړے په نکاح واخلم چه دا اُوښه ئے مړه کړه، نو قُدار بن سالف په خپل قوم کښې سردار او منیع او عزتمند مالداره سړے وو، او دا په دے قوم د ثمودیانو کښې ډیر لوی خراب انسان وو، دۀ خپل قوم ته وویل چه زۀ اُوښه وژنم ستاسو څه رایه ده ؟ هغوی ټولو ورته د وژلو مشوره ورکړه او د هغے په وژلو رضا شو۔ نو ځکه ئے دلته ټولو ته نسبت وکړو۔

چنانچه هغۀ اولنی غشی سره د هغے پنډۍ زخمی کړه، بیا ئے په هغے باندے په توره حمله وکړه، او د هغے دواړه خپے ئے نورے زخمی کړے، بیائے هغه ذبح کړه۔

او په دے طریقه پوره قوم د الله د عذاب حقدار جوړ شو، دوی خندا شروع کړه چه ځنګه مو ختمه کړه، صالح ﷺ ددے نه خبر شو ډیر خفه شو، او ورته ئے وویل چه اے قومه ! تاسو خو ځان هلاك کړو، د الله عذاب ته مو دعوت ورکړو، ما درته نۀ وو وئیلی چه دا مۀ وژنئ، اُوس درے انتظار وکړئ د الله عذاب به راځی، او هغه ترے خپله روان شو۔

او دوئ خندا شروع کړه چه عذابونه کوم دی، دا خو لیونے دے، نو درے ورځے پس پرے داسے سخته صیحه (چغه) راغله چه د دوئ زړونه ئے وچول او په کورونو کښې پړمخے پراتۀ وغورزیدل۔

فَتَعَاطٰی: اَیْ تَنَاوَلَ السَّیْفَ۔ یعنی توره ئے راواخسته۔

كَهَشِيْمِ الْمُحْتَظِرِ : یعنی په شان د ګیاه د شپول جوړونکی۔ هشیم : ګیاه ته وائی د هَشْم نه دے، ماتولو ته وئیلے شی۔ او محتظر صاحب الْحَظِیْرَة ته وائی، او حظیره شپول ته وائی۔ په غرونو علاقو کښې چه څوك ګډے بزے څروی، نو د هغوی طریقه دا وی چه د ورځے ګډے بزے څروی نو د شپے ئے د هغے دپاره یو ځای جوړ کړے وی چه څلور واړو طرفونو ته ئے د هغے نه لرګی تاو کړی وی، او یوه نرئ لاره ئے ورله پریخوستی وی هغے ته ئے هم لرګے وهلے وی، او په ژمی موسم کښې د هغے لاندے ګیاه او بروزے هم اچولی وی دے دپاره چه هغه ګرمے وی، نو ګډے بزے چه کله دغه شپول ته ننوزی نو په هغے کښې ګرځی راګرځی او په هغه ګیاه متیازے هم وکړی نو دغه ګیاه بدبویه شی، او په خپو کښې ذره ذره هم شی،

نو دلته الله تعالیٰ د دوئ تشبیه د دغه ګنده بد بویه ګیاه سره ورکړه چه دوئ هم دغه شان بدبویه او ذره ذره پراته وو چه اندامونه ئے د یو بل نه جدا جدا شوی وو۔

او پدے مثال باندے عرب ښه پوهیدل پدے وجه ئے دلته همدا مثال راوړو۔ او دا ناشنا تشبیه ده د كَعَصْفٍ مَأْكُوْل په شان دے۔

او بعض وائی : ددے معنیٰ دا ده : چه دوئ په خپلو کورونو کښې داسے ډهیری جوړ شول لکه څنګه چه ګډے بزے ساتونکے په باړئ (شپول) کښې د خپلو ګډو بزو دپاره د اُوچو بوسو ډهیرے لګوی۔

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطٍ بِالنُّذُرِ ﴿٣٣﴾ إِنَّا
تکذیب کړے وو قوم د لوط (علیه السلام) د یره ورکونکو (پیغمبرانو) یقیناً مونږ
أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّا آلَ لُوْطٍ نَّجَّيْنَاهُمْ
راولیږلو په دوی باندے باران د کانړو سوئ د کورنئ د لوط نه، بچ کړل مونږ دوی
بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾ نِعْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا كَذٰلِكَ نَجْزِىْ
لره په وخت د پیشمنی کښې۔ (دا) نعمت وو د طرف زمونږ نه، دغسے بدله ورکوو مونږ
مَنْ شَكَرَ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ أَنْذَرَهُمْ بَطْشَتَنَا
هغه چاته چه شکر کوی۔ او یقیناً هغهٔ ویرول دوی لره د حملے (نیولو) زمونږ نه
فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ
نو هغوی شك اُوکړو په ویره ولو کښې۔ او یقیناً دوی مطالبه کړے وه د هغهٔ نه
عَنْ ضَيْفِهٖ فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ فَذُوْقُوْا عَذَابِىْ
د میلمنو د هغهٔ نو ورانے کړے مونږ سترګے د هغوی نو اُوڅکئ عذاب زما
وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾
او یره ول زما۔ او یقیناً سهار وخت کښې راغے په دوی باندے وختی عذاب همیشه۔
فَذُوْقُوْا عَذَابِىْ وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ
نو اُوڅکئ عذاب زما او یره ول زما۔ او یقیناً آسان کړیدے مونږ قرآن

لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾
دپاره د نصیحت نو آیا شته څوك نصیحت اخستونكے۔

تفسیر: څلورمه واقعه راوړی، پدے کښ هم دنیاوی یره ده چه تکذیب سبب د عذاب دے۔

بِالنُّذُرِ: دا هغه امور دی چه په هغے سره دوی لره لوط ﷺ یره ولی وو۔ یا دا جمع د نذیر ده، او مراد ددے نه رسولان دی، ځکه چه د یو رسول تکذیب داسے دے لکه د ټولو رسولانو تکذیب۔

إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ: په تیر شوو گنړو سورتونو کښ د قومِ لوط واقعه ذکر شویده چه په سَدُوم او عموریه کلو کښ اوسیدونکو خلقو کښ هلکانو سره د بد فعلئ کولو گناه خوره شوے وه۔ الله تعالیٰ دوئ ددے خراب کار نه د توبه گار کولو او په نیغه لاره باندے د روانیدلو دپاره لوط ﷺ نبی جوړ کړو، او هغوئ ته ئے وراولیږلو چه دا د ابراهیم ﷺ د وړور هاران ځوی وو، لیکن هغوئ په خپلو گناهونو باندے ټینگ پاتے شول، نو الله تعالیٰ دا کلی واړول، او بیا ئے د ملائکو یا د تیزے او تندے هواء په ذریعه په دوئ باندے د کانړو داسے باران وکړو چه هغه ټول هلاك شول، صرف لوط ﷺ، د هغهٔ دواړه لونړے او یو څو هغه کسان بچ شول چه هغوئ مسلمانان شوی وو۔

دا خلق د الله په حکم سره د شپے په آخره برخه کښ د دغه کلو نه اووتل۔

په دے مومنانو باندے الله خپل فضل او کرم وکړو چه د عذاب نازلیدو نه مخکښ ئے دوئ ته د تللو دپاره ووئیل۔ الله تعالیٰ په هره زمانه کښ خپلو نیکانو او شکر گذارو بندگانو له د دوئ د نیکو اعمالو دغسے ښه بدله ورکړے ده۔

بِسَحَرٍ: سحر آخر د شپے ته وائی، او د عربو په نیز د شپے تور والے چه د ورځے د سپینوالی سره یو ځای شی نو په دے وخت کښ د شپے او د ورځے دواړه نخے ښکاره کیږی نو دغه وخت ته سحر وائی۔

نِعْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا: دا منصوب دے مفعول لهٔ دے۔ یعنی د وجه د نعمت نه زمونږ د طرفنه۔ ځکه چه د ایمان والو بچ کول خالص د الله په فضل او احسان سره کیږی۔ او دا دلیل دے چه د نیك اعمالو بدله په الله تعالیٰ باندے واجب نهٔ ده لکه چه معتزله وائی۔

مَنْ شَكَرَ: دلته د شکر گذار نه مراد: اَلَّذِیْ یُؤْمِنُ بِالْمُعْجِزَاتِ وَیَعْمَلُ بِالطَّاعَاتِ۔
هغه شخص چه په معجزاتو ایمان لری، او په طاعاتو باندے عمل کوی، او شکر همیشه دپاره د نجات ذریعه ده۔ او پدے کښ اشاره ده چه لوط علیه السلام او د هغه لونړه شکر گذار وو نو ځکه ورته الله تعالیٰ نجات ورکړو۔

نو پدے آیتونو کښ دا دعوت دے چه محمد رسول الله ﷺ راتلل د الله د طرفنه یو لوی نعمت دے، او ددهٔ دا معجزے لکه قرآن او سنت، دا منل پکار دی او پدے نعمت باندے شکر پکار دے، او تاسو تکذیب شروع کړو۔

وَلَقَدْ أَنْذَرَهُمْ: جواب د یو وَهم کوی، که څوك ووائی چه دوئ ته به چا بیان نهٔ وو کړے او په حالت د غفلت کښ به پرے عذاب راغلے وی؟

نو فرمائی چه الله تعالیٰ دوئ ناساپه په عذاب کښ مبتلا نهٔ کړل، بلکه لوط علیه السلام دوئ د الله د سخت عذاب نه ډیر اُویرول، او پوره کوشش ئے وکړو چه دوئ په سمه لاره راشی، لیکن هغوئ همیشه دپاره د لوط علیه السلام خبرو پورے توقے کولے، او گمان ئے کولو چه د لوط علیه السلام په خبرو کښ هیڅ رشتین والے نشته، او د کوم عذاب دهمکی چه ورکوی، د هغے هیڅ حقیقت نشته۔

او د دوئ د تولو نه لوی جرم دا وو چه دوئ د لوط علیه السلام نه مطالبه وکړه چه هغه دوئ ته د خپلو نوو راغلو ښائسته میلمنو سره د بد فعلئ اجازت ورکړی۔

دا میلمانهٔ په اصل کښ ملائك وو چه دوئ د انسانانو په شکل کښ د مجرمانو د آزمائش دپاره رالیږلے شوی وو۔

د لوط علیه السلام بوډئ ښځه، چه د مجرمانو سره ملاؤ وه، په منډه لاړه او مجرمانو ته ئے د ښائسته مخو میلمنو راتللو خبردارے ورکړو، په لږ وخت کښ تمام مجرمان د لوط علیه السلام خواته جمع شو، او وے وئیل چه مونږ ته خپل میلمانهٔ حواله کړه۔

لوط علیه السلام د الله واسطه ورکړه او دوئ ته ئے منت او زاری اوکړه چه دوئ د هغهٔ د میلمنو سره په بد فعلئ کولو سره هغه ذلیل او رسوا نهٔ کړی، دا خبرے اترے شروع دی، لوط علیه السلام هغوی لره دیکه کوی، او هغوی د ننوتو زورکوی او دا ارمان کوی چه زما په تاسو باندے قوت وے نو تاسو به داسے اراده نهٔ وے کړے، لیکن هغوئ ددهٔ خبره وانهٔ وریده، او په زبردستئ سره ئے د هغهٔ کور ته ننوتل غوښتل نو پدے کښ جبریل علیه السلام د دوی پسے

راووتـو او پـه خپـل وزر سره ئـے دا تول حاضرین ووهل، نو تول ړانده شول او دوئ په شان بانـدے وتبنتیدل، او دا چغے ئے کړے چه لوی ساحران راغلی دی، په کلی کښې لا دا خبره خوره شوے نهٔ وه چه شپه تیریده نو د صبا په وخت کښې په تولو باندے عذاب راغلو۔ نو الله هغوئ ته ووئیل چه اُوس تاسو زما د عذاب خوند اوڅکئ۔

او داسے عـذاب پـرے راغـلـو چه هغه همیشه وو او هیڅ کله نهٔ لرے کیدونکے وو تردے چـه پـه دنیـا کـښې هـم ذلیـلـه او رسـوا مـړهٔ شول، او په عالَم برزخ کښې هم په دوئ باندے عذاب مسلطِ شو تردے چه دوی ئے جهنم ته ورسول۔

فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ : یعنی دوئ شك وكړو په یره ورکولو کښې۔

عَنْ ضَيْفِهِ: ضیف اسم جنس دے، په معنیٰ د جمع سره دے، او مراد ترینه ملائك دی۔

فَذُوقُوا: دا خـطاب دوئ ته په ژبه د ملائکو سره وو، یا دا امر په معنیٰ د اخبار سره دے۔ یعنی ما دوئ ته عذاب وڅکولو۔

مُسْتَقِرٌّ: یعنی قرارے ئے پرے ونیولو او همیشه پرے پاتے شو۔

پـه څـلـورم ځـل ئے ووئیـل چه الله تعالیٰ قرآن کریم کښې ددے بیان کړو واقعاتو په ذریعه نـصیـحت حاصلول آسان کړی دی۔ نو څوك شته دے چه ددے واقعاتو نه عبرت حاصل کـړی ؟ او ددے بار بار وئیلو نه مقصد په تیره شوے زمانه کښې د کافرو قومونو د هلاکت یـادول، او د عبرت او نصیحت حاصلولو رغبت ورکول دی، دے دپاره چه د آخرت د فکر نه غافله نشی۔

وَلَقَدْ جَاءَ آلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كُلِّهَا
او یقیناً راغلی وو فرعونیانو ته یره ورکونکی۔ دروغژن ئے وګڼړل آیتونه زمونږ تول
فَأَخَذْنَاهُمْ أَخْذَ عَزِيزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾ أَكُفَّارُكُمْ
نو راونیول مونږ دوی په رانیولو د زورَور ذات چه قدرت والا دے۔ آیا کافران ستاسو
خَيْرٌ مِّنْ أُولَئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾
غوره دی د دغه کسانو نه یا شته تاسو لره بچ والے (د عذاب نه) په کتابونو کښې۔

أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنْتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَيُهْزَمُ
آیا وائي دوی مونږ ټول يو بدله اخستونکي. زردے چه شکست به اوخوري
الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ
(دا) ډله او دوی به راواړوی شاګانے. بلکه قیامت وخت مقرر د دوی دے
وَالسَّاعَةُ أَدْهٰى وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾
او قیامت ډیر لوئی مصیبت دے او ډیر تریخ دے.

تفسیر : دا پنځمه واقعه ده، او په ترتیب وجودی کښې هم دوئ د مخکنو قومونو نه روستو راغلی دی، او بل د مکے د مشرکانو مشابهت د فرعونیانو سره زیات وو.

الله تعالیٰ موسیٰ او هارون علیهما السلام پیغمبران جوړ کړل، او فرعون او فرعونیانو خواته ئے اولیږل، دے دپاره چه دوئ هغوئ د آسمان او د زمکے د خالق او د یو الله بندګئ طرفته را اوبلی.

او الله دوئ له د خپل رشتین والی ثابتولو دپاره نهه نښے ورکړے، چه ددے ذکر د مخکنو سورتونو په تفسیر کښې څو ځله راغلے دے.

موسیٰ او هارون علیهما السلام دا نښے یوه یوه پیش کړه، لیکن فرعون د کبر او غرور په نشه کښې ددے ټولو نه انکار وکړو، او د الله د وحدانیت او د هغهٔ د بندګئ د اقرار کولو توفیق ورته حاصل نشو. آخر الله تعالیٰ هغه داسے سخت را اونیولو چه هغه د دنیا هیڅ طاقت بچ نهٔ کړو، ځکه د الله په قادرِ مطلق هستئ باندے څوك غالبه کیدے شي؟!.

النُّذُرُ: دا جمع د نذیر ده، او کله نا کله د جمع اطلاق په تثنیه باندے کیدے شي. یا ددے نه مراد انذارات دی.

بِآيَاتِنَا كُلِّهَا: ددے نه مراد نهه معجزات دی کوم چه په سورة اعراف کښې ذکر شویدی.

أَخْذَ عَزِيزٍ مُّقْتَدِرٍ : پدے کښې اشاره ده چه فرعون ځان دپاره د عزت او اقتدار دعوه کوله لیکن هغه دعوه باطله وه ځکه چه مغلوب او تباه شو، نو معلومه شوه چه عزت والا (غالب) قدرت والا صرف الله تعالیٰ دے. او پدے کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ د دوئ

په هلاکولو کښې عزتمند وو، په دوی ئے هیڅ ظلم نهٔ دے کړے.
أَكُفَّارُكُمْ: اُوس الله تعالیٰ قریشو کافرانو او بیا دے امت ته خطاب کوی چه که څوك ووائی چه پخوانی قومونه هلاك شول، او زمونږ دپاره به هلاکیدل نهٔ وی، مخکنی خلق خراب وو. نو الله فرمائی چه په تاسو عذاب نهٔ راځی نو ددے به یو د درے وجو نه وی، یو دا چه تاسو به د هغوی نه غوره یئ، او هغوی به فاسقان کافران وی، نو بیا صحیح ده الله به عذاب نهٔ راولی، مثلًا د فرعون په شان بد عمل او تکبر مهٔ کوه، نو عذاب به نهٔ راځی.
دویم دا چه الله به په پخوانو کتابونو کښې لیکلی وی چه قریشو او د محمد رسول الله ﷺ امت اګرکه کافران ویٰ هم بچ به وی د عذاب د الله نه.
دریمه دا چه ستاسو به خپل قدرت وی او تاسو به راجمع شئ خپل طاقت به پیدا کړئ، او یو بل له به لاس ورکړئ، او د الله عذاب به لرے کړئ، او دا درے واړه خبرے ستاسو سره نشته.
نو مطلب د آیت دا دے چه آیا تاسو کافران د دوئ نه بهتریئ چه خپل ځانونه د الله تعالیٰ د عذاب نه محفوظ او په امن کښې ګنړئ، او هغوئ به غلط خلق وو ځکه پرے عذاب راغلو، داسے خبره خو نشته ځکه چه تاسو هم د هغوی په شان ناکاره مشرکان او تکبر والا یئ، یا الله په خپل کوم آسمانی کتاب کښې ستاسو بیزاری اعلان کړے ده چه تاسو څهٔ غواړئ کوئ ستاسو نیوکه به نهٔ کیږی؟
واقعه داده چه دواړه خبرے صحیح نهٔ دی، بلکه تاسو له مهلت درکړے شوے، دے دپاره چه تاسو الله طرفته رجوع وکړئ، یا د الله عذاب په تاسو نازل شی.
بَرَاءَةٌ: د برائت نه مراد اَمن دے.
أَمْ يَقُولُونَ: دا دریمه خبره ده. یعنی که د قریشو کافران په دے باطل ګمان کښې اخته وی چه د دوئ ډله دومره ډیره او طاقتوره ده چه هیڅوك په دوئ غالبه کیدے نشی؟ لکه دوی به وئیل چه که ولید او ابوجهل ته چا څه ووئیل نو مونږ به ټول تورے راواخلو او په یو ځل به پرے حمله وکړو، او خپله بدله به واخلو، او ابوجهل به وئیل: أَنَا سَيِّدُ هٰذَا الْوَادِيْ. زهٔ ددے علاقے سردار یم، ستا د رب د عذاب نه نهٔ یریږم. (والعیاذ بالله).
جَمِيعٌ: ۱- یعنی جماعت یو.

٢- جَمِيعٌ اَمْرُنَا مُنْتَصِرٌ مِنْ اَعْدَائِنَا۔ زمونږ کار او خبره اتفاقي ده، او مونږ د خپلو دشمنانو نه بدله اخستے شو۔

سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ : نو واورئ چه دوئ به ماتے خوري، که هغه د قريشو کافران وي، يا د عربو عام کافران، او دوئ به د ميدانِ جنګ نه شا اړولو سره داسے اوتښتي چه شاته به نۀ ګوري۔

او معامله به دلته ختميږي نۀ، بلکه د دوئ د وعدے اصل ځاى خو به د آخرت ورځ وي، چه دا به ډير سخت ساعت وي چه ددے د عذاب نه به د بچ کيدو هيڅ صورت نۀ وي، او دا به د دنيا د عذاب نه ډير زيات عذاب وي۔

او دا سورت مکي دے، او الله تعالىٰ پکښ خبر ورکړو چه دوئ به د مسلمانانو په لاس وهلے شي، او د جنګ ميدان نه به تښتي، او بيخي رشتينې ثابته شوه چه د بدر په ميدان کښ بدترينه ماتے ئے وخوړه، او د کفر او شرك لوى لوى سرداران د مسلمانانو د تورو په ذريعه د ګازرو او موليو پشان پريکړے شول۔

ابوجهل ارمانونه کول چه (فَلَوْ غَيْرَ اَكَّارٍ قَتَلَنِيْ) ارمان چه زميندارو نۀ وے وژلے۔

امام بخاريؒ د ابن عباس ﷺ نه روايت کړے چه رسول الله ﷺ د بدر د غزا په موقعه د شپے د مسلمانانو د کاميابئ دپاره دعاګانے وکړے، او سهار کښ د خپلے خيمے نه په زغره کښ راووتو او تپوسنه ئے وهل، او دا آيتونه ئے لوستل (سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ) يعني د الله دغه وعده به ما سره نن پوره کيږي، نو صحابه کرامؓ پدے سره ډير زيات خوشحاله شو او بهادري ئے نوره هم زياته شوه۔ (بخاري : ٤٨٧٥)

بَلِ السَّاعَةُ : يعني عذاب به صرف په دنيا کښ نۀ وي، هغه خو دومره سخت نۀ دے بلکه د قيامت عذاب د دوى سره وعده شويده، او هغه قيامت خو ډير لوى ګبراهټ والا دے۔

أَدْهٰى: يعني ډير لوى مصيبت دے، داهيه : اَلْاَمْرُ الْمُنْكَرُ الَّذِىْ لَايُهْتَدٰى لِدَوَائِهٖ۔

هغه ناكاره ناشنا كار دے چه څوك ئے په دوائي او علاج نۀ پوهيږي۔

وَأَمَرُّ: يعني ډير تريخ دے د عذاب د دنيا نه۔

إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَّسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ يُسْحَبُونَ
یقیناً مجرمان په گمراهئ او په اُور کښ دی۔ په هغه ورځ چه راخکلے به شی
فِي النَّارِ عَلٰى وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾
په اُور کښ په مخونو خپلو (ورته وئیلے به شی) اُوڅکئ عذاب د سقر (سوزیدلو)۔
إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾
یقیناً مونږ هر شے پیدا کړیدے هغه په خاص اندازه۔

تفسیر: کوم سرکشه بندگان چه په دنیا کښ جرمونه او گناهونه کوی، دوئ په دنیا کښ د حقے لارے نه آوړیدلی دی، او په آخرت کښ به د دوئ استوگنه جهنم وی، چه ددے اُور به د دوئ په جسمونو باندے بلیږی۔ او په دے اُور کښ به دوئ پړمخے رابنکلے کیږی، دوئ ته به معلومه نهٔ وی چه دوئ چرته بوتللے کیږی۔ او د دوئ د ذهنی غم او خفگان زیاتولو دپاره به دوئ ته وئیلے کیږی چه اُوس د جهنم سختئ او ددے سخت عذاب برداشت کوئ۔

إِنَّ الْمُجْرِمِينَ: ابن کثیرؒ لیکی چه دا هر کافر او بدعتی ته شامل دے۔

فِي ضَلَالٍ وَّسُعُرٍ: ١– یعنی په دنیا کښ په گمراهئ کښ دی، او په آخرت کښ به په گرم اُور کښ وی۔ سعر جمع د سَعِیر ده۔ یا سعر لیونتوب ته وائی، او دا هم په دنیا کښ دے۔ ٢– یا دواړه د آخرت سره لگیږی، یعنی مجرمان به په آخرت کښ په گمراهئ کښ وی څکه چه کله به د خپل شرك اقرار کوی، او کله به انکار کوی، او گڼے وډے به وائی، لاره به ترے ورکه وی چه چرته لاړ شی۔ ﴿كَذٰلِكَ كَانُوا يُؤْفَكُونَ﴾۔

او دا معنیٰ هم ده چه د جنت لاره به ترے ورکه وی۔

يُسْحَبُونَ: دوئ به پداسے طریقه راخکلے شی چه په مرئ کښ به ئے طوق وی، او په هغے کښ به پړے وی، او د هغے نه به ئے په مخونو راکاږی۔ كَمَا سُحِبُوا فِي الدُّنْيَا فِي الضَّلَالِ۔ لکه څرنگ چه دوئ په دنیا کښ په گمراهئ کښ راخکلے شوِل۔

مَسَّ سَقَرَ: مسّ په اصل کښ لگیدو ته وائی، دلته ترے مراد عذاب دے، او سقر په

اصل کښې سوزیدو ته وائي، او دا د جهنم نوم دے۔

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ : (۱) ددے آیت په باره کښې بعض مفسرین لیکي چه دا آیت نازل شوے وو د قریشو په رد کښې چه هغوی د تقدیر نه انکار کولو، امام احمدؒ، مسلمؒ، ترمذیؒ او ابن ماجهؒ وغیره د ابو هریره ﷺ نه روایت کړے دے :

[جَاءَ مُشْرِكُو قُرَيْشٍ يُخَاصِمُونَ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ فِي الْقَدَرِ فَنَزَلَتْ : ﴿يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلٰى وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ، إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ﴾]

چه د قریشو مشرکان نبی کریم ﷺ ته راغلهٔ، او د تقدیر په باره کښې ئے بحث او مناظره شروع کړه، نو ددے سورت (۴۹/۴۸/۴۷) آیتونه نازل شول۔ (بخاری : ۶۹۲۳)

لیکن بیا به پوره مناسبت د مخکښې روستو نهٔ ښکاره کیږي، لږ مناسبت به ئے دا وي چه مشرکان هغه خلق دے چه پیغمبران هم نهٔ مني، او معجزات او قیامت هم نهٔ مني، نو دارنګه د الله تقدیر هم نهٔ مني۔

(۲) ظاهره وجه دا ده چه دا د مخکنو عذابونو سره لګیږي، سوال پیدا شو چه دوئ ته به عذابونه کله ورکړے کیږي، او قیامت به پرے کله راځي؟

نو الله فرمائي چه ما هر شے په تقدیر کښې لیکلے دے، او الله چه دا ورځ راولي نو ډیره په آسانئ سره ئے راوستے شي خو تاسو د پخوانو قومونو د عملونو نه عبرت واخلئ، د هر چا عمل لیکلے کیږي، او د هغے مطابق به ورته جزاء او سزا ورکړے کیږي، او هغه پوهیږي چه د چا عمل اُوس د عذاب مستحق دے، او د چا کال پس او د چا ډیره موده بعد۔ یعنی الله د اعمالو مطابق عذابونه رالیږي۔

فائده : د یو تفسیر مطابق دا آیت د تقدیر د اثبات په باره کښې نازل دے، کوم خلق چه د تقدیر منکر دی، دوئ لوی ګمراهان دی لکه پدے زمانه کښې منکرین حدیث (پرویزیان) او دهریان دی، تقدیر په اصل کښې د الله تعالیٰ هغه علم ته وائي چه الله تعالیٰ د مخکښې نه لیکلے وی،

او دا مطلب هیڅ کله نهٔ دے لکه چه بعض خلق ئے اخلي چه تقدیر معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ یو بنده په یو کار باندے مجبوره کړي چه د هغهٔ هیڅ واك پاتے نشي، او الله پرے فیصله وکړي چه بس جهنمي شوے یا جنتي۔

بلکه د تقدیر معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ د خپل مخکني علم خبر ورکوی چه بندګان به

په خپله خوښه او مرضۍ سره داسې کارونه کوي، زۀ په هغې باندې د مخکښې نه خبريم، نو کله به د خير کارونه کوي، او کله د شر کارونه.

الله تعالىٰ د هر خير او شر پيدا کونکے دے، ليکن بيا ئے بندګانو ته اختيار ورکړيدے چه دوئ کوم کسب کوي، چا ته د خير توفيق ورکوي، او چا ته د شر د کسب کولو.

او بيا فيصلے د کسب مطابق کيږي که انسان په خپله خوښه د خير کارونه کوي نو جنت او نعمتونه ورکوي، او که ګناهونه او شرك کوي نو جهنم او عذابونه ورکوي. يعنى الله خالق د هر شي دے، او بنده کاسب دے، او الله تعالىٰ ددۀ د کسب مطابق فيصله کوي.

او تقدير الله تعالىٰ په قرآن کريم کښې په ډيرو ځايونو کښې ثابت کړيدے، او متواتر احاديث پکښې موجود دي چه ددے ښکلے ايمان جوړونکے تفصيل په ((الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح)) باب القدر کښې کتلے شئ.

كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ: يعنى مونږ هر شے د مخلوقاتو د پيدا کولو نه مخکښې په هغې باندې پوهه وو، او د هغې تقدير او اندازه مو ليکلے ده، هيڅ يو شے د الله تعالىٰ د مخکنى تقدير او علم نه بغير په وجود کښې نۀ دے راغلے.

د هر يو شئ علم ددے د واقع کيدو نه مخکښې په لوحِ محفوظ کښې ليکل شوے دے.

په همدے الٰهى تقدير کښې دا هم ليکلے شوي وو چه هغه به مجرمانو له د سزا ورکولو دپاره جهنم پيدا کوي، او نيکانو له به د دوئ د بدلے ورکولو دپاره جنت پيدا کوي. چنانچه هغۀ جنت او جهنم پيدا کړو، او په قرآن کريم کښې ئے د وعدے او دهمکئ په توګه ددے تذکره وکړه.

همدا حقيقت الله تعالىٰ د سورتِ فرقان په (٤) آيت کښې داسے بيان کړے:

﴿ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا ﴾

(هغۀ هر يو شے پيدا کړو او د هغې ئے يو تقدير مقرر کړو).

كُلَّ شَيْءٍ: منصوب دے په پټ فعل (خَلَقْنَا) سره او روستو خَلَقْنَاهُ د هغې تفسير دے، نو دا مَا اُضْمِرَ عَامِلُهُ عَلٰى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْر دے، او په كُلَّ شَيْءٍ کښې نصب غوره دے دے دپاره چه دلالت په عموم وکړي، يعنى هر شے مونږ په تقدير سره پيدا کړيدے.

او (كُلُّ شَيْءٍ) کښې رفع هم يو قراءت کښې راغلے ده، ليکن هغه غوره نۀ ده ځکه چه بيا معنىٰ ئے په قواعدو د اهل سنتو نۀ جائز کيږي، او د معتزله ؤ استدلال ترے جوړيږي،

څکه چه معنیٰ به دا شي : هر شے چه مونږ پیدا کړیدے نو هغه په تقدیر کښ لیکلے شویدے نو ددے مفهوم دا شو چه د بعضے څیزونو خالق الله تعالیٰ نهٔ دے لکه څنګه چه قدریه او معتزله وائی۔

وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ
او نهٔ دے حکم زمونږ مګر یوه شپیلۍ ده پشان د رپ د سترګے۔ او یقیناً
أَهْلَكْنَا أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ﴿٥١﴾
هلاك کړیدی مونږ ستاسو پشان خلق نو آیا شته څوك نصیحت اخستونکے۔
وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيرٍ
او هر شے چه دوی کړیدے نو په صحیفو د ملائکو کښ دی۔ او هر وړوکے
وَكَبِيرٍ مُسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾
او لوئی عمل لیکلے شویدے ۔ یقیناً متقیان به په جنتونو او نهرونو کښ وی۔
فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيكٍ مُقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾
په مجلس د رشتینوالی کښ په نیز د بادشاه پوره قدرت لرونکی۔

تفسیر : وَمَا أَمْرُنَا : یعنی لکه څنګه چه د الله تقدیر د هغهٔ په بندګانو کښ نافذ کیږی، هیڅ یو شے هغه نشی بندولے، دغه شان د هغهٔ اراده هم د هغهٔ د مخلوقاتو په باره کښ نافذه کیږی، هیڅ یو شے خنډ نشی واقع کیدے۔ د یو شیٔ د موجودولو دپاره د هغهٔ یو حکم کافی دے، نو هغه شے به د سترګے په رَپ سره موجودیږی۔

یا د امر نه مراد د قیامت راتلل دی، یعنی الله تعالیٰ ته د قیامت قائمول داسے آسان دی لکه د سترګے د رَپ په شان۔ یا دومره په جلتیٔ به راځی لکه د سترګے د رَپ په شان۔ یا لکه څنګه چه د سترګے په رپولو کښ انسان ته هیڅ تکلیف نهٔ وی، نو دغه شان ټول کارونه د الله تعالیٰ په نیز ډیر آسان دی۔

وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا : الله تعالیٰ د قریشو کافرانو ته وئیلی دی چه مونږ په تیره شوے زمانه

کښې ستاسو پشان کافران د هغوئ د جرمونو په وجه هلاك كړې دي.

نو آيا په تاسو کښې څوك شته چه د هغوئ ددے عبرتناك انجام نه نصيحت واخلي، او د وخت تيريدو نه مخکښې خپل حالت بدل کړي، د ګناهونو نه توبه کړي، او د خپل حقيقي معبود مخے ته د سجدے دپاره سر ښکته کړي.

أَشْيَاعَكُمْ : جمع د شِيعَة ده، مراد ترے هغه خلق دي چه ستاسو سره په کفر کښې مشابه وو. يا د اشياع نه مراد أتباع (تابعداران) او اعوان (مددګاران) دي.

يعني په تاسو باندے زما قدرت داسے دے لکه په هغوي باندے چه قدرت وو نو ويريږئ چه تاسو به د هغوي په شان عذاب ورسيږي.

وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ: پدے کښې الله تعالیٰ هغوي او مونږ ته دا خبردارے راکوي چه هر شے چه پخوانو امتونو کړيدے که خير وي او که شر هغه په لوح محفوظ او دارنګه په صحيفو د ملائکو کښې ليکلے شويدے، او د خلقو واړهٔ او غټ ټول عملونه د ملائکو په ذريعه په عملنامو کښې ليکلے کيږي. د انسان هيڅ عمل نهٔ ورك کيږي، برابره ده وړوکے وي او که لوی، هغه خبرے وي او که عملونه وي.

د سورتِ کهف په (٤٩) آيت کښې الله تعالیٰ فرمايلي دي :

﴿ وَيَقُولُونَ يَاوَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَّلَا كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا ﴾

(په دے ورځ به مجرمان وائي : هائے زمونږ هلاکته ! دا څنګه کتاب دے چه دهٔ هيڅ غټه وړه (ګناه) د راګيرولو نه بغير نهٔ ده پريښے).

او امام ابن ماجهؒ او دارميؒ وغيره د عائشے رضي الله عنها نه روايت کړے، رسول الله ﷺ به فرمايل : [يَا عَائِشَةُ! إِيَّاكِ وَمُحَقَّرَاتِ الْأَعْمَالِ فَإِنَّ لَهَا مِنَ اللّٰهِ طَالِبًا]

اے عائشے ! د هغے ګناهونو نه ځان اوساته چه هغه معمولي او سپك ګڼړلے کيږي، د الله له خوا ددے ريکارډ ساتونکي موجود دي.

(ابن ماجه : ٤٢٤٣) واسناده صحيح والدارمي رقم : ٢٧٢٦)

فِي الزُّبُرِ : دا متعلق دے د مَكْتُوبٌ مقدر پورے، يعني هر شے چه خلقو کړيدے هغه ليکلے شويدے په کتابونو د ملائکو کښې. او د فَعَلُوهُ پورے نهٔ دے متعلق ځکه چه بيا معنیٰ خرابيږي. يعني هر شے خلقو کړيدے په کتابونو د ملائکو کښې، حال دا چه د ملائکو په کتابونو کښې خلق تصرف نشي کولے.

او د دواړو آیتونو غرض دا دے چه پخوانو امتونو کښې هر چا چه هر عمل کړیدے نو هغه په لوح محفوظ کښې هم لیکلے شوے وو، او د ملائکو په کتابونو کښې هم او د هغې مطابق سزا ورکړے شوه، نو دغه شان به تاسو سره هم کیږی، او په تاسو به هیڅ ظلم نهٔ کیږی،

او هغوی له الله تعالیٰ یو وخت مقرر کړے وو، نو دغه شان به تاسو لره هم یو وخت مقرریږی، او جزاء او سزا به درکړے کیږی، او د هغوی د عذاب اندازه معلومه وه (كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ) نو ستاسو د عذاب اندازه هم معلومه ده۔ نو هر سړے دِے د خپل ځان غم وکړي۔

إِنَّ الْمُتَّقِينَ: اُوس د نیکانو خلقو زیرے بیانیږی۔ چونکه مخالفین زیات وو او ضدیان وو، نو پدے وجه پدے سورت کښې یرے زیاتے بیانے شوے، او چونکه دے ډپاره چه څوك نا امیده نشی، نو اُوس تقویٰ والو ډپاره زیرے بیانیږی۔ چه دوئ به په جنتونو کښې وی، چه د دوئ خوا او شاته به نهرونه روان وی، او دوئ به د خپل مالك الملك او قادرِ مطلق رب خواته، د هغهٔ په جوړ کړو جنتونو کښې وی چه هلته به دوئ هیڅ لغو، بیهوده او د گناه خبره نهٔ کوی، یعنی دوئ ته به د خپل رب نزدیکت، اعلیٰ ترین مقام او د جنت انتهائی پاکیزه ماحول ملاویږی۔

وَّنَهَرٍ: ۱- دا ئے مفرد راوړو مراد ترے جنس دے، او د آیتونو د موافقت د وجه نه ئے مفرد راوړو۔ ددے نه مراد د جنت څلور واړه نهرونه دی، د اُوبو، د شرابو، د پیوو او د گبین۔ یعنی مختلف قسم نهرونه او قسماقسم باغونه به وی۔

۲- بعض وائی: نهر فراخئ او رنړا ته وائی لکه ددے نه نهار جوړ دے، او مطلب دا دے چه دوئ باندے به شپه نهٔ راځی بلکه همیشه به په رنړا کښې وی۔ اول قول غوره دے۔ (فتح البیان)

۳- بعض وائی: نهر جمع د نَهَار ده یعنی دوی باندے به شپه نهٔ راځی۔

(رموز الکنوز فی تفسیر الکتاب العزیز ۷/۵٤۱)

فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ: دا د جنت نوم دے، یعنی ځای د رشتینوالی چه انسان ته ضرر نهٔ ورکوی، (صدق کله صفت د مکان وی) نهٔ ئے هوا خرابه ده، نهٔ خاوره، نهٔ پکښې یخنی شته او نهٔ گرمی، او نهٔ پکښې د بدن کمزوری شته، او نهٔ پکښې د گناه او خفگان خبره

شته۔

او حاصلیږی په سبب د صدق سره نو دا اضافت د مُسَبَّب دے سبب ته۔

پدے وجه جعفر صادقؒ به وئیل :

لَایَقْعُدُ فِیْهِ اِلَّا اَهْلُ الصِّدْقِ۔

پدے کښې به صادقان (رشتینی خلق) وسیږی۔ او همدا حقه خبره ده۔

عِنْدَ مَلِیْكٍ : دے کښې اشاره ده چه جنتیان تهول د الله تعالیٰ ګاونډیان دی۔ نو د دوی کرامت او اُوچتے مرتبے ته اشاره ده۔

ملیك او مقتدر دواړه د مبالغے صیغے دی، یعنی پوره بادشاهئ او پوره تصرف او قدرت والا چه هیڅ قسم نقصان او عجز پرے نۀ راځی او هغه ذات صرف یو الله دے۔ او په تنکیر کښې اشاره ده چه هیڅ شے نشته مگر هغه د الله د ملکیت او قدرت د لاندے دے او هغه په هر شی باندے پوره قدرت لرونکے دے۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات د سورة القمر

۱- پدے سورت کښې (وَلَقَدْ یَسَّرْنَا الْقُرْآنَ) جمله څلور کرته ذکر شوه۔

۲- انشقاق القمر (د سپوږمئ چاودل) صرف په همدے سورت کښې ذکر شو۔

۳- د تقدیر مسئله پکښې ذکر شوه۔

٤- ډیر انذارات پکښې ذکر شو۔

ختم شو تفسیر د سورة قمر په توفیق او رحمت د الله تعالیٰ سره۔

۲٤ رجب ۱٤۳۷ هجری موافق (۳۰/٤/۲۰۱٦)



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آياتها (۷۸)	(۵۵) **سورة الرحمٰن مدنية** (۹۷)	ركوعاتها (۳)

سورة رحمن مدني دے، په دے کښې اتۀ اویا آیتونه او درے رکوع دي۔

تفسير سورة الرحمٰن

نوم : ۱ - ددے نوم ((الرحمٰن)) دے۔ يعني د مهربان ذات سورت۔ او ددے سبب صاحب د محاسن التنزيل د مهايميؒ مفسر په حواله دا ښودلے چه په دے سورت کښې د الله تعالىٰ عظيم نعمتونه ذكر شويدي چه هغه د الله تعالىٰ د ((رحمت)) صفت نه راوتي دي۔
۲ - دے ته عَرُوْسُ القرآن هم وائي۔ يعني د قرآن ناوے۔ (شعب الايمان) لکه ناوے په نوروزنانو خصوصي حيثيت لري، نو دغه شان دا سورت هم په نورو سورتونو دغه شان حيثيت لري۔ انتهائي خوږ سورت دے،
مفسرين وائي چه پدے سورت کښې بلاغت هم ډير زيات دے۔

د نازليدو زمانه : قرطبيؒ ليکي چه دا سورت مکي دے، د حسنؒ، عروه بن زبيرؒ، عکرمهؒ، عطاءؒ او جابرؓ همدا قول دے۔
نحاسؒ د ابن عباس ؓ نه، او ابن مردويهؒ د عبد الله بن زبير او عائشے رضی الله عنهم نه روايت کړے چه دا سورت په مکه کښې نازل شوے۔
او ابن اسحاقؒ د عروه بن زبيرؒ نه نقل کړي چه همدا هغه سورت دے چه عبد الله بن مسعود ؓ قريشو ته د قرآن آورولو دپاره د مقامِ ابراهيم مخامخ اودريدو سره لوستلے وو، او هغوئ هغه په وهلو وهلو سُور سالو کړو۔ سيوطيؒ په الاتقان کښې ليکي چه د جمهورو په نيز دا سورت مکي دے، او همدا حقه ده او بيا ئے په دليل کښې قصه د جن

ذکر کړیده (کومه چه روستو په فائده کښې راځي) او قصه د پیریانو په مکه کښې وه.

(الاتقان فی علوم القرآن: ۱/ ۴۳)

خصوصیت: او د قرآن کریم دا یواځینے سورت دے چه په دے کښې الله تعالیٰ د پیریانو او انسانانو دواړو سره خبرے کړے دی، او د خپلو قدرتونو او خپلو کمالاتو او احساناتو ذکرئے کړے، او ددے د شکر کولو طرفته ئے رغبت ورکړے.

مناسبتونه

۱- مخکښې سورت کښې قرآن کریم ته ترغیب وو، نو دلته عامو نعمتونو ته ترغیب دے، ﴿فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾ یعنی د الله د قرآن نه نصیحت واخلئ، او ددے نعمتونو شکریه وکړئ.

۲- بنۀ مناسبت دا دے چه مخکښې سورت کښې یرے بیان شوے، نو دلته وائی چه د الله نه بنۀ امید ولرئ هغه ذات ډیر مهربانه دے، کله انسان په یره جوړېږی نو کله د رحمت په خبرو.

۳- هلته ئے وویل چه جنتیان به د مَلِيكٍ مُقْتَدِر په خوا کښې وسیږی، نو سوال پیدا شو چه دغه ملیك څوك دے؟ نو دے سورت کښې فرمائی چه دغه رحمٰن ذات دے چه د بندګانو سره ئے دا دا احسانات کړیدی.

موضوع د سورت

۱- مَعْرِفَةُ الرَّحْمٰنِ بِآلَائِهٖ وَإِنْعَامِهٖ وَإِحْسَانِهٖ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ.

یعنی الله وپیژنئ د هغۀ په نعمتونو او احساناتو سره په دنیا او آخرت کښې. یعنی د الله په دنیا او آخرت کښې دومره احسانات دی چه پدے سره الله پیژندلے شی. او دا لوی نعمتونه ئے دیرش ذکر کړیدی.

۲- دے ته نزدے دویم مقصد:

بَيَانُ رَحْمَةِ اللّٰهِ عَلَى الْعِبَادِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ لِتَوْلِيْدِ الرَّجَاءِ.

د امید د پیدا کولو دپاره الله تعالیٰ په خپلو بندګانو خپل دنیاوی او اُخروی رحمتونه او نعمتونه ذکر کوی. څکه چه څوك د چا نه اُمید ساتی نو د هغۀ خوا خوا ته کیږی، او چه امید نۀ وی نو بیا پرے پرواه نۀ ساتی. او څوك چه د الله د ذات نه امید ساتی، نو بیا د

هغهٔ بندګی کوی۔

خلاصه : په سورت کښې درې رکوعات دی، په اوله رکوع کښې روحانی او جسمانی نعمتونه ذکر شویدی۔ په دویمه رکوع کښې تخویفات اُخرویه (د آخرت عذابونه) ذکر شویدی، او په دریمه رکوع کښې تول نعمتونه ذکر دی۔

نو سوال پیدا شو چه عذابونه ذکر کول څرنګه نعمت شو؟

جواب دا دے چه یو د عذاب نازلول دی، او بل د عذاب ذکر کول دی، نو عذاب ذکر کول او په هغې باندې خبر ورکول لوی نعمت او رحمت دے، ځکه که الله دا خبر ورنکړی دا به رحمت نهٔ وو، مثلًا یو تن کوهی ته غورزیږی او تهٔ هغهٔ ته د کوهی هیبت بیان کړے چه پدے لار مهٔ ځه ګنے لوی کوهی ته غورزیږے چه هلاك به شے، نو دا د هغه دپاره لوی رحمت شو، او که تا خبر ورنکړو نو بیا تهٔ د هغهٔ دپاره غضب شوے، ځکه چه هغه به پکښې هلاك شی۔

نو الله چه کوم عذابونه مونږ ته ذکر کوی، دا هم د هغهٔ خصوصی رحمت دے، دے دپاره چه بنده ویریږی نو د آخرت دپاره تیارے وکړی نو کامیاب شی او د الله په رحمتونو ورواوړی۔

او ددے وجه نه اهل علم وائی :

[اَلتَّخْوِيْفُ سَوْطُ اللّٰهِ تَعَالٰى يُقَوِّمُ بِهٖ عِبَادَهٗ]۔

تخویف (یره ورکول) د الله تعالیٰ چابك دے چه پدے سره خپل بندګان جوړوی۔

او دا سورت د رحمٰن لفظ تشریح کوی چه د الله رحمتونه فلانی فلانی دی۔ نو پدے کښې مَعْرِفَةُ الرَّحْمٰنِ بِسُوْرَةِ الرَّحْمٰنِ دے۔ یعنی که د رحمٰن ذات معرفت کوے نو پدے سورت سره ئے وکړه۔

فائده : جابر بن عبد الله رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ (یوه ورځ) صحابه کرامؓ ته راووتو او په هغوی باندے ئے سورت رحمٰن د اول نه تر آخر پورے ولوستو نو هغوی غلی ناست وو، نو وے فرمایل :

[لَقَدْ قَرَأْتُهَا عَلَى الْجِنِّ لَيْلَةَ الْجِنِّ فَكَانُوْا اَحْسَنَ مَرْدُوْدًا مِنْكُمْ]

په کومه شپه چه زهٔ د پیریانو خواته ورغلے وم نو ما دا سورت په هغوی ولوستلو هغوی ستاسو نه ښهٔ جواب راکولو۔ زهٔ چه به کله (فَبِاَيِّ اٰلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ) ته راغلم نو

هغوی به وئیل :

[لَا بِشَیْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ]

اے الله ! مونږ ستا د هیڅ نعمت نه انکار نهٔ کوو خاص ستا دپاره د کمال صفتونه دی۔

(احمد : ١٦٦٤٦ والترمذی : ٣٢٩١ والحاکم : ٢/٥١٥ ح ٣٧٦٦) باسناد حسن- احمد شاکرؒ والالبانیؒ وابن کثیرؒ وصحح السیوطیؒ اسناده من حدیث ابن عمر) وقال الحاکم والذهبی اسناده صحیح رجاله ثقات رجال الصحیح۔

گویا که رسول الله ﷺ صحابه کرامؓ ته ترغیب ورکړو چه تاسو له پکار دی چه جواب راکړئ۔ قرآن له جوابونه ورکول د زړونو د ژوند او د محبت دلیل وی۔ او صحابه کرامؓ به ډیر ادب کولو ځکه به غلی ناست وو۔

مقرر له جواب ورکول او د هغهٔ په بیان کښې سبحان الله وئیل بهتر دی، دے دپاره چه هغهٔ ته پته ولګی چه زما بیان خلقو له خوند ورکړو۔ بعض خلق بیان ته داسے ناست وی لکه مړَه ور۔ د مقرر بیان د خلقو د ناستے مطابق کیږی، که هغوی شوق کښې وی، بیان هم ډیر مزیدار کیږی، او که د هغوی شوق نهٔ وی، نو د مقرر بیان د هغوی نه تنبیږی۔ دا جواب په نفلی مونځ کښې هم ورکولے شی۔

اَلرَّحْمٰنُ ﴿١﴾ عَلَّمَ الْقُرْآنَ ﴿٢﴾ خَلَقَ الْإِنْسَانَ ﴿٣﴾
بیحده مهربان ذات۔ تعلیم ئے ورکړیدے د قرآن۔ پیدا کړے ئے دے انسان۔
عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿٤﴾
خودلے ئے دے دهٔ ته وضاحت د مقصد خپل۔

تفسیر: اُوس د رحمٰن ذات تعارف کوی، او ددے سورت شروع ئے د رحمٰن په نوم سره وکړه، پدے کښې د الله بے انتهاء رحمتونو او بے حده احساناتو ته اشاره ده، او دا د الله پورے خاص نوم دے ځکه چه بے حده مهربان صرف او صرف همدغه یو ذات دے۔ او د هغه نعمتونو نه اول روحانی نعمتونه ذکر کړیدی، او بیا دنیوی جسمانی۔

په دے نعمتونو کښې ډیر لوی نعمت قرآن کریم دے، چه په دے کښې الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندے رحم کولو دپاره پوره صراحت او وضاحت سره هغه ټولے خبرے بیان کړی

دی کومو سره چه هغه خوشحالیږی، یا کومو سره چه هغه ناراضه کیږی، دے دپاره چه انسان د خپل رب د خوشحالئ کار وکړی، او د هغه کارونو نه لرے شی چه په هغے هغه ناراضه کیږی۔

او په الرحمن نوم سره شروع کولو کښ یو مقصد د مکے په مشرکانو رد کول دی چه هغوئ به د الله تعالیٰ ددے نوم نه انکار کولو، او د دوئ دا باطل گمان رد کول هم دی چه محمد (ﷺ) ته ددے قرآن کریم ښودنه بل کوم انسان کوی۔ الله تعالیٰ وفرمایل چه دا خو د رحمٰن خبرے دی چه هغهٔ دا خپل بنده او رسول محمد ﷺ ته ښودلی دی۔

عَلَّمَ الْقُرْآنَ: ددے یو مفعول پټ دے۔ یعنی جبریل علیه السلام ته ئے قرآن وخودلو او بیا جبریل علیه السلام محمد ﷺ ته، او دارنگه خپل نبی ته ئے قرآن وخودو او بیا هغه خپل امت ته وخودو۔ یا انسان ته ئے تعلیم ورکړو او همدا خبره غوره ده۔

او دا آیت ښکاره دلیل دے چه قرآن کریم د ټولو نعمتونو سردار دے، پدے سره د دواړو جهانونو نیکبختی حاصلیږی او دا د هر قسم خیرونو چینه ده۔

او په علم القرآن کښ اشاره ده چه قرآن داسے کتاب دے چه خلق ئے زده کولے او لوستلے شی، داسے کتاب نهٔ دے چه د الله خبرے دی، او درنے دی او انسانان ئے نشی لوستلے، او نهٔ ئے یادولے شی۔

خَلَقَ الْإِنسَانَ : پدے کښ دوه نعمتونه بیانیږی، یو د انسان د پیدائش نعمت، ځکه چه ټول کارونه ددهٔ د پیدائش سره تړلے شویدی۔ یعنی الله تعالیٰ انسان د ټولو نه ښائسته شکل او صورت کښ پیدا کړو، او دویم نعمت دا چه دهٔ له ئے د خبرو طاقت ورکړو، او په دے سره ئے د ټولو حیواناتو نه جدا او ممتاز کړو۔ که چرے دهٔ له دا طاقت نهٔ وے ورکړے شوے نو په دهٔ او نورو حیواناتو کښ به هیڅ فرق پاتے شوے نهٔ وے۔ دابه هم د نورو حیواناتو پشان صرف د غوښے، پوست او وینے او خرمنے مجموعه وے، او د هغوئ پشان به په زمکه گرځے راگرځیدے او بیا به مړ کیدے۔

د انسان په بدن کښ تپونه وهونکے زړهٔ، عقل او هوش او قوتِ گویائی ده چه هغے دهٔ له د اشرف المخلوقات درجه ورکړے۔

خَلَقَ الْإِنسَانَ ئے په مخکښ باندے عطف نهٔ کړو ځکه چه دا کلام مستأنف دے، او جواب د سوال دے چه د قرآن اهل څوك دی؟ نو جواب وشو چه جنس انسان۔

عَلَّمَهُ الْبَيَانَ : بیان نه مراد د نطق (خبرو) طاقت دے، یعنی ددهٔ په ژبه او شونډو او مرئ کښې ئے داسے طاقت کیخودو چه پدے سره خپل مقصد ډیره په آسانه طریقه ښکاره کولے شی، او قرآن هم لوستلے شی، که خبرے نهٔ وے، نو ډیر زیات مشکلات به وے، د هر مقصد دپاره اشاره هم نهٔ کافی کیږی، او که لیکل وے نو څو مره کاغذونه به په ژوند کښې ډك كيدے۔

او پدے کښې اشاره ده چه الله ستا ژبه ګویا کړیده نو دا کتاب پرے ولوله، او دا پرے اُوچلوه۔ او پدے ژبه د قرآن کریم بیان وکړه۔

او بیان د هر قسم لغت ته هم وائی چه په هغے سره خبرے کوی۔

اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ﴿٥﴾ وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدَانِ ﴿٦﴾
او نمر او سپوږمئ په حساب سره (روان) دی۔ او بوټی (او ستورے) او ونے سجدے
وَالسَّمَاءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيزَانَ ﴿٧﴾ أَلَّا تَطْغَوْا
کوی۔ او آسمان الله پورته کړیدے او ایخے ئے ده تله۔ (وئیلی ئے دی) چه زیاتے مهٔ کوئ
فِي الْمِيزَانِ ﴿٨﴾ وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ ﴿٩﴾
په تول کښې۔ او برابر کړئ تول په انصاف سره او کمے مهٔ کوئ په تول کولو کښې۔

تفسیر : اُوس نور نعمتونه بیانیږی، یعنی بعض د نعمتونو د الله تعالیٰ نه نمر او سپوږمئ دی، هغهٔ دا د انسانانو د فائدے لپاره د یو خاص حساب او نظام پابند جوړ کړی دی، او ددے د رفتار دپاره ئے منزلونه مقرر کړی دی۔ دواړه د الله د مقرر کړی حساب او نظام مطابق په خپلو منازلو کښې ګرځی، او په هیڅ حال کښې ددے نه تجاوز نهٔ کوی۔ او د دوئ ددے مقرر اومحدود رفتار د وجے نه په اوقاتو او موسمونو کښې تبدیلی راځی، او خلق د ګینټو، ورځو، هفتو، میاشتو او کلونو حساب معلوموی۔ دا شمسی او قمری نظام هم په خپلو بندګانو باندِ د الله تعالیٰ رحمت دے۔

بِحُسْبَانٍ: ١ – دا مصدر دے، یعنی په مقرر حساب سره روان دی۔

٢ – ضحاكؒ وائی : اَیْ بِقَدَرٍ۔ یعنی په اندازه مقرر دی۔

اخفشؒ وائی : حسبان جمع د حساب ده لکه شُهُبٌ او شُهْبَانٌ په شان۔ او په سورة

الکهف کښې ددې معنیٰ په عذاب سره ذکر شویده، هغه دلته نۀ ده مراده. دلته ئې دغه دوه معانی مراد دی.

او پدې کښې ردِ دې په هغه مشرکانو چه هغوی د نمر یا سپوږمۍ عبادت کوی.

وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ : بل نعمت د الله تعالیٰ د آسمان ستوری دی. او د خپل رب په حضور کښې د دوئ سجده، د دوئ راختل دی، او شجر ونے دی، او د وُنو سجده داده چه دا د الله د مرضئ مطابق میوه ورکوی، چه د الله بندگان ئې استعمالوی. او د هر شی خپله خپله سجده وی. (قاله الحسنؒ ومجاهدؒ)

یا د نجم نه مراد گیاه گانے او بوټی دی، او د شجر نه مراد ونے دی، یعنی چه پونډئ لری، دا ټول د الله په مشیت او د هغۀ د ارادے په کُلِّیْ طور سره تابع دی، او لکه څنګه چه مومن انسان د خپل رب په حضور کښې سجده کوی، دغه شان دا بوټی او وُنے د خپل خالق د مشیت او ارادے تابع وسیږی، نو دا داسے دی لکه گویا که هر وخت د هغۀ په حضور کښې سر بسجود دی.

مفسرین لیکی چه نمر او سپوږمۍ سماوی اَجرام (آسمانی جُثے) دی، او وُنے او بوټی په زمکه وی. دے وجے نه نمر او سپوږمۍ نه پس د وُنو بوټو ذکر کول بطورِ تقابل مناسب دی، چه دے ټولو د خپل خالق د مشیت او ارادے مخے ته سر ښکته کړے دے.

وَالسَّمَاءَ رَفَعَهَا : الله تعالیٰ په زمکه کښې د موجودو مخلوقاتو دپاره آسمان چت جوړ کړو، او هغه ئې اُوچت کړو، چه دا د الله د مرضئ تابع دے، او د مخلوقاتو په سرونو باندے نۀ راغورزیږی. او که دا ئې نۀ وے پورته کړے، او ددے ترمینځ ئې هواء نۀ وے روانه کړے نو انسانان به د غم نه مړۀ وے.

وَوَضَعَ الْمِيزَانَ : یعنی الله تعالیٰ د خلقو ترمینځ تله مقرر کړیده دے دپاره چه دوئ خپل مینځ کښې انصاف وکړی، که تله نۀ وے نو نظام به څو مره خراب وے، عام نظام په تله روان دے. دا بل نعمت دے، ددے حاصل معنیٰ د عدل او انصاف ده.

یعنی الله تعالیٰ د خپلو بندگانو ترمینځه په تمامو اقوالو او افعالو کښې عدل او انصاف لازم گرځولے دے.

او دلته د [مِيزَان] نه صرف تله مراد نۀ ده، بلکه هر هغه پیمانه ده چه هغے سره د یو شئ، زمکے، مقدار او په دنیا کښې د موجودو نورو مادی او معنوی شیانو او حقائقو

پیمائش کیږی، او د کومو په ذریعه چه انسانان خپلو کښې عدل او انصاف قائموی، او په دے کښې په زیاتی کمی کولو سره عدل او انصاف پائیمال کوی۔
حسن بن فضلؒ وائی چه د میزان نه مراد عقل دے۔
او بعض وائی چه ددے نه مراد قرآن کریم دے۔ دا بعید تفسیرونه دی، او ددے ځای مناسب نهٔ دی۔
أَلَّا تَطْغَوْا: اَیْ اَمَرَکُمْ۔ یا/ لِاَجْلِ اَنْ لَّا تَطْغَوْا ۔یعنی الله تعالیٰ دا حکم کړیدے او تلهٔ ئے دے دپاره نازله کړیده چه خلق په حقوقو او معاملاتو کښې د حد نه تجاوز ونهٔ کړی، ګنے د فساد دروازے به پرانستے شی، ځکه د کومے معاشرے نه چه عدل او انصاف ختم شی، نو هر طرفته افراتفری او ګډوډی خوریږی، او د ژوند په هر اړخ کښې فتنه او فساد عام کیږی۔ نو مطلب د آیت دا شو چه تله د الله نعمت دے نو دا به غلطه نهٔ استعمالوے۔
وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ: مخکښې ئے ووېل چه تله ددے مقصد دپاره راغلے ده چه د چا حقوق ونهٔ وهئ نو دلته پرے حکم کوی چه وزن (تول) د څیزونو په انصاف سره کوئ۔ یعنی مقصد ئے د تلے د رالیږلو حکمت بیان کړو نو دلته په هغے باندے امر کوی۔
بعض وائی: ددے مطلب دا دے چه (لَاتَـدَعُوا التَّعَامُلَ بِالْوَزْنِ بِالْعَدْلِ) یعنی تاسو خپل مینځ کښې په انصاف سره وزن کول مهٔ پریدئ بلکه دا مضبوط راونیسئ۔
وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ: یعنی په تول کښې د چا مالونه مهٔ کموئ۔ او ظلم په خلقو مهٔ کوئ۔ او دا حکمونه ئے بار بار وکړل دپاره د زیات تاکید۔
امام شوکانیؒ لیکی چه الله تعالیٰ اول د تلے د برابر ساتلو حکم وکړو، بیا ئے د زیاتی تللو او د تلے بنکته کولو او د حد نه د تجاوز کولو نه منع وکړه، او بیائے د کم او نیمګړی وزن کولو نه منع وکړه، ګویا که په هر حال کښې په عدل او انصاف باندے د قائم پاتے کیدو حکم ئے وفرمایلو۔
او میزان ئے درے کرته په اسم صریح سره ذکر کړو، یو د زیات تاکید دپاره، دویم د آیتونو د فواصلو برابرولو دپاره، او دریم دا چه د اول میزان نه آله د تللو (یعنی تله) مراد ده۔
او د دویم نه معنیٰ مصدری مراد ده یعنی تول کول۔ او دریم په معنیٰ د مفعول دے یعنی موزون۔ یعنی کوم شے تللے شی۔
او بیا د قرآن او د میزان مناسبت وګوره چه په قرآن کښې علم دے، او په میزان کښې عدل

دی، او کله چه علم او عدل راجمع شی، نو کمال پیدا کیږی، نو الله تعالیٰ بندګانو ته د کمال طریقه ورخودلے ده چه قرآن زده کړئ او انصاف کوئ نو کمال ته به ورسیږئ۔
دویم دا چه لکه څرنګ چه په تله باندے انصاف کیږی، او پردے او خپل حق پرے معلومیږی، نو دغه شان په قرآن کریم باندے هم خپل ځان او نور خلق وتله او معلوم ئے کړه، عقیدے او نظریئے د خلقو پرے معلومے کړه۔

وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ ﴿١٠﴾ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْأَكْمَامِ ﴿١١﴾
او زمکه الله ایخے ده دپاره د خلقو۔ پدے کښې میوے دی او کجورے کسوړو والا۔
وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ﴿١٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا
او دانے دی بوسو والا او خوشبوئی دی۔ نو دکوم یو د احساناتو د رب خپل نه
تُكَذِّبَانِ ﴿١٣﴾
انکار کوئ تاسو۔

تفسیر: په اوم (٧) آیت کښې ئے د آسمان پورته والے نعمت ذکر کړو، نو دلته اُوس د زمکے خوریدلو نعمت بیانوی یعنی هغهٔ زمکه په اوبو باندے خوره کړے ده، او په دے باندے ئے د غرونو میخونه اووهل او هغه ئے مضبوطه جوړه کړه دے دپاره چه د هغهٔ قِسما قِسم مخلوقات په دے باندے ژوند تیر کړے شی۔
لِلْأَنَامِ: انام مخلوقاتو ته وائی۔ چه انسانان او پیریان دواړه پکښې داخل دی۔
مجاهدؒ او قتادهؒ وائی: اَنام نه مراد هر ذی روح دے۔ او بعضو ئے وجه دا بیان کړیده چه دوی ته اَنام ځکه وائی چه په دوئ باندے نَوم یعنی خوب راځی۔
فِيهَا فَاكِهَةٌ: یعنی هغهٔ په زمکه کښې مختلف قِسم میوے پیدا کړیدی، او خصوصًا کهجورے، چه هغه په غلافونو کښې رانغښتی وی، او مختلف قِسم دانے پیدا کیږی، چه هغه په پاڼړو او غونچکونو کښې انغښتی وی۔ دانے د انسانانو خوراك جوړیږی، او بُهوس د دوئ څناور خوری۔ نو د فاکهے نه مراد جنس میوه جات دی۔ او کجوره ئے پکښې د زیاتو فائدو د وجه نه خصوصی ذکر کړه۔ او د عربو په زمکه کښې زیاته وه۔
ذَاتُ الْأَكْمَامِ: جمع د کِمّ ده، کسوړے ته وئیلے شی۔

وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ: حب دانے دی او العصف : هغه پاڼړے د فصلونو چه وچے شی او څاروی ئے خوری۔ دا هم نعمت دے۔ دارنګه د ونو او فصلونو پاڼړے چه د میوے د پخلی نه مخکښ ئے خلق شوکوی، او فائدے ترے اخلی۔

رَيْحَان: کشمالو ته وائی، مراد ترے هر قسم خوشبویانے دی، یعنی الله په زمکه کښ قسماقسم خوشبویانے پیدا کړیدی چه انسان د هغے نه مزے حاصلوی۔ دارنګه ریحان رزق ته هم وائی۔

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ: مخکښ ئے د پیریانو او انسانانو دپاره رنګا رنګ نعمتونه ذکر کړل، نو اُوس دوئ سره خبرے کوی، او فرمائی چه تاسو د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغژن ګنړئ۔ دا یے شماره نعمتونه تاسو نه غواړی چه په زړۀ سره د هغۀ د احسانانتو اقرار وکړئ، او په ژبه او عمل سره ددے شکر اداء کونکی اُوسئ۔ او دا جمله پدے سورت کښ (۳۱) کرته ذکر ده۔

امام شوکانیؒ د قُتیبیؒ قول نقل کړے دے چه الله تعالیٰ په دے سورت کښ د خپلو نعمتونو په ذکر کولو سره انسانانو او پیریانو ته ددے یادونه کړے ده، او د هر دوو نعمتونو ذکر کولو ترمینځه ئے د ﴿فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾ آیت، یعنی (اے پیریانو او انسانانو! تاسو د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغژن ګنړئ) په ذریعه بار بار د خپلو نعمتونو یادونه وکړه، او دوئ ته ئے تنبیه ورکړه، لکه څنګه چه یو انسان په چا باندے بار بار احسان کوی، او هغه کس بار بار احسان هیروی، نو دا انسان هغۀ ته وائی چه آیا تاته یاد نۀ دی چه تۀ محتاج او فقیر وے، نو ما تاله پیسے درکړے او مالداره مے کړے، آیا تۀ ددے نه انکار کولے شے؟ آیا تاته یاد دی چه تا سره سورلئ نۀ وه نو ما تاله سورلی درکړه، آیا تۀ ددے نه انکار کولے شے؟ او په داسے مقام کښ تکرار بهتر وی۔

حسین بن فضلؒ فرمائی چه ددے آیت د تکرار نه مقصد بندګانو له تنبیه ورکول او د دوئ غفلت لرے کول دی، دے دپاره چه دوئ خپل رب ته رجوع وکړی، او په هر حال کښ د هغۀ شکر اداء کړی۔ (فتح البیان)

امام بغویؒ لیکلی دی چه دا آیت یو دیرش ځله ذکر شوے دے، او ددے تکرار نه مقصد د بندګانو په ذهن کښ دا خبره کینول دی چه دا نعمتونه الله ورکړی دی، او هغه ددے په مقابله کښ د دوئ له اړخه د ذکر او شکر حقدار دے۔

او پدے کښې دے ته هم اشاره ده چه اے انسانانو او پیریانو ! تاسو داسے نعمت وښایئ چه هغه الله نهٔ وی پیدا کړے، او ستاسو باطلو معبودانو پیدا کړے وی، او د هغے د وجه نه تاسو هغوی لره شریکان جوړوئ او د هغوی عبادتونه کوئ۔

تُكَذِّبَانِ: تکذیب په ډیرو طریقو کیږی، یو دا چه هغه نعمت نعمت نهٔ گنړی لکه د قرآن کریم نزول۔ دویم دا چه نعمت د الله تعالیٰ د طرفنه نهٔ گنړی۔

دریم دا چه په هغه نعمت پیدا کولو کښې د الله تعالیٰ سره شریك گنړی لکه ظاهری دنیوی نعمتونه۔

نو تکذبان معنیٰ په تَجۡحَدَانِ سره هم کیږی۔ یعنی تاسو انکار کوئ۔

خَلَقَ الۡإِنۡسَانَ مِنۡ صَلۡصَالٍ كَالۡفَخَّارِ ﴿١٤﴾ وَخَلَقَ
پیدا کړے ئے دے انسان د کړنگار کونکے ختے نه پشان د ټهکری۔ او پیدا کړے ئے دے
الۡجَانَّ مِنۡ مَّارِجٍ مِّنۡ نَّارٍ ﴿١٥﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٦﴾
جان (د پیریانو پلار) د گډوډ اُور نه۔ نو دکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔

تفسیر: پدے کښې ذکر د خاص نعمت دے روستو د عام نه، یعنی په (۳) آیت کښې عام انسان مراد وو، او پدے آیت کښې خاص آدم علیه السلام مراد دے،

او دا اَنۡفُسِی نعمت دے روستو د آفاقی نعمتونو نه۔

او په آدم علیه السلام باندے د پیدائش نعمت دا په نورو انسانانو باندے هم دے، او دغه شان د پیریانو پلار د پیدائش نعمت په ټولو پیریانو دے، نو پدے کښې تمهید دے زجر او توبیخ ته په شکر نهٔ ادا کولو۔

یعنی الله تعالیٰ پیریان او انسانان پیدا کړل، اوپه دوئ کښې ئے قِسما قِسم صلاحیتونه کیښودل، په دے سره ئے په دوئ باندے ډیر احسانات کړی دی، چه ددے غوښتنه دا ده چه دا دواړه د خپل خالق شکر گذار بندگان جوړ شوی وے، لیکن دوئ ناشکری وکړه۔

الله تعالیٰ آدم علیه السلام د داسے خاورے نه پیدا کړو چه هغه اول عامه خاوره وه، بیا خټه شوه، بیا وخت تیریدو سره ټیکرکے جوړ شو۔ دے وجے نه قرآن کریم کله وائی چه انسان د مَنِی نه پیدا دے، کله وائی چه ددهٔ پیدائش د ټهنگار کونکے خاورے نه دے، او کله وائی چه ددهٔ

پیدائش د تېکرکی نه دیے۔
او د تهولو نه اولنیے پیریے الله تعالیٰ د اُور د لمبے نه پیدا کریے دیے۔ الله تعالیٰ دواړه مخاطب کړي او ورته فرمائیلي ئے دي چه تاسو د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغژن ګنړئ۔
صَلْصَالٍ: هغه خټه چه اُوچه شي کړنګ کوي۔
كَالْفَخَّارِ: هغه اُوچه خټه چه په اُور کښې سرهٔ شي هغے ته تېکریے او کودنړیے وائی۔ او کالفخار ئے ووېل اشاره ده چه دغه ختے ته اُور نهٔ وو رسیدلے۔
د انسان پیدائش ترتیب داسے دیے چه اول کښې ئے خاوره راجمع کړه، بیا ئے په هغے کښې اُوبه واچولے، او ډیر وخت ئے وساتله نو د هغے نه ئے ښلیښناکه خټه جوړه کړه، بیا پریے ډیر وخت تیر شو نو حمأ مسنون تریے جوړ شو یعنی توره بد بویه خټه، بیا چه کله وچه شوه نو صلصال کالفخار جوړ شو۔
خطیبؒ وائی: دلته ئے د پیدائش آخر ذکر کړو ځکه چه دا د رحمانیت سره ډیر مناسب دیے، او په نورو ځایونو کښې کله ابتداء ذکر کوي او کله مینځ۔ نو زمکه ئے مور ده، او اُوبه ئے پلار دیے چه دواړه د هواء سره یو ځای شول چه هغے کښې ګرمائش وو او هغه د جهنم بړاس وو، نو د خاوریے نه ئے جسد او نفس جوړ کړو، او د اُوبو نه ئے روح او عقل او د اُور نه ئے ددهٔ تیزی او ددهٔ د ګمراهئ ځایونه طلب کول دي، او د هواء نه ددهٔ حرکت جوړ دیے او ددهٔ په نیکو او بدو صفتونو کښې اوړیدل راوړیدل دي۔
خو غالب ددهٔ په پیدائش کښې خاوره وه نو ځکه هغه ته منسوب شو اګرکه ددهٔ پیدائش د څلورو عناصرو نه شویدیے۔ (یعنی خاوره، اُور، اُوبه، هواء) لکه څنګه چه جان هم د څلورو عناصرو نه پیدا دیے لیکن غالب ددهٔ په پیدائش کښې اُور دیے نو هغے ته منسوب شو۔ (فتح البیان)
مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ: یعنی د مختلط (ګډوډ) اُور نه پیدا شویدیے۔ او مارج د اُور هغه لمبه ده چه دریے رنګونه پکښې ښکاره کیږی سور، زیړ او شین او ددیے سره لوګے ګډوډ نهٔ وی؛ او دا ډیر تیز اُور وی لکه په سورة الحجر (۲۷) آیت کښې ئے مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ وئیلے دیے۔ پدیے وجه د پیریانو په فطرت کښې دغه شان حرکت او ډیر ګرزیدل او اختلاط دیے۔
او په دوئ باندیے د اُور نه پیدا کول نعمت دیے ځکه چه اُور کښې پورته والے او الوتل دي او پیریان هم په هواء باندیے الوزی، په لږ وخت کښې ډیر مزلونه کولے شي۔

او مارج: خالص اُور ته / او د اُور نه راجدا شوے صفا لمبے او شعلے ته هم وائی۔
جو هریؒ وائی: ﴿مَارِجٍ مِّن نَّارٍ﴾ هغه اُور دے چه د هغے لوگے نۀ وی۔

رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿١٧﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا
رب د دوه مشرقونو او رب د دوو مغربونو دے۔ نو د کوم یو د احساناتو د رب خپل نه
تُكَذِّبَانِ ﴿١٨﴾ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ﴿١٩﴾
انکار کوئ تاسو۔ شریك ئے روان کړیدی دوه دریابونه چه یو بل سره یو ځائے چلیږی
بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ﴿٢٠﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢١﴾ يَخْرُجُ
په مینځ د دواړو کښں یوه پرده ده چه یو بل باندے زیاتے نۀ کوی۔ را اُوځی
مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٣﴾
د دواړو نه ملغرلے او مرجان۔ نو دکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔

تفسیر: الله تعالیٰ د هر هغه شئ رب دے چه په هغے باندے نمر او سپوږمئ، او نور روښانه ستوری راخیژی او ډوبیږی۔
او ددے په ختلو او ډوبیدلو کښں د پیریانو او انسانانو دپاره بے شماره فائدے دی، لکه د موسمونو بدلیدل، او په هر موسم کښں موندلی شوی نعمتونه۔ او د هواء برابریدل، نو اے پیریانو او انسانانو! تاسو د خپل رب د کومو کومو نعمتونو نه انکار کوئ؟!۔
مَشْرِق: ځای د راختلو د نمر ته وائی۔ او مغرب د نمر د پریوتو ځای۔
او دا یو دے خو تشنیه ئے راوړه ځکه چه د اُوړی او ژمی مشرقونه جدا جدا وی، او دغه شان مغربونه هم۔
یا یو مشرق د فجر دے (یعنی د صبا د راختلو) او بل مشرق د شفق دے (د ماښام سرخی راختل) او یو مغرب د نمر دے او بل مغرب د شفق دے۔ (ابن عباسؓ)
مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ: مرج: اَلتَّخْلِيَةُ وَالْإِرْسَال ته وائی۔ یعنی آزاد پریخودل او خوشے کول دی۔ یعنی الله تعالیٰ د خوږو او ترخو اُوبو دوه سمندرونه یو ځائے روان کړی دی، دواړه په یو ځائے بهیږی او هیڅ مجال نشته چه دواړه په یو بل باندے زیاتے وکړی، او د یو بل

خاصیت او خوبي ختمه کړي. د یو اوبۀ خوږې وي چه هغه انسان څکي، او په هغې سره خپلې وني او پټي خړوبه کوي.
او د بل اوبۀ ترخې وي چه د هغې په وجه هواء خوشگواره (مزیداره) وي، او ماهیان، ملغلرې او مرجان پیدا کیږي، او ملغلرې او مرجان اګرکه د تریخ سمندر نه را اوځي، لیکن چونکه د دواړو سمندرونو ګډون او په خپلو کښې د دوئ دواړو د ملاویدو دخل دے، دے وجے نه وئیلې شوي دي چه ملغلرې او مرجان د دواړو سمندرونو نه راوځي. نو اے پیریانو او انسانانو ! تاسو د خپل رب د کومو کومو نعمتونو نه انکار کوئ ؟!
اَلْبَحْرَيْنِ : ددے نه مراد عام دریابونه د دنیا دي لکه چه مخکښې تیر شو، خوږې اوبه غالباً د آسمان نه راوریږي، او د زمکے دریابونو سره یو ځای کیږي، او د زمکے اوبۀ ترخے وي.
بعضو وئیلي دي چه ددے نه مراد د فارس او روم دوه دریابونه دي.
او بعض وائي چه د مشرق او مغرب دوه دریابونه دي.
او بعض وائي : یو دریاب د آسمان، او بل دریاب د زمکے دے. اول قول غوره دے.
مِنْهُمَا : ملغلرې او مرجان په دواړو دریابونو کښې شته لیکن کوم ځای چه د دواړو دریابونو اختلاط او ګډون وي نو هلته دا څیزونه زیات ملاویږي.
او بعض وائي چه دا دوه دریابونه دي چه د یو نه ملغلرې او د بل نه مرجان پیدا کیږي.
لیکن ظاهر دا ده چه د دواړو نه پیدا کیږي لکه (مِنْهُمَا) لفظ پرے دلیل دے.
اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ: لولؤ عامے ملغلرې دي، او مرجان هغه سرے کونجکے دي.
(ابن مسعود رضی الله عنه)
او فراءَ او ابن عباسؓ وائي چه لؤلؤ غټے ملغلرې دي او مرجان وړے.

وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَآتُ فِي الْبَحْرِ
او خاص د الله په اختیار کښې دي روانے کشتئ چه ډکے کړے شویدي په دریاب کښې
كَالْأَعْلَامِ ﴿٢٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٥﴾ كُلُّ مَنْ
پشان د غرونو. نو د کوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو. هر هغه څوك

عَلَيْهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾ وَيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ
چه په زمکه باندے دے فنا کیدونکی دے۔ او باقی به پاتے وی مخ د رب ستا ،
ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴿٢٧﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا
چه د لوئی شان او د عزت والا دے۔ نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ
تُكَذِّبَانِ ﴿٢٨﴾ يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ
تاسو۔ سوال کوی د الله نه هغه څوك چه په آسمانونو او زمکه کښ دی، هره ورځ
هُوَ فِيْ شَأْنٍ ﴿٢٩﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٠﴾
الله په یو کار (جدا جدا) کښ دے۔ نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔

تفسیر : یعنی الله تعالیٰ د خپلو بندګانو دپاره سمندرونه په دے طریقه مسخر کړی دی چه د انسانانو جوړے کړے اُوچتے او د غرونو غونته غټے کشتئ ددے سمندرونو سینه خیرے کوی، او د یو ښار نه بل ښاره پورے، او د یو ملك نه بل ملك پورے ځی راځی، او په خپله خیټه باندے انسانان او د هغوئ د ژوند ضرورتونه راوړی او رسوی ئے۔ لکه اُوس زمانه کښ پدے کښ څومره فراخی کړے شویده، لوی آبدوزونه، ټینکرے، او بحری جهازونه، بیړئ روانے دی۔ او دا د قرآن کریم اعجاز دے چه دا لا پیدا نهٔ وو او مخکښ نه ئے خبر ورکړو۔

نو اے پیریانو او انسانانو ! تاسو د خپل رب د کومو کومو نعمتونو نه انکار کوئ ؟!۔

اَلْجَوَارِ: کشتئ دی،

اَلْمُنْشَآتُ: اَيِ الْمَرْفُوْعَاتُ ۔ یعنی پورته کړے شوے۔ دا د نَشْوٌ نه دے، په معنیٰ د ارتفاع (پورته والی) سره۔ یعنی غاړے ئے پورته کړے شویدی لکه د غرونو۔

اَلْمُنْشَآتُ: قتادهٔ وائی : (اَلْمَخْلُوْقَاتُ لِلْجَرْیِ) چه پیدا کړے شویدی دپاره د روانیدو په دریاب کښ۔ نو دا د اِنْشَاءٌ نه دے پیدا کولو ته وئیلے شی۔

کَالْأَعْلَامِ: جمع د عَلَم ده، اُوږد غر ته وئیلے شی۔ او بحر لفظ ئے مفرد راوړو، او اعلام ئے جمع راوړه پدیکښ اشاره ده د دریاب لوی والی ته۔

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا : یعنی په زمکه باندے حرکت کونکی څومره حیوانات چه دی، هغه ټول به فناء شی، د مخلوقاتو نه به هیڅ یو هم باقی پاتے نشی، صرف د الله تعالیٰ ذات به باقی وی چه هغه ډیر لوی عظمت او بلندئ او ډیر لوی کبریاء والا دے، چه د هغهٔ فضل او مهربانی د اُوچے او سمندر اوسیدونکو تمامو مخلوقاتو ته شامله ده۔

د فناء نه مراد دلته تغیّر دے، او دا مطلب نهٔ دے چه عدم محض ترے جوړ شی۔ بلکه مطلب دادے چه تمام مخلوقات به مړهٔ شی او شکل به ئے بدل شی، نو ددے نه پس به قیامت راځی، او ټول به دوباره ژوندی کیږی، او د محشر میدان ته به راغونډیږی، د حق او ناحق فیصله به کیږی، او نیکانو ته به الله تعالیٰ جنت ورکوی، او ګنهګارانو ته به سزا ورکوی۔ او د الله دا فیصله به یقینًا لوی نعمت وی چه هغه به د خپل عدل او انصاف د تقاضے مطابق ظالمانو ته د خپلو کړو بدله ورکوی، او خپلو نیکانو بندګانو له به جنت او د هغے نعمتونه ورکوی۔ دے وجے نه الله تعالیٰ وفرمایل چه اے پیریانو او انسانانو ! تاسو د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغژن ګنړئ۔

فوائد : الله چه مونږ ته دا خبر راکړے چه د دنیا هر شے فانی کیدونکے دے، نو پدے کښې ډیر فوائد دی :

١ – هر کله چه د ژوند ورځے شپے محدود دی، نو دا د الله په عبادت کښې تیرول پکار دی۔

٢ – د دنیا هر یو نعمت زوال قبلونکے دے، دے وجے نه الله سره تعلق جوړولو کښې هره بنیګړه ده۔ او په نعمت تکبر مهٔ کوه بلکه دا سوچ وکړه چه دا ختمیدونکے دے۔

٣ – په تکلیف او مصیبت کښې صبر کول پکار دی، ځکه چه ددے ځای غم او خوشحالی دواړه عارضی دی۔

٤ – الله پریښودل او نور څوك معبودان جوړول، دا به نهٔ کوی، ځکه چه زائله کیدونکے او ختمیدونکے معبود نشی کیدے۔ اَلْفَانِیُ لَا یَصْلُحُ لِاَنْ یُّعْبَدَ۔

(فانے شے ددے قابل نهٔ دے چه د هغهٔ بندګی وشی)۔

٥– آخرت نهٔ هیرول او هغه همیشه یاد ساتل او د هغے هیبتونه مخے ته کول۔

٦– د انس بن مالك ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اَلِظُّوْا بِیَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ]

(ترمذی فی الدعوات باب ٩١ واحمد (١٧٧/٤)

تاسو همیش والے او ډیر والے وکړئ په یا ذا الجلال والاکرام لفظ سره۔ یعنی ذا الجلال والاکرام ډیر وایئ۔

۷- فَنَاءُ نَا سَبَبٌ لِبَقَاءِ نَا فِي الْجَنَّةِ۔

دنیا نه زمونږ فانی کیدل سبب دے د داخلیدو د جنت ته، ځکه چه کله دنیا کښې همیشوالے وی، نو بیا به جنت او د هغې نعمتونو ته څنګه ورشی۔

وَجْهُ رَبِّكَ : وجه مخ ته وائی۔ دلته ترے مراد ذات او وجود د هغهٔ دے، لکه دا خبره قرطبیؒ د ابن عباس ﷺ نه نقل کړیده۔ او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ وئیلی دی چه وَجْه لفظ مشترك دے په ډیرو معانو کښې، کله په یوه معنیٰ وی، او کله په بله معنیٰ سره، او ټولے معانی حقیقی دی، نو وَجْه په معنیٰ د ذات او وجود سره اخستل تاویل د متشابه نهٔ دے۔ لکه ددے تحقیق مخکښې په سورة العنکبوت او سورة البقره کښې ذکر شویدے۔

او د رب اضافت ئے کاف ضمیر مخاطب ته وکړو، پدے کښې د الله تعالیٰ لطف ته اشاره ده، او رب لفظ ذکر کولو کښې د هغه قهر او غلبے ته اشاره ده۔

سوال : په سورت کښې نور خطابات په تثنیه سره دی (رَبِّكُمَا) او دلته خطاب مفرد (رَبِّكَ) ذکر شو؟ **جواب** : پدے کښې هر یو کس ته خطاب دے دپاره ددے چه هر یو شخص په خپله فناء او د خپل رب په بقاء باندے عقیده وساتی۔

الْجَلَالِ: عظمت او لوئی والی ته وائی۔

او **إِكْرَامِ** : ۱- معنیٰ ده : يُكْرَمُ عَنْ كُلِّ شَيْءٍ لَا يَلِيْقُ بِهٖ ۔ د هر هغه شی نه عزتمن دے چه د هغه سره لائق نهٔ وی۔

۲- يا ذُو الْإِكْرَامِ لِاَوْلِيَائِهٖ۔ یعنی د خپلو دوستانو اکرام کونکے دے۔

يَسْأَلُهٗ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ : یعنی په آسمانونو او زمکه کښې چه د الله تعالیٰ څومره مخلوقات دی، ټول هغهٔ ته محتاج دی، او هغه ذات یواځے، غنی او بے نیازه دے، ټول د هغهٔ د رحمت امید لرونکی دی، هم هغه رابلی، هم د هغهٔ مخے ته د سوال لاس غزوی، او هم هغه د ټولو لمنے د مرادونو نه ډکوی۔

يَسْأَلُهٗ : سوال دوه قسمه دے، یو په (قَال) سره یعنی په ژبه سره سوال کول او دعا او زاری کول۔ او دویم په حال سره یعنی احتیاج۔ یعنی د ټولو مخلوقاتو حال د احتیاج دے الله ته۔

كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ شَأْنٍ : یعنی الله د خپل مشیت او ارادې مطابق تصرف کوي، ژوندي کول او مړهٔ کول کوي، روزي ورکوي، او فقیر جوړوي، عزت او ذلت ورکوي، بیماري او شِفاء ورکوي، چاله ورکړه کوي، او چاله ئې نهٔ ورکوي، څوك معاف کوي، او چاله سزا ورکوي. دغسې نور څیزونه هم واخله. په دې آسمان او زمکه کښې صرف د هغهٔ بادشاهي ده، او صرف د هغهٔ حکم چلیږي. هم هغه د خپلو بندګانو تمام ضرورتونه پوره کوي. دې وجې نه الله تعالیٰ وفرمایل چه اې پیریانو او انسانانو ! تاسو د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغژن ګڼړئ ؟!

یعني الله تعالیٰ هره ورځ او هر وخت په یو کار کښې وي خو داسې کار چه هغه پدې سره د نور مخلوق نه نهٔ مشغوله کیږي، په خلاف د انسان نه چه کله په یو کار کښې وي نو بیا د بل کار او د نور مخلوق نه مشغول او غافله وي.

او معلومه شوه چه الله تعالیٰ مُعَطّل (بیکاره) نهٔ دې چه بس صرف کائنات ئې پیدا کړل او نور هیڅ نهٔ کوي. او د ارسطو نظریه وه چه الله تعالیٰ صرف په خپل ځان کښې فکر کوي نور هیڅ نهٔ کوي. دا ټول کفري خبرې دي.

او پدې آیت کښې دعوت دې چه هرکله الله تعالیٰ ستا دعاء قبلوي، او ستا ضرورتونه پوره کوي، نو بیا تاسو ولې د هغهٔ بندګي نهٔ کوئ.

سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَا الثَّقَلَانِ ﴿۳۱﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا
زر دې چه اُوزګار به شم تاسو ته اې دوه درنو. نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه
تُكَذِّبَانِ ﴿۳۲﴾ يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَن تَنفُذُوا مِنْ
انکار کوئ تاسو. اې ډلې د پیریانو او انسانانو که تاسو طاقت لرئ چه اُوځئ د
أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانفُذُوا لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ ﴿۳۳﴾
طرفونو د آسمانونو او د زمکې نه نو اُوځئ، نشئ وتلې مګر په طاقت. (او طاقت خو
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۳٤﴾ يُرْسَلُ
مو نشته). نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو. رالیږلې به شي

عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾
په تاسو دواړو باندې لمبې د اور او تانبه ویلی کړې شوې. (تور لوګی) نو بدله به نشئ
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٦﴾
اخستې تاسو دواړه د یو بل. نو دکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو.

تفسیر: ربط: د الله تعالیٰ شأن (کارونه د بندګانو سره) به همیشه نهٔ وی بلکه قیامت به راولی، او دلته ئې مشاکلةً فراغ لفظ استعمال کړیدې ورنه الله تعالیٰ کارونه کوی او مشغوله نهٔ دې ځکه چه د شان په مقابله کښې فراغ ذکر کیږی،

نوره ددې معنیٰ د حساب ده، ۱- امام بخاریؒ معنیٰ کوی: (سَنُحَاسِبُكُمْ) زر دې چه زهٔ به تاسو سره حساب وکړم اې انسانانو او پیریانو. (بخاری تفسیر سورة الرحمٰن)

۲- نَفْرُغُ مِنْ اَمْرِكُمْ بِالْجَزَاءِ وَالْعَذَابِ. زهٔ به ستاسو د کارونو نه فارغ شم په جزاء او عذاب سره چا ته به جنت ورکړم او چا ته جهنم. اوله معنیٰ غوره ده.

یعنی زهٔ به د دنیا کارونه ختم کړم او تاسو سره به حساب وکړم ځکه چه اُوس په دنیا کښې الله تعالیٰ کارونه کوی، حساب نشته، او صبا به حساب وی او عملونه د بندګانو به نهٔ وی.

واحدیؒ د مفسرینو په حواله لیکلی دی (چه د هغوی نه ابن عباسؓ هم دې) چه په دې آیتِ کریمه کښې پیریانو اوانسانانو دپاره زبردسته دهمکی ده.

او قاسمیؒ د شهابؒ په واسطه لیکلی دی چه په دې آیتِ کریمه کښې یواځې دهمکی نهٔ ده، بلکه د الله تعالیٰ د نیکانو بندګانو دپاره د ثواب وعده هم ده. ځکه چه د ﴿ سَنَفْرُغُ لَكُمْ ﴾ معنیٰ داده چه اې پیریانو او انسانانو! د قیامت په ورځ به مونږ تاسو سره حساب کوو، او په تاسو کښې چه څوك ښهٔ وی هغوئ له به د هغوئ د اعمالو ښه بدله ورکوو، او څوك چه بد وی هغوئ له به سزا ورکوو، او مخکښې تیر شو چه دا هم د الله نعمت دې چه هغه د خپل عدل او انصاف د تقاضا مطابق ظالمانو له سزا ورکوی، او نیکانو له جنت او د هغې نعمتونه ورکوی. دې وجې نه الله تعالیٰ وفرمایل چه اې پیریانو او انسانانو! تاسو د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغژن ګڼړئ؟!

الثَّقَلَانِ: پیریانو او انسانانو ته ئې دوه درانۀ وویل ځکه چه دوئ په زمکه باندې بوج دې، مړۀ وی او کـه ژوندی۔ (۲) جعفر صادقؒ وائی : لِاَنَّهُمَا مُثَقَّلَانِ بِالذُّنُوْبِ ۔ ځکه چه دوی په ګناهونو سره درانۀ شویدی او د هغې بوج به پورته کوی۔
(۳) یا په دوی باندې احکام مقرر شویدی چه د هغې په وجه درانۀ شویدی۔ (فتح البیان)
یَا مَعْشَرَ الْجِنِّ : (۱) د راجح قول مطابق دا خطاب به په آخرت کښې وی اَیْ یَقُوْلُ اللّٰهُ یَوْمَ الْقِیَامَةِ ۔ یعنی الله به د قیامت په ورځ پیریانو او انسانانو ته داسې وائی لکه دا خبره قاسمیؒ، ابن کثیرؒ وغیره غوره کړیده چه کله الله تعالیٰ د قیامت په ورځ مجرمانو له د دوئ د بدو اعمالو سزا ورکول وغواړی، نو هغوئ ته به وائی چه که ستاسو وس رسیږی نو لاړ شئ د آسمانونو او د زمکې د اطرافو او د فراخئ نه ووځئ لیکن په غیر د قوت او غلبې او قهر او لویئ نه دا کار ممکن نۀ دې چه څوك د آسمانونو او د زمکې د فراخیو نه اووځی او بل چرته لاړ شی، او الله تعالیٰ عاجزه جوړ کړی، او دا قوت او زور په دنیا او آخرت کښې د الله نه سوئ بل هیچا ته حاصل نۀ دې، دې وجې نه د هغۀ د قدرت نه نۀ په دنیا کښې څوك وتلې شی او نۀ په آخرت کښې۔
اِلَّا بِسُلْطَانٍ : دې سره دا مراد دې : وَلَا سُلْطَانَ لَكُمْ ۔ یعنی ستاسو قوت او قدرت نشته۔
(۲) او دې کښې دا هم جائز ده چه په دنیا کښې دوی ته خطاب وی، یعنی که ستاسو وس وی نو دنیا کښې د آسمانونو او د زمکې نه بهر شئ، نو هرکله چه ستاسو دا وس نشته، او د الله تعالیٰ په ملك کښې راګیر یئ نو بیا ولې د هغۀ مخالفت کوئ، او ولې مو د هغه مخالفتونه کول۔ معلومه شوه چه د الله د قهر او غلبې نه هیڅوك نشی وتلې اګرکه هر څومره قوی وی۔
او دا ویره او دهمکی یقینًا د الله یو نعمت دې، چه د الله فرمانبرداره بنده په طاعت او بندګئ کښې نور هم کوشش کونکې شی، او نافرمان د خپلې نافرمانئ نه منع شی، حالانکه که هغه غوښتلې نو په نافرمانو به ئې ناڅاپه عذاب نازل کړې وې، او د توبې مهلت به ئې نۀ ورکولې۔ دې وجې نه الله تعالیٰ وفرمایل چه اې پیریانو او انسانانو ! تاسو د خپل رب د کوم کوم نعمتونو نه انکار کوئ ؟!
یُرْسَلُ عَلَیْکُمَا : حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه دا خطاب به د قیامت په ورځ کافرانو او

مشركانو ته كيږي۔ يعنې د حشر په ميدان كښې به ملائك تمام انسانان او پيريان د څلور وارو طرفونو نه راګير كړي، هيڅوك به د دغه ځاى نه تښتيدلے نشي، او كفار چه كله جهنم اُووينى نو تښتيدل به وغواړي، نو ملائك به دوئ په لمبو ويشتلو سره واپس كړي، او په دوئ به بهيدونكے تانبه واړوي، او دوئ ته به وائى چه اُوس تاسو چرته تښتيدلے شئ، او هيڅوك ستاسو مدد نشى كولے۔

امام ابن القيم رحمه الله په خپل كتاب (طريق الهجرتين) كښې ددے آيتونو په تفسير كښې دا خبره ليكلے ده، او د ضحاكؒ هم دا قول دے چه كله كافران د جهنم د غړمبارى آواز واورى، نو د ډيرے ويرے نهٔ به اوتښتى، ليكن چرته چه ځى نو د ملائكو صفونه به تړلى بيامومى، نو خپل اولنى ځائے ته به را واپس شى۔

او دا ويرول او دهمكى وركول يقينًا يو نعمت دے چه انسان په دے كښې غور او فكر كولو سره خپل رب ته رجوع كولے شى۔

دارنګه دا هم د الله نعمت دے چه هغه به د قيامت په ورځ كافرانو نه بدله اخلى، او خپلو فرمانبردارو بندګانو له به د جنت غونته نعمت وركوى۔ دے وجے نه الله تعالىٰ وفرمايل چه اے پيريانو اوانسانانو! تاسو د خپل رب كوم كوم نعمتونو نه دروغژن ګڼړى ؟!

شُوَاظٌ: (۱) هغه شنے لمبے د اُور ته وئيلے شى چه لوګے ورسره نهٔ وى۔ (مجاهدؒ)

(۲) ضحاكؒ وائى چه دا هغه لوګى ته وائى چه د لمبے نه راوځى۔ دا به د لركو لوګے نهٔ وى۔

(۳) اخفشؒ او ابوعمروؒ وائى چه دا اُور او لوګى دواړو ته وئيلے شى۔

(٤) او سرو لمبو ته هم وئيلے شى۔

وَنُحَاسٌ: (۱) تانبه ويلى كړے شوے۔ (۲) دُرْدِيُّ الزَّيْتِ الْمُغْلٰى۔ (ضحاكؒ) د خوټ كيدلو تيلو ګچ (تيلچټ)۔

(۳) دا هغه اُور ته وائى چه د هغے ډيره سخته بد بوئى وى۔ (الكسائىؒ)

(٤) د اُور تور لوګے۔ او دا دواړه به په يو ځاى پرے راليږلے كيږى، يا به كله به يو وى او كله بل۔

فَلَا تَنْتَصِرَانِ: يعنې تاسو د الله تعالىٰ د عذاب نه په ځان منع كولو قادر نهٔ يئ۔ او د الله نه بدله نشئ اخستے چه د هغهٔ نه وتښتئ۔

فَإِذَا انْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿۳۷﴾

نو كله چه اُوچوی آسمان نو شی به پشان د سور گلاب (سور) پشان د تیلو(پشان د

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۳۸﴾

څرمنے رنگ کړے شوے)۔نو دکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْأَلُ عَنْ ذَنْبِهِ إِنْسٌ وَّلَا

نو په دغه ورځ به تپوس نشی کیدے په باره د گناه د مجرم کښ د بل انسان او نۀ د

جَانٌّ ﴿۳۹﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۴۰﴾ يُعْرَفُ

پیری نه۔ نو دکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔ پیژندلے به شی

الْمُجْرِمُوْنَ بِسِيْمَاهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِيْ وَالْأَقْدَامِ ﴿۴۱﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

مجرمان په نخو د دوی نو نیولے به شی د تندو نه او د خپو نه۔نو د کوم یو د احساناتو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۴۲﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ يُكَذِّبُ بِهَا

د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔ دا جهنم هغه دے چه دروغژن گنړی دے لره

الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۴۳﴾ يَطُوْفُوْنَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيْمٍ آنٍ ﴿۴۴﴾

مجرمان۔ دوی به گرځی په مینځ ددے او په مینځ د گرمو اُوبو سختو گرمو کښ۔

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۴۵﴾

نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔

تفسير : اُوس د قیامت هیبت بیانیږی، یعنی کله چه قیامت راشی، نو آسمان به وچوی، ددے نظام به دړے وړے شی، دا به ټکړے ټکړے شی، او ویلی به شی، او د تیلو پشان به بهیږی، او ددے رنگ به د ویلی شوے قلعی او تانبے پشان سور وی چه خړ والی ته به مائل وی۔ لکه د سورتِ معارج په (۸) آیت کښ راغلی دی:

﴿يَوْمَ تَكُوْنُ السَّمَآءُ كَالْمُهْلِ﴾ (په کومه ورځ چه آسمان د تیلچټ پشان شی)۔

آسمان چه کله ماتیږی نو په اول کښې به تك سور شی، او د تیلو په شان به رابهیږی۔ دومره قوی مخلوق دے لیکن د الله په حکم سره به دومره کمزورے شی۔

كَالدِّهَانِ : اَیْ كَالدُّهْنِ الْمُذَابِ ۔ دهان بهیدونکی تیلو ته وئیلے شی۔ او تیل چه کله راتویږی نو په هغے کښې ډیر رنګونه ښکاره کیږی۔

قتادهٌ او زجاجٌ وائی : آسمان خو نن شین دے خو د قیامت په ورځ به ددے رنګ سور شی۔

او دلته د (فَاِذَا انْشَقَّتْ) دپاره جزاء پټه ده۔ اَیْ رَاَیْتَ اَمْرًا مُهَوِّلًا ۔ یعنی ته به ډیر هیبتناك (یره ونکے) حالت وینے۔

فَيَوْمَئِذٍ : (۱) یعنی کله چه آسمان وچوی نو د هیڅ انسان او پیری نه به د هغهٔ د ګناه تپوس نهٔ کیږی چه آیا تا دا ګناه کړیده او که نهٔ ؟ او ددے وجه روستو ذکر ده (يُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ) یعنی پدے وجه به تپوس نهٔ کیږی چه هر یو به په تندو سره پیژندلے کیږی، ګناهونه به پرے دپاسه پراتهٔ وی۔ او دا ترکیب په اصل کښې داسے دے :

فَيَوْمَئِذٍ لَا يُسْئَلُ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ عَنْ ذَنْۢبِهٖ ۔ او (ه) ضمیر هر یو ته راجع دے، یعنی د هر یو نه به د هغهٔ د ګناه په باره کښې تپوس نهٔ کیږی۔ او همدا راجح تفسیر دے۔

(۲) بعضو وئیلی دی چه دا ابتدائی حالت دے چه کله د قبرونو نه راپورته کیږی، نو د دوئ نه به تپوس نهٔ وی، او روستو به ترے تپوس کیږی، حساب کتاب ته به راښکلے شی۔

(۳) بعض وائی : د اِستعلام (ځان پو هه کولو) تپوس نشته بلکه د زورنے دپاره به ترے تپوسونه کوی۔

(٤) حافظ ابن قیمؒ لیکی چه د ګناه د کولو تپوس به نهٔ وی چه تا دا ګناه کړیده او که نهٔ (ځکه چه هغه به ئے په ختې باندے پرته وی) بلکه د هغے د وجے او علت او د کیفیت د عمل تپوس به کیږی۔ او همدا خبره د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل ده۔ (فتح البیان)

(۵) او ابو العالیهٔ وئیلی دی چه د یو مجرم د ګناهونو تپوس به د بل مجرم نه نشی کیدے۔ نو ذَنْۢبِهٖ کښې ضمیر مجرم ته راجع دے، او انس او جان بل څوك دی۔ یعنی د یو مجرم د ګناه په باره کښې به د بل انسان او پیری نه تپوس نهٔ کیږی۔

هر سړی نه به خپل خپل تپوس وی۔ دا توجیهات دے مفسرینو ځکه کړیدی چه د

سورة اعراف (٦) آیت ﴿ فَلَنَسْئَلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ ﴾ او (وَسَوْفَ تُسْئَلُوْنَ﴾ (زخرف: ٤٤)
او ﴿ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ﴾ سره ئے تعارض رانشي۔
آلَاءِ: دلته نعمتونه دا دي چه تپوس د مجرم پورے خاص دے، او د غیر مجرم تپوس صرف عَرْض دے (یعنی پیش کول دي) او بیا معاف کول دي، او په تپوس کولو کښ مقصد تمییز د مجرم او د غیر مجرم دے، او پدے تپوس کښ مقصد په مجرم باندے الزام دے او د الله د عدل اظهار دے۔
يُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ: یعنی په دے ورځ به مجرمان د خپلو خاصو نښو په ذریعه پیژندلے شي، لکه مخونه به ئے تور وي او دپاسه به پرے خړ والے راغلے وي، او سترگے به ئے شنے شوي وي، او غمونه او دردونه به پرے دپاسه راغلي وي، او د کناتو سره به ئے جنډے لگیدلي وي، او ملائك به د دوئ خپے د دوئ د تندو سره یو ځائے اُوتړي، او په رانښکلو سره به جهنم ته گذار کړے شي۔
فَبِاَيِّ آلَاءِ: دلته نعمتونه دا دي چه د مجرمانو نښے ئے د غیر مجرمانو نه جدا کړیدي، او د مجرمانو د عذاب طریقه ئے سخته کړیده، او د نښو د امتیاز د وجه نه به ملائك غیر مجرم لره نهٔ نیسي۔
فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِيْ: دا جمع د نَاصِيَةٌ ده، هغه ویخته چه په تندي باندے زوړند وي۔
یعنی ملائك به ورله سر او خپے یو ځاي کړي۔ یا کله به ئے اُور ته پدے طریقه راکاږي چه تندو نه به ئے نیولي وي، او مخونه به ئے په زمکه رانښکلے شي او کله به ئے د خپو نه نیولي وي او په سرونو به ئے رانښکاږي۔
هٰذِهٖ: مخکښ د مجرمانو د سر او خپو نه نیول ذکر شو اُوس ځاي د گوزارولو بیانوي چه هغه جهنم دے۔
یعنی الله به د مجرمانو د خړ کولو دپاره وائي چه تاسو خو به په دنیا کښ د الله وعده او دهمکي دروغژنه گنړله، او وئیل به مو چه د جنت او جهنم هیڅ حقیقت نشته، نو دا هغه جهنم دے چه کفر او شرك کونکو مجرمانو به دا دروغژن گنړلو، نو نن ددے خوند اُوڅکئ، او د جهنم په مختلفو طبقو کښ گرځئ، ددے په لمبو کښ سوزئ، او په انتهائي گرمو اُوبو کښ غوپے وهئ۔
قتادهٔ وائي چه جهنمیان به کله په گرمو اُوبو کښ غوپے لگوي، او کله به په جهنم کښ

سوزی۔ لکه دا خبره په سورة صافات (٦٨) کښې ذکر ده ﴿ ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى الْجَحِيْمِ ﴾۔
(بیا واپسی د دوئ جهنم ته ده)۔
يُكَذِّبُ بِهَا: دا حکایت د حال ماضیه دے، او په مضارع راوړو کښې اشاره ده چه که دوئ له بیا مهلت ورکړے شی نو آینده کښې به هم تکذیب کوی۔
آن: اَیْ شَدِیْدِ الْحَرَارَةِ۔ هغه اُوبه چه ډیرے سختے ګرمے وی۔
❁ یا هغه اُوبه چه په اُور باندے پخے شوی وی۔
❁ او بعض وائی چه [آن] د جهنم یوه داسے کنده ده چه په دے کښې به د جهنمیانو وینه او نَوُ جمع شوے وی، جهنمی به په دے کنده کښې غوپه وهی چه ددے په وجه به د دوئ جوړونه د یو بل نه جدا شی۔
❁ بعض وائی : آن : حاضر ته وئیلے شی یعنی دا اُوبه به جهنمیانو ته هر وخت حاضرے وی۔
فَبِأَيِّ آلَاءِ: پدے خبر ورکولو کښې نعمتونه دا دی چه پدے سره څوك نصیحت واخلی نو د کفر او شرك او ګناهونو نه ځان بچ کوی۔ او په طاعاتو کښې رغبت کوی،
او پدے کښې ایمان بالغیب دے،
او پدے کښې د مجرم او غیر مجرم ترمینځ تمیز دے، او دا د الله تعالیٰ عدل دے،
او اشاره ده چه په دنیا کښې اُور او اُوبه لوی نعمتونه دی، لیکن د ناشکرئ په وجه دغه نعمتونه په جهنم کښې د عذاب په شکل کښې بدلولے شی۔ (احسن الکلام)

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾
او دپاره د هغه چا چه یریږی د پیش کیدو د رب خپل نه دوه قسمه باغونه دی۔
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٧﴾ ذَوَاتَا أَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾
نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔ خاوندان د څانګو دی۔
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٩﴾ فِيْهِمَا عَيْنَانِ
نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔ پدے دواړو کښې دوه چینے دی

تَجْرِيَانِ ﴿٥٠﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥١﴾ فِيهِمَا

چه بهیږی به۔ نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔ پدے دواړو

مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿٥٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

کښې د هر قسم میوے نه دوه جوړئ دی۔ نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار

تُكَذِّبَانِ ﴿٥٣﴾ مُتَّكِئِينَ عَلٰى فُرُشٍ بَطَائِنُهَا مِنْ

کوئ تاسو۔ تکیه وهونکے به وی په بسترو باندے چه استرونه (لاندے طرفونه) د

إِسْتَبْرَقٍ وَجَنَى الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ

هغے به د غټو وریښمو نه وی او راشوکول د میوو د جنت به نزدے وی۔ نو د کوم یو د

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٥﴾ فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ

احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔ پدے باغونو کښې به (زنانه) خکته کونکی

الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا

نظر والا وی، نۀ به وی رسیدلے دوی ته هیڅ انسان مخکښې د دوی نه او نۀ

جَانٌّ ﴿٥٦﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٧﴾ كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ

پیریے۔ نو د کوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔ گویا که دوئ یاقوت

وَالْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

دی (په رنګ کښې) او مرجان دی (په صفایئ کښې)۔ نو د کوم یو د احساناتو د رب

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٩﴾ هَلْ جَزَاءُ

خپل نه انکار کوئ تاسو۔ نۀ ده بدله د توحید (اخلاص) مګر جنت دے۔ نۀ ده بدله د

الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ ﴿٦٠﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦١﴾

نیکئ مګر احسان دے۔ نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔

تفسير: ربط :

مخکنو آیتونو کښې الله تعالیٰ انسانانو او پیریانو ته خپل ډیر زیات دیني او دنیوی نعمتونه وریاد کړل، نو اُوس په دے راتلونکو آیتونو کښې خپل ځینې هغه نعمتونه ذکر کوی چه الله تعالیٰ به ئے په آخرت کښې خپلو جنتیانو بندګانو ته ورکوی۔

دارنګه منخکښې د مجرمینو انجام بیان شو، نو اُوس د هغه تقویٰ والو انجام ذکر کیږی، چه هغوئ په دنیا کښې خپل ژوند د الله تعالیٰ نه په ویره کښې تیروی۔

بیا مؤمنان دوه قسمه دی، ابرار او دے ته سابقین هم وائی۔ او دویم اصحاب الیمین او اَلْمُقْتَصِدِیْن دی، دوی په عملونو کښې د مخکنو نه لاندے دی، نو د دوئ جنت هم د مخکنو د جنت نه لږ لاندے دے، او ابرار او سابقین چونکه همیشه د الله په بندګئ کښې لګیا دی نو د هغوی جنت هم ډیر اعلیٰ دے نو تر (۶۰) آیت پورے دا اعلیٰ جنت ذکر کیږی، او دا په لسو وجوسره د اصحاب الیمین د جنت نه غوره دے۔

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ: د مقام دوه معانی دی (۱) یو پیشئ ته وائی۔ یعنی کوم کس چه د حساب په ورځ، د خپل رب په مخ کښې د اودریدو نه یریږی، په دے وجه د فرائضو پابندی کوی، او د ګناهونو نه بچ کیږی، هغهٔ له به ددهٔ رب دوه جنتونه ورکوی، یو د ګناهونو پریښودلو په بدله کښې، او بل د نیك عمل کولو په بدله کښې۔ وئیلے کیږی چه د یو نوم جنتِ عدن دے، او د دویم نوم جنتِ نعیم دے۔

(۲) دویم مقام په معنیٰ د (عِلْمُ اللّٰهِ بِهٖ) سره دے۔ یعنی څوك چه ددے خبرے نه یریږی چه ددهٔ رب ددهٔ د هر حال نه خبر دے، او ددهٔ په اقوالو او افعالو باندے خبر دے، دهٔ له به په آخرت کښې دوه جنتونه ملاویږی۔ او دا دواړه تفسیرونه په یو بل کښې داخل دی۔ ځکه چه څوك د پیشئ د رب نه یریږی نو هغه دا عقیده لری چه الله زما د احوالو نه خبر دے، او څوك چه د الله په علم باندے علم راولی نو هغه به د الله د پیشئ نه ضرور یریږی۔

مَقَامَ: په زور د میم سره مصدر میمی او ظرف دواړه راتلی۔ چه مصدر میمی شی نو بیا به فاعل ته مضاف وی یا مفعول ته۔ که ربه ئے فاعل شی نو تقدیر به داسے وی اَیْ قِیَامُ اللّٰهِ بِهٖ۔ یعنی د الله علم او قدرت دے په دهٔ باندے او تدبیر د هغه دے دهٔ لره۔

او که مفعول شی، نو بیا به عِنْدَ یا بَیْنَ یَدَیْ لفظ پټ راویستلے شی۔ اَیْ قِیَامُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ یا بَیْنَ یَدَیْ رَبِّهٖ۔ یعنی د ودریدو ددهٔ د خپل رب سره، یا د خپل رب مخے ته۔

او که مقام ظرف شی نو دا اضافت به په تقدیر د لام سره وی۔ اَیْ مَقَامَهٗ لِرَبِّهٖ ۔ یعنی د ځای د ودریدو د بنده چه د رب دپاره دے او هغه پورے خاص دے۔

مجاهدؒ او نخعیؒ وائی: هُوَ الرَّجُلُ الَّذِیْ یَهُمُّ بِالْمَعْصِیَةِ فَیَذْکُرُ اللّٰهَ فَیَدَعُهَا مِنْ خَوْفِهٖ۔

دا آیت د هغه چا په باره کښ دے چه یو تن د گناه اراده وکړی خو بیا الله رایاد کړی، نو د هغهٔ د یرے نه گناه پریدی۔

نو پدے کښ اشاره ده چه دا انسان چه د جنتونو مستحق گرځیدلے نو دا په تشه یره نهٔ بلکه په هغه یره سره چه د هغے په وجه د گناهونو نه منع شی۔

جَنَّتَانِ: جنتونه په اصل کښ څلور دی لکه حدیث کښ دی: امام بخاریؒ د عبد الله بن قیس ؓ نه روایت کړے چه رسول الله ﷺ وفرمایل:

[جَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِیَتُهُمَا وَمَا فِیْهِمَا وَجَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ آنِیَتُهُمَا وَمَا فِیْهِمَا، وَمَا بَیْنَ الْقَوْمِ وَبَیْنَ اَنْ یَنْظُرُوْا رَبَّهُمْ اِلَّا رِدَاءُ الْکِبْرِیَاءِ عَلٰی وَجْهِهٖ فِیْ جَنَّةِ عَدْنٍ]۔

(دوه باغونه به داسے وی چه د هغے لوښی او تمام اسباب به د چاندئ نه وی، او دوه باغونه به داسے وی چه د هغے لوښی او تمام اسباب به د سرو زرو نه وی۔ او د جنتیانو او د الله د لیدلو ترمینځه به په جنتِ عدن کښ د هغهٔ په مخ باندے د کبریائی د څادر پرده وی)۔ (بخاری فی التوحید والتفسیر رقم: ٤٧٤٤ ومسلم فی الایمان حدیث: ٢٩٦)

لیکن دائے جنسونه دی، او بیا په هر جنت کښ دننه ډیر جنتونه دی۔ لکه حدیث کښ دی: [اِنَّهَا جِنَانٌ کَثِیْرَةٌ] دا ډیر جنتونه دی۔ (بخاری)

نو کوم مفسرین چه دا وائی چه ددے نه مراد یو جنت دے، او تثنیه ئے د آیتونو د موافقت دپاره راوړیده، نو دا خبره کمزورے ده۔ او دارنگه څوك چه وائی چه د تثنیه نه مراد کثرت دے، یعنی ډیر جنتونه دی۔ نو دا خبره هم ضعیفه ده ځکه چه الله تعالیٰ ورته (فِیْهِمَا) د تثنیه ضمیرونه راجع کړیدی۔

د عطاءؒ نه نقل دی چه دا آیت اول کښ د ابوبکر صدیق ؓ په باره کښ نازل وو۔

ابن مسعود ؓ فرمائی: دا یره په دنیا کښ مراد ده۔

فَبِاَیِّ آلَاءِ: پدے جنتونو کښ دننه بے شماره نعمتونه دی، نو ځکه ئے آلاء جمع لفظ راوړو۔ ذَوَاتَا اَفْنَانٍ: افنان جمع د فَنَنٌ ده، څانگے ته وئیلے شی۔ او څانگے ئے ذکر کړے ځکه چه دغسے ونے پانړے نیسی او میوے ورکوی، او د هغے نه سوری راخوریږی۔

يا جمع د فَنٌّ ده رنگ او نوع او قِسم او صنف ته وئيلے شى، يعنى قسماقسم نعمتونه پكښې دى۔ (حادى الارواح لابن القيمؒ) او عطاءؒ د دواړو قولونو جمع داسے كړيده چه په هره څانگه كښې به قسماقسم ميوه جات وى۔

عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ : او په دے دواړو جنتونو كښې به د سلسبيل او تسنيم نومے دوه نهرونه بهيږى۔ عطيهؒ وائى چه په يوه كښې به صفا شفافے اوبهٔ روانے وى چه هيڅ كله به نهٔ خرابيږى، او په دويم كښې به شراب بهيږى چه انتهائى مزيدار به وى۔

تَجْرِيَانِ: يعنى هميشه به روانے وى۔

په دے هر نعمت كښې دننه ډير نعمتونه دى نو ځكه ئے آلاء لفظ جمع راوړو۔

فِيْهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ: او په دے دواړو كښې به د هرے ميوے دوه قِسمونه وى، او د هر يو خوند به جدا جدا وى۔ بعضِ مفسرينو ليكلى دى چه يو قِسم به تازه وى، او بل به اُوچ، او هر يو به د بل نه په خوند او مزه كښې زيات وى۔ او په هر يو كښې بيا دننه ډير اقسام دى۔ مثلًا په لمدو ميوو كښې به د يو قسم نه ډير قسمونه وى۔ لكه انگورو كښې به ډير اقسام وى او په وچو ميوو كښې هم دغه شان واخله۔

او دا نعمتونه چه ذكر شوى نو د آوريدونكو نيك عمل ته شوق پيدا كيږى، او د بدئ نه منع كيږى نو ځكه دا د الله تعالىٰ لوى نعمت شو۔

مُتَّكِئِيْنَ عَلٰى فُرُشٍ : ابو هريره رضی اللہ عنہ او ابن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائى : هر كله چه د جنتيانو د بسترو هغه برخه چه هغه زمكے سره لگيدلے وى د قيمتى او نازك ترينو ريښمو نه جوړه شوے وى، نو بيا د هغے د ظاهرى برخے حالت به څهٔ وى۔

د سعيد بن جبيرؒ نه پوښتنه اوشوه چه كله د جنتيانو د بسترو لانديني برخه د اعلىٰ ترين ديبا او ريښمو نه جوړه وى، نو بيا د هغے ظاهرى برخه به څنگه وى؟ نو هغهٔ ووئيل چه د سورتِ سجدے په (۱۷) آيت : ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ ﴾ (هيڅ يو نفس نهٔ پيژنى چه ددهٔ د سترگو د يخوالى لپاره څهٔ شے پټ ساتلے شوے دے) كښې الله تعالىٰ دے طرفته اشاره كړے ده۔ (فتح البيان ورموز الكنوز)

مُتَّكِئِيْنَ: د اِتِّكَاءٌ نه دے، تكيه او پرلت وهلو ته وئيلے شى، صاحب د فتح البيان ليكى چه اتكاء ئے ذكر كړه ځكه چه دا د روغ رمټ، او بے غمه شخص حالت وى چه دغه طريقے سره خوراك كوى۔

وَجَنَى الْجَنَّتَيْنِ: یعنی ددے دوارو جنتونو میوے به هر جنتی ته بیخی نزدے وی.
وئیلے کیږی چه جنتی کله څۀ میوه راشلول غواړی، نو هغه وُنه به هغۀ ته نزدے راشی. امام رازیؒ لیکی : د آخرت جنت (باغ) د دنیا د باغ نه په درے وجو مخالف دے :
(۱) یو دا چه په دنیا کښ میوے د ونو په سرونو کښ وی نو د تکیه وهونکی انسان نه ډیر لرے وی. او په جنت کښ به ئے تکیه وهلی وی او میوه به ورته مخے ته زوړنده وی.
(۲) دویم دا چه په دنیا کښ انسان میوه پسے منډه وهی او هغے طرفته حرکت کوی، او په آخرت کښ به میوه دۀ ته رانزدے کیږی او ددۀ نه به تاویږی.
(۳) دریم : په دنیا کښ انسان چه کله د یوے ونے میوے ته نزدے شی نو د بلے ونے نه وراندے شی او د جنت میوه جات به په یو وخت او یو ځای کښ دۀ ته نزدے راځی.
جَنًا : مصدر دے راشوکول د میوو. یا مبنی للمفعول دے، یعنی میوے راټولے کړے شوے/ راشوکولے شوے.
فِيْهِنَّ: او په دوارو کښ به داسے حورے وی چه د هغے نظرونه به د هغوئ د خاوندانو نه هیڅ کله نۀ اخوا کیږی، یعنی د دوئ خاوندان به انتهائی ښائسته وی، چه د هغوئ سره د ډیر زیات محبت د وجے نه به د هغوئ په زړونو کښ بل چاته د کتلو هډو خیال هم نۀ پیدا کیږی. او همدا حال به د دوئ د خاوندانو هم وی، یعنی دا ښځے به دومره ښائسته وی چه د دوئ خاوندان به دوئ سره انتهائی محبت کوی، او نورو ښځو ته د کتلو خیال به هم د دوئ په زړونو کښ نۀ راځی.
قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ: ددے موصوف پټ دے (اَىْ نِسَاءٌ يا حُوْرٌ) یعنی ښځے یا حورے خکته کونکی د نظر. ددے یو مطلب دا دے چه قَاصِرَاتٌ طَرْفَهُنَّ عَلٰى اَزْوَاجِهِنَّ.
دوی به خکته کونکی وی نظرونه خپل صرف په خپلو خاوندانو باندے، یعنی بل چا ته به ئے توجه نۀ پیدا کیږی. یا دومره به ښائسته وی چه د خاوندانو نظرونه به په خپل ځان باندے خکته کوی.
لَمْ يَطْمِثْهُنَّ : او د دوئ ښځو یو صفت به دا هم وی چه ټولے به پیغلے وی، ددے جنتی خاوندانو نه مخکښ به هیڅ یو انسان یا پیری دوئ سره کوروالے نۀ وی کړے.
طُمِثٌ: بکارت زائله کولو ته وئیلے شی مراد ترے نه نزدیکت دے.
بعضِ مفسرینو لیکلی دی چه په ﴿لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ﴾ کښ دے طرفته

اشاره ده چه دا ښځې به د کور والي نه پس هر ځل باکره (پیغلې) جوړیږي۔
شوکانیؒ لیکي چه دا آیت او ددې سورت کنړ آیتونه دلیل دې چه کوم پیریان په الله ایمان راوړي، د فرائضو پابندي اوکړي، او د ګناهونو نه ډډه اوکړي هغوئ به جنت ته داخلیږي۔ زجاجؒ وائي: دا آیت دلیل دے چه جنی هم هغه شی ته راتګ کولے شي کوم ته چه انسان کوي۔ (یعني جنی هم زنانو سره نزدیکت کولے شي)۔
او د ضمرة بن حبیبؒ نه تپوس وشو:
[أَيَدْخُلُ الْجِنُّ الْجَنَّةَ ؟ قَالَ نَعَمْ، وَتَصْدِيقُ ذٰلِكَ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ : ﴿لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ] (الطبری۲۷/۱۵۱) وابو الشیخ فی العظمة (۱۱۵۱۷۱/۱۶۹۶)
چه آیا جنات به جنت ته ځي؟ نو هغه وفرمایل: آؤ، بیائے دا آیت ولوستو او وے فرمایل چه د جناتو دپاره د جناتو د جنس نه ښځې دي، او د انسانانو دپاره د انسانانو د جنس نه۔
كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ: یعني دا ښځې به په حُسن او جمال کښې د یاقوت او مرجان پشان وي، یعني د دوئ رنګ به انتهائي سور سپین وي۔ په یاقوت کښې سپینوالے او په مرجان کښې سور والے دے۔
حسنؒ وائي: په صفائي کښې به د یاقوتو په شان وي (ځکه چه دا داسے شفاف کانړے دے لکه د بلور په شان اخوا ترے څیز ښکاري) او په سپین والي کښې به د مرجان په شان وي۔ او که د مرجان نه وړے ملغلرے واخستے شي نو بیائے دا پدے وجه ذکر کړو چه ددے صفائي او سپینوالے د لوی ملغلرو نه زیات وي۔
رسول الله ﷺ فرمائي: [عَلٰى كُلِّ زَوْجَةٍ سَبْعُوْنَ حُلَّةً، يَبْدُوْ مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَائِهَا]۔
په هره ښځه باندے به اویا جوړے وي، چه د هغې نه اخوا به د هغې د پنډۍ مغز ښکاره کیږي۔ (ترمذی: ۲۵۲۲ واسناده صحیح)
په روایت د ابن مسعود ﷺ کښې دي: [كَمَا يُرَى الشَّرَابُ الْأَحْمَرُ فِي الزُّجَاجَةِ الْبَيْضَاءِ] لکه سرۀ شراب چه په شیشه کښې ښکاره کیږي۔ (الطبراني في الكبير: ۸۸۶۴)
هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ: یعني کوم خلق چه په دنیا کښې نیك عمل کوي، د عدل او انصاف همدا تقاضا ده چه دوئ له ښه بدله ورکړے شي۔ یعني په تیرو شوو آیتونو کښې د جنتیانو دپاره چه کوم نعمتونه ذکر شو نو د دوئ سره د عدل او انصاف همدا تقاضا وه چه د دوئ د نیکو عملونو دوئ ته همدومره ښه بدله ورکړے شي۔

ابن عباس رضی الله عنه ددے معنیٰ کړیده : [هَلْ جَزَاءُ مَنْ قَالَ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ فِی الدُّنْیَا وَعَمِلَ بِمَا جَاءَ بِهِ النَّبِیُّ ﷺ اِلَّا الْجَنَّةُ فِی الآخِرَةِ] یعنی نشته بدله د هغه چا چه په دنیا کښې ئے لا اله الا الله وئیلی وی، او د رسول الله ﷺ په سنت ئے عمل کړے وی مګر په آخرت کښې جنت دے۔ (معالم التنزیل للبغویؒ)۔

(۲) او په یو مرفوع روایت د ابن عمر رضی الله عنه کښې دی :

[مَا جَزَاءُ مَنْ اَنْعَمْتُ عَلَیْهِ بِالتَّوْحِیْدِ اِلَّا الْجَنَّةَ] نشته بدله د هغه چا چه ما په هغه باندے د توحید نعمت کړیدے مګر جنت دے۔ (ابن ابی حاتمؒ وابن مردویهؒ والبیهقیؒ)

او پدے آیت کښې دویم سبب د جنت بیان شو، یو خو خوف وو، او دویم دوی کښې احسان وو۔ فَبِاَیِّ آلَاءِ: یعنی هرکله چه الله تعالیٰ تاسو سره احسان کوی په دنیا او په آخرت کښې او په لږ عمل رزق درکوی، او توفیق د نورو نیکو عملونو درکوی، نو بیا د الله تعالیٰ د کومو نعمتونو نه تاسو انکار کوئ؟!۔

وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتَانِ ﴿٦٢﴾ فَبِاَیِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٣﴾
او ماسویٰ ددے نه دوه جنتونه دی۔ نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ
مُدْهَامَّتَانِ ﴿٦٤﴾ فَبِاَیِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٥﴾
تاسو۔ تك شنهٔ به وی۔نودکوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔
فِیْهِمَا عَیْنَانِ نَضَّاخَتَانِ ﴿٦٦﴾ فَبِاَیِّ آلَاءِ
پدے کښې دوه چینے دی فوارے۔ (خوټ کیدونکے پورته)۔نو د کوم یو د احساناتو د
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٧﴾ فِیْهِمَا فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَ رُمَّانٌ ﴿٦٨﴾
رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔ پدے کښې به میوے او کجورے او انار وی۔
فَبِاَیِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٩﴾
نو د کوم یو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔

تفسیر : اُوس زیرے ورکوی په دویم قسم جنتونو چه دا د دویم قسم مؤمنانو دپاره دی،

يعني اصحاب اليمين دپاره۔
وَمِنْ دُوْنِهِمَا: دا عطف دے په ماقبل باندے، تقدير د عبارت داسے دے :
لِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ مِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتَانِ۔
څوك چه د رب نه يريږي نو د هغوى دپاره د مخكنو جنتونو نه خكته دوه قسمه جنتونه دي، او ددے خلقو په اعمالو كښ د مخكنو مؤمنانو د اعمالو نه خكته والے دے، نو د دوئ جنتونه هم د هغوى نه په فضيلت او درجو كښ خكته شو۔ او دُوْن لفظ په خكته والى باندے دلالت كوى، او دا خبره ابن كثيرؒ د ابن عباس ﷺ نه نقل كړيده۔
او حكيم ترمذيؒ او بعض علماؤ وئيلى دى چه دون په معنىٰ د نزدے سره دے عرش د الله تعالىٰ ته۔ او دا جنتونه د مخكنو نه افضل او غوره دى، ليكن دا قول د قرآن كريم د ظاهر خلاف دے، او دا جنتونه په لسو وجو سره خكته دى۔ لكه چه روستو فائده كښ ذكر كيږى۔
او دا هم د الله تعالىٰ لوى نعمت دے چه كه الله وئيلى وے چه اُوچت جنت دے، اُوچت عمل ورله پكار دے، او لاندے جنتونه ئے نۀ وے پيدا كړى نو بيا به ډيره ګرانه وے، په مونږ كښ به صرف پيغمبران او صحابه كرامؓ او خاص اولياء جنت ته تللے، او عام مؤمنان به محروم وے، نو الله دا احسان وكړو چه كه د توحيد او سنت د عقيدے نه روستو عمل كمزورے هم وى، نو الله ورسره احسان كوى او جنت ته ئے داخلوى، اګركه اعلىٰ جنت ته به لاړ نشى۔
مُدْهَآمَّتَانِ: اَىْ مُسْوَدَّتَانِ لِشِدَّةِ خُضْرَتِهِمَا ۔ يعني تلك تور دى د وجه د ډير شينوالى نه۔
او كله چه ونے او بوټى او چمنونه ډير شنۀ او تازه وى نو تور ښكاره كيږى دے دپاره په عربئ كښ اِدْهِيْمَام لفظ استعماليږى۔
مخكنو جنتونو سره ئے ذواتا افنان ووئيل چه قسماقسم ميوه جات او شينكيانے پكښ شته، او دلته ئے صرف د ونو او بوټو شينوالے ذكر كړو۔
نَضَّاخَتَانِ: نضخ ډيرو اُوبو شيندلو ته وئيلے شى، يعني چه په پورته باندے په تيزئ سره فوارے بهيږى۔
او نضح (په حاء سره) صرف شيندل او ترمكيا كولو ته وئيلے شى۔
نو دا چينے به ډيرے اُوبه او مُشك، او خوشبوئى او خير او بركت په جنتيانو باندے

راولي، او دا هم ډير نعمتونه دي نو ځکه ئې الاء جمع راوړه۔
فِيهِمَا فَاكِهَةٌ: پدے کښې نور درے انعامات ذکر دی۔ او دلته ئې مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ ونهٔ وئيل۔ او نخل او رمان اګرکه په فاکهه کښې داخل دي سکن دا ئې جدا ذکر کړل ځکه چه ددے حسن او فائدے زياتے دي۔ يا پدے وجه چه دا د عربو په زمکه کښې ډير وو۔ کجورے به د غذا او انار به د ميوے دپاره استعماليدل
دارنګه دا دواړه په اوړي او ژمی کښې موجود وی۔
دارنګه په کجوره کښې د تفکه سره غذائيت هم دے، او په انار کښې د تفکه سره دوائی هم ده، او پدے تولو کښې بے شماره نعمتونه دی نو ځکه ئې تعبير په آلاء سره وکړو۔
وَنَخْلٌ وَ رُمَّانٌ: امام ابوحنيفه رحمه الله وئيلی دی چه دا دواړه فواکه نهٔ دی ځکه چه دا عطف شويدی په (فَاكِهَةٌ) باندے او عطف مغايرت غواړی، نو که يو تن قسم وکړی چه زهٔ به فاکهه نهٔ خورم او انار وخوری نو نهٔ حانثيږی۔
ددهٔ نه ددهٔ صاحبين (ابويوسفؒ او محمدؒ) هم مخالف دی۔
او دارنګه د امت عام علماء او محدثين، او د امام ابوحنيفهؒ دا قول د اهل لغتو هم خلاف دے، او په آيت کښې ورله هيڅ دليل نشته ځکه چه دا عطف د خاص دے په عام باندے او ددے عطف دپاره دغه مخکنئ وجے دی۔

فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ ﴿٧٠﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ
پدے جنتونو کښې به غوره ښيبيانے ښائسته مخونو والا وی۔ نو د کوم يو د احساناتو
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧١﴾ حُورٌ مَّقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ ﴿٧٢﴾
د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔ دا حوری دی بندے ساتلے شوے په خيمو (د
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٣﴾
ملغلرو)کښې۔ نو د کوم يو د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔
لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِأَيِّ
نهٔ به وی رسيدلے دوی ته هيڅ انسان مخکښې د دوی نه او نهٔ هيڅ پيری۔ نو د کوم يو

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِئِينَ عَلٰى رَفْرَفٍ
د احساناتو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔ تکيه وهونکي به وي په ځادرونو
خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ
(بالختونو) شنو او قيمتي بسترو (قالينونو) ښائسته باندې۔ نو د کوم يو د احساناتو
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٧﴾ تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ
د رب خپل نه انکار کوئ تاسو۔برکت ورکونکے دے نوم د رب ستاسو
ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴿٧٨﴾
چه د لوئي شان او عزت والا دے۔

تفسير : يعني په دے دواړو جنتونو کښې به نيک چلنه او ښائسته شکل والا حُورے وی چه هغوئ به د ملغلرو نه جوړو محلونو کښې هر وخت د خپلو خاوندانو لپاره تيارے وی، چه دوئ سره به نهٔ مخکښې کوم انسان کور والے کړے وی او نهٔ کوم پيرى۔

خَيْرَاتٌ : اَیْ خَيْرَاتُ الْاَخْلَاقِ حِسَانُ الْوُجُوْهِ۔ غوره او بهترينو اخلاقو والا او ښائسته مخونو والا به وی۔ پدے صورت کښې به خيرات جمع د خَيِّرَةٌ وی، بيا پکښې تخفيف شويدے، او معنیٰ ئے د غوره والی ده۔ يا خيرات جمع د خَيْرَةٌ ده، ذَوَاتُ الْخَيْرَاتِ ته وائی يعنی د خيرونو او فائدو والا۔ دا وجه ده چه آلاء ئے جمع راوړه۔

دا صفتونه د هغه حورو دی چه په جنت کښې الله تعالیٰ پيدا کړيدی، او د دنيا زنانه چه جنت ته لاړه شی نو دوی نه هم دغه شان خيرات او حسان جوړيږی، اخلاق ئے مزيدار شی او مخونه او شکلونه ئے زړه راښکونکی شی۔

حُوْرٌ : يعنی دغه زنانه به حورے وی۔ حور جمع د حَوْرَاء ده، ښه سپين رنګ ته وئيلے شی چه د سترګو تورئے ښه تور وی او سپين والے ښهٔ سپين وی۔

مَّقْصُوْرَاتٌ : يعنی په خيمو کښې بندے ساتلے شويدی، او دا بند ساتل د حفاظت او د اکرام دپاره دی، او مدح د زنانو په ستر او پردے سره کيږی، او چه پخپل کور کښې اُوسی او بے ضرورته په لارو کوڅو کښې نهٔ ګرځی۔

مجاهدؒ د مقصورات معنیٰ کوی: قُصِرَ طَرْفُهُنَّ وَاَنْفُسُهُنَّ عَلٰی اَزْوَاجِهِنَّ ۔ (بخاری باب ۳۰۹) یعنی د دوی نظرونه او نفسونه به په خپلو خاوندانو باندے بند کړے شوی وی۔
فِي الْخِيَامِ: دا خیمے به کورونه او محلونه وی او رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:
[اَلْخَيْمَةُ دُرَّةٌ مَجَوَّفَةٌ طُوْلُهَا فِي السَّمَاءِ سِتُّوْنَ مِيْلًا، فِيْ كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا لِلْمُؤْمِنِ اَهْلٌ لَا يَرَاهُمُ الْآخَرُوْنَ يَطُوْفُ عَلَيْهِمُ الْمُؤْمِنُ] (بخاری بدء الخلق باب ۸، ومسلم فی الجنة حدیث: ۲۵)
د مؤمن دپاره په جنت کښ خیمه ده، د یوے ډډے ملغلرے نه چه اوږدوالے د هغے شپیته میله دے، او په هر گوټ د هغے کښ به د مؤمن دپاره اهل وی چه نور به ئے نهٔ وینی، او مؤمن به په هغوی باندے گرځی۔ او ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د جنتی مؤمن به ډیرے حوری وی۔ او په یو ضعیف روایت کښ دوه اویا ذکر دی۔
(ترمذی: ۲۵۶۲ و فیه رشدین بن سعد ودراج)
او یو بل روایت د احمد کښ دوه اویا ذکر دی مگر په هغے کښ شهر بن حوشبؒ راوی دے۔ او علامه عراقیؒ په طرح التثریب او مبارکفوریؒ په تحفة الاحوذی کښ لیکی: چه ادنیٰ جنتی ته به د دنیا د ښځونه دوه وی او د حورو نه اویا ورکوی او دا خبره د مجموعه روایاتو نه معلومیږی۔ او دے ته حافظ په فتح الباری کښ میلان کړیدے۔
او ابن عباس رضی الله عنه فرمائی: فِيْ بُيُوْتِ اللُّؤْلُؤِ۔ یعنی د ملغلرو په کوټو کښ به وی۔
الخیام جمع د خیمة دے، خیمه دے ته وائی چه څلور لرگی ودرولے شی او په هغے باندے دپاسه څه څانگے او بوټی یا کپړے واچولے شی چه سورے کوی، نو دا د خباء نه یخه وی۔ او خباء دیته وائی چه د وړئ او پشم وغیره نه جوړه شی۔ لیکن د جنت خیمے جدا دی۔
(خطیب شربینی وفتح البیان)
عَلٰى رَفْرَفٍ خُضْرٍ ۔ رَفْرَفٍ: په اصل کښ د رف نه دے په معنیٰ د اُوچت والی او حرکت کولو سره دے، او په معنیٰ د تازگئ سره هم راځی، نو ددے نه مراد بالختونه او تکیه گانے دی، یا هغه اُوچتے کپړے دی چه په بسترو باندے خوره ولے شی۔
یا چمنونه او زیاتی مجالس د جنت دی۔
ابن عباس رضی الله عنه فرمائی: رفرف زیاتی مجالس او بسترے او قالینی دی۔
سعید بن جبیرؒ وائی: رفرف رِيَاضُ الْجَنَّةِ ته وئیلے شی یعنی د جنت باغیچے چه شنے او تازه دی۔ او حسن بصریؒ وائی: اَلْوَسَائِدُ (بالختونه) دی۔ (فتح البیان ورموز الکنوز)

وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ : (او قیمتي بسترې چه ښائسته دي) عبقري منسوب دې عَبقَر ته او دا په یمن کښې یو ښار وو چه په هغې کښې به د کپړو گلونه کیدل. نو د هر جید (کره) او مزیدار شي نسبت به هغې ته کیدو.

ابن الانباريؒ وئیلي دي چه عبقر یو ځای دې چه په هغې کښې به ډیر پیریان راښکاره کیدل او ناشنا خبرې او کارونه به ئې کول، نو هغه ځای ناشنا گڼړلې کیدو، نو بیا به دوئ د هر عجیبه او ناشنا څیز عبقر ته نسبت کولو.

لکه د عمر ﷺ په باره کښې رسول الله ﷺ خوب کښې ولیدل : [فَلَمْ اَرَ عَبْقَرِيًّا يَفْرِيْ فَرِيَّهٗ] یعني عمر ﷺ ناشنا کار وکړو چه د هغه په لاس باندې الله تعالیٰ ډیره فتح وکړه.

او دا محاوره په هغه زمانه کښې وه، او زمونږ په اصطلاح کښې خلق د ناشنا څیزونو نسبت کافرانو ته کوي، ځکه چه دنیا کښې هم دوی ناشنا څیزونو پسې لگیدلي دي، وزگار دي، نو خلق وائي : فلانے کافر شے دے، او د کافر ځوی دے.

زجاجؒ وئیلي دي چه عبقري په لغت کښې صفت دے د هر هغه شي چه د هغې په صفت کښې مبالغه شوې وي. خلیل بن احمدؒ نه نقل دي :

[كُلُّ جَلِيْلٍ نَفِيْسٍ فَاضِلٍ فَاخِرٍ مِنَ الرِّجَالِ وَغَيْرِهِمْ عِنْدَ الْعَرَبِ عَبْقَرِيٌّ]

د عربو په نیز هر کامل او نفیس او غوره او عمده څیز ته عبقري وائي که هغه د سړو نه وي او که د ښځو نه او که د کپړو وغیره نه وي.

نو د عبقري نه مراد قیمتي بسترې دي. یا گلدار څادرونه او بسترې چه ناشنا وي.

او مجاهدؒ وائي : دا دیباج (وریښمو) ته وئیلے شي.

قتیبيؒ وائي : هره ښائسته کړې شوې جامې ته عرب عبقري وائي. (ابن کثیرؒ)

یعني د دوئ ژوند به انتهائي پرق پروق او شان او شوکت والا وي.

د دین او دنیا او د آخرت د کومو نعمتونو ذکر چه پورته اوشو، په دې کښې هر یو داسې عظیم نعمت دے، چه ددې اهمیت په الفاظو کښې بیانیدلے نشي. دے وجې نه الله تعالیٰ وفرمایل چه اے انسانانو او پیریانو ! تاسو د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغژن گڼړئ ؟!

تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ : اُوس د اول د سورت سره خبره یو ځای کوي، فرمائي چه ستا د رب نوم چه رحمٰن دے هغهٔ ددې لائق دے چه د هغهٔ تعظیم وکړې شي، او د هغهٔ تعظیم ددې تقاضا کوي چه په هیڅ حال کښې هم د هغهٔ نافرماني ونهٔ کړې شي، او د هغهٔ عزت

وکړے شی، او د هغهٔ عزت کول ددے غوښتنه کوی چه صرف د هغهٔ عبادت وکړے شی، او د هغهٔ شکر اداء کړے شی، او د شکر گذارئ کمال دادے چه په هیڅ حال کښې هم د هغهٔ ناشکری ونهٔ کړے شی، او هغه هر وخت یاد کړے شی، او د هغهٔ په یاد کښې پوره اخلاص دادے چه هغه هیڅ کله هم هیر نهٔ کړے شی۔ (ابن کثیرؒ)

او هرکله چه د الله نوم خیرونو او برکت والا دے نو د هغهٔ ذات به څومره برکاتو والا وی۔

بعض د برکت معنیٰ په دوام سره کوی۔ یعنی همیشه دے نوم د رب ستا۔

یا دَامَ الْخَيْرُ عِنْدَهٗ۔ یعنی د هغهٔ سره خیرونه همیشه موجود دی۔ (فتح البیان)

او مطلب دا دے چه الله تعالیٰ تاسو پیدا کړئ او تاسو له ئے زمکه او آسمان پیدا کړو او بیا ئے ستاسو تدبیر او تربیت وکړو نو دا ټول کارونه د هغهٔ د رحمت نه راوتی دی نو ځکه ئے د خپل نوم صفت وکړو چه دغه رب په خپل ذات کښې اُوچت شان والا دے، او په خپلو کارونو کښې عزتمند دے۔ (قرطبیؒ)

او د الله برکات دا دی چه هغه داسے ذات دے چه انسان ئے د نطفے نه پیدا کړو، داسے ذات دے چه عظیم کتاب ئے راولیږلو، دریابونه ئے روان کړل، په لږ عمل باندے عظیم جنتونه ورکوی، د اُوبو نه ئے جنتونه پیدا کړل، څومره غټ کائنات ئے ترے جوړ کړل، نو دغه ذات په خپلو بندګانو باندے څومره مهربان دے، او مخلوق بیا هم د هغهٔ نه انکار کوی، او د هغهٔ سره شریکان جوړوی، د هغه بے ادبی کوی او کله پرے اعتراضونه کوی۔

فائده : د ذکر شوو نعمتونو د تقابل نه په ډیرو وجو سره معلومیږی چه روستنی جنتونه د مخکنو دوه جنتونو نه په درجه کښې کم دی۔

اوله وجه دا ده چه د مخکنو دپاره (ذواتا افنان) ذکر وو چه دلالت کوی په ډیرو ونو باندے او روستنو کښې (مدهامتان) چه صرف شین والی ته اشاره ده۔

دویمه وجه دا ده چه په مخکنو کښې تجریان ذکر کړے شوے وو او د روستنو دپاره نضاختان ذکر وو او جاری کیدل غوره دی په نسبت د فوَارے وهلو په یو ځای باندے۔

دریمه وجه هلته (من کل فاکهة زوجان) ذکر وو او دلته (فاکهة ونخل ورمان) ذکر دے، لفظ د کل، او دارنګه زوجیت د میوو دلالت کوی په ډیر والی د اقسامو، او فاکهه نکره دلالت کوی په کم والی باندے۔

څلورمه وجه : هلته د حورو په صفت کښې قاصرات الطرف ذکر دے، یعنی په خپل

اختیار به ئے نظرونه په خاوندانو خکته کړی وی، نو هغه افضل صفت دے په نسبت د مقصورات باندے، چه د بل چا په وجه بند کړے شوی وی۔
پنځمه وجه: هلته د هغوی د حسن او جمال او صفائی تشبیه ئے د یاقوت او مرجان سره ورکړه او دلته صرف خیرات حسان ذکر دے۔
شپږمه وجه: هلته ئے (وجنی الجنتین دان) ذکر کړو چه د جنت میوے به نزدے وی او په روستنو کښې ئے دا ذکر نکړل۔ ❁ اومه وجه: د اول سره ئے (هل جزاء الاحسان الا الاحسان) ذکر کړو اشاره ده چه دے خاوندان د کامل احسان والا وو ځکه ورته کامله بدله ورکړے شوه۔ او د روستنو سره دا ذکر نشو۔ ❁ اتمه وجه: هلته د تکیه دپاره فرش او د هغې د بطائنو صفت ئے ذکر کړو او دلته صرف رفرف (څادرے یا بالختونه) ذکر کړل۔
نهمه وجه: هلته ئے د (لمن خاف مقام ربه) سره (جنتان) قریب ذکر کړل، اشاره ده چه دا اعلیٰ بدله د خائف ده نو جزاء ئے په خوف باندے مرتب کړه لکه مسبب چه په سبب مرتب وی۔ او خائفین دوه قسمه دی، مقربین او بل اصحاب الیمین نو اول ئے د مقربینو جزاء ذکر کړه۔
❁ لسمه وجه: روستنو سره ئے (ومن دونهما) لفظ ووئیلو، او دون نقیض د فوق دے۔ لکه چه جو هرئ وئیلی دی۔ نو دا دلیل دے چه روستنی جنتونه کمے درجے والا دی د مخکنو نه۔ (حادی الارواح ۱/۷۲ والقرطبی ۱۷/۱۸٤) واحسن الکلام۔
لیکن دا تهوَل په اعتبار د ظاهر سره ترجیحات دی، پدے کښې داسے احتمالات هم شته چه په هغې سره د روستنو ترجیح ثابتیږی (والله اعلم)

امتیازات

۱– د الله تعالیٰ د رحمانیت تشریح۔
۲– یو دیرش کرته (فبأی آلاء ربکما تکذبان)۔
۳– دا خبره ښکاره شوه چه پیریانو دپاره هم جنت او جهنم شته۔
٤– څلور قسمه جنتونه پکښې ذکر کړے شول، د دوه قسمه مؤمنانو دپاره۔
٥– تفصیلی بشارت او تخویفات ذکر شول۔

ختم شو تفسیر د سورة رحمٰن په لیلة الثلاثاء ۲۰۱٦/٥/۲) رجب ۲۷/۱٤۳۷ هـ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آیاتها (٩٦)	(٥٦) **سورة الواقعة مكية** (٤٦)	رکوعاتها (٣)

سورة الواقعه مکی دے، په دے کښې شپږ نوی آیتونه او درے رکوع دی۔

تفسیر سورة الواقعة

نوم : دے ته سورت واقعه وائی، او دا د قیامت د ورځے نوم دے۔ قاسمیؒ د مُهایمیؒ نه نقل کړیدی چه چونکه دا سورت په قیامت کښې د رابنکاره کیدونکو واقعاتو بیانولو نه ډك دے، پدے وجه ددے نوم [اَلْوَاقِعَة] یعنی د قیامت ورځ کیښودے شو۔

د نازلیدو زمانه : د حَسَنؒ، عکرمهؒ، جابر او عطاءؒ وغیره په نیز دا سورت مکی دے۔

ابن مردویهؒ او بیهقیؒ په (دلائلو) کښې د ابن عباس ﷛ نه روایت کړے چه سورتِ واقعه په مکه کښې نازل شوے۔

ترمذیؒ د ابن عباس ﷛ نه روایت کړے، ابو بکر ﷛ وویل : [يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ شِبْتَ، قَالَ : شَيَّبَتْنِيْ هُوْدٌ وَالْوَاقِعَةُ وَالْمُرْسَلَاتُ وَعَمَّ يَتَسَاءَلُوْنَ وَإِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ] (ترمذی : ٣٢٩٦)

اے د الله رسوله ! ته بوډا شوے۔ نو نبی ﷺ وفرمایل : (زهٔ هود، الواقعه، المرسلات، عم یتسائلون او اذا الشمس کورت (سورتونو) بوډا کړے یم)۔

ترمذیؒ دیته حسن غریب وئیلے دے۔ او شیخ البانیؒ په صحیح الجامع رقم (٣٧٢٣) کښې صحیح کړیدے۔

او امام احمدؒ د جابر بن سمره ﷛ نه روایت کړے [كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ كَنَحْوٍ مِنْ صَلَاتِكُمُ الَّتِيْ تُصَلُّوْنَ الْيَوْمَ وَلٰكِنَّهُ كَانَ يُخَفِّفُ، كَانَتْ صَلَاتُهُ أَخَفَّ مِنْ صَلَاتِكُمْ وَكَانَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ الْوَاقِعَةَ وَنَحْوِهَا مِنَ السُّوَرِ] چه رسول الله ﷺ ستاسو پشان مونځ

کولو، لیکن د نبی ﷺ مونځ به ستاسو د مانځه نه مختصر وو، او نبی ﷺ به د سهار په مانځه کښې (الواقعه) او ددې پشان سورتونه لوستل۔ (احمد : ۲۱۰۳۳) صحيح لغيره)

فضیلت :

ددې سورت په فضیلت کښې د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دا روایت نقل کیږي چه رسول الله ﷺ وفرمايل : (کوم کس چه هره شپه د سورت الواقعه تلاوت کوی، هغهٔ ته به هیڅ کله محتاجي اونهٔ رسی)۔ دا ابو یعلیٰ او بیهقیؒ په خپل کتاب ((شعب الایمان)) کښې روایت کړے، او محدث البانی رحمه الله دیته ضعیف وئیلی دی۔

او پدے معنیٰ نور روایتونه هم شته، لیکن ټول د کلام نه خالی نهٔ دی، لهذا دا سنت ګنړل نهٔ دی پکار، او که څوك ئے سنت نهٔ ګنړی او وائی او الله دغه نعمت ورکړو نو په هغے کښې هیڅ اشکال نشته۔ او کیدے شی دا یوه تجربه وی چه رزق ورسره فراخه کیږی، لیکن دے نه به عبادت نهٔ جوړوی۔

مناسبت

۱- مخکښې سورت کښې ئے دوه جنتونه بیان کړل، نو دلته د هغے اهل بیانوی چه دوه ډلے دی چه هغه سابقون او اصحاب الیمین دی۔

۲- مخکښې ئے مجرمان ذکر کړل، نو دلته ورله نوم ږدی په اصحاب الْمَشْئَمَه سره۔

۳- د هغه سورت په ابتداء کښې ئے د قرآن نعمت ذکر کړے وو، نو دلته په آخر د سورت کښې عظمت د قرآن ذکر کوی۔

٤- په هغه سورت باندے رحمت غالب وو، او پدے سورت باندے غضب او خوف غالب دے۔

د سورت موضوع او مقصد

اَلتَّخْوِيْفُ بِالسَّاعَتَيْنِ الصُّغْرٰی وَالْكُبْرٰی ۔ بندګان په دوه قیامتونو باندے یره ول چه یو وړوکے قیامت دے چه هغه مرګ دے، او دویم لوی قیامت دے۔ او په آخری رکوع کښې به ورسره د قرآن خبره ملګرے کوی د یوے فائدے دپاره۔

او د انسانانو درے ډلو ته تقسیمیدل او د هغوئ سزاګانے او جزاء ګانے به بیانوی۔ او په مینځ کښې د قیامت د اثبات دپاره دلائل ذکر کوی، د انسان د پیدائش، د وریځو، نباتاتو،

او د اُور۔ او په آخری رکوع کښې ترغیب قرآن ته دے، او د قیامتِ صغریٰ تشریح ده چه په هغې کښې هم درے ډلے دی، او په آخر کښې به د عذاب د نجات سبب ذکر کړی (فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ)۔

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾
کله چه واقع شی واقع کیدونکے (ورځ)۔ نشته د واقع کیدو د هغې دپاره دروغ۔
خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾ إِذَا
خکته کونکے ده (بعض بندګانو لره) پورته کونکے ده (بعضو لره)۔ کله چه
رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا ﴿٤﴾ وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ﴿٥﴾
اُوجړقولے شی زمکه په جړقولو سره۔ او ذره ذره شی غرونه په ذره ذره کیدو سره۔
فَكَانَتْ هَبَاءً مُّنْبَثًّا ﴿٦﴾
نو شی به دوړه خوره وره۔ (الوزولے شوے)۔

تفسیر :إِذَا: پدے کښې دوه احتماله دی، یو دا چه اذا ظرفیه ده، نو بیا پدے کښې دوه ترکیبه دی (١) یو دا چه إِذَا د اُذْكُرْ مقدر دپاره مفعول فِيهِ دے۔ نو پدے وخت کښې به دا جزاء نۀ غواړی، یعنی رایاد کړه هغهٔ وخت کښې چه داسے داسے کارونه به کیږی۔ او همدا قول راجح دے۔ (٢) یا ما بعد د إِذَا په تاویل د مصدر سره مبتداء ده، او روستو إِذَا سره د مابعد نه په تاویل د مصدر سره خبر دے، اَیْ وَقْتُ وُقُوعِ الْوَاقِعَةِ وَقْتُ رَجِّ الْاَرْضِ وَبَسِّ الْجِبَالِ۔ یعنی وخت د واقع کیدو د واقعے چه موصوف ده په روستو صفتونو سره دغه وخت د جړقیدو د زمکے او د الوتلو د غرونو دے۔

او که اذا شرطیه شی، نو ددے جزاء به پټه وی (فَكَانَ كَيْتَ وَكَيْتَ) یعنی کله چه واقع شی واقع کیدونکے ورځ، نو داسے داسے حالات به راپیښیږی چه تاسو نه به درے ډلے جوړیږی۔

❁ یا روستو إِذَا د اول إِذَا نه بدل دے او فَاَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ د هغې جزاء ده۔

❁ یا جزاء دا ده • (لَتُجَازُنَّ حَسَبَ حَالَاتِكُمْ) تاسو ته به ستاسو د حالاتو مطابق بدله

درکولے شي۔

[الواقعة] د قیامت د ورځې نوم دے، یعنې واقع کیدونکے ورځ، نو پدے کښې اشاره ده چه ددے ورځې په راتګ کښې هیڅ شك نشته۔ او د عربي قاعدے په لحاظ سره (اذا) کلمه په مضارع داخلیږي لیکن کله چه د یو شي راتلل یقیني وي نو بیا د هغې نه روستو ماضي صیغه ذکر کیږي، لکه دلته (وَقَعَتْ) لفظ راغلے دے۔ دا دلالت کوي چه د قیامت د ورځې په راتګ کښې د ذرے هومره شك نشته۔

لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ : (۱) یعنې کله چه د مرګ نه پس د ژوند لپاره اسرافیل ﷺ آخري شپیلۍ پوك وهي، نو بیا به ددے نه پس قیامت دروغژن ګڼرل ناممکن شي۔

كَاذِبَةٌ مصدر دے لکه د عَاقِبَةٌ په شان، اَیْ لَيْسَ لِوُقُوْعِهَا كِذْبٌ۔

یعنې ددے په راتللو او راښکاره کیدو کښې هیڅ دروغ نشته۔

یا کاذبه صفت د نفس دے، یعنې هیڅ نفس به نۀ وي چه په الله باندے دروغ ووائي چه قیامت به نۀ راځي۔ هر نفس به په دغه وخت کښې تصدیق وکړي، او هرڅه به په خپلو سترګوویني۔

(۲) حسنؒ، قتاده او زجاجؒ د ﴿لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ﴾ معنىٰ دا بیان کړے چه کله قیامت راشي نو هیڅوك به دا منع کولے نشي۔

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ : ۱– خَافِضَةٌ لِلْكَافِرِيْنَ وَالْمُجْرِمِيْنَ رَافِعَةٌ لِلْمُؤْمِنِيْنَ۔ کافرانو او مجرمانو لره خکته کونکے ده، او مؤمنانو لره پورته کونکے ده۔ یو غریب سړے به وي په ډیرو خلقو به اُوچت شي، او دنیا کښې به مالداره او بادشاه وي او هلته به ذلیله شي۔

۲– د الله دشمن به اُور ته ورخکته کوي، او د الله اولیاء به جنت ته پورته کوي۔

(عمر بن الخطاب ﷺ) (فتح البیان)

او دے ورځے ته ئے د خکته والي پورته والي نسبت وکړو ځکه چه پدے ورځ به د خلقو خکته والے پورته والے ښکاره کیږي۔ او عرب خکته والے او پورته والے د ذلت او عزت دپاره استعمالوي۔

إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا : اَیْ حُرِّكَتْ حَرَكَةً شَدِيْدَةً۔ یعنې وخوزولے شي په خوزولو سختو سره۔ یعنې داسے به وخوزولے شي چه په زمکه څه څیزونه وي هغه به ونړیږي او د غرونو وغیره څیزونو نه به هر شے مات رامات شي۔

وَبُسَّتِ الْجِبَالُ: ۱- بس ذره ذره کیدو، ۲- او مات رامات کیدو ته وئیلے شی۔
۳- قُلِعَتْ مِنْ اَصْلِهَا۔ د بیخ نه به ویستلے شی۔ (حسنؒ)
٤- بُسَّتْ كَمَا يُبَسُّ الدَّقِيْقُ بِالسَّمْنِ اَوْ بِالزَّيْتِ۔ اَىْ خُلِطَتْ۔ یعنی غرونه به یو بل کښې گډوډ شی او داسے به وګرځی لکه وړه چه په غوړو یا تیلو سره ګډوډ شی۔ (مجاهدؒ)
(٥) ابوزیدؒ وائی: اَلْبَسُّ السَّوْقُ۔ بس معنیٰ ده روانیدل۔ یعنی روان به شی۔
هَبَاءً مُّنبَثًّا: اَىْ غُبَارًا مُتَفَرِّقًا مُنْتَشِرًا۔ یعنی شی به غبار (دوړه) خوره وره۔
هَبَاءً: هغه دوړه ده چه د اسونو د خپو نه په وخت د تیز رفتارئ کښې راپورته شی، او بیا خوره او ورکه شی۔ ❁ دارنګه هغه شعاع د نمر چه په یو سوری کښې داخل شی نو ذرات پکښې ښکاری۔ ❁ یا هغه بخری د اور چه اُوچت شی او بیا ورك شی۔ (فتح البیان)

وَكُنتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَاثَةً ﴿٧﴾ فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿٨﴾
او شئ به تاسو قسمونه درے۔ نو ښی لاس والا، څه دی خاوندان د ښی لاس۔ (څه
وَأَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ﴿٩﴾
لوئی شان دے د ښی لاس والو)۔ او خاوندان د ګس لاس، څه دی خاوندان د ګس
وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ ﴿١٠﴾
لاس۔ او مخکښې کیدونکی (هرے نیکئ ته) مخکښې داخلیدونکی به وی
أُولَٰئِكَ الْمُقَرَّبُونَ ﴿١١﴾ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿١٢﴾
(جنت ته)۔ دا کسان نزدے کړے شویدی۔ په جنتونو د نعمتونو کښې به وی۔

تفسیر : یعنی د قیامت په ورځ به خلق د خپلو عملونو په لحاظ سره درے ډلو کښې تقسیم شی۔ حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه یوه ډله به د عرش ښی اړخ ته وی، او د دوئ عملنامے به دوئ له په ښی لاس کښې ورکړے شی۔
د سُدئ قول دے چه دا به عام جنتیان خلق وی۔ او دویمه ډله به د عرش ګس اړخ ته وی، او د دوئ عملنامے به د دوئ په ګس لاس کښې ورکړے شی، او دا به جهنمیان خلق وی۔ او دریمه ډله به د الله د رضا د کارونو طرفته د یو بل نه د مخکښې کیدونکو خلقو

وو، او دابه انبياء او رسولان عليهم السلام او صديقين او شهيدان وی، او د دوئ شماره به د ښی اړخ والا ډلے نه کمه وی۔

أَزْوَاجًا : ازواج اصنافو (اقسامو) ته وئيلے شی۔ او دا د الله تعالیٰ ډیر رحم دے چه په مؤمنانو کښې ئے دوه ډلے جوړے کړے، او کافران یوه ډله۔ که د جنت دپاره ئے صرف سابقیت او مقربیت شرط کړے وے چه څان نه به سابقین جوړوئ نو ډیره به سخته شوے وے۔

فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ : ❁ دا د یمین نه دے، یعنیٰ ښے طرف۔ یعنی په ښی لاس کښې به ورته عملنامے ورکړے شی،

❁ یا دا چه ښی طرفته به روان کړے شی چه هغه د جنت طرف دے۔

❁ یا په عالم الذرّ او په شپه د معراج کښې د آدم علیه السلام ښی طرفته وو۔

❁ یا د یُمن نه جوړ دے، یعنی خیر او برکت والا دی، او نیك بخت دی۔

مَا أَصْحَابُ : ما استفهامیه ده، او پدے تپوس کښې مقصد د هغوی د حالت تعظیم او هیبت دے۔ یعنی تهٔ خبر ئے چه ښی اړخ والا کوم اُوچت خلق دے؟!۔ دوئ خو به په انتهائی راحت او سعادت او خوشحالئ او تازګئ کښې وی، او ګس لاس والا به په ډیر زیات تکلیف، درد او غم او خفګان کښې وی۔

او مَا أَصْحَابُ دا خبر د أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ دے۔

اصحاب الميمنه ئے مخکښې ذکر کړل دا ددے دپاره چه د بندګانو امید پیدا شی، او بله دا چه دا قسم خلق په مؤمنانو کښې زیات دی۔

وَأَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ : دا د شُؤْمْ نه دے، بد بختو ته وئيلے شی۔ ❁ یا مَشْئَمَه شمال (یعنی ګس) طرفته وئیلے کیږی۔ یعنی دوی له به په ګس لاس عملنامه ورکړے شی۔

❁ یا به دوئ په میدان محشر کښې ګس طرفته روان کړے شی چه هغه طرفته جهنم دے، ❁ یا په عالم الذرّ او د معراج په شپه کښې دوی د آدم علیه السلام په ګس طرف کښې وو۔

حسن بصریؒ فرمائی : هُمُ الْمَشَائِيمُ عَلَى أَنْفُسِهِمْ بِالْأَعْمَالِ الْقَبِيحَةِ۔ دا هغه خلق دی چه څانونه ئے سپیرۀ کړیدی په بدو اعمالو سره۔

مبرّدؒ وائی : اصحاب الميمنه اصحاب التَّقَدُّم دی، یعنی چه نیك اعمالو ته مخکښې کیدونکی وی، او اصحاب المشئمه اصحاب التَّأَخُّر دی، یعنی روستو کیدونکی، او

عرب ښي طرف د مخکښوالي او ګس طرف د روستو والي دپاره استعمالوي.
او ددې نه د ښي لاس د لحاظ اهميت ته هم اشاره ذکر ده.
وَالسّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ: ١- يو ترکيب دا دې چه دا دواړه مبتداء او خبر دي. اَيِ السّٰبِقُوْنَ فِي الدُّنْيَا اِلَى الْحَسَنَاتِ السّٰبِقُوْنَ اِلَى الْجَنَّةِ. کوم خلق چه په دنيا کښې نيکيانو ته مخکښې کيدونکي وي نو هغوی به په قيامت کښې جنت ته مخکښې تلونکي وي.
٢- ترکيب: السّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ بدل او مبدل مِنْهُ دي. يا مؤکد او تاکيد دي، او دا مبتداء ده او اُولٰئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ ئې خبر دې. يعنی کوم خلق چه سابقين سابقين دي يعنی چه هغوی په سبقيت باندې مشهور شويدي، او د هغوی نيکيانې او ښکلې صفات معلوم دي نو دغه کسان نزدې کړې شويدي الله ته/ او عرش عظيم ته د هغوی درجات/ او اعلیٰ جنتونو ته. او تکرار کښې مقصد تفخيم او تعظيم دې لکه د مخکښې دواړو قسمونو په شان. اول قول غوره دې ځکه چه دوه جملې به جوړې شي او په تکرار کښې به تفخيم او تعظيم ته هم اشاره شي.

سابقين څوك دي؟

ددې بعض تفصيل په تفسير د سورة سباء کښې ذکر شويدې.
(١) بعض وائي: دا انبياء عليهم السلام دي. (٢) په هر امت کښې د انبياء عليهم السلام اصحاب کرامؓ دي. (٣) زمونږ د امت صحابه کرامؓ.
(٤) هغه صحابه کرامؓ چه قبلتين (دوه قبلو) ته ئې مونځونه کړي دي.
(٥) اَلسّٰبِقُوْنَ اِلَى الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ. (پنځه مونځونو ته مخکښې کيدونکي).
(٦) هغه خلق چه د اول د ځوانئ نه په صحيح دين کښې تر مرګه پورې لګيدلې وي.
(٧) هر قسم نيکئ ته مخکښې کيدونکي او منډه وهونکي. جزاء من جنس العمل وي، څوك چه درس ته مخکښې راځي، جهاد ته مخکښې ځي، صف اول ته مخکښې راځي، د مور او پلار خدمت ته مخکښې راځي.
انس بن مالك ﷺ فرمائي چه سابقون کښې تکبير اولیٰ والا هم داخل دي چه دې ته څوك مخکښې راځي نو هغه به جنت ته مخکښې روان وي.
حافظ ابن کثيرؒ ليکي چه دا ټول اقوال صحيح دي، يعنی دا لفظ دې ټولو ته شامل

دي۔

اُولٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ : ١- أَيِ الْمُقَرَّبُوْنَ اِلٰى جَزِيْلِ ثَوَابِ اللّٰهِ وَعَظِيْمِ كَرَامَتِهٖ ۔ دا هغه خلق دي چه د الله زياتو ثوابونو او د هغه لوی کرامت ته نزدے کړے شويدی۔

٢- اَلَّذِيْنَ قُرِّبَتْ اِلَى الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ دَرَجَاتُهُمْ وَاُعْلِيَتْ مَرَاتِبُهُمْ۔

يا هغه خلق چه د دوی درجات عرش ته نزدے شويدی، او د دوئ مرتبے پورته کړے شويدی۔ او دوئ به د عرش د سوری د لاندے وی په قيامت کښ۔

ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٣﴾ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٤﴾ عَلٰى سُرُرٍ
ډلے دی د اولنو نه۔ او لږ دی د روستنو خلقو نه۔ په کټونو باندے به وی
مَّوْضُوْنَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِئِيْنَ عَلَيْهَا
چه اُودلے شوی به وی د تارونو د سرو زرو نه، تکيه وهونکی به وی په هغے باندے
مُتَقَابِلِيْنَ ﴿١٦﴾ يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ﴿١٧﴾
يو بل ته به مخامخ وی۔ گرځی به په دوی باندے هلکان چه هميشه به هلکان وی۔
بِاَكْوَابٍ وَّاَبَارِيْقَ وَكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿١٨﴾ لَا يُصَدَّعُوْنَ
په گلاسونو او جگونو سره او پيالے ډکے د شرابو خالصو نه۔ نۀ به ئے په سر درد کيږی
عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ ﴿١٩﴾ وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُوْنَ ﴿٢٠﴾
د هغے نه او نۀ به قے (اُلټئ) کوی۔ او ميوے د هغے نه چه دوی ئے غوره کوی۔
وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٢١﴾
او غوښے د مارغانو د هغے نه چه دوی ئے خوښوی۔

تفسير :ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ: ثـلـه جماعت ته وائی۔ (١) د اولين نه مراد صحابه کرامؓ دی، او د آخرين نه مراد روستو زمانے دی تر قيامته پورے۔ لکه رسول الله ﷺ فرمايلی دی :

[فِيْ كُلِّ قَرْنٍ مِنْ اُمَّتِيْ سَابِقُوْنَ] زما د اُمت په هره پيړئ او قوم کښ سابقين شته۔

(حلية ابی نعيم ١/٨) والصحيحة (٢٠٠١) صحيح الجامع (٤٢٦٧) باسناد حسن)

او دا قول ابن کثیرؒ غوره کړیدې، او ددې اُمت په فضیلت کښې ئې ډیر احادیث ذکر کړیدی.

(۲) یا د اولین نه مراد پخواني قومونه دي، او آخرین نه مراد دا امت دې، او دا په نسبت د پخوانو کم دي، ځکه چه پخواني انبیاء علیهم السلام زیات وو نو تابعدارئې هم زیات دي.

شوکانيؒ لیکي چه دا قول په صحیح مسلم کښې د عبد الله بن مسعود ﷺ نه د نقل شوي حدیث مخالف نهٔ دې چه په هغې کښې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي :

[اِنِّیْ لَاَرْجُوْا اَنْ تَكُوْنُوْا رُبْعَ اَهْلِ الْجَنَّةِ] (بخاری : ۳۳۴۸، مسلم : ۵۵۱)

((زما قوي امید دې چه ستاسو شماره به د جنتیانو څلورمه برخه وي. بیائې وفرمایل : دریمه برخه به وي. بیائې وفرمایل : ستاسو شماره به د جنتیانو نیمائي وي)).

ځکه چه په آیت کښې د الله تعالیٰ د مقرب ترینو بندګانو ذکر راغلې دې، او په حدیث کښې د عامو جنتیانو ذکر دې، چه دوئ ته قرآن ﴿ أَصْحَابُ الْيَمِينِ ﴾ (ښي لاس والا) وئیلي دي، یعنی د امتِ محمدیه د اصحاب الیمین او د مقربینو مجموعي شماره به د جنتیانو نیمائي شماره وي.

عَلٰى سُرُرٍ: د الله تعالیٰ دا مقرّب بندګان به په داسې تختونو ناست وي چه په هغې کښې به سرهٔ زر، ملغلرې او جواهر چراؤ شوي وي، او تول به یو بل ته مخامخ وي، د ټولو مرتبې به برابرې وي، او د دوئ ترمینځه به هیڅ پرده رکاوټ نهٔ وي.

سُرُرٍ: جمع د سریر ده، کټونه او کرسئ او هغه اُوچت ځایونه د ناستې چه د راحت او کرامت دپاره مقرر کړې شوي وي.

مَّوْضُوْنَةٍ: یعنی اُودلې شوي د سرو زرو نه او د ملغلرو او یاقوتو نه. او وضن هغه دوچنده اُودلو ته وئیلې شي چه په یو بل باندې دپاسه شي.

او ابن عباس ﷺ د موضونة معنیٰ په مَصْفُوْفَةٌ سره کړیده. یعنی صفونه صفونه کړې شوي وي به وي.

مُتَّكِئِيْنَ عَلَيْهَا : کلبيؒ وائي : د هر کټ او تخت اُوږدوالې به درې سوه ګزه وي، نو کله چه یو بنده اراده وکړي چه په هغې باندې کیني نو هغه به عاجزي وکړي، او دهٔ ته به راخکته شي خو کله چه دې پرې کیني نو هغه به پورته شي.

مُتَقَابِلِيْنَ: يعنى دوئ به ښائسته ژوند او ښکلے اخلاقو او خالصے مينے والا وى.

وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ : يعنى د دوئ د خدمت لپاره به هر وخت دوئ نه گير چاپيره داسے هلكان موجود وى چه هغوئ به نۀ بو ډاگان كيږى، اونۀ به د هغوئ شكلو نه بدليږى، او نۀ به هغه مړۀ كيږى. مُخَلَّدُوْنَ لفظ دے ټولو ته شامل دے.

بعضِ وائى چه دا به د مسلمانانو واړۀ بچے وى چه د نيك عمل كولو نه مخكښ مړۀ شوى وى.

د بعضو خيال دے چه دا به د مشركانو بچى وى.

او دريم قول دا دے چه دا به الله تعالىٰ د جنتيانو د خدمت دپاره په جنت كښ پيدا كوى. والله اعلم.

دا هلكان به د الله مقربو بندگانو ته په قِسما قِسم پيالو كښ رنگا رنگ مشروبات او شراب ډكوى او پيش كوى به ئے چه دے سره به دوئ انتهائى خوندونه حاصلوى، او ددے د څكلو په وجه به دوئ ته هيڅ تكليف نۀ وى، نۀ به نشه كيږى، او نۀ به د دوئ په عقلونو څۀ اثر كيږى. او دا هلكان به دوئ ته د دوئ د خوښے ميوے پيش كوى.

حافظ ابن كثيرؒ ليكى : دا آيت دليل دے چه په يو لوښى كښ موجوده ميوه جاتو نه څانله ميوے چونړ كول او خوړل جائز دى،

او ددے تائيد د عكراش ﷺ د حديث نه كيږى چه د نبى كريم ﷺ خواته ثريد راغے، نو عكراش د لوښى د هر اړخ نه خوراك شروع كړو. نبى ﷺ د هغۀ لاس اونيولو، وئيلے : عكراشه ! د يو ځائے نه خوراك كوه. نبى ﷺ ته كهجورے راوړے شوے نو عكراش د خپلے مخے نه خوراك شروع كړو، او رسول الله ﷺ د پليټ نه چونړ كولو سره راخستلے. نبى ﷺ وفرمايل : اے عكراش ! د كوم ځائے نه چه غواړے خوراك كوه، ځكه چه ټولے كهجورے يو شان نۀ دى.

دا حديث ترمذيؒ روايت كړے او ديته ئے غريب وئيلى. ليكن سند ئے ضعيف دے.

(فى اسناده العلاء بن الفضل وعبيد الله بن عكراش منكر الحديث).

او دا هلكان به د دوئ د رغبت او خواهش مطابق د قِسما قِسم مرغو د وريت كړو او پخ كړو غوښو نه پليټونه ډكوى او هغوئ ته به ئے پيش كوى.

فوائد الالفاظ :

اکواب جمع د کوب ده، هغه گول پیاله (گلاس) چه هغه خوله او کړئ نهٔ لري۔
وَّاَبَارِيْقَ: جمع د اِبْرِيْقُ ده، د کړئ او خرتم والا وی او ابریق ورته ځکه وائی چه دا د برق نه دے پرق ته وائی، نو ددے رنگ به د صفائی په وجه پرقیږی، او ددے دننه طرف به هم ښکاره کیږی لکه چه ظاهر طرف ئے ښکاری۔
وَكَاْسٍ: د شرابو ډکے کاسے او گلاس ته وئیلے شی۔
مَّعِيْنٍ: ١- اَیُ خَمرٍ جَارِیَةٍ۔ د روانو شرابو نه۔ ٢- یا د خالصو شرابو نه۔
٣- یا مِنُ مَاءٍ جَارٍ۔ د روانو اُوبو نه۔
لَا يُصَدَّعُوْنَ: دا د صُدَاع نه دے، د سر درد ته وائی۔
وَلَا يُنْزِفُوْنَ: ١- اَیُ لَایَفِنُوْنَ۔ د هغے نه به التمئ نهٔ ورځی۔
٢- لَایُسکَرُوْنَ فَتَذْهَبُ عُقُوْلُهُمْ۔ داسے به نهٔ نشه کیږی چه د هغے په وجه ئے عقلونه ختم شی۔
د ضحاکؒ نه نقل دی چه د دنیا په شرابو کښ څلور ناکاره صفات دی، د سر درد، قے کول، نشه کیدل، بَول راتلل او شراب د جنت ددے ټولو قبائحو نه پاك دی۔
مِّمَّا يَتَخَيَّرُوْنَ: اَیُ یَختَارُوْنَهٗ۔ د هغے نه چه دوی ئے غوره کوی۔
پدے کښ اشاره ده چه د میوو ډیر قسمونه به وی نو هر څوك به د خپلے خوښے مطابق د هغے نه خوری۔
مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ: د فاکهے سره ئے د تخیّر لفظ ذکر کړو او د غوښے سره اِشتهاء؟
پدے کښ ډیر بلاغت دے ځکه چه د وږی انسان اشتهاء (شوق) کیږی، او د موړ انسان اشتهاء نهٔ وی بلکه هغه په خپله خوښه د مزاج مطابق میوه ځانله راخلی۔
(او چونکه جنتیان خوراك د لوږے د وجه نه نهٔ کوی بلکه د تفکه (مزے اخستو) د وجے نه ئے کوی) او همدا وجه ده چه فاکهه ئے په لحم باندے مقدم کړه۔ (فتح البیان)

وَحُورٌ عِينٌ ﴿۲۲﴾ كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴿۲۳﴾
او (دوی لره به وی) حورے غټے سترګو والا۔ پشان د ملغلرو پټو ساتلے شوو۔
جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۲٤﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا
بدله ورکولے شی په سبب د هغے عملونو چه دوی به کول۔ نۀ به آوری په هغے کښې
لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴿۲٥﴾ إِلَّا قِيلًا سَلَامًا سَلَامًا ﴿۲٦﴾ وَأَصْحَابُ الْيَمِينِ
بے ځایه خبره او نۀ د ګناه خبره۔ مګر وینا به وی سلام سلام۔ او ښی لاس والا خلق،
مَا أَصْحَابُ الْيَمِينِ ﴿۲۷﴾ فِي سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴿۲۸﴾
څه لوئی شان دے د ښی لاس والو۔ (دوی به) په بیرو کښې وی چه بے ازغو به وی،
وَطَلْحٍ مَّنْضُودٍ ﴿۲۹﴾ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴿۳۰﴾
او په کیلو کښې به وی چه لاندے باندے جوخټے وی۔ او سوری اُوږده کړے شوی۔
وَمَاءٍ مَّسْكُوبٍ ﴿۳۱﴾ وَفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ﴿۳۲﴾ لَّا
او په اُوبو روانو کړے شوو (په مخ د زمکه باندے)، او په میوو ډیرو کښې چه نۀ به
مَقْطُوعَةٍ وَّلَا مَمْنُوعَةٍ ﴿۳۳﴾ وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴿۳٤﴾
ختمیږی او نۀ به ترینه منع کیدے شی۔او په بسترو اُوچتو درجو والا کښې به وی۔

تفسیر :وَحُورٌ: دا عطف دے په وِلْدَانٌ باندے، یا خبر د مبتداء محذوفے دے (لَهُمْ حُورٌ) یعنی د دوئ دپاره به حورے وی غټو، فراخه او ښائسته سترګو والا، چه هغه به په سپیځ کښې د بندو ملغلرو غونته بے داغه او سپینے وی، او دا حورے به دوئ ته د دوئ د نیکو عملونو په سبب ملاویږی کوم چه دوئ په دنیا کښې د الله د رضا له خاطره کول۔

او په دے جنتونو کښې به دوئ هیڅ بے فائدے خبرے او بکواس نۀ آوری، هلته به صرف ښه او کره خبره آوری، او یو بل ته به زیرے ورکوی چه اُوس ستاسو دپاره همیشه د هر یو غم او درد او خفګان نه سلامتیا ده۔

مفسرين ليكي : دا آيت دليل دے چه جنت والا به خپل مينځ كښ ډيرے پاكيزه خبرے اترے كوي، چه دے سره به خپلو كښ برخور كيږي او د هيڅا زړۀ به نۀ آزاريږي۔ د ذو الجلال والاكرام رب نه دعاء ده چه هغه په مونږ باندے هم مهرباني وكړي او جنت ته مو په خپل رحمت سره داخل كړي۔

إِلَّا قِيلًا سَلَامًا : دا اِستثناء متصل ده د جنس بعيد نه۔ ځكه چه لغو هم كلام دے، او سلام هم كلام دے۔او استثناء كله د جنس قريب نه وي او كله د جنس بعيد نه۔ او همدا خبره غوره ده، اگركه بعض مفسرينو بعيده گڼلے ده۔

او بعض علماء وائي چه سلام خو د لغو د جنس نه نۀ دے نو پدے وجه هغوی دا استثناء منقطع گرځوي، اَیْ لٰكِنْ يَسْمَعُوْنَ قِيْلًا سَلَامًا ۔ او قيل په معنىٰ د قول سره دے، يعني ليكن دوئ به آوري وينا سلامتيا والا۔

يا معنىٰ دا ده چه دوي به آوري د يو بل نه سلامونه سلامونه۔ يعني يو بل ته به ډالئ د سلام وركوي۔ او قيل كښ اشاره ده چه دا سلامونه به د ملائكو د طرف نه هم وي، او د الله د طرفنه به هم وي او د يو بل د طرفنه هم۔

وَأَصْحَابُ الْيَمِينِ : اُوس د جنتيانو دويمه ډله ذكر كيږي، او د هغوی هم كامل بشارت ذكر كوي۔

مَا أَصْحَابُ الْيَمِينِ : يعني ددے ښي اړخ والو تپوس څۀ له كوے، دا خو به ډير اُوچت خلق وي، او د دوئ سعادت او نيك بختي به د آسمان ستورو ته رسيدلي وي۔

فِي سِدْرٍ مَّخْضُودٍ : دوئ له به داسے بيرے وي چه هغه به د ازغو او نقصان دِهٔ ښاخونو او پاڼړو نه بيخي پاكے وي۔

مَّخْضُودٍ : (۱) اَلَّذِيْ خُضِدَ شَوْكُهٗ۔ هغه چه ازغي ئے پريكړے شوي وي، نو هيڅ ازغي به پكښ نۀ وي۔

(۲) ضحاكؒ، مجاهدؒ، مقاتل بن حيانؒ وائي : سدر مخضود هغه ده چه د بار نه ډكه وي۔

بعض وائي : ددے بيرو ميوے به د منگو نه غټے وي۔

وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ : او كيلے به وي چه هغه به پورته نه لاندے پورے د ميوو نه ډكے وي۔

سُديؒ وئيلي دي چه د جنت كيلے به د دنيا د كيلو سره مشابه وي، ليكن هغه به د شاتو نه هم ډيرے خوږے وي۔

وَطَلْحٍ: طلح جمع د طَلْحَةٌ ده، د کیلو ونے ته وائی۔
او زجاجؒ وئیلی دی چه دا بله ونه ده چه عربو به ورته اُمّ غَيْلان وئیله، او ددے مزیدار خوشبویه ګلان دی، او عربو ته به دا ډیره محبوبه وه نو د هغوی د محبت مطابق ونه ذکر شوه اګرکه هغه به د دنیا د ونو نه ډیره زیاته غوره وی۔
مَّنْضُوْدٍ: [اَيِ الْمُتَرَاكِبِ الَّذِيْ قَدْ نُضِدَ اَوَّلُهٗ وَآخِرُهٗ وَاَسْفَلُهٗ وَاَعْلَاهُ بِالْحَمْلِ لَيْسَ لَهٗ سُوْقٌ بَارِزَةٌ] یعنی د هغے میوه به د یو بل سره داسے انختے وی چه تنه به ئے تهوله پټه وی۔
وَظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ: او د نظر لګیدو پورے به سوری خوارۀ شوی وی چه هیڅ کله به هغه نۀ ختمیږی۔ او عرب هر هغه اُوږد شی ته چه نۀ منقطع کیږی ممدود وائی۔
د ربیع بن انسؒ وینا ده چه دا به د عرش سورے وی۔
او په حدیث د بخاریؒ او مسلمؒ کښ د ابو هریره ﷺ نه مرفوعاً نقل دی چه (په جنت کښ یوه ونه ده چه د هغے په سوری کښ سُور انسان سل کاله مزل وکړی هغه به قطع نکړی، (بیا ئے وفرمایل) ولولئ که غواړئ (وَظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ))
(بخاری بدء الخلق باب۸، وتفسیر سورة ۵۶، باب ۱ ومسلم فی الجنة حدیث ۸،۷،۶) وغیره۔
وَمَاءٍ مَّسْكُوْبٍ: یعنی هر طرفته به بهیدونکی نهرونه اوچینے وی، چه د هغے اوبۀ به هیڅ کله نۀ اُوچیږی، او نۀ به خپله تازګی د لاسه ورکوی۔ یعنی دا به داسے روانے وی چه هیڅ حد (پوله) او کنده به نۀ لری، لکه په روایت د انس کښ دی : (فِيْ غَيْرِ اُخْدُوْدٍ) یعنی لښتی به نۀ غواړی۔
وَفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ : او قِسما قِسم تهولے میوے به ملاویږی چه هغه به هیڅ کله هم نۀ ختمیږی، او کله چه غواړی د دوئ مخے ته به موجود وی، په خِلاف د دنیوی میوو نه، چه هغه که د یخنئ په زمانه کښ ملاویږی نو د ګرمئ په زمانه کښ نۀ ملاویږی، او که ګرمئ کښ ملاویږی نو په یخنئ کښ نۀ ملاویږی، او کله داسے وی چه موسم راشی او تیر شی او په ونو کښ میوے ونۀ لګی۔
لَّا مَقْطُوْعَةٍ: یعنی په هیڅ وخت کښ به نۀ قطع کیږی بلکه همیشه به ملاویږی۔
وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ: یعنی په هیڅ وخت کښ به د چا نه نۀ منع کیږی، ددے نه به هیڅ مانع نۀ واقع کیږی، نۀ پیسے، او نۀ دیوال او نۀ دروازه، او نۀ پوړئ، او نۀ لرے والے او نۀ بیماری۔ دنیا کښ بعض نعمتونه مقطوع او بعض ممنوع وی۔

ابن قُتیبهٔ وائی : یعنی اِنَّهَا غَیْرُ مَحْظُوْرَةٍ عَلَیْهَا كَمَا یُحْظَرُ عَلَی الْبَسَاتِیْنِ فِی الدُّنْیَا۔
یعنی په دے میوو باندے به شپول نهٔ وی وهلے شوے لکه څنګه چه په دنیا کښ باغونو ته د ازغو شپول وهلے شوے وی۔ (فتح البیان)

وَفُرُشٍ مَّرْفُوْعَةٍ: ۱– اَیْ بُسُطٍ مَرْفُوْعٍ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ۔ (بسترے به وی چه بعض به په بعضو باندے پورته کړے شوی وی)۔
۲– اَوْ مَرْفُوْعَةٍ عَلَی الْاَسِرَّةِ۔ په کټونو به پورته کړے شوی وی۔
۳– بعض وائی : فرش کنایه ده د جنتی زنانو نه۔ او د پورته والی نه مراد دا چه د جنتیانو د خوند اخستلو دپاره به په عالیشان بسترو باندے ناستے وی۔
یا مُرْتَفِعَاتُ الْاَقْدَارِ فِی الْحُسْنِ وَالْكَمَالِ ۔ یعنی هغه به په حُسن او جمال کښ بے مثاله وی۔ او د دوئ مرتبے به ډیرے اُوچتے وی۔

اِنَّا اَنْشَاْنٰهُنَّ اِنْشَآءً ﴿۳۵﴾ فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا ﴿۳۶﴾ عُرُبًا
یقیناً مونږ به پیدا کړو زنانو لره په ناشنا پیدا کولو سره۔ عاشقے به وی په خاوندانو،
اَتْرَابًا ﴿۳۷﴾ لِّاَصْحٰبِ الْیَمِیْنِ ﴿۳۸﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۳۹﴾
همزولے به وی۔ دپاره د ښی لاس والو۔ دوی ډلے دی د مخکنو امتونو نه۔
وَثُلَّةٌ مِّنَ الْاٰخِرِیْنَ ﴿۴۰﴾
او ډلے دی د روستنو نه۔

تفسیر : اَنْشَاْنٰهُنَّ: ضمیر حور عین ته راجع دے۔ (۱) اَیْ اَبْدَعْنَاهُنَّ اِبْدَاعًا۔
یعنی مونږ به دغه حورے په غیر د ولادت نه نوی راپیدا کړو په جنت کښ چه دا به د آدم علیه السلام د نسل نه نهٔ وی بلکه نوے ایجاد به وی۔ (قاله ابو عبیدهٔ وغیره)
(۲) یا ددے نه مراد د دنیا زنانه دی چه دوئ به په جنت کښ په نوی پیدائش سره پیدا شی، او ځوانے جینکئ به ترے جوړے شی۔ لکه یو بوډئ ته رسول الله ﷺ په طریقه د مزاح وفرمایل چه [یَا اُمَّ فُلَانٍ اِنَّ الْجَنَّةَ لَا یَدْخُلُهَا عَجُوْزٌ]
بوډئ ګانے زنانه به جنت ته نهٔ ځی، نو هغه خفه شوه بیا ورته رسول الله ﷺ وفرمایل :

[أَخْبِرُوْهَا أَنَّهَا لَا تَدْخُلُهَا وَهِيَ عَجُوْزٌ] ورشئ خبر ورکړئ چه تا په قرآن کښې نهٔ دی لوستلی چه (اِنَّا اَنْشَأْنَاهُنَّ اِنْشَاءً) مونږ به دا زنانه په دوباره پیدائش سره پیدا کړو او پیغلے به ترے جوړے کړو۔ یعنی د بوډئ والی په صفت به نهٔ داخلیږی۔

(شمائل الترمذی ۲/۳۹ بشرحه والبغوی فی تفسیره۸/۱٤) وصححه الالبانی فی الصحیحة (۲۹۸۷)

او همیشه دپاره به ځوانے جوړے شی۔ لکه د حورو په شان۔

او پدے صورت کښې به دا ضمیر فُرُشٍ مَرْفُوْعَة تـه راجـع وی ځـکـه چه د هغے نه په یو تفسیر سره زنانه مراد وے۔

لـکـه د سورۂ یسٓ په (٥٦) آیت کښې راغلی دی: ﴿هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِيْ ظِلَالٍ عَلَى الْأَرَائِكِ مُتَّكِئُوْنَ﴾ (دوئ او د دوئ ښځے بـه پـه سورو کښې په پالنگونو باندے تکیه وهلی ناست وی)۔

أَبْكَارًا: ۱- پیغلے او باکرے به ترے جوړے کړو۔

۲- یا دا چه سړی ورته هرکله راتلل کوی نو هغه به پیغلے مونده کوی۔ (قاله مسیب بن شریکؒ) (قرطبیؒ)

عُرُبًا أَتْرَابًا: یعنی دا زنانه به د خپل حُسن او جمال، د خبرو د طرز، چال چلن، د بدن او د آواز د خوږ والی پـه وجـه هـر وخـت خپـل خاوندان داسے خوشحاله او تازه ساتی چه د هغے تعبیر په انسانی الفاظو کښې نشی کیدے۔او دا ټولے ښځے به همزولے وی۔

سدیؒ وئیلی دی چه دا ټولے به په شریفو اخلاقو کښې یو شان وی، خپلو کښې به یو بل سره مینه محبت کوی، او د بغض او حسد نه به ډیرے لرے وی۔

عُرُبًا: جمع د عَرُوْبٌ ده د اَعْرَب نـه اخستے شویدے، په معنیٰ د ښکاره کولو سره، نو دا بـه هـم هغه زنانه وی چه په خپل شکل او ناز او ښائسته خبرو سره به خپلو خاوندانو ته محبت ښکاره کوی۔ دلته ئے معنیٰ ده:

۱- [اَلْمُتَحَبِّبَةُ اِلٰى اَزْوَاجِهَا] خپـلـو خاوندانو ته خپل محبت ورکوی او د هغوی محبت به خپل ځان ته راکاږی۔

۲-اَلْحَسَنَةُ التَّبَعُّلِ۔ ښائسته کور والے به کوی۔

۳- عَوَاشِقُ لِاَزْوَاجِهِنَّ وَاَزْوَاجُهُنَّ لَهُنَّ عَاشِقُوْنَ۔ (ابن عباسؓ ومجاهدؒ)

په خپلو خاوندانو باندے به عاشقے وی، او خاوندان به په دوئ باندے عاشقان وی۔

٤- ابن زیدؒ وائی : اَلْغَنِجَةُ- یعنی ناز او نخرو والا به وی (یعنی رومانسی (رومینټك) به وی/نازکې خبرې به کوی) چه خاوندانو له به ډیر خوند ورکوی.

٥- اَلْحَسَنَةُ الْكَلَامِ- (زید بن اسلمؒ) ښائسته خوږو خبرو والا به وی.

أَتْرَابًا: همزولی به وی.

١- سُدیؒ وائی : اَتْرَابًا فِي الْاَخْلَاقِ لَاتَبَاغُضَ بَيْنَهُنَّ وَلَا تَحَاسُدَ.

په اخلاقو کښې به یو شان وی چه د هغوی ترمینځ به هیڅ بغض او حسد نهٔ وی.

٢- أَتْرَابًا: په عُمر کښې به د یو بل سره یو شان وی، او د خاوندانو سره به هم همزولی وی، او په حدیث کښې دی : چه د درې دیرشو کالو په عمر به وی. او همزولتیا په محبت کښې ډیر مضبوطیا راولی.

په زنانو کښې همزولو ته اتراب وئیلې شی، او په سړو کښې ورته اقران وائی. (فتح البیان)

امام ترمذیؒ د معاذ بن جبل ﷺ نه روایت راوړیدې چه رسول الله ﷺ وفرمایل :

[يَدْخُلُ اَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ جُرْدًا مُرْدًا مُكَحَّلِيْنَ اَبْنَاءَ ثَلَاثِيْنَ اَوْ ثَلَاثٍ وَّثَلَاثِيْنَ سَنَةً]

جنتیان به جنت ته د ویښتو نه صفا مخونو سره داخلیږی چه رنجینې سترګې به ئې وی او د دیرشو یا درې دیرشو کالو په عمر به وی.

(ترمذی : ٢٥٤٥) واحمد (٧٩٢٠) واسناده حسن- البانی وشعیب)

لِأَصْحَابِ الْيَمِيْنِ: دا ښځې به د الله له خوا هغه جنتیانو ته ملاویږی چه هغوئ ته به د قیامت په ورځ د عرش ښی اړخ ته ځای ملاویږی، یا عملنامې به په ښی لاس ورکولې شی.

دا متعلق دې په (اَنْشَأْنَاهُنَّ) پورې، یا د اَتْرَابًا پورې.

ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ : ١- ذ اولین نه مراد پخوانی امتونه دی، او د آخرین نه دا امت مراد دې. او اصحاب الیمین په پخوانو او دې امت کښې هم زیات دی.

(٢) د ابو العالیهؒ، مجاهدؒ، عطاءؒ او ضحاكؒ وغیره خیال دادې چه د ﴿ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴾ نه مراد د امتِ محمدیه د اولنئ زمانې خلق دی،

او د ﴿ وَثُلَّةٌ مِّنَ الْآخِرِيْنَ ﴾ نه مراد هغه نیکان خلق دی چه هغوئ د اولنئ زمانې نه روستو راغلی دی، او د امتِ محمدیه هغه تمام نیکان په دې کښې شامل دی چه قیامته پورې پیدا کیږی.

وَأَصْحَابُ الشِّمَالِ مَا أَصْحَابُ الشِّمَالِ ﴿٤١﴾ فِي سَمُوْمٍ
او گس لاس والا څه (بد حال والا) دی گس لاس والا۔ په گرمو هواگانو کښې
وَّحَمِيْمٍ ﴿٤٢﴾ وَظِلٍّ مِّنْ يَّحْمُوْمٍ ﴿٤٣﴾ لَّا بَارِدٍ
او خوټ کیدلو اُوبو کښې به وی۔ او په سوری کښې د لوگی نه۔ نۀ به یخ وی
وَلَا كَرِيْمٍ ﴿٤٤﴾ إِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ ﴿٤٥﴾
او نۀ به فائده مند وی۔ یقیناً دوی وو مخکښې ددے نه ډیر مست (په مالونو د دنیا)۔
وَكَانُوْا يُصِرُّوْنَ عَلَى الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ
او وو دوی چه همیشوالے به ئے کولو په گناه لویه باندے۔ او وو دوی چه وئیل به ئے
أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا أَئِنَّا
آیا کله چه مړۀ شو مونږ او شو خاورے او هډوکی آیا مونږ به
لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿٤٧﴾ أَوَ آبَاؤُنَا الْأَوَّلُوْنَ ﴿٤٨﴾
دوباره پورته کیدے شو۔ آیا او پلاران زمونږ مخکنی۔

تفسیر: اُوس د گس اړخ والو جهنمیانو حال ذکر کیږی چه دوئ ته ئے په (۹) آیت کښې ﴿أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ﴾ وئیلی دی، او په دے آیت کښې ئے دوئ ته ﴿أَصْحَابُ الشِّمَال﴾ وئیلی دی، یعنی هغه شریان او بدبخته خلق چه هغوئ ته به د عرش گس اړخ ته ځای ملاویږی، او د کومو عملنامے چه په گس لاس کښې دوئ ته ورکړے کیږی، دا به ډیر بد قِسمته خلق وی، ځکه د دوئ استوگنه به جهنم وی، چه د هغے بړاس، او یشیدلے اوبۀ به د دوئ بدنونه په هر وخت کښې بے آرامه او پریشان ساتی، او د دوئ په سرونو به د اُور او د تور لوگی سورے وی، چه په هغے کښې به نۀ یخوالے وی، او نۀ بله کومه ښیگړه، ولے چه دا به د جهنم د اُور لوگے وی چه هغه به بیحده وحشتناك او دردناك وی۔

سَمُوْمٍ: ۱- گرم لوږی ته وائی چه د انسان د بدن په مساماتو (سورو) کښې ننوزی۔

۲- یا سموم گرم اُور ته وائی۔ او حمیم گرمے او خوټ کیدلے اُوبۀ دی۔

يَّحْمُوْمٍ: ١- د جهنم تور لوږی ته وائی- (ابن عباس ﷺ)
٢- بعض وائی : دا په جهنم کښ يوه کنده ده- يحموم د اَحَمّ يا د حَمِيْمٌ نه دے، تك تور ته وائی- او معنیٰ دا ده چه دوئ به د جهنم نه سوری ته پناهی ويسی نو هغه به داسے سورے وموسی چه د جهنم لوږے به وی او تك تور به وی-
٣- بعض وائی : دا د حُمَمٌ نه دے، سکارو او ايرو ته وئيلے شی- يعنی دا سورے به د سکارو او ايرو نه ډك وی- يعنی دوئ ته خو به اول کښ سورے ښکاری خو چه ورشی نو تور لوگے او سکاره او ايرے به وی-
او پدے ترتيب کښ د دوئ سخت او هميشه عذاب ته اشاره ده ځکه چه دوئ د اُور د گرمئ نه تنگ شی، نو هوا به وغواړی نو هغه به سموم وی، بيا به اُوبه وغواړی نو هغه به حميم وی، بيا به سورے غواړی نو هغه به هم گرم او تور لوگے او بے فائدے وی-
لَّا بَارِدٍ وَّلَا كَرِيْمٍ: يعنی دا سورے به د نورو سورو په شان يخ نهٔ وی بلکه گرم به وی، او نهٔ به ددے منظر (کتنه) ښائسته وی- او هيڅ خير به پکښ نهٔ وی-
په سوری کښ همدا دوه فائدے وی چه يخوالے او عزت ځکه چه څوك گرمئ کښ وی نو ظاهری لرِ شان بے عزته وی-
إِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ : د دوئ به دا بد انجام ځکه وی چه دوئ د دنيا په ژوند کښ په بدنی خوندونو او شهوتونو کښ ډوب شوی وو، او کبر او غرور او شرك او گناهونه د دوئ چلن وو، دے خلقو به غټ غټ گناهونه کول، او په دے به نهٔ خپيمانه کيدل چه د الله په حضور کښ ئے ددے نه توبه کړے وے-
١- حسنؒ، ضحاكؒ او ابن زيدؒ وغيره د ﴿ الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ ﴾ (غټے گناه) نه مراد شرك او کفر اخستے دے، يعنی دے خلقو به شرك کولو، او ددے نه به ئے توبه نهٔ اوخکله- او حنث قسم ماتولو ته وئيلے شی، او شرك هم د الله وعده او عهد ماتول دی-
٢- امام شعبیؒ وائی : هُوَ الْيَمِيْنُ الْغَمُوْسُ - حنث عظيم په دروغو قسم کول دی- او مشرکانو به هم دا قسم کولو چه دوی به دوباره نهٔ راپورته کيږی- نو الله پدے خبره کښ دروغژن کړل-
مُتْرَفِيْنَ: د اِتْرَافٌ نه دے، د دنيا په نعمتونو او مزو او شهواتو سره ډير مشغوله کيدو ته وئيلے شی ترد ے چه د دين نه بيخی ناخبره شی، او د توحيد او سنت نه تکبر شروع کړی-

يعني داسې مست او مالداره خلق چه د هغې په وجه په تکبر کښې راغلي وو.
وَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ: يعني دې خلقو به د مرګ نه پس ژوند د عقل نه لرې ګنړلو، وئيلې به ئې: دا نشي کيدې چه مونږ کله مړهٔ شو او خاورې شو او ز مونږ صرف هډوکي پاتې شي نو مونږ به دوباره ژوندي کيږو. لکه څنګه چه د سورتِ نحل په (۳۸) آيت کښې راغلي دي: ﴿ وَأَقْسَمُوْا بِاللهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللهُ مَنْ يَّمُوْتُ ﴾ (دوئ به د الله په نوم لوی لوی قسمونه کول چه کوم انسانان مړهٔ شي الله به هغوئ دوباره نهٔ ژوندي کوی).
او دې خلقو به د خپلو ځانونو نه زيات د خپلو هغه پلاران نيکونو ژوندي کيدل د عقل نه لرې ګنړل چه د هغوئ په مړينې باندې يوه زمانه تيره شوې ده.
أَئِذَا: دا استفهام د انکار او استبعاد (لرې ګنړلو) دپاره دې.

قُلْ إِنَّ الْأَوَّلِيْنَ وَالْآخِرِيْنَ ﴿٤٩﴾ لَمَجْمُوْعُوْنَ إِلٰى مِيْقَاتِ
تهٔ اُووايه يقيناً مخکني خلق او روستني خلق ضرور به راجمع کړې شي مقرر وخت
يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٥٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا الضَّالُّوْنَ الْمُكَذِّبُوْنَ ﴿٥١﴾
د ورځې معلومې ته. بيا يقيناً تاسو به اې ګمراهانو دروغژن ګنړونکو (الله او آخرت
لَآكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ ﴿٥٢﴾ فَمَالِئُوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ﴿٥٣﴾
لره). خامخا خورئ به تاسو د ونې د زقوم نه. نو ډکونکي به يئ د هغې نه خيټې لره.
فَشَارِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ﴿٥٤﴾ فَشَارِبُوْنَ شُرْبَ
نو څکونکي به يئ دپاسه د هغې د ګرمو اُوبو نه. نو څکونکي به يئ پشان د څکلو
الْهِيْمِ ﴿٥٥﴾ هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٥٦﴾
د تږي اُوښانو. دا ميلمستيا د دوی ده په ورځ د جزا.

تفسير: يعني تهٔ دوی ته جواب ورکړه چه د آدم تمام اولاد چه هغوئ په تيرو شوو زمانو کښې تير شويدي، او کوم چه اُوس موجود دي، چه په هغې کښې تاسو هم يئ، او هغه تمام خلق چه راتلونکې دنيا پورې پيدا کيږي، ټول په ټوله به د محشر په ميدان کښې جمع کولې شي، هيڅ يو انسان به هم هيچرته لاړ نشي.

الله تعالی د سورتِ هود په (۱۰۳) آیت کښې فرمایلي دي: ﴿ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ لَّهُ النَّاسُ وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ﴾ (دابه داسې ورځ وي چه په دې کښې به خلق راجمع کولے شي، او دا به داسې ورځ وي چه په هغې کښې به ټول خلق حاضر کړې شي).

أَيُّهَا الضَّالُّوْنَ: پدې آيتونو کښې د جهنميانو د عذاب اسباب ذکر شول چه هغه حنث عظيم (شرك)، د قيامت نه انکار، ضلالت او تکذيب د حق دې.

فَمَالِئُوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ: يعنې د لوږې د سختئ د لاسه به تاسو دا خورئ، تردې چه خپلې خيټې به ډکوئ. بيا به تاسو سخت تږي شئ، چه ددې تندې مړ کولو دپاره به تاسو ته نهايتې گرمې جوشيدلې اوبۀ ملاوېږي، چه دا به تاسو د هغه بيمار اُوښ غونته څکئ چه هغه هيڅ کله خړوبه کيږي نۀ.

الْهِيْمِ؛ جمع د اَهْيَم او د هَائِم ده. ۱- يعنې تږې/ خاربښتی اُوښ)

دا هغه اُوښ ته وائي چه د هغه په معده باندې خاربښ ولګي نو بيا خپل ځټ کوږ وړي، بدن کښې چه کله ګرمي پيدا شي نو خاربښ ولګي، او بيا د ګرمئ نه انسان تږې کيږي هم زيات، نو د ګرمئ د وجه نه به دغه اُوښ چه کله اُوبو ته راغلو نو په اُوبو به ورغورزيدو، نو دوئ به هم دغه شان تږي وي چه په اُوبو به ځان وغورزوي نو چه ويخکي لاندې به تږې کولې وياسي.

(۲) ضحاكؒ، ابن عيينهؒ، اخفشؒ او ابن کيسانؒ وائي چه [هِيْم] شګلنې زمکې ته وائي، چه هغه اوبۀ راکاږي، او دپاسه په هغې باندې هيڅ اثر باقي نۀ پاتې کيږي. جهنميان به هم د سختې تندې د لاسه جوشيدلې اُوبۀ څکي، او تنده به ئې ماتيږي نۀ.

هٰذَا نُزُلُهُمْ: په عربئ ژبه کښې [نُزُل] هغه مختصر شان خوراکے ته وائي چه د ميلمه د راتلو نه فوراً روسته پيش کولے شي، بيا د هغې نه پس نهايتې اهتمام سره د تکلف نه ډك خوراك پيش کولے شي.

ګويا په دې تعبير کښې دې طرفته اشاره ده چه هر کله د جهنميانو دپاره ابتدائي عذاب دا وي چه د هغې بيان پورته وشو، نو د هغه عذاب د سختئ به څۀ حال وي چه هغه دوئ ته هميشه لپاره په جهنم کښې ورکړې کيږي.

اې الله! په مونږ باندې د جهنم اُور حرام کړه، آمين.

نَحۡنُ خَلَقۡنٰكُمۡ فَلَوۡلَا تُصَدِّقُوۡنَ ﴿۵۷﴾ اَفَرَءَيۡتُمۡ
مونږ پیدا کړي يئ تاسو نو ولې تصدیق (یقین) نۀ کوئ۔ آیا تاسو سوچ کړیدے
مَّا تُمۡنُوۡنَ ﴿۵۸﴾ ءَاَنۡتُمۡ تَخۡلُقُوۡنَهٗ
په هغه نطفه چه تاسو ئے اړوئ (په رَحِم کښې)۔ آیا تاسو شکل جوړوئ د هغے نه
اَمۡ نَحۡنُ الۡخٰلِقُوۡنَ ﴿۵۹﴾
او که مونږ شکل جوړونکي يو۔ (آیا تاسو ددے نه پیدائش کوئ او که مونږ پیدا
نَحۡنُ قَدَّرۡنَا بَيۡنَكُمُ الۡمَوۡتَ وَمَا نَحۡنُ
کونکي يو)۔ مونږ مقرر کړیدے په مینځ ستاسو کښې مرګ لره او نۀ يو مونږ
بِمَسۡبُوۡقِيۡنَ ﴿۶۰﴾ عَلٰٓى اَنۡ نُّبَدِّلَ اَمۡثَالَكُمۡ
عاجز کړے شوي۔ پدے خبره چه بدل کښې راولو ستاسو پشان خلق (چه بدل کړو
وَنُنۡشِئَكُمۡ فِىۡ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۶۱﴾
شکلونه ستاسو) او پیدا کړو تاسو په هغه شکلونو کښې چه تاسو پرے نۀ پو هیږئ۔

تفسیر: ددے ځای نه روستو د قیامت د اثبات دپاره دلیلونه ذکر کیږي۔

قریشو کافرانو به د مرګ نه پس دوباره ژوند دروغژن ګڼړلو، او وئیل به ئے : دا نشی کیدے چه کله مونږ مړۀ شو او خاورے شو، او ز مونږ صرف هډوکي پاتے شی، نو دوباره دِے ژوندی کړے شو۔ الله تعالیٰ د دوئ ددے ملحدانه شبهے رد کوی، او دوئ سره خبرے کوی فرمائی چه مونږ تاسو هغه وخت پیدا کړئ چه تاسو هیڅ هم نۀ وئ، نو کوم ذات چه اول ځل ستاسو په پیدا کولو باندے قادر وو، آیا هغه به تاسو دوباره پیدا نۀ کړے شي؟ دوباره پیدا کول خو زیات آسان وی۔ ستاسو په عقلونو کښې دا خبره ولے نۀ راځی؟

اَفَرَءَيۡتُمۡ: بل دلیل دا دے چه تاسو چه کله د خپلو بیبیانو سره کوروالے وکړئ نو د مَنی څاڅکے رحم ته څوك رسوی، نهه میاشتو او څو ورځو کښې د پیدائش د پړاوونو نه تیرولو سره څوك دا ژوندے انسان جوړوی، او د مور د خیټے نه ئے بهر را اوباسی؟

یقیناً هغه د الله ذات دے چه هغهٔ په ښځه او خاوند کښې شهوت پیدا کړو، د دوئ په زړونو کښې ئے یو بل دپاره کشش واچولو، او مجامعت اوکور والی طرفته ئے د دوئ رهنمائی وکړه، او د مور په رحم کښې ئے د مَنِي د څاڅکي پرورش وکړو، هغهٔ له ئے غوښه، پوستکے او د هډوکو ډانچه ورکړه، هغهٔ له ئے ډقیدونکے زړهٔ ورکړو، هغهٔ له ئے غوږونه، سترګے، او پوزه جوړه کړه، او هلته چه ددهٔ غتیدل پوره شو نو د مور رحم ته ئے حکم وکړو چه دهٔ له دیکه ورکړه او بهرئے را اوباسه۔ نو کوم الله تعالیٰ چه په دے قادر دے، هغه یقیناً د همدے انسان په دوباره پیدا کولو قادر دے۔

تُمْنُوْنَ: اَیْ تَقْذِفُوْنَ وَتَصُبُّوْنَ الْمَنِیَّ فِیْ اَرْحَامِ النِّسَاءِ۔ یعنی تاسو غورزوئ او اَړوئ منی په رَحِمونو د زنانو کښې۔

بعض معاصرینو اهل علمو ددے نه استدلال کړیدے چه په پیدائش د ماشوم کښې – نارینه وی که زنانه – د سړی منی لره اعتبار دے، او پیدائش هم ددے نه کیږی، او همدا خبره د جدید سائنس د تحقیقاتو سره هم مطابق ده۔ د سړی په منی کښې دوه قسمه سپرم وی، نارینه او زنانه، نارینه د Y په شکل او زنانه د X په شکل سره، هر یو چه بیضے ته مخکښې لاړ شی د هغے مطابق بچے پیدا کیږی، او د زنانه په ماده کښې صرف (X) وی، ددے وجه نه په طب کښې ددے علاجونه هم موجود دی چه د نارینه ماده بیضے ته مخکښې بوځی او د الله په حکم سره نارینه اولاد پیدا شی۔

نَحْنُ قَدَّرْنَا : مخکښې د پیدائش نعمت ذکر شو نو اُوس د هغے زوال ذکر کوی په دوباره ژوندی کولو سره۔ نو پدے کښې الله تعالیٰ د مرګ نه پس د ژوند حقیقت په یو بل انداز کښې بیان کړیے۔ فرمائی چه مونږ په تاسو کښې هر یو دپاره مرګ لازمی ګرځولے، چه ددے خبرے خبر ورکوی چه تاسو زمونږ د قبضے نه بهر نهٔ یئ، او نهٔ تاسو بیکاره پیدا شوی یئ، او نهٔ دا خبره صحیح ده چه تاسو مړهٔ شئ او خاورے شئ او دوباره به پورته کولے نشئ، بلکه تاسو به دوباره ژوندی کولے شئ، او تاسو سره به ستاسو د اعمالو حساب کیږی۔

الله تعالیٰ ددے خبرے نه عاجزه نهٔ دے چه هغه تاسو هلاك کړی او ستاسو په ځای ستاسو پشان نور خلق راولی، او تاسو په نورو شکلونو او صورتونو کښې پیدا کړی۔

حسنؒ وائی چه هغه تاسو د شادوګانو او خنزیرانو په شکل کښې پیدا کړی۔ نو کوم ذات

چه په دے تولو خبرو قادر دے، هغه به په آخرت کښ ستاسو د دوباره ژوندی کولو نه څنګه عاجزه او مانده کیږی ؟!

بِمَسْبُوْقِيْنَ: مسبوق دے ته وائی چه بل څوك ترے مخکښ شی، او دے روستو عاجز پاتے شی۔ یعنی تاسو زمونږ نه نشئ مخکښ کیدے چه مونږ مغلوب او عاجز کړئ۔

أَنْ نُبَدِّلَ أَمْثَالَكُمْ: ١- یو معنیٰ دا ده چه بدل کښ راوړو ستاسو مشابه خلق۔

٢- یا امثال اشخاصو ته وائی۔ یعنی چه بدل کړو ستاسو شخصونه۔

وَنُنْشِئَكُمْ فِيْ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ: ١- تاسو راپیدا کړو په هغه صورتونو او هیئتونو کښ چه تاسو ته نۀ دی معلوم۔ یعنی شادوګان او خنزیران او سپی درنه جوړ کړو۔ یا په هغه شکل چه صرف الله ته معلوم دے، یعنی بله بلا درنه جوړه کړو بیا به څه کوئ۔

٢- یا پس د مرګ نه مو په هغه شکلونو پیدا کړو چه تاسو په هغے باندے په دنیا کښ نۀ وئ۔ یعنی څوك سپین مخونو والا او څوك تور مخی۔

٣- بعض مفسرین وائی : د مرګ نه روستو بعض انسانانو لره درندګان وخوری نو د هغوی په بدن کښ مخلوط او بدل شی، او بعض انسانان خاورے شی او د هغه خاورو نه بوټی او ونے پیدا شی،

او بعض انسانان په معدنیاتو کښ خلط شی، نو د هغوی نه هغه معدنیات جوړ شی، نو دا امثال او اشکال مختلفه دی چه انسانانو ته د هغے علم نشته، لکه دے ته اشاره شویده چه سورة اسراء آیت (٥٠) کښ۔ (قاله الخطیب الشربینیؒ)

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْأَةَ الْأُوْلٰى فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٦٢﴾
او یقیناً تاسو ته معلوم دے پیدائش اولنے نو ولے نصیحت نۀ اخلئ۔
أَفَرَأَيْتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ ﴿٦٣﴾ أَأَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗ
آیا سوچ کړیدے تاسو په هغه څه کښ چه تاسو ئے کرئ۔ آیا تاسو زرغونه وئ دے
أَمْ نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ ﴿٦٤﴾ لَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنٰهُ
لره او که مونږ زرغونه ونکی یو۔ که چرته اُوغواړو مونږ خامخا وُبه ګرځوو دا ګیاه

حُطَامًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ ﴿٦٥﴾
ذره ذره نو وبه گرځئ تاسو چه خفګان به کوئ (فضول خبرے به کوئ)۔
إِنَّا لَمُغْرَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٦٧﴾
یقیناً مونږ تاوانیان شو۔ بلکه مونږ محرومه شو۔

تفسیر: اُوس د اثبات د دوباره ژوند دپاره دلیل ذکر کوی په طریقه د قیاس کولو په اول ژوند باندے۔

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْأَةَ الْأُوْلٰى: یعنی اے قریشو ! یا اے منکرینو ! تاسو خپل اولنے پیدائش ولے هیروئ، الله تعالیٰ اول د منِی یو څاڅکے د مور رحِم ته اورسولو، بیائے هغه جَم شوے وینه جوړه کړه، بیائے د غوښے بوټئ جوړه کړه، او بیائے یو مکمل انسان جوړ کړو، او د مور د رحِم نه ئے بهر را اوخکلو، نو تاسو خپل دویم پیدائش په اولنی پیدائش باندے ولے نهٔ قیاس کوئ، ځکه ستاسو په عقل کښې دا خبره نهٔ راځی چه کوم قادرِ مطلق ذات چه ستاسو په اول ځل د یو سپک څاڅکی نه پیدا کولو باندے قادر وو، هغه تاسو په دوبارهٔ آسانئ سره پیدا کولے شی۔ په دے کښې د حیرانتیا او تعجب کولو هیڅ ګنجائش نشته۔

النَّشْأَةَ: خِلقت او پیدائش ته وائی چه په دمه دمه سره وی، نو اول ژوند هم په مختلفو اَطوارو سره وو۔

فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ: یعنی تاسو ولے نهٔ رایادوئ دوباره ژوند چه دغسے به تاسو دوباره هم ژوندی کړی۔

أَفَرَأَيْتُمْ: دا دویم دلیل دے، مخکښې د پیدائش ذکر وو، دلته د تربیت ذکر دے۔

دلته الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته د خپل احساناتو یادونه کوی، او دوئ له د خپل وحدانیت د اقرار، او د خپلے بندګئ دعوت ورکوی، دارنګه مرګ نه پس ژوند باندے استدلال کوی۔

تَحْرُثُوْنَ: حرث: زمکه شلول او د هغے اړول او په هغے کښې تخم شیندلو ته وئیلے شی، دا کارونه انسانان کوی لیکن د هغے رازرغونه ول، د دانے وګے راویستل صرف د الله تعالیٰ کار دے، مَا نه مراد تخم او دانے دی۔

نو پدے کښې اثبات د توحید دے چه دا کار د هیڅ ولی او نبی او غیر نبی په اختیار کښې نشته۔ نو آیا تاسو دا سوچ نهٔ کوئ چه کوم ذات د دانے نه وګے راویستو باندے قادر دے آیا هغه انسان لره د خاورے نه بیرته نشی راویستلے؟!

أَفَرَأَيْتُمْ: پدے کښې مقصد ترغیب دے فکر او سوچ کولو ته په تخم باندے۔

أَمْ نَحْنُ الزَّارِعُونَ: دے نه معلومیږی چه اصلی زارع (زرغونونکے الله تعالیٰ دے) او بنده ته زارع په معنیٰ د حارث (کرونده کونکی) سره دے۔

او په صحیح حدیث د ابن حبان کښې راغلی دی: [لَا يَقُولَنَّ اَحَدُكُمْ زَرَعْتُ، وَلٰكِنْ لِيَقُلْ: حَرَثْتُ] (صحیح ابن حبان (٥٧٢٣) واسناده صحیح - شعیب)

هیڅوك دِے داسے نهٔ وائی چه زَرَعْتُ (ما زرغونه وکړه) بلکه داسے به وائی (حَرَثْتُ) ما کرونده وکړه۔ او کوم حدیث کښې چه دا راغلی دی /

(مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا اَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا) یا آیت کښې دی: ﴿يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ﴾

یعنی د زرع نسبت ئے مؤمن او انسان ته کړیدے، نو ددے دواړو حدیثونو او آیت تطبیق دا دے چه په طریقه د اخبار باندے یو تن ته نسبت کول جائز دی، لیکن بنده به ځان ته د زرع نسبت نهٔ کوی۔

دویم دا چه د زرع نسبت ځان ته کولو له په حرث لفظ باندے غلبه ورکول صحیح نهٔ دی، او کله نا کله د زرع نسبت جائز دے۔ لکه انګورو ته کرم وئیلو نه منع راغلے ده، او بیا رسول الله ﷺ ورته کرم وئیلی دی۔

[اَلْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ الْكَرْمَةِ وَالنَّخْلَةِ] (مسلم: ٨٩/٦)۔

دریم دا چه حدیث د منع مقدم دے په حدیث د جواز باندے۔ والله اعلم، وبعض ذلك فی فتح الباری (٣٨٥/٤) والصحیحة للالبانی (٧١٥/٦) رقم (٢٨٠١)

ابن کثیرؒ ذکر کړیدی چه ددے نه روستو (بَلْ اَنْتَ يَا رَبِّ) وئیل د بعض سلفو عمل دے۔ (یعنی بلکه صرف هم تهٔ زرغونونکے ئے اے ربه!)۔

فائده: دلته امام قرطبیؒ یوه تجربه ذکر کړیده چه څوك په پټی کښې دانے وغورزوی او د هغے نه روستو اعوذ بالله ووائی، او بیا دا کلمات ووائی: ﴿اَفَرَأَيْتُمْ مَا تَحْرُثُونَ﴾ پوره آیت، او بیا ووائی: [بَلِ اللّٰهُ الزَّارِعُ وَالْمُنْبِتُ وَالْمُبَلِّغُ، اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَارْزُقْنَا ثَمَرَهٗ، وَجَنِّبْنَا ضَرَرَهٗ وَاجْعَلْنَا لِاَنْعُمِكَ مِنَ الشَّاكِرِيْنَ وَلِآلَائِكَ مِنَ الذَّاكِرِيْنَ، وَبَارِكْ لَنَا فِيْهِ يَا رَبَّ

الْعَالَمِيْنَ] نو پدے کلماتو سره به ددۀ فصل د ټولو آفاتو نه محفوظ شي، چينجي او ملخان وغيره، پدے خبره تجربه شويده او همدغه شان شويدي، آه۔
دا يوه دعاء ده او دا به دين او سنت نۀ ګڼړي، هسے لوستل ئے جائز دي۔
حُطَامًا: يعني ذره ذره/ مات رامات۔ يعني داسے اُوچه ګياه چه دانے پکښ نۀ وي۔
تَفَكَّهُوْنَ : تَفَكُّهُ لفظ د اضدادو نه دے، خوشحالي او تعجب کولو ته هم وائي، او خبګان ته هم۔ ١- اَیْ فَصِرْتُمْ تَعْجَبُوْنَ ۔ تاسو به وګرځئ تعجب به کوئ، چه دا څه وشو۔ (ابن عباس ﷺ)
٢- تَحْزَنُوْنَ وَتَلَهَّفُوْنَ۔ يعني تاسو به غمژن او خفه يئ۔ (کسائیؒ)
٣- او تفکه کله بے فائدے خبرو کولو ته هم وائي۔
او دا آيت د ﴿ لَظَلُّوْا مِنْ بَعْدِهٖ يَكْفُرُوْنَ﴾ (الروم : ٥١) په شان دے۔
إِنَّا لَمُغْرَمُوْنَ: ددے جملے ١- يو مطلب دا دے چه تاسو به وايئ چه مونږ له صرف تاوان راکړے شو بلکه محرومه شو (وَلَسْنَا بِمُعَذَّبِيْنَ)۔
او مونږ ته عذاب نۀ دے راکړے شوے، يعني دا کار به عذاب نۀ ګڼړئ، د زړونو د سختوالي د وجه نه به مو دا وئيلے چه دا د دنيا يو چال دے چه مصيبت راغلو او مونږ خو څه ګناهګار نۀ يو چه عذاب راکړے شي۔ مشرك ځان ګناهګار نۀ ګڼړي۔
٢- دويم مطلب غوره دا دے چه تاسو به ټوله پړه په الله ور اچوئ او خپلے ګناه ته به نۀ ګورئ، يعني تاسو به داسے وايئ چه مونږ خو تاوانيان شو او ټول مال او فصل مو ختم شو، الله رانه واخستو، يعني بيا به د الله نه مرور يئ، او د هغۀ نه به ګيلے شکوے کوئ لکه دا د مجرمانو طريقه ده چه مصيبت پرے راشي نو د الله تعالیٰ نه نا اميده شي او په الله باندے پړه وراچوي او خپلے ګناه ته نۀ ګوري۔
يعني تاسو به د خپلے بے وسئ ښکاره کولو نه سوئ هيڅ هم نشو کولے، ليکن الله په خپلو بندګانو ډير زيات مهربان دے چه هغه ددے دانو پرورش کوي، تردے چه پخيدو سره د غذاء قابل جوړ شي، او انسان دا خپل کور ته راوړي، او د خپل ځان او خپلو بچو دپاره ئے ذخيره کوي۔ د هغۀ دا مهرباني د بندګانو نه دا غواړي چه د هغۀ د وحدانيت اقرار وکړي، او صرف د هغۀ بندګي وکړي۔

أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾ ءَأَنْتُمْ أَنْزَلْتُمُوهُ
آيا تاسو سوچ كړيدے په هغه اُوبو كښ چه څكئ ئے تاسو۔ آيا تاسو راليږلي دي دے لره
مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُونَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا
د وريځو نه او كه مونږ راليږونكي يو۔ كه چرته اُوغواړو مونږ وُبه گرځوو دا ترخے،
فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ﴿٧٠﴾ أَفَرَأَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ ﴿٧١﴾
نو ولے شكر نۀ كوئ۔ آيا تاسو سوچ كړيدے په اُور كښ هغه چه تاسو ئے بلوئ۔
ءَأَنْتُمْ أَنْشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنْشِؤُونَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ جَعَلْنَاهَا
آيا تاسو پيدا كړيده ونه د اُور او كه مونږ پيدا كونكي يو۔ مونږ گرځولے ده دا
تَذْكِرَةً وَّمَتَاعًا لِّلْمُقْوِينَ ﴿٧٣﴾ فَسَبِّحْ
ياداشت (د اُور د جهنم) او فائده دپاره د مسافرو۔ (د لوږے والو) پس تسبيح وايه
بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾
په نوم د رب خپل چه لوئي شان والا دے۔

تفسير :أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ: دا بـل دليل دے، او د تربيت دويمه ماده ده، يعنى تاسو په هغه خوږو اُوبـو كـله سوچ كړے چه تاسو ئے څكئ او خپله تنده پرے ماتوئ، دا د وريځے نه د باران په شكل كښ په زمكه باندے تاسو را ورو‌ئ او كه مونږه ؟

جـواب ظـاهـر دے چـه دا مـونږ را وروو۔ هـر كـلـه چه تاسو ددے اقرار كوئ، نو بيا د الله تـعالىٰ د وحدانيت اقرار ولے نۀ كوئ، او دا خبره ولے نۀ منئ چه هغه قادرِ مطلق د قيامت په ورځ ستاسو په دوباره ژوندى كولو باندے قادر دے۔

تَشْرَبُونَ : دلتـه ئے صـرف شُرب (څـكـل) ذكر كړل سره ددے نه چه په اُوبو كښ نورے زياتے فائدے دي ځكه چه دا ئے ډيره لويه فائده ده چه انسان پرے د مرگ نه بچ كيږي۔

الْمُزْنِ: جمع د مُزْنَةٌ ده، مـطـلق وريځے ته يا سپينے وريځے ته وئيلے شي، ځكه چه باران اكثـر د سپينو وريځو نه كيږي، دا دليل دے چه تمام مخلوق (انبياء عليهم السلام وى او

که اولیاء وغیره) هغوی د باران د ورولو قدرت نهٔ لری، نو افسوس د هغه جاهلانو په حال باندے چه کله سوکړه شي نو دوی بعض قبرونو ته ځی، او په جاهلانه طریقه د قبرونو والو نه باران غواړی، یا د قبرونو په برکت سره ئے غواړی،

یا په قبرونو باندے اُوبه اچوی، دا ټول بدعی او شرکی اعمال او طریقے دی۔

لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ: یعنی که مونږ غوښتلے نو د اُوبو غوندے لوی نعمت به مو تاسو نه اغستے وے، هغه به مو دومره ترخے جوړے کړے وے چه تاسو به ددے یو ګوټ هم د حلق نه لاندے کوز کړے نهٔ وے، او نهٔ به مو ددے په ذریعه خپلے زمکے او پټی خړوبه کولے شوے۔ لیکن هغهٔ داسے ونهٔ کړل، ځکه چه هغه حق ذات په خپلو بندګانو ډیر زیات مهربانه دے۔ او د هغهٔ دا مهربانی بندګانو نه غوښتنه کوی چه دوئ هر وخت د هغهٔ شکر وکړی۔ اُوبهٔ ډیر لوی نعمت دے پدے وجه ددے نعمت دپاره د شکر مطالبه وکړے شوه۔ ددے وجه نه د شکر د ادا کولو دپاره د خوراك څکاك نه روستو الحمد لله وئیل په سنت کښې مقرر شویدی۔ او د مخکښې نشأة اولیٰ نعمت نه روستو ئے (فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ) تذکر ذکر کړو ځکه چه هلته مقصد دوباره ژوند په اول ژوند باندے قیاس کول دی، او قیاس او عبرت ته تذکر وئیلے شي۔

فائده : د طعام نعمت په زوال کښې ئے لام تاکید داخل کړو (لَجَعَلْنَاهُ حُطَامًا) او د اُوبو نعمت په زوال کښې ئے لام رانهٔ وړو (جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا) ددے حکمت علامه قاسمیؒ د حافظ ابن اثیرؒ نه دا نقل کړیدے چه د اُوبو خوند بدلیدل په عرف او عادت کښې ډیر او آسان دی، او دارنګه مالګینے اُوبه په دنیا کښې د خوړو اُوبو نه ډیرے دی، نو په دے کښې لام تاکید راوړو ته ضرورت نشته، او د طعام نه حطام جوړول کله کله وی په اسباب غیر عادیه ؤ سره، لکه په طوفان، ګلئ وغیره سره، او دارنګه هغه د الله تعالیٰ د غضب اثر وی، نو د هغے په ذکر کښې زیات تاکید ته ضرورت دے دپاره د پوره تذکیر او تحقیق۔ (القاسمیؒ)

أَفَرَأَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي : دا څلورم دلیل دے د اثبات د توحید او د دوباره ژوند، او د تربیت دریمه ماده ده۔

تُوْرُوْنَ: وَرْئٌ، اُور راویستو او بلولو ته وئیلے شي۔

شَجَرَتَهَا: د بعض ونو د پاڼړو او څانګو نه په مږلو سره اُور راوځی لکه عربو کښې مرخ

او عفار ونے داسے وے لکه د بعض گټو په رګړ کولو سره اُور پیدا کیږی۔ او په هره ونه کښې اُور شته لکه دا خبره په تفسیر د سورة یس کښې تفصیلًا ذکر شویده۔

او دارنګه په ډبې باندے تیلی راښکلو سره اُور پیدا کیدل هم پدے کښې داخل دی۔ ځکه چه هغه هم د ونے ډکے دے۔

اَلْمُنْشِؤُوْنَ: یعنی مونږه ئے پیدا کوو نو د اِنْشَاء نه مراد خَلْق (پیدائش) دے، او تعبیر ئے ترے په اِنْشَاء سره وکړو ځکه چه پدے کښې ناشنا کاریګری او د الله عجیب قدرت دے۔

نَحْنُ جَعَلْنَاهَا: پدے کښې د اُور دوه فائدے ذکر کوی۔

تَذْكِرَةً: یعنی پدے اُور لیدلو سره د جهنم اُور یادیږی، نو د هغے نه پناهی غوختلے کیږی، او ویره ترینه کیدے شی۔ او دارنګه د ونو نه په اُور راویستو سره بعث بعد الموت هم معلومیږی۔ او دا د توحید دپاره هم یاداشت دے چه پدے کار باندے د الله تعالىٰ نه سویٰ هیڅوك قادر نهٔ دے۔

د اُور هیبت او د بعض خائفینو ذکر

ابو هریره ﷺ د رسول الله ﷺ نه ارشاد نقل کوی: ((ستاسو دا اُور چه تاسو ئے بلوئ د جهنم د اُور نه اویایمه برخه ده، صحابه کرامؓ عرض وکړو اے د الله رسوله ! (وَاللّٰهِ اِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً) قسم په الله یقیناً چه دا هم کافی وو۔ وے فرمایل: د جهنم اُور پدے باندے په نهه شپیته برخو زیات دے چه ټولے برخے د هغے د ګرمائش په شان دی۔

(بخاری بدء الخلق باب ١٠، ومسلم فی الجنة حدیث: ٣٠)

سلفو به د اُور نه ډیر نصیحت اخستو۔ ابن رجبؒ په خپل کتاب ((اَلتَّخْوِيْفُ مِنَ النَّار)) کښې ډیر واقعات ذکر کړیدی۔

سعد بن الاخرمؒ وائی: زهٔ د عبد الله بن مسعود ﷺ سره روان وم نو هغه په آهنګرانو ورتیر شو چه هغوی یوه وسپنه د اُور نه راویستلے وه، نو هغه ودریدو او هغے ته ئے کتل او ژړل ئے۔ او په بله موقعه په آهنګرانو ورتیر شو چه هغوی په بنئ کښې اُور پوکلو نو ابن مسعود ﷺ راپریوتو۔

عطاء الخراسانیؒ وائی: اُویس قرنیؒ به د آهنګرانو په ځای کښې ودریدو نو هغوی ته به ئے کتل چه څنګه بنئ پوکی، نو د اُور آواز به ئے واوریدو او چغه به ئے کړه، بیا به راپرے

وتو۔
ابن ابی الذبابؒ وائی : طلحه بن عبید الله ﷺ او زید ﷺ دواړه د آهنګر په بټۍ ورتیر شو نو دواړه ودریدل کتل ئے نو په ژړا شول۔
حماد بن سلمهٔ د ثابتؒ نه نقل کوی چه بشیر بن کعبؒ او د بصرے قاریان به آهنګرانو خوا ته راتلل، او د اُور آوازونه به ئے آوریدل، نو په الله پورے به ئے د اُور نه پناهی غوښته۔
علاء بن محمدؒ وائی : زهٔ په عطاء السُّلَمیؒ ورننوتل نو ما ولیدو چه بے هوشه پروت وو، ما د هغهٔ د ښځے نه تپوس وکړو چه دا ولے؟ هغے ووئیل چه زمونږ ګاونډیٔ تنور لمبه کړو کله چه دهٔ هغے ته وکتل نو بے هوشی پرے راغله۔
داسے ډیر تفصیلی واقعات په دغه کتاب کښ کتلے شیٔ۔
وَّمَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ: مقوی : مسافر ته وئیلے شی۔ د قِوَاءُ نه دے شاړے زمکے ته وائی۔ یعنی پدے اُور کښ فائده ده د هغه خلقو دپاره چه په شاړه کښ نازلیږی لکه مسافر خلق او بانډو او صحراوونو والا، او دوی ئے خاص ذکر کړل ځکه چه دویٔ اُور ته ډیر ضرورت لری د مُقیمینو نه۔ ځکه چه هغوی ئے د شپے ددے دپاره بلوی چه درنده ګان وتښتی، او لاره ورك کړے سړے لاره ومومی، وغیره۔
۲– مقوین : فائده اخستونکو ته هم وئیلے شی۔ (مجاهدؒ)
۳– او مقوین : جائعینو (وږو) خلقو ته هم وائی چه طعام پرے تیار کړی۔ (ابن زیدؒ)
٤– قُطربؒ وائی : قِوٰی د اضدادو نه دے، کله په معنیٰ د فقر سره وی، او کله په معنیٰ د غِنیٰ (مالداریٔ) سره وی۔ نو په اُور کښ د مالدارو دپاره هم فائدے شته۔

د اُور فائدے

د اُور مجموعی فائدے ډیرے دی لکه طعام پخول، ګرمول، په یخنیٔ کښ ځان ګرمول، رڼړا حاصلول، اُوسپنے او سرهٔ زر او سپین وغیره ویلی کول او د هغے نه څیزونه جوړول۔ که چرے اُور نهٔ وے نو انسان به کچه څیزونه خوړلے، او د هغه صنعتونو او ایجاداتو دروازے به نهٔ پرانستل کیدے په کومو کښ چه خامے مادے په اُور ویلی کولو سره مشینونه، وسلے، او عقل حیرانوونکی آلات جوړیږی۔
فَسَبِّحْ: دا تفریع ده په تیر شوی دلیلونو او نعمتونو په مسئله د توحید سره۔ او پدے

كښې رد دے په مشركانو او د هغوى په تكذيب باندے چه هغوى ددے دليلونو او نعمتونو نه انكار كوى، او د الله سره شريكان جوړوى، نو تهٔ د الله پاكى بيان كړه د هر عيب او نقصان نه. او ددے ربط دا دے چه هركله چه قيامت راځى نو يو خو شكر وكړهٔ او بل د الله پاكى ووايئ. دا آيت چه كله نازل شو رسول الله ﷺ وفرمايل :

[اِجْعَلُوْهَا فِيْ رُكُوْعِكُمْ] دا په خپلو ركوع كښې ووايئ. يعنى سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ.

(ابو داود : ۸٦۹) ابن ماجه (۸۸۷) احمد (۱۷٤۵۰)

بِاسْمِ رَبِّكَ: سَبِّح لفظ كله خپله متعدى وى، او كله په حرف جر سره نو باء زياتى ده، او دلته پاكى د نوم ذكر شوه، پدے كښې اشاره ده چه لكه څنګه چه د الله تعالىٰ ذات د هر قسم عيب او نقصان نه پاك ګڼړل، او هغه لره پاكى وئيل واجب دى، نو دغه شان د هغهٔ نومونه هم پاك ګڼړل واجب دى. بعض وائى: اسم په معنىٰ د ذات سره دے.

اَلْعَظِيْمِ : دا صفت د اِسم هم دے، او د رب هم، رب عظيم شان والا، او نومونه ئے هم لوى شان والا دى.

او دا هغه ذكر دے چه دومره طاقت پكښې دے چه د انسان نه اُور هم دفع كوى، او د ټولو عذابونو نه ئے بچ كوى، كله چه د بنده په الله ايمان وى نو څوك چه د هغه پاكى بيانوى نو دا مشرك نهٔ وى، په الله ئے نيك ګمان وى، د الله ذاكر وى، او دا تسبيحات مشتمل دى د الله توحيد لره او د هغه تعظيم لره او د هغه ذكر لره او د غفلت زائل كولو لره.

فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُوْمِ ﴿۷۵﴾ وَإِنَّهٗ لَقَسَمٌ
داسے نهٔ ده، زهٔ قسم كوم په ځايونو د ستورو باندے. او يقيناً دا قسم
لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِيْمٌ ﴿۷٦﴾ إِنَّهٗ لَقُرْآنٌ كَرِيْمٌ ﴿۷۷﴾
كه چرته تاسو پوهيږئ لوئى دے. يقيناً دا قرآن دے عزتمند.
فِيْ كِتَابٍ مَّكْنُوْنٍ ﴿۷۸﴾
په كتاب محفوظ ساتلے شوى كښې دے.

تفسير: مخكښې د اثبات د توحيد او د قيامت دپاره دليلونه ذكر شو نو اُوس قرآن ته

ترغیب ورکوی چه دا وحیی دلیل دے، او د قرآن کریم عادت دا دے چه کله د قیامت تذکره وکړی نو بیا د قرآن تذکره کوی، ځکه چه څوك د آخرت نه یریږی نو هغه به د قرآن نه فائده اخلی، او که څوك قرآن والا وی نو هغه به ضرور آخرت منی، او د هغے دپاره به تیاری کوی، او د هغے نه به یره کوی۔ لکه دا جمع ئے په سورة القیامه، سورة الحاقه، سورة التکویر کښ هم کړیده۔

نو پدے آیتونو کښ الله تعالیٰ د ستورو په منزلونو او د هغے د راوتو او ډوبیدو په ځایونو باندے قسَم خوړلے او ددے خبرے یقین ئے ورکړیدے چه دا قرآن ډیر زیات قابلِ احترام کتاب دے، چه په لوحِ محفوظ کښ د هر تغیر او تبدیلئ نه محفوظ دے، او دا صرف پاك خلق مسه کوی۔

فَلَآ اُقْسِمُ: پدے (لَا) کښ ډیر اقوال دی، غوره پکښ دوه دی۔

(۱) یو قول دا دے چه دا لَا زیاتی دے، او د عربو په عادت بناء دے چه هغوی به د تاکید د اِثبات دپاره لَا په صورت د قسم کښ زیاتی ذکر کولو، او معنیٰ ئے د اثبات ده۔

(۲) دویم قول دا چه لا نافیه دے، او پدے کښ نفی د پټے خبرے د منکرینو ده چه هغه معلومیږی د مخکنو آیتونو نه۔[فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ، فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ، فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ]

یعنی تصدیق نهٔ کول او عبرت نهٔ اخستل او شکر نهٔ کول نهٔ دی مناسب۔

یا معنیٰ دا ده لَيْسَ الْاَمْرُ كَمَا يَزْعُمُوْنَ۔ یعنی خبره داسے نهٔ ده څنګه چه کفار ګمان کوی چه قیامت به نهٔ راځی او دا قرآن د الله کلام نهٔ دے۔ او همدا قول ډیر غوره دے۔

(۳) بعضو وئیلی دی چه دا لَا په اصل کښ لام تاکیدیه دے، او بیا جدا شویدے، او الف اِشباعی پکښ زیاتی شویدے۔او په اصل کښ (فَلَاُقْسِمُ) وو۔ یعنی خامخا زهٔ قسم کوم۔

بِمَوَاقِعِ النُّجُوْمِ: (۱) دے کښ مرجوح تفسیر دا دے چه د نجوم نه مراد نجوم القرآن دی، او نجم قِسط (حصے) ته وائی، یعنی قرآن نَجْمًا نَجْمًا (لږ لږ په قسطونو) نازل شویدے۔ نو مراد د مواقع نه آیتونه او سورتونه دی۔

(۲) راجح دا ده چه دلته د نجوم نه مراد ستوری دی، یعنی په ځایونو د ښکاره کیدو او د پریوتو او ډوبیدو د ستورو قسم شویدے۔ (قتادهؒ او مجاهدؒ)

او ستوری د الله د قدرت ناشنا نښه ده، او مناسبت ئے دا ده چه په ستورو باندے شیطانان ویشتلے کیږی، نو که قرآن د شیطان د طرفنه راغلے وے، نو په ستورو به ویشتلے شوے

وي۔ دويم مناسبت دا دے چه په آسمان کښې ډېر ستورى دى، او روښانه دى، نو دغه شان په قرآن كريم كښې ډېر آيتونه او احکام دى چه ډېر روښانه دى، د هر ستورى خپله فائده ده، نو دغه شان د هر آيت خپله خپله فائده ده۔

يا لکه څنګه چه ستورى اول ښکاره شي بيا غائب شي نو دغه شان د الله تعالىٰ مُنَزَّل کتابونه هم د ستورو په شان رڼړا کونکي وو، پخواني کتابونه د ښکاره کيدو نه روستو غائب شول او دا قرآن كريم چه د نمر په شان رڼړا ئے ده راښکاره شو۔

يا په ستورو باندے آسمان ټينګ دے نو دغه شان په قرآن کريم باندے د مؤمن ايمان مضبوطيږى۔

(۳) عطاء بن ابى رباحؒ وائى چه د مواقعو نه مراد منازل (منزلونه) د ستورى دى۔

(٤) حسنؒ وائى : د مواقعو د ستورو نه مراد د قيامت په ورځ ددے خړ کيدل او دوړيدل دى۔

او په مواقعو د ستوروئے قسم وکړو ځکه چه دا د ملائکو د خاص عباداتو وخت دے، يا دا وخت د قيام الليل د تهجد کونکو دے، او پدے وخت کښې رحمتونه او د الله رضا دوى ته حاصليږى۔ (فتح البيان)

وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ: دا جمله معترضه ده، او ددے په مينځ کښې (لَوْ تَعْلَمُوْنَ) بله جمله معترضه ده، او دا ددے دپاره راوړل شويده چه د قسم عظمت ښکاره کړى۔ يعنى د ستورو په مواقعو باندے قسم کول ډير لوى قسم دے، کاش چه تاسو ددے په عظمت او هيبت باندے پوهه شوى وے۔ او دا قسم ځکه لوى دے چه الله تعالىٰ صرف د خپل کامل قدرت په ذريعه آسمان کښې موجود نمر او سپوږمئ او بے شماره ستورى د يو مضبوط او محکم او نهايتے دقيق نظام پابند ساتلي دى، چه ددے مطابق نمر او سپوږمئ او نور ټول ستورى په خپل مدار کښې ګرځى راګرځى، او په هيڅ حال کښې هم د خپلو منزلونو نه تجاوز نۀ کوى۔

او دا قسم د شهادت (ګواهى) دپاره دے۔

لَوْ تَعْلَمُوْنَ: نه معلومه شوه چه څوك جاهل وى دا قسم به سپك ګنړى، او که تا سره د ستورو علم موجود وو نو تا ته به ددے عظمت ښکاره شي۔

قرآن كريم ولے كريم دے ؟

إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ: شوكانىؒ ليكلى دى چه قرآن د الله هغه معزز او مُكرم كتاب دے چه دۀ ته په تمامو آسمانى كتابونو باندے برترى حاصله ده۔ ددے شان ددے نه پورته دے چه دا دے جادو، كهانت يا د چا دروغ تړل وى۔

واحدىؒ ليكلى چه دا عزتمن ځكه دے چه په دے كښې په بيان كړو دلائلو كښې د غور او فكر كولو په وجه انسان ډيرے ښيگړے حاصلوى۔

ازهرىؒ ليكلى چه [كَرِيم] ديته وئيلے كيږى چه د هغے تعريف وكړے شى۔ نو قرآن ځكه د تعريف لائق دے چه دا د رُشد او هدايت او عِلم او حكمت خزانه ده۔

او قرآن كريم پدے وجه هم عزتمن دے چه مخلوق نۀ دے، بلكه د الله صفت دے، د عظيم الله خبرے دى، د ډيرو فائدو او علمونو نه ډك دے، مُعجز دے، څوك ئے مقابله نشى كولے، په ډيرو كريمو اخلاقو او احكامو مشتمل دے، او ددے لوستونكے د الله په نيز باندے مكرم او عزتمن دے۔ (فتح البيان)

د ﴿كِتَابٍ مَّكْنُونٍ﴾ نه مراد ديوے ډلے په نيز لوحِ محفوظ دے۔

عكرمہؒ ددے نه مراد (تورات او انجيل) اخستى دى، ځكه په دے دواړو كتابونو كښې د قرآن او صاحبِ قرآن (نبى كريم ﷺ) ښائسته ذكر موجود دے۔

مجاهدؒ او قتادهؒ ددے نه هغه مصحف اخستے دے كوم چه په دنيا كښې موجود دے۔

اول قول غوره دے۔

او مكنون ورته ځكه وائى چه لوح محفوظ د تغيير او تبديلۍ نه پټ دے، او ساتلے شويدے۔ ❁ يا د باطل نه محفوظ دے، تولے پكښې حقے خبرے دى۔

❁ يا دا داسے كتاب دے چه د ملائكه مقربين نه سوئ نورو ملائكو نه محفوظ دے، نور پرے نۀ خبريږى۔

او پدے كښې جواب د سوال دے چه څوك به دا ووائى چه تيك ده د لوح محفوظ نه به راغلے وى ليكن شيطان به پكښې زيادت او نقصان كړے وى نو الله وفرمايل چه هغے له صرف خاص ملائكو ورځى د شيطان واك پكښې نۀ چليږى۔

لَّا يَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿۷۹﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۰﴾
لاس نهٔ لګوي ددے سره مګر پاك خلق۔ نازل شویدے د طرف د رب العالمین نه۔
اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ﴿۸۱﴾ وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ
آیا پدے خبره تاسو سستي کونکي یئ۔ او ګرځوئ تاسو حصه خپله
اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۸۲﴾
دا چه تاسو دروغژن ګنړئ (دا)۔

تفسیر: ددے آیتِ کریمه په معنیٰ او مفهوم کښې د علماؤ ګنړ اقوال دي، چه د هغې خلاصه داده چه د [مَسّ] نه مراد لاس لګول دي، یا په دے باندے خبریدل دي، یا ددے نه فائده اخستل دي۔ او د [مُطَهَّرُوْنَ] نه مراد ملائك دي، یا اهلِ تقویٰ، یا د نجاست او حدثِ اکبر او حدثِ اصغر نه پاکیدل دي۔

(۱) د اکثرو مفسرینو رائے داده چه د [مُطَهَّرُوْنَ] نه مراد ملائك دي چه د هر قسم ګناهونو او ظاهري او باطني ګندونو نه پاك کړے شویدي، او د [مَسّ] نه مراد لاس لګول دي، یا پدے باندے خبریدل دي، یعني لاس نشي لګولے د لوح محفوظ سره مګر صرف ملائك۔ یا نهٔ خبریږي په هغې باندے مګر ملائك۔

ابن زیدؒ وائي چه د قریشو کافرانو به وئیلے چه دا قرآن شیطانانو نازل کړے، نو الله په دوئ باندے رد وکړو او وے وئیل: ﴿لَا يَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ﴾ چه (په دے باندے صرف ملائك خبریدے شي)، شیطانانو باندے ددے هواء هم نشي لګیدلے۔ لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورتِ شعراء په (۲۱۰/۲۱۱/۲۱۲) آیتونو کښې فرمائیلي دي:

﴿وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيٰطِيْنُ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيْعُوْنَ اِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُوْلُوْنَ﴾

(دا قرآن شیطانانو نهٔ دے نازل کړے، هغوئ خو ددے کار د سره لائق نهٔ دي، نهٔ هغوئ ددے طاقت لري، بیشکه شیطانان د آوریدو نه بیخي محرومه کړے شوي دي)۔

ابن کثیرؒ وائي چه دا قول ډیر غوره دے۔

ددے نه علاوه تفسیرونه انتزاعي دي، په طریقه د اشارے سره دي۔ او هغه دا دي:

(۲) فراءؒ ددے دا معنیٰ بیان کړے ده [لَا يَجِدُ طَعْمَهٗ وَلَا نَفْعَهٗٓ اِلَّا مَنْ آمَنَ بِهٖ] چه د قرآن

خوند نهٔ موندہ کوی او ددے نه فائدہ نهٔ اخلی مگر هغه څوك چه پدے باندے ایمان راوړی۔

د محمد بن الفضلؒ هم دا وینا ده [لَا يَقْرَؤُهُ اِلَّا الْمُوَحِّدُوْنَ]۔ دا قرآن نهٔ لولی مگر موحدین ئے لولی۔ نو د طهارت نه مراد زړهٔ د شرك او بد اخلاقو د گندونو نه پاکول دی۔

بعض (حسین الفضلؒ) وائی: [لَايَنَالُ فَهْمَ مَعَانِيْهِ اِلَّا الْقُلُوْبُ الطَّاهِرَةُ] یعنی صرف پاك زړونه د قرآن کریم په معانیو او مقاصدو باندے پو هیږی۔

(۳) بعض علماء وائی: د مطهرون نه مراد هغه کسان دی چه د جنابت، حیض، نفاس او وړے او لوئی بے اودسئ نه پاك وی او (ہ) ضمیر قرآن ته راجع دے، او جمله خبریه په معنیٰ د اِنشاء ده، یعنی نفی په معنیٰ د نهی ده۔ او مطلب دا اخلی چه قرآن ته دِے لاس نهٔ وروړی مگر هغه کسان چه پاك وی د دغه ظاهری گندونو نه۔

دا تفسیر ظاهر د قرآن نهٔ دے۔

علامه شوکانیؒ وئیلی دی چه آیت کښ دا خبره نهٔ ده ذکر بلکه دلته د ملائکو حال ذکر دے، البته پدے باندے اجماع ده چه حدثِ اکبر والا انسان دپاره قرآن مسه کول جائز نهٔ دی۔

او کومو علماؤ چه وئیلی دی چه د [مُطَهَّرُوْن] نه مراد د جنابت او بے اودسئ نه پاك خلق دی، او مقصد مصحف له په دے حالتونو کښ د گوتو وروړلو ممانعت دے۔ او دوی د محمد بن عمرو بن حزمؒ روایت [لَا يَمَسَّ الْقُرْآنَ اِلَّا طَاهِرٌ] (قرآن دے صرف پاك انسان مسه کوی) نه استدلال کړے۔ کوم چه امام مالكؒ روایت کړے۔

دارنگه د دارقطنیؒ ددے حدیث نه ئے هم استدلال کړے په کوم کښ چه د عمر ﷛ د اسلام راوړلو واقعه بیان شوے، او د هغهٔ خور هغهٔ ته وئیلی وو چه دا ناپاك دے، او قرآن صرف پاك خلق مسه کوی۔ د علی﷛، ابن مسعود ﷛، عطاءؒ، زهریؒ، نخعیؒ، مالكؒ، شافعیؒ او حنابلو وغیره همدا رائے ده۔

لیکن دا دواړه حدیثونه د سند په لحاظ کمزوری دی۔

حافظ ابن حجرؒ په ((التلخیص الحبیر)) کښ، حافظ ابن کثیرؒ په خپل تفسیر کښ، او شوکانیؒ په (نیل الاوطار) کښ د دواړو د کمزوری کیدو اسباب او وجوهات واضح کړی دی، دے وجے نه دا دواړه حدیثونه د استدلال لائق نهٔ دی۔

البتـه پـه دے بـانـدے د امـت اجماع ده چه حدثِ اکبر والا انسان دپاره قرآن کریم له لاس وروړل جائز نهٔ دی۔

او هـر چـه هـغـه کس دے چه د اوداسهٔ په حالت کښ نهٔ وی، نو ددے په باره کښ امام ابن حزمؒ پـه خپـل کـتـاب (المحلی) کښ، امام ابن القیمؒ په (البیان فی اقسام القرآن) کښ او امام شـوکـانـیؒ په (نیل الاوطار) کښ همدا غوره ګڼړلے چه دا مصحف مسه کولے شی۔ ځکه ددے په منع کښ هیڅ صحیح او صریح دلیل نهٔ موندلے کیږی۔

د ابن عباس، سلمان فارسی رضی الله عنهم، شعبیؒ او ابو حنیفةؒ وغیره همدا رائے ده۔

البتـه دا بـه د قـرآن اشاره وی چـه مـؤمـن له پکار دی چه ځان د دغه پاکو ملائکو سره مشابه کړی، او قرآن له په پاکئ باندے ورشی۔ او پدے کښ احتیاط دے چه قرآن د مسه کولو دپاره اَودس وکړی او که وے نکړو نو هم منع نشته۔

تَـنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ : یـعـنـی دا خـو د رب الـعالمین د طرفنه نازل شویدے چه د انسـانـانـو تـربیـت پدے سره کوی لکه څنګه چه د بدن تربیت په غذا سره کوی، نو دغه شـان د روح تربیت په قرآن سره کوی۔ نو دا رد دے په هغه چا چه قرآن ته سحر او کهانت او افتراء وائی۔

او دا آیت د (۷۷) آیت سـره مـتـعـلـق دے، هـلـتـه د قرآن کریم یو صفت دا بیان شو چه دا معزز او مکرم کتاب دے، دلته وائی چه دا رب العالمین نازل کړیدے۔

أَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ: مخکښ د قرآن کریم صدق او رشتینوالے بیان شو، اُوس ددے کتاب منکرینو ته زجر او رټنه ورکوی۔

یـعـنـی اے خـلـقو ! آیا تاسو داسے معزز او مکرم کتاب او د رب العالمین خبره دروغژنه ګڼړئ، او ددے تصدیق نهٔ کوئ۔ د حدیث نه مراد قرآن کریم دے چه دا د الله خبرے دی۔

مُّدْهِنُوْنَ: د اِدْهان نه دے، سستی کولو ته وئیلے شی، مجرد ئے دهن دے، تیلو ته وئیلے شـی، لـکـه چـه تیـل څنګـه نرم وی۔ [مُـدْهِـنُـوْنَ اَیْ مُتَهَاوِنُـوْنَ فِـیْ اِیْـمَـانِهٖ وَالْعَمَلِ بِهٖ وَدَعْوَتِهٖ] ۔یـعـنـی تـاسـو ددے قـرآن نـه سستی کوئ، یعنی پدے باندے په ایمان راوړو او پدے بـانـدے عـمـل کـولـو او ددے پـه دعـوت کولو کښ سـسـتـی کـوئ، دا درتـه معمولی ښکاری، داسے عظیم کتاب خو په جلتئ راخستل پکار دی۔ (کشاف)

او ددے حـاصـل تـرجـمـے دا هـم دی : (۲) عوفیؒ د ابن عباس ﷺ نـه د [مُـدْهِنُوْنَ] تـفسیر

[مُكَذِّبُوْنَ غَيْرُ مُصَدِّقِيْنَ] نقل کړے۔(یعنی تکذیب کوئ او تصدیق نهٔ کوئ) او د [إِدْهَان] معنیٰ دروغژن گنړل، کُفر او نفاق بیان شوے ده۔

نو د آیت معنیٰ به دا وی چه اے خلقو ! آیا تاسو د منافقانو په خبرو کښ راځئ او د الله کلام دروغژن گنړئ، او ددے نه انکار کوئ ؟! حالانکه دا لوی کتاب تاسو نه غوښتنه کوی چه تاسو په دے ایمان راوړئ او ددے تعلیمات په خپل ژوند کښ جاری او نافذ کړئ۔ (ابن کثیرؒ والبغویؒ)

(۳) ابن کیسانؒ وائی : اَلْمُدْهِنُ الَّذِیْ لَا یَعْقِلُ حَقَّ اللّٰهِ عَلَیْهِ وَیَدْفَعُهٗ بِالْعِلَلِ۔

مدهن هغه شخص دے چه د الله حق په خپل ځان نهٔ منی، او هغه په چلونو سره د ځان نه اړوی۔ یعنی د قرآن نه تاسو بهانے کوئ، کله وایئ چه دا جادو دے، او کله وایئ چه دا دروغ دی او کله وایئ چه مونږ خپل رزق گټو دے ته وزگار نهٔ یو۔

(٤) قرطبیؒ وئیلی دی : چه مدهن هغه څوك دے چه ظاهرئے د باطن نه خلاف وی، او د مؤرجؒ نه ئے نقل کړیدی چه مُدهن منافق او کافر دے چه خپل اړخ نرم کړی دے دپاره چه خپل کفر پټ ساتی۔

نو مدهن او مُداهن په مسلمانانو کښ هغه څوك دے چه د باطل پرستو سره موافقت کوی، او حق ورته نهٔ ښکاره کوی، او په کافرانو کښ هغه دے چه د مسلمانانو نه خپل کفر پټوی پدے وجه مُدهنون لفظ تکذیب کونکو، اعراض کونکو، د کافرانو سره موافقت کونکو او په باره د حق کښ بهانے کونکو ټولو ته شامل دے۔

او ابوبکر بقاعیؒ وئیلی دی چه پدے آیت کښ رد دے په هغه چا چه د قرآن په باره کښ د چا نه نا مناسبے خبرے واوری (توقے یا تحریف معنوی کول وغیره) او بیا هم د هغهٔ سره ښکاره دشمنی نهٔ کوی او نرمی ورسره کوی۔ معلومه شوه چه د قرآن مخالفت کونکو سره هیڅ قسم نرمی پکار نهٔ ده۔ (احسن الکلام)

وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ : (۱) رزق : باران ته وائی، یعنی تاسو خپل باران داسے گرځوئ چه په هغے باندے تکذیب کوئ، او داسے وایئ چه (مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا) مونږ باندے د فلانی ستوری په پریوتو سره باران وشو۔ لکه حدیث کښ هم دی :

[أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِیْ مُؤْمِنٌ بِیْ وَكَافِرٌ، فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللّٰهِ وَرَحْمَتِهٖ فَذٰلِكَ مُؤْمِنٌ بِیْ وَكَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ وَأَمَّا مَنْ قَالَ بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا فَذٰلِكَ كَافِرٌ بِیْ وَمُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ]

چه کله باران وشی نو بعض بندګان مؤمنان شی او بعض کافران، څوك چه وائی، مونږ بانـدے باران د الله په فضل او رحمتِ سره وشو نو دا مؤمن دے، او څوك چه ووائی چه د فلانی ستوری د پریوتو په وجه شو نو دا کافر شو۔ بخاری : (٨٤٦) و مسلم : (٢٤٠)۔

يعنى قرآن هم نهٔ منئ او د الله باران هم نهٔ منئ۔

(٢) غوره دا ده چه دا د قرآن سره لګی، او رزق نه مراد برخه ده،[اَیْ تَجْعَلُوْنَ نَصِيْبَكُمْ مِنْ هٰذَا الْكِتَابِ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ] ۔ يعـنى تاسو خپله برخه ددے قرآن نه دا حاصلوئ چه تاسو ددے تـكذيب كوئ نو د قرآن نه اُوچته برخه حاصله کړه، خلق پرے جنت ته ورسیدل، او تا پرے تکذیب وکړو ځان دِے هلاك کړو۔

د قـرآن نـه د ايـمان، د اعمالو، د ښکلے اخلاقو برخه واخله۔ په قرآن باندے چا دنیا غوره کړه، او چا خرڅ کړو او چا ترے صرف د تلاوت برخه راواخسته او چا پرے ځان د الله تعالىٰ تعلق او جنت ته ورسولو او دا غټه برخه ده، نو د قرآن نه لویه برخه حاصلول پکار دی۔

(٣) دے کښې دا مطلب هم صحيح كيږى (واحدیؒ د بعض مفسرينو نه نقل کړيدے) چه دلته بدل لفظ پټ دے [اَیْ تَجْعَلُوْنَ بَدَلَ رِزْقِكُمْ /يا شُكْرَ رِزْقِكُمُ التَّكْذِيْبَ]۔

يـعـنـى تاسو ته الله تعالىٰ قسماقسم نعمتونه درکړيدی او روزی درکوی، ددے تقاضا دا وه چـه تـاسـو د هغهٔ شكر اداء كولے، ليكن تاسو ددے د شكر په بدل كښې ناشكرى وكړه، ددے نـعـمـتـونـو نسبت مو د هغهٔ نه سویٰ بل چاته وکړو، او د احسان او انعام بدله مو د كـفـر او شـرك په ذريعه وركړه۔ ددے نه لويه نمك حرامی بله كومه كيدے شی چه څوك احسان وکړی هغهٔ سره د بد چلنئ او تكليف وركولو سلوك وكړے شی۔

او هيثمؒ وائـی چـه د اَزْدِ شَنُوْءَه (قبيلے) پـه نيـز رزق كـلـه پـه معنىٰ د شكر سره استعماليږی۔ نو بيا به مضاف پټ نهٔ وی۔ (فتح البيان وابن كثير)

فَلَوْلَا إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ﴿٨٣﴾ وَأَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿٨٤﴾
نو ولے نهٔ ده چه کله اُورسی روح مرئ ته۔ او تاسو په دغه وخت كښې ګورئ۔
وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴿٨٥﴾ فَلَوْلَا إِنْ
او مونږ ډير نزدے يو دهٔ ته ستاسو نه ليكن تاسو نهٔ وينئ۔ نو ولے نهٔ ده كچرته تاسو

كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرْجِعُونَهَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٨٧﴾

نهٔ يئ كمزوري (مغلوبه)۔ چه واپس راوګرځوئ دا روح كه چرته تاسو رشتيني يئ۔

تفسير : اُوس په مرګ سره تخويف وركوي، او په لاندينو درے آيتونو كښ الله تعالىٰ د انسان بے وسي بيان كړے ده، او ښودلي ئے دي چه دا د خپل خالق د مرضئ او منشاء مخے ته بيخي مجبور او مغلوب دے۔

او ددے دليل ددهٔ د ساه وتلو وخت دے چه كله ملائك راشي او ددهٔ ساه وباسي، او ددهٔ روح حلق ته را اُورسي، او وتونكے وي، دے وخت كښ دے او ددهٔ ټول خپل خپلوان او ملګري كوم چه ددهٔ نه ګير چاپيره ناست وي، څو مره مجبوره وي چه ددهٔ روح اوځي، او هغه په خپلو غټو غټو سترګو سره ټولو ته ګوري۔ او ددهٔ نه ګير چاپيره ټول خلق ددهٔ په حال رحم كوي، ليكن هيڅوك ددهٔ مدد نشي كولے چه ددهٔ روح ددهٔ بدن ته واپس كړي۔

په دے وخت كښ د الله ملائك مړ كيدونكي ته ددهٔ د رشته دارانو په نسبت زيات نزدے وي۔ ليكن خلق دا ملائك نهٔويني، يا مړ كيدونكے چه په دے وخت كښ څهٔ زغمي ددے پټ راز نه خلق بيخي ناخبره وي۔

فَلَوْلَا : دا په تَرْجِعُوْنَهَا باندے داخل دے۔ يعني ولے نهٔ شئ راواپس كولے دغه روح كله چه مرئ ته ورسيږي۔

تَنظُرُوْنَ : يعني تاسو مړي ته او د هغهٔ حالت د نزع ته ګورئ، يا دا په معنىٰ د انتظار د مرګ دے۔

وَنَحْنُ أَقْرَبُ : د نَحْنُ نه مراد ملائك د مرګ دي، چه په هغه وخت كښ حاضر وي۔ يا ددے نه مراد قرب د الله تعالىٰ دے په اعتبار د علم او قدرت سره۔

وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ : مفعول پټ دے۔ يعني ملائكو لره نهٔ وينئ۔ او مړي ته ښكاره كيږي، حاضرين خلق ئے نهٔ ويني۔ دلته بعض مفسرين وائي چه نظر په محسوساتو كښ استعمال دے، او بصر په غائبو څيزونو او معقولاتو كښ اكثر استعماليږي ددے وجه نه اول ئے نظر ثابت كړو په تَنظُرُوْنَ سره، او بيا ئے بصر نفي كړو په لَا تُبْصِرُوْنَ سره۔

فَلَوْلَا : دا اعاده د بُعْدِ عهد ده۔

غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ : (۱) مَدِيْن په معنىٰ د مغلوب سره دے، يعني كه تاسو مغلوبه او عاجز

نۀ یئ۔ نو بیا درنه ولے دا روح خلاص شو۔

(۲) اَیْ مُحَاسَبِیْنَ۔ یعني که تاسو سره حساب کتاب نۀ کیږی (ابن عباس رضی الله عنه)

(۳) یا که تاسو لره بدله نۀ شی درکولے او جزاء سزا نشی درکړے کیدے۔ نو بیا ځئ دا روح راواپس کړئ بلکه الله تعالیٰ دا روح د جزاء او سزا دپاره علیین یا سجین ته بوځی۔ ددے ځای پورے څلور حالات ذکر شول۔

فَأَمَّا إِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۸۸﴾ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ
پس که چرته وی دا د ډیر نزدے خلقو نه۔ نو دۀ لره راحت (رحمت) دے او خوږ رزق
وَّجَنَّةُ نَعِيْمٍ ﴿۸۹﴾ وَأَمَّا إِنْ كَانَ مِنْ أَصْحَابِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۰﴾
(او خوشبوئی) او جنتونه د نعمتونو دی۔ او که چرته وی دا د ښی لاس والو نه۔
فَسَلَامٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَابِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۱﴾
نو (وئیلے به شی) سلام دے په تا باندے تۀ د ښی لاس والو نه ئے۔ (سلام دے په تا
وَأَمَّا إِنْ كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ الضَّالِّيْنَ ﴿۹۲﴾
باندے د طرف د ښی لاس والونه)۔ او که چرته وی دا د دروغژن ګڼړونکو ګمراهانو
فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿۹۳﴾ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ﴿۹۴﴾
نه۔ نو دۀ لره میلمستیا ده د ګرمو اُوبو نه۔ او سوځیدل دی په جهنم کښ۔ (او
إِنَّ هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿۹۵﴾ فَسَبِّحْ
داخلول دی ګرم اُور ته) یقیناً دا خامخا پوره یقیني خبرے دی۔ نو پاکی وایه
بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿۹۶﴾
د نوم د رب ستا چه لوئی شان والا دے۔

تفسیر: مخکښ بیان شو چه د اعمالو په اعتبار سره انسانان په درے قسمه دی، سابقین اولین، اصحاب الیمین او اصحاب الشمال۔ اوس په دے آیتونو کښ ددے درے

وارو ډلو انجام هم بیان شوې. د همدې درې ډلو همدغه ذکر شوې انجام الله تعالیٰ دلته د زیاتې تاکید او ترغیب او ترهیب په توګه بیان کړې. او دا د دغه خلقو د زنکدن حال دې چه مرګ پرې راغې او مړهٔ شول.

او د سورت په ابتداء کښې هم دا خلق ذکر شو، هغه د دوئ په آخرت کښې په جنت یا جهنم کښې حالت وو، او دلته د دوئ د زنکدن د وخت حالات دی لکه امام قرطبیؒ د ربیع بن خیثمؒ او د ابو الجوزاءؒ او ابو العالیهؒ نه نقل کړیدی.

یعنی که چرې مړ کیدونکې انسان د الله د مقربو بندګانو نه وی، نو الله تعالیٰ به دهٔ له د دنیا د تکلیفونو او مصیبتونو نه همیشه دپاره آرام ورکړی، په دهٔ به خپل رحمتونه نازل کړی، او ددهٔ زړهٔ او روح ته به سکون او راحت اُورسوی، او په جنت کښې به ورته انتهائی خوندوره روزی ورنصیب کړی، او هغه جنتِ نعیم ته به ئې داخل کړی چه هغه نهٔ کومې سترګې لیدلې، نهٔ کوم غوږ آوریدلې، او نهٔ د کوم انسان زړهٔ د هغې تصور کړې.

فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ: دلته (لَهٗ) لفظ پټ دې. یعنی ددهٔ دپاره رَوح او ریحان دی.

حافظ ابن کثیرؒ وغیره لیکلی دی چه د مرګ په وخت کښې به دوئ ته ملائك دا زیرې ورکوی.

۱– رَوح په معنیٰ د راحت او خوشحالئ، او رحمت، او د الله تعالیٰ دیدن سره دې، او دا ټولې معانی صحیح دی.

رَيْحَانٌ: ښائسته رزق، خوشبویانې، د کشمالو ګل، رحمت، او د الله په خبرو سره لذت او خوند حاصلول دی. دا خپل مینځ کښې ملاؤ کړه، نو ډیرې معانی به جوړې شي.

یعنی ددهٔ دپاره به راحت او رحمت وی، / یا به ددهٔ دپاره خوشحالی او خوشبویانې وی. / یا به ددهٔ دپاره رحمت او ښکلې رزق وی.

وَّجَنَّةُ نَعِيْمٍ: یعنی د مزو او د نعمتونو جنت به وی.

وَأَمَّا إِنْ كَانَ: دا دویمه ډله ده، یعنی عام مؤمنان. او که چرې هغه د اصحاب الیمین نه وی، نو ملائك به ورته سلام کوی، او زیرې به ورکوی چه دا د هغه خلقو نه دې چه هغوئ ته به د قیامت په ورځ د عرش ښی اړخ ته ځای ملاویږی، او آخر به ددهٔ مقام جنت وي.

فَسَلَامٌ لَّكَ: دلته (يُقَالُ لَهٗ) پټ دې. یعنی دهٔ ته به داسې وئیلې کیږی. یعنی ملائك به

ورتـه خپـل طرف نـه، یا د الله تعالیٰ د طرفنه سلام پیش کوی، او ورته به وائی چه (اَنْتَ مِنْ اَصْحَابِ الْيَمِيْنِ) ته ٔ د ښی اړخ والو نه ئے۔ یا تقدیر داسے دے :

[يَا مَنْ هُوَ مِنْ اَصْحَابِ الْيَمِيْنِ!] اے هغه شخصه ! چه ته ٔ د ښی اړخ والو نه ئے۔

(۲) یا تقدیر داسے دے : [مِنْ جَانِبِ اَصْحَابِكَ اَصْحَابِ الْيَمِيْنِ]،

یعنی په تا باندے سلام دے د طرف د ملګروستا نه چه اصحاب الیمین دی۔ چه هغه هم هلته موجود دی، هلته ته هم راځه۔

لیـکـن حـافـظ ابـن قیـمؒ فـرمائی چه اوله معنیٰ غوره ده ځکه چه د هغے تائید په سورة النحل آیت کښ ذکر شویدے۔ چه ملائك به پرے سلامونه اچوی۔

او قرطبیؒ وئیـلـی دی چه دا سلامونه به په درے وختونو کښ وی، په وخت د زنکدن کښ، دویم په وخت د راتللو د نکیر منکر کښ، او دریم په وخت د بعث بعد الموت کښ۔

وَاَمَّا: دا دریـمه ډله د جهنمیانو ده، یعنی که چرے هغه د اصحاب الشمال نه وی، یعنی د هغه خلقو نه چه هغوئ به په دنیا کښ د قیامت ورځ دروغژن ګنړله، او د نیغے لارے نه آوړیدلے وو، نـو ددهٔ میـلمستیـا به (د زقوم نه د خیټے ډکولو نه پس) په جوشیدلو اوبو سره وی چـه هـغـه بـه ددهٔ د خیټے هـر شے ویلی کړی، او بهر به ئے را اوباسی، او دے به د جهنم په اُور کښ اوسوزولے شی۔

او دا دریـمه ډله ئے په اصحاب الشمال سره ذکر نکړه بلکه د دوئ کارونه ئے ذکر کړل چه هـغـه تـکـذیب او ضلال دے، پدے کښ د دوئ د کارونو نه زجر ورکول مقصد دے، او بل پدے کښ سبب د عذاب ذکر دے۔

بـله دا چه دا حالت په وخت د نزع او د قبر کښ دے، او دوئ په دے وخت کښ متصف په اصـحـاب الشمال سره نهٔ دی، یعنی عملنامه په ګس لاس کښ ورکول یا جهنم ته بوتلل خـو د قیـامت په ورځ کښ دی۔ بیا هرکله چه تکذیب سبب د ضلال دے نو ددے وجه نه ئے مکذبین په ضالین مقدم ذکر کړو۔

فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ: دلته هم (لَهُمْ) لفظ پټ دے۔

نُزُل: هـغـه خوراك دے چه میلمه دپاره په جلتئ سره تیار راوړے شی۔ او دلته په طریقه د تَهَكُّم (سپکاوی) سره استعمال شویدے۔

وَتَصْلِيَةُ: داخلول دپاره د سوزولو، یا معنیٰ ده سوزول د جهنم او دا اضافت د مصدر دے

مفعول ته۔

فوائد او معارف :

(۱) پدے آیتونو کښې اشاره ده چه کفر تول یو ملت دے، او کبیره ګناهونو والا به په اصحاب الیمین کښې داخل وی ځکه چه دوی مکذبین نهٔ دی۔ هغوی هم د خطرے سره مخامخ دی۔

(۲) قاسمیؒ فرمائی چه سیوطیؒ په ((اکلیل)) کښې لیکلی دی چه دا آیتونه دلالت کوی چه کله اَرواح د بدنونو نه جدا شی، نو یا به په خوشحالو کښې وی، یا به په عذاب کښې، او د مؤمنانو ارواح به په جنت کښې وی، او د کافرانو ارواح به په جهنم کښې وی۔

(۳) ربیع بن خیثمؒ فرمائی چه دا به ورته د مرګ په وخت وائی چه روستو ستا دپاره میلمستیا د ګرمو اُوبو او د جهنم د سوزیدو ده۔ نو دا به ځو مره هیبت کښې شی او روح به ئے په بدن کښې وتښتی۔

(٤) دا آیتونه ذلیل دے چه کبیره ګناهونو والا به په اصحاب الیمین کښې داخل وی ځکه چه دوی مکذبین نهٔ دی۔

(۵) د جهنمیانو ډله ئے د ټولو نه روستو ذکر کړه، یو د ترهیب (یره ولو) دپاره۔ دویم ددے ډلے افراد زیات دی، دا قسم انسانان به ډیر زیات وی۔

اِنَّ هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ : ۱- یعنی پدے سورت کښې چه څه ذکر شو د اول نه تر آخر پورے۔ ۲- یا نزدے د زنکدن والو احوال، او د هغوی قصے تیرے شوے نو دا خالص یقینی کارونه دی۔

۳- یا اشاره ده بعث بعد الموت ته۔

او اضافت د حق یقین ته اضافت د شی دے خپل نفس ته۔ او دا د کوفینو په نیز جائز دے ځکه چه پدے کښې اضافت د موصوف دے صفت ته د وجه د اختلاف د لفظ نه۔

او پدے کښې تاکید مقصد دے، یعنی دا خبره حقه ده او یقینی ده۔ لکه خلق وائی حتمی ضروری ده۔ بعض وائی : حق په معنیٰ د خبر دے، یعنی خبر الیقین دے۔ یعنی یقینی خبر دے۔

او حق الیقین دیته وائی چه د سترګو د لیدو او د هغے د ځکلو نه روستو په یو شی

باندے علم حاصل شي.

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ: دا ئے دوباره راوړو، فرق دا دے چه مخکښې ئے د عقلي دليلونو نه روستو دا امر راوړے وو، يعني عقل دلالت کوی چه الله دِ پاك وګنړلے شي د هر قسم شرك او عيب او نقصان نه. او دلته ئے د قرآن د رشتينوالي او د هغې سره د متعلق درے ډلو د حالاتو د بيان نه روستو راوړو. يعني قرآن هم دليل دے چه الله دپاره پاکي بيانول ضروري دي.

بِاسْمِ رَبِّكَ: باء زياتي ده، يا دا خل ده په پټ مضاف باندے، اَیْ بِذِکْرِ اسْمِ رَبِّكَ. يعني پاکي وايه په يادولو د نوم د رب ستا.

فائده : پدے کښې باء داخله کړيده، او په ﴿ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى﴾ کښې ئے باء نۀ ده راوړے، وجه دا ده چه عظيم صفت د ذات او د اسم دواړو دپاره استعماليږی، نو اشاره ده چه د تسبيح د ذات سره تسبيح د نومونو او د صفتونو د الله تعالیٰ ملګرے کړه، او اعلیٰ صرف صفت د ذات دپاره استعماليږی، نو هلته کښې مقصود تسبيح د ذات ده فقط بغير د ملګرے کولو د تسبيح د نومونو او صفتونو نه، او باء دلالت کوی په مصاحبت (ملګرتيا) باندے. والله اعلم. (احسن الکلام)

امتيازات او خصوصيات د سورة الواقعه

۱- پدے سورت کښې درے ډلے د انسانانو ذکر دی. او هغوی له ئے نومونه ايخودی دی.

۲- د قيامتِ صغریٰ او کبریٰ تذکره پکښې ده.

۳- او د جنتيانو د بيبيانو صفات چه د دنيا ښځے دی او الله تعالیٰ ترے عيبونه او ګندونه لرے کړيدی.

ختم شو تفسير د سورة واقعه په حمد او تسبيح د رب العالمين سره ۲۹/رجب ۱۴۳۷ هـ موافق : ۶/۵/۲۰۱۶ ليلة السبت.



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

آیاتها (۲۹)	(۵۷) سورة الحدید مدنیة (۹۴)	رکوعاتها (٤)

سورة الحدید مدنی دے، په دے کښې نهیشت آیتونه او څلور رکوع دی۔

تفسیر سورة الحدید

ددے سورت نه تر سورتِ مُلك پورے مدنی مضامینۀ دی چه هغه جهاد او انفاق فی سبیل الله او په منافقت باندے زجرونه او نور اصلاحی کارونه ذکر دی۔

نوم : (۱) سورة الحدید : په (۲۵) آیت ﴿ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِیْدَ فِیْهِ بَاْسٌ شَدِیْدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ﴾ کښې راغلے۔ د همدے نه ددے سورت نوم اخستے شوے۔

(۲) او دے ته اُمُّ الْمُسَبِّحَات هم وائی۔ یعنی په راتلونکو سَبَّح او یُسَبِّح باندے شروع کیدونکو سورتونو کښې دا ډیر ناشنا او غوره او علمی سورت دے۔

د نازلیدو زمانه : قرطبیؒ لیکلی دی چه دا سورت د ټولو په نیز مدنی دے۔ د نقاشؒ وینا هم داده۔

امام احمدؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ او بیهقیؒ په شُعُب الایمان کښې د عِرباض بن ساریه ﷺ نه روایت کړے چه [اِنَّ النَّبِیَّ ﷺ کَانَ یَقْرَاُ الْمُسَبِّحَاتِ قَبْلَ اَنْ یَّرْقُدَ وَیَقُوْلُ : اِنَّ فِیْهِنَّ آیَةً خَیْرٌ مِّنَ اَلْفِ آیَةٍ] رسول الله ﷺ به د اودۀ کیدو نه مخکښې مُسبِحات (حدید، حشر، صف، جُمعه او تغابن) لوستل۔ نبی کریم ﷺ فرمائی په دے کښې یو آیت دے چه هغه د زرو آیتونو نه غوره دے۔ محدث البانی رحمه الله دا په صحیح الترمذی رقم (۳٤۰٦) کښې ذکر کړے او دے ته ئے حسن وئیلے دے۔ وحسنه الحافظ ابن حجر کما قال فی نتائج الافکار (۳/۶۳)۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه هغه (۳) آیت دے ﴿هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ﴾ دے۔ والله اعلم۔

مناسبت

۱- مخکښې سورت کښې د توحید مسئله دوه کرته (فَسَبِّحْ) سره ذکر شوه، نو دلته انفاق فی سبیل الله او د وسپنې استعمال ته ترغیب ورکوی دپاره د اشاعت ددے مسئلې۔

۲- مخکښې سورت کښې په تسبیح باندے امر وو، نو ددے سورت په ابتداء کښې په طریقه د اخبار سره د الله تسبیح ذکر کوی۔ یعنی د مخلوقاتو تسبیحات وئیل گویا که دا علت دے دپاره د امر بالتسبیح۔

۳- مخکښې ئے وویل چه د الله د نوم او صفتونو پاکی بیان کړه، نو دلته د الله بعض صفتونه او نومونه ذکر کوی۔

٤- مخکښې د قیامت او د مرگ تذکره وشوه، نو اُوس وائی چه په دغه ورځ باندے کامل ایمان فائده ورکوی نو دا جوړ کړئ۔

موضوع د سورت

ددے سورت ډیره بنکلے موضوع ده، چه د هغے یو تعبیر دے (تَحْقِيْقُ حَقَائِقِ الْإِيْمَان) یعنی د ایمان د حقیقتونو ثابتول او موجودول، که یو تن پدے تعبیر پوره نهٔ پو هیږی، نو دویم تعبیر دا دے: (تَجْدِيْدُ حَقَائِقِ الْإِيْمَان) یعنی د ایمان حقیقتونه بیرته راتازه کول، تا ایمان راوړو، نو دا خړیږی، دا به وخت په وخت بیرته راتازه کوے۔

لکه رسول الله ﷺ فرمائی: [إِنَّ الْإِيْمَانَ لَيَخْلُقُ فِيْ جَوْفِ أَحَدِكُمْ كَمَا يَخْلُقُ الثَّوْبُ الْخَلِقُ فَاسْأَلُوا اللّٰهَ أَنْ يُّجَدِّدَ الْإِيْمَانَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ]

ایمان ستاسو د یو تن په زړه کښې زړیږی لکه جامه چه زړیږی۔ نو د الله نه وغواړئ چه هغه ستاسو په زړونو کښې ایمان راتازه کړی۔

نو دا سورت وائی چه دغه ایمان راتازه او نوے کړئ۔

وَآثَارُهُ الْعَجِيْبَةُ مِنَ التَّضْحِيَةِ بِالْمَالِ وَالْبَدَنِ وَالْخُشُوْعِ وَالْجِهَادِ وَإِطَاعَةِ اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ وَالزُّهْدِ فِي الدُّنْيَا وَالرَّهْبَةُ مِنَ اللّٰهِ وَالرَّغْبَةِ فِي الْآخِرَةِ وَنَحْوِ ذٰلِكَ۔

او د ایمان ناشنا آثار دی او هغه دا چه بنده به قربانی په مال او بدن ورکوی، خشوع او

جهاد وغیره به کوی. او د الله او د رسول طاعت به کوی، په دنیا کښې به زهد کوی، او د الله نه به یره کوی او د آخرت سره به مینه لری.

شان نزول

عبد الله بن مسعود ﷛ فرمائی : [مَا كَانَ بَيْنَ إِسْلَامِنَا وَبَيْنَ أَنْ عَاتَبَنَا اللّٰهُ بِهٰذِهِ الْآيَةِ (اَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا) إِلَّا أَرْبَعُ سِنِيْنَ] کله چه مدینے ته هجرت وکړے شو، او څلور کاله تیر شو نو د بعض مسلمانانو په ایمانونو کښې معمولی شان کمزوری راغله خاصکر د هغه کسانو چه نوی مسلمانان وو، نو الله تعالیٰ ورپسے دا آیتونه راولیږل دے دپاره چه د هغوی ایمانونه تازه وساتی. (مسلم فی التفسیر حدیث : ٢٤)

صاحب د فتح البیان لیکی چه په بعض مسلمانانو کښې خوش طبعی او خندا او آزادی پیدا شوه.

مصنف بن ابی شیبه کښې د عبد العزیز بن ابی رَوَّاد وینا ده چه (ظَهَرَ فِيْهِمُ الْمِزَاحُ وَالضِّحْكُ) (ابن ابی شیبه : ٣٦٨٦٥) (او دا کار د امن په حالت کښې کیږی)

نو الله دا سورت نازل کړو چه خپل ایمان تازه وساتئ او د الله تعالیٰ په کتاب او د هغهٔ په ذکر سره زړونه روښانه او تازه کړئ، او الله دا نهٔ غوښتل چه د صحابه کرامو ؓ په شان اُوچتو خلقو په ایمان کښې خړ والے پیدا شی ځکه چه دوئ خو د الله تعالیٰ پاك او صفا اولیاء دی، نو وے فرمایل چه د ایمان تازه والے وکړئ.

او دلته الله تعالیٰ د ایمان حقیقت ته د رسیدو طریقے خودلی دی، اول دا چه الله تعالیٰ په شپږو آیتونو کښې خپل تعارف کړیدے، کله چه بنده الله تعالیٰ له وپیژنی، نو د ایمان حقیقت ته به ورسیږی، بیا ئے تر رکوع پورے دوه خبرے ذکر کړیدی، یو ایمان او بل انفاق. یعنی په دغه الله چه تا وپیژندو اُوس ایمان راوړه، او د هغهٔ په لاره کښې انفاق وکړه، او د هر یو دپاره ئے درے درے علتونه ذکر کړیدی. ایمان ولے راوړه؟ د درے وجو نه. چه روستو راځی.

د رکوع نه روستو ترغیب دے انفاق او ایمان ته، او بیا ترغیب دے دواړو ته. او د منافق په شان مهٔ جوړیږه چه هغه خپل ایمان نهٔ تازه کوی، قیامت کښې به خړے سترگے ولاړ وی. بیا د (١٥) آیت نه روستو ترغیب ورکوی خشوع ته، او دا هم د ایمان تازه کول دی،

چه د اهل کتابو په شان مهٔ جوړیږه چه زړونه ئے سخت شول او ایمان نهٔ تازه کوی۔
بیا به د هغے دپاره مثال راوړی چه یو تن دِے مړ وی بیا دِے ژوندے شی، بیا به ترغیب انفاق ته ورکړی، بیا ایمان ته، او ایمان او انفاق یو ځای ذکر کوی ځکه چه د الله په لاره کښې انفاق کول د ایمان د تازه کولو ډیره ښکلے لاره ده۔
په مینځنئ رکوع کښې به د دنیا زهد او د آخرت رغبت بیانوی، او د هغے متعلق به د تقدیر خبره وکړی، بیا به جهاد او دعوت ته ترغیب ورکړی چه پدے سره اسلام غالبه کیږی، په روستنئ رکوع کښې به وائی چه انبیاء علیهم السلام د همدے کارونو دپاره راغلی وو، او آخر کښې به د بنی اسرائیلو خبره وکړی چه دوئ د رهبانیت التزام وکړو او بیا ئے د هغے رعایت ونهٔ ساتو (وَرَهْبَانِيَّةَ نِ ابْتَدَعُوْهَا) د دوئ په شان مهٔ جوړیږئ۔
او پدے کښې به اشاره وی چه رهبانیت چه یو بدعت دے د هغے التزام څوك وکړی، او بیا د هغے رعایت نهٔ کوی نو دا مذموم او ناکاره انسان دے، نو د هغه انسان به څه حال وی چه د اسلام دعوه ئے کړیده، او بیا د اسلام هیڅ رعایت نهٔ کوی، نهٔ ورسره د مانځه غم شته، او نهٔ د الله د ذکر او نهٔ د مال لګولو او نهٔ د ایمان د جوړولو، نو دا څنګه مسلمان دے؟! نو په دغه آیتونو کښې ډیر ښکلے دعوت دے۔
[اَیْ مُرَاعَاةُ الْبِدْعَةِ وَاجِبٌ فَکَیْفَ بِالْاِیْمَانِ]
یعنی د بدعت مراعات واجب دے نو د ایمان خو به خامخا واجب وی۔ لکه روستو ئے تفصیل راځی۔
او په آخر کښې د رسول الله ﷺ اتباع ته دعوت ورکوی چه ددهٔ صحیح تابعداری شروع کړئ۔
او پدے سورت کښې به د رسول لفظ هم زیات استعمالیږی ځکه چه د ایمان حقیقت دا دے چه د رسول الله ﷺ پوره تابعداری به کوی،
او په آخره کښې ئے فرمایلی دی چه د اهل کتابو سره ضد وکړئ او د دوئ د ضد نه خپل ایمان برابر کړئ، چه الله دربانده رحم وکړی، هغوی وائی چه صرف مونږه غوره یوه،
نو الله فرمائی چه اے مسلمانانو! تاسو ځان جوړ کړئ نو په تاسو باندے به خپل فضل او رحم وکړم نو هغوی به خړ شی۔

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

پاکي بيانوي الله لره هغه څه چه په آسمانونو او زمکه کښې دي او هغه زورور

الْحَكِيْمُ ﴿١﴾ لَهٗ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُحْيِ

حکمتونو والا دے۔ خاص هغۀ لره بادشاهي د آسمانونو او د زمکے ده، ژوندي کول

وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢﴾ هُوَ الْأَوَّلُ

کوي او مړۀ کول کوي او هغه په هر شي باندے قدرت لرونکے دے۔ هغه اول دے،

وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٣﴾

او روستو دے، او ښکاره او پټ دے او هغه په هر شي باندے پوهه دے۔

تفسير : په آسمانونو او زمکه کښې چه څومره حيوانات، نباتات او جمادات دي دا ټول د الله پاکي او لوئي بيانوي، او ددے خبرے اظهار کوي چه دا حق ذات د هر قِسم برخه دار او اولادو نه پاك دے، او هغه يواځے دے، او د هر قِسم عبادت يواځے حقدار دے۔ په ربوبيت، الوهيت، علم، قدرت او د مخلوقاتو په تدبير کښې د هغۀ هيڅوك برخه دار نشته۔

د آسمانونو او زمکے تمام مخلوقات د خپل حال مطابق د خپل رب پاکي بيانوي۔ او دا تسبيح په دوه قسمه ده، تسبيح قولي او بله تسبيح حالي۔

يعني څوك په خپله ژبے سره تسبيح وائي، لکه ملائك او پيريان او انسانان، او د چا د حالت نه ښکاره کيږي چه ددۀ خالق د تمامو عيبونو او نقصانونو نه پاك دے، لکه آسمان او زمکه، ونے، نباتات او غرونه وغيره۔

زجاج وائي چه نباتات او جمادات هم د وينا په ژبه تسبيح لولي، ليکن مونږ پرے نۀ پوهيږو، لکه الله تعالىٰ د سورتِ اسراء په (٤٤) آيت کښې فرمائيلي دي :

﴿وَإِنْ مِّنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ﴾

(هر يو شے د خپل خالق تسبيح بيانوي، خو تاسو د دوئ په تسبيح نۀ پوهيږئ)۔

او د سورتِ انبياء په (٧٩) آيت کښې فرمائي : ﴿وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ﴾

(مونږ د داود دپاره غرونه تابع کړی وو، چه هغوئ به د هغهٔ سره تسبیح وئیله)۔
زجاجؒ وائی : که چرے غرونو د خپلو ژبو په ذریعه تسبیح نهٔ وئیلے، بلکه مقصود دا وے چه د دوئ پیدائش په دے خبره دلالت کوی چه د دوئ خالق د تمامو عیبونو او نقصانونو نه پاك دے، نو ددے په ذکر کولو کښې به د داؤد ﷺ دپاره هیڅ خصوصیت نهٔ وے۔
دے وجے نه معلومه شوه چه غرونو به په خپلے وینا سره د داؤد ﷺ سره تسبیح لوستله چه دا به هغهٔ پیژندله۔
سَبَّحَ لِلّٰهِ: تسبیح کله متعدی بنفسهٖ وی لکه (وَسَبِّحُوْهُ) کښې راغلے دے۔ او کله په لام سره متعدی وی لکه دلته شو۔
اصل خو دا ده چه دا دِے بالذات متعدی شی۔ خو کله چه دا په لام سره استعمال شوے وی نو هلته به لام د تاکید دپاره زیاتی گڼړلے شی لکه په شَكَرْتُهٗ او شَكَرْتُ لَهٗ کښې دغه شان خبره ده۔ یا به دا لام د تعلیل دپاره وی۔
او مطلب به دا وی چه تسبیح وائی د الله د وجه نه او خاص د الله دپاره هغه څه چه په آسمانونو او زمکه کښې دی الخ۔
الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ : دا دوه صفتونهٔ ئے د مخکښې سَبَّحَ دپاره د دلیلونو په حیثیت سره راوړیدی۔ العزیز کښې اشاره ده چه ټول مخلوق د الله په مقابله کښې عاجز او مغلوب دے ددے وجه نه څوك طَوْعًا (په خوشحالئ سره) تسبیح وائی، او څوك كَرْهًا (په زوره سره) نو دا د قولی تسبیح دپاره دلیل شو۔
او الْحَكِيْمُ: کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ ټول عالَم د خپل معلوم حکمت مطابق منظم او مرتب پیدا کړیدے چه د هغهٔ نه په هیڅ شان سره انحراف نشی کولے، نو دا ښائسته ترتیب د الله په تسبیح باندے دلالت کوی، نو دا د حالی تسبیح دپاره دلیل شو۔
لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ : آسمانونو او زمکه کښې چه څومره څیزونه موندلے کیږی، ددے ټولو مالك الله دے، هغه چه څنګه غواړی په دے کښې تصرف کوی، د هغهٔ نه سوئ د بل هیچا خوښه نهٔ چلیږی۔
په دے آیتِ کریمه کښې د صوفیاؤ په دے دروغژنه عقیده باندے رد دے چه الله تعالیٰ د زمکے او آسمانونو بادشاهی د دوئ فرضی غوثانو او قطبانو کښې تقسیم کړے ده، اُوس صرف هغه په دے کائناتو کښې تصرف کوی۔ او الله تعالیٰ (العیاذ بالله) بیکاره شوے دے،

الله تعالیٰ وفرمایل چه هم هغه چه چاله غواړی ژوند ورکوی، او چاله چه غواړی وژنی ئے او چاله چه غواړی د خپلے خوښے مطابق چه څۀ غواړی ورکوی ئے، هغه په هر یو شئ مکمل قدرت لری۔ دا د نۀ کیدو خبره ده چه هغه دِے یو شے اوغواړی او هغه دِے په وجود کښ رانشی۔ هغه دِے څوك وژل اوغواړی اوهغه دِے مړ نشی، یا دِے څوك ژوندے ساتل وغواړی اوهغه دِے څوك مړ کړی۔

په یُحْیِیْ وَیُمِیْتُ کښ اشاره ده حَیاتِ قلبی او موتِ قلبی ته هم ۔ په انسان کښ دوه صفتونه د کمال دی، یو حیات او بل نور۔ نو زړۀ ژوندے کړه او رنړا پکښ واچوه، او دا د الله په معرفت او د هغۀ په عبادت باندے کیږی۔ نو الله ژوندی کول او مړۀ کول کوی، نو د الله نه وغواړه چه هغه درله زړۀ ژوندے کړی۔

هُوَ الْاَوَّلُ: هغه د آسمانونو او د زمکے د هر موجود نه مخکښ وو، هم هغۀ هر یو شے پیدا کړے، او کله چه هر یو شے فناء شی نو صرف د هغۀ ذات به باقی پاتے وی، او هغه د هر یو شئ دپاسه دے، هیڅ یو شے د هغۀ دپاسه نۀ دے، او د هغۀ وجود د دلائلو په ذریعه ښیخی ظاهر دے، او د هغۀ ذات او حقیقت د انسانانو د سترگو او عقلونو نه پټ دے، هیڅوك د هغۀ د ذات راز نشی موندلے، او هغه د هر یو شئ د راز نه خبردار دے۔

(۲) دویم تفسیر او هغه غوره دے دا دے :

امام احمدؒ، مسلمؒ، ترمذیؒ، ابن ابی شیبهؒ او بیهقیؒ د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړے چه فاطمه رضی الله عنها رسول الله ﷺ ته د یوے خادمے ته د ضرورت ذکر وکړو، نو رسول الله ﷺ هغے ته نصیحت وکړو چه هغه دے دا راتلونکے دعاء لولی :

[اَللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ وَرَبَّنَا وَرَبَّ کُلِّ شَیْءٍ، مُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِیْلِ وَالْفُرْقَانِ، فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوٰی، أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ کُلِّ شَیْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِیَتِهٖ۔ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَیْسَ قَبْلَكَ شَیْءٌ، وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَیْسَ بَعْدَكَ شَیْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَیْسَ فَوْقَكَ شَیْءٌ، وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَیْسَ دُوْنَكَ شَیْءٌ، اِقْضِ عَنَّا الدَّیْنَ وَأَغْنِنَا مِنَ الْفَقْرِ]

په دے مبارکه دعاء کښ نبی کریم ﷺ ددے آیت ډیر عُمده تفسیر کړے، چه تۀ داسے اول ئے چه تانه مخکښ هیڅ شے نشته، او تۀ داسے آخرئے چه هیڅوك تانه روستو نشته، او تۀ داسے ښکاره ئے چه هیڅوك تانه پورته نشته، او تۀ داسے باطن (پټ) ئے چه هیڅوك تانه زیات پټ نشته۔ (مسلم : ۷۰٦٤)

وَالْآخِرُ : یعنی داسې ذات ئې چه د هر شي وجود به په تا باندې ختميږي، ستا نه روستو به هيڅوك پاتې نۀ وي، صرف همدا ته به د هر شي نه روستو پاتې ئې.

او د الظاهر معنیٰ ده، ښکاره او اُوچت، او دا قانون دې چه يو شې څومره پورته کيږي نو هغه ښکاره کيږي لکه آسمان، او چه څومره ښکته ځي نو پټيږي لکه کوهې واخله.
نو د الله دپاسه څوك نشته.

وَالْبَاطِنُ : ۱- باطن هغه (پټ ذات) دې چه د هغه مخې ته بل شې حائل (پرده) او مانع نۀ واقع کيږي، چه الله تعالیٰ يو شې لره د دغه پردې په وجه ونۀ ويني، داسې نشي کيدې.

۲- يا باطن هغه ذات دې چه په باطن د هر شي باندې پوهه دې.

۳- يا باطن دا هم دې چه د زمکو لاندې هم د هغه قدرت او علم دې لکه په يو ضعيف روايت کښې (لَهَبَطَ عَلَى اللّٰهِ) لفظ ذکر دې. يعنی که يوه رسۍ د آسمان نه اُومې زمکې ته کوزه شي، نو دا به په الله ورکوزه شي، يعنی د الله په علم او قدرت باندې. الله به ترې هلته هم خبردار وي. (ترمذی : ۳۲۹۸) واحمد، ولم یسمع الحسنؒ عن ابی هریرة ﷺ)

امام ترمذیؒ فرمائي : د الله علم په هر ځاى کښې دې، او خپله په اعتبار د ذات سره په عرش باندې مُستوی دې لکه چه الله تعالی په خپل کتاب کښې د خپل ځان همدا صفت ذکر کړيدې.

(سنن الترمذی سورة الحدید باب ۵۷، ج۵/۴۰۳ بتحقيق احمد شاكرؒ)

هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ فِیْ سِتَّةِ
خاص الله هغه ذات دې چه پيدا کړي ئې دي آسمانونه او زمکه په اندازه د شپږو
أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ
ورځو کښې بيا برابر شو په عرش باندې، پوهيږي په هغه څه چه ننوځي په زمکه
وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ
کښې او هغه چه را اُوځي ددې نه او هغه چه نازليږي د آسمان نه او هغه چه خيژي

فِيهَا وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللّٰهُ بِمَا
په آسمان کښې او هغه ستاسو سره دے هر ځائے چه يئ تاسو او الله په هغه عملونو
تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٤﴾ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ
چه تاسو ئے کوئ ليدونکے دے۔ خاص هغهٔ لره بادشاهي د آسمانونو او د زمکے ده
وَإِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْأُمُوْرُ ﴿٥﴾ يُوْلِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ
او خاص هغهٔ ته ورګرځولے شي ټول کارونه۔ ننباسي شپه په ورځ کښې او ننباسي
النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَهُوَ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٦﴾
ورځ په شپه کښې او هغه پوهه دے په هغه خبرو چه سينو کښې دي۔

تفسير: هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ: دا آيت هم د الله تعالىٰ د فوقيت دليل دے۔

اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ: دا آخرى ځل دے چه دا صفت پکښې راغلو، او دا په مقام د تعارف کښې ذکر کيږي، نو دا دليل دے چه څوك د الله تعالىٰ په عرش باندے استواء (برابريدل) نهٔ مني، نو هغه يقيناً الله تعالىٰ نهٔ پيژني۔

يَعْلَمُ: يعنى الله تعالىٰ لکهٔ څنګه چه قادر دے، نو دغه شان په هر شي باندے عالِم هم دے۔

مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ: زمکه کښې مړي، دانے، بوټي، د باران څاڅکي، حيوانات، د مړو بدنونه او نور تمام څيزونه داخليږي۔

وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا: دانے، فصلونه، ګلان، ميوه جات، خزانے او جواهرات وغيره۔

وَهُوَ مَعَكُمْ: په نيز د سلفو صالحينو دلته معيت په اعتبار د قدرت او علم سره مراد دے۔ نهٔ په اعتبار د ذات سره۔ بعض خلق وائي چه دا آيت هم د متشابهاتو نه دے چه الله تعالىٰ په عرش هم دے، او د بندګانو سره هم دے۔ نو دا عقيده نهٔ په قرآن کښې شته، او نهٔ په حديث کښې، او نهٔ د سلفو صالحينو عقيده وه۔

او حديث کښې دي ...... درے کسانو د ايمان خوند وڅکلو .... آخرى شخص ئے دا ذکر کړيدے چه [وَزَكّٰى نَفْسَهٗ] خپل نفس پاك کړي، يو تن تپوس وکړو:

[وَمَا تَزْكِيَةُ النَّفْسِ؟] چه بنده خپل ځان څنګه پاكوى؟ وېے فرمايل:

[يَعْلَمُ اَنَّ اللّٰهَ مَعَهٗ حَيْثُ كَانَ] پـدے خبره پو هه شى چه الله تعالىٰ ددهٔ سره دے چرته چه دے وى۔ (يعنى په اعتبار د علم سره الله تعالىٰ ددهٔ سره هر ځاى كښې دے)۔

(المعجم الصغير ص (١١٥) ومسند الشاميين للطبرانى ١٨٧٠ وهو عند ابى داود باسناد منقطع والحديث اسناده صحيح قاله حمدى عبد المجيد السلفى والالبانى وهو فى السلسلة الصحيحة (٣٨/٣) رقم (١٠٤٦)

او د معيت باقى تشريح به په سورة المجادله كښې راشى ان شاء الله تعالىٰ۔

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله پـه خپـل كتاب (شرح حديث النزول) كښې ليكلى دى چـه پـه سورة الحديد او سورة المجادله كښې د راغلى ((معيت)) تـفسير د سلفو علماؤ په نيز دادے چه (الله د خپلو بندګانو سره د خپل علم په ذريعه دے)،

امام ابن عبد البرؒ او نورو امامانو د صحابهٔ كرامؓ اوتابعينوؒ اجماع په دے نقل كړے ده۔

ابن عباس ﷺ، ضحاكؒ، مقاتل بن حيانؒ، سفيان ثوريؒ، او احمد بن حنبلؒ وغيره نه هم دا تفسير نقل دے۔

ابـن ابـى حاتمؒ د ابن عباس ﷺ نـه ددے آيـت پـه تـفسيـر كـښې روايت كړى دى چه الله په عرش باندے دے، او د هغهٔ علم د دوئ سره دے۔

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ : دا بـل دليـل دے۔ پـه دويـم آيت كښې اشاره وه د دنيا ملك ته، او پـدے كـښې د آخـرت مـلك تـه اشاره ده لكه دلتـه ئے آخرت په (وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ) سره ذكر كړيدے۔

يُوْلِجُ الَّيْلَ : دا بـل عـقـلى دليـل دے او پدے كښې د الله تعالىٰ تصرف په زمانه كښې ذكر دے۔ او د شپے او د ورځے پـه يو بل كښې داخلول دا دى چه رڼړا لاړه شى او تياره راشى، او ددے بـرعـكـس۔ او كـلـه شپـه اُوږده وى او كـلـه ورځ، يعنى د يو بے څه ګينتے په بله كښې ننباسى۔ د زياتى تفصيـل لپاره د سورهٔ آل عمران (٢٧) آيت، د سورهٔ الحج (٦١) آيت، د سورهٔ لقمان (٢٩) آيت، او د سورهٔ فاطر (١٣) آيت تفسير وګوره۔

تـردے ځـاى پـورے دا خبره ثـابتـه شوه چه صرف الله تعالىٰ په هر شى عالم دے، او په هر شى كـښې تـصـرف كـونـكـے دے، او پـدے كـښې د هغهٔ هيڅوك هم شريك نشته، نو دا په تسبيح باندے دليل شو۔

آمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَأَنْفِقُوْا مِمَّا
ایمان راوړئ په الله باندے او په رسول د هغهٔ باندے او خرچ کوئ د هغے مال نه
جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ فَالَّذِيْنَ
چه ګرځولی ئے یئ تاسو واکداران (نائبان، جانشین) په هغے کښ نو هغه کسان
آمَنُوْا مِنْكُمْ وَأَنْفَقُوْا لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿٧﴾ وَمَا لَكُمْ
چه ایمان ئے راوړیدے ستاسو نه او خرچ ئے کړیدے، دوی لره اجر لوئی دے. او څه وجه
لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ
ده چه تاسو به ایمان نهٔ راوړئ په الله او حال دا چه رسول (ﷺ) دعوت درکوی تاسو
لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ وَقَدْ أَخَذَ
ته دے دپاره چه تاسو ایمان راوړئ په رب خپل باندے او الله اخستی ده
مِيْثَاقَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٨﴾ هُوَ الَّذِيْ
مضبوط وعده ستاسو نه (په دلائلو سره) که چرته تاسو مؤمنان یئ. الله هغه ذات
يُنَزِّلُ عَلٰى عَبْدِهٖ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمَاتِ
دے چه رالیږی په بنده خپل باندے آیتونه ښکاره دے دپاره چه راوُباسی تاسو د تیارو
إِلَى النُّوْرِ وَإِنَّ اللّٰهَ بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩﴾
نه رڼا ته او یقیناً الله تعالیٰ په تاسو باندے ضرور شفقت کونکے رحم کونکے دے.

تفسیر: اُوس دوه دعوتونه ورکړے کیږی، یو ایمان بالله ته، او بل دعوت انفاق فی سبیل الله ته. د ایمان بالله درے وجے بیانوی.

نو په دے آیتِ کریمه کښ بندګانو ته په الله او د هغهٔ په رسول باندے د داسے یقینی ایمان راوړو حکم شوے چه د هغے اثر د دوئ په عملونو کښ راښکاره شی، او د الله د ورکړی مال او دولت نه د هغهٔ په لاره کښ خرچ کول په نفس باندے ګران جوړ نشی.

تنبیه : آمنوا بالله خطاب مؤمنانو ته دے او کافرانو ته نهٔ دے، څوك چه وائی چه دا خطاب یهود او نصاراؤ ته دے، نو دا خبره بے دلیله ده، بلکه دا مؤمنانو ته خطاب دے چه خپل ایمانونه تازه کړئ، او د ایمان تقاضا پوره کړئ او د ایمان حقیقت ته ځانونه ورسوئ۔

مُّسْتَخْلَفِيْنَ: یعنی تاسو ئے په هغے کښې جانشین کړی یئ۔ ددے دوه مطلبه دی :

(۱) یو دا چه د انسان چه کوم مال وی، نو دا په حقیقت کښې د الله تعالیٰ مال دے، لیکن په دے کښې د جائز تصرف کولو دپاره دے د الله له خوا خلیفه او نائب وی، او دے ئے عارضی مالك جوړ کړیدے، او بیرته به الله ته پاتے کیږی، نو دا د هغهٔ د حکم مطابق خرچ کړئ۔

(۲) حَسَن بصریؒ فرمائی : تاسو ئے د خپلو مشرانو د مالونو وارثان جوړ کړئ، یعنی تاسو ته د هغوی نه میراث پاتے شو، نو پدے کښې اشاره ده چه دا مالونه لکه چه ستاسو د مشرانو نه په میراث کښې پاتے شول، نو دغه شان به ستاسو نه هم پاتے کیږی، نو جلتئ وکړئ انفاق کولو ته۔ په دواړو صورتونو کښې مقصد انسان لره د الله په لاره کښې په مال خرچ کولو باندے راپاروی، ځکه چه دا د الله تعالیٰ ورکړے مال دے، دے وجے نه د هغهٔ په لاره کښې په خرچ کولو کښې د بُخل نه کار اخستل نهٔ دی پکار۔

د آیت په آخر کښې داسے ایمان والو او د الله په لاره کښې خرچ کونکو ته د لوی اجر یعنی جنت زیرے ورکړے شوے۔

فَالَّذِيْنَ : مخکښې حکم د انفاق وو نو اُوس په طریقه د بشارت سره انفاق ته ترغیب دے۔

آمَنُوْا مِنْكُمْ وَأَنْفَقُوْا: یعنی کومو خلقو چه په الله او په رسول باندے ایمان او انفاق فی سبیل الله راجمع کړو۔ نو پدے کښې عثمان غنی ﷛ ته اشاره ده چه هغه په غزا د تبوك کښې د فوج په تیاریٔ کښې درے سوه اُوښان د پالانو او څټو او بارونو سره ورکړل، او زر دیناره ئے راوړل او د رسول الله ﷺ په مخکښې ئے کیخودل۔ او بیا ټولو صحابه کرامو ؓ کښې د ایمان سره انفاق هم وو، د چا کم او د چا زیات، د خپل خپل وس مطابق۔

وَمَا لَكُمْ : ددے نه روستو د ایمان درے وجے بیانوی، یعنی د ایمان راوړو دپاره درے علتونه او وجوهات دی، او دارنګه پدے درے کارونو سره ایمان جوړیږی هم۔

اول: اَلتَّدَبُّرُ فِیْ دَعْوَةِ الرَّسُوْلِ وَمُعْجِزَاتِهٖ۔ یعنی د رسول الله ﷺ په دعوت او د هغهٔ په معجزاتو کښې سوچ کول دی۔ دویم اَلتَّدَبُّرُ فِی الْقُرْآنِ ۔ په قرآن کریم کښې سوچ کول، او دریم اَلتَّدَبُّرُ فِی الْکَوْنِ۔ په کائناتو کښې سوچ کول دی۔

وَمَا لَکُمْ: پدے کښې انسان ته زجر او رټنه ورکړے کیږي، یعنی ستاسو څه عذر دے؟ او د ایمان نه کوم مانع دے؟ حال دا چه ددے رسول او د قرآن کریم په راتلو سره په کفر او شرك باندے د باقی پاتے کیدو تمام اسباب او وجوهات ختم شول، اُوس د ایمان راوړو نه هیڅ یو شے مانع نهٔ دے، بیا څهٔ وجه ده چه تاسو په الله او د هغهٔ په رسول باندے ایمان نهٔ راوړئ، حال دا چه رسول الله ﷺ د دعوت هره یوه طریقه اختیاروی، او هر ممکن کوشش کوی چه تاسو په خپل رب ایمان راوړئ۔

وَالرَّسُوْلُ یَدْعُوْکُمْ: ددے مطلب دا دے چه د رسول الله ﷺ دعوت موجود دے، نو هغه سبب د ایمان دے، او د هغهٔ معجزے موجودے دی، د هغهٔ ذات گرامی او د هغهٔ صفاتِ عَذْبَه (خوږهٔ) موجود دی۔ او د نبی کریم ﷺ هره خبره ایمان ته دعوت دے کله په یو طرز او کله په بل طرز۔

وَقَدْ اَخَذَ مِیْثَاقَکُمْ: یعنی الله تعالیٰ ستاسو نه وعده اخستے ده۔

(۱) اَیْ بِالْحُجَجِ، اَیْ بِنَصْبِ الْاَدِلَّةِ الْعَقْلِیَّةِ ۔ یعنی په دلیلونو سره چه الله تعالیٰ عقلی دلیلونه په خپل ایمان باندے ودرولی دی، او تاسو ته ئے عقلونه درکړیدی، او تاسو ئے په سوچ کولو باندے قادر کړی یئ۔ او ستاسو په فطرت کښې ئے په خالق او رازق باندے د ایمان راوړو رغبت او خواهش ایښے، او رسول الله ﷺ راغے او ستاسو دا فطرت ئے راپورته هم کړو، بیا څهٔ وجه ده چه تاسو د ایمان راوړو نه ډډه کوئ؟!۔

(صاحب الکشاف والقاضی البیضاوی)

(۲) یا مطلب دا دے چه الله تعالیٰ په اوله ورځ په عالم الذر کښې ستاسو نه لوظ اخستے وو چه کله د هغهٔ آخری رسول دنیا ته تشریف راوړی، نو تاسو به په هغهٔ ایمان راوړئ، بیا څهٔ سبب دے چه تاسو ایمان نهٔ راوړئ؟! او همدا مطلب غوره دے۔

اِنْ کُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ: یعنی که تاسو په یو سبب سره ایمان راوړئ نو ددے نه بل لوی سبب نشته۔

هُوَ الَّذِیْ یُنَزِّلُ: دویم سبب د ایمان د جوړولو دپاره قرآن کریم دے چه پدے کښې سوچ

کول او ددے سره تعلق ساتلو سره ایمان تازه کیږی. یعنی الله تعالیٰ چه انسانانو له د ایمان دعوت ورکولو دپاره کله نبی کریم ﷺ را اولیږهٔ، نو دے دعوت ته د قوت رسولو او ددے د تائید کولو دپاره ئے هغهٔ له ډیرے معجزے ورکړے، چه د هغے نه لویه او اهمه معجزه قرآن کریم وو، دے دپاره چه خلق دا معجزات اُووینی، او قرآن کریم آوریدو سره ایمان راوړی، او د کفر او شرك د تیارو نه را اوځی، او د ایمان په رنړا سره خپل زړونه روښانه کړی.

او الله تعالیٰ په خپلو بندگانو باندے ډیر زیات مهربانه او رحم کونکے دے، دے وجے نه هغهٔ د دوئ په حال رحم وکړو، او د دوئ د هدایت دپاره ئے کتاب را اولیږهٔ او رسول ئے را اولیږهٔ، دے دپاره چه دوئ د ایمان په دولت سره کامیاب شی، او د جنت حقدار جوړ شی، او د جهنم اُور په خپل ځان باندے حرام کړی.

آیَاتٍ بَیِّنَاتٍ: ۱– ددے نه مراد ښکاره معجزے دی چه قرآن په کښ ډیر واضح دے.
۲– دارنگه قرآنی آیتونه مراد دی.

وَمَا لَکُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَ لِلّٰهِ مِیْرَاثُ
او څه وجه ده تاسو لره چه خرچ نهٔ کوئ په لاره د الله کښ او خاص الله لره میراث
السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ لَا یَسْتَوِیْ مِنْکُمْ مَّنْ اَنْفَقَ
د آسمانونو او د زمکے دے، برابر نهٔ دے ستاسو نه هغه څوك چه انفاق ئے کړیدے
مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ط اُولٰئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ
مخکښ د فتح د مکے نه او جهاد ئے کړیدے دا کسان لوئی درجے والا دی د
الَّذِیْنَ اَنْفَقُوْا مِنْ بَعْدُ وَقَاتَلُوْا ط
هغه کسانو نه چه مالونه ئے لګولی دی روستو ددے نه، او جنګ ئے کړیدے.
وَکُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰی ط وَاللّٰهُ بِمَا
او هریو سره وعده کړیده الله تعالیٰ ښائسته (د جنت) او الله په هغه عملونو

تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرٌ ﴿۱۰﴾
چه تاسو ئے کوئ خبردار دے۔

تفسير : اُوس د انفاق کولو درے وجوهات بيانيږي۔

مفسرين ليکي : چونکه ددے سورت مرکزي مضمون د الله په لاره کښ خرچ کولو ته ترغيب ورکول دي، دے وجے نه په ګڼرو آيتونو کښ الله تعالیٰ په مختلفو طريقو سره د الله په لاره کښ خرچ کول، ددے اهميت، او ددے لوی اجر بيان کړے دے۔

اوله وجه (۱) فِيۡ سَبِيۡلِ الله ۔ يعنی اے مؤمن بنده ! آيا تهٔ د الله دين پورته کول غواړے او که نهٔ ؟ که غواړے نو خامخا به انفاق کوے۔

(۲) وَلِلهِ مِيۡرَاثُ السَّمٰوٰتِ۔ دا مالونه الله ته پاتے دی نو په جلتئ سره ئے د الله دپاره ولګوه۔

(۳) لَايَسۡتَوِیۡ۔ يعنی مال زر زر ولګوئ چه اُوچته مرتبه وګټئ ځکه چه مخکښ انفاق کونکی او روستو انفاق کونکیٔ په درجه کښ برابر نهٔ دی۔

او مفسرين ليکی چه په دے آيتِ کريمه کښ الله تعالیٰ هغه خلقو ته زجر او توبيخ هم ورکړے چه هغوئ د محتاجئ د ويرے نه د الله په لاره کښ د خرچ کولو نه ډډه کوی، حالانکه دا مال هغه ذات ورکړے کوم چه د آسمانونو او د زمکے د خزانو مالك دے، د هغهٔ په خزانو کښ هيڅ کمے نشته۔ او هغهٔ د سورتِ سبا په (۳۹) آيت کښ فرمايلی دی : ﴿وَمَآ اَنۡفَقۡتُمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ فَهُوَ يُخۡلِفُهٗ وَهُوَ خَيۡرُ الرّٰزِقِيۡنَ﴾ (تاسو چه څهٔ هم د الله په لاره کښ خرچ کوئ، الله ددے پوره پوره بدله درکوی، او هغه د ټولو نه بهتر روزی ورکونکے دے)۔

دے وجے نه د الله په لاره کښ د خرچ کولو نه يريدل، د قوی ايمان خِلاف خبره ده۔

﴿لَا يَسۡتَوِیۡ مِنۡكُمۡ مَّنۡ اَنۡفَقَ﴾ پدے کښ الله تعالیٰ د هغه خلقو فضيلت بيان کړے، چه هغوئ د مکے د فتح يا د حُديبيه د صلح نه مخکښ د الله په لاره کښ خرچ وکړو، او جهاد ئے وکړو دے دپاره چه د حق آواز اُوچت شي۔

ددے سابقينو اولينو سره هغه خلق برابر يدے نشي چه هغوئ د مکے د فتح نه پس د الله په لاره کښ خرچ وکړو، او هغه وخت ئے جهاد وکړو کله چه اسلام ته قوت او غلبه حاصله شوے وه۔

او بخاریؒ او مسلمؒ په فضائل الصحابة کښ د ابو هريره ﷺ نه روايت کړے :

[لَا تَسُبُّوْا اَصْحَابِیْ! فَوَ الَّذِیْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِیَدِهٖ لَوْ اَنْفَقَ اَحَدُكُمْ مِثْلَ اُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ اَحَدِهِمْ وَلَا نَصِیْفَهٗ]

چه زما صحابو ته کنځل مهٔ کوئ، که چرے په تاسو کښې یو کس د اُحُد غرهٔ هومره هم سرهٔ زر خرچ کړی نو د هغوئ د مُد (تقریبًا نیمائی کلو) او د نیم مُد سره برابریدے نشی۔

(بخاری: فضائل الصحابه باب ۵، مسلم فی فضائل الصحابة حدیث ۲۲۱/۲۲۲) وغیره۔

اول قسم خلق سابقین او مقربین دی او دویم قسم خلق اصحاب الیمین دی، او دا دلیل دے چه په صحابه کرامو کښې هم دا دواړه ډلے موجودے وے۔ او په روستو امت کښې هم موجودے دی ځکه چه (الفتح) نه مراد عامه فتح هم کیدے شی۔ یو اځے د صلح حدیبیه یا فتح د مکے پورے خاص نهٔ دے۔

یعنی په یو کلی او ملك کښې چه د توحید او اسلام غلبه او فتح نهٔ وی راغلی او په دغه وخت کښې څوك جهاد او انفاق کوی نو هغوی غوره دی د هغه چا نه چه روستو د غلبے نه جهاد او انفاق کوی۔

حافظ سیوطیؒ په «الاکلیل» کښې لیکلی دی: [فِی الآیَةِ دَلِیْلٌ عَلٰی أَنَّ لِلصَّحَابَةِ مَرَاتِبَ، وَأَنَّ الْفَضْلَ لِلسَّابِقِ، وَعَلٰی تَنْزِیْلِ النَّاسِ مَنَازِلَهُمْ، وَعَلٰی أَنَّ أَفْضَلِیَّةَ الْعَمَلِ عَلٰی قَدَرِ رُجُوْعِ مَنْفَعَتِهٖ إِلَی الْإِسْلَامِ وَالْمُسْلِمِیْنَ، لِأَنَّ الْأَجْرَ عَلٰی قَدَرِ النَّصَبِ]

دا آیت دلیل دے چه د صحابه کرامو مختلفے مرتبے وے، او په دوئ کښې چه کومو خلقو څومره مخکښې اسلام راوړے، په همدے اعتبار سره دوئ ته فضیلت حاصل دے۔

او پدے هم دلیل دے چه خلقو کښې به هر یو تن خپله خپله مرتبه باندے نازلولے شی، او هغوی ته به خپله مرتبه ورکولے شی،

دارنګه دا آیت ددے دلیل هم دے چه د یو عمل څومره فائده اسلام او مسلمانانو ته واپس کیږی نو په هغه اندازه د هغے افضیلت هم وی، ځکه چه اجر په اندازه د ستړی والی (او مرتبے) سره وی۔ (قاسمیؒ)

وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى: یعنی په صحابهٔ کرامو کښې د مرتبو ددے فرق باوجود الله تعالیٰ ټولو سره د جنت وعده کړے۔

حافظ ابن کثیرؒ وائی چه الله تعالیٰ ﴿وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى﴾ (او ټولو سره الله د جنت وعده کړے) ځکه وفرمایهٔ چه څوك دا ګمان ونکړی چه روستنی صحابهٔ کرامؓ د هیڅ

تعریف او صفت لائق نهٔ دی، بلکه د الله په نظر کښې تمام صحابهٔ کرامؓ د صفت لائق دی.
ابن کثیرؒ لیکی چه الله تعالیٰ د مکے د فتح کیدو نه مخکښې د خرچ کونکو او جهاد کونکو اجر او ثواب، د روستنو صحابهٔ کرامو په مقابله کښې ځکه زیات اوساتلو چه هغهٔ ته د هغویٔ د کامل اخلاص، نیت، انتهائی لِلّٰهیت، او ددے خبرے ښهٔ علم وو چه هغویٔ ځنګه د تنګئ او پریشانئ په زمانه کښې د الله په لاره کښې خرچ کړے وو.
نسائیؒ د ابو هریره ﷜ نه روایت کړے چه د صحابهٔ کرامو یوه روپئ د نورو د یو لکهـ نه زیات اهمیت لری.
او دا خبره ټولو مومنانو ته معلومه ده چه ابو بکر صدیق ﷜ په دے آیت کښې د ذکر شوی فضیلت د ټولو نه زیات حقدار وو، ځکه چه دهٔ خالص د الله د رضا دپاره خپل ټول مال خرچ کړے وو. (ابن کثیر ومحاسن التاویل)

مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَیُضٰعِفَهٗ
څوك دے هغه سړے چه قرض ورکړی الله ته قرض ښائسته، نو دوچنده به ئے کړی
لَهٗ وَلَهٗۤ اَجْرٌ کَرِیْمٌ ﴿۱۱﴾ یَوْمَ تَرَی الْمُؤْمِنِیْنَ
هغهٔ دپاره او هغهٔ لره به اجر عزتمند وی. په هغه ورځ چه تهٔ به اُووینے مؤمنان سړی
وَالْمُؤْمِنٰتِ یَسْعٰی نُوْرُهُمْ بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَبِاَیْمَانِهِمْ
او مؤمنے ښځے منډے به وهی رڼړا ګانے د دوی مخکښې د دوی نه او ښی طرفونو د
بُشْرٰىکُمُ الْیَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا
دوی ته (وئیلے به شی) زیرے ستاسو نن ورځ جنتونه دی چه بهیږی به لاندے د هغے
الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ﴿۱۲﴾ یَوْمَ یَقُوْلُ
نه ولے همیشه به یئ په هغے کښې، دا کامیابی لویه ده. په هغه ورځ چه وائی به
الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا
منافقان سړی او منافقے ښځے هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړیدے، اُوګورئ مونږ ته

نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ قِيْلَ
(انتظار اُوکړئ مونږ ته) چه واخلو مونږ ستاسو د رڼا نه وبه وئیلے شی
ارْجِعُوْا وَرَاءَ كُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ
واپس لاړ شئ روستو خپل ته نو اُولټوئ رڼا نو وبه وهلے شی په مینځ د دوی کښې
بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ
یو دیوال چه هغهٔ لره به دروازه وی، دننه به په هغے کښې رحمت وی
وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ﴿۱۳﴾
او بهر طرف د هغے نه به عذاب وی۔

تفسیر: ربط :

مفسر ابو السعودؒ لیکی چه الله تعالی اول په خپله لاره کښې د خرچ کولو حکم اوکړو، بیائے هغه خلقو ته زجر او رټنه ورکړه چه هغوئ د کنجوسئ په وجه د الله په لاره کښې خرچ نهٔ کوی، بیا ئے د هغهٔ په لاره کښې د خرچ کونکو درجے اوښودلے، نو اُوس په دے آیت کښې په یو مخصوص انداز سره د الله په لاره کښې د خرچ کولو ترغیب ورکړے کیږی، چه کوم کس د هغهٔ په لاره کښې خرچ کوی ګویا که الله له قرض ورکوی، چه ددے عوض به دهٔ ته خامخا ملاویږی۔ انفاق ته ئے قرض ووئیلو، وجه دا ده چه د قرض ادائیګی ضروری وی نو دغه شان الله تعالیٰ به دے انسان ته خامخا اجر ورکوی۔

مَنْ ذَا الَّذِيْ: پدے لفظ کښې د امر نه زیاتی طلب وی۔

[قَرْض حَسَن] دے ته وائی چه د حلال مال نه وی، د انفاق کونکی نیت ښهٔ وی، د الله په لاره کښې د ټولو نه کره مال خرچ کړی، او کوشش وکړی چه د ټولو نه ښهٔ ځائے کښې ئے خرچ کړی۔ او خپله صدقه پټه وساتی، او روستو ورپسے زباتنه او ضرر ورپسے نکړی، او ریاء کاری پرے ونکړی، او خپل خرچ کم وګڼړی اګرکه ډیر لګوی۔ او د خپل ځان عزت او د فقیر ذلت ته ونهٔ ګوری لکه دا شرطونه په سورة البقره (۲۴۵) آیت کښې تیر شوی وو۔

بیا بعض اهل علم وائی چه د آیت نه مقصد جهاد دپاره خرچ کول دی۔

او ځينے وائی چه ددے نه مقصد په بال بچ باندے خرچ کول دی۔ (زيد بن اسلمؒ)
ابـن کثيرؒ وائی : صحيح خبره داده چه د آيت مفهوم عام دے، يعنی په هر کارِ خير کښ خرچ کول مقصود دی۔
فَيُضَاعِفَهٗ لَهٗ: يعنی څوك چه د الله په لاره کښ په خالص نيت سره خرچ کوی، الله هغهٔ له د يو په بدله کښ څو چنده ورکوی، او ډيره عُمده بدله به ورکوی، يعنی د الله تعالیٰ له خوا چه دهٔ ته کومه بدله ملاوېږی هغه به په مقدار کښ څو چنده زياته او عُمده وی۔
يَـوْمَ تَرَی الْمُؤْمِنِيْنَ: اُوس بيـا ايمان تـه ترغيب دے، او د ايمان فضيلت ئے بيان کړيدے چـه ايمـان جـوړ کـړئ، د ايمـان رنړا ځان کښ راولئ، يو خړ پړ ايمان دے، او بل د نُور والا ايمـان دے، نو ځان کښ د نُور والا ايمان پيدا کړئ۔ او هغه خواری غواړی ځکه چه هغه رنړا د انسـان نـه زر مـړه کيږی، وجه دا ده چه د ايمان رنړا په آخرت کښ پکار راځی، چه ايمـان کـښ دِيے رنـړا وه نـو په آخرت کښ به دِيے په مخ او لاس کښ رنړا وی، او که ايمان کـښ دِيے رنړا نهٔ وه، نو هلته به رنړا نهٔ وی، وګوره په آخرت کښ د ايمان رنړا او د منافقت تيـارے تـه، نو د قيامت په ورځ به ايمان د ايمان والو رهنمائی کوی، او هغوئ به جنت ته رسـوی۔ او مـنـافـقـت بـه مـنـافـقـان پـه لاره کـښ په تيارهٔ کښ پريدی، او بيا به جهنم ته غورزيږی۔

ربط :
مخکښ آيت کښ حيات ذکر شو، نو اُوس دلته نُور (رنړا) بيانيږی۔
نُوْرُهُمْ: ددے نـه د ايمان او د اعمالو نُور مراد دے۔ عبد الله بن مسعود ﷺ او قتادةؒ وغيره دلته د [نور] (رنړا) نه حقيقی او ظاهری رنړا اخستے ده، او وئيلی ئے دی چه په دے ورځ به د هريو کس رنړا د هغهٔ د عمل مطابق وی، د چا به د غرهٔ برابره وی، د چا به د کهجورے د وُنے هـومره، د چا بـه د انسان ذ قـد هـومره، او د چا به ددے نه هم کمه وی، تردے چه د بعضو رنړا به صرف د هغهٔ د دواړو قدمونو ترمينځه وی۔
او ضحاكؒ، مقاتلؒ او ابن جريرؒ وغيره خيال دے چه ددے نه مراد پته او معنوی رنړا ده، يـعـنـی د ايمـان او نيك عمل ثواب، چه دا به د جنتيانو مخے ته راشی، او د دوئ د نجات سبب به جوړيږی، او د دوئ په ښی لاسونو کښ به د دوئ عملنامے وی۔
د اول قـول مـطـابـق پـدے آيتونو کښ د قيامت د ورځے بعض تصوير راخکلے شويدے،

کله چه د قیامت ورځ راشي، او د څه مودې تیریدو نه روستو کافران او مشرکان جهنم ته ولیږلې شي چه بت او غلط بابا ئې هم اُور ته لاړو او دوی هم۔ نو دلته به په میدان د حشر کښې منافقان او مؤمنان پاتې شي، نو پدې وخت کښې به الله تعالیٰ سخته تیارهٔ راولي، نو دوئ ته به حکم وشي چه روان شئ، پل صراط ته ځان ورسوئ نو الله به مؤمنانو ته رڼړا ورکړي او منافقانو ته به هم معمولي شان رڼړا ورکړي لکه د نوك په اندازه، چه دا به کله بلیږي کله مړهٔ کیږي، په هوار میدان کښې به روان وي خو چه کله صراط ته ورسیږي نو سخت ځای راغې، د غورزیدو کنده ده، نو دلته رڼړا ته ډیر ضرورت دے،

پدے وخت کښې به د منافقانو نه دغه رڼړا هم واخستے شي، او د مؤمنانو او د منافقانو ترمینځ به آهو میتهکلي یو دیوال مینځ ته راشي چه د دوی بیلتون به راولي چه دننه طرفته به یخه او نرمه هواء وي او بهر طرفته به عذاب وي، نو منافقان به په عذاب کښې پاتې شي، او لاندې به جهنم ته پریوزي۔

منافقانو ته الله تعالیٰ ولې رڼړا ورکړه ؟ نو ددے وجه دا وه چه دوی هم کلمه وئیلې وه لیکن چونکه دا کلمه د زړهٔ نه نهٔ وه بلکه تش د خولې وه، نو فائده ئې هم کمه وه، په سخت ځای کښې پکار رانغله، په حقیقي ځای کښې دا کلمه نهٔ وه نو په حقیقي ځای کښې ترې ختمه شوه، او په لفظي ځای (خوله) کښې وه نو په عام ځای کښې ورسره رڼړا هم وه۔

نو دے وخت کښې به منافقان مؤمنانو ته آوازونه شروع کړي چه مونږ ستاسو ملګري او خپلوان وو، یو ځای به مو مونځونه کول او یو ځای به وسیدلو، مونږ ته هم لږه رڼړا راکړئ، نو هغوی به ورته جواب ورکړي چه آؤ تاسو زمونږ ملګري وئ لیکن تاسو کښې پنځه مرضونه وو چه د هغې په وجه اُوس جهنم ته روان یئ۔

يَوْمَ: دا ظرف دے متعلق دے د ﴿ وَلَهُ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴾ پورے۔ یعنی دغه اجر به دوئ ته ملاویږي په هغه ورځ۔ یا متعلق دے په پټ (اُذْكُرْ) پورے یعنی رایاده کړه هغه ورځ، آه۔

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ: رڼړا به مخې او ښي طرفته وي ځکه چه دوی نیك بخت دي، اصحاب الیمین دي، او خطیبؒ او رازيؒ وئیلي دي چه د ایمان او عمل صالح په سبب به رڼړا مخې طرفته وي، او د انفاق په وجه به رڼړا ښي طرفته وي ځکه چه انفاق ئې په ښي لاس ورکړے دے۔

پدے معنیٰ سره به باء په (بِاَيْمَانِهِمْ) کښې په معنیٰ د عَنْ سره وي۔ او ضحاكؒ دے کښې دا

ترکیب وئیلے دے چه وَبِاَیْمَانِهِمْ کښې باء په معنیٰ د فِیْ سره ده، او دا خبر مقدم دے، مبتداء پټه ده، او تقدیر داسے دے اَیْ وَفِیْ اَیْمَانِهِمْ کُتُبُ اَعْمَالِهِمْ۔ یعنی په ښی لاسونو کښې به ئے عملنامے وی، (ګویا که دا د جنت ټیکټ دے) او صرف مخے ته به ئے رنړا وی۔
یَوْمَ یَقُوْلُ الْمُنَافِقُوْنَ: یعنی په دے ورځ به منافقان سړی او ښځے کله چه د مومنانو مخے او ښی اړخ ته رنړا اُووینی، او ویه ګوری چه دا رنړا دوئ لره ډلے ډلے جنت طرفته روان کړی دی، او هغوئ به د خپل منافقت په تیارو کښې غلط او روستو روستو روان وی، نو جنتیانو ته به آواز وکړی او ویه وائی چه لږ یو نظر خو زمونږ طرفته وګورئ، دے دپاره چه ستاسو د رنړا روښانتیا زمونږ طرفته هم وشی، او مونږ هم هغه خواته لاړ شو چرته چه تاسو روان یئ۔
ابن جریرؒ د [اُنْظُرُوْنَا] معنیٰ په [اِنْتَظِرُوْنَا] سره کړے، یعنی کله چه جنتیان تیزئ سره جنت طرفته روان وی، نو منافقان به دوئ ته ووائی چه لږ مونږ ته انتظار وکړئ او زمونږ دپاره هم سفارش وکړئ، دے دپاره چه مونږ هم تاسو سره لاړ شو۔
نَقْتَبِسْ: اقتباس د بَلے شوے رنړا نه ځان دپاره لیتکے بلول دی، دلته ترے رنړا حاصلول مراد دی۔
او دے کښې بعض علماؤ دا وئیلی دی چه منافقانو له نور نشته صرف امید ئے دا دے چه د مؤمنانو په رنړا سره به مونږ په صراط باندے لاړ شو لیکن هغوی خو ډیر تیز په صراط باندے تیر شول نو منافقان د رنړا نه بالکل محروم شول۔
لیکن اول قول د ابن عباس ﷛ دے چه منافقانو ته هم څه وخت دپاره رنړا ورکړے کیږی۔ اخرجه الطبرانیؒ وابن مردویهؒ عن ابن عباس ﷛)
قِیْلَ ارْجِعُوْا: یعنی ملائك یا مومنان به دوئ اُورتی او ویه وائی چه لاړ شئ د هغه ځای نه رنړا تالاش کړئ د کوم ځای نه چه مونږ ته ملاؤ شوے ده، یعنی د میدان محشر نه۔ ❁ یا معنیٰ داده چه دا خو د ایمان رنړا ده چه دا مونږ ته په دنیا کښې ملاؤ شوے وه، دے وجے نه تاسو دنیا ته واپس لاړ شئ، او هلته نه دا رنړا حاصله کړئ۔ او هلته تلل ممکن نۀ دی نو د وی ته رنړا حاصلیدل هم ممکن نۀ دی۔
❁ یا معنیٰ دا ده چه نامراده او تاوانیان واپس لاړ شئ، او خپل ځان دپاره بله کومه رنړا تالاش کړئ۔

ددے خبرے اترو نه پس به د مومنانو اومنافقانو ترمینځ یو غټ دیوال اووهلے شي چه هغه به منافقان د مومنانو د رنړا نه بیخي لرے کړي، او د هغوئ تیارهٔ به نوره هم زیاته شي. ځکه چه د رنړا نه روستو تیاره راتلل ډیر سخت وي.

او په دے دیوال کښې به یو دروازه جنت طرفته پرانستے شي چه ددے نه به ایمان والا جنت ته داخل شي، او منافقان به هغوئ لره د افسوس نه ډکو نظرونو سره لیدونکي پاتے شي، په دے دروازه کښې دننه به جنت او د هغے نعمتونه وي، او ددے نه بهر چرته چه منافقان وي، تکه توره تیارهٔ او عذاب به وي.

يُنَادُوْنَهُمْ أَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ قَالُوْا بَلٰى
دوی به آوازونه اُوکړي هغوی ته آیا نهٔ وو مونږ ملګري ستاسو، هغوی به اُووائي آؤ
وَلٰـكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ أَنْفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ
لیکن تاسو فتنه کښې اچولي وو ځانونه خپل او انتظار مو کړے وو او شکونه مو
وَغَرَّتْكُمُ الْأَمَانِيُّ حَتّٰى جَاءَ أَمْرُ
کړي وو او دهوکه کړي وو تاسو لره آرزوګانو (خپلو خواهشاتو) تردے چه راغے حکم
اللّٰهِ وَغَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿١٤﴾ فَالْيَوْمَ لَا
د الله او دهوکه کړي وئ تاسو په الله باندے دهوکه درکونکي شي. نو نن به نشي
يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
اخستے تاسو نه بدله (هیڅ جرمانه) او نهٔ د هغه کسانو نه چه کفرئے کړیدے
مَأْوٰىكُمُ النَّارُ هِيَ مَوْلٰىكُمْ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿١٥﴾
ځائے د اُوسیدو ستاسو اُور دے دا مددګار ستاسو دے او بد دے ځائے د ورګرځیدو.

تفسیر: کله چه د مومنانو او منافقانو ترمینځ غټ دیوال اووهلے شي، نو منافقان به په سخت افسوس او نا امیدئ سره بیا ایمان والو ته آوازونه شروع کړي، او وبه وائي چه آیا مونږ ستاسو پشان په ظاهره کښې مومنان نهٔ وو؟ ستاسو په جوماتونو کښې به مو

مـونـږ کـولـو، او ستـاسـو پشان نور نیك عملونه به مو کول، بیا ولے زمونږ نن دا حالت دے؟!

نـو مـومـنان به هغویٔ ته دا جواب ورکړی چه آؤ! تاسو په دنیا کښ زمونږ سره وئ، په ظـاهـره کـښ بـه مـو زمـونـږ غـونـتـه مومنان وئ، او نیك عملونه به مو کول، لیکن په حـقـیـقـت کښ نهٔ تاسو مومنان وئ، نهٔ ستاسو نیت صحیح وو، او نهٔ ستاسو په عملونو کښ اخلاص او لِلّٰهِیّت وو، تـاسو د کفر او نفاق په بیمارئ کښ آخته وئ، او د خواهشاتو او خـوندونو بندګی مو کوله، او په هره لمحه کښ به مو د نبی کریم ﷺ او مومنانو دپاره خراب سـوچـونـه کـول، او پـه دروغـژنـو آرزوګـانـو سره بـه مـو خپلو ځانونو له دهوکه ورکـولـه چـه مـونـږ بـه هم الله تعالیٰ معاف کوی، او د مخلصو مسلمانانو پشان به مونږ هم جنت ته ځو۔

فَتَنۡتُمۡ: (۱) یـعـنـی تـاسـو ځانونه د کفر او شرك په فتنه کښ غورزولی وو، او دا د تباهئ سبب دے نو ځکه ئے ورته فتنه ووئیله۔

(۲) مجاهدؒ وائی: (اَهۡـلَکۡتُمُوۡهَا بِالنِّفَاقِ) تـاسـو خپـل نفسونه په نفاق سره هلاك کړی وو۔

(۳) یا تاسو په شهواتو او خوندونو سره ځانونه هلاك کړی وو۔ (ابن عباسؓ)

(٤) یا په ګناهونو سره۔ (ابوسنانؒ)

وَتَرَبَّصۡتُمۡ: (۱) اَیۡ بِـالۡـمُؤۡمِنِیۡنَ الدَّوَائِرَ۔ یـعـنـی انـتـظـار بـه مو کولو په نبی او مؤمنانو باندے د حوادثو د زمانے او د مصیبتونو راتللو۔

(۲) بِتَأۡخِیۡرِ التَّوۡبَةِ ۔ یـا تـاسـو انـتـظـار کـولـو پـه توبه۔ یعنی په جلتئ سره مو د مرګ نه مخکښ توبه نهٔ ویستله (ابن عباس ﷛) اول غوره دے۔ (فتح البیان)

وَارۡتَبۡتُمۡ: یـعـنی تاسو په دین او ددے په کارونو کښ شکونه کول، په توحید، په قرآن او د رسول الله ﷺ په معجزاتو کښ، او په وعده د بعث بعد الموت کښ مو شکونه کول۔

وَغَرَّتۡکُمُ الۡاَمَانِیُّ: (۱) (آرزوګـانو تاسو په دهوکه کښ واچولئ) چه الله به مو معاف کړی، هغه غفور رحیم دے۔

(۲) یا تاسو دا آرزوګانے کولے چه یوه ورځ به مسلمانان خامخا کمزوری شی۔

(۳) اَلۡاَمَانِیُّ فِی الدُّنۡیَا بِطُوۡلِ الۡاَمَلِ وَالطَّمَعُ فِی امۡتِدَادِ الۡاَعۡمَارِ۔

يعنې دنيا كښې ستاسو ډيرے آرزوګانے وے چه زمونږ به اُوږد ژوند وي، ګاړي موټرے، بنګلے او كاروبارونه او تجارتونه به وي او مزے به كوو۔ څوك چه پدے اميدونو كښې ولګيږي نو هغه ايمان جوړولو ته نۀ وزګاريږي۔

حَتّٰى جَاءَ أَمْرُ اللهِ: (١) دے نه مراد مرګ او قيامت دے، يعنې تاسو په دے دهوكه كښې پاتے شوئ، تردے چه مرګ په تاسو را اوغورځيدۀ او تاسو ته د توبے توفيق ملاؤ نشو،

(٢) يا معنىٰ دا ده چه الله تعالىٰ د خپل رسول مدد وكړو، خپل دين ئے غالب كړو، او ستاسو آرزو په خاورو كښې ككړه شوه چه مسلمانان به كمزوري كيږي۔

وَغَرَّكُمْ بِاللهِ الْغَرُوْرُ: يعنې د الله د حِلم (صبر) او د هغۀ له خوا د مهلت وركولو نه تاسو غلطه فائده واخسته، په لوى الله مو پرواه نۀ كوله، د هغه نه مو يره نۀ كوله، هغۀ ته به مو ځان نۀ نزدے كولو، د شيطان په غولولو كښې راغلئ، او په كفر او نفاق باندے ټينګ پاتے شوئ تردے چه مرګ درته راغے۔

فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ: دا قول د مؤمنانو دے، يا د الله تعالىٰ، يا د ملائكو دے منافقانو ته۔ يعنې اُوس ستاسو د خپل ځان علاج ختم شو۔ نن كه تاسو ډكه زمكه سرۀ زر هم دے دپاره پيش كړئ چه ستاسو ځانونه د اُور د عذاب نه خلاصے اُومومي نو داسے به اُونشي، او نن به تاسو سره همدا انجام د كافرانو هم وي۔

ستاسو د ټولو استوګنه به جهنم وي، تاسو ټول به جهنم راتاؤ كړي، چه دا ستاسو د ټولو دپاره ډيره خرابه استوګنه ده۔

فِدْيَةٌ: يعنې عوض او بدله نۀ په مال او نۀ په نفس سره او نۀ په لږ مال او نۀ په ډير مال سره۔ او پدے كښې د نجات نه د دوئ اميد قطع كول دي۔

مَوْلَاكُمْ: ١– د مولىٰ نه مراد دلته اولىٰ دے، يعنې دا اُور ستاسو سره لائق دے، ليكن دا تاويلي تفسير دے۔

٢– يا په معنىٰ د مددګار سره دے په طريقه د تهكم سره، يعنې هيڅوك مددګار به ئے نۀ وي۔

٣– يا په معنىٰ د دوست سره دے۔

٤– يا په معنىٰ د مُتَوَلِّي دے، يعنې الله تعالىٰ به د دوئ عذاب اُور ته وسپاري او هغه به د دوئ د عذاب متولي (واكدار) شي۔

أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا أَنْ تَخْشَعَ
آیا وخت نۀ دے راغلے هغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړیدے چه عاجزی اُوکړی
قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُوْنُوْا
زړونه د هغوی ذکر د الله ته او هغه څۀ ته چه نازل شویدے د حق نه او نشی دوی
كَالَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ
پشان د هغه کسانو چه ورکړے شوے وو ورته کتاب مخکښ د دوی نه نو اُوږده شوه
عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُوْنَ ﴿۱۶﴾
په دوی باندے موده نو سخت شو زړونه د هغوی او ډیر د هغوی نه نافرمان دی۔
اِعْلَمُوْا أَنَّ اللهَ يُحْيِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا قَدْ
پو هه شئ یقیناً الله راژوندئ کوی زمکه روستو د اُوچوالی د هغے نه یقیناً
بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۷﴾
مونږ بیان کړی تاسو ته آیتونه دے دپاره چه تاسو د عقل نه کار واخلئ۔

تفسیر : اُوس بیا د ایمان د جوړولو دلائل بیانوی، الله تعالیٰ مؤمنانو ته د خشوع اختیارولو دعوت ورکړیدے چه پدے سره ایمان جوړیږی۔

شان نزول

مفسرینو د عبد العزیز بن ابی روادؒ نه نقل کړیدی : [اِنَّ اَصْحَابَ النَّبِيِّ ﷺ ظَهَرَ فِيهِمُ الْمِزَاحُ وَالضِّحْكُ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الآيَةُ ﴿ اَلَمْ يَأْنِ﴾ الخ] ۔ یعنی په بعض صحابه کرامؓ کښ خوش طبعی او مزاح او خندا پیدا شوه، نو الله ورپسے دا آیت راولیږلو۔

(مصنف ابن ابی شیبة)

او مسلمؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ او ابن المنذرؒ وغیره د ابن مسعود ﷺ نه نقل کړیدی چه هغه وفرمایل : [مَا كَانَ بَيْنَ إِسْلَامِنَا وَبَيْنَ اَنْ عَاتَبَنَا اللّٰهُ بِهٰذِهِ الآيَةِ ﴿ اَلَمْ يَأْنِ﴾ الخ اِلَّا اَرْبَعَ سِنِيْنَ] (مسلم فی التفسیر حدیث : ٢٤)

یعنی زمونږ لا د اسلام څلور کاله نهٔ وو تیر شوی چه الله تعالیٰ مونږ پدے آیت سره ملامته کړو۔ یعنی په تاسو کښې ډیرے ډیرے خنداګانے رانشي۔

او ددے آیت مقصد ایمان والو ته دا رغبت ورکول دی چه کله د دوئ مخے ته د قرآن کریم تلاوت اوکړے شي، یا دوئ د الله تعالیٰ ذکر او تلاوت کوی، نو د رشتینے ایمان تقاضا داده چه د دوئ په زړونو کښې نرمي او عاجزي پیدا شي۔

حسن بصریؒ وائی چه صحابهٔ کرامؓ د الله تعالیٰ په نظر کښې محبوب ترین خلق وو، او هغوئ الله لره د هر چانه زیات یادونکی وو، او د هغوئ په زړونو کښې به د قرآن په آوریدو سره ډیره زیاته نرمي اوخشوع راتله، ددے باوجود الله تعالیٰ د دوئ په باره کښې په دے آیت کښې وئیلی دی چه د الله د ذکر سره د دوئ په زړونو باندے كَمَا حَقَّهٗ (پوره طور) سره خشوع نهٔ راځی، نو بیا نورو مسلمانانو له خو زیات یریدل پکار دی، او د قرآن په آوریدو سره د زړهٔ د خشوع او عاجزئ زیات اهتمام کول پکار دی۔ (فتح البیان)

بعض وائی: دا د منافقانو په باره کښې نازل وو چه هغوی به د سلمان فارسی ﷺ نه وغوښتل چه دوئ ته د تورات عجیبه قصے بیانے کړی۔ نو دوی ته دعوت ورکړے شو چه د الله ذکر او قرآن دِے په دوئ اثر وکړی۔ (قرطبیؒ)

لِذِكْرِ اللهِ : د [ذکر] نه مراد د الله تعالیٰ نوم، یا د قیامت په ورځ د هغهٔ وعد او وعید او حساب کتاب دے، او په ﴿ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ﴾ کښې د [حق] نه مراد قرآن کریم دے۔

بعضو د [ذکر] او د [حق] دواړو نه قرآن کریم اخستے دے۔

او په لفظ د ذکر کښې د ایمان او د عقیدے مسائلو ته اشاره ده، او په دویم لفظ کښې انفاق فی سبیل الله او نورو عملونو ته، چه قرآن کریم کښې نازل شویدی۔ او دا آیت دلیل دے چه خشوع او عاجزی انسان کښې د الله په ذکر او بل په قرآن باندے پیدا کیږی۔

﴿ وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ ﴾ کښې مومنان د یهود او نصاریٰ پشان کیدو نه منع کړے شوی دی، چه هغوئ دپاره الله تعالیٰ د قرآن کریم غونته تورات او انجیل نازل کړے وو، لیکن د زمانے په تیریدو سره د دوئ تعلق د هغه کتابونو سره کمزورے شو، او هغوئ د انبیاؤ تعلیمات هیر کړل، چه ددے نتیجه دا را اُووتله چه د هغوئ د زړونو نه اِلٰهی ویره ختمه شوه، په هغے کښې سختی پیدا شوه، او هغوئ تورات او انجیل بدل کړو، او د هغے په احکامو باندے ئے عمل کول پریښودل۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه په دے آیتِ کریمه کښ مومنانو لره د یهود او نصاریٰ پشان کیدو نه منع کړے شوی دی چه هغوئ د زمانے په تیریدو سره د معمولی دنیوی فائدو دپاره د الله کتاب بدل کړو، هغه ئے شاته گذار کړو، د اِنسانانو خود ساخته اقوال ئے دین وگنړلو، او خپل ملیان او پیران ئے معبودان جوړ کړل، چه ددے نتیجه دا را اووته چه د دوئ زړونه سخت شول، او د الله کلام بدلول د دوئ عادت جوړ شو۔ نو نهٔ د هغوی زړونه وعظ قبلوی او نهٔ په وعد او وعِید سره د هغوی په زړونو کښ نرمی راځی۔ دے وجے نه الله تعالیٰ مومنان په هره معامله کښ د دوئ د مشابهت نه منع کړل۔

الله تعالیٰ د یهودیانو همدا حالت بیانوی او په سورتِ مائده (۱۳) آیت کښ فرمائی:

﴿فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قَاسِيَةً يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ﴾ الآية (بیا مونږ د دوئ د لوظ ماتولو د وجے نه په دوئ باندے لعنت وکړو، او د دوئ زړونه مو سخت کړل (چه ددے په نتیجه کښ) دوئ د الله په کلام کښ تحریف پیدا کړو، او دوئ ته چه په څهٔ شئ سره نصیحت شوے وو د هغے لویه برخه ئے هیره کړه)۔

فائده: دا آیت د فُضیل بن عیاضؒ او د عبد الله بن المبارکؒ د هدایت ذریعه جوړه شوے وه۔ فُضیل په یوه جینئ باندے عاشق وو نو د هغے خوا ته په یو دیوال باندے ور اوریدو چه د یو لوستونکی نه ئے دا آیت واوریدو ﴿اَلَمْ يَاْنِ﴾ نو دهٔ وویل: (بَلٰى يَا رَبِّ قَدْ آنَ) آؤ، اے زما ربه، وخت راغے۔ بیا په یوه شاړه لاره تیریدو نو قافلے والو خپل مینځ کښ وویل چه ددے ځای نه سفر کوو، او بعضو ووئیل چه سهار کښ به سفر وکړو دے دپاره چه فُضیل په لاره کښ په مونږ حمله ونکړی نو دهٔ ځان سره وویل چه (اَنَا اَسْعٰى بِاللَّيْلِ فِى الْمَعَاصِىْ) زهٔ د شپے د گناهونو پسے گرځم او مسلمانان زما د ضرر نه یریږی، او زهٔ وینم چه الله زهٔ د دوی خوا ته ددے دپاره راوستم چه زهٔ منع شم، بیا ئے وویل:

[اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ قَدْ تُبْتُ اِلَيْكَ، وَجَعَلْتُ تَوْبَتِىْ مُجَاوَرَةَ الْبَيْتِ الْحَرَامِ] اے الله! ما تا ته توبه ویستله او خپله توبه مے دا وگرځوله چه زهٔ به په مسجد حرام کښ وسیږم۔ (بیا ئے علم زده کړو او په مکه کښ وسیدو تردے چه وفات شو) (سیر اعلام النبلاء۸/۴۲۴)۔

او ابن المبارکؒ سیتار او رباب وهلو نو د هغے نه ورته آواز راغلو چه دا آیت ئے لوستلو (اَلَمْ يَاْنِ) (کیدے شی دا به کوم ملائك وئیلے وو) نو هغه رباب او سیتار مات کړو او علم ته کیناستو او ډیر بنهٔ محدث او مجتهد ترے جوړ شو۔

أَلَمْ يَأْنِ: اَنیٰ او آنَ په معنیٰ د وخت راتللو سره دے۔ اَنیٰ لَكَ، يَأْنِيْ إِذَا حَانَ۔ اَىْ جَاءَ إِنَاهُ اَىْ وَقْتُهٗ۔ اَنیٰ يَأْنِى لفظ د وخت راتللو دپاره استعمالیږی۔

یا معنیٰ ده: [اَلَمْ يَحْضُرْ خُشُوْعُ قُلُوْبِهِمْ ؟ وَلَمْ يَجِيْ وَقْتُهٗ؟] آیا نهٔ ده حاضره شوے خشوع د زړونو د دوی؟ او نهٔ دے راغلے وخت د خشوع د زړونو د دوی؟۔

وَلَا يَكُوْنُوْا: (۱) دا یا منصوب دے عطف دے په تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ باندے، نو د اَنْ د لاندے دے۔ او ددے ترتیب وجه به دا وی چه د زړهٔ خشوع د یهودو او نصاراؤ د مشابهت او د قسوتِ قلب نه مانع ده۔

(۲) حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه دا مستقله نهی ده، او پدے کښ منع ده مؤمنانو لره د مشابهت د یهود او نصاراؤ نه لکه مخکښ د ابن کثیرؒ په قول کښ ذکر شو۔

فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ: یعنی د دوئ او د دوئ د انبیاؤ ترمینځ زمانه اُوږده تیره شوه نو دوی د انبیاؤ علیهم السلام نصیحتونه هیر کړل۔ او څوك بیان کونکے ورته نهٔ وو چه د هغه د بیان په وجه ئے زړونه نرم شی۔ ددے نه معلومه شوه چه څوك وعظ او نصیحت نهٔ آوری، او د الله د کتاب درس ته نهٔ کینی، نو د هغهٔ زړهٔ به خامخا سختیږی، او بیا به ئے ایمان خرابیږی، لکه اُوس د اکثرو انسانانو همدا مرض دے چه د جُمعے په ورځ هم ناوخته راروان وی، او د دین د آوریدو دپاره ورسره وخت نهٔ وی۔

یا مطلب دا دے چه دوئ ته د دنیا موده اُوږده ښکاره شوه چه قیامت به کله راځی او مرګ به کله وی، نو ددے وجه نه زړونه ئے سخت شو، او د ډیرو ایمانونه خراب شو۔

فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ: یعنی زړونه ئے فاسد شو او عملونه ئے د فسق شو۔

اِعْلَمُوْا أَنَّ اللّٰهَ: دا د زړهٔ د ژوندی کولو مثال دے، لکه لقمان حکیمؒ خپل ځوی ته وئیلی وو: [اِنَّ اللّٰهَ يُحْيِي الْقُلُوْبَ بِنُوْرِ الْحِكْمَةِ كَمَا يُحْيِي الْاَرْضَ الْمَيْتَةَ بِوَابِلِ السَّمَاءِ]

(الموطأ باب ما جاء فی طلب العلم رقم: ۲۸۵۹)

الله تعالیٰ زړونه د حکمت (قرآن او سنت) په رڼا سره داسے راژوندی کوی لکه څنګه چه مړه زمکه د آسمان په باران سره راژوندئ کوی۔ دا هغه مثال دے۔

د لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ (۱) مطلب دا دے چه دا سوچ وکړه چه الله تعالیٰ اُوچه زمکه لمده او شنه کړی، نو که زهٔ الله ته توبه ویاسم او صحیح ایمان والا شم نو زما فسق او فجور به په نیکئ او په تقویٰ باندے بدل کړی، او ما کښ به هم ښائسته ونے او بوټی د ایمان او د

تقوىٰ او د نيکو عملونو راوخيژي.

(۲) او د آيت الفاظ عام دي پدے وجه پدے کښې اثبات د قيامت او د بعث بعد الموت هم دے. يعني لکه څنګه چه الله تعالىٰ په مړه زمکه کښې د باران په څاڅکو سره ژوند اچوي، دغه شان هغه د قيامت په ورځ د مړو په ژوندي کولو، او په دنيا کښې سخت زړونه د دلائلو په ذريعه د نرمولو او هغه په نيغه لاره راوړلو قدرت لري، هغه په دے قادر دے چه د انسانانو د بندو زړونو دروازے پرانيزي او په هغے کښې د ايمان او هدايت رڼړا ننباسي، ددے سختي په نرمئ سره او ګمراهي ئے په هدايت سره بدله کړي.

إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ وَالْمُصَّدِّقَاتِ وَأَقْرَضُوا اللَّهَ
يقيناً صدقه کونکي سړي او صدقه کونکے زنانه او چه قرض ورکوي الله تعالىٰ ته
قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿۱۸﴾
قرض ښائسته دوچنده به کړے شي دوي لره (دا قرض) او دوي لره اجر عزتمند دے.
وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ أُولَئِكَ هُمُ
او هغه کسان چه ايمان ئے راوړيدے په الله او په رسولانو د هغهٔ، دا کسان هم دوي
الصِّدِّيقُونَ وَالشُّهَدَاءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ لَهُمْ
صديقين دي (پوره تصديق کونکي دي) او ګواهان دي په نيز د رب د دوي، دوي لره
أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا
اجر د دوي دے او رڼړا د دوي، او هغه کسان چه کفر ئے کړيدے او دروغژن ئے ګڼړلي دي
بِآيَاتِنَا أُولَئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿۱۹﴾
آيتونه زمونږ دا کسان جهنم والا دي.

تفسير : اُوس بيا صدقے ته ترغيب ورکوي، او دا سبب د حياتِ قلبي دے، پدے سره ستا زړهٔ ژوندے کيږي، لکه حديث کښې هم دا راغلي دي چه مسکين ته طعام ورکړه نو زړهٔ به دِے ژوندے شي.

یعنی کوم خلق چه ډیره ډیره صدقه ورکوی، که هغه نارینه وی او که زنانه، او د خیر او ښیګړے په مختلفو کارونو کښ خپل مال په خلوصِ نیت سره د الله د رضا دپاره خرچ کوی، الله تعالیٰ د هغوئ د اعمالو څو چنده زیاتولو سره بدله ورکوی، ډیر کرته د لسو نه اُوو سوو چندو پورے، بلکه کله ددے نه هم ډیره زیاته بدله ورکوی، او د ټولو نه زیاته لویه بدله به دوئ ته په آخرت کښ (جنت) ورکوی، چه د هغے د عیش او آرام او د هغے د نعمتونو په دنیا کښ څوك تصور هم نشی کولے۔

إِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ: دا په تشدید د صاد سره، د صدقے نه دے، په اصل کښ مُتَصَدِّقِيْنَ او مُتَصَدِّقَات دے، او په تشدید کښ ډیر والی د صدقے ته اشاره ده، نو مؤمن به ډیرو صدقو والا وی۔ او روستو ئے قرض ذکر کړو اګرکه صدقه قرض ته هم شامله ده، نو ددے (۱) یوه وجه دا ده چه په قرض حسن کښ اشاره ده چه ستا په صدقه کښ دِے نیت خالص وی، او د اجر اُمید وی او هسے مال لګول دِے نهٔ وی۔

(۲) بله وجه دا ده چه په مؤمن دوه قسمه صدقے ورکول لازم دی، یو دائمی صدقے چه هر وخت کښ څه نا څه صدقه وکړی، او دویم هنګامی حالت کښ صدقه کول لکه مثلًا جهاد ته ضرورت راغلو، ستا په خپلوانو او ملګرو ناڅاپی آفت او مصیبت راغلو نو دلته به هم ډیر مال لګوے، داسے به نهٔ وائے چه ما پرون اته آنے ورکړے وے او بس۔ نو اَلْمُصَّدِّقِيْنَ کښ هنګامی حالت کښ صدقه مراد ده، او قرض حسن کښ دائمی صدقه ده۔ او دا ډیره ښکلے فائده ده، چه د انسان ذهن جوړوی۔

(۳) بعض وائی: اول کښ زکاة او نورو واجباتو او نفلی خیراتونو ته اشاره ده، او په دویم کښ اشاره ده انفاق ته په لاره د دعوت او د اشاعت د دین کښ او د جهاد او قتال دپاره۔

(٤) بعض وائی: په اول تعبیر کښ اشاره ده نظر کولو مسکینانو او فقراؤ ته او په دویم تعبیر کښ اشاره ده لحاظ کولو د الله تعالیٰ ته بغیر د ریاء او سمعت وغیره نه۔ (احسن الکلام)

وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا بِاللّٰهِ: د مخکښی او دے آیت نه د مسلمانانو درے قسمه خلق بیانیږی، یو قسم هغه خلق وو چه هغوی په بیحده اخلاص سره د الله په لاره کښ خرچ کوی، د دوئ اجر په مخکښ آیت کښ بیان شو۔ او دوه قسمه پدے آیت کښ بیانیږی، دویم قِسم خلق هغه دی چه هغوئ په الله او د هغهٔ په رسول ایمان راوړو۔

او د ایمان مفهوم د اهلِ سنت په نیز دادے چه په زړهٔ سره ایمان راوړے شي، او ژبے سره ددے ایمان اقرار وکړے شي، او بیا د زړهٔ، ژبے او د اندامونو د عمل په ذریعه ددے تصدیق وکړے شي، یعني منافقت طریقے سره ایمان نهٔ وی راوړے. د امتِ محمدیه داسے خلقو ته الله تعالیٰ د صدیقینو لقب ورکړے.

صدیق مبالغه ده په صِدق او تصدیق کولو کښ، یعني ډیر رشتینی او ډیر تصدیق کونکی. بعض وائی : صدیقین هغه چا ته وائی چه د الله په توحید او د ټولو پیغمبرانو په تصدیق کښ ئے هیڅ شك نهٔ وی راغلے.

او بل صدیق په خاصه معنیٰ سره دے، او هغه دا چه هغهٔ د یوے لمحے دپاره هم الله او د هغهٔ رسول دروغژن نهٔ وی ګڼړلے.

په دے اعتبار سره ددے لقب مستحق ابو بکر صدیق ﷺ، د آلِ فرعون مردِ مومن، او هغه مومن سړے شو چه د هغے ذکر په سورهٔ یسٓ کښ راغلے.

حافظ ابن القیمؒ په ((طریق الهجرتین)) کښ د انسانانو طبقات ذکر کړیدی، او وئیلی ئے دی چه د نبوت مرتبه پسے د صدیقیت مرتبه ده، او دوی ربانیون او راسخون فی العلم دی، او واسطے دی په مینځ د رسول او د هغهٔ د امت کښ، او دوی دعوت کونکی دی طریقے د رسول الله ﷺ ته.

او د مجاهدؒ نه نقل دی چه هر مؤمن بالله والرسل صدیق دے. نو دا عامه معنیٰ ده لکه رسول الله ﷺ هم پدے عامه معنیٰ کښ بعض اعمال داخل کړیدی.

ابن حبانؒ د عمرو بن مره جهنی ﷺ نه روایت راوړیدے چه نبیِ کریم ﷺ ته یو تن راغلو عرض ئے وکړو : [يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ اِنْ شَهِدْتُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ، وَصَلَّيْتُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ، وَاَدَّيْتُ الزَّكَاةَ، وَصُمْتُ رَمَضَانَ وَقُمْتُهٗ، فَمِمَّنْ اَنَا ؟ قَالَ مِنَ الصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ]

اے د الله رسوله ! خبر راکړه که زهٔ د توحید او ستا د رسالت ګواهی ورکړم او پنځه وخته مونځونه وکړم او زکاة ورکړم او د رمضان روژے ونیسم او د هغے قیام اللیل (تراویح) وکړم، نو زهٔ به د چا نه حساب یم؟ وے فرمایل: د صدیقین او شهداؤ نه.

(صحیح ابن حبان رقم : ۳۴۳۸) وابن خزیمة (۲۲۱۲) مسند الشامیین (۲۹۳۹) واسناده صحیح)

نو دلته ئے د رمضان تراویح کونکی ته صدیق او شهید ووئیلو. سره د نورو فرائضو

نه۔

او دریم قِسم خلق هغه دی چه د الله په لاره کښې شهیدان شو، دوئ ته به د دوئ د رب له خوا خاص اجر او رنړا ملاویږی، چه دا به دوئ سره خاص وی۔

(۱) بیا بعضِ مفسرینو په دے آیت کښې د [اَلشُّهَدَاءُ] او [اَلصِّدِّیْقُوْنَ] دواړه د الله په رسولانو باندے د ایمان راوړونکو لقب گرځولے دے، ددے رائے مطابق د امتِ محمدیه تمام مخلص ایماندار، صدیقین او شهداء دی، او دوئ ته به د دوئ د رب د طرفه خاص اجر او رنړا ملاویږی، د خپلو خپلو درجاتو مطابق۔ نو (لَهُمْ اَجْرُهُمْ) به د دواړو سره متعلق وی۔ او عامو مؤمنانو ته ئے شهیدان پدے معنیٰ وئیلی دی چه دوئ به د قیامت په ورځ په خلقو باندے گواهی ورکوی لکه ﴿لِتَكُوْنُوْا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ﴾ کښې هغه ذکر دے۔ یعنی دوئ صدیقین دی په دنیا کښې، او شهداء (گواهان) دی په آخرت کښې۔

(طریق الهجرتین)

(۲) یا د شهادت نه مراد گواهی د توحید او رسالت ده،

(۳) یا معنیٰ ده : دعوت او بیان کونکی په دنیا کښې۔

(۲) حافظ ابن قیمؒ فرمائی : دا هم جائز ده چه (هُمُ الصِّدِّیْقُوْنَ) باندے وقف وکړے شی، او وَالشُّهَدَاءُ مبتداء شی او (لَهُمْ اَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ) د هغے خبر جوړ شی۔ نو کلام به دوه جملے شی، په اول کښې به دا خبره راشی چه څوك په الله او په رسولانو ایمان راوړی نو دا صدیقین دی۔ او په دویمه جمله به کښې به دا خبره وی چه کوم خلق شهیدان شی په نیز د رب نو هغوی دپاره به د هغوی اجرونه او رنړا ملاویږی۔

او د صدیقینو مرتبه د شهیدانو نه مخکښې ده، پدے وجه ئے په آیت کښې هغوی مخکښې ذکر کړل، نو دلته به د شهداء نه خاص هغه خلق مراد وی چه د الله په لاره کښې قتل شوی وی۔ (طریق الهجرتین)

عِنْدَ رَبِّهِمْ: پدے کښې اشاره ده چه هر وژلے شوے شهید نۀ وی بلکه شهید به هغه وی چه د الله په نیز شهید وی۔

نو گویا که پدے آیتونو کښې د نیك بختو څلور واړه طبقے ذکر شوے یو صالحین چه هغه په مخکښې آیت کښې ذکر شول (اَلْمُصَّدِّقِیْنَ وَالْمُصَّدِّقَاتِ) او دویم صدیقین او دریم شهداء پدے آیت کښې، او څلورم رسولان دی او هغه په روستو (لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَیِّنَاتِ)

کښې ذکر کېږي، او یوه ډله د بد بختانو ده نو هغه اُوس ذکر کوي:
﴿ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِآيٰتِنَا ﴾ دا هغه خلق دي چه دوی د کفر لاره اختیار کړه او د الله آیتونه ئې دروغژن وګڼړل، نو د دوئ انجام دا دے چه د دوئ استوګنه به جهنم وی۔

اِعْلَمُوْا اَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌ
پو هه شئ یقیناً ژوند دنیوی لوبے او تماشه ده او ډول دے او فخر کول دی
بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ
په مینځ ستاسو کښې (په یو بل باندے) او ډیروالے کول دی (سیالی کول دی)
فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ
په مالونو او اولادو کښې (ددے مثال) پشان د باران دے چه تعجب کښې واچوی
الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا وَفِي
زمیندارو لره ګیاه د هغے بیا اُوچ شي نو وینے به تهٔ هغه زیړ، بیا شي ذره ذره او په
الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ وَّمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٌ وَمَا الْحَيَاةُ
آخرت کښې عذاب سخت دے او بخنه ده د طرف د الله نه او رضا ده۔ او نهٔ دے ژوند
الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿٢٠﴾ سَابِقُوْا إِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ
دنیوی مګر سامان د دهوکے۔ د یو بل نه مخکښې والے کوئ بخښے ته د طرف د رب
وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ
ستاسو نه او جنت ته چه پلنوالے د هغے پشان د پلنوالی د آسمان او د زمکے دے،
أُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ ط
تیار کړے شوید ے دپاره د هغه کسانو چه ایمان ئې راوړید ے په الله او په رسولانو د
ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاءُ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢١﴾
هغهٔ دا فضل د الله دے ورکوی ئې چا ته چه وُغواړی او الله خاوند فضل لوئی دے۔

تفسیر : پدے آیتونو کښې د دنیا زهد (بے رغبتی) بیانوی، ددیے د بیانولو فائده دا ده چه د ایمان د خرابولو غټه ذریعه دنیا ده، او د ایمان د جوړولو غټه ذریعه د دنیا زهد دے، دنیا سپکه وګنړه،

د دنیا زهد څه ته وائی؟ یو قَصْرُ الْاَمَلِ ۔ امیدونه لنډ کړه چه صبا له مرم او دنیا ډیره معمولی ده، لوی الله له ور روان یم، نو پدے سره به ډِیے الله تعالیٰ زړه جوړ کړی۔ او د دنیا محبت سره زړهٔ خرابیږی۔

او بل پدے کښې انفاق ته هم ترغیب دے چه دنیا معمولی ده د الله دپاره مال ولګوئ۔ ټول شرونه د دنیا د محبت د وجه نه کیږی۔

اِعْلَمُوْا: دا علم حاصلول واجب دی ځکه چه الله تعالیٰ پرے حکم کړیدے۔

او پدے آیت کښې د ټولے دنیا حقیقت بیان شویدے، او ددیے بے ثباتی او زر ختمیدل ئے بیان کړی۔ چه دا دنیا د لوبو تماشو نوم دے چه په دے کښې د خلقو زړونه او بدنونه ټول مشغوله کیږی، پوره ژوند تیر کړی او د دوئ زړونه د الله د یاد او د قیامت ورځے د وعدے او وعید نه غافله وی، او د ډول ډول ډهال، لباس، خوراك څښاك، عالیشان مکانات، عُمده سورلیانے او دنیوی جاه او مرتبے نه نهٔ پورته کیږی او د آخرت په باره کښې دوئ ته د سوچ کولو توفیق نهٔ ملاویږی، او د یو بل په مقابله کښې خپل حسب او نسب بیانوی او د مال او اولاد په ډیروالی ذکر کولو سره فخر کوی۔ نو پدے دنیا کښې نهٔ د الله رضا شته او نهٔ جنت او نهٔ امن او نهٔ د اُور نه بچاؤ۔

مفسرین وائی : ددیے مطلب دا دے چه مشغولتیا او زړه مشغوله کول په دنیاوی ژوند باندے ددیے پنځو څیزونو ترمینځ اوړی راوړی، کله به ټول څیزونه انسان ته راجمع شی او کله نهٔ۔

مفسر قُشیریؒ لیکی : [وَهٰذِهِ الدُّنْیَا الْمَذْمُوْمَةُ هِیَ الَّتِیْ تُشْغِلُ الْعَبْدَ عَنِ الْآخِرَةِ فَکُلُّ مَا یُشْغِلُهٗ عَنِ الْآخِرَةِ فَهُوَ الدُّنْیَا وَاَمَّا الطَّاعَاتُ وَمَا یُعِیْنُ عَلَیْهَا فَمِنْ اُمُوْرِ الْآخِرَةِ]

(تفسیر القشیری ۳۹۱/۷) وفتح البیان)۔

یعنی دا ناکاره دنیا ده چه بنده د آخرت نه غافله کوی، نو هر هغه شے چه بنده د آخرت نه غافله کړی نو دا د دنیا حقیقت دے۔ او هر چه طاعات او عبادات او ددیے وسائل او ذریعے دی نو هغه د آخرت د کارونو نه دی۔ (فتح البیان)

حكمة: په آيت کښې ئے صرف پنځه څيزونه په ترتيب سره ذکر کړل څکه چه پدے کښې د انسان د ابتداء نه تر انتهاء پورے احوالو ته اشاره ده۔ چه کله انسان وړوکے وی نو لوبے کوی، د هيڅ شی فکر ورسره نهٔ وی، او چه کله لږ راغټ شی، ځوانئ ته قريب شی نو لهو (تماشے) کوی، او چه کله ځوانئ ته ورسيږی نو بيا د زينت او ډول او لباسونو په چکر کښې وی۔ بيا چه کله څلويښتو ته ورسيږی نو په خپلو مالونو او اولادو باندے فخر شروع کړی۔ او چه کله بوډا شی نو بيا د مال او اولاد د ډيرولو په فکر کښې وی لکه رسول الله ﷺ فرمائی : [يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ وَتَشِبُّ مِنْهُ اثْنَتَانِ الْحِرْصُ عَلَى الْمَالِ وَالْحِرْصُ عَلَى الْعُمُرِ] بنيادم بوډا کيږی او د هغهٔ نه دوه څيزونه ځوانيږی، يو په مال باندے حرص کول او بل په عمر باندے حرص کول۔ (مسلم: ۲٤٥۹)

كَمَثَلِ غَيْثٍ: اُوس د دنيا زر زوال بيانيږی چه د دنيا ددے عارضی څيزونو مثال د باران غونته دے چه د هغے په وجه د زمکے بوټی تلک شنهٔ شی، او ددے بوټو په ليدو سره زميندار ښهٔ خوشحاله شی، داسے لکه څنګه چه کافران په ډول ډهال سره خوشحاليږی، بيا هغه بوټی اُوچ شی او زيړ شی، بيا ذرے ذرے شی او بوس ترے جوړ شی، او زمکه داسے شاړه شی لکه تهٔ به وے چه هلته هيڅ کله بوټے د سره راختلے نهٔ دے۔

همدا حال د دنيا دے، ددے ځای هر يو شے تلونکے راتلونکے دے، او هر نعمت فانی دے۔ او کوم څيز چه باقی پاتے کيدونکے دے هغه نيك عمال دی چه بنده سره آخرته پورے ځي، او د اُور نه ددهٔ لپاره د خلاصون سبب جوړيږی۔

اَعْجَبَ الْكُفَّارَ: يعنی خوشحالوی زميندارو لره۔ زميندارو ته کفار څکه وائی چه د کفر په معنیٰ کښې پټوالے پروت دے او زميدار هم دانے په زمکه کښې پټوی لکه څنګه چه کافر د ايمان د رڼا حقيقت په انکار او سرکشئ سره پټ کړيدے۔

يَهِيْجُ: اَیْ يَجِفُّ بَعْدَ نُضَارَتِهٖ وَخُضْرَتِهٖ۔ يعنی وچ شی پس د تازګئ او شينکئ نه۔

مُصْفَرًّا: اَیْ مُتَغَيِّرًا عَمَّا كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْخُضْرَةِ اِلٰى لَوْنِ الصُّفْرَةِ ۔ يعنی متغير د حالت د شينکئ نه زيړ والی ته۔

وَفِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ: يعنی د آخرت هيرونکی او په دنيا کښې په لهو او لعب کښې د مشغوليدونکو انجام دا دے چه د قيامت په ورځ به داسے نافرمان خلق په سخت عذاب کښې اخته کيږی، او کوم خلق چه د آخرت فکر کوی او د الله حقونه اداء کوی، د

هغوئ تهول گناهونه به معاف كړے شي، او د دوئ رب به دوئ نه خوشحاله شي۔

وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ: دا د مخكنى مضمون خلاصه ده چه د دنيا ژوند د دهوكے سامان دے، انسان غافله كوى، او په دهوكه كښې ئے اچوى، نو دغه پنځه څيزونه د هغے نه راپيدا كيږى۔

سعيد بن جبيرؒ وائى چه دنيا دهغه چا دپاره د دهوكے گنده ځاى دے څوك چه د آخرت د فكر نه غافله وى، او كوم خلق چه د آخرت په فكر كښې مشغوله وى، هغوئ دپاره دا دنيا داسے فائده مند شے دے چه دۀ له ددے نه بهترين نعمت يعنى جنت ته رسولو كښې مدد كوى۔

سَابِقُوْا: د دنيا او ددے د نعمتونه سپكاوے او زوال بيانولو نه پس، په دے آيتِ كريمه كښې د آخرت د بيش قيمته او ابدى نعمتونو حاصلولو طرفته رغبت وركړے شوے۔ بندگانو ته د الله د بخښنے، د هغۀ د رضا او د جنت د حاصلولو دپاره د يو بل نه د مخكښې كيدو نصيحت كړے شوے۔

او دا څيزونه د زړۀ په رشتينے تويے، بخښنے غوښتلو، گناهونه نه لرے كيدو، نيك عمل كولو، او د الله د مخلوق سره په ښيگړه كولو ملاويږى۔

سَابِقُوْا: مُسَابقه د يو بل نه سيالى كولو او مخكښې كيدو ته وئيلے شى۔

كَعَرْضِ السَّمَاءِ: حسنؒ وائى : دلته تهول اُوه واړه آسمانونه او اُوه واړه زمكے مراد دى چه هر يو بل ته فراخه شوے وى۔ لكه په سورة آل عمران كښې ئے ﴿ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ﴾ وئيلے وو۔ او په عرض ذكر كولو كښې اشاره ده چه ددے د طُول اندازه صرف الله ته معلومه ده ځكه چه عرض د يو شى د طول نه كم وى۔ يا عرض په معنىٰ د وسعت او فراخئ سره دے، او دا د يو جنتى د جنت اندازه ده۔

اُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا: پدے كښې د الله تعالىٰ د رحمت اميد دے چه د ايمان سره ئے بل قيد نۀ دے لگولے۔ يعنى صرف په ايمان سره دا جنت ملاويږى۔

ليكن ددے سره نور دليلونه ملگرے كړه چه په هغے كښې دا دى چه د ايمان سره به ئے فرائض ادا كړى وى، او د گناهونو نه به ئے ځان ساتلے وى، آؤ، كه يو انسان كښې گناهونه وى نو د الله مشيت ته سپارلے شويدے، يا به ئے همداسے معاف كړى يا به سزا وركړى خو بيرته به جنت ته راوځى۔

وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ: يعنى الله سره فضل زيات دے ليكن مستحقينو ته ئے وركوى۔

مَا أَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِيْ أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِيْ
نۀ رسيږى يو مصيبت په زمكه كښې او نۀ په ځانونو ستاسو كښې مگر په
كِتَابٍ مِّنْ قَبْلِ أَنْ نَّبْرَأَهَا إِنَّ ذٰلِكَ
تقدير كښې دے مخكښې ددے نه چه مونږ پيدا كړو خلقو لره (هغے لره) يقيناً دا كار
عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿۲۲﴾ لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ
په الله باندے آسان دے۔ دے دپاره چه خفه نشئ په هغه څه چه فوت شويدے ستاسو
وَلَا تَفْرَحُوْا بِمَا آتَاكُمْ وَاللّٰهُ
نه او خوشحالى به نۀ كوئ په هغه نعمتونو چه الله دركړيدى تاسو ته او الله
لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ﴿۲۳﴾ الَّذِيْنَ
مينه نۀ كوى د هر تكبر كونكى، خپلے ستائينے كونكے سره۔ هغه كسان دى
يَبْخَلُوْنَ وَيَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَمَنْ يَّتَوَلَّ
چه بخل كوى او حكم كوى خلقو ته په بخل، او څوك چه واوړيدو (د طاعت د الله نه)
فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۴﴾
نو يقيناً الله هغه بے حاجته دے، ستائيلے شويدے۔

تفسير: مَا أَصَابَ: ربط ددے آيت د مخكښې سره په دوه طريقو دے:

(۱) زمونږ مشائخ وائى چه پدے سورت كښې انفاق ته ترغيب دے، نو دا جواب د سوال دے، سوال پيدا شو چه مال مونږ څكه ساتو چه څه مصيبت او غم به راشى په هغے كښې به ئے ولگوو؟ نو الله فرمائى چه مصيبتونه خو په تقدير كښې ليكلے شويدى، هغے دپاره مالونه مۀ ساتئ، تقدير كښې چه الله څه ليكلى وى هغه به كيږى، تاسو مالونه

ولګوئ۔

(۲) لیکن د تدبر نه روستو داسے معلومیږی چه په دے آیت کښې د تقدیر بیان دے، او په تقدیر باندے صحیح ایمان راوړلو سره بنده د ایمان حقیقت ته رسیږی،

لکه حدیث کښې دی :

[وَلَا يَبْلُغ عَبْدٌ حَقِيقَةَ الْإِيمَانَ حَتّٰى يَعْلَمَ اَنَّ مَا اَصَابَهٗ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَهٗ وَمَا اَخْطَأَهٗ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيْبَهٗ]۔

(او هیڅ بنده د ایمان حقیقت ته نشی رسیدے تردے چه پدے خبره پوهه شی چه کوم مصیبت دۀ ته رسیدو نو هغه به نۀ خطا کیدو او کوم چه ددۀ نه واوړیدو نو هغه دۀ ته نۀ رسیدو۔

(ابوداود : ۴۷۰۰) واحمد : ٦/٤٤١) والبزار (۴۱۰۷) وصحیح الجامع (۲۱۵۰) واسناده صحیح)

او پدے سورت کښې هم د ایمان حقیقت بیانیږی نو په تقدیر ایمان لرل هم د ایمان د حقائقو نه یو حقیقت دے۔

(۳) او دا د روستو جهاد سره هم لګی چه د جهاد نه مۀ یریږه، داسے مۀ وایه چه مړ به شم څکه چه مرګ او ژوند په تقدیر کښې لیکلے شویدے۔ دارنګه د فقر نه یره مۀ کوه۔ ډیر خلق د ایمان حقیقت ته نۀ رسیږی پدے وجه چه د مصیبت او فقر نه یریږی۔

(٤) دارنګه دا متعلق دے د مخکښې (سَابِقُوْا) سره، یعنی الله مخکښې په مسابقه باندے حکم وکړو نو وَهم راغے چه پدے مسابقه کښې تکلیفونه راځی، او ددے برداشت کول خو ګران دی، نو ددے نه ځان ساتل پکار دی؟

جواب دا دے چه تقدیر کښې مقرر وی نو هغه به ضرور واقع کیږی۔

فِي الْأَرْضِ : د زمکے مصیبتونه لکه قحطونه، وباء، سیلابونه، زلزلے، ګرانی، فصلونه خرابیدل، میوه جات کمیدل او ضائع کیدل۔ اُوبه کمیدل وغیره۔

وَلَا فِيْ أَنْفُسِكُمْ : د نفسونو د مصیبت نه مراد مرضونه، (قتادهؒ) فقیری، اولاد مړه کیدل۔ ابن جریجؒ وائی : د ژوند تنګسیا مراد ده۔ یا حدود قائمیدل۔ (مقاتلؒ)۔

إِلَّا فِيْ كِتَابٍ : دا دلیل دے چه تقدیر صرف علم د الله تعالیٰ ته نۀ وائی بلکه ورسره په لوح محفوظ کښې د هغے لیکل دی۔

نو څوک چه د تقدیر نه انکار کوی یا د تقدیر کتابت نۀ منی بلکه صرف د الله تعالیٰ

علم منی، دا دواړه په باطله عقیده کښې اخته دی اګرکه په دواړو کښې فرق شته.
مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا : (۱) هَا ضمیر (اَلْبَرِیَّه) یعنی مخلوقاتو ته راجع دے. یعنی د مخلوقاتو د پیدا کولو نه مخکښې د دوی سره متعلق تمام کارونه په لوح محفوظ کښې لیکلے شویدی، نو که زمکے ته یا انسانانو ته څۀ مصیبت رسیږی، نو دا په لوحِ محفوظ کښې د مخکښې نه لیکلے شوی دی.
او کومه خبره چه د مخکښې نه د هغۀ په علم کښې مقرره شوے، د هغے واقع کیدل لازمی خبره ده، او اګرکه انسانی عقل ددے خبرو راګیرولو نه کوتاه دے، لیکن الله دپاره دا خبرے ډیرے آسانے دی، ځکه د هغه علم او د هغۀ قدرت د هر یو شئ نه راګیر شوے دے.
(۲) یا (هَا) ضمیر مصیبت ته. (۳) یا انفس ته. (٤) یا زمکے ته راجع دے.
یعنی مخکښې د پیدا کولو د مصیبت یا د نفسونو ستاسو نه. یا د زمکے نه.
اِنَّ ذٰلِكَ: یعنی ددے ټولو کائناتو لیکل د الله په نیز ډیر آسان دی، د هغۀ علم او قدرت به په مخلوق باندے نشی قیاس کولے.
لِکَیْلَا تَاْسَوْا: پدے آیت کښې ئے په تقدیر باندے د ایمان راوړو دوه فائدے ذکر کړیدی.
لِکَیْلَا: دا متعلق دے په (اَخْبَرْنَاکُمْ/ اَعْلَمْنَاکُمْ) پورے، یعنی مونږ تاسو ته دا خبر درکړو چه هر مصیبت او هر خیر د مخکښې نه لیکلے شویدے.
نو د تقدیره یوه فائده دا ده چه د انسان نه څه نعمت فوت شی، عافیت، روزی، صحت، مال وغیره نو په هغے پسے به ډیر خفګان نۀ کوی ځکه چه دا یقین به کوی چه الله ما له په تقدیر کښې داسے لیکلی وو او په همدے کښې زما دپاره خیر دے.
دویمه فائده : (وَلَا تَفْرَحُوْا) یعنی کوم نعمت چه دوئ ته ملاؤ شوے په هغے غاوره نشی، او تکبر شروع نکړی بلکه د خپل مولیٰ شکر اداء کړی چه دا نعمت ئے ورته ورکړو. ځکه چه الله تعالیٰ متکبران او د خپل ځان صفت کونکی نۀ خوښوی، چه هغه د الله نعمتونه خپل عقل او صلاحیت او مرتبے او عزت طرفته منسوب کوی، او په ډیره سرکشئ کښې راشی، او وائی چه ﴿ اِنَّمَآ اُوْتِیْتُهٗ عَلٰی عِلْمٍ بَلْ هِیَ فِتْنَةٌ ﴾ دا خو (ماته صرف زما د علم په وجه راکړے شوے، حالانکه دا نعمتونه هغۀ له د آزمائش په طور ورکړے شوی دی).

مُخْتَالٍ: (۱) هغه انسان دے چه ځان ورته په خپل خیال کښې لوی ښکاره شویدے ځکه چه دنیا ورته حاصله شویده۔ او بیا په هغې باندے فخرونه هم کوی۔ نو مختال د زړه صفت شو او فخور د ژبے۔

(۲) یا مختال هغه دے چه ځان ته د لوئی په نظر گوری، او فخور هغه دے چه خلقو ته د سپکاوی په سترګه گوری۔

(۳) مختال هغه دے چه مصیبتونه دفع کول د الله د طرفنه نۀ گنړی، او فخور هغه دے چه د نعمتونو حصول په خپل طاقت او قدرت کښې گنړی۔

اَلَّذِیْنَ یَبْخَلُوْنَ: پدے کښې انفاق ته ترغیب او د بُخل بدی بیان شوے چه کوم خلق د مال سره د سخت محبت د وجے نه بُخل کوی، او نورو ته هم ددے رذیل کار حکم ورکوی، الله تعالیٰ د دوئ نه بے نیازه دے، او دوئ دپاره د قیامت په ورځ سخته سزا ده۔

نو دا مستقل کلام دے مبتداء ده او خبرئے پټ دے چه (فَاللّٰهُ غَنِیٌّ عَنْهُمْ) الله د دوئ نه بے حاجته دے۔

او پدے کښې اشاره ده چه انسان به د ایمان حقیقت او د الله محبت ته هله رسیږی چه د بُخل نه ځان وساتی۔

او دارنګه پدے کښې د تقدیر نۀ منلو آثار ذکر کیږی۔

یَبْخَلُوْنَ: دا بخل عام دے، د علم او مال (زکاة او کفارے) او د احسان بخل کولو ټولو ته شامل دے۔

وَیَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ: سعید بن جبیرؒ فرمائی:

[یَبْخَلُوْنَ بِالْعِلْمِ وَیَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ لِئَلَّا یُعَلِّمُوا النَّاسَ شَیْئًا]۔

په علم باندے بخل کوی او خلقو ته د علم په بخل حکم کوی دے دپاره چه خلقو ته څه ونۀ ښائی۔

وَمَنْ یَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِیُّ الْحَمِیْدُ: کښې د دوئ همدے انجام طرفته اشاره شوے ده چه څوک د الله د یاد او د هغهٔ د امرونو نه اعراض کوی، نو خپل نقصان به کوی، الله خو بے حاجته دے، او د تمامو تعریفونو یواځے حقدار دے۔ هغهٔ ته د بندګانو د مال او دولت ضرورت نشته، ددے فائده خو ټوله انسان ته راواپس کیږی۔

لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَیِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ

یقیناً مونږ رالیږلی دی رسولان په ښکاره دلیلونو او نازل کړی وو مونږ د هغوی سره

الْكِتٰبَ وَالْمِیْزَانَ لِیَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِیْدَ

کتاب او تله، دے دپاره چه اُودریږی خلق په انصاف سره او نازل کړیده مونږ اُوسپنه

فِیْهِ بَأْسٌ شَدِیْدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ

چه په هغے کښ جنګ سخت دے، او فائدے دی دپاره د خلقو،

وَلِیَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ یَّنْصُرُهٗ

او دے دپاره چه راښکاره کړی الله تعالیٰ هغه چا لره چه مدد کوی د هغهٔ

وَرُسُلَهٗ بِالْغَیْبِ إِنَّ اللّٰهَ قَوِیٌّ عَزِیْزٌ ﴿۲۵﴾

او د رسول د هغهٔ په حال د نهٔ لیدلو کښ، یقیناً الله قوت والا دے زورَور دے۔

تفسیر : ددے ځای نه روستو دا خبره بیانوی چه د اسلام غلبه او ترقی په دوه څیزونو سره راځی، یو په دعوت، او دویم په جهاد۔ نو پدے آیت کښ ترغیب ورکوی جهاد ته په طریقه د دعوت بالکتاب، او قتال ته په طریقه د استعمال د حدید سره، او د دواړو فائدے ئے ذکر کړیدی۔ په اول کښ الله تعالیٰ د خپلو انبیاءِ کرامو د رالیږلو غرض او حکمت، او هغه درے څیزونه بیان کړی دی، کوم چه ددے انبیاؤ د تائید او تصدیق دپاره دوئ ته ورکړے شوی وو۔ اولنے شے چه د دوئ د تائید دپاره دوئ ته ورکړے شوے وو، دلائل او معجزات وو، او دویم شے اِلٰهی کتاب وو، چه په هغے کښ د مخلوق د دین او دنیا د ښیګړے هره خبره بیان شوے وه، او دریم شئ ته الله تعالیٰ [میزان] (تله) وئیلی ده، چه ددے تفسیر مجاهدؒ او قتادهؒ وغیره په [عدل] سره کړے دے۔

او حافظ ابن کثیرؒ وئیلی دی چه ددے نه مراد هغه حق دے چه د هغے د حق کیدو ګواهی تول هر هغه خلق ورکوی کوم چه عقلِ سلیم (روغ عقل) لری۔

او مقصد په آیت کښ دا دے چه که تهٔ ځان ته مؤمن وائے او حقیقت د ایمان ته ځان

رسول غواړے، نو دا کارونه وکړه، یعنی د الله په کتاب عمل او د هغه په لاره کښې دعوت او جهاد کول۔

بِالْبَيِّنَاتِ: ددے نه مراد ښکاره احکام د عقیدے، او دلیلونه او معجزات دی۔

مَعَهُمُ الْكِتٰبَ: کتاب اسم جنس دے، ډیرو کتابونو ته شامل دے۔ او په مَعَهُمُ کښې اشاره ده چه په هر رسول باندے اگرچه کتاب نهٔ وو نازل کړے شوے لیکن مخکښے کتاب به ورسره وو لکه تورات نازل کړے شوے وو په موسیٰ علیه السلام باندے لیکن د هغهٔ نه روستو تر عیسیٰ علیه السلام پورے دغه کتاب نورو رسولانو سره وو۔

وَالْمِيزَانَ: (۱) دا عطف د صفت دے په صفت باندے، یعنی هغه کتاب میزان وو دپاره د فرق د حق او د باطل۔

(۲) یا ددے نه مراد عدل دے چه الله په هغے باندے حکم کړیدے لکه چه مخکښې بیان شو۔ او د عدل د نازلولو معنیٰ دا ده چه ددے اسباب او تقاضاگانے نازلے کړے شویدی چه انسان نه د عدل غوښتنه کوی۔

(۳) یا هغه حق چه په هغے باندے صحیح عقلونه گواهی ورکوی (ابن کثیرؒ)۔

لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ: یعنی دے تمامو څیزونو سره د انبیاؤ د رالیږلو غرض دا وو چه د کوم حق دعوت خورولو دپاره چه الله تعالیٰ دوئ رالیږلی، خلق هغه قبول کړی، یواځے د الله بندگی وکړی، او په خپله انفرادی او اجتماعی زندگئ کښې د الله نازل کړے د عدل او انصاف قانون نافذ کړی، چه ددے تفصیل د الله په کتاب او د نبی کریم ﷺ په سنت کښې موجود دے۔ د جنایاتو قانون، قصاص، حدود، د میراث احکام، او نور انسانی حقوق ټول په دے ترخ کښې راځی۔ الله تعالیٰ د خپلو بندگانو نه غوښتنه کوی چه هغوئ دا تمام قوانین او احکام په خپل انفرادی او اجتماعی ژوند کښې نافذ کړی۔ ځکه چه د عدل نه بغیر د انسانو ژوند گډوډ دے، معاشره به خرابیږی۔

د وسپنے فائدے

وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ: ((مونږ وسپنه نازله کړے ده چه په دے کښې سخت هیبت او قوت دے، او خلقو دپاره نورے ډیرے فائدے دی))۔

بَأْسٌ: بچاؤ، قوت او سختی او هیبت او وسله ده۔ ددے جملے د مخکنئ جملے سره

تعلق دادے چه کومو خلقو له الله تعالیٰ عقل او پوهه ورکړے ده، هغوئ د الله د کتاب آیتونه آوری او په هغے عمل شروع کړی، او په خپل انفرادی او اجتماعی زندګئ کښ عدل او انصاف قائمول شروع کړی، او کوم عام خلق چه د دوئ مخلص تابعدار وی، په هغوئ باندے چه کله د شریعت قوانین نافذ کیږی، نو هغه قبلوی، او نظامِ عدل جاری کیږی، اوکوم خلق چه د سرکشئ لاره اختیاروی، او نظامِ عدل دړے وړے کول غواړی، هغوئ لره حکومتی طاقت د نظامِ عدل په پابندئ باندے مجبوروَی۔

مقصد دا چه اول په کتاب او سنت باندے دعوت کول دی، او بیا د مخالفینو سره قتال کول دی په استعمال د آلاتو د وسپنے سره۔ ددے وجه نه ئے اوله فائده په ﴿فِيْهِ بَأْسٌ شَدِيْدٌ﴾ سره ذکر کړه۔

په وسپنه کښ الله تعالیٰ انسانانو دپاره ډیرے فائدے ایخودے دی۔ تمام جنګی آلات او اسلحه ددے نه جوړیږی۔ قِسما قِسم صنعتونه (کاریګرئ)، د لوښو قِسمونه او د پټیو آلات ددے نه تیاریږی، چاړه، چاقو، تبر، ترخذ، کرنډئ، آره، پاله، بیلچه، رمبے، کرندے (کوداله)، جبل، څټکے او نورے مشینرئ وغیره۔ بلکه دا وئیل به صحیح وی چه په انسانی ژوند کښ استعمالیدونکی شیانو کښ شاید داسے کوم شے نشته چه په هغے کښ څۀ نه څۀ طریقے سره اُوسپنه استعمال شوی نۀ وی۔ (بیضاویؒ)

او فِيْهِ بَأْسٌ شَدِيْدٌ کښ اشاره ده چه مسلمانانو له پکار دی چه د کفارو د قتال دپاره د اُوسپنے د آلاتو نه کار واخلی، دا جوړ کړی او بیا ئے د جهاد دپاره استعمال کړی۔

وَأَنْزَلْنَا : د وسپنے د نازلولو معنیٰ دا ده چه دا په آسمانی تدبیر سره پیدا شویده څکه چه د بارانونو په ذریعه الله تعالیٰ په زمکه او غرونو کښ معدنیات پیدا کوی، او اُوسپنه هم د معدنیاتو نه ده، او کوم روایتونو کښ چه راغلی دی چه آدم علیه السلام د خپل ځان سره وسپنه د آسمان نه راکوزه کړے وه، نو علامه قاسمیؒ وئیلی دی چه هغه دروغ او موضوع روایت دے۔

وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَنْصُرُهٗ : (۱) دا عطف دے په پټ عبارت باندے اَیْ لِيَسْتَعْمِلَهُ النَّاسُ وَيَنْتَفِعُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمَ آه ـ یعنی اُوسپنه دے دپاره نازله شویده چه خلق ئے استعمال کړی، او فائده پرے واخلی، او دے دپاره چه په اُوسپنه سره جهاد وکړی، نو الله تعالیٰ به مدد وکړی۔

(۲) یا عطف دے په (لِیَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ) باندے، یعنی مونږ رسولان راولیږل او داسے داسے کارونه مو وکړل دے دپاره چه خلق په انصاف ودریږی، او بل الله تعالیٰ رابنکاره کړی چه د هغهٔ د رسولانو او د هغهٔ د دین مدد څوك کوی او څوك نهٔ ؟۔

او همدا تفسیر غوره دے۔

او مطلب دا دے چه الله تعالیٰ د رسولانو په رالیږلو سره په خلقو امتحان کوی چه څوك مدد کوی او څوك نهٔ؟۔

مَنْ یَّنْصُرُهٗ: د الله سره مدد د هغهٔ د دین سره مدد کول دی په قرآن بیانولو سره، او بل په جهاد کولو سره، ځکه چه ددے دواړو کارونو په وجه خلق هدایت او توحید او سنت طرفته راځی۔ په قرآن دعوت کیږی، او په وسپنه جهاد کیږی او دواړه به شریك روان وی۔

اِنَّ اللّٰهَ قَوِیٌّ عَزِیْزٌ : یعنی الله تعالیٰ قوی او غالب او زورَور دے، د هغهٔ هیڅ ضرورت نشته چه د هغهٔ سره یا د هغهٔ د رسولانو سره څوك مدد وکړی بلکه الله تعالیٰ دویٔ پدے خبره مکلف کړل دے دپاره چه دویٔ ته فائده حاصله شی، د هغهٔ د رضا او د جنت مستحق شی هرکله چه دویٔ د الله تعالیٰ خبره ومنی۔

فائده : دلته ئے کتاب، میزان او حدید جمعه کړل، ددے حکمت دا دے چه په کتاب کښې د بندګانو د مصلحت او فائدے احکام شرعیه دی، او الله په دے کښې په یو بل باندے د ظلم او زیاتی نه منع کړے، او په عدل او انصاف ئے حکم کړے په هر شی کښې تردے چه په رزقونو او خوراکونو کښې هم، او پدے کښې د انصاف دپاره ئے د عدل آله (تله) راولیږله چه د دویٔ معاملات برابر په برابر شی، او د ظلم او زیاتی نه بچ شی، نو الله دوی ته د تلے جوړولو او استعمالولو حکم وکړو۔ ځکه چه کله یو بل باندے ظلم او زیاتے کیږی نو د انسانو ژوند به ګډوډ وی، او همدا معنیٰ په ﴿ وَالسَّمَاءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ اَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيْزَانِ وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ﴾ کښې ذکر شویده۔

بیا چه څوك د کتاب په اوامرو او احکامو باندے عمل نکوی، او په تله باندے خپل معاملات نهٔ برابروی، نو هغوی محتاج دی چه د هغوی سره په توره جهاد وکړے شی، نو پدے طریقه ئے په مختصر انداز کښې ډیرو ګڼرو مختلفو معانیو او مقاصدو ته اشاره وکړه، او ددے نه دا ښکاره شوه چه بادشاه د الله تعالیٰ خلیفه دے د هغه په بندګانو، او د

هغهٔ امین دے په رعایت د حقوقو د هغهٔ، پدے وجه چه دهٔ ته ئے د تورے طاقت ورکړے او په زمکه کښې ئے ورته ځای او غلبه ورکړیده۔

(قاله ابو نصر العُتیبیؒ نقله صاحب فتح البیان)

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَاهِيمَ وَجَعَلْنَا
او یقیناً رالیږلے دے مونږ نوح او ابراهیم (علیهما السلام) او ګرځولے دے مونږ
فِي ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ
په اولادو د دوی کښې پیغمبری او کتاب نو بعض د دوی نه هدایت موندونکی وو
وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُوْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلٰى آثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا
او ډیر د دوی نه نافرمان وو۔ بیا راولیږل مونږ روستو د هغوی پسے رسولان خپل
وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَآتَيْنَاهُ الْإِنجِيلَ
او روستو مو راولیږو عیسیٰ ځوی د مریم او ورکړے وو مونږ هغهٔ ته انجیل
وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوْهُ رَأْفَةً
او ګرځولے وو مونږ په زړونو د هغه کسانو کښې چه تابعداری ئے کړے وه د هغهٔ نرمی
وَّرَحْمَةً وَّرَهْبَانِيَّةَ نِ ابْتَدَعُوْهَا
او رحم او په ګوتونو کښې کیناستل چه دوی د ځان نه جوړ کړے وو،
مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللهِ فَمَا رَعَوْهَا
نهٔ وو فرض کړے مونږ په دوی باندے مګر لټول د رضا د الله نو دوی لحاظ اُونکړو
حَقَّ رِعَايَتِهَا فَآتَيْنَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا
د هغے لائق لحاظ د هغے، نو ورکړو مونږ هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے وو
مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُوْنَ ﴿٢٧﴾
د دوی نه ثواب د هغوی او ډیر د دوی نه نافرمان وو۔

تفسیر : اُوس د خاصو پیغمبرانو بعض واقعاتو ته اشاره ده او پدے کښې یوه خبره مقصودی ده چه هغې ته به خبره تاو کړی. نو دلته تخصیص بعد التعمیم دے دپاره د زیات خصوصیت او شرافت د دواړو، ځکه چه د دوئ نه روستو راتلونکی ټول انبیاء علیهم السلام د همدوئ د نسل نه دی.

نوح علیه السلام نه پس چه څومره انبیاء راغلی دی هغه ټول ددهٔ د نسل نه وو. او د ابراهیم علیه السلام نه پس چه څومره آسمانی کتابونه نازل شوی، او څومره انبیاء او رسولان رالیږلے شوی، هغه ټول ددهٔ د اولادو د نسل نه وو، او د کومو خلقو د هدایت دپاره چه دغه انبیاء علیهم السلام راغلی وو، هغوئ په دوه ډلو کښې تقسیم شول، څهٔ خلقو خو د دوئ دعوت قبول کړو، د الله تعالیٰ د وحدانیت اقرار ئے وکړو، او د نیك عمل ژوند ئے اختیار کړو، او زیاتره خلقو د سرکشئ لاره غوره کړه، د الله کتاب ئے شاته وارتولو، په دے کښې ئے تحریف وکړو او د خپلو علماؤ او راهبانو (عابدانو) اقوال او آراء ئے دین وګڼړلو.

نو پدے کښې مونږ ته دا دعوت دے چه تاسو د دغه هدایت والو تابعداری وکړئ او د سرکشانو پسے مهٔ روانیږئ.

دارنګه د تخصیص دویمه وجه دا ده چه ددے دواړو د زمانے نه د شرك او د مشرکانو رد شروع شویدے.

نُوْحًا: دا دلیل دے چه نوح علیه السلام اول رسول دے انسانانو ته، ددهٔ نه مخکښې رسول نهٔ دے تیر شوے، او آدم علیه السلام نبی مُکَلَّم وو، او دا هم معلومه شوه چه کوم مؤرخین وائی چه ادریس علیه السلام د نوح علیه السلام نیکهٔ وو نو دا د قرآن مخالف خبره ده.

وَالْكِتٰبَ: کتاب جنس دے، ټولو آسمانی کتابونو ته شامل دے.

د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی چه د کتاب نه مراد په قلم باندے خط کول او لیکل دی.

فَمِنْهُمْ: دا ضمیر (ذریت) یعنی اولادو ته راجع دے، او دے کښې اشاره ده چه دوئ دعوت جاری وساتلو لیکن بعض کسانو کښې اهلیت وو، نو حق دعوت ئے قبول کړو، او بعضو انکار وکړو.

وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ: دا دلیل دے چه په ټولو زمانو کښې د انبیاء علیهم السلام تابعدار کم پاتے شویدی او فاسقان، سرکشان زیات وو.

ثُمَّ قَفَّيْنَا: دا د مخکښې تفصیل سره متعلق دے، او د خبره لنډوی او مقصود ته رسیږی.

یعنی الله تعالیٰ د انبیاؤ او رسولانو دا سلسله جاری اوساتله، موسیٰ، الیاس، داؤد، سلیمان او نور انبیاء علیهم السلام راغلل، تردے چه عیسیٰ ځوی د مریم علیه السلام الله تعالیٰ خپل رسول جوړ کړو او راوے لیږلو. چه دا د ابراهیم علیه السلام د اولاد نه وو، ځکه چه ددهٔ مور مریم علیها السلام د ابراهیم علیه السلام د خاندان نه وه.

الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام له انجیل ورکړے وو، دے دپاره چه ددے مطابق د خلقو رهنمائی وکړی، او الله د هغهٔ د حوارینو یعنی اولنو تابعدارو په زړونو کښې یو بل دپاره او د عام مخلوق دپاره نرمی او محبت واچولو، ځکه چه عیسیٰ علیه السلام ترڅو پورے ژوندے وو، هغوئ ته به ئے نصیحت کولو چه دوئ د یهودیانو غونته جوړ نشی چه د هغوئ زړونه الله تعالیٰ سخت جوړ کړی وو، بلکه د الله د مخلوق سره دِے د شفقت او محبت او د حلم او بردبارئ سلوك وکړی. ددے تعلیماتو اثر دا اوشو چه د دوئ زړونه د نرمئ او محبت غوښتونکی شو، او د زړهٔ د سختیدو نه ئے نفرت وکړو.

او دا قانون دے چه استاذ څنګه وی نو په شاګردانو هم همغه شان اثر کیږی، عیسیٰ علیه السلام کښې شفقت وو نو د هغهٔ په تابعدارو کښې هم دغه شان صفت راغلو، دا وجه ده چه بشر دوستی په نصاراؤ کښې په نسبت د نورو خلقو زیاته وه.

او دا د هغه زمانے خلق مراد وو اګرکه اُوس هم ددے اثرات شته. لکه الله تعالیٰ د سورهٔ المائده په (۸۲) آیت کښې د دوئ د همدے نرمئ په باره کښې فرمائیلی دی:

﴿ لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴾

(یقینًا تهٔ به د ایمان والو د ټولو نه زیات دشمنان یهودیان او مشرکان بیامومے، او ایمان والو ته د ټولو نه زیات دوستئ ته نزدے به تهٔ خامخا هغه څوك اومومے چه هغوئ ځان ته نصاریٰ وائی، دا ځکه چه په دوئ کښې علماء او د عبادت دپاره په ګوټونو کښې ناست کسان موندلے کیږی، او په دے وجه چه دوئ تکبر نهٔ کوی).

او پدے کښې اشاره ده چه اے خلقو! د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحیح تابعداری وکړئ الله به درله زړونه جوړ کړی، او شفقت او رحمت به پکښې پیدا کړی.

رَأْفَةً وَّرَحْمَةً: ۱ – رأفت د زړهٔ نرمی ده، او رحمت نه مراد شفقت او ترس کول دی، اول د انسان په زړه کښې صفت د نرمئ وی، نو بیا د هغے په وجه په خلقو باندے ترس او شفقت

کوی۔

۲– یا رأفت مینے ته وائی، نو دوی به هم د یو بل سره مینه کوله۔

وَّرَحْمَةً: او یو بل باندے به ئے ترس او رحم کولو۔ او دا د مسلمانانو تر مینځ ډیر ښکلے صفت دے، او حدیث کښې دی [لَا تَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى تُؤْمِنُوْا وَلَا تُؤْمِنُوْا حَتّٰى تَحَابُّوْا] تاسو جنت ته نشئ داخلیدے ترڅو چه تاسو کښې ایمان نهٔ وی او مؤمنان نشئ جوړیدے تردے چه تاسو د یو بل سره مینهٔ وکړئ) (مسلم : ۲۰۳)

وَرَهْبَانِيَّةَ ابْتَدَعُوْهَا : مخکښې الله تعالیٰ د عیسیٰ ﷺ د تابعدارو ښه صفت بیان کړو نو اُوس د هغوی یوه خرابی بیانوی چه پدے کښې مونږ ته یو لوی سبق پروت دے۔

او هغه دا چه دوئ د الله د عبادت په غرض سره په دینِ عیسوی کښې یو بدعت را اوخکلو چه هغے ته قرآن کریم د (رهبانیت) نوم ورکړے دے،

او ددے اصل تاریخ دا وو چه د عیسیٰ ﷺ تابعدار یو وخت کښې په صحیح طریقه روان وو، نو بیا څه وخت روستو پرے یهودیانو غلبه وکړه، او دوئ سره ئے ظلمونه شروع کړل، قتلونه ئے وکړل، او د دوئ د دین د خرابولو کوششونه ئے شروع کړل، نو په دوی کښې نیکان خلق د علاقو نه ووتل او په شاړو او اطرافو او کوټونو کښې ئے د خلقو نه جدائی اختیار کړه، دے دپاره چه د الله عبادتونه به کوی څکه چه د دعوت لارے پرے بندے شوے، دا ورته الله تعالیٰ نهٔ ووئیلی چه تاسو به کناره کشی کوئ او د خلقو نه به جدا کیږئ لیکن هرکله چه دوی کوټونو ته لاړل بیا به ئے د هغے هیڅ لحاظ نهٔ ساتو بلکه هلته به ئے خوبونه کول (لکه یو معتکف اول کښې اعتکاف پرے لازم نهٔ دے لیکن چه بیا ئے شروع کړی نو ګپونه پکښې لګوی او خوبونه او تش آرام پکښې کوی) بلکه ددے دپاسه لا دا چه د ښځو سره ئے پکښې تعلقات پیدا شول۔

نو الله تعالیٰ د دوی په دے رهبانیت باندے رد کوی، او بیا ئے په عدم التزام باندے رد کوی چه اول خو دوی له دا بدعت جوړول پکار نهٔ وو بیا چه دوئ د الله د رضا د حاصلولو دپاره دا بدعت ایجاد کړو، نو بیا خو پکار وه چه دوئ د هغے صحیح حق ادا کړے وے، او د هغے رعایت ئے کړے وے۔ نو دوه جرمونه دوی راجمعه کړل، یو بدعت پیدا کول، او بل د الله ادب پکښې نهٔ کول، نو پدے کښې مونږ ته الله تعالیٰ فرمائی چه تاسو په خپل دین کښې د بدعت نه ځان وساتئ، بیا که یو تن د عبادت په نوم یو بدعت ایجاد کړی نو پکار

ده چه د هغې په وجه د الله ې ادبۍ خو ونکړې لکه ددې مثال دا دې چه یو تن د فرض مانځه نه روستو په جَمعه سره همیشه دعاګانې غواړي، دا کار یو بدعت دې، او بیا دا دعاء په ښائسته طریقه نۀ کوي بلکه اخوا دیخوا ګوري او هسې رواجي دعا کوي، هیڅ توجه ئې پکښې الله ته نۀ وي. نو دا بله ګمراهي شوه.

او ددې بل مثال لکه صلاة قضاء عمري، صلاة رجبیه، او بدعي ذکرونه لکه هُو هُو ذکر اول پیدا کول نۀ دي پکار بیا چه انسان پیدا کړي نو د هغې سره سرونه خوزول او ځانونه یو طرف او بل طرفته غورزول او مسجد کښې رمبارې او شور جوړول پکښې بله ګمراهي او د الله ې ادبي ده.

فائده ۱ : پدې کښې زمونږ دپاره فائده دا شوه چه هرکله چه په بدعت کښې د الله رعایت ضروري دې ځکه چه د عبادت په نیت ئې جوړ کړې، نو د عبادت مُبتدعه رعایت چه څوک نۀ کوي هغه مذموم شو [فَکَیْفَ بِمَنْ اَضَاعَ عِبَادَةً مَشْرُوْعَةً/ اَوْ اَضَاعَ شَرْعَ اللّٰہِ]. نو د هغه چا به څه حال وي چه یو مشروع عبادت ضائع کوي، یا د الله شریعت ضائع کوي.

مونږ د اسلام دعوه کړې او د قرآن او د سنت دعوه مو کړې، او التزام مو کړې چه په قرآن او حدیث به عمل کوو، او بیا ددې لحاظ نۀ ساتلې کیږي، نۀ مونځونه صحیح شته، نۀ زکاة او نۀ د الله د ذکر پابندي شته، او نۀ نور اعمال شرعیه، نو بیا دا څنګه اسلام شو؟ هسې لیبل باندې خو کار نۀ کیږي بلکه د اسلام لحاظ به ساتې.

فائده ۲: علمونه درې قسمه دي:

(۱) علم الروایة. چه انسان دین بل ته بیانوي او نقل کوي.

(۲) دویم عِلْمُ الدِّرَایَة یعني بیا په دین باندې ځان پو هه کول او صحیح دین پیژندل.

(۳) او دریم علم الرِّعَایَة دې. چه د هغه علم په هر وخت کښې لحاظ ساتل دي، د علم تقاضې پوره کول، او دا ګران کار دې. مونږ ډیرو انسانانو ته د دین خبرې یادې وي لیکن د هغې لحاظ نۀ ساتو. او څوک چه د یوې خبرې لحاظ نۀ ساتي نو دا دلالت کوي چه دا په دین کښې بې باکه دې. او انسان کښې کمال په رعایت باندې پیدا کیږي یعني د الله حکم زده کول او بیا په خپل وخت د هغې لحاظ ساتل.

رهبانیت څه ته وائی؟

رهبانیت : په اصل کښې هغه کار ته وائی چه رُهبان ته منسوب وی، او رهبان معنیٰ ده یریدونکے شخص۔ یعنی د راهب کار۔ (یعنی پیرتوب) یا رهبانیت د رَهُب نه دے په لغت کښې یرے کولو ته وائی۔ لکه آیت کښې دی : ﴿وَاضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ﴾ (القصص:۳۲) او په اصطلاح د قرآن کښې رهبة او رهبانیة : د الله نه ویره کول او د هغۀ یرے د وجه نه د الله تعالیٰ د منهیاتو نه ځان ساتل لکه پدے قول د الله تعالیٰ کښې ذکر شویدی : ﴿وَاِيَّاىَ فَارْهَبُوْنِ﴾۔ (او خاص زما نه یره وکړئ) (البقره : ۴۰)

او په عرف کښې د رهبانیت مطلب دا دے :

[هِيَ الْمُبَالَغَةُ فِي الْعِبَادَةِ وَالرِّيَاضَةِ وَالْاِنْقِطَاعُ عَنِ النَّاسِ وَاِيْثَارُ الْعُزْلَةِ وَالتَّبَتُّلِ]

دا په عبادت او ریاضت کښې مبالغه او غلو کول دی، او د خلقو نه کناره کشی اختیارول او ګوټونو ته تلل دی۔

او په بل تعبیر سره رهبانیت دے ته وائی چه انسان د الله د رضا حاصلولو دپاره د دنیا وَمَا فِيْهَا نه کناره کشی اختیار کړی، او د تنهایئ په ګوټ کښې کینی، او د الله په یاد کښې مشغول شی، او بعض مباح تلذذات (خوندور څیزونو) نه ځان ساتی، لکه نکاح، او قیمتی اعلیٰ کپړے، او ښه خوراکونه۔ لکه د نصاراؤ غلو دا وه چه په ځان باندے ئے ګران ګران اعمال مقرر کړل، لکه د ښو خوراکونو، څکاکونو، نکاحونو او جامو نه ئے ځان منع کړو، او غارونو او ګیرجو او ښارو ته ووتلل۔ (محاسن التاویل للقاسمیؒ)

بیا رهبانیت په دوه طریقو دے : (۱) یو دا چه د شرعی ضرورت د وجه نه جدائی اختیارول لکه فتنے ډیرے شی، او جهاد او دعوت بالکل نشی کیدے او په خپل دین باندے ویریږی، خلق ئے خامخا په فتنو کښې اخته کوی، نو په داسے وخت کښې د خلقو نه ډډه کول او صحراء یا غار ته تلل، او دیته فرار لِلدِّیْن او هجرت وئیلے کیږی لکه امام بخاریؒ پدے باندے باب قائم کړیدے (بَابٌ مِنَ الدِّيْنِ الْفِرَارُ مِنَ الْفِتَنِ)۔

یعنی د فتنو نه تښتیدل د دین برخه ده۔ لکه څنګه چه اصحاب کهفو غار ته هجرت کړے وو، او دارنګه په حدیث د ابو سعید خدری رضی الله عنه کښې بخاری رقم (۱۹) وغیره کښې راغلی دی : رسول الله ﷺ وفرمایل : اِ يُوْشِكُ اَنْ يَكُوْنَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتْبَعُ بِهَا

شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ يَفِرُّ بِدِيْنِهٖ مِنَ الْفِتَنِ] نزدے ده چه داسے وخت به راشي چه غوره مال د مسلمان به ګډے بزے وی، او د باران د ځایونو نه به ئے د غرونو سرونو ته بوځی چه خپل دین به د فتنو نه تختوی. (بچ کوی).

دارنګه حدیث کښ دی : [فَاعْتَزِلْ تِلْكَ الْفِرَقَ كُلَّهَا وَلَوْ اَنْ تَعَضَّ بِاَصْلِ شَجَرَةٍ حَتّٰى يُدْرِكَكَ الْمَوْتُ وَاَنْتَ عَلٰى ذٰلِكَ] (بخاری : ٣٦٠٦) مسلم (٤٨٠٩)

یعنی د دغه ټولو فرقو نه جدا شه اګرکه ته د ونے په بیخ باندے چك ولګوے تردے چه تا ته پدے حالت کښ مرګ راشي.

دے ته هجرت وئیلے کیږی، او دے ته که رهبانیت وئیلے شی نو هغه به لغةً وی. یعنی د خپل دین په باره کښ د فتنو نه پریدل، او په شریعت کښ دے ته رهبانیت نهٔ وئیلے کیږی. یا لکه رسول الله ﷺ به د نبوت نه مخکښ غار حراء ته تللو او د مشرکانو سره به په شرك کښ نهٔ شریك کیدو.

(٢) دویمه طریقه دا ده چه په غیر د شرعی ضرورت نه د خلقو نه جدائی اختیارول او عبادتونه کول، او په ځان باندے تکلیفونه او ریاضتونه تیرول نو دا زمونږ په شریعت کښ قطعاً منع دی لکه په حدیث کښ دی : [هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُوْنَ] (تشدد کونکی هلاك شول). (مسلم : ٦٩٥٥)

❁ حدیث کښ دی : [يَا عُثْمَانُ اِنِّیْ لَمْ اُوْمَرْ بِالرَّهْبَانِيَّةِ]

(سنن الدارمی ٢/ ١٣٢) وصححه الالبانیؒ فی الصحیحة (١/٦٧٩) رقم (٣٩٤).

اے عثمانه ! ما ته په رهبانیت (پیرتوب) باندے حکم نهٔ دے شوے. ابو قلابهٔ وائی : عثمان بن مظعون ؓ ځان له یوه کوټه جوړه کړه نو په هغے کښ د عبادتونو دپاره کیناستو. نو دا خبره نبی کریم ﷺ ته ورسیده، نو هغه ورته راغے او د کوټے د دروازے دواړه درشلے ئے ونیولے او ورته ئے وفرمایل : [يَا عُثْمَانُ اِنَّ اللّٰهَ لَمْ يَبْعَثْنِیْ بِالرَّهْبَانِيَّةِ (مَرَّتَيْنِ اَوْ ثَلَاثًا) وَاِنَّ خَيْرَ الدِّيْنِ عِنْدَ اللّٰهِ الْحَنِيْفِيَّةُ السَّمْحَةُ].

اے عثمانه ! یقین وکړه چه زهٔ الله تعالیٰ په رهبانیت (پیرتوب) باندے نهٔ یم رالیږلے (دا خبره ئے دوه یا درے ځل وفرمائیله) او یقیناً د الله په نیز غوره دین دین ابراهیمی دے چه د توحید آسان دین دے. (طبقات ابن سعد ٣/٣٩٥) والصحیحة (٤/٣٨٥) رقم (١٧٨٢).

او په روایت د احمد (٦/٢٢٦) کښ دی : عروهٔ فرمائی : د عثمان بن مظعون ؓ بی بی

(خوله بنت حکیم) عائشې کره راغله چه ساده هیئت ئې جوړ کړے وو - نو په هغې کښې دا دی : رسول الله ﷺ عثمان (رضی الله عنه) سره ملاؤ شو ورته ئې وفرمایل:

[يَا عُثْمَانُ ! اِنَّ الرَّهْبَانِيَّةَ لَمْ تُكْتَبْ عَلَيْنَا، اَفَمَا لَكَ فِيَّ أُسْوَةٌ؟ فَوَ اللّٰهِ اِنِّيْ اَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَاَحْفَظُكُمْ لِحُدُوْدِهٖ]۔

اے عثمانه ! رهبانیت (پیرتوب) په مونږ نۀ دے مقرر کړے شوے (یعنی زمونږ په دین کښې پیرتوب نشته) آیا ستا دپاره په ما کښې ښائسته اقتداء نشته ؟ قسم په الله زۀ په تاسو کښې د الله نه زیات یریدونکے یم، او د هغۀ د حدودو زیات حفاظت کونکے یم۔

(واسناده صحیح- الصحیحة برقم : ۱۷۸۲) (۳۸۵/٤)

❁ حدیث کښې دی : رسول الله ﷺ وفرمایل : [لَا تُشَدِّدُوْا عَلٰى اَنْفُسِكُمْ فَيُشَدَّدُ عَلَيْكُمْ فَاِنَّ قَوْمًا شَدَّدُوْا عَلٰى اَنْفُسِهِمْ فَشَدَّدَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ فَتِلْكَ بَقَايَاهُمْ فِي الصَّوَامِعِ وَالدِّيَارِ ﴿ رَهْبَانِيَّةَنِ ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ ﴾] ابوداود (٤٩٠٦) وابی یعلی (٣٦٩٤) واسناده حسن قاله حسین سلیم اسد وقال ابن تیمیة : له شواهد فی الصحیح، اقتضاء الصراط المستقیم ۲۹٦/۱) وصحح اسناده البوصیری فی اتحاف الخیرة المهرة (۹۲/۵)

تاسو په خپلو ځانونو سختی مۀ راولئ (په ډیرو عبادتونو مقررولو) نو په تاسو به سختی راوستے شی ځکه چه پخوا یو قوم وو چه په ځانونو ئې سختی راوسته نو الله هم په هغوی سختی راوسته نو دغه د هغوی باقیمانده خلق دی په ګیرجو کښې۔ (پیرتوب دوی د ځان نه جوړ کړے وو ما په دوی باندے نۀ وو لیکلے)۔

آیا په نصرانیت کښې رهبانیت موجود وو؟

پدے کښې د اهل علمو اختلاف دے، یو قول دا دے چه د هغوی په دین کښې رهبانیت وو لکه د یو تفسیر په بناء وویل شو چه (رَهْبَانِيَّةً) منصوب دے عطف دے په (رَأْفَةً وَرَحْمَةً) باندے، او دا هم د جَعَلْنَا دپاره مفعول دے۔

او دویم قول د حدیث د ابن مسعود رضی الله عنه نه معلومیږی چه په هغې کښې دریے د نجات والو ډله کښې ئې یوے ته رهبانیت والا وئیلی وو۔ لکه روستو فائده کښې راځی۔

او دویم قول دا دے چه په نصرانیت کښې هم رهبانیت نۀ وو بلکه رهبانیت اختیارول د هغوی خود ساخته عمل وو، حقیقی بدعت وو۔

او دویم دلیل دا دے چه ډیرو متأخرینو مسیحینو د رهبانیت بدعت بد گنڑلے دے، او وئیلی ئے دی چه ددے په تاثیر د نفسونو او اخلاقو کښ ډیر لوی ضررونه او مفاسد دی۔
علامه قاسمیؒ د مسیحینو د یو کتاب ((ریحانة النفوس)) نه نقل کړیدی چه رهبانیت د یو وَهُم نه پیدا شوے دے، او هغه دا چه د خلقو نه جدائی اختیارول، او زیر او سخت څیزونه استعمالول ددے دپاره یو لوی شان دے۔
لیکن ددے وَهم دپاره د کتب مقدسهٔ نه هیڅ سند او دلیل نشته، بلکه د مسیح (عیسیٰ) مثال او د نورو رسولانو مثال تول په تولہ ددے په ضد او خلاف دے ځکه چه هغوی د خلقو د گډون نه نهٔ وو جدا شوی دے دپاره چه یو ائے ژوند تیر کړی بلکه هغوی همیشه د خلقو سره شریك ژوند تیر کړے، خلقو ته به ئے تعلیم ورکولو او وعظ او نصیحت به ئے کولو۔
او په تورات کښ ددے د رهبانیت هیڅ مثال نهٔ موندے کیږی۔ بلکه کومو مسیحینو ته چه دا شے راغلے دے نو دا ورته د هندوانو د طرفنه راغلے دے۔ (محاسن التاویل للقاسمی)
دا اختلاف په هغه وخت کښ دے چه د رهبانیَت معنیٰ صرف دا واخستے شی چه د خلقو نه د الله د بندگئ کولو دپاره جدا شی او اختلاط پریدی لیکن روستو زمانو کښ رهبانیت او پیرتوب هغه شے دے چه د خلقو نه کناره کشی وکړی، او نکاح هم په ځان حرامه کړی او نور حلال طیبات هم په ځان حرام کړی تردے پورے چه د جَمعے مونځونه نکوی، غسل هم نکوی، بلکه بعض پکښ ختنه هم نکوی، نشے کوی، په غزلو او سرودونو سره د روح غذا حاصلوی، رقص او گډاگانے کوی، نو دا رهبانیت په هر دین کښ قطعی حرام دے، لیکن د نصاراؤ راهبانو او ددے امت صوفیانو او پیرانو دا طریقه ایجاد کړه دے دپاره چه د خلقو نه ددے په ذریعه سره مالونه جمعه کړی لکه چه قرآن کریم کښ دے ته اشاره کړیده ﴿اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ﴾ (سورة توبه : ٣٤)
او دارنگه په دوی باندے رد په سورة المائده (٨٧) آیت کښ ذکر شویدے۔
فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا : یعنی عملی طور سره دے خلقو کَمَا حَقُّهٗ ددے رهبانیت پابندی ونهٔ کړے شوه، بلکه د زمانے په تیریدو سره د دین عیسوی نه لرے شول، او د دنیا دارو بادشاهانو د مرضئ مطابق ئے د الله کتاب (انجیل) بدل کړو، او هغه رهبانیت ئے

پریښودۀ کوم چه دوئ د خپل طرفه جوړ کړے وو، صرف یو څو خلق په صحیح دین باندے باقي پاتے شول، چه د هغے ذکرئے د آیت په آخره کښې کړے دے او وئیلی ئے دی چه ﴿فَآتَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ﴾ کوم خلق چه د شرك او بدعت نه بچ پاتے شول، او د عیسیٰ علیه السلام په صحیح دین باندے قائم پاتے شول، او د نبی کریم ﷺ د راتلو نه پس ئے په هغۀ ایمان راوړو، الله تعالیٰ هغوئ له لوی اجر ورکړو۔

فائده۱: حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه پدے آیت کښې د نصاراؤ درے فرقو ته اشاره ده چه هغه په حدیث د ابن مسعود رضی الله عنه کښې ذکر شویدی، حاصل ئے دا دے چه د عیسیٰ علیه السلام د پورته کیدو نه روستو بنی اسرائیلو په دوه اویا ډلو (په یو روایت کښې درے اویا ډلو) کښې تقسیم شول چه درے فرقو پکښې نجات وموندو، یوے فرقے د جبابره بادشاهانو مخے ته د عیسیٰ علیه السلام د دین دعوت ورکړو، آخر دوئ د هغوی سره قتال شروع کړو تردے چه شهیدان شول، نو نجات ئے وموندو، او د دویمے ډلے د قتال طاقت نۀ وو، نو هغوی د بادشاهانو او جبابره ؤ مخے ته د الله تعالیٰ د دین دعوت او تبلیغ شروع کړو، نو دوئ ووژلے شو او په آرو باندے آره کړے شول، او په اُور باندے ئے وسیزل۔ نو دوئ صبر وکړو او نجات ئے مونده کړو۔

او دریمه ډله هغه وه چه نۀ ئے د قتال طاقت لرلو او نۀ د ظالمانو په مخکښې د حق وینا د دعوت کولو (مجبوره شو) نو دوی غرونو او غارونو ته لاړل د خپل رب بندګی ئے کوله۔

ابن کثیرؒ لیکی چه دا روایت د داود المحبر وضاع راوی د وجه نه بے اعتباره دے، لیکن ددے تقویت کیږی په بل سند سره چه هغه ابویعلی الموصلیؒ ذکر کړیدے۔ آه۔

او دارنګه طبرانیؒ په المعجم الکبیر رقم (١٠٢٠٦) کښې راوړیدے، وقال الالبانی فی تخریج کتاب السنة لا بن ابی عاصم ص (٧١) اسناده ضعیف رجاله ثقات علی ضعف فی هشام بن عمار والولید بن مسلم یدلس تدلیس التسویة ولم یصرح بالتحدیث فی غیر شیخه بکیر ـ شیخ البانیؒ وائی: په کبیر د طبرانی کښې ددے نه غوره سند موجود دے۔ (نفس المصدر)

وروی الحاکم باسناد صحیح برقم: ٣٧٩٠ وروی النسائی (٥٤٠٠) مثله عن ابن عباسؓ موقوفا باسناد صحیح (صححه الالبانیؒ)

معلومه شوه چه رأفة کښې اوله فرقه مراد ده چه قتال کونکے وه، او په رحمة کښې دویمه فرقه ده چه دعوت کونکی وو، او دریمه فرقه په رهبانیة سره ذکر شویده۔

فائده ۲ : د رأفةً او رحمةً سره ئے جَعَلْنَا ووئیلو یعنی ځان ته ئے نسبت وکړو او د رهبانیةً نسبت ئے دوئ ته وکړو۔ دے کښ حکمة دا دے چه رافة او رحمة په زړه کښ یو طبعی او خُلقی شے دے چه د انسان کسب لره په کښ څه مداخلت نشته، او هرچه رهبانیت دے نو هغه د بدن د افعالو نه دے، او د انسان کسب لره په هغے کښ مداخلت شته۔ (فتح البیان)

د آیت تفسیر :

وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوْهَا : رهبانیةً منصوب دے په پټ اِبْتَدَعُوْا سره چه روستو (اِبْتَدَعُوْهَا) د هغے تفسیر دے۔ پدے کښ دوه تفسیره دی (۱) یو دا چه د دوئ په دین کښ رهبانیت نهٔ وو جائز، او ابتداع نه مراد دا دے چه دوئ د ځان نه راپیدا کړو،

او اِلَّا ابْتِغَاءَ : استثناء منقطع ده، نو معنیٰ دا ده : رهبانیة دوی د ځان نه راپیدا کړو چه مونږ دا په دوی باندے نهٔ وو فرض کړے/ مقرر کړے۔ (لٰكِنِ ابْتَدَعُوْهَا اِبْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ) لیکن دوی دا بدعت راپیدا کړو دپاره د طلب کولو د رضا د الله تعالیٰ، خو بیا ئے د هغے لحاظ هم ونهٔ ساتلو۔ نو د دوی د بدئ وجه دا شوه چه دوی په ځان باندے بدعت (رهبانیت) لازم کړو پدے عقیده چه دا د الله طاعت دے، او الله به پدے باندے راضی کیږی، نو هرکله چه دوی پریخودو او د هغے لائق رعایت ئے ونکړو نو دا دلالت کوی ددوی په بے باکئ باندے په هغه شی کښ چه دوئ پرے د دین عقیده لرله۔

او دا تفسیر د قتادهؒ او د یو جماعت د علماؤ نه نقل دے۔

❁ زجاجؒ داسے معنیٰ کوی : چه اِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللهِ بدل د (هَا) ضمیر نه، او تقدیر داسے وائی : (مَا كَتَبْنَاهَا اِلَّا شَيْئًا اَلْبَتَّةَ اِلَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمُ ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ)۔

یعنی مونږ په دوی باندے هیڅ شے د رهبانیة نهٔ دے مقرر کړے مگر مونږ په دوی باندے د الله د رضا طلب کول فرض کړی وو۔ (فتح البیان وغیره)

(۲) دویم دا چه د دوی په دین کښ رهبانیت جائز وو خو صرف د الله د رضا دپاره، یعنی رهبانیتِ مقیده جائز وو نو بیا به استثناء متصل وی۔ او د (اِبْتَدَعُوْهَا) نه مراد به دا وی چه د هغے کیفیت او طریقه ئے بدله کړه او د هغے مقصد ئے اُلټه کړو۔ نو (رهبانیة) به منصوب وی په مخکښ (جَعَلْنَا) سره۔

معنیٰ دا ده : مونږ د دوئ دپاره رهبانیت مقرر کړو، چه دوئ د هغے کیفیت او طریقه او

مقصد بدل کړو، ما نهٔ وو فرض کړے په دوی باندے دا رهبانیة مګر دپاره د طلب کولو د رضا د الله تعالیٰ لیکن دوی د هغے هیڅ رعایت ونکړو، د الله رضائے پرے طلب نکړه مګر کمو خلقو وکړه او ډیر پکښې فاسقان شول. او دا قول د مجاهدؒ دے.

نو په آیت کښې الله تعالیٰ زمونږ دپاره د دغه بنی اسرائیلو مذمت (بدی) بیان کړه چه هغوی په دغه نهٔ رعایت سره مذموم کیږی، نو دغه شان تاسو به هم مذموم کیږئ که د کتاب او سنت رعایت ونکړئ، نو اُوس څه وکړو؟ نو الله روستو آیت کښې د صحیح ایمان دعوت ورکوی فرمائی:

یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَآمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ
اے ایمان والو! اُویریږئ د الله نه او ایمان راوړئ په رسول د هغهٔ باندے
یُؤْتِکُمْ کِفْلَیْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَیَجْعَلْ لَّکُمْ نُوْرًا
دربه کړی تاسو ته دوه اندړی (برخے) د رحمت خپل نه، او وبه ګرځوی تاسو لره رنړا
تَمْشُوْنَ بِهٖ وَیَغْفِرْ لَکُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ
چه ګرځئ به تاسو په هغے سره او بخنه به وکړی تاسو ته او الله بخنه کونکے
رَّحِیْمٌ ﴿۲۸﴾ لِئَلَّا یَعْلَمَ اَهْلُ الْکِتَابِ اَلَّا یَقْدِرُوْنَ
رحم کونکے دے. دے دپاره چه پو هه نهٔ شی اهل کتاب پدے چه دوی قدرت نهٔ لری
عَلٰی شَیْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاَنَّ الْفَضْلَ بِیَدِ اللّٰهِ یُؤْتِیْهِ
په هیڅ شی باندے د فضل د الله نه او یقیناً فضل په لاس د الله کښې دے، ورکوی ئے
مَنْ یَّشَاءُ ۚ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِیْمِ ﴿۲۹﴾
چا ته چه اُوغواړی، او الله خاوند د فضل لوئی دے.

تفسیر: پدے آیت کښې د رسول الله ﷺ د اتباع درے فائدے ذکر شویدی.

پدے آیت کښې کوم مؤمنان مراد دی؟ (۱) نو د ابن عباس رضی الله عنه د وینا مطابق په دے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ د زمانے یهود او نصاریٰ مخاطب کړی دی کومو به

چه په تیرو شوو انبیاءِ کرامو باندے د ایمان راوړلو دعویٰ کوله، او دوئ ته ئے د دوئ دعوے مطابق د ایماندارو خطاب وکړو چه تاسو خو ځان ته په تورات او انجیل ایمان والا وایئ نو د الله نه ویریږئ، او په نبی کریم ﷺ باندے د ایمان راوړو دعوت ئے ورکړو، دے دپاره چه دوی د فسق نه بچ شی، او وے وئیل چه که دوئ دا دعوت قبول کړو او ددے مطابق ئے عمل وکړو نو دوئ له به دو چنده اجر ملاویږی، یو اجر په مخکنی نبی باندے د ایمان راوړو په وجه، او دویم اجر په نبی کریم ﷺ باندے د ایمان راوړو په وجه۔ لکه همدا خبره په حدیث د بخاری او مسلم کښ راغلے ده، (بخاری: ۹۷) مسلم: ٤٠٤)

د ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل:

[ثَلَاثَةٌ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ رَجُلٌ مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهٖ وَاَدْرَكَ النَّبِيَّ ﷺ فَآمَنَ بِهٖ]

درے قِسمه خلقو ته به دو چنده اجر ملاویږی۔ په دوئ کښ اول د اهلِ کتابو هغه کس دے چه هغهٔ په خپل نبی باندے ایمان راوړو، او په ما باندے ئے ایمان راوړو...... الحدیث)۔ (بخاری: ۹۷) مسلم: ٤٠٤)

(۲) سعید بن جبیرؒ وائی: کله چه اهلِ کتابو فخر وکړو چه دوئ ته به دوچنده اجر ملاویږی نو الله تعالیٰ دا آیت د امتِ محمدیه په باره کښ نازل کړو۔ اول قول غوره دے۔

اتَّقُوا اللّٰهَ: ددے تقویٰ نه مراد د عقیدے د شرك او د تثلیث او تشبیه نه ځان ساتل دی کوم چه یهودیانو او نصاراؤ د ځان نه جوړه کړے وه۔

بِرَسُوْلِهٖ: دا اضافتِ عهدی دے، ددے نه مراد رسول الله ﷺ دے۔

يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ: كِفل په اصل کښ هغه زړے شرئ ته وئیلے کیږی چه د اُوښ په شا باندے غوړوی دے دپاره چه بنده پرے د سورلئ نه ونهٔ غورزیږی، بیا د ثواب برخے او حصے ته وئیلے کیږی چه انسان لره د بد بختئ نه بچ ساتی، دلته ترے مراد دوچنده ثواب او اندے (بار/پنډ) د ثوابونو دے۔

سوال وجواب

سوال: دا خو دوه کارونه دی، ایمان په مخکنی نبی او ایمان په آخری نبی او په دوه نیك عملونو خو ضرور دوه ثوابونه ملاویږی نو د دوی خصوصیت په څه وجه سره دے؟

جواب: پدے کښ په هر ایمان باندے مستقل دوه ثوابونه دی لیکن په دے شرط سره

چه دویم ایمان ورسره پیوست شي نو ګویا که په دواړه ایمانونو باندې څلور څلور ثوابونه شول.

وَيَجۡعَل لَّكُمۡ نُورٗا: (۱) ددې نه مراد په دنیا کښې هغه نور دې چه په قرآن او ددې په علومو سره حاصلیږي۔ (۲) یا د نور نه مراد واضح دین دې یعنی تاسو لره به په دین کښې داسې ښکاره لاره وګرځوي چه د هغې په وجه به تاسو په سمه لار روان شئ۔ او په آخرت کښې هغه رڼا ده چه پدې سورت کښې دوه کرته ذکر شوه۔

تَمۡشُونَ بِهِۦ: یعنی تاسو به پدې رڼا سره په پُلِ صراط باندې روان یئ۔

او په دنیا کښې د مشي نه مراد دا دې چه تاسو به د قرآن او سنت موافق ژوند تیروئ، او پدې کښې دنیاوي بشارت ته هم اشاره ده چه ستاسو دین به غالب وي او شهرت او عزت به مو همیشه روان وي۔

وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ: یعنی په آخري نبي باندې د ایمان راوړو نه مخکښې چه تاسو نه کوم ګناهونه شویدي هغه به درته معاف کړي۔

لِّئَلَّا يَعۡلَمَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ: دا آیت د مخکنی آیت سره متعلق دې، او پدې کښې غوره تفسیر دا دې چه (لِئَلَّا) کښې لام زیاتی دې، او په عربئ ژبه کښې د لام زیاتوالې په فصیح کلام کښې د تاکید دپاره راځي لکه (مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ) (اَلَا لَا بَارَكَ اللّٰهُ فِيْ سُهَيْلٍ) دارنګه (فِيْ بِيْرِ لَا حُوْرٍ)۔ (لَا اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ)

او د اهل الکتاب نه مراد هغه خلق دي چه په آخري نبي ئې ایمان نۀ دې راوړې، او د فضل الله نه مراد هغه درې فائدې دي کومې چه په اتباع د رسول الله ﷺ کښې ذکر شوې۔ او دارنګه عام فضل هم مراد دې دې۔

نو مطلب دا شو چه اهل کتابو کومو چه ایمان نۀ وو راوړې هغوي به دا دعوه کوله چه مونږ د الله تعالیٰ صحیح بندګان یو، جنت مونږ له پیدا دې، د الله ټول فضل په مونږ باندې وقف شویدې، نور انسانان د فضل لائق نۀ دي، دا خو زمونږ د خدمت دپاره پیدا دي (نو دوي به ټول مخلوق سپك او ځانونه ئې لوي ګڼړل)، د الله فضل به صرف په مونږ کیږي، عربو ته وګوره او د الله فضل ته ؟!۔

نو دلته الله تعالیٰ ایمان والو ته وائي چه تاسو د اهل کتابو ضد وکړئ، په ځان کښې ایمان راولئ او تقویٰ اختیار کړئ او د خپل نبي صحیح تابعداري وکړئ، نو الله به تاسو

بـاندے د خپل فضل او رحمت بارانونه راولیږي، په دنیا کښې به کامیابي او عزت او غلبه درکړي، او قسماقسم نعمتونه به درکړي، نو یهودیانو ته به پته ولګي چه مونږ خو وئیل چه د الله فضل به صرف په مونږ کیږي، دلته خو په نورو خلقو باندے هم د الله فضل وشو، زمونږ خبره خو غلطه وختله، نو الله فرمائي چه تاسو د اهل کتابو د ضد نه دغه مخکني کارونه وکړئ دے دپاره چه اهل کتابو ته د خپلے خبرے غلط والے معلوم شي، او پدے پوهه شي چه دوی سره د الله د فضل ټیکه او اختیار نشته چه د دوئ په خوښه به چا ته فضل ورکوي او چا ته نهٔ.

یا اَلَّا یَقْدِرُوْنَ عَلٰی شَیْءٍ مِنْ فَضْلِ اللهِ. یعني دوی قادر نهٔ دي په دفع کولو د دغه فضل باندے د هغه چا نه چه الله پرے فضل کړیدے، او مستحقین د فضل دي. ځکه چه ټول فضل خو د الله په اختیار کښې دے، هغهٔ چه چا ته ورکول غواړي ورکوي ئے، لکه دغه فضل ئے په آخري امت باندے په نبي رالیږلو سره وکړو او دوی ته ئے غلبه ورکړه.

مفسرینو نور تفسیرونه هم ذکر کړیدي لیکن پس د سوچ نه هغه په تکلفاتو بناء دي چه د آیت ظاهر ورسره موافقت نهٔ لري. والله تعالیٰ اعلم. وبالله التوفیق.

امتیازات :

۱– پدے سورت کښې تحقیق حقائق الایمان بیان شو.

۲– د تقدیر دوه فائدے پکښې خصوصي طور سره ذکر دي.

۳– د دنیا کامله بې رغبتي پکښې ذکر شوه.

٤– د رهبانیت خبره پکښې ذکر شوه.

٥– د رسول الله ﷺ د تابعدارئ درے مزیدارے فائدے پکښې بیان شوے.

ختم شو تفسیر د سورة الحدید په فضل د الله تعالیٰ په شعبان ١٤٣٧/٥ هـ موافق : ١٠/٥/٢٠١٦ صباح یوم الاربعاء بجه : ٠٠ : ٩. پشاور.



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آیاتها (۲۲)	(۵۸) سورة المجادلة مدنية (۱۰۵)	رکوعاتها (۳)

سورة المجادله مدني دے، په دے کښ دوه ویشت آیتونه او درے رکوع دي۔

تفسیر سورة المجادله

نوم : (۱) ددے نوم [اَلْمُجَادَلَة] د اولنی آیت د ﴿تُجَادِلُكَ﴾ نه اخستے شوے۔ (مجادِله) په زیر د دال سره جګړه او بحث کونکے زنانه او په زبر د دال سره هغه زنانه چه د هغے سره بحث کړے شویدے)

(۲) سورة الظهار۔ (۳) سورة قَدْ سَمِعَ هم ورته وئیلے کیږی۔

د نازلیدو زمانه : قرطبیؒ لیکی چه دا سورت د ټولو په نیز مدنی دے۔ او ددے ځای نه تر (سُوْرَةُ الْمُلْك) پورے ټوله سیپاره کښ مدنی سورتونه دی چه په واقعاتو او احکامو باندے مشتمل دی۔

مناسبت

۱- مخکښ سورت کښ ئے د ایمان تجدید ذکر کړو چه دا تازه کړئ، نو دلته منافقانو ته رټنه ورکوی چه دوئ هغه خلق دے چه د خپل ایمان غم ورسره نشته، نو دلته زجر دے منافقانو ته په ناکاره صفتونو د هغوی سره۔

۲- هلته د اهل کتابو په باره کښ وویل شو چه د هغوی د ضد نه نیك اعمال کړئ، نو دلته وائی چه د دوئ ضد څکه پکار دے چه دا خلق داسے مفسدان دی چه منافقانو ته شیطانی کوی۔

مقصد د سورت

۱- بعض علماء وائي چه پدے کښ زجر دے بخلاؤ ته، او دا معلومیږی د ﴿ ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَیْ نَجْوَاكُمْ ﴾ نه لیکن دا موضوع دومره واضحه نۀ ده۔

۲- دویمه موضوع: اَلزَّجْرُ لِلْمُنَافِقِيْنَ بِاَوْصَافِهِمُ الْقَبِيْحَةِ ۔ منافقانو ته د هغوی په ناکاره صفتونو رټنه ورکول دی۔ دا موضوع دے سورت کښ شته لیکن صرف په آخرنۍ رکوع کښ راغلے ده۔

۳- زمونږ استاذ محترم (الشیخ الرستمی رحمة الله علیه) فرمائی:

موضوع د سورت زجر او منع ده د طریقو د فساد نه چه هغه ئے شپږ ذکر کړیدی:

(۱) تحریم په ظهار سره۔

(۲) محاده د الله تعالیٰ او د رسول سره، (۳) نجویٰ په گناه او عدوان سره۔

(٤) په غیر شرعی طریقے سره تحیه کول۔ (٥) په دروغه سره قسم کول۔

(٦) صد عن سبیل الله کول۔

٤- ډیره واضحه موضوع دا معلومیږی چه پدے سورت کښ اِتِّبَاعُ الْقَوَانِيْنِ الشَّرْعِيَّةِ الَّتِیْ اَتٰی بِهَا الرَّسُوْلُ ﷺ وَتَقْبِيْحُ الْقَوَانِيْنِ الْوَضْعِيَّةِ وَالْاَمْرُ بِاتِّبَاعِ الرَّسُوْلِ دے۔

یعنی د شرعی قوانینو تابعداری کول لازم دی کوم چه رسول الله ﷺ راوړیدی او د وضعی (ځان نه ایجاد شوی) قوانینو بدی بیانوی او د رسول الله ﷺ په تابعدارۍ حکم کوی۔

د الله د قانون تابعداری دا ده چه ظهار مۀ کوه، که وشو نو درے کفارے دی، بیا په (٥) آیت کښ فرمائی: ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَادُّوْنَ ﴾ د الله او د رسول په خلاف قوانین مۀ جوړوئ۔

بل غلط قانون دا وو چه بے ځایه جرگے کول، غلط سلامونه اچول، د رسول الله ﷺ د مجلس بے ادبی کول، رسول الله ﷺ تنگول دا د منافقانو غلط قوانین او طریقے وے۔ ځوك چه دا نۀ كوی نو د هغوی بدی بیانوی، او ځوك ئے چه كوی نو د هغوی صفات بیانوی نو د ایمان والو صفات به بیان کړی۔

نو ښکاره موضوع دا شوه چه دا رسول چه تاسو ته د کومے خبرے امر کوی هغے باندے عمل وکړئ او د کوم کارونو نه چه تاسو منع کوی د هغے نه ځان وساتئ او ددۀ مخالفت مۀ کوئ۔

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ
یقیناً واوریده الله تعالیٰ وینا د هغې زنانه چه بحث ئې کولو تا سره په باره
زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْ إِلَى اللّٰهِ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا
د خاوند د هغې کښې او شکایت ئې کولو الله ته او الله آوریدلې خبرې اترې ستاسو،
إِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ ﴿۱﴾
یقیناً الله آوریدونکې لیدونکې دې۔

تفسیر: شان نزول :

مفسرینو لیکلی دی چه دا آیتِ کریمه د خوله بنت ثعلبه انصاریه رضی الله عنها او د هغې د خاوند اَوس بن صامت ﷺ په باره کښې نازل شوې وو۔ اَوس بن صامت ﷺ د عباده بن صامت ﷺ وورور دې، د خپلې بی بی نه ئې د کور والی مطالبه وکړه نو هغې انکار وکړو نو دې په غصه کښې راغې او هغې ته ئې ووئیل چه ته په ما باندې زما د مور د شا غونته ئې۔ او په دې زمانه کښې به [ظِهار] طلاق ګڼړل کیدهٔ۔

او ددې دواړو واړهٔ واړهٔ بچی وو، او دا دواړه د ډیر عمر وو۔ او بیرته پدې کار خفه هم وو، دې وجې نه خوله رسول الله ﷺ خواته راغله، او ټوله قصه ئې واوروله، خپله او د خپل خاوند او د خپلو بچو پریشان حالی ئې بیان کړه۔

په یو صحیح روایت کښې دی، هغې ووئیل :

[یَا رَسُوْلَ اللّٰه ! اَکَلَ شَبَابِیْ، وَنَثَرْتُ لَهٗ بَطْنِیْ، حَتّٰی اِذَا کَبِرَتْ سِنِّیْ وَانْقَطَعَ وَلَدِیْ ظَاهَرَ مِنِّیْ] (ابن ماجه : ۱۶۷۸)

اې د الله رسوله ! اَوْس زما ځوانی اوخوړه، او ما خپله خیټه هغهٔ دپاره خوره کړه، اوکله چه زما عمر زیات شو، او بچی کیدل مې بند شو، نو هغهٔ ما سره ظِهار اوکړو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل چه په دې باره کښې په ما باندې هیڅ وحی نهٔ ده نازله شوې۔

خَوْلې ووېل : اې د الله رسوله ! د هر شیٔ په باره کښې په تا باندې وحی نازله شوې ده، او صرف همدا معامله پاتې شوې ده ؟ نبی ﷺ وفرمایل : هاؤ ! خبره همدغسې ده څنګه چه

ما کړې ده. نو خولې ووئیل چه زۀ الله ته شکایت کوم، نۀ د هغۀ رسول ته. نو دا آیت نازل شو.

امام احمدؒ او امام بخاريؒ د عائشې رضی الله عنها نه روایت کړې، هغې ووئیل :

[اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ وَسِعَ سَمْعُهُ الْاَصْوَاتَ لَقَدْ جَائَتِ الْمُجَادِلَةُ تَشْکُوْ اِلَی النَّبِیِّ ﷺ وَاَنَا فِیْ نَاحِیَةِ الْبَیْتِ مَا اَسْمَعُ مَا تَقُوْلُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰی قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِیْ تُجَادِلُكَ) الآیة.

چه ټول تعریفونه هغه الله لره دي چه تمام آوازونه آوري. جګړه کونکې ښځه (خَوله) نبی کریم ﷺ ته راغله، او خبرې ئې شروع کړې، اوزۀ د کور په یو ګوټ کښې ووم، لیکن د هغې خبرې مې نۀ آوریدلې، نو الله عز وجل ﴿قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ﴾ الآیة نازل کړو.

(بخاري : ۷۳۸۵) وابن ماجه : (۱۸۸) واللفظ له.

او د جاهلیت والو دا قانون وو چه په ظهار کښې به ئې خپله ښځه مُؤَبّده (همیشه دپاره) حرامه ګڼړله.

نو الله تعالیٰ دلته د ظهار حکم بیان کړو چه ددې دوه حکمه دي، یو دا چه ظهار یو ناروا کار دې دا مۀ کوئ ځکه چه د خپلې ښځې مشابهت د مور سره ورکول خلاف الحقیقة منکر کار دې ځکه چه مور نه خو انسان پیدا وي، او ښځې نه انسان فائده اخلي.

اُوس که یو تن دا ګناه وکړي نو بیا دې کفاره وکړي دا به پرې همیشه حرامه نۀ وي، کفاره یو غلام آزادول دي، که دا نۀ وي نو بیا دوه میاشتې پرله پسې روژې نیول دي، او که دا هم نشي کولې نو بیا شپیته مسکینانو ته دې خوراك ورکړي هر مسکین ته یو مد (نیمه کیلو) غنم یا وړه دې ورکړي. او د وریشو او وریژو وغیره نه به پوره کیلو ورکوي.

بیا ددې قانون سره نورې خبرې ملګرې کړې کله چه د جاهلیت دا قانون خراب شو نو منافقانو او یهودو خبرې شروع کړې چه دا نبی خو هر شے ورانوي او خبرې بدلوي، کوشش ئې دا وو چه د جاهلیت او ظلم قوانین دې په خلقو کښې پاتې وي، نو دوی به د رسول الله ﷺ بې ادبي او د مؤمنانو سپکاوې کولو او ضرر به ئې ورکولو او د رسول الله ﷺ سره به ئې د تنګولو دپاره غیر ضروري مشورې کولې،

نو الله قانون راولیږلو چه د مشورې نه مخکښې به صدقه ورکوئ. منافقان منع شو. نو ځکه په آخري رکوع کښې په هغوی باندې تفصیلي رد کوئ، د منافقانو تعلق د یهودو سره وو، د رسول الله ﷺ او مؤمنانو سره ئې نۀ وو نو ځکه الله په هغوی باندې رد

کوی۔

﴿ قَدْ سَمِعَ اللهُ ﴾ د سورۃ آل عمران په تفسیر کښې مونږ لیکلی وو چه دا الفاظ په دوه ځایونو کښې استعمالیږی، یو د ترحم او شفقت دپاره لکه همدلته مراد دے۔ یقیناً الله واوریده دغه خبره او الله ددے شکایت قبول کړو او هغے ته ئے جواب ورکړو۔ سمع د الله تعالیٰ حقیقی صفت دے، او په ظاهری معنیٰ سره دے، تشبیه او تمثیل او تکییف او تاویل ته ئے هیڅ حاجت نشته۔

تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا : یعنی بحث او خبرے اترے ئے کولے د رسول الله ﷺ سره په باره د خاوند د هغے کښې۔ چه بیرته واپسئ ته څه لاره کولاوه شی، ځکه چه زۀ بوډئ شوے یم، که زۀ ترے جدا شم نو ما بل څوك نۀ کوی، او دے خپله بوډا دے خدمت ته محتاج دے، او بل طرفته زما واړۀ واړۀ بچی دی، ضائع کیږی،

اِنْ ضَمَمْتُهُمْ اِلَیَّ جَاعُوْا وَاِنْ تَرَکْتُهُمْ لَهٗ ضَاعُوْا۔

که زۀ دوی ځان سره یو ځای کوم نو وږی کیږی، او که دۀ ته ئے پریدم نو ضائع کیږی۔ او بل طرفته فقیری هم ده۔ نو ډیرۀ پریشانی شوه، روغ کور پرے وران شو۔ زۀ د خپلے محتاجئ، لوږے او بے وسئ شکایت الله ته کوم۔ او خپل سرئے آسمان طرفته پورته کړو، وے وئیل : اے الله ! زۀ صرف تاته شکایت کوم۔ نو ډیره دلسوزه دعاء ئے الله ته وکړه چه الله تعالیٰ سمدست قبوله کړه۔

د مجادلے نه مراد بحث او محاوره کول دی لکه روستو ئے په تَحَاوُرَكُمَا سره تعبیر کړیدے، او دلته ئے ورته جدال وئیلے دے ځکه چه د زنانه د طرف نه په لهجه کښې سختی وه د وجے د خفگان د هغے نه۔

وَتَشْتَكِیْ اِلَى اللهِ : یعنی د ظِهار په وجه چه خَوْلَے ته د خپل ځان، او د خپل خاوند او د بال بچ په باره کښې کوم فکر او پریشانی راغلے وه، د هغے اظهارئے د خپل رب مخے ته کولو، او دعائے کوله چه هغه ددے دا پریشانی لرے کړی۔ او ددے وجه دا وه چه رسول الله ﷺ به ورته وئیل چه تۀ په خپل خاوند حرامه ئے، او هغے ووئیل چه اے د الله رسوله ! قسم په الله ! اَوس د طلاق لفظ نۀ دے استعمال کړے، او دا هغه محاوره وه د دواړو ترمینځ چه الله واوریده۔

تَحَاوُرَكُمَا : محاوره یو بل سره خبرو اترو، او سوال جواب کولو ته وئیلے شی۔

اَلَّذِيْنَ يُظَاهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَائِهِمْ مَّا هُنَّ اُمَّهَاتِهِمْ
هغه کسان چه ظهار کوی ستاسو نه د زنانو خپلو نه، نهٔ دی دوی میندے د دوی،
اِنْ اُمَّهَاتُهُمْ اِلَّا اللَّائِيْ وَلَدْنَهُمْ وَاِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ
نهٔ دی میندے د دوی مگر هغه چه زیږولے ئے دی دوی لره، او یقیناً دوی خامخا وائی
مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا ط وَاِنَّ اللهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿٢﴾
ناروا خبره او دروغ او یقیناً الله خامخا معافی کونکے، بخنه کونکے دے۔

تفسیر: اُوس قانون د ظهار بیانیږی، الله تعالیٰ فرمائی چه کوم خلق د څهٔ خفگان په وجه خپلو ښځو ته ووائی چه تاسو په مونږ باندے زمونږ د میندو د شاګانو پشان شوئ، یعنی زمونږ د میندو په شان په مونږ حرامے شوئ، نو داسے وئیلو سره د دوئ دغه ښځے په همیشه حراموالی کښی د دوئ د میندو غونته نهٔ جوړیږی، میندے خو هغه وی چه دوئ ئے زیږولی دی، دے وجے نه په حراموالی کښی د دوئ ښځے د دوئ د میندو پشان نهٔ جوړیږی۔

د ظهار معنیٰ او احکام

د ظهار معنیٰ ده، خپله ښځه د مور د شا سره مشابه کول لکه عربو به داسے الفاظ وئیل: [اَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ اُمِّيْ] تهٔ په ما باندے زما د مور د شا په شان ئے۔ یعنی لکهٔ څنگه چه زما د مور شا په ما حرامه ده، نو دغه شان تهٔ هم په ما حرامه ئے۔ دا په جاهلیت کښی ابدی طلاق وو۔

او ظهار په اصل کښی د ظهر نه دے عُلُو (پورته والی) ته وئیلے شی۔ یا ظهر شا ته وئیلے شی۔ او دا کنایه وی د سورلئ نه او د سورلئ نه مراد جماع کول دی۔

پدے کښی د اهل علمو اختلاف دے چه آیا ظهار صرف پدے یو لفظ واقع کیږی او که نور الفاظ هم ددے معنیٰ ورکوی؟ مثلاً د لور یا خور یا نورو محرماتو سره تشبیه ورکړی؟ نو امام ابو حنیفهؒ او مالکؒ او یو جماعت د علماؤ وئیلی دی چه دا هم ظهار کښی داخلیږی، او دا قول د حسنؒ او نخعیؒ او زهریؒ او اوزاعیؒ او ثوریؒ دے،

او دويم قول د محققينو دے چه دا ظهار نۀ دے بلکه ظهار د مور سره تشبيه ورکولو پورے خاص دے، او دا قول د امام قتادةؒ او شعبيؒ نه نقل دے۔
او همدا قول راجح دے۔ ځکه چه په احاديثو کښې لفظ د ظهر او د اُمّ ذکر کيږي، او قرآن کريم کښې هم (اُمَّهَاتُهُمْ) لفظ ذکر دے۔
او دغه شان دويم اختلاف هم دے چه خپله ښځه د مور د سر يا د لاس يا د خپو سره يا د نورو اندامو سره مشابه کړي، آيا دا به ظهار وي او که نۀ؟ نو بعض اهل علم (کوم چه قياسونه کوي) هغوي وائي چه (كُلُّ عُضْوٍ لَا يَحِلُّ لَهُ النَّظَرُ يَقَعُ بِهِ الظِّهَارُ)
هر هغه اندام چه هغے ته د سړي دپاره کتل جائز نۀ وي نو د هغے سره تشبيه ورکولو سره به ظهار واقع کيږي لکه خيټه، سينه، فخذ (ورون)، وغيره۔
او که داسے اندام ذکر کړي چه هغے ته کتل جائز وي لکه اَنْتِ عَلَيَّ کَيَدِ اُمِّيْ، کَرِجْلِ اُمِّيْ۔ تۀ په ما باندے زما د مور د لاس يا د خپے په شان ئے۔ نو دا به ظهار نۀ وي۔
او بعض اهل علمو وئيلي دي چه پدے ټولو صورتونو کښې که د ظهار نيت ئے وي نو ظهار به واقع کيږي او کفاره به ورکوي کله چه رجوع کوي۔
او پدے کښې بعض علماؤ خو لا پردئ ښځے سره مشابهت ورکول يا د پلار سره مشابهت ورکول هم په ظهار کښې داخل کړيدي۔
دے مخکنو اهل علمو د ﴿مُنْكَرًا مِنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا﴾ الفاظو نه استدلال کړيدے چه که يو تن د خپلے ښځے تشبيه د مور د شا يا خيټے يا د سينے يا د پردئ ښځے سره ورکړي نو دا ټول منکره وينا ده او دروغ دي، نو نورو څيزونو سره تشبيه ورکول قياس دي په ظهر باندے په علت د منکر کيدو او دروغ کيدو کښې۔
ليکن حقه خبره هغه ده چه مونږ مخکښې ذکر کړه چه ظهار صرف د مور او صرف د ظهر (شا) سره تشبيه ورکولو پورے خاص دے،
او ددے قياس نه جواب دا دے چه هر قول منکر او زور خو سبب د کفارے نۀ وي۔ لکه يوتن چا ته کنځل وکړي، يا نور دروغ ووائي نو پدے کښې خو کفاره نشته۔ احکام د ظهار پرے نۀ جاري کيږي۔ احکام په هغه شي جاري کيږي چه الله او رسول وئيلي وي او ددے نورو صورتونو په باره کښې رسول الله ﷺ کفاره نۀ ده وئيلے او کفاره عبادت دے او عبادت په قياسونو نۀ ثابتيږي۔

البته که د مور یا د خور یا د لور د عورت یا سینې، یا پتون سره تشبیه ورکړي نو پدې کښې نیت لره اعتبار دے که ددهٔ نیت د تحریم وو نو روستو د سورة التحریم نه معلومیږي چه د حلال څیز په حراملولو باندې قسم لازمیږي نو دا شخص به هم د قسم کفاره ورکړي، ځکه چه تحریم د حلال قسم دے.

او که ستا ادب غرض وو چه تهٔ ما ته داسې ګرانه او محترمه ئې لکه د مور په شان یا د مور د خپو یا لاسونو یا د سینې په شان. بیا دربانده هیڅ نشته، او که ستا په دغه الفاظو سره اراده د ظهار وي، نو په دغه الفاظو سره ظهار نهٔ واقع کیږي بلکه د قسم کفاره به ورکړي.

نو حکم آسان شو چه ګناه دِې کړې، توبه وباسه او کفاره د قسم ورکړه. او چه د مور د شا سره ئې مشابه کړي نو بیا به شرعي ظهار وي کوم چه پدې آیتونو کښې ذکر دی.

(فتح الباری وابن کثیر وفتح البیان)

وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا : اُوس الله د دوئ په دې خبره رد کوی فرمائی چه داسې وینا کول ډیره زیاته خرابه/ ناکاره / او نا جائزه خبره ده چه عقلمند خلق ئې نهٔ برداشت کوي، او شریف خلق په خپلو ژبو داسې خبرې نهٔ راوړي.

او ددې حکم ئې بیان کړو، فرمائی چه ظِهار یو باطل کار دے، دروغ دی چه ددې هیڅ حقیقت نشته.

وَإِنَّ اللهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ: اُوس که د یو تن د خُولې نه داسې خبره راوځي او بیا پرې خپیمانه او توبه ګار وي نو څه به کوي؟ نو الله وفرمایل : چه الله به د دوئ دا ګناه معاف کړي ځکه هغه ډیر زیات معاف کونکے، او بخښنه کونکے دے.

او پدې کښې اشاره ده چه د ظهار دوه علاجونه دي، یو رشتینی توبه ویستل، او بله کفاره ورکول او د کفارې معنیٰ هم ده، د ګناه رژول او ختمول.

وَالَّذِيْنَ يُظَاهِرُوْنَ مِنْ نِّسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا
او هغه کسان چه ظهار کوي د بيبيانو خپلو نه بيا واپس کيږي ماتولو د هغې خبرې
قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا
ته چه وئيلې ده نو آزادول د مرئي دي مخکښې ددې نه چه يو بل سره ملاؤ شي
ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۳﴾
دا وعظ کيدې شي تاسو ته پدې سره، او الله په هغه عملونو چه تاسو ئې کوئ خبردار
فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ
دې۔ پس چا چه نۀ موندۀ (مرئې) نو روژې نيول دي د دووه مياشتو پرله پسې
مِنْ قَبْلِ أَنْ يَّتَمَاسَّا فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ
مخکښې ددې نه چه يو ځائې شي دواړه نو څوك چه طاقت نۀ لري نو طعام ورکول
سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ؕ ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ
دي شپيتو مسکينانو ته دا ددې دپاره چه ايمان راوړئ تاسو په الله او په رسول د هغۀ
وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ وَلِلْكَافِرِيْنَ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴿۴﴾
او دا پولې د الله تعالىٰ دي، او دپاره د کافرانو عذاب دردناك دې۔

تفسیر : په دې آيتِ کريمه کښې هغه خلقو دپاره حکم بيان شوې چه هغوئ د ظِهار کولو نه پس په خپل کار خپيمانه وي، او جِماع کولو سره هغه دوباره د خپلو ځانونو دپاره حلال جوړول غواړي۔ نو دوي به کفاره ورکوي، يعني په دوئ باندې د جماع کولو نه مخکښې واجب دي چه يو مسلمان غلام يا وينزه آزاده کړي، اوکه چرې دا نۀ ملاويږي، يائې قيمت زيات وي، نو پرله پسې دوه مياشتې روژې دِې اُونيسي، او که د څۀ بيمارئ د وجې نه ددې طاقت نۀ لري نو شپيتۀ مسکينانو له دِې خوراك ورکړي۔

امام احمدؒ، ابوداودؒ، طبرانيؒ او بيهقيؒ د يوسف بن عبد الله بن سلام نه او هغۀ د خوله بنت ثعلبه نه روايت کړې چه قسَم په الله! د سورۀ المجادله اولنى آيتونه زما او زما د

خاوند اَوس بن صامت په باره کښې نازل شوی دی۔ دوئ پوره واقعه بیان کړه او وئیلی ئے دی چه د ﴿قَدْ سَمِعَ اللهُ﴾ نه تر ﴿عَذَابٌ اَلِیْمٌ﴾ پورې څلور آیتونه نازل شوی وو۔ نو رسول الله ﷺ ماته ووېل چه زهٔ به اَوس ته د یو غلام آزادولو حکم وکړم۔ نو ما ووېل : اے د الله رسوله ! هغه ددې طاقت نهٔ لري، نو وې فرمایل : بیا دِې هغه پرله پسې دوه میاشتې روژې اونیسي۔ نو ما ووېل :

[وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّهُ شَيْخٌ كَبِيْرٌ مَا بِهِ مِنْ صِيَامٍ]

قسم په الله ! هغه خو بوډا دې، د روژې نیولو طاقت په هغهٔ کښې چرته دې۔ نو وې فرمایل :

[فَلْيُطْعِمْ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا وَسَقًا مِنْ تَمْرٍ]

بیا دِې هغه شپیتو مسکینانو له (یو وسق یعنی شپیتهٔ صاعه) کهجورې خوراك کښې ورکړي، ما ووېل چه قسم په الله د هغه سره دا هم نشته، رسول الله ﷺ وفرمایل :

(فَاَنَا سَاُعِيْنُهُ بِعِذْقٍ مِنْ تَمْرٍ) زهٔ به ورسره په یوه پچئ کجورو مدد وکړم۔ نو ما ووېل :

(وَاَنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ سَاُعِيْنُهُ بِوَسَقٍ آخَرَ) زهٔ به هم د هغه سره په بل وسق (شپیته صاعو) سره مدد وکړم۔ رسول الله ﷺ وفرمایل :

(قَدْ اَصَبْتِ وَاَحْسَنْتِ فَاذْهَبِيْ وَتَصَدَّقِيْ بِهِ عَنْهُ ثُمَّ اسْتَوْصِيْ بِابْنِ عَمِّكِ خَيْرًا قَالَتْ فَفَعَلْتُ)

یقیناً تا ډیر حق او ښائسته کار وکړو، لاړه شه او ددهٔ د طرفنه هغې باندې صدقه وکړه، بیا د خپل تره ځوی سره ښه ژوند تیره وه، هغه وائی : ما همدغسې وکړل۔

(احمد ٢٧٣١٩) وسنن ابی داود (٢٢١٤) وهو صحیح لغیره وهذا اسناد ضعیف لجهالة معمر بن عبد الله بن حنظلة وقد صرح ابن اسحاق بالتحدیث عند احمد وابن حبان ومع ذلك حسن اسناده الحافظ فی الفتح ٤٣٣/٩، وجوده ابن الترکمانی فی الجوهر النقی ٣٩١/٧)

ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا : پدې کښې اهل ظواهرو پدې کښې دا وئیلی دی چه ظهار دیته وائی چه یو تن ښځې ته یو ځل الفاظ استعمال کړي (اَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ اُمِّيْ)

او دوباره ئے بیا استعمال کړي۔ په یو ځل استعمالولو سره ظهار نهٔ واقع کیږی ځکه چه واپس کیدل هغه خبرې ته چه دوی وئیلې ده هغه همدا ده چه مخکنی الفاظ دوباره ووائی او دا د بُکیر بن الاشجّ، ابو العالیه او فراء رحمهم الله رایه هم ده۔

نو دوی معنیٰ کوی :

(ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ اِلٰى قَوْلِ مَا قَالُوْا) ـ يعنى بيا راواپس كيږى هغه وينا ته چه دوى مخكښى وئيلے ده۔

ليكن عام علماء د امت، فقهاء او محدثين فرمائى چه كه يو تن يو ځل هم دغه الفاظ استعمال كړى نو دا به شرعاً ظهار وى، اګركه تكرار ئے نهٔ وى كړے۔

او دلته د يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا نور تفسيرونه دى۔ (۱) يو دا چه لِمَا قَالُوْا فِى الْجَاهِلِيَّةِ۔ يعنى هغه خبرے ته راواپس كيږى چه دوى به په جاهليت كښى وئيله۔

لكه مجاهدؒ وائى : عَوْدُهُمْ اِلٰى فِعْلِ الْجَاهِلِيَّةِ۔ يعنى د جاهليت كار ته واپس كيږى يعنى په اسلام كښى ظهارونه كوى چه دا په اسلام كښى حرام كار دے۔ نو هغه به د كفارے په طور تحرير د رقبه كوى۔

(۲) دويم ابن القيمؒ په زاد المعاد كښى غوره كړيدے او دا د فقهاءِ احنافو رائے هم ده چه دلته د عود لِمَا قَالُوْا (يعنى د واپسئ) مقصد : اَلْعَزْمُ عَلَى الْوَطْيِ ده۔ يعنى بيرته ښځے سره د وطى اراده لرى، نو دلته مضاف پټ دے۔

اَىْ يَعُوْدُوْنَ لِنَقْضِ مَا قَالُوْا/ وَلِنَكْثِ مَا قَالُوْا۔

يعنى دوى راواپس كيږى ماتولو د هغه خبرے ته چه دوى كړيده، يعنى خپله خبره بيرته اخلى او په خپل كار خپيمانه كيږى او دوباره هغه ښځه راواپس كوى۔

زجاجؒ وائى : لام اجليه دے، اَىْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ اِلٰى اِرَادَةِ الْجِمَاعِ مِنْ اَجْلِ مَا قَالُوْا۔

يعنى بيرته راواپس كيږى ارادے د جماع ته د وجه د هغه خبرے نه چه دوى كړيده۔

فراءؒ وائى : لام په معنىٰ د عَنْ دے۔ معنىٰ دا ده : (ثُمَّ يَرْجِعُوْنَ عَمَّا قَالُوْا وَيُرِيْدُوْنَ الْوَطْىَ)۔ يعنى بيا واپس كيږى د هغه خبرے نه چه دوى كړيده او اراده د وطى لرى۔

بعض وائى : ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ اِلٰى مَا قَالُوْا بِالتَّدَارُكِ وَالتَّلَافِىْ۔

يعنى بيا واپس كيږى هغه خبرے ته چه كومه ئے كړيده په تدارك او تلافى سره۔ يعنى بيرته تدارك كول غواړى۔ چه ښځه ترے فوت نشى۔ (فتح البيان)

او همدا خبره ظاهر د آيت دے او بيخى د محاورے مطابق دے۔ لكه خلق وائى خپلے خبرے ته واپس شو يعنى خپله خبره ئے بيرته واخسته۔

فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ: اَىْ فَعَلَيْهِ تَحْرِيْرُ يعنى په دهٔ باندے آزادول د رقبے دى، د رقبے نه مراد غلام دے۔

مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا: یعنی د ښځې سره د نزدیکت نه مخکښ به کفاره ورکړی بیا ښځې سره ملاویدے شی، که بالفرض یو تن د ښځې سره د کفارے د ورکولو نه مخکښ نزدیکت وکړو نو ګناهګار دے، لیکن ډبله کفاره به پرے نهٔ راځی۔

لکه یو صحابی وویل اے د الله رسوله ! ما د خپلے ښځې سره ظهار کړے وو بیا ما په رمضان کښی په شپه کښ د کفارے ورکولو نه مخکښ مباشرت وکړو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

[فَلَا تَقْرَبْهَا حَتّٰی تَفْعَلَ مَا اَمَرَكَ اللّٰهُ]

اُوس آینده کښ بیا مهٔ نزدے کیږه تردے چه تهٔ عمل وکړے په هغه حکم د الله تعالیٰ چه تا ته ئے کړیده (یعنی کفاره ورکول)

(الترمذی فی الطلاق باب ۱۹، رقم (۱۱۹۹) والنسائی فی الطلاق باب ۳۳) رقم (۳٤٥۷) وغیره۔

نو رسول الله ﷺ پرے دوه کفارے رانهٔ وستے۔ یوه کفاره کافی ده۔

ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ: پدے کښ ترغیب دے چه تاسو ته ددے خبرے نصیحت کیږی نو ددے منل په تاسو ضروری دی۔

یا وعظ په معنیٰ د زجر (منع کیدو) سره دے، اَیْ تُزْجَرُوْنَ بِهٖ عَنْ اِرْتِكَابِ الظِّهَارِ ۔ یعنی دا حکم چه دے تاسو منع کولے شئ پدے سره د ظهار کولو نه۔

فائده : د تحریر رقبه سره (فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ) او د صیام سره ئے (فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ) ذکر کړیدے ځکه چه وَجَدَ اکثر د مالی قوت سره ذکر کیږی لکه سورة طلاق (٦) آیت او استطاعت اکثر ذکر کیږی په بدنی طاقت کښ۔

شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ: یعنی پرله پسے دوه میاشتے روژے نیول دی چه په مینځ کښ به روژه نهٔ ماتوی، که په غیر د عذر نه ئے ماته کړه نو بیرته به د سر نه شروع کوی، او که د عذر د وجه نه وی لکه سفر یا مرض،

نو دے کښ سعید بن المسیبؒ او حسنؒ، او عطاء بن ابی رباحؒ او عمرو بن دینارؒ او شعبیؒ او شافعیؒ او مالكؒ وائی چه د همدغه ځای نه به شروع کیږی، او د سر نه به ئے نهٔ راګرځوی۔

او امام ابوحنیفهؒ وائی چه بیرته به د سر نه شروع کوی۔ اول قول غوره دے، **لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا** او ﴿ **فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ** ﴾ پرے دلیل دے۔

سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا : هر مسکین ته به یو مُد (نیمه کیلو) د غنمو نه یا پوره کیلو د نورو خوراکونو نه ورکړی لکه چه مخکښ ذکر شو۔

فائده : د طعام ورکولو سره ئے (مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَاسَّا) ونۀ وئیل، نو دے نه معلومه شوه چه مطلق به په خپل اطلاق جاری کیږی، که یو تن مسکینانو ته د طعام ورکولو په دوران کښ جماع وکړی نو دوباره طعام ورکول لازم نۀ دی، بیا ئے دلته دغه لفظ زانۀ ورو ځکه چه مسکینانو ته طعام ورکول یو امر آنی دے، چه په ډیر لنډ وخت کښ پوره کیږی، د بازار نه به وړه راوړی او مسکینانو ته به ئے ورکړی، تول په یو گینټه کښ پوره کیږی۔ او دومره وخت کښ د جماع ضرورت روستو کولے شی۔

ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ :دا د کفارے فائده ذکر کوی چه پدے سره ایمان زیاتیږی۔یعنی د ظِهار حکم ځکه بیان شو چه تاسو په الله او د هغۀ په رسول ایمان راوړئ، او د هغۀ په حکم عمل وکړئ، دغه مخکنی اعمالو ته ئے ایمان ووئیلو ددے نه معلومه شوه چه ایمان د عقیدے، قول او عمل درے وارو د مجموعے نوم دے۔

ذٰلِكَ: ۱ – اشاره ده اَدَاءُ الكفارات ته، پدے سره ایمان ځکه زیاتیږی چه د انسان به ښځے ته ښه ضرورت وی لیکن کله چه هغه دوه میاشتے روژے نۀ وی پوره کړی نو ښځے ته به نۀ نزدے کیږی، دا ولے؟ ځکه چه الله تعالیٰ او د هغۀ رسول حق دی، د هغوی داسے وینا ده نو زۀ پرے عمل کوم، اگرکه نور څوك او د الله رسول به ئے نۀ وینی۔

۲ – ابن عطیۃ وائی : ذلك اشاره ده رخصت ورکولو ته په کفاراتو کښ، یعنی دا ایمان به دِیے زیات شی چه الله څومره احسان کونکے دے چه مونږ ته ئے یوه کفاره مقرر نکړه بلکه رخصتونه ئے پکښ راکړل، نو د الله او د هغۀ د رسول سره به دِیے مینه پیدا شی۔

اول مطلب ظاهر دے۔

وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ : حد هغه پولے ته وائی چه د هغے نه زیاتے کمے کول منع وی۔

او په احکامو د الله تعالیٰ کښ هم زیاتے کول په ابتداع سره، او کمے کول په فسق سره حرام دی۔

وَلِلْكَافِرِيْنَ : څوك چه د الله تعالیٰ د حدودو نه انکار کوی نو هغه حقیقی کافر دے، او چه څوك انکار نۀ کوی لیکن په هغے باندے عمل نکوی نو هغه حکمی کافر دے، نو پدے لفظ کښ دواړو مرتبو ته اشاره ده۔

إِنَّ الَّذِيْنَ يُحَادُّوْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا
يقيناً هغه كسان چه مخالفت كوى د الله او د رسول د هغهٔ نه ذليله شو لكه څنګه
كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَقَدْ
چه ذليل كړے شويدى هغه كسان چه مخكښ د دوى نه دى او يقيناً
أَنْزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ وَلِلْكَافِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿٥﴾
راليږلى دى مونږ آيتونه ښكاره او د كافرانو دپاره عذاب دے ذليله كونكے۔
يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللهُ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ
په كومه ورځ چه راپورته به كړى دوى لره الله تعالىٰ ټول نو خبر به وركړى دوى ته
بِمَا عَمِلُوْا أَحْصَاهُ اللهُ وَنَسُوْهُ
د هغه عملونو چه دوى كړيدى، راګير كړيدى دا الله تعالىٰ او دوى هير كړيدى
وَاللهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿٦﴾
او الله په هر شى باندے حاضر ناظر دے۔

تفسير:إِنَّ الَّذِيْنَ: دا آيت د خندق د غزا نه مخكښ نازل شوے وو، او په دے كښ الله خپل رسول ﷺ له زيرے وركړے چه د قريشو خلق كه هر څومره فوج واخلى، او په مدينه باندے د حملے دپاره راشى، دوئ به په هر حال كښ ماتے خورى، او الله تعالىٰ به دوئ خوار او ذليله كوى۔ دے وجے نه الله تعالىٰ همدے قريشى كافرانو ته اشاره كوى فرمائى چه كوم خلق د الله او د هغهٔ د رسول مخالفت كوى، او دوئ سره دشمنى كوى، هغه به ذليل او رسوا كړے شى،

د هغه تير شوو كافرو قومونو غونتته چه هغوئ د الله د انبياؤ سره دشمنى وكړه۔ څكه چه مونږ خو قرآن كريم كښ داسے واضح او په ډاګه آيتونه نازل كړى دى كوم چه زمونږ د رسول په نبوت او د هغهٔ د دعوت په رشتين والى دلالت كوى ددے باوجود چه كوم خلق ايمان نهٔ راوړى، او د الله حدود پائيمال كوى، مونږ به دوئ له په دنيا كښ ذليله او

رسوا کړو، او په آخرت کښې به داسے کافرانو له دردناك عذاب وی۔

صاحب د محاسن التنزیل (قاسمیؒ) او علامه آلوسیؒ لیکی چه بعضِ مفسرینو (لکه بیضاویؒ) د ﴿ يُحَادُّوْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ ﴾ تفسیر دا بیان کړے چه

[اَلَّذِيْنَ يَضَعُوْنَ اَوْ يَخْتَارُوْنَ حُدُوْدًا غَيْرَ حُدُوْدِهِمَا]

(کوم خلق چه د الله او د هغهٔ د رسول د بیان کړو قوانینو او حدودو نه سِویٰ نور قوانین جوړوی یا هغه خوښوی)۔ انتهیٰ۔

دیے نه پس ئے لیکلی چه په دیے کښې د هغه بادشاهانو او خرابو مشرانو دپاره سخته دهمکی ده چه هغوئ د اسلامی شریعت خلاف قوانین جوړوی۔ انتهیٰ۔

(محاسن التاویل للقاسمیؒ وروح المعانی)

كُبِتُوْا: کبت ذلت، او د جماعت تس نس کیدو ته او شرمیدو ته وئیلے شی۔

ابوعبیدهؒ او اخفشؒ وائی: هلاکت ته۔ سُدیؒ وائی: لعنت ته وائی۔ دارنګه پرمخے غورزیدو ته وائی۔

كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ: ددیے نه مراد پخوانی امتونه دی، او هغه یهودیان دی چه د هغوی ذلت په سورة البقره او سورة نساء کښې تیر شویدیے۔

وَقَدْ اَنْزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ: ۱- یعنی مونږ ښکاره آیتونه رالیږلی دی نو د هغے نه تاسو فائده واخلئ او د پخوانو هلاکتونه او ذلتونه تریے معلوم کړئ۔

۲- دویم مونږ ښکاره آیتونه او احکام رالیږلی دی، نو ددیے مخالفت څنګه کوئ، مخالفت خو خلق هله کوی چه حکم واضح نهٔ وی، او دلته حکم واضح شویدیے، نو د مخالفت او محادة هیڅ وجه نشته۔

مُّهِيْنٌ: څوك چه مخالفت کوی نو هغه ځان عزتمند ګنړی نو ځکه ورته الله تعالیٰ ذلیله کونکے عذاب ورکوی۔

فائده: دغه شان خبره روستو (۲۰) آیت کښې هم راغلے ده ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَادُّوْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ اُولٰئِكَ فِى الْاَذَلِّيْنَ ﴾ او روستو سورة المنافقون کښې دی:

﴿ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ او حدیث د بخاری کتاب الجزیه باب ما قیل فی الرماح (۸۸) کښې دی:

[وَجُعِلَ الذِّلَّةُ وَالصَّغَارُ عَلٰى مَنْ خَالَفَ اَمْرِىْ] څوك چه زما د امر خلاف کوی نو ذلت او

سپکاوے په هغه باندے کیخودے شویدے۔
نو ددے نه معلومه شوه چه هر هغه څوك (منافق وی، که مسلمان، بزرگ وی او که غیر بزرگ) چه د نبی کریم ﷺ د طریقے مخالفت کوی نو هغه به خامخا ذلیله کیږی اګرکه ځان ته به عزتمند وائی، سنت طریقے چه څوك په یو مسجد او علاقه کښې بندول غواړی هغه ته به ځان عزتمن ښکاری لیکن لوی ذلیله دے، الله به ئے خلقو کښې په ناشنا شرمونو باندے شرموی۔
او په سنت باندے عمل کولو کښې سو چه عزت دے، ته به یو ځای کښې سنت طریقه پریدے دے دپاره چه زما عزت پاتے شی، او خلقو ته سپك ښکاره نشم، نو الله تعالیٰ به دِے ذلیله او سپك کړی۔ په سنت کښې عزت دے۔
يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ: ددے آیت تعلق د پورتنی آیت سره دے، او معنیٰ داده چه د الله او د هغهٔ د رسول د مقرر کړو حدودو نه تجاوز کونکی خلق به الله په دنیا کښې رسوا کوی،
او په آخرت کښې به دوئ له دردناك عذاب وی، کله چه الله تعالیٰ دا ټول راجمع کړی، او دوئ له د دوئ د کړو خبر ورکړی۔ دوئ په دنیا کښې دا ګناهونه کړی، او هیر کړی ئے دی، لیکن الله نهٔ دی هیر کړی، هغهٔ خو یوه یوه ذره لیکلے ساتلے ده، هیڅ یو خبر د هغهٔ د علم د احاطے نه خارج نهٔ دے۔
فائده : الله تعالیٰ په کافرانو رد کوی دپاره د یره ولو د مؤمنانو چه تاسو د هغوی مشابهت مهٔ کوئ۔ لکه دا طریقه په دے راتلونکو سورتونو کښې هم ده۔
أَحْصَاهُ اللّٰهُ : دا دلیل دے د (يُنَبِّئُهُمْ) یعنی خبر به ځکه ورکوی چه الله دا په خپل علم کښې راګیر کړیدی۔ اِحصاء : په معنیٰ د شماره کښې راګیرولو دے چه یو هم ترینه پاتے نشی۔

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا
آيا نهٔ گورے تهٔ يقيناً الله تعالىٰ پوهيږي په هغه څه چه په آسمانونو او هغه څه
فِي الْأَرْضِ مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوَى ثَلَاثَةٍ إِلَّا هُوَ
چه په زمکه کښې دي، نهٔ کيږي هيڅ جرګه د درے کسانو مګر الله تعالىٰ
رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَا أَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ
څلورم د هغوی دے، او نهٔ د پنځه کسانو مګر هغه ئے شپږم دے او نهٔ کم ددے نه
وَلَا أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ
او نهٔ زيات مګر هغه د دوی سره وی هر ځائے چه وی دوی، بيا به خبر ورکړی دوی ته
بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۭ إِنَّ اللهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٧﴾
په هغه عملونو چه دوی کړيدی په ورځ د قيامت، يقيناً الله تعالىٰ په هر شی باندے پوهه دے۔

تفسير : ربط : دا متعلق دے د (اَحْصَاهُ اللهُ) سره، او د هغے تشريح او تفصيل دے۔ او پدے کښې اشاره ده چه په جرګو کولو کښې د الله نه يره وکړئ هغه ستاسو په هر حال علم لرونکے دے۔ او پدے کښې بيان د علم د الله تعالىٰ دے، او دے ته تهديد بالعلم وائی۔ (د همکی ورکول په علم سره) يعنی د بدو اعمالو نه منع کول په علم د الله تعالىٰ سره۔

يعنی د الله د علم نه ويريږه، بد اعمال مهٔ کوه ځکه چه الله په تا باندے په هر ځای کښې پوهه دے، لکه منافقان به جرګه جرګه کيدل، د يهودو سره به کيناستل، د رسول الله ﷺ بدی به ئے بيانوله، او کله د مؤمنانو، په مدينه کښې اسلامی حکومت جوړ شو نو دوی به پکښې ورانے کولو،

بيا دا د هرے زمانے سره لګيږی خوك چه د چا سره په ګناه کښې جرګے کوی نو الله به ورسره ګوری، او که په نيکئ راجمع وی نو الله به اجر ورکوی۔ نو د الله په علم بيانولو کښې زيرے او يره دواړه پراته وی۔

الله خپل نبی ته فرمائی : اے زما رسوله ! آيا تهٔ نهٔ پيژنے چه الله تعالىٰ د آسمانونو او

زمکے هر يو وړوکے او غټ څيز پيژني، هيڅ يو شے د هغهٔ نه پټ نهٔ دے۔ د هغهٔ د علم د راګيرولو خو دا حال دے چه که درے کسان خپلو کښې پټے خبرے کوی، نو دوئ سره څلورم هغه وی، او که پټے خبرے کونکی پنځه وی، نو شپږم ئے هغه وی، برابره ده چه هغه خلق ددے نه کم وی یا زیات، او چرته چه هم وی، هغه په هر حال کښې د دوئ سره وی، او د دوئ په تمامو پټو خبرو باندے خبریږی۔

الله تعالیٰ د سورۃ التوبه په (۷۸) آیت کښې فرمایلی دی :

﴿ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴾

(آیا دوئ نهٔ پوهیږی چه الله ته د دوئ د زړونو رازونه او د دوئ د پټو جرګو هر څهٔ پته ده، او الله د غیبو خبرو نه خبردار دے)۔

مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى: مَا نافيه ده، يَكُوْنُ کښې كَانَ تامّه دے په معنیٰ د وجود سره۔

مِنْ نَّجْوٰى: کښې مِنْ د تعمیم د نفی او تاکید دپاره دے۔

۱ – نجویٰ مصدر دے، جرګے کولو ته وائی۔ او مضاف دے ثَلٰثَةٍ ته (یعنی جرګه د درے کسانو) یا مضاف پټ دے (اَهْلِ نَجْوٰى – یا ذَوِیْ نَجْوٰى) جرګے والا۔ او ثَلٰثَةٍ ئے نعت (صفت) دے۔ (یعنی نهٔ وی جرګه کونکی یا خاوندان د جرګے درے کسان)

یا نجویٰ کله په معنیٰ د جرګه مارانو سره استعمالیږی، نو بیا مضاف راویستو ته ضرورت نشته، او ثَلٰثَةٍ به صفت د نَجْوٰی وی۔ یعنی نهٔ موجودیږی جرګه ماران درے کسان۔

د (ثلاثة او خمسة) تخصیص ئے ددے وجه نه وکړو چه اکثر وخت جرګه کښې دوه طرفونه وی او یو پکښې فیصله کونکے پکار وی، نو د هغے ادنیٰ عدد درے شول او وریسے پنځه شول۔ (احسن الکلام)

بله وجه دا ده چه دا آیت چه د کومو منافقانو په باره کښې نازل وو نو هغوی په یو ځای کښې درے کسان وو او په بل ځای کښې پنځه وو۔ یا پدے وجه چه تاك عدد د جفت نه بهتر دے ځکه چه الله وِتْر دے، وتر (تاك) خوښوی۔

نو پدے کښې تنبیه ده چه د اِلٰهی امورو رعایت په ټولو څیزونو کښې پکار دے۔

فراءَ وائی : دلته عدد مقصود نهٔ دے ځکه چه الله تعالیٰ د هر عدد سره وی کم وی او که زیات، هر پټ او ښکاره باندے پوهه دے۔ (فتح البیان)

هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا:

د معیت تفصیل

د اهل سنتو په نیز دلته معیت په اعتبار د علم او قدرت سره مراد دے، او څوك چه دا تفسیر کوی چه الله په عرش هم دے، او په هر ځای کښې هم دے، نو دا بدعی تفسیر دے او ددے ډیر وجوه دی (۱) اوله وجه دا ده چه د معیت همدا ظاهره معنیٰ ده، ظاهر دے ته وائی چه د سیاق او سباق نه معلومیږی، لهذا دے ته به تاویل نهٔ وئیلے کیږی. لکه وګوره چه قرآن کریم کښې کوم ځای د الله معیت راغلے دے، نو هلته به مخکښې روستو ضرور علم ذکر وی.

امام احمدؒ ته چا وویل چه د معیت معنیٰ به دا وی چه الله په اعتبار د ذات سره مونږ سره دے، او دا آیت ئے ورته ولوستو. نو هغه ورته فرمایل: (اِقْرَأْ مَا قَبْلَهَا) ددے آیت اول سر ووایه. نو هغه (اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللهَ يَعْلَمُ) ولوستو، بیا ئے ورته وویل: (اِقْرَأْ مَا بَعْدَهَا) اُوس د آیت آخر ولوله نو هغه (اِنَّ اللهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ) ولوستو، نو ورته ئے وویل چه اُوس تا ته خپله د معیت معنیٰ واضحه شوه چه په اعتبار د علم سره د هغوی سره دے. نو دا ظاهر القرآن دے.

(۲) دویمه وجه: حدیث کښې دی: (اِنَّ بِـالْمَدِيْنَةِ اَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيْرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا اِلَّا كَانُوْا مَعَكُمْ) په مدینه کښې څه خلق دی چه تاسو هیڅ مزل نهٔ کوئ او نهٔ یوه کنده قطع کوئ مګر هغوی ستاسو سره دی). صحابه کرامؓ تپوس وکړو چه هغوی په مدینه کښې دی، او زمونږ سره دی؟، نو وے فرمایل: (اِلَّا شَرَكُوْكُمْ فِي الْاَجْرِ) یعنی هغوی تاسو سره شریك دی په اجر کښې. یعنی د معیت معنیٰ دا ده چه تاسو سره په اجر کښې شریك دی، (حَبَسَهُمُ الْمَرَضُ) هغوی د بیماریٔ د وجه نه پاتے شویدی. (بخاری: ۴۴۲۳)

نو دلته رسول الله ﷺ معیت د شراکت فی الاجر دپاره استعمال کړو، لهذا معیت کښې دا لازمه نهٔ ده چه د هغه ذات به دلته حاضر وی.

(۳) دریمه وجه: د ټولو سلفو دا تفسیر دے چه هغوی د معیت نه مراد د علم او قدرت او بصر معیت دے، او هیڅ یو سلفی عالِم د معیت نه معیت ذاتی نهٔ دے مراد کړے او سلف (صحابه کرامؓ او تابعین وغیره) د الله په کتاب بنهٔ پو هیدل، د هغوی فهم لره به اعتبار وی، کله چه هغوی په یوه خبره اتفاق وکړی نو د هغے خبرے نه اوړیدل به

گمراهی تصور کیږی، دا اجماع د امت خسابیږی۔ لکه ددے په باره کښ کتب التفسیر او اقوال د سلفو په کتابونو د عقیده او اسماء او صفاتو کښ وګوره۔

(٤) وجه: محاوره کښ هم دا قانون دے چه هغوی معیت په همدے معنیٰ استعمالوی، لکه یو تن په کراچئ کښ دے او ته ورته د پیښور نه خط ولیږے چه د دین کار کوه (اَنَا مَعَكَ) زهٔ تا سره یم۔ نو دلته مطلب دا وی چه (اَنَا مَعَكَ بِالنُّصْرَةِ وَالْمَحَبَّةِ وَالدُّعَاءِ) زهٔ ستا ملګرے یم په مدد کولو او محبت کولو او دعاء کولو کښ۔ نو دا عقیده غلطه ده چه څوك وائی چه الله تعالیٰ په اعتبار د ذات سره په هر ځای کښ دے۔

(٥) دا خبره د عقل هم خلاف ده او عقلی دلیل چه کله د شریعت سره برابر وی دا هم دلیل دے، الله فرمائی: (لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ) عقل وکړئ۔ په قیاس او دلیل عقلی کښ فرق دے۔

عقلی دلیل دا دے چه الله تعالیٰ چه کائنات پیدا کول، نو آیا د ځان دپاسه او که د لاندے او که ددے په مینځ کښ ننوتے دے (والعیاذ بالله) اول او دریم صورت خو نشته نو بس معلومه شوه چه الله تعالیٰ د کائناتو دپاسه دے۔

(٦) بله وجه دا ده چه کائنات د الله په نسبت انتهائی واړه دی، او ټول د الله په لاس کښ دی، نو په داسے وړوکی مخلوق کښ د الله ذات منل ممکن نهٔ دی او د هغه د شان بے ادبی ده۔او د عقل هم خلاف ده۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی: د اکثرو خلقو په دے باندے اجماع ده چه په دے آیت کښ د «الله د بندګانو سره» د کیدو نه مراد د خپل علم په ذریعه سره دوئ سره کیدل دی۔

په همدے باندے بس نهٔ ده، بلکه هغه د خپل آوریدو په قوت او د خپلو لیدو په ذریعه هم د خپلو بندګانو نه ګیره اچولے ده، یعنی هغه د دوئ نه پوره طور سره خبردار دے، هیڅ یوه خبره ددهٔ نه پټه نهٔ ده۔

نو د بندګانو معیت او د الله تعالیٰ معیت ترمینځ ډیر فرق دے۔ لکه څنګه چه د الله تعالیٰ د استواء او علو علی العرش او د بندګانو د علو او استواء ترمینځ فرق دے۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نُهُوا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ
آیا نۀ گورې تۀ هغه کسانو ته چه منع کړے شویدی د جرګو نه بیا واپس کیږی
لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَيَتَنَاجَوْنَ بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ
هغه څۀ ته چه منع کړے شویدی دوی د هغے نه او جرګے کوی په ګناه او په زیاتی
وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ وَإِذَا جَاؤُوْكَ حَيَّوْكَ
(ظلم) او په نافرمانئ (خلاف) د رسول سره او کله چه راشی دوی تا ته سلام اچوی
بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ وَيَقُوْلُوْنَ
په تا باندے په هغه طریقه چه سلام نۀ دے اچولے تا ته په هغے سره الله او وائی دوی
فِيْ أَنْفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا نَقُوْلُ
په زړونو خپلو کښې ولے عذاب نۀ راکوی مونږ ته په هغه څۀ چه مونږه ئے وایو،
حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٨﴾
کافی دے دوی لره جهنم داخلیږی به هغے ته نو بد ځائے د ورګر ځیدو دے۔

تفسیر : په دے آیت کښې په منافقانو او یهودو دواړو باندے رد دے چه هغوی به فسادونه او ورانی کوله۔ نبی کریم ﷺ امر کړے وو : (اَنْ لَّا یَتَنَاجَوْا دُوْنَ الْمُؤْمِنِیْنَ فَلَمْ یَنْتَهُوْا) چه منافقان به د مؤمنانو نه غیر جرګے نۀ کوی نو دوی منع نشو۔ خو دا خبره په هغه وخت کښې ده چه کله منافقان جدا ښکاره شوی وی۔

مفسرینو د مجاهدؒ قول نقل کړے چه دا آیت د مدینے د یهودو په باره کښې نازل شوے وو۔ او د ابن زیدؒ وینا ده چه ځینو منافقانو به نبی کریم ﷺ سره داسے پټے خبرے کولے چه مومنان به اوبریدل چه شاید د څۀ جنګ خبره کیږی، یا څۀ مصیبت را روان دے۔

(یا به ئے رسول الله ﷺ په ډیرو جرګو او مرکو سره تنګول مقصد وو، یو به وویل چه زما خصوصی کار دے، او بیا به هیڅ د کمال خبره نۀ وه۔ حال دا چه رسول الله ﷺ ته خو د امت ډیر کارونه او ذمه واری وړ په غاړه وو نو الله دوی لره منع کړل چه داسے کار به نۀ

کویٔ او ظاهر دا ده چه دا منع مخکښې په سورة النساء (١١٤) آیت کښې تیره شویده ﴿لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ﴾ یعنی د درے قسمه جرګونه سوئ جرګو کښې هیڅ خیر نشته، داسے جرګے به نۀ کوئ). لکه اُوس هم دغسے خلق شته چه اهل علم په عذابوی او هغوی تنګوی او خبره به ئے هیڅ نۀ وی).

لیکن هرکله چه دغه خلق منع نشو نو الله دا آیت نازل کړو چه ددے خلقو په حال خو تعجب پکار دے چه د جرګو نه منع کړے شول لیکن دوی منع نشول دوی ته به الله د جهنم سزا ورکړی.

په ځینو نورو روایتونو کښې راځی چه کله به مسلمانان د یهودو او منافقانو خواته تیریدل، نو هغوئ به خپلو کښې پټے خبرے شروع کړے، دے دپاره چه مسلمان دا ګمان اوکړی چه دوئ د هغۀ خِلاف څۀ خبره کوی،

یا د مسلمانانو په لښکر باندے دشمن حمله کړے ده، او هغے ته ئے نقصان رسولے چه د هغے خبر د دوئ سره دے. مسلمانان به دے خبرو سره خوف زده کیدل، او د هغوئ مقصد به هم دا وو چه د مسلمانانو ترمینځه رعب خور شی. نبی کریم ﷺ ته چه کله ددے خبرے احساس وشو نو هغوئ خلق د پټو خبرو کولو نه منع کړل.

امام احمدؒ، بخاریؒ او مسلمؒ او نورو محدثینوؒ د ابن مسعود ﷛ نه روایت کړے، رسول الله ﷺ وفرمایل: [إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَى رَجُلَانِ دُوْنَ الآخَرِ] کله چه تاسو درے کسه وئ، نودوه دے جدا کیدو سره پټے خبرے نۀ کوی، ځکه دا کار دریم انسان غمژن کوی)،

(بخاري : ٦٢٨٨) مسلم (٥٨٢٥)

لیکن یهودیان اومنافقان د خپلو حرکتونو نه منع نشول نو الله تعالیٰ په دے آیتِ کریمه کښې د دوئ نه پرده لرے کړے ده چه دا خلق د الله او د هغۀ د رسول دشمنان دی، او په خپلو کښې د مسلمانانو په خِلاف د ظلم او زیاتی او د نبی کریم ﷺ د خبرے نۀ منلو په باره کښې پټے جرګے کوی.

او د دوئ باطنی خباثت دے حد ته رسیدلے دے چه کله دوئ نبی کریم ﷺ خواته راشی نو د [السَّلَامُ عَلَيْكُمْ] په ځائے [السَّامُ عَلَيْكُمْ] وائی، یعنی تاله دے مرګ راشی.

امام احمدؒ او مسلمؒ وغیره د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړے چه یهودیانو به نبی کریم ﷺ ته [السَّامُ عَلَيْكُمْ] وئیلو، د هغوئ مقصد به هغۀ ته کنځل کول وو. بیا به

ئے په خپلو زړونو کښې وئیل چه: ﴿لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا نَقُوْلُ﴾ چه څهٔ وايو په دے باندے الله مونږ له عذاب ولے نهٔ راکوی ؟! نو ﴿وَإِذَا جَاءُوْكَ حَيَّوْكَ﴾ الآية نازل شو۔ انتهیٰ۔

او الله تعالیٰ د دوئ ددے تعجب جواب دا ورکړو چه دا عذاب به دوئ له د قیامت په ورځ ملاویږی، هر کله چه دوئ په جهنم کښې د سوزولو دپاره ورګذار شی، چه دا به ډیره زیاته خرابه استوګنه وی۔

عَنِ النَّجْوٰی: د جرګے نه مراد د ګناه جرګے دی، یا ے ځایه فضول جرګے کول۔

بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ: لکه دروغ، ظلم، چغلی، او عدوان هغه دے چه په هغے کښې په مسلمانانو ظلم او زیاتے وی۔

وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ: یعنی یو بل ته د رسول الله ﷺ په مخالفت باندے وصیت کوی، یا هر هغه ګناه چه د پیغمبر د حق سره تعلق لری لکه د هغهٔ د سنت نه مخالفت کول، د هغه بے ادبی کول، بدعات او رسمونه رواجونه کول۔

ددے وجه نه مؤمن چه هر مجلس کښې کینی نو احتیاط به کوی چه آیا زما پدے مجلس کښې ناسته خو د ګناه نهٔ ده۔ پدے کښې چه دا کومے خبرے کیږی آیا دا د الله او د رسول د حکم مطابق دی او که نهٔ، دے ته تقویٰ وائی چه بنده احتیاطی ژوند تیر کړی۔

حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ: دا مخکنی غائبانه مرضونه وو اُوس مخامخ مرض د دوئ دا وو چه مخامخ به ئے پرے (اَلسَّامُ عَلَيْكَ) وئیلو۔ او د سَام معنیٰ ده مرګ۔ یعنی په تا دِے مرګ راشی، نو رسول الله ﷺ به دوی ته (وَعَلَيْكُمْ) وئیلو۔ یوه ورځ عائشے رضی الله عنها ددوی په غرض پوهه شوه نو هغے په جواب کښې ووئیل:

(وَعَلَيْكُمُ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ وَفِيْ رِوَايَةٍ وَغَضِبَ عَلَيْكُمْ) (بخاری: ٦٤٠١)

نو نبی ﷺ ورته وفرمایل: (عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ، اِيَّاكَ وَالْفُحْشَ) نرمئ نه کار واخله او د سختو خبرو نه ځان وساته۔ هغے ووئیل: اے د الله رسوله! تا د دوی خبره وانهٔ وریده، هغه وفرمایل: (اَلَمْ تَسْمَعِيْ مَا قُلْتُ) آیا تا هغه خبره وانهٔ وریده چه ما ورته په جواب کښې ووئیله۔ (یعنی زهٔ خو څه غافل نهٔ یم، ما پوره جواب ورکړو وَعَلَيْكَ۔ یعنی په تا دِے مرګ راشی)۔ بیا ئے وفرمایل: (يُسْتَجَابُ لَنَا فِيْهِمْ وَلَا يُسْتَجَابُ لَهُمْ فِيْنَا)

زمونږ دعا (ښیرے) د دوی په باره کښې قبلیږی، او د دوئ ښیرے زمونږ په باره کښې نهٔ قبلیږی۔ (ځکه چه دوئ په باطله دی)۔ (بخاری: ٦٤٠١)

بیا رسول الله ﷺ قانون مقرر کړو چه (اِذَا سَلَّمَ عَلَیْکُمْ اَهْلُ الْکِتَابِ فَقُوْلُوْا وَعَلَیْکُمْ، فَاِنَّمَا یَقُوْلُ اَحَدُهُمْ اَلسَّامُ عَلَیْكَ) کله چه په تاسو اهل کتاب سلام اچوی نو تاسو ورته صرف وَعَلَیْکُمْ وایئ ځکه چه په دوی کښې بعض کسان اَلسَّامُ عَلَیْكَ وائی۔

(الموطأ رقم: ۹۱۲) والبخاری (۶۲۵۸) مسلم (۵۷۸۰)

ددې روایت د مفهوم نه دا معلومیږی چه که یو تن صحیح سلام واچولو او (اَلسَّامُ عَلَیْكَ) ئې ونهٔ وئیلو نو بیا به صحیح جواب ورکولے شی لکه پدے باندے درے روایتونه راغلی دی۔ البته په هغوی باندے به ابتداءً سلام نشی اچولے۔

وَیَقُوْلُوْنَ فِیْ اَنْفُسِهِمْ: د دوئ مطلب دا وو چه که دا د الله پیغمبر وے نو مونږ ورته ښیرے وکړے او الله مونږ ته څه نهٔ وائی، عذاب نهٔ راکوی، معلومیږی چه دا حق پیغمبر نهٔ دے او مونږ چه څه وایو نو دا حقه ده، انسان ډیر تلوارګرن او جلت باز دے، د دوی مقصد دا وو چه سمدست عذاب نهٔ رالیږی نو دا به پیغمبر نهٔ وی، حال دا چه دنیا خو دار الامتحان دے۔ دا بهانه د ډیرو مجرمانو دپاره ده۔ الله صبرناك ذات دے، که دنیا کښې عذاب ورنکړی نو ﴿حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ﴾ جهنم هم ورله کافی سزا ده، یعنی دنیا کښې به عذاب ورکړی، او که دنیا کښې ئې ورنکړه نو جهنم ته خو به خامخا روان وی۔

دا آیت دلیل دے چه د رسول الله ﷺ قصداً بے ادبی کول کفر دے۔

یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا اِذَا تَنَاجَیْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ
اے ایمان والو! کله چه جرګے کوئ تاسو نو جرګے مهٔ کوئ په ګناه او په ظلم
وَمَعْصِیَتِ الرَّسُوْلِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰی وَاتَّقُوا
او په خلاف (نافرمانئ) د رسول سره او جرګے کوئ په نیکئ او په تقویٰ او اُویریږئ
اللهَ الَّذِیْ اِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۹﴾ اِنَّمَا النَّجْوٰی
د هغه الله نه چه خاص هغهٔ ته به ورجمع کړے شئ تاسو۔ یقیناً جرګے (د ګناه)
مِنَ الشَّیْطَانِ لِیَحْزُنَ الَّذِیْنَ آمَنُوْا وَلَیْسَ
د شیطان نه دی دے دپاره چه غمژن کړی هغه کسان چه ایمان ئې راوړیدے او نهٔ دے دا

بِضَارِّهِمْ شَيْئًا إِلَّا بِإِذْنِ اللّٰهِ وَعَلَى اللّٰهِ
ضرر ورکونکے هغوی ته هیڅ شے مگر د الله په حکم سره او خاص په الله باندے دِے
فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١٠﴾
ځان اُوسپاری مؤمنان۔

تفسیر: په دے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ مسلمان د یهودو اومنافقانو غونته، د ظلم اوزیاتی او د نبی کریم ﷺ د خبرے نۀ منلو په باره کښې د جرگے کولو نه منع کړیدے، ځکه دا د مومن د شان خِلاف خبره ده، او دوئ ته ئے نصیحت کړے چه که دوئ جرگه کوی نو داسے خبرو دپاره چه په هغے کښې د اسلام او مسلمانانو خیر خواهی وی، او د الله د بندگیٔ او د هغۀ د رسول د اطاعت خبره وی۔ او پدے کښې تعریض دے په منافقانو او یهودو باندے چه هغوی به غلطے جرگے کولے۔

عبد الله بن عباس ؓ فرمائی: نبی کریم ﷺ به چه کله یوه سریّه (فوجی دسته) د جهاد دپاره ولیږله نو دلته به منافقان د مسلمانانو مخامخ راغلل او خپل مینځ کښې به ئے سرونه خوزول، مسلمانانو ته به ئے اشاره ورکوله چه دغه خلق خو شهیدان شول، او کله چه به ئے رسول الله ﷺ ولیدو نو خپل مینځ کښې به جرگه کیناستل او خفگان به ئے راښکاره کړو نو پدے کار باندے رسول الله ﷺ او مسلمانان خبر شو نو الله دا آیت نازل کړو۔ (ابن مردویه، والدر المنثور)

اِذَا تَنَاجَيْتُمْ : پدے قید ذکر کولو کښې اشاره ده چه جرگے نۀ دی پکار لیکن هغوی په جرگو باندے اموخته وو نو بیا ئے د زیاتو جرگو د غلطو نتیجو نه ویره ول۔ (التحریر)

وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى : یعنی خپل مینځ کښې په نیکیٔ او په تقویٰ کارونو کښې مشورے او مرکے کوئ نو د هر خیر کار دپاره جرگه او مشوره کول پکار دی، نۀ د گناه او نافرمانیٔ دپاره۔ البر: د خیر ټول کارونه چه په دین کښې په هغے باندے امر شویدے۔

تقویٰ: یعنی د دین کارونو په عملی کولو کښې جرگه وکړی۔

إِنَّمَا النَّجْوٰى: اُوس دا فرمائی چه منافقان او یهودیان چه کومے جرگے مرکے کوی نو دا د شیطان د طرفنه دی، یا د گناه او د عدوان او د رسول الله ﷺ د مخالفت جرگے شیطانی

جرگې دي، دوی لره شیطان پدے کار راپاارولی دی،
او د دوئ مقصد دا دے چه پدے سره ایمان والا غمژن کړی ځکه چه هغوی به دا گمان کوی چه دوی مونږ ته څه چل جوړوی، یا به په مونږ کښې کوم نقصان وی.
او په جرگو کولو سره نور خلق په احساس کمترئ کښې واقع کیږی چه په ما کښې به څه خیر نۀ وی، یا به دے کسانو ته سپك ښکاره کیږم ځکه ما سره جرگه نکوی نو پدے وجه د ډیرو جرگو نه منع راغلے ده.
نو پدے آیت کښې ایمان والو ته تسلی ده او د هغوی د نفسونو نه غم لرے کول دی کوم چه د منافقانو د جرگو مرکو په لیدلو سره دوی ته راپیښ شوے وو.
النَّجْوٰی : کښې الف لام عهدئ دی، مراد ترے نه د منافقانو جرگے دی.
مِنَ الشَّيْطَانِ : يعني دوی ته شیطان وسوسه اچوی چه داسے جرگے وکړی چه په هغے سره ایمان والا غمجن کړی او معاشره خرابه کړی.
او کله شیطان ددے جرگو په وجه جرگه کونکی په گمراهئ کښې انخلوی.
او کله شر او فساد مینځ کښې راپیدا کول غرض وی. نو دلته د شیطان د جرگے صرف یو علت ذکر دے. (التحریر)
وَلَيْسَ بِضَارِّهِمْ : پدے کښې الله تعالیٰ ایمان والو ته تسلی ورکړیده او د دوئ همت ئے زیات کړیدے چه دوئ دے د خپلو دشمنانو یعنی یهودو او منافقینو د پټو جرگو نه پریشانه کیږی نۀ. دوئ ته به په دے پټو جرگو سره هیڅ نقصان نۀ رسیږی،
مگر که د الله خوښه شی، دے وجے نه مومنانو له د دشمن د پټو جرگو نه غمژن کیدل نۀ دی پکار، او د خپل رب په نصیحتونو باندے عمل کول پکار دی، او صرف په هغۀ باندے بهروسه کول پکار دئ. که چرے دوئ داسے وکړی نو د دشمن چلونه به ناکام شی، او هغه به ماتے وخوری.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا فِي الْمَجَالِسِ
اے ایمان والو! کله چه ووئیلے شی تاسو ته فراخی وکړئ په مجلسونو کښ
فَافْسَحُوا يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ
نو فراخه شئ (یو بل ته ځائے پریږدئ) فراخی به راولی الله تاسو لره (په دنیا او آخرت
وَإِذَا قِيلَ انْشُزُوا فَانْشُزُوا يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِينَ
کښ) او کله چه ووئیلے شی پاڅیږئ نو پاڅئ تاسو پورته کوی الله تعالیٰ هغه کسان
آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ
چه ایمان ئے راوړیدے ستاسو نه او هغه کسان چه ورکړے شویدے ورته علم
دَرَجَاتٍ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١﴾
په ډیرو درجو سره، او الله په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ خبردار دے۔

تفسیر: پدے آیت کښ د مجلس متعلق آداب او قوانین بیانوی۔

ربط او تړون

ددے آیتِ کریمه د مخکښ سره ربط او تړون واضح دے ځکه چه کله خلق د پټو جرګو نه منع شول، نو معلومه شوه چه په همدے محفلونو او مجلسونو کښ د کیناستو اجازت خو شته، لیکن د مجلسونو څهٔ آداب دی چه د هغے لحاظ ساتل ضروری دی۔

شان نزول

قتادهؒ وائی چه دا آیت د نبی کریم ﷺ د تعلیم د مجلسونو په باره کښ نازل شوے۔ څهٔ خلقو به چه څوك راتلونکے اولیدلو، نو هغهٔ ته د ځای ورکولو نه به تنګیدل، نو الله تعالیٰ دوئ ته نصیحت اوکړو چه دوئ یو د بل دپاره فراخی پیدا کړی۔ او ددے اجر او ثواب ئے دا اوښودلو چه الله تعالیٰ به ددے په ځای، په روزئ او سینو کښ فراخی ورکړی۔ لیکن دا خبره ضعیفه ده، صحیح دا ده چه دلته الله تعالیٰ ټولو انسانانو ته د هغوی د مجلسونو آداب بیانوی نو د رسول الله ﷺ د مجلسونو پورے ددے تخصیص صحیح نهٔ

دے۔ هغه او د هغے نه سوئ ټولو مجلسونو ته دا شامل دے برابره ده چه هغه د جنګ دپاره مجلس وی، یا د ذکر او تعلیم یا جُمعے په ورځ وی۔
دا وجه ده مجالس لفظ ئے جمعه راوړیده۔ او پدے کښې دے ته هم اشاره ده چه څوك کوم ځای ته مخکښې راغلو نو هغه ئے زیات حقدار دے، لیکن د بل ورور دپاره به فراخی راولی ترڅو چه دهٔ ته په هغے کښې ضرر نهٔ وی۔ (قرطبیؒ)
او پدے آیت کښې د ایمان د وجه نه د ملګرو په اکرام او عزت کولو باندے امر دے، او بیا د اهل علمو زیات اکرام او عزت کول لازم دی، دا دلیل دے چه د مجلس او جماعت شرکاء به مساوی نهٔ ګڼړئ بلکه علم والو له به افضله مرتبه او عهده ورکولے شی۔
د منافقانو طریقه دا وه چه په مجلس کښې به وړان کیناستل، ځای به ئے تنګولو، دویمه طریقه دا وه چه مخکښې به کیناستل، او بیا به ئے خبرے ته غوږ هم نهٔ کیخودو، او مشران صحابه کرامؓ به شا ته کیناستل، صحیح آوریدونکو نه به ئے ځای ونیولو نو کله به رسول الله ﷺ څه کسان پاڅول لکه یو ځل ابوبکر صدیق ﷺ راغے نو رسول الله ﷺ څه کسان پاڅول او هغه ته ئے وویل چه دلته راشه کینه، نو پدے باندے دغه منافقان خفه شو۔
مقاتل بن حیانؒ وائی چه دا آیت د جُمعے په ورځ نازل شو، رسول الله ﷺ په صُفه باندے ناست وو او ځای تنګ وو او هغه به د بدریانو صحابه کرامؓ (مهاجرینو او انصارو) اکرام کولو، نو څه بدریان صحابه کرامؓ راغلل چه د دوئ نه مجلسونه نیول شوی وو، نو هغوی رسول الله ﷺ ته مخامخ ودریدل او سلام ئے واچولو، بیا ئے په ملګرو سلام واچولو نو هغوی ټولو جواب ورکړو، بیا هغوی همدغه شان په انتظار کښې ولاړ وو چه دوئ ته به فراخی پیدا کړے شی، نو دا خبره رسول الله ﷺ وپیژندله نو ډیره پرے ګرانه پریوته، نو خوا کښې غیر بدری صحابه کرامؓ ئے پاڅول چه فلانیه ته پاڅه او ته نو د دغه کسانو په اندازه غیر بدریان ئے پاڅول نو دا کار په پاڅونکو باندے ګران تمام شو نو دا آیت نازل شو۔
او پدے کښې ئے دا آداب ذکر کړل چه کله تاسو ته رسول الله ﷺ د پاڅیدو حکم کوی نو پاڅیږئ او خفګان به هم نهٔ کوئ، په مجلس کښې چه کله ناست ئے، نو راتلونکی ملګری ته ځای فراخه کړه، آؤ ټیك ده، هغهٔ ته د هغهٔ د اکرام دپاره پاڅیدل نشته۔

او حدیث کښې دی :

[لَا يُقِمِ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيْهِ، وَلٰكِنْ تَفَسَّحُوْا وَتَوَسَّعُوْا]

یو تن دې بل لره د هغهٔ د مجلس نه نهٔ پاڅوی چه بیا په هغې کښې خپله کینی لیکن په مجلس کښې فراخی راولئ۔ (بخاری فی الجمعة باب ٢٠ رقم (٦٢٧٠) واحمد)

او یو مسلمان چه بل له وینی نو دهٔ له پکار ده (اَنْ يَّتَزَحْزَحَ لَهٗ) چه هغهٔ ته په مجلس کښې وخوزیږی، پدې سره ستا اُوچت اخلاق ښکاره کیږی او د مؤمن اکرام راځی۔

يَفْسَحِ اللهُ لَكُمْ : یعنی تاسو مجلسونو کښې مسلمان وروړ ته فراخی راولئ نو الله به تاسو له فراخی درکړی په جنت کښې/ یا په هر هغه شی کښې چه تاسو پکښې فراخی غواړئ لکه زړه، اجر، کور، رزق، اولاد وغیره۔ عجیبه نسخه ده۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی : دا به څکه کیږی چه جزاء د عمل سره مشابه وی، لکه د عثمان بن عفان ﷺ په روایت شوی صحیح حدیث کښې راځی چه هغه بخاری روایت کړې چه [مَنْ بَنٰى لِلّٰهِ مَسْجِدًا بَنَى اللّٰهُ لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ] (څوك د الله دپاره جومات جوړ کړی، الله به هغهٔ دپاره په جنت کښې کور جوړ کړی) (بخاری : ٤٥٠)

او په یو بل روایت کښې دی : [وَمَنْ يَسَّرَ عَلٰى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ...... وَاللّٰهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ أَخِيْهِ]

(او څوك چه کوم تنګ دست سره د نرمئ معامله اوکړی، الله تعالیٰ به په دنیا او آخرت کښې دهٔ دپاره آسانی پیدا کړی، او الله تعالیٰ د خپل بنده مدد کوی، تر څو چه دې د خپل وروړ په مدد کښې وی)۔ (مسلم : ٧٠٢٨)

دا قِسم آیتونه او حدیثونه ډیر زیات دی۔

وَإِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا : دې کښې بل ادب دې، اې مومنانو ! کله چه تاسو ته ووئیلې شی چه په مجلسونو کښې فراخی پیدا کولو دپاره د خپل ځای نه پاسئ، یا د نبی کریم ﷺ د مجلسونو نه د پاسیدو دپاره تاسو ته ووئیلې شی دې دپاره چه تاسو د خپلې اُوږدې ناستې په وجه هغه پریشانه نهٔ کړئ۔ نو تاسو له فورًا خبره منل پکار دی۔

یا یو امیر د مجلس چا ته حکم وکړی چه د خپل ځای نه پورته شه دې دپاره چه مشر سړی له ځای ورکړی نو دا شخص به دا خبره منی۔

دارنګه چه امر وکړی د مانځه دپاره، د جهاد دپاره، بل څه د خیر کار دپاره، د طاعت دپاره

چه د خپل ځای نه ودرېږئ نو دا امر به هم منلے کيږی۔ (ابن عباسؓ)

قتادهؒ وائی : اَجِيْبُوْا اِذَا دُعِيْتُمْ اِلٰى اَمْرٍ بِمَعْرُوْفٍ ـ کله چه تاسو يو نيك کار باندے حکم کولو ته راووبللے شئ نو د هغے قبول والے کوئ۔ ظاهر دا ده چه آيت دے ټولو ته شامل دے۔ او معنیٰ دا ده چه کله تاسو ته ووئيلے شی چه يو دينی کار دپاره پاڅيږئ نو پاڅيږئ او ځانونه مۀ درنوئ۔

اُنْشُزُوْا : نشز او نشوز معنیٰ ده پورته والے،/ د خپل ځای نه وړاندے کيدل او جدا کيدل۔ لکه اِمْرَاَةٌ نَاشِزَة هغه ښځه ده چه د خپل خاوند نه په ډډه وی۔

يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ :

ددے حکم منلو اجر او ثواب دا دے چه الله تعالیٰ پورته کوی هغه خلق چه ستاسو نه ئے په الله او د هغۀ په رسول باندے ايمان راوړے، او د هغوی اطاعت کوی، او د الله د احکامو علم حاصلوی، او ددے مطابق عمل کوی، نو دوئ ته به الله تعالیٰ په دنيا او په آخرت کښ لوی درجے ورکوی۔ په دنيا کښ به عزت ورکوی او په آخرت کښ به جنت ورکوی۔

يَرْفَع لفظ راوړو کښ اشاره ده چه پدے خبره منلو سره چه تهٔ د مجلس نه پاڅولے شوے ستا عزت کم نشو، سپك نشوے بلکه الله تعالیٰ ستا درجے پورته کوی۔

وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ: دے کښ دوه تفسيره دی :

(۱) يو دا چه دا عطف د يو نوع مؤمنانو دے په بله نوع د مؤمنانو باندے۔ او په کلام کښ تقدير دے :

[يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا فِی الْكَرَامَةِ فِی الدُّنْيَا وَالثَّوَابِ فِی الآخِرَةِ وَيَرْفَعُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ كَثِيْرَةً عَلٰى عَامَّةِ الْمُؤْمِنِيْنَ]

يعنی الله ايمان والا په دنيا کښ په کرامت سره او په آخرت کښ په ثواب سره پورته کوی (چه دا رفعت په ايمان سره شو) او علم والا پورته کوی په ډيرو درجو سره په عامو مؤمنانو باندے (دا رفعت په علم سره شو)

او دے کښ اشاره ده چه هرکله علماؤ له الله تعالیٰ درجات ورکريدی، نو که يو تن هغه تهٔ په مجلس کښ خپل ځای ورکړی نو الله به ئے درجات پورته کړی۔

او اشاره ده چه د الله تعالیٰ په نيز په ايمان او په علم سره رفعت حاصليږی نۀ په مخکښ راتللو سره مجالسو ته اګرکه ددے هم خپل فضيلت شته۔

او دارنګه اشاره ده چه هرکله د اهل علمو درجات پورته دی، نو د هغوی قدر او احترام کول لازم دی۔ هغه له الله تعالیٰ اُوچته درجه ورکړیده نو تهٔ ئے عزت وکړه، الله تعالیٰ به تا هم پورته کړی۔ لکه صف اول کښې ورله ځای ورکړه، مجلس کښې ئے عزتمند مقام کښې کینوه۔ نو تا ته به دوه اجرونه ملاؤ شی، یو د صف اول، او بل د عالِم او د مشر د اکرام کولو، او دے ته مسئله د ایثار بالقرب وائی، او ددے آیت نه هم معلومیږی۔

او دا آیت په فضیلت د علم کښې کافی آیت دے۔

(۲) دویم تفسیر:

(وَالَّذِیْنَ) عطف دے په مخکنی (اَلَّذِیْنَ) باندے، او دواړه یوه جمله ده، او مطلب دا دے چه الله تعالیٰ پورته کوی هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وی، او عالمان هم وی په ډیرو درجاتو سره۔ هر مؤمن له الله تعالیٰ څه نا څه علم ورکړیدے، نو پدے کښې اشاره ده چه تهٔ هم د الله د احکامو علم حاصل کړه، او د هغهٔ په آدابو او قوانینو باندے عمل وکړه، او د مشرانو قدر او احترام وکړه الله به دِے درجات پورته کړی۔ اول تفسیر غوره دے۔

(۳) شوکانیؒ د آیت معنیٰ دا بیان کړے چه مومنانو له په غیر مومنانو باندے، او اهلِ علمو له په غیر اهلِ علمو باندے څو چنده فوقیت (اُوچتوالے) ورکوی۔ نو کوم کس چه د ایمان او علم دواړو نه برخور وی، هغهٔ له به الله تعالیٰ د ایمان په وجه ګنړے درجے ورکړی، او بیا د علم د وجے نه به ګنړے درجے ورکوی۔

او مراد د اُوتوا العلم نه د قرآن کریم علماء دی،

عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی:

[مَا خَصَّ اللّٰهُ الْعُلَمَاءَ فِیْ شَیْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ مَا خَصَّهُمْ فِیْ هٰذِهِ الْآیَةِ]

الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې علماء په هیڅ شی کښې دومره خاص نهٔ دی ذکر کړی لکه چه پدے آیت کښې ئے خصوصی طور سره ذکر کړیدی۔ او د هغهٔ نه دا هم نقل شویدی چه اے خلقو! پدے آیت ځان پو هه کړئ دے دپاره چه ستاسو د علم سره مینه پیدا شی۔

او پدے مقام کښې ابن کثیرؒ، قرطبیؒ، شربینیؒ، آلوسیؒ، وغیره مفسرینو د علم فضائل په تفصیل سره ذکر کړیدی۔

فائده: په آیت کښې حکم شوے چه خلق دے په مجلسونو کښې د نورو راتلونکو دپاره فراخی پیدا کړی۔ دے نه دا خبره معلومیږی چه څوك د خپل ځای نه پاسول نهٔ دی

پکار۔ امام احمدؒ او بخاریؒ او مسلمؒ د ابن عمر ﷺ نــه روایت کړے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : [لَا يُقِيمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَقْعَدِهٖ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ وَلٰكِنْ تَفَسَّحُوْا وَتَوَسَّعُوْا] (هیڅ یو انسان دے چالره د هغهٔ د ځای نه پانڅ سوی چه خپله هلته کینی، بلکه تاسو د نورو دپاره فراخي پیدا کوئ)۔ لکه چه دا روایت مخکښ تیر شو۔ (مسلم : ۵۸۱۳)

حافظ ابن کثیرؒ په دے باره کښ د فقهاؤ اختلاف نقل کړے۔

بعضو وئیلی دی چه دا جائز دی، او په بخاری کښ د ابو سعید خدری ﷺ نه د روایت شوی حدیث نه ئے استدلال کړے، چه په هغے کښ نبی کریم ﷺ د سعد بن معاذ ﷺ دپاره صحابه کرامؓ ته د پاسیدو حکم کړے وو او وئیلی ئے وو چه (قُوْمُوْا اِلٰى سَيِّدِكُمْ) (تاسو د خپل سردار دپاره پاسیږئ)۔

او بعضو وئیلی دی چه داسے کول هله جائز دی چه څوك د سفر نه راشی، یا حاکم چه کله خپل مجلس ته راشی، لکه څنګه چه رسول الله ﷺ سعد بن معاذ ﷺ دپاره صحابهٔ کرامو ته حکم کړے وو چه هغوئ پاسیږی او د هغهٔ استقبال وکړی، لیکن که یو کس دا خپل عادت جوړوی نو جائز نهٔ دی ځکه چه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی :

[مَنْ اَحَبَّ اَنْ يَّتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ]

چه کوم کس دا خوښوی چه خلق دِے د هغهٔ دپاره پاسیږی، نو هغه دِے خپله استوګنه په جهنم کښ جوړه کړی۔ دا حدیث ابوداود د معاویه ﷺ نه روایت کړے۔

(ابوداود : ۵۲۳۱) والترمذی (۲۷۵۵)

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ
اے ایمان والو! کله چه جرګه کوئ تاسو د رسول سره نو مخکښ اُولیږئ مخکښ
نَجْوَاكُمْ صَدَقَةً ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ فَإِنْ
د جرګے ستاسو نه صدقه دا غوره دے تاسو لره او پاکونکے دے نو که
لَّمْ تَجِدُوْا فَإِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ أَأَشْفَقْتُمْ
تاسو نهٔ مونده کوئ (صدقه) نو یقیناً الله بخونکے رحم کونکے دے۔ آیا یریږئ تاسو

أَنْ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَاتٍ فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا
ددے نه چه اُولیږئ مخکښ د جرګو ستاسو نه صدقے نو کله چه اُونکړو تاسو (دا کار
وَتَابَ اللهُ عَلَيْكُمْ
د وجے د عجز نه) او مهرباني وکړه الله په تاسو باندے (نو معاف ئے کړو)
فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا اللهَ وَرَسُولَهُ ط
نو پابندي د مونځ کوئ او ورکوئ زکاة او تابعداري کوئ د الله او د رسول د هغه،
وَاللهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿۱۳﴾
او الله خبردار دے په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ۔

تفسیر : پدے آیت کښ اَمر دے په صدقه ورکولو مخکښ د جرګے کولو د رسول الله ﷺ سره، پدے کښ حکمت رد کول دی په منافقانو باندے، بل پدے کښ اِرَاحَةُ الرَّسُوْل دے، یعني رسول الله ﷺ ته راحت ورکول دی۔

او پدے قانون کښ په منافقانو باندے امتحان وو او د خپل نبي حفاظت وو،

❀ د حسن بصريؒ وینا ده چه دا آیت د بعضِ مسلمانانو په باره کښ نازل شوے وو چه د نبي کریم ﷺ سره به ئے بار بار په یواځے والي کښ خبرے کولے نو په نورو صحابوؓ باندے به ددے خراب اثر پریوتلو، هغوئ به دا سوچ کولو چه زمونږ مرتبه د رسول الله ﷺ په نیز کمه ده۔ دے وجے نه الله تعالیٰ رسول الله ﷺ سره د پټو خبرو کولو نه مخکښ د صدقے ورکولو حکم وکړو، دے دپاره چه نبي ﷺ سره پټے خبرے کونکي کم شي۔

❀ د زید بن اسلمؒ وینا ده چه دا کار به یهودو او منافقانو کولو، او خپلو کښ به ئے وئیلے چه د محمد غوږونه کچه دی، د هر چا خبرے ته غوږ ږدی، او هیچا لره د خپل ځان سره د پټو خبرو کولو نه نه منع کوی۔

(د دوی مقصد رسول الله ﷺ پریشانه کول او د هغه ژوند تنګول وو) او په مخلصو صحابه کرامو ؓ باندے به ددے خراب اثر پریوتلو، شیطان به د دوئ په زړونو کښ شك غورزولو چه شاید دوئ د مسلمانانو د کوم دشمن فوج خبره کړے وی کوم چه د

مسلمانانو سره د جنګ کولو دپاره جمع شوی دی۔ نو الله تعالیٰ (۹) آیت نازل کړو،
لیکن یهود او منافقان د خپل شرارت نه منع نشول، نو الله دا آیت نازل کړو چه په دے کښې د نبی کریم ﷺ سره د پټو جرګو کولو نه مخکښې د صدقے کولو حکم ورکړے شوے دے۔ دے وجے نه یهود او منافقان د نهٔ مخلص کیدو په وجه او د مال د محبت د وجے نه د پټو خبرو کولو نه منع شول، لیکن په غریبانو مسلمانانو باندے دا حکم ګران اولګیدهٔ۔ دوئ به د نبی کریم ﷺ نه ضروری مسائل تپوسل غوښتل او د صدقے دپاره د مال نهٔ مَلاویدو په وجه به ئے د نبی ﷺ سره خبرے نشوه کولے۔
دے وجے نه د یو څو ورځو نه پس د صدقے ورکولو حکم منسوخ شو، او مسلمانانو ته حکم وکړے شو چه دوئ د نبی کریم ﷺ سره د خبرو کولو په وخت د هغهٔ انتهائی درجه احترام کوی، او د ادب لحاظ دِے ساتی۔
❁ ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : مسلمانانو د رسول الله ﷺ نه تپوسونه زیات شروع کړل تردے چه په هغهٔ باندے ئے سختی راوسته نو الله وغوښتل چه په خپل نبی باندے آسانی راولی نو کله ئے چه دا حکم نازل کړو چه صدقه به ورکوئ، نو ډیرو خلقو بُخل وکړو او د تپوسونو نه بند شو نو ددے نه روستو (اَ أَشْفَقْتُمْ) آیت نازل شو نو الله په دوی باندے فراخی راوسته او تنګی ئے ختمه کړه۔ (فتح البیان)
صَدَقَةً : ددے صدقے اندازه نهٔ وه ښودلے شوے نو رسول الله ﷺ علی بن ابی طالب رضی الله عنه سره مشوره وکړه چه ستا د یو دینار په باره کښې څه رایه ده ؟ هغه وویل : خلق ددے طاقت نهٔ لری، وے وئیل خومره پکار ده؟، ما وویل : د وربشے په اندازه سرهٔ زر۔ نو هغه راته وویل: اِنَّكَ لَزَهِيْدٌ ـ تهٔ خو ډیر بے رغبته ئے۔ (وفی اسناده علی بن علقمه الانماری وهو ضعیف)۔ نو بیا یو درهم مقرر شو۔
او دا صدقه ورکول به دلیل وی ددے خبرے چه دا انسان په رشتیا سره د علم طلبګار دے، او مسئلے ته ئے ضرورت دے۔ نو خلق به بے ځایه مشورے هم نهٔ کوی ځکه چه پیسے لګول به ورته ګران وی، لکه منافقان شا ته شول، که دین چرته په روپو وے، نو ډیرو انسانانو به یوه مسئله هم نهٔ زده کولے۔ خو دین ارزان دے ځکه ئے ډیر خلق نهٔ زده کوی۔
یو روایت کښې دی : علی بن ابی طالب رضی الله عنه فرمائی : ما پدے حکم باندے عمل کړیدے

[كَانَ عِنْدِيْ دِيْنَارٌ فَبِعْتُهُ بِعَشْرَةِ دَرَاهِمَ]

ما سره یو دینار وو نو ما په لسو دراهمو خرخ کړو نو هرکله چه به ما د رسول الله ﷺ سره جرګه مشوره کوله نو مخکښې به مې یو درهم صدقه کړو.

(المستدرك ٢/٤٨١/ رقم ٣٧٩٤) وقال: صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبي وفي اسناده يحيى بن مغيره السعدى صدوق فالحديث اسناده حسن ولا بأس به)

لیکن پدې کار کښې صحیح مخلصو مؤمنانو ته مشکلات راغلل، ځکه چه د رسول الله ﷺ په شان مُعلم ته ددوئ ضرورت وو، او دوئ به د مال په وجه د هغۀ نه محرومه شي، نو ځکه الله تعالیٰ دا حکم منسوخ کړو.

بعض وائي: دا حکم لسو ورځو یا څه موده پورې وو، بیا منسوخ شو. او پدې حکم رانازلولو او بیرته منسوخ کولو کښې فائده وشوه او هغه دا چه دا ذهن سازي وشوه چه رسول الله ﷺ ستاسو ددې ډیرو مشورو او جرګو نه تنګیږي، د هغۀ رعایت وکړئ. مؤمنانو به بیا د رسول الله ﷺ ډیر زیات رعایت او ادب کولو، کله چه به اُوده وو نو نۀ به ئې راپاڅولو چه پدې حالت کښې ورته چرته وحی کیږي.

لکه په حدیث د ابوذر ﷺ کښې ذکر دی، او کورته به چه ننوتو نو آوازونه به ئې ورته نۀ کول. او چه پریشانۍ شان حالت کښې به وو نو تپوس به ئې ترې نۀ کولو.

بعض علماء دې ته د نسخ نوم نۀ ورکوی بلکه وائي چه دا تخفیف دې په اول حکم کښې، هغه دا چه صدقه ورکول اول کښې واجب وو بیا د وجوب نه استحباب ته حکم نقل شو.

او کوم علماء چه دې ته نسخ وائي لکه متقدمین، نو بیا ددې نه دا هم معلومیږي چه په قرآن او حدیث کښې داسې احکام هم شته چه د عمل کولو نه مخکښې منسوخ شوی وی لکه پنځوس مونځونه د معراج په شپه فرض شو، د عمل کولو نه مخکښې منسوخ شو او پنځه پاتې شول،

او پدې کښې هم حکمت وی چه هغه ذهن سازي کول دی چه اجر د پنځوسو ورکوی، او دارنګه بنده شکر وکړی چه ښه دې چه پنځوس مونځونه منسوخ شو ګنې دا خو به ډیره ګرانه وه، نو دا پنځه مونځونه به په ډیر شوق سره کوی، او پدې سره د الله سره مینه پیدا کیږي چه څو مره رحیم ذات دې.

﴿ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ﴾ يعنى (نبى كريم ﷺ سره د پټو خبرو كولو نه مخكښ صدقه وركول ستاسو دپاره په هره طريقه بهتره ده) تاسو له به ددے څو چنده اجر او ثواب ملاويږى، او ستاسو د غريبو مسلمانانو ورونو به ښيګړه وى. او ستاسو زړونو لره صفا كونكے ده.

أَأَشْفَقْتُمْ : دا آيت روستو نازل شو. دے ته ئے إِشفاق ځكه ووئيلو چه دوئ يريدل كه دا حكم لازم شى نو بيا خو به دوى ته ډيره ګرانه شى، د رسول الله ﷺ د صحبت نه جدا والے او محرومتيا راځى، ځكه چه په ورځ كښ د رسول الله ﷺ سره لس كرته ملاويدو سره لس روپۍ وركول خو ګران دى.

فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا: ددے نه معلوميږى چه پدے حكم باندے چا عمل نۀ وو كړے. زر منسوخ شو.

وَتَابَ اللهُ عَلَيْكُمْ: يعنى رحم ئے وكړو په تاسو باندے په منسوخ كولو ددے حكم. دے ته ئے توبه ووئيله ځكه چه الله تعالىٰ استعمال كړل په خپل طاعت كښ، ولے كه دا حكم وے، نو په طاعت كښ به نۀ استعماليدے، هميشه به په ګناه كښ وے، او دا حكم لرے شو نو اُوس د پيسو نه په غير د رسول الله ﷺ نه د خپل دين تپوس كولے شے نو په طاعت كښ استعمال شوے نو ځكه ورته توبه ووئيلے شوه.

﴿فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا﴾ يعنى نبى ﷺ سره د سرګوشۍ كولو نه مخكښ صدقه وركول اوس ضرورى خبره نۀ ده، بلكه مستحب ده، دے وجے نه اُوس چه كوم كس صدقه ورنۀ كړے شوه، هغۀ له هيڅ د حرج خبره نۀ ده.

فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ : يعنى اُوس خو د جرګے او مشورے او تپوس كولو نه مخكښ د صدقے وركولو حكم منسوخ شو ليكن استحباب ئے باقى دے، خو څوك دِے دا ګمان ونكړى چه دغه حكم منسوخ شو نو مونځونه او زكاتونه به منسوخ وى، نو الله وفرمايل چه په اخلاص سره د خپلو مونځونو حفاظت كوئ، زكاة اداء كوئ، او د الله او د هغۀ د رسول (ﷺ) په اطاعت كښ سستى مۀ كوى، دے دپاره چه د صدقے دپاره د مال نۀ كيدو كمے پوره كړے شى، او ددۀ په اجر او ثواب كښ اضافه وشى.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا
آیا نۀ گورے تۀ هغه کسانو ته چه دوستی کوی (ورواورپیدل) د داسے قوم سره
غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِم مَّا هُمْ مِّنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ
چه غضب کړیدے الله په هغوی باندے نۀ دی دوی ستاسو نه او نۀ د هغوی نه
وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٤﴾ أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ
او قسمونه کوی دوی په دروغه او دوی پو هیږی۔ تیار کړیدے الله تعالٰی دوی لره
عَذَابًا شَدِيْدًا إِنَّهُمْ سَاءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٥﴾ اِتَّخَذُوْا
عذاب سخت، یقیناً دوی بد دی هغه عملونه چه دوی ئے کوی۔ نیولی دی دوی
أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿١٦﴾
قسمونه خپل ډهال نو منع شو د لارے د الله نه نو دوی لره عذاب سپکونکے دے۔
لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ
هیچرے به دفع نۀ کړی دوی نه مالونه د دوی او نۀ اولاد د دوی د الله (د عذاب) نه
شَيْئًا أُولٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خَالِدُوْنَ ﴿١٧﴾
هیڅ شے، دا کسان اُور والا دی دوی به په دے کښې همیشه وی۔

تفسیر : پدے رکوع کښې په منافقانو باندے ردونه کیږی، او هغوی ته زجرونه بیانیږی او د هغوی پنځلس بد صفات ذکر کوی، او په (۱۵) او (۱۷) آیت کښې تخویف ورکوی، او په آخر کښې د مؤمنانو صفت بیانوی چه هغوی د دے مفسدانو نه برائت کوی او هغوی ته زیرے ورکوی۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ : په کومو ورځو کښې چه دا سورت په مدینه کښې نازل شو، په دغه ورځو کښې د منافقانو منافقت آخر سر ته رسیدلے وو، شپه او ورځ به دا خلق یهودیانو سره ملاویدل، او د اسلام او مسلمانانو خلاف به ئے سازشونه کول، او دوئ ته د نقصان

رسولو هر ممکن کوشش به ئے کولو۔ په دے آيتِ کريمه کښ د همدے منافقانو نه پرده لرے کړے شوے ده چه دا خلق مسلمانان نۀ دی، او نۀ دوئ د يهوديانو نه دی۔

الله تعالىٰ د سورۀ الحشر په (۱۱) آيت کښ هم د منافقانو دا حقيقت داسے بيان کړے دے، او وئيلی ئے دی : ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا يَقُوْلُوْنَ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ ﴾ الآية

(آيا تا منافقان نۀ دی ليدلی دی چه خپلو اهلِ کتابو کافرو ورونو ته وائی چه که تاسو جلا وطن کړے شوئ نو مونږ به هم تاسو سره خامخا اوځو)۔

او د سورۀ النساء په (۱۴۳) آيت کښ فرمائی : ﴿ مُذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ لَآ إِلٰى هٰؤُلَاءِ وَلَا إِلٰى هٰؤُلَاءِ ﴾ (دوئ په مينځ کښ زوړند پاتے دی، نۀ پوره طور سره هغوئ طرفته دی، نۀ صحيح طورسره دوئ طرفته دی)۔

اَلَّذِيْنَ نه مراد منافقان دی او (قَوْمًا) نه مراد يهوديان دی۔ ځکه چه په دوی باندے د الله غضب شوے وو لکه په سورة البقره (٦١) او (٩٠) آيتونه پدے باندے دليل دی۔ او د تَوَلَّوْا معنىٰ ده (وَالَوْهُمْ) يعنی دوستی کوی د هغوی سره۔ يا په معنىٰ د اوړيدو سره دے۔

اول بد صفت (تَوَلَّوْا) دے، او دويم (مَا هُمْ مِنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ) دے۔

دريم : ﴿ وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ ﴾ ابن جرير طبریؒ ددے تفسير دا بيان کړے چه منافقانو به رسول الله ﷺ ته وئيل : مونږ ګواهی ورکوو چه تۀ د الله رسول ئے، حالانکه دوئ په خپلے ګواهئ کښ دروغژن وو، يعنی دوئ ته پته وه چه په رشتينے زړۀ سره مونږ دا ګواهی نۀ ورکوو۔ دارنګه په دعوه د ايمان او د تابعدارئ د رسول کښ دروغژن دی۔ او بيا پدے باندے قسمونه هم کوی۔

يَحْلِفُوْنَ ئے په صيغه د مضارع راوړو پدے کښ تجدد ته اشاره ده، او لفظ د عَلیٰ کښ جراءت (زړه ورتيا) ته اشاره ده۔ يعنی زړه ورتيا کونکی دی په دروغو او په قسم کولو۔

وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ : يعنی سره د علم او د قصد نه دروغ وائی او قسمونه کوی، او دا يمين غموس دے چه انسان سيده جهنم ته رسوی۔ دا ورسره ځکه وائی چه کله يو تن قسم وکړی خو په خبره پو هه نۀ وی نو بيا ګناهګار نۀ دے۔

أَعَدَّ اللّٰهُ: پدے کښ د منافقانو حال او انجام بيانيږی چه دوئ له الله تعالىٰ سخت عذاب تيار کړيدے۔ بعض علماء وائی چه ددے عذاب شديد نه مراد دنياوی عذاب او د قبر

عذاب دے، ځکه چه د آخرت عذاب ئے روستو ذکر دے۔

إِنَّهُمْ سَاءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ : پدے کښې د دوئ بـل عیب ذکر دے چه دوی له الله تعالیٰ ځکه سخت عذاب ورکوی چه د دوئ عملونه ناکاره دی۔

اِتَّخَذُوْا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً: دا جـمـلـه جواب د سوال دے چه که څوك ووائی چه دوئ سره د پـو هـے نـه ولے په دروغه قسمونه کوی؟ نو جواب کوی چه دوئ د خپلو ځانونو بچ کولو دپاره خپـل دروغژن قسمونه ډهال جوړ کړل، او خلق پټ په پټه په الله او د هغهٔ په رسول بانـدے د ایمان راوړو نه بندوی۔ د مسلمانانو کارونه سپك ښکاره کوی، او د دوئ طاقت کمزورے ښکاره کوی۔

جُنَّةً: ډهال ته وائی چه په هغے سره ځان د تورے وغیره د ګوزار نه بچ کوی، نو دغه شان دوی په دے قسمونو سره ځانونه د مؤمنانو د زجر او هر شرمندګئ نه بچ کوی۔

فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ : ۱– لازم مـعـنیٰ ده : دوئ بند شو د حق نه۔ په دروغو قسمونو او چلونو سره انسان د حق نه محرومیږی۔

۲– یا متعدی دے، یعنی خلق منع کوی د لارے د الله تعالیٰ نه۔

فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ : مـخـکښې عذاب شدید وو، دلته عذاب مهین، او دواړه عذابونه د یـو بـل نـه جـدا دی۔ هـر کـله چه دوی په دروغ قسم کولو کښې د الله د نوم توهین کوی او دارنګه د مؤمنانو اهانت کوی نو پدے وجه عذاب مهین ئے ذکر کړو۔

بـعـض وائـی : یـو عـذاب دے خو دوه صفتونه ئے دی چه سخت به هم وی او شرمونکے ذلیله کونکے به هم وی۔

او بعض وائی : اول عذاب قبر دے، او دویم عذاب د آخرت دے۔ اول قول غوره دے۔

لَنْ تُغْنِيَ : کـه څـوك ووائـی چـه دوی سره مالونه او اولاد شته هغه به ئے بچ کړی، نو الله فرمائی : چه دا به ورته د الله د عذاب په مقابله کښې هیڅ فائده ورنکړی۔

او پـدے کـښې رد دے د دوئ په غلط خیال باندے چه دوی دا فسادونه کوی او بیا په خپل مال او اولاد سره ګوئی او تکبر کوی او د حق نه انکار کوی۔ نو دوی ډے پو هه شی چه په قیامت کښې د دوی مالونه او اولاد پکار نهٔ راځی۔

أَمْوَالُهُمْ : چه مالونه په فدیه کښې ورکړی، یا رشوت ورکړی۔

وَلَا أَوْلَادُهُمْ: مشـرکـانو ته د هغوی اولاد فائده نهٔ ورکوی، لکه چه مددئے وکړی یا په

دنیا کښې هغوی ته دعاګانے کوی، یا په نیك عملونو سره ډ هغوی مور او پلار (مشرکانو) ته هیڅ فائده نهٔ ملاویږی۔

مِّنَ اللّٰهِ: یعنی د عذاب د الله تعالیٰ نه۔

شَيْئًا: ۱– مفعول بهٔ دے۔ یعنی هیڅ شے د عذاب۔

۲– یا مفعول مطلق دے اَیْ شَیْئًا مِنَ الْاِغْنَاءِ۔ او مِنَ الله په معنیٰ د (عِنْدَ اللّٰهِ) سره دے، یعنی فائده به ورنکړی دوی ته مالونه او اولاد د دوی په نیز د الله هیڅ فائده۔

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ
په هغه ورځ چه راپورته به کړی دوی لره الله تعالیٰ ټول نو قسمونه به کوی
لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى
هغهٔ ته لکه څنګه چه قسمونه کوی تاسو ته او ګمان کوی چه یقیناً دوی په یو
شَيْءٍ اَلَا اِنَّهُمْ هُمُ الْكَاذِبُوْنَ ﴿۱۸﴾ اسْتَحْوَذَ
(فائده مند) شی باندے دی، خبر شئ ! یقیناً خاص هم دوی دروغژن دی۔ غلبه کړیده
عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ فَاَنْسَاهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ
په دوی باندے شیطان نو هیرے ئے کړل د دوی نه یادول د الله، دا کسان ډله
الشَّيْطَانِ اَلَا اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾
د شیطان ده، خبر شئ !، ډله د شیطان هم دوی تاوانیان دی۔

تفسیر: پدے کښې بیا درے بد صفتونه ذکر کوی۔

يَوْمَ: دا متعلق دے په (لَنْ تُغْنِيَ) پورے۔ د هغې دپاره ظرف دے، یا اُذْكُرْ (رایاد کړه) لفظ پټ دے۔

الله تعالیٰ وفرمایل کله چه د قیامت په ورځ الله تعالیٰ دوئ دوباره ژوندی کړی، نو په منافقت کښې د خپل مهارت او مضبوطیا په وجه به د الله تعالیٰ مخامخ هم د خپل رشتین والی او اخلاص ثابتولو دپاره دروغژن قسمونه شروع کړی چه مونږ خو په دنیا

کښې کفر نۀ دے کړے، او مونږ ددے نبی رشتینی تابعدار وو، لکه څنګه چه په دنیا کښې د دروغژنو قسمونو په ذریعه ئے مسلمانانو له دا یقین ورکولو چه دوئ هم مخلص مسلمانان دی۔ الله فرمائی : چه دا خلق ما ته معلوم دی چه ما ته به هم دروغژن قسمونه کوی لکه تاسو ته ئے چه اُوس کوی۔

او دا خبره به هیره کړی چه دوئ په آخرت کښې دا دروغژن قسمونه د هغه علام الغیوب مخے ته خوری چه د هغهٔ نه هیڅ شے پټ نهٔ دے۔

یعنی د منافقانو ژوند تول د قسمونو نه ډك دے، او د دروغو قسمونه ئے دومره قوی صفت دے چه په قیامت کښې به هم دغه شان دروغژن قسمونه کوی۔

وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ : ۱- یعنی دوی اُوس ګمان کوی چه دوی په یو معتبر شی روان دی چه هغه هوښیارتیا او عقلمندی ده، یعنی دوی به خپله چالاکی کمال ګنړلو چه ددے په وجه به د رسول الله ﷺ د تابعداریٔ نه روستو پاتے کیدل، او دا به ئے وئیل چه مونږ خو ددے صحابه کرامو په شان نهٔ یو چه په معمولی خبره ځان قربان کړو۔

بعض خلق د منافقت چالاکی کمال ګنړی، لکه زمونږ د اُمت مبتدعین۔ ځان ئے هلاك کړو، او نهٔ پو هیږی۔ کوشش دا کوی چه خلق د الله نه بابا ته واړوی، او د رسول الله ﷺ نه ئے بل امتی یا خواهش ته واړوی۔

۲- یا دا په آخرت کښې مراد دے، یعنی دوی پدے دروغژنو قسمونو سره ګمان کوی چه دوی ته به دا څه فائده راښکاړی، یا به ترے څه ضرر دفع کړی لکه دوی به په دروغژنو قسمونو په دنیا کښې دغه شان ګمان کولو۔

۳- یا دنیا کښې مراد دے، اَیْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ مُّعْتَبَرٍ مِنَ الدِّيْنِ ۔ یعنی دوی خو اُوس ګمان کوی چه دوی په یو معتبر او مقبول دین باندے روان دی۔ لیکن دا خبره به دوی ته فائده ورنکړی۔ اشاره ده چه مشرك او منافق هم ځان په حقه ګنړی۔

اَلَا اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ : یعنی خبر شئ دوی کامل او همیشه دروغژن دی چه دروغ ئے لازمی صفت ګرځیدلے دے، او دوی په قسم سره د خپلو دروغو پټولو کوشش کولو نو ځکه الله تعالیٰ د تاکید دپاره اَلَا او اِنَّ او هُمْ ضمیر فصل او جمله اسمیه راوړه۔

په تفسیر د سورة البقره کښې مونږ لیکلی وو چه د منافقانو ښکاره صفتونه یو دروغ دی، دویم نِسْيَانُ ذِكْرِ اللهِ۔ (د الله ذکر هیرول) او دریم تَرْجِيْحُ جَانِبِ الْمَخْلُوْقِ عَلٰى جَانِبِ اللهِ۔

د مخلوق جانب غوره کول په جانب د الله باندے۔
اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ: پدے کښې د منافقانو نور درے عیبونه ذکر کیږی۔
یعنی دوئ کښې دغه تیر شوی بد صفتونه ولے راغلل؟ نو الله دلته سبب بیانوی چه د دوئ په زړه او دماغو باندے شیطان قبضه اچولے ده، او هغه ئے پوره راګیر کړیدی چه ددے په سبب دروغ وئیل د دوئ دویم فطرت جوړ شوے دے، د دنیا په رنګینو او عارضی خوندونو کښې ډوب شوی دی، او د الله د یاد نه بیخی غافله شوی دی۔
اسْتَحْوَذَ: د حَوْذ نه دے په معنیٰ د راګیرولو او احاطه اچولو او غلبه کولو او پورته کیدو او په تیزئ او آسانتیا سره شړلو سره دے۔ او دا مستلزم وی غلبے او قوت او قبضے اچولو لره۔ یعنی شیطانانو په خپلو وسوسو او ګمراه کولو سره په دوی باندے داسے قوت او غلبه موندلے ده لکه چه هغه د دوئ بادشاه دے او دوی ئے رعیت دے۔ او په مؤمن باندے شیطان لږ غفلت اچوی لیکن چه لږ بیدار شی نو شیطان ترے وتښتی او په منافقانو باندے ئے تسلط کړے وی، زړه ئے ورله پوره نیولے وی۔
فَأَنْسَاهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ: ۱– د ذکر الله نه مراد د هغهٔ یادول دی۔
۲– یا د هغهٔ آوامر ئے ترے هیر کړی چه په هغے باندے عمل وکړی۔ او د هغهٔ زواجر (عذابونه) ئے هیر کړی چه په هغے سره د هغهٔ د ګناهونو نه منع شی۔
۳– یا دا چه په زړونو او په ژبو سره ئے د هغهٔ یاد هیر کړیدے۔
٤– او ذکر الله توحید او قرآن کریم ته هم وائی۔
أُولَٰئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ: یعنی کوم رذیل صفتونه او خبیث خویونه چه پورته بیان شو، دے سره متصف خلق په اصل کښې د شیطان د ډلے خلق دی چه دوئ په زمکه کښې په فساد خورولو کښې د هغوئ پیروی کوی، لیکن دوئ له یاد ساتل پکار دی چه شیطان به د دوئ هیڅ پکار رانشی۔
حِزْبَ: کښې معنیٰ د تَحَزُّبُ او ډله بازئ پرته ده نو حزب هغه تابعدارو ملګرو ته وئیلے شی چه په اِتباع د متبوع کښې کلك او تعصب کونکی وی، بل طرفته په آسانه سره نهٔ آوړی او نهٔ د بل چا خبره آوری۔
الْخَاسِرُونَ: دا کسان کامل تاونیان دی ځکه چه جنت ئے په اُور باندے خرڅ کړو او هدایت ئے په ګمراهئ باندے، او په الله او د هغهٔ په رسول ئے دروغ ووئیل او د دروغو

قسمونه ئے په دنیا او په آخرت کښې وکړل او په خپلو ځانونو ئے همیشه نعمتونه ختم کړل، او ځانونه ئے عذابونو ته وړاندے کړل ددے نه بل لوی تاوان بل کوم کیدے شي؟!۔

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللهَ وَرَسُولَهُ أُولَٰئِكَ
یقیناً هغه کسان چه خلاف کوی د الله او د رسول د هغهٔ نه، دا کسان
فِي الْأَذَلِّينَ ﴿٢٠﴾ كَتَبَ اللهُ
په ډیرو ذلیلانو کښې دی۔ لیکلی دی الله تعالیٰ (په تقدیر کښې) چه
لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢١﴾
خامخا غالبه کیږم به زهٔ او رسولان زما، یقیناً الله قوت والا دے زورور دے۔

تفسیر : منافقانو دا کوشش کولو چه د یهودو په صحبت او ملګرتیا او په دروغژنو قسمونو سره ځان عزتمن کړی، نو الله وفرمایل چه ترڅو دوئ د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول خلاف کوی نو دوئ به هم همیشه په دنیا او په آخرت کښې خوار او ذلیله وی، هیڅکله به دوئ ته عزت نهٔ ملاویږی۔

فِي الْأَذَلِّينَ : پدے کښې زیات تاکید دے ځکه چه أُولَٰئِكَ اسم اشاره ئے ذکر کړه، او فِي کلمه ئے ذکر کړه چه په استغراق او اِنغِمَاس باندے دلالت کوی۔ یعنی دوی غرق او ډوب دی په جماعت د ذلیلانو کښې۔

كَتَبَ اللهُ لَأَغْلِبَنَّ: اُوس الله تعالیٰ ایمان والو ته زیرے ورکوی په غلبه او مدد سره، او رد کوی په منافقانو باندے، منافقانو کوشش کولو چه اسلام مغلوبه کړی او د نبی کریم ﷺ دعوت ختم کړی،

نو الله وفرمایل چه منافقان دِے ددے خبرے نه خاطر جمع شی چه الله به د خپل رسول مدد نهٔ کوی بلکه الله تعالیٰ دا خبره لیکلے ده چه په هر حال کښې به صرف الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول غالبه کیږی، او د شیطان تابعدار به ذلیله او رسوا کیږی، ځکه چه الله تعالیٰ د ټولو نه زیات قوی او زورور دے، په دهٔ باندے هیڅوک غالبه کیدے نشی۔

كَتَبَ: یعنی الله په تقدیر کښې لیکلی دی، او په هغے کښې هیڅ قسم تبدیلی نهٔ راځی۔

یعني دا هسې عارضي خبره نهٔ ده بلکه فیصله شوې او لیکلې شویده۔

لَأَغْلِبَنَّ: دا غلبه د جهاد او شهادت سره منافات نهٔ لري، کله به یو رسول شهید کیږي هم، دا هم غلبه ده، لکه د غلبې مختلف شکلونه دي۔ لکه سورة حم مؤمن (۵۱) آیت کښې دي: ﴿إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾

(یقیناً مونږ به خامخا د خپلو رسولانو او مؤمنانو په ژوند دنیوی کښې مدد کوو)۔

نو آیا مؤمنان نهٔ شهیدان کیږي؟ معلومیږي چه دلته غلبه په اعتبار د عاقبت سره ده، او غلبه په اعتبار د عام کولو د دین سره او غلبه په اعتبار د حجت سره ده۔

إِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ: یعنې الله زورور دې، نو اې منافقانو! تاسو ددې نبي د دین د ختمولو او خکته کولو کوشش مهٔ کوئ، هسې به ځانونه ستړي کړئ، د الله مقابله څوك نشي کولې۔

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ
تهٔ به موندهٔ نکړې داسې قوم چه ایمان لري په الله او په ورځ روستنۍ
يُوَادُّوْنَ مَنْ حَادَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ
چه دوی مینه کوي د هغه چا سره چه خلاف کوي د الله او د رسول د هغهٔ اګرکه
كَانُوْا آبَاءَ هُمْ أَوْ أَبْنَاءَ هُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيْرَتَهُمْ أُولٰئِكَ كَتَبَ
وي پلاران د دوی یا ځامن د دوی یا ورونه د دوی یا قبیله د دوی دا کسان لیکلې دې الله
فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْإِيْمَانَ وَأَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ
تعالیٰ په زړونو د دوی کښې ایمان او مضبوط کړي ئې دي دوی په رحمت سره
مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ
د خپل طرف نه، او داخلوي به دوی جنتونو ته چه بهیږي لاندې د هغې نه ولې
خَالِدِيْنَ فِيْهَا ۚ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ
همیشه به وي په هغې کښې، راضي دې الله تعالیٰ د دوی نه او دوی راضي دي د هغهٔ نه

أُولٰئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۲۲﴾

دا کسان ډله د الله ده، خبر شئ! یقیناً ډله د الله هم دوی کامیاب دی۔

تفسیر : منافقان وائی چه مونږ خو مؤمنان یو، هسے د یهودو سره تعلق ساتو، ددے وجه نه چه څه حادثه به راشی نو د دوئ نه به مدد او فائده اخلو، نو الله پدے آیت کښ قانون کیخودو (او دا آیت هم د موالات او معادات په باره کښ سخت آیت دے)

قانون دا دے چه څوك د ایمان دعویدار دے، ځان ته په الله او په قیامت باندے ایمان لرونکے وائی، نو دے به چرته د الله تعالیٰ د دشمنانو سره دوستی ونکړی، اګرکه هغه کفارئے خپلوان هم وی، ځکه چه د ایمان تقاضا دا ده چه د کافر نه به براء ت کوی، ځکه چه دا دواړه خبرے (ایمان او محبت د کافرانو) متناقضین دی، چه هیڅکله په یو انسان کښ نشی راجمع کیدے، داسے نشی کیدے چه یو تن دِے ځان ته مسلمان هم وائی او بیا دِے وائی چه خیر دے زهٔ به د کافرانو سره دوستی هم کوم۔

ددے وجه نه د محبت ډیر صورتونه دی، د هغوی سره په زړهٔ کښ مینه ساتل، د اسلام او د مسلمانانو په مقابله کښ د هغوی مدد کول، او د هغوی دپاره جاسوسی کول او د هغوی داسے اعزاز او اکرام کول چه هغوی په مؤمنانو باندے عزتمند او شرفاء وګنړی۔

ربط :

مخکښ د الله او د هغهٔ د رسول د دشمنانو ذکر وشو، اُوس د هغه ایمان والو ذکر کیږی چه هغویٔ په هیڅ حال کښ هم د الله د دشمنانو سره دوستی نهٔ کوی، ځکه په الله باندے ایمان او د هغهٔ په رسول باندے ایمان او د هغهٔ د رسول د دشمنانو سر مینه کول په یو زړهٔ کښ نهٔ جمع کیږی۔ او مقصد ددے آیتِ کریمه نه د الله او د هغهٔ د رسول د دشمنانو د دوستیٔ نه په ممانعت کښ مبالغه کول دی، یعنی مومنانو له کافرانو سره د ناستے پاستے او دویٔ سره د ګډون کولو نه بیخی ډډه کول پکار دی، او په دے معامله کښ د مومن په زړهٔ کښ معمولی شان میلان هم نهٔ دے پکار۔ اګرکه د الله دغه دشمنان ستاسو پلرونه، ځامن، ورونه یا نور نزدے رشته دار ولے نهٔ وی، ځکه ایمان د مؤمن نه غوښتنه کوی چه د الله د دشمنانو سره هیڅ تعلق ونهٔ ساتی۔

د سورهٔ آل عمران په (۲۸) آیت کښ الله تعالیٰ دا خبره داسے بیان کړے ده :

﴿لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللَّهِ فِي شَيْءٍ إِلَّا أَنْ تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقَاةً وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ﴾

(مومنانو باندے لازم دی چه ایمان والو پرینبودلو سره کافران دوستان جوړ نهٔ کړی، او څوك چه داسے اوکړی هغه د الله په حفاظت کښې نهٔ دے، مگر دا چه تاسو د دوئ د شر نه په څهٔ طریقه بچ کیدل مقصد وی۔ او الله تاسو د خپل نفس نه یروی)۔

وَلَوْ كَانُوا : یعنی دا خلق اگرکه انسان ته ډیر نزدے دی لیکن کله چه کافران وی نو دشمنی به ورسره کولے شی۔ په باب د دین کښې به د خپلولئ لحاظ نشی کیدے، د الله او د رسول حق مقدم دے په حقوقو د قرابت باندے۔ لکه دا خبره په سورة التوبه کښې هم ذکر شویده۔

يُوَادُّونَ: د دشمنئ صورت دا دے چه که پلار حربی کافر وی نو د هغهٔ سره به قتال کولے شی، او که حربی نهٔ دے نو بیا به د هغه سره د زړهٔ محبت نهٔ ساتی او په دنیاوی امورو کښې د هغهٔ خدمت کولے شی۔

حافظ ابن کثیرؒ د سعید بن عبد العزیزؒ وغیره په حواله لیکلی دی چه دا آیت د صحابه کرامؓ په باره کښې نازل وو (چه هغوی پدے آیت باندے ډیر ښکلے عمل کړے وو)

ابو عبیده بن الجراح ﷛ د بدر په میدان کښې خپل پلار وژلے وو، او ابو بکر صدیق ﷛ په دے ورځ خپل ځوی عبد الرحمن د جنگ د مقابلے دپاره راوغوښتو، (هغه ترے وتښتیدو، بیا روستو چه مسلمان شو نو ځوی ورته وویل چه تهٔ ما لره د بدر په ورځ یو ځای کښې مخے له راغلے ما ښه وژلے شوے لیکن ما وویل چه پلار مے دے، نو هغهٔ ورته وفرمایل : قسم په الله که تهٔ ما لیدلے وے نو ما د الله دپاره وژلے)

او مصعب بن عمیر ﷛ په دے ورځ خپل ورور عبید بن عمیر قتل کړے وو،

او عمر بن خطاب ﷛ په دے ورځ خپل یو نزدے رشته دار وژلے وو، یعنی خپل ماما عاص بن هشام بن المغیره۔

او حمزه، علی او عبیده بن الحارث رضی الله عنهم په دے ورځ خپل د ترونو ځامن (عتبه، شیبه او ولید بن عتبه) قتل کړی وو۔

ام حبیبه رضی الله عنها د ابو سفیان لور وه کله چه صلح حدیبیه ماته شوے وه، او ابو سفیان بیرته دا صلح تازه کوله، نو خپلے لور ام حبیبه رضی الله عنها کره ورغلو، نو

یوه بستره پرته وه هغې ترې اُوچته کړه، ابوسفیان ورته وویل : دا بستره ډېرې څنګه اُوچته کړه (رَغِبْتِ بِهَا عَنِّیْ) دې سره ډېرې زما نه زیاته مینه وکړه او که نهٔ زما عزت کوې بله بستره راوړې؟ هغې وفرمایل : (اَنْتَ رَجُلٌ نَجِسٌ مُشْرِكٌ فَلَمْ أُحِبَّ أَنْ تَجْلِسَ عَلَيْهِ) تهٔ مشرك نجس یې۔ نو ما خوښه نهٔ کړه چه تهٔ په هغې باندې کینې، نو هغهٔ وویل :

(لَقَدْ أَصَابَكِ بَعْدِیْ شَرٌّ) چه زما نه روستو تا ته شر رسیدلے دے۔

(الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله والثلاثة الخلفاء ۲/۱۷۸)

نو دې زنانه د الله دپاره څومره غیرت وکړو، پلار ئې مسافر دے او میلمه راغلے دے او بیا ډېره موده بعد ورسره ملاؤ شویدے۔

او د بدر د قیدیانو په باره کښې عمر فاروق ﷺ وفرمایل : دا قیدیان به قتل کړو چه الله ته خپل اخلاص وښایو۔ او عبد الله بن رواحه ﷺ وفرمایل : دوئ به په اُور وسیزو۔

ابوعامر الراهب (الفاسق) په خپل قوم کښې ډیر عزتمند وو، کله چه مرتد شو او د احابیشو په ملګرتیا کښې جنګ ته راغلو، قریشو ته ئې وویل چه زهٔ د خپل قوم سره مخامخ شم نو یو تن به هم د رسول الله ﷺ سره پاتې نشی، کله چه جنګ کښې رامخامخ شو خپل قوم ته ئې وویل : اَنَا اَبُوْعَامِرٍ۔ زهٔ ابوعامر یم۔ نو قوم ورته وویل : لَا اَنْعَمَ اللّٰهُ بِكَ عَيْنًا يَا فَاسِقُ ۔ الله دې ستا سترګې یخې نکړی اے فاسقه۔ مخکښې به ئې ورته راهب (پیر) وئیلو، اُوس ئې ورته فاسق ووئیلو، دا ورته ایمانی غیرت وائی۔ (سیرت ابن اسحاق)

أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ: اَیْ اَثْبَتَ وَحَكَمَ لَهَا بِالْاِيْمَانِ۔ د داسې مومنانو په باره کښې الله وفرمایل چه الله د دوئ په زړونو کښې ایمان مضبوط کړے، او د هغې دپاره ئې په ایمان باندې فیصله کړیده۔ او لکه څنګه چه په کاغذ باندې لیکل کیږی، او لیکل پکښې دننه ننوتی وی، نو دغه شان د دوی په زړونو کښې ایمان ننوتے دے۔ کنایه ده د ثَبَات او مضبوطوالی نه۔ یعنی دوئ داسې کامل یقین والا دی چه هغه په محبت د غیر الله سره نهٔ محو کیږی لکه د کاغذ نه خط نهٔ جدا کیږی۔

وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ : (۱) د روح نه مراد بعضِ خلقو د الله خاص مدد اخستے دے۔ یعنی که د الله مدد نهٔ وے نو د پلار وغیره سره دشمنی ګران کار دے۔

(۲) بعضو د زړهٔ رڼا،

(۳) او بعضو قرآن او حجت۔ (ربیع بن انسؒ)۔

(٤) او بعضو جبریل ﷺ،
(٥) او بعضو ایمان اخستي دي۔
(٦) یا د روح نه مراد د رحمت دي۔ دریم قول غوره دي۔ وجه دا ده چه په قرآن کښې الله تعالیٰ د کافرانو دشمنی بیانوی، او د مؤمنانو په زړونو کښې خو هسې هم ایمان وی، او د کافرانو سره دشمنی وی نو په قرآن سره نور مضبوط شو۔
نو پدې کښې دا زیرې پروت دې چه الله تعالیٰ به داسې مضبوط ایمان والا خلق په دنیا کښې نهٔ ضائع کوی، د هغه تائید او نصرت به د دوئ سره وی، او په آخرت کښې به ئې داسې جنتونو ته داخلوی چه د هغې لاندې به نهرونه بهیږی، چه په دې کښې به دوئ همیشه دپاره اوسی، او د دوئ الله به د دوئ نه راضي کیږی، په دوئ به د خپلو رحمتونو باران کوی، او دا مومنان به د خپل رب قِسما قِسم نعتمونو موندلو سره د هغهٔ نه خوشحاله شی۔
اُولٰئِكَ حِزْبُ اللهِ : یعنی په دنیا کښې دا خلق د الله تعالیٰ د ډلې افراد دی، د هغهٔ د حکمونو اتباع کوی، د هغهٔ د دشمنانو سره جنګ کوی، او د هغهٔ د دوستانو مدد کوی۔ پدې کښې اشاره ده چه د الله تعالیٰ په ډله کښې به هغه شخص وی چه د دوست (الله) د رضا کولو د وجه نه خپل خپلوان او خپل دوستان پریږدی او د هغوی سره هیڅ محبت او نصرت نهٔ کوی۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات او خصوصیات

١- مسئله د ظهار پکښې ذکر ده۔
٢- آدَابُ النَّجْویٰ او آدَابُ الْمَجْلِس پکښې ذکر دی۔
٣- د نبی کریم ﷺ سره د مشورې نه مخکښې د صدقې حکم چه اُوس منسوخ شوې۔
٤- د حزب الشیطان او د حزب الرحمٰن تذکره پکښې شویده۔
ختم شو تفسیر د سورة المجادله په مدد د رحمٰن او رحیم سره په تاریخ : ٧ شعبان ١٤٣٧ هـ موافق : ٢٠١٦ء مئ ١٣ یوم الجمعه۔



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آیاتها (٢٤)	(٥٩) سورة الحشر مدنية (١٠١)	رکوعاتها (٣)

سورت حشر مدنی دے، په دے کښې خلیریشت آیتونه او درے رکوع دی۔

تفسیر سورة الحشر

نوم: (١) حشر ورته ځکه وائی چه پدے کښې د یهودیانو حشر ذکر شویدے۔
(٢) بل نوم ئے سورة بنی النضیر دے۔ بخاریؒ او مسلمؒ او نورو محدثینو د سعید بن جبیرؓ نه روایت کړیدے چه ما د عبد الله بن عباس ﷺ نه د سورة حشر په باره کښې پوښتنه وکړه، نو هغهٔ ووئیل (قُلْ سُوْرَةُ بَنِي النَّضِيْرِ) چه دا (سورتِ بنی النضیر) دے، یعنی دا سورت د دوئ په باره کښې نازل شوے وو۔
(بخاری ١٤ - باب حدیث بنی النضیر رقم: ٤٠٢٩) ومسلم: (٧٧٤٣)
د نازلیدو زمانه: د قرطبیؒ وینا ده چه دا سورت د ټولو په نیز مدنی دے۔

مناسبت

١- مخکښې سورت کښې ئے د قوانین وضعیه ؤ بدی بیان کړه نو دلته د کفارو ذلت بیانوی کوم چه وضعی قوانین جوړوی، مخکښې هم بیان شو دلته ئے بیا بیانوی۔
٢- مخکښې په وضعی قوانینو رد او د رسول الله ﷺ د مخالفینو ذلت ئے بیان کړو نو دلته د هغوی عملی رسوائی بیانیږی چه وګورئ الله تعالیٰ بنی نضیر رسوا کړل۔
٣- مخکښې د منافقانو یو قسم قبائح وو نو دلته ئے بل قسم قبائح ذکر کوی۔
٤- مخکښې مفسدانو ته زجرونه او رټنے بیان شوے نو دلته تخویف دنیوی بیانوی۔

مقصد د سورت

تَـذۡلِيۡلُ الۡكُفَّارِ وَالۡمُنَافِقِيۡنَ وَتَحۡذِيۡرُ الۡمُسۡلِمِيۡنَ مِنۡ اَوۡصَافِهِمۡ۔ د کفارو او منافقانو ذلیله کول او مسلمانان د هغوئ د صفتونو نه یره ول۔ چه زهٔ به کافران او منافقان ذلیله کوم، او تاسو کښې دې د هغوی په شان صفتونه رانشي۔

په سورت کښې درې حصې دي، په اوله حصه کښې چه اوله رکوع ده، د یهودیانو تذلیل ذکر دې او په دویمه حصه کښې د منافقانو تذلیل، او په آخری رکوع کښې د مسلمانانو یره ول دي د بدو صفاتو د منافقانو نه۔

ددې سورت تفسیر په صحیح طریقې سره د پیژندلو دپاره مناسب معلومیږي چه د امام ابن القیمؒ د زاد المعاد، طبقات ابن سعدؒ، او سیرت ابن هشامؒ وغیره په مدد سره د مدینې د قبائلو اَوس او خزرج او د دوئ په خوا او شا کښې د اوسیدونکو یهودیانو مختصره پیژندنه وکړې شي، لکه دا مخکښې هم ذکر شویدي لیکن د زیاتی فائدې دپاره سره د اضافې نه ذکر کیږي۔

د مدینې په خوا اوشا کښې د یهودو درې مشهور قبائل وسیدل: بنی قینقاع، بنی نضیر او بنو قریظه۔ دا خلق په (۱۳۲ م، ق) کښې د رومیانو د ظلمونو نه تنګ راغلل او د فلسطین نه حجاز ته راغلل، او د اَیله، مقنا، تیماء، وادی القُرٰی، فَدَك او خیبر وغیره په سر سبز علاقو کښې آباد شول۔

د دوئ نه تقریبًا درې صدئ روسته دَ اَوس او خزرج قبائل د یمن د عظیم سیلاب (ډیم راخلاصیدو) د وجې نه د هلته نه وتښتیدل او یثرب کښې آباد شول۔

د زمانې په تیریدو سره بنی قینقاع د خزرج قبیلې سره، او بنی قریظه او بنی نضیر د اَوس قبیلې سره نزدې شو۔

یهود د خپلې سود خورئ او چالاکئ او عیارئ د وجې نه د یثرب او د خوا او شا علاقو په اقتصاد باندې قابض شول، او د خپل وجود باقی ساتلو دپاره به ئې همیشه اَوس او خزرج خپلو کښې جنګول، دې دپاره چه چرته دا خلق متحد نشي او دوئ دباؤ نهٔ کړي۔

نبی کریم ﷺ چه کله مدینې ته تشریف راوړو، نو اَوس او خزرج او د مکې مهاجرین ئې یو ځای کړل او د مسلمانانو یو وحدت ئې قائم کړو، او د یهودو قبائلو سره ئې د امن او د

مدينے نه د دفاع متحده معاهده وكړه، ليكن يهودو ددے معاهدے پابندي ونۀ كړه، او د اسلام او مسلمانانو د ورځ په ورځ زياتيدونكي طاقت د دوئ په زړونو كښ د حسد اُور بل كړو، دوئ نبي كريم ﷺ او مسلمانانو ته د نقصان رسولو دپاره هر ناپاك چل چلول شروع كړو۔

د اَوس او خزرج پخوانئ دشمني ئے د دوئ ترمينځه را اوپارولـه، او د بدر د غزا د كاميابيو نه پس خو د دوئ د بغض او حسد اُور نور هم بل شو۔

د بني نضيرو سردار كعب بن اشرف مكے ته لاړو او د قريشو كافران ئے دوباره په جنگ كولو باندے را اوپارول او هلته نه واپس راتلو سره به ئے د مسلمانانو د ښځو نومونه اخستل او عشقيه شعرونه به ئے وئيل۔ آخر نبي كريم ﷺ ددۀ نه تنگ راغے، او د محمد بن مسلمه انصاري ﷛ په ذريعه ئے هغه قتل كړو۔

بني قينقاع د يثرب په ښار كښ د خزرج قبيلے خوا او شاته اوسيدل، او د لوهارئ كار به ئے كولو۔ دوئ په خپل طاقت او په خپل اُووه سوه ځوانانو باندے ډير ناز كولو۔

يوه ورځ دوئ په رڼړا ورځ يوه مسلمانه ښځه په بازار كښ بربنډه كړه، چه ددے په نتيجه كښ يو مسلمان او يهودي قتل شو۔ ددے واقعے نه پس نبي كريم ﷺ د هغوئ خواته ورغے، هغوئ ته ئے معاهده وريادة كړه، او د شرافت په دائره كښ د اُوسيدو نصيحت ئے ورته وكړو، ليكن هغوئ اُلټه جواب وركړو او وے وئيل چه مونږ د قريشو خلق نۀ يو، چه هغوئ له تا د بدر په ميدان كښ ماتے وركړه، كه مونږ سره ډے واسطه راغله نو تاته به معلومه شي چه سړي چاته وائي ؟۔

د دوئ ددے جواب نه رسول الله ﷺ وپيژندله چه دوئ د مسلمانانو په خلاف د جنگ اعلان كړے دے۔ ډے وجے نه نبي ﷺ د صحابۀ كرامو ديوے ډلے سره د دوئ د محلے محاصره وكړه۔ پنځلس ورځے لا تيرے شوے نۀ وے چه هغوئ د نبي ﷺ نه د خپلو ځانونو امان وغوښتلو۔ نبي ﷺ په دے شرط باندے دوئ ته د دوئ ځانونه وراُوبخښل چه دوئ به خپل ټول مال او اسلحه او د حرفت او صنعت سامانونه پريدي، او د مدينے نه به اُوځي۔

چنانچه هغوئ دغسے وكړل، الله تعالىٰ د دوئ په زړونو كښ داسے رُعب واچولو چه د صديو نه استوګن كورونه ئے د پوره سامانونو سره پريښودل، او هلته نه خيبر طرفته

لاړل۔ دے واقعے نه پس د مدینے یهود څو ورځو پورے خو ویریدونکی پاتے شول، لیکن د اُحد د غزا په ورځو کښ د منافقانو په را پارولو باندے، او خپله د خپل فطری خباثت له وجے نه د مدینے د دفاعی معاهدے پابند پاتے نشول۔

د اُحد د غزا نه پس رسول الله ﷺ د بنو عامرو دوه کسانو ته امان ورکړے وو نو یو صحابی (عمرو بن امیه الضمری ﷺ) هغه دواړه په لاره کښ قتل کړل، هغه پرے خبر نهٔ وو، رسول الله ﷺ ته ئے چه دا خبر ورکړو نو هغه وفرمایل : چه دوی ته خو ما امان ورکړے وو اُوس به ددوئ دیت ورکوو، رسول الله ﷺ سره دوه سوه اُوښان نهٔ وو نو وے وئیل چه بنی نضیرو ته به ورشو او د هغوی نه به قرض دیت وغواړو (لکه چه د دوئ سره په مدینه کښ دا معاهده شوے وه چه د یو بل مدد به کوو۔

او ددے نه دا هم معلومه شوه چه عامو کفارو سره (کله چه حربی نهٔ وی) معاملات کول جائز دی، دا جدا شے دے او د هغوی سره محبت ساتل جدا شے دے)

کله چه نبی کریم ﷺ د بنی نضیرو کلی ته تشریف یوړو، نو دوئ موقع غنیمت وګڼړله او د رسول الله ﷺ د وژلو سازش ئے وکړو او فیصله ئے وکړه چه د نبی ﷺ په سر باندے به د دیوال دپاسه نه یو لوی ګټ راګذار کړی، لیکن الله تعالیٰ په همدغه وخت د وحی په ذریعه هغهٔ ته اطلاع ورکړه، نو هلته نه فورًا صحابه کرامؓ سره واپس مدینے ته راغے، او دوئ ته ئے خبر اولیږلو چه دوئ په لسو ورځو کښ دننه دننه خپل کلے پریدی،

لیکن دوئ د عبد الله بن ابی ابن سلول په وسوسه ددے کار کولو نه انکار وکړو، هغه ورته وئیلی وو چه که تاسو سره جنګ وشو مونږ به درسره یو، او که تاسو د کلی نه وخکلے شوئ مونږ به درسره یو۔

نو دوی پدے خبره دهوکه شو۔ نو نبی ﷺ په ربیع الاول (٤) هجری کال کښ د هغے محاصره وکړه، هغوی خپلو لویو لویو قلعه ګانو ته وختل، دروازے ئے ځان پسے بندے کړے او خوراکونه څکاکونه ورسره ښهٔ ډیر وو، او دلته مسلمانانو ترے ګیره واچوله، ډیرے ورځے محاصره وو (شپږ ورځے) نو رسول الله ﷺ صحابه کرامؓ ته حکم وکړو چه دوئ په دے کجورو ډیره خواری کړیده او پدے باندے ډیر خفه کیږی (یهود هسے هم بخیلان شیونه وو) پدے طریقه به دوئ راکوز شی، کله چه د کجورو وهل او سیزل شروع شول نو دوی ته ډیر زیات درد ورسیدو لکه غشے چه د دوی په زړونو لګیږی، نو

هغوی مسلمانانو ته پیغور ورکړو چه تاسو خو ځان ته اصلاح والا وایئ او دلته کجورے سیزئ دلته منافقانو وویل چه کجورو څه گناه کړے وه. دا خو فساد دے.

کله چه د یهودیانو زړونه وډردیدل نو دیته تیار شول چه مونږ پدے شرط راکوزیږو چه زمونږ وینه به محفوظ وی او مونږ به د مدینے نه وځو او د وسلے نه علاوه چه څه هم په خپلو اُوښانو باندے وړے شو نو هغه به وړو.

نو دوی دروازے او لرگے ویستل او په اُوښانو به ئے اچول او سپك او ذلیله خیبر طرفته روان شول، د دوئ نه صرف دوه سړی یامین بن عُمیر بن کعب او ابو سعد بن وهب مسلمان شو، او باقی خیبر ته، او په دوئ کښ ځینے شام ته لاړل.

د بنی نضیرو همدے جلا وطنئ ته قرآن ﴿ أَوَّلِ الْحَشْرِ ﴾ وئیلے دے.

دا خلق په دویم ځل د عمر بن خطاب ﷺ په زمانه کښ د خیبر نه جلا وطن شول او شام ته لاړل چه دا د دوئ دویم حشر وو، او دریم حشر به ئے د قیامت په ورځ وی چه ددے په باره کښ په بعضِ حدیثونو کښ راغلی دی چه هغه به د شام په سرزمین کښ وی.

نبی کریم ﷺ د دوئ نه پاتے شوی مالونه او اسباب په مهاجرینو کښ تقسیم کړل.

په خیبر کښ دا خلق وسیدل، د دوئ د مشرانو حُیَیُ بن اَخْطب او سَلام بن ابی الحُقَیق او کنانة بن الربیع بن ابی الحُقیق زړونه پرسیدلی وو پدے وجه دوی لږ روستو زمانه کښ قریشو سره رابطے وکړے، او د عربو عام قبائل ئے په رسول الله ﷺ باندے راپاڅول، او د هغے په نتیجه کښ لس زره فوج په مدینه باندے حمله کونکی راغلل چه دے ته غزوه د خندق او احزاب وئیلے شی.

او بیا د حدیبیه نه روستو رسول الله ﷺ په خیبر حمله وکړه، او هغه ئے هم فتح کړه، او د دوئ نه ئے د خیبر د زمکے زمینداران جوړ کړل ځکه چه دوئ سوال زاری کوله، بیا د عمر فاروق ﷺ په زمانه کښ شام ته وشړل شول.

د مال فیء قانون

د دوئ نه ډیر مالونه د صلح په طریقه واخستے شو، نۀ په طریقه د جنگ سره نو دے ته په شریعت کښ مال فَیْء وائی، او د مال فیء قانون دا وی چه دا به ټول بیت المال ته واچولے شی، د رسول الله ﷺ په ژوند کښ ئے قانون دا وو چه دا ټول د رسول الله ﷺ حق وو

چه هغه پرې هر څه کوی، د مجاهدينو پکښې حق نۀ وو، بيا به هغه پرے څه کول؟ نو هغه به د خپلو بيبيانو دپاره د يو کال خرچه جدا کوله، خپلو خپلوانو له به ئے پرے ودونه کول، او فقيرانو مسکينانو ته به ئے د هغے نه ورکړه کوله، او باقی مال به ئے په جهاد کښې استعمالولو او ځان له به ئے يوه روپۍ هم صبا ته نۀ ساتله۔

عمر فاروق ﷺ فرمائی : هغه به د هغے نه په خپل اهل باندے د يو کال نفقه کوله بيا چه به څه پاتے شو نو هغے باندے به ئے وسله او اسونه اخستل دپاره د تيارئ د جهاد فی سبيل الله۔ (بخاری ومسلم)

او د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو د مال فیء قانون دا دے چه دا د ټولو مسلمانانو ترمينځ مشترك دے، اګرکه جهاد کښې ئے شرکت نۀ وی کړے لکه په (۱۰) آيت کښې ددے حکم تفصيل راروان دے چه درے قسمه خلقو ته به ورکولے شی۔

او امير المؤمنين عمر فاروق ﷺ به وئيل :

[لَئِنْ عِشْتُ لَيَأْتِيَنَّ الرَّاعِيَ وَهُوَ بِسَرْوِ حِمْيَرَ نَصِيبُهُ مِنْهَا لَمْ يَعْرَقْ فِيهَا جَبِينُهُ]

که زۀ ژوندے وم نو د حِمْيَر علاقے په يوه باندہ کښې که يو اعرابی وی هغه ته به ئے هم ورکوم چه د هغۀ ددے په باره کښې په تندی خوله هم نۀ وی راغلی۔

(شرح السنه رقم : ۲۷۴۰) مصنف عبد الرزاق (۲۰۰۴۰) وهو صحيح موقوفا)

د اسلامی حکومت فائدے به مسلمانانو ته رسيږی۔

د بنو نضيرو د جلاوطنئ پورتنئ واقعه د همدے سورت مرکزی موضوع ده۔ اوس راشئ چه د سورت مطالعه وکړو۔

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي
پاکي وائي الله لره هغه څيزونه چه په آسمانونو کښې دي او هغه څهٔ چه په
الْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِيْ
زمکه کښې دي، او هغه زورور حکمتونو والا دے۔ خاص الله هغه ذات دے
أَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ دِيَارِهِمْ
چه راويستل ئے هغه کسان چه کافران دي د کتاب والو نه د کورونو د هغوی نه
لِأَوَّلِ الْحَشْرِ مَا ظَنَنْتُمْ أَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْا
په اول راغونډولو سره، ګمان نهٔ کوو تاسو چه وُبه اُوځي دوی او ګمان کولو دوی
أَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَأَتَاهُمُ
چه يقيناً منع کونکي دي دوی لره قلعه ګانے د دوی د الله (د عذاب) نه نو راغے دوی ته
اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ
الله تعالىٰ د هغه ځائے نه چه ګمان نهٔ کولو دوی او وے غورزوله په زړونو د دوی کښې
الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ
يره، ورانول دوی کورونه خپل په لاسونو خپلو او په لاسونو د مؤمنانو
فَاعْتَبِرُوْا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ ﴿٢﴾
نو نصيحت واخلئ اے عقلونو والو۔ (اے پوهے والو)

تفسير: د الله عظمت په اوله کښې ولے ذکر کيږي؟ دا د روستنئ خبرے د تتميم دپاره ذکر کيږي، يعنې الله دومره لوی دے چه ټول مخلوقات د هغهٔ په ذکر کښې لګيا دي، او يهوديان ددے لوی الله عظمت نهٔ پيژني، او د هغهٔ مخالفتونه کوی،

بل: الله پاك دے، د عيب كار نهٔ كوی، د كمال كارونه كوی، نو يهوديان چه ئے ددے علاقے نه وشړل نو پدے كښې ئے كمال دے۔ ځكه چه الله تعالىٰ د ظلم كولو نه پاك دے،

هغـه چـه څـه کـوی، نو د خپل عزت حاصلولو دپاره ئے نهٔ کوی هغه خو عزیز دے او بے فائدے ئے هم نکوی ځکه چه حکیم دے۔

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ: ددے کافرانو نه مراد بنی نضیر دی چه دا د هارون علیہ السلام د اولاد نـه وو، او د رومـانیـانو د ظلم نه تنگ راتلو سره مدینے ته راغلی وو، او د رسول الله ﷺ د راتـلـو انتـظـار بـه ئے کولو۔ کله چه هغهٔ د مکے نه هجرت وکړو مدینے ته راغے نو هـغهٔ سره ئے دشمنی شروع کړه، او نمبر دیته اُورسیدهٔ چه هغوئ ئے د مدینے نه جلاوطن کړل، چه دیته په دے آیت کښ [أول حشر] وئیلے شوے دے۔

مِنْ دِيَارِهِمْ: د اصلی وطن نه شړل ډیره لویه سزا ده، د مودو نه پدے مقام کښ آباد وو، جائیدادونه ئے وو، ددے پریخودل څه آسان کار نهٔ دے۔

اَخْرَجَ کـښ ئے نسبت الله تـعالیٰ ته وکړو ځکه چه دا ویستل د الله تعالیٰ په امر سره وو خپل رسول ته۔

لِأَوَّلِ الْحَشْرِ: پـه اول راغـونـډولـو سره۔ دے ته ئے اول ځکه ووئیلو چه دلته الله تعالیٰ اول ځـل راغـونـډ کړل او بیا ئے خیبر ته وشړل، او دویم ځل په خیبر کښ راغونډ کړے شو او شام تـه وشړل شو۔ لِأَوَّل کښ لام د توقیت (وقت) دپاره دے۔ یعنی په وخت د اول حشر کښ۔

د عـکرمهٔ وینا ده چه د چا چه د قیامت په ورځ د شام زمکه د میدانِ محشر په جوړیدو کـښ شك وی هـغه دِے دا آیت اولولی۔ (ځکه چه دا خلق شام ته تلی وو او د دوی آخری حشر بـه هم دغه ځای ته کیږی)۔

مَا ظَنَنْتُمْ: دا خـطـاب دے صـحـابه کرامو ته۔ یعنی ستاسو په خیال کښ هم دا نهٔ راتله چه داسے قوی بنی النضیر به د خپلو کورونو نه ووځی او دا علاقے به پریدی، او د هغوی هم دا گمان نهٔ وو، لیکن الله تعالیٰ ذلیله کړل۔ ځکه چه څوك د الله نافرمانی کوی، نو که د هغه نه ټوله دنیا تاؤ وی او په ډیر محفوظ ځایونو کښ وی نو هم به ذلیله کیږی،

اَبَى اللّٰهُ اِلَّا اَنْ يُّذِلَّ مَنْ عَصَاهُ۔

(الله به خامخا هغه چا لره ذلیله کوی چه د هغهٔ نافرمانی کوی)

حُصُوْنُهُمْ: جمع د حِصن ده، قلعه ته وئیلے شی، د دوئ څلور قلعه گانے مشهورے وے، وطیح، نطاة، سلالم، کتیبه۔ حُصُوْنُهُمْ فاعل دے د مَانِعَتُهُمْ دپاره۔

فَأَتَاهُمُ اللهُ : اتیان (راتلل) د الله د صفاتو نه دے، په غیر د تاویل او د تشبیه نه لکه په سورة البقره آیت (۲۱۰) کښ ذکر شویدے۔ د الله راتلل حق دی، او ددے معنیٰ په اعتبار د محاورے سره په حکم او امر سره کول هم جائز دی چه الله تعالیٰ خپل نبی ته حکم وکړو چه دوی وباسی۔

يُخْرِبُوْنَ : ۱ - لِشُحِّهِمْ۔ دوی خپل کورونه ورانول یو خو دوی بخیلان وو، د مسلمانانو سره ئے حسد وو چه د دوی په کورونو کښ ونهٔ وسیږی۔

۲ - لِحَاجَتِهِمْ اِلَى الْخَشَبِ ۔ د دوی لرگو ته ضرورت وو۔ د کورونو نه ئے دروازے، درشلے او بشونه راویستل دے دپاره چه دا ځان سره ویسی۔

(قاله الزهریؒ وابن زیدؒ وعروه بن زبیرؓ)

مؤمنانو د هغوی کورونه ددے دپاره خرابول چه دوئ ذلیله کړی او دوئ ته زیات تکلیف ورسوی۔

فَاعْتَبِرُوْا :اَیْ اِتَّعِظُوْا وَتَدَبَّرُوْا ۔ یعنی نصیحت واخلئ او فکر وکړئ۔ اعتبار د عبرت او عبور نه دے، تیریدو او انتقال ته وئیلے شی لکه عَبْرَةٌ اُوښکے ته وائی چه د سترگے نه وبهیږی۔

(۱) واحدیؒ وائی : د اعتبار معنیٰ ده په څیزونو کښ نظر اچول دے دپاره چه پدے سره ددے د جنس نه بل شے معلوم شی۔

(۲) د یو شی نه ذهن بل شی طرفته بوتللو ته وئیلے شی۔

(۳) په بل تعبیر سره : اعتبار او عبرت اخستل دا دی : انتقال د یو معلوم نه (چه په آوریدو یا په لیدلو سره معلوم شی) غیر معلوم ته په طریقه د فکر کولو سره۔

دلته په ډیرو خبرو عبرت اخستل دی :

(۱) تَوَكَّلُوْا عَلَى اللّٰهِ وَلَا تَغْتَرُّوْا بِقُوَاكُمْ كَمَا اغْتَرَّ الْيَهُوْدُ۔

په الله توکل کوئ او په خپلو طاقتونو مهٔ دوکه کیږئ لکه چه یهودیان دهوکه شوی وو۔

(۲) ذِلَّةٌ فِیْ مُخَالَفَةِ الرَّسُوْلِ ۔ د رسول الله ﷺ په مخالفت کولو کښ سراسر ذلت دے اگرکه تا سره به ډیر فوجونه او طاقتونه وی۔ کتابی دے او الله تعالیٰ ئے ذلیله کوی ځکه چه د هغهٔ د رسول مخالف دے،

(۳) د كافرانو په مقابله كښ به الله تعالىٰ د ايمان والو مدد كوى اګركه كمزورى وى. او د الله وعدے او وعيدونه رشتينى دى.

بعض خلق ددے نه قياس ثابتوى، لكه صاحب د نور الانوار ترے ثابت كړے، چه يو حكم قياس كړى په بل باندے د وجه د جهت جامعه او علت مشتركه نه.

دلتـه شرعى لفظ اعتبار ذكر دے، او قياس لفظ نۀ دے ذكر، آؤ دا جدا مسئله ده چه په اسلام كښ قياس شته او كه نۀ ؟ پدے كښ د اهل علمو اختلاف دے،

راجح دا ده چه قياس ته د امت هيڅ ضرورت نشته، ټول مسائل قرآن او حديث كښ شته، البته كه يو عالِم ته په يوه مسئله كښ آيت او حديث نۀ وى معلوم او مجبوره راشى نو د هغۀ دپاره جائز ده چه ځان له قياس وكړى ليكن په بل چا باندے د هغے منل ضرورى نۀ دى لكه امام ابوحنيفةؒ به يو قياس وكړو نو د هغۀ شاګردانو به ورسره نۀ منلو. نو قياس په امت باندے حجت نۀ دے. دومره لوى شے نۀ دے لكه چه بعض كتابونو والا پرے ټول دين روان كړيدے.

ددے مثال داسے دے لكه مرداره چه په وخت د ضرورت كښ پكار راځى.

اصولينو هم ليكلى دى چه قياس مُثبت د احكامو نۀ دے بلكه مُظهر دے، ددے مطلب هم دا دے چه قياس مستقل دليل نۀ دے.

وَلَوۡلَآ أَنۡ كَتَبَ اللهُ عَلَيۡهِمُ الۡجَلَآءَ
او كچرته نۀ وے ليكلے الله تعالىٰ په دوى باندے شړل د وطن نه
لَعَذَّبَهُمۡ فِى الدُّنۡيَا وَلَهُمۡ فِى الۡآخِرَةِ عَذَابُ
خامخا عذاب به ئے وركړے وے دوى ته په دنيا كښ او دوى لره په آخرت كښ عذاب د
النَّارِ ﴿۳﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّوا اللهَ وَرَسُولَهُ
اُور دے. دا پدے وجه چه دوى مخالفت كړے وو د الله او د رسول د هغۀ
وَمَنۡ يُّشَآقِّ اللهَ فَإِنَّ اللهَ شَدِيۡدُ الۡعِقَابِ ﴿٤﴾ مَا
او څوك چه مخالفت كوى د الله نو يقيناً الله سخت عذاب والا دے. هغه

قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَىٰ أُصُولِهَا
چه پریکړې تاسو د اُونې د کجورو نه یا پریخوستے تاسو دے لره ولاړې په خپلو بیخونو
فَبِإِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ ﴿٥﴾
باندې نو دا په حکم د الله سره دی، او دے دپاره چه اُوشرموی نافرمان۔

تفسیر : مطلب دا دے چه که الله تعالیٰ په دوی باندې په تقدیر کښې او د دوئ په قسمت کښې د اول نه جلاوطنی نۀ وې لیکلے، نو الله تعالیٰ به د بنی قریظه ؤ په شان دوی له هم په دنیا کښې د قید او بند او د وژلو سزا ورکړې وې، او د آخرت عذاب خو ورله ضرور شته۔ یعنی د عذاب نه خو خلاصیدے نشی، لیکن تقدیر خو نۀ بدلیږی نو پدے وجه الله تعالیٰ دوی ته په دنیا کښې صرف همدغه د جلاوطنئ او د ذلت سزا ورکړه۔

دا هم دلیل دے چه الله تعالیٰ هر شے په تقدیر کښې لیکلے دے او هغه نۀ بدلیږی۔

اَلْجَلَاءَ: د اخراج او جلاء فرق دا دے چه جلاء هغه شړل دی چه د اهل او اولادو سره وی او اخراج عام دے چه د اهل او اولاد سره وی او که د هغوی نه بغیر وی۔

دویم دا چه جلاء خاص ده په جماعت (ډیرو کسانو) پورې، او اخراج عام دے که د یو شخص وی او که د ډیرو وی۔ (قاله الماوردیؒ)

لَعَذَّبَهُمْ : یعنی الله تعالیٰ به نورې سزاګانې ورکړې وې لکه قید او قتل لکه د بدر د مشرکانو په شان یا په طوفانونو او سیلابو او قحطونو وغیره سره۔

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللّٰهَ : اُوس ددے عذابونو علت بیانوی چه دوئ د الله او د رسول مخالفت کړیدے او هغے سره الله تعالیٰ عذابونه تړلی دی۔ دوئ وعده ماته کړه او د هغۀ نه ئے انکار وکړو۔

مشاقه د شَق نه دے، چودلو او دوه ټکړې کولو ته وائی، او دا په بنکاره مخالفت کښې استعمالیږی، یا مشاقه د شِق نه دے یو طرفته وئیلے شی، یعنی د الله او د رسول نه په مخالف طرف کښې ودریدل۔ یو معصیت دے هغه نفس مخالفت کولو او حکم ماتولو ته وائی۔ او مشاقه دا ده چه انسان په ضد کښې ودریږی، او انکار کوی او خپله خبره د الله او د رسول د خبرے نه غوره ګڼړی، دا وجه ده چه مشاقه کفر دے او معصیت عام دے۔

وَمَنْ يُّشَاقِّ اللهَ: پـدې سورت کښې د اِدغام سره ذکر شو، او په سورة الانفال کښې ﴿وَمَنْ يُّشَاقِقِ﴾ پـه فك ادغـام سـره ذکـر وو، په صورت د ادغام کښې په معنیٰ کښې زيادت وی او هلتـه د عـامـو کـافـرانـو بـحث وو، او دلتـه د يهوديانو مشاقـه ذکر ده، او د دوی کفر او مخالفت ډير سخت وو۔

او دلته ئې صرف د الله تعالیٰ مشاقه ذکر کړه ځکه چه د الله تعالیٰ مشاقه د هغهٔ د رسول مشاقه ده۔

مَا قَطَعْتُمْ: دا جواب د سوال د يهودو او منافقانو دے۔

مـحـمـد بـن اسـحاقؒ د يـزيد بن رومانؒ، قتادهؒ او مقاتل بن حيانؒ قول نقل کړے چه کله رسول الله ﷺ بني النضير محاصره کړل نو د هغوئ د ذليله او رسوا کولو او د هغوئ په زړونـو کـښې د رُعب اچولـو دپاره بـعـضِ صحابهٔ کرامو ته ئې حکم وکړو چه د هغوئ د کهجورو ځينے وُنے پريکړی۔ نو هغوئ ځينے وُنے پريکړے، (تر څلورو سوو پورے) نو بنی نضيرو رسول الله ﷺ تـه دا خبره را اوليـږلـه چـه تـهٔ خو په زمکه کښې د فساد خورولو نه منع کوے بيا د وُنو پريکولو حکم څنګه کوے؟!

او دا وَهُـم د بـعـض مـسـلـمـانانو په زړونو کښې هم راتللے شو چه ونو څه ګناه کړيده چه هغه مال ضائع کړو؟۔

نـو الله تـعالیٰ دا آيت نازل کړو او د نبی ﷺ او د صـحـابـهٔ کرامو کارئې جائز وګنړلو، او د خـلـقـو ذهن سازی ئې وکړه، بلکه دا ئې ووئيل چه دا څهٔ چه وشو د الله په حکم سره وشو، او دے دپاره وشـو چـه الله تـعالیٰ خپل او د خپل رسول دشمنان ذليله او رسوا کړی۔ نو دا بغينهٖ د الله تعالیٰ د حکمت مطابق کار وو۔

ددے په باره کښې حسان بن ثابت ﷛ وفرمايل :

تَـعَـاقَـدَ مَعْشَـرٌ نَصَـرُوْا قُـرَيْشًـا	❁	وَلَيْـسَ لَهُـمْ بِبَـلْـدَتِهِـمْ نَـصِيْـرٌ
هُـمْ اُوْتُـوا الْـكِتَـابَ فَضَيَّعُـوْهُ	❁	وَهُـمْ عُـمْـيٌ مِـنَ التَّـوْرَاةِ بُـوْرٌ
كَـفَـرْتُـمْ بِـالْـقُـرْآنِ وَقَدْ اَبَيْتُمْ	❁	بِتَـصْـدِيْـقِ الَّـذِىْ قَـالَ الـنَّـذِيْـرُ
وَهَـانَ عَـلَـى سَـرَاةِ بَنِـى لُـؤَىٍّ	❁	حَـرِيْـقٌ بِـالْـبُـوَيْـرَةِ مُسْتَـطِيْـرٌ

هغه ډلے چه د قريشو سره ئے مدد وکړو ددے نبی په خلاف ئې تړون وکړو، ليکن د دوی لپاره د

دوی په علاقه کښې هیڅ مددګار نشته۔

❁ دا هغه خلق دي چه دوئ ته کتاب ورکړے شوے وو لیکن دوی هغه ضائع کړو، او دوی د تورات نه راندهٔ او هلاك شویدی۔ تاسو په قرآن باندے کفر وکړو او د هغه خبرو د تصدیق نه مو انکار وکړو کوم چه دا نبی ئے بیانوی۔

❁ او آسان شو په سردارانو د بنی لؤی باندے هغه اُور چه په بُویره علاقه (باغ) کښې خور وور بلیدو۔

او په ترمذی کښې په صحیح سند سره د ابن عباس ﷺ نه روایت شویدے چه کله د دوی ونے پریکړے شوے نو مسلمانانو وویل چه مونږ بعض ونے پریکړے او بعض مو پریخودے نو مونږ به د رسول الله ﷺ نه تپوس کوو چه آیا مونږ چه کومے پریکړے پدے کښې اجر شته او کومے چه مو پریخودے آیا په هغے کښې څه ګناه شته؟ نو دا آیت نازل شو ما قطعتم الآیة۔ (ترمذی فی تفسیر سورة ۵۹، باب ۲) رقم (۳۳۰۲)

مِّنْ لِّيْنَةٍ: د کجورے ونے ته وائی هر قسم چه وی، او دا په بُویره مقام کښې وے۔ (بویره تصغیر د بئر دے، دا د یهودیانو ځای وو)

أَوْ تَرَكْتُمُوْهَا: یعنی یا مو بعضے پریخودے۔

فَبِإِذْنِ اللّٰهِ: یعنی دا د الله حکم وو او په الله باندے اعتراض نهٔ کیږی، او پدے کښې حکمتونه وو چه بعض د هغے نه دا دی:

وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِيْنَ: دے دپاره چه دا فاسقان (چه د الله د طاعت نه وتلی دی) وشرموی، چه څنګه مسلمانان د دوئ په مالونو کښې د خپلے خوښے مطابق فیصلے او تصرف کوی، او دوی غصه کړی۔

ددے آیت نه بعض علماؤ دلیل نیولے دے چه د مصلحت دپاره د کافرانو قلعه ګانے او کورونه نړول یا سیزل یا په مجانیقو باندے ویشتل جائز دی۔

او بعض نورو اهل علمو وئیلی دی چه ددے نه ځان ساتل پکار دی مګر دا چه کافرانو ته سخت زور ورکوی۔ (الترمذی، وفتح البیان)

وَمَا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَا
او هغه مالونه چه راواپس کړيدی الله تعالیٰ په رسول خپل باندے د دوی نه نو نۀ دی
أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ
زغلولی تاسو په هغے باندے څه اسونه او نۀ اُوښان ليکن الله مقرروی رسولان خپل
عَلٰى مَنْ يَّشَاءُ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٦﴾
په هغه چا باندے چه اُوغواړی او الله په هر شی باندے پوره قدرت لرونکے دے۔
مَّا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ أَهْلِ الْقُرٰى
هغه مال چه واپس کړيدے الله تعالیٰ په رسول خپل باندے د کلو والو نه
فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسَاكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ
نو خاص الله لره دی او رسول لره او خپلوانو لره او يتيمانو او مسکينانو او مسافر لره
كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةً ۢ بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ
دی دے دپاره چه نشی اوړيدونکے راوړيدونکے په مينځ د مالدارانو کښې ستاسو نه
وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ
او هغه چه درکوی تاسو ته رسول نو وائے خلئ او هغه څه چه منع کړی يئ تاسو
عَنْهُ فَانْتَهُوْا وَاتَّقُوا اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٧﴾
د هغے نه نو منع شئ، او اُويريږئ د الله نه، يقيناً الله سخت عذاب ورکونکے دے۔

تفسير : اُوس بل وَهم دفع کوی، کله چه دا ټول مالونه (زمکے، جائيدادونه) د بيت المال شو نو ځينو صحابه کرامؓ وغوښتل چه بنی نضيرو پريښی مالونه دے د نورو غنيمت مالونو غونته د دوئ ترمينځه تقسيم کړے شی، نو الله وفرمايل چه دا غنيمت نۀ دے بلکه دا مال فیء دے چه د رسول الله ﷺ په رعب سره حاصل شويدے، او ددے دپاره صحابو جنګ نۀ وو کړے، او نۀ په دے پسے لرے سفر شوے وو، بلکه صرف دوه

ميـلـه پيدل مسافت كولو سره د بنى نضيرو محلاتو ته اُورسيدل او هغه ئے د څلور واړو طرفونو نه راګير كړل، او الله د دوئ په زړونو كښې رعب واچولو، دے وجے نه په غير د څۀ مقابلے نه صرف د يو څو ورځو نه پس ئے هر څۀ پريښودل او هلته نه لاړل۔

دے مال ته د اسلامى فقه په اصطلاح كښې (مالِ فىء) وئيلے كيږى۔

مـال فـئ دے تـه وائـى چـه پـه صـلـح سـره يا په جزيه سره حاصل شى، يا كافر مسلمان بـادشـاه تـه هـديـه او تـحـفـه راوړى، او دا د غـنيمت د مال غونتـه تقسيمېږى نۀ، بلكه نبى كريم ﷺ له اختيار وو چه هغه څنګه غواړى په دے كښې تصرف كولے شى۔

أَفَاءَ: د فـىء نـه دے پـه مـعـنـىٰ د رجـوع سـره، او دلـتـه هم دے مال خپـل اصلى مالك ته رجوع وكړه چه هغه مسلمان دے۔

فَـمَـا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ : يـعـنـى تـاسـو نۀ دى زغلولى په هغے باندے اسونه او نۀ اُوښان، يعنى په جنګ سره نۀ دى حاصل شوى۔

يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ: يعنى الله تعالىٰ خپل رسول په دوئ باندے مسلط كړو او هغۀ ته ئے رعب وركړو۔

مَّا أَفَاءَ اللهُ: مخكښې دا حكم بيان شو چه مال فئ ټول د رسول الله ﷺ سره خاص وو، نو اُوس ددے تـفـصـيـلـى مصرف بيانوى، ګويا كه دا آيت تشريح ده د مخكښې آيت۔ او اهل الـقـرىٰ ذكـر كولو كښې اشاره ده چه د مال فئ دا حكم يواځے د بنو النضير د مالونو پورے خـاص نـۀ دے بلكه كه د نورو كافرانو نه په دغه طريقه مالونه حاصل شى نو هغه به هم مـال فـئ وى۔ لـكـه ددے كلو نه مراد فدك، او بعض كلى د بنى قريظه ؤ او بنو النضير او خيبر وغيره دى۔

فَلِلّٰهِ: يعنى ددے اختيار او تصرف د الله تعالىٰ دپاره دے۔ مطلب دا دے چه د الله خوښه ده چـه هـغـه پـكـښې څـنګه فيصله كوى۔ او دا مطلب نۀ دے چه د الله دپاره به پكښې حصه مـقـرروله شى۔ او د هغۀ فيصله دا ده چه دا به د هغۀ د رسول او د هغۀ د خپلوانو او عامو يـتـيـمـانـو او مسـكـيـنـانو او مسافرو دپاره وى۔ ځكه چه دا مال د بيت المال شو او د بيت المال نه به په دغه طريقه خرچ كولے شى۔

وَلِلرَّسُوْلِ: دا لام د استحقاق دے۔

نو رسول الله ﷺ به ترے د خپلو بيبيانو له خرچه وركوله، ميلمانۀ به ئے راتلل هغوى ته

به ئې ورکول، یتیمانان او مسکینان به راتلل، او خپل خپلوانو کښې به ئې چه څوك محتاج وو هغوی له به ئې پرېے ودونه کول او خرچه به ئې ترېے ورکوله، بیا به چه څه پاتې شو نو د جهاد دپاره به ئې پرېے سامانونه اخستل۔

د ذوی القربیٰ نه مراد د رسول الله ﷺ خپلوان دی، چه هغه بنو هاشم او بنو المطلب دی ځکه چه دوی د صدقې او زکاتونو اخستو نه بند دی، نو په مال فیء کښې ورته حق ورکړې شو۔

وَالْيَتٰمٰى: ددې نه مراد ماشومان نا بالغ دی، مذکر وی او که مؤنث، خو چه پلار ئې مړ وی۔

كَىْ لَا يَكُوْنَ: اُوس الله تعالیٰ ددې فائده بیانوی چه الله مال فیء په تاسو کښې تقسیم نکړو د غنیمت په شان، ځکه چه که تاسو کښې غنیمتونه هم تقسیم کړې شی، او دا مال هم تقسیم کړې شی، نو ددې مطلب خو به دا شی چه تاسو به سم مالداره شئ، ټول مالونه او جائیدادونه او زمکې باغونه به د یو څو مجاهدینو شی، او نور ډیر غریبانان به محروم پاتې شی۔

او پدې کښې په رسم د جاهلیت باندې رد دې په باره د مال فئ کښې ځکه چه په جاهلیت کښې به مالِ فئ او مالِ غنیمت کښې پوره څلورمه حصه د رئیس د هغوی وه، ددې وجه نه هغه ته به مرباع یا ربیع القوم وئیل کیدو، او باقی درې حصو کښې به هم د هغه اختیار وو که چا له به ئې ورکولې او که نهٔ ورکولې، او اکثر به ئې مالدارو کښې تقسیمولې۔

او دا دلیل دې چه په اسلام کښې سرمایه دارانه نظام نشته لکه چه پدې کښې سوشلسټ نظام هم نشته بلکه هر چا ته به که مالدار وی او که غریب، د هغهٔ شرعی حق ورکیدې شی۔ نو دلته مقصد دا دې چه ما کوم قانون کیخودو نو دې کښې د غریبانانو فائده ده، بیا به یو تن ډیر مالداره شوې وې او نورو مسلمانانو ته به هیڅ فائده نهٔ ملاویدې۔

دُوْلَةً: په پیښ د دال سره۔ مَا يُدَالُ بَيْنَ الْاَيْدِىْ۔ د هغه مال نوم دې چه هغه د خلقو ترمینځ اوړی راوړی، د هغوی ترمینځ ادل بدل کیږی۔ یعنی مالداره خلق به ئې د غریبانو نه علاوه خپل مینځ کښې اړوی راړوی۔

ددې وجه نه عمر فاروق ﷺ به فرمایل: مَا عَلٰى وَجْهِ الْاَرْضِ مُسْلِمٌ اِلَّا وَلَهٗ حَقٌّ فِىْ هٰذَا الْفَىْءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ۔ په مخ د زمکه یو مسلمان نشته مګر د هغه دپاره پدې مال

فیٔ کښې حق شته سوئ د غلامانو ستاسو نه۔
وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُوْلُ : یعنی تاسو ته چه زما د رسول (ﷺ) د طرفنه څه ملاؤ شی نو په هغې راضي وسیږئ۔ ددے ډیر مصداقات دی۔
(۱) مال درته درکوی، مال غنیمت درکوی، (۲) مال فیٔ درکوی،
(۳) هر فعل او قول او ترک درکوی۔
یعنی کوم عمل او قول او ترک چه رسول الله ﷺ کړے وی نو مونږ به په هغے عمل کوو او کوم نه ئے چه منع کړی وی، یا ئے پریخودے وی نو د هغے نه به ځان ساتو۔
لنډه دا چه هر هغه شے چه شریعت مونږ ته راکړے وی، او مونږ ته په صحیح حدیث سره رارسیدلے وی، نو دا مونږ ته رسول ﷺ راکړیدے او د کوم کار نه ئے چه منع کړی یو نو د هغے نه به منع کیږو۔ او دا آیت په رد د بدعاتو کښې ډیر فائده مند آیت دے۔
علامه مهدویؒ فرمائی :
[هٰذَا يُوْجِبُ اَنَّ كُلَّ مَا اَمَرَ بِهِ النَّبِيُّ ﷺ اَمْرٌ مِنَ اللّٰهِ وَاِنْ كَانَتِ الْآيَةُ خَاصَّةً بِالْغَنَائِمِ]
(قرطبی)
دا آیت دا خبره لازموی چه هر هغه شے چه نبی کریم ﷺ په هغے حکم کړے وی نو هغه به د الله د طرفنه حکم وی اګر که دا آیت خاص د غنیمتونو په باره کښې نازل دے لیکن الفاظ ئے عام دی۔
پدے تعمیم باندے دلیل حدیث د بخاری او مسلم دے د ابن مسعود ﷺ نه، چه هغه یو ځای کښې بیان وکړو : [لَعَنَ اللّٰهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ لِخَلْقِ اللّٰهِ]
الله تعالیٰ په خال لګونکے او خالونه طلب کونکے او وروځو ویستونکو او د حسن دپاره غابښونه نری کونکو زنانو باندے لعنت وئیلے دے چه دوی د الله پیدائش بدلونکے دی)۔
نو د بنو اسد یوے زنانه چه نوم ئے ام یعقوب وو، ورته ووئیل : چه ما ته دا خبره رارسیدلے ده چه تا فلانئ فلانئ خبرے کړیدی؟، هغه ووئیل :
[وَمَا لِيَ لَا اَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَهُوَ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ]
څه وجه ده ما لره چه زۀ به په هغه چا لعنت نۀ وایم چه رسول الله ﷺ پرے لعنت وئیلے دے او هغه د الله په کتاب کښې ذکر دے)۔ نو هغې ووئیل :

[لَقَدْ قَرَأْتُ كِتَابَ اللّٰهِ مَا بَيْنَ الدُّفَّتَيْنِ فَمَا وَجَدْتُّ فِيْهِ شَيْئًا مِنْ هٰذَا]

ما خو د الله کتاب د دواړو گتو ترمینځ لوستلے دے ما خو پدے کښې ددے نه هیڅ خبره نۀ ده موندلے۔ نو هغه ورته وفرمایل:

[لَئِنْ قَرَأْتِيْهِ لَوَجَدْتِيْهِ۔ اَمَا قَرَأْتِ ﴿ مَا آتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾]۔

که تا صحیح لوستلے وے خامخا به دِے پکښې موندلې وے، آیا تا نۀ دی لوستلی وما آتاکم الرسول۔ (هغه شے چه تاسو ته ئے رسول الله ﷺ درکوی هغه واخلئ او د څه نه مو چه منع کوی د هغے نه منع شئ)، نو هغے ووئیل : آؤ دا خو پکښې شته، نو هغه وفرمایل : [فَاِنَّهٗ قَدْ نَهٰى عَنْهُ] نو رسول الله ﷺ ددے نه منع کړیده۔

(بخاری فی تفسیر سورة ٤٩، باب ٤، واللباس باب ٨٤، ٨٦ ومسلم فی اللباس حدیث : ١٢٠)

نو عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دغه حدیث پدے آیت کښې داخل کړیدے۔

لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِيْنَ الَّذِيْنَ أُخْرِجُوْا مِنْ
(دا مالونه) دپاره د فقیرانو مهاجرینو دی هغه کسان چه ویستلے شویدی د
دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا
کورونو خپلو نه او د مالونو خپلو نه لټوی دوی فضل د الله تعالیٰ او رضا (د هغۀ)
وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ أُولٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُوْنَ ﴿٨﴾ وَالَّذِيْنَ
او دوی مدد کوی د الله او د رسول د هغۀ دا کسان هم دوی رشتینی دی۔ او هغه کسان
تَبَوَّؤُوا الدَّارَ وَالْإِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ
چه تیار کړے ئے دے کور او ایمان (ئے حاصل کړیدے) مخکښې د دوی نه، مینه کوی
مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ
دوی د هغه چا سره چه هجرت کوی دوی ته او نۀ موندۀ کوی دوی په
صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّا أُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ
سینو خپلو کښې تنګی د هغے نه چه هغوی (مهاجرینو) ته ورکړے شی او غوره کوی

عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ
په خپلو ځانونو باندې (بل چا لره) اګر که په دوی باندې لوږه وي او هغه څوك
يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۹﴾
چه اُوساتلے شو د بخل د نفس خپل نه نو دغه کسان هم دوی کامیاب دي۔
وَالَّذِيْنَ جَآءُوْا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ
او هغه کسان چه راغلي دي روستو د دوی نه وائي دوی اے ربه زمونږ! بخنه اُوکړه
لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ
مونږ ته او ورونو زمونږ ته هغه کسان چه مخکښې شویدي زمونږ نه ایمان ته
وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
او مهٔ ګرځوه په زړونو زمونږ کښې کینه د هغه کسانو سره چه ایمان ئے راوړیدے
رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۰﴾
اے ربه زمونږ! یقیناً ته شفقت کونکے رحم کونکے ئے۔

تفسیر: د مفسرینو پدے باره کښې دوه رائے دي:

(۱) یو دا چه ددے ځای نه مستقل کلام شروع دے، پدے آیت کښې د فقراء مهاجرینو صفت بیانوی، وروستو آیت کښې د انصارو، او دریم آیت کښې د عامو مؤمنانو صفت ذکر کوی۔

(۲) لیکن دے کښې راجح دا ده چه دا درے واړه ددے صحابه کرامؓ او مؤمنانو صفات هم دي او ورسره د مال فئ سره لګیږی چه په مال فئ کښې د دوئ حق زیات دے، نو دلته اصل مستحقین د مال فئ ذکر کوی چه هغه درے قسمه خلق دی۔ او علت د استحقاق ته اشاره کوی، چه دوی کښې ښکلے صفات دي۔

نو لِلْفُقَرَآءِ: دا بدل دے د لِذِی الْقُرْبٰی نه، یا خبر د مبتداء محذوفے دے، اَیْ اَمْوَالُ الْفَیْءِ لِلْفُقَرَآءِ۔ دغه مال فئ به فقیرانو ته ورکولے شي الخ۔

او دا صفات د مهاجرینو وو په اول وخت کښ، روستو اکثر پکښ مالداره شول۔ او مطلب دا دے چه هرکله چه دے خلقو د الله د دین دپاره سختنه تیره کړه نو دوی د مالونو نه محروم ول نهٔ دی پکار۔

مِنْ دِيَارِهِمْ: اشاره ده چه د دوئ کورونه او مالونه وو لیکن د هغے نه ئے هجرت کړیدے نو فقیران شویدی ځکه چه دغه مالونه د دوئ د قبضے او د تصرف نه بهر شول۔

يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا: یعنی اجر او ثواب په دنیا کښ او رضوان په آخرت کښ۔

وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ: یعنی د هجرت نه روستو دعوت او جهاد ئے نهٔ دے پریخودے بلکه هغه جاری ساتی۔

هُمُ الصّٰدِقُوْنَ: ددے نه معلومیږی چه د هر چا سابقه او خواری پیژندل پکار دی، یو تن د دین دپاره خواری کړیده، نو د هغهٔ اکرام به کولے شی، داسے به نهٔ وائے چه د الله تعالیٰ د دین دپاره ئے خواری کړیده خپل کار به کوی، او الله به اجر ورکوی۔ بلکه د هغهٔ خدمت او عزت به کولے شی او په مالونو کښ به برخه ورکولے شی۔

وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُا الدَّارَ: دے کښ هم دوه قوله دی، یو دا چه پدے کښ د انصارو صفت کول مقصد دے، او دویم قول دا دے چه دا هم مستحقین د مال فئ دی، نو دا عطف دے په (اَلْمُهَاجِرِيْنَ) باندے او پدے کښ د انصارو پنځه صفات ذکر کوی۔

تَبَوَّؤُا الدَّارَ: الف لام عهدی دی یعنی دار د هجرت او د نصرت، او ددے نه مراد مدینه ده۔ یعنی دوی مدینه کښ د مهاجرینو دپاره تیارے کړے وو چه دلته به راځی او مونږ به ئے ځانونو سره دیره کوو۔

وَالْاِيْمَانَ: تبوّ د ایمان سره تعلق نهٔ لری، نو دلته فعل پټ دے۔ اَیْ وَحَصَلُوا الْاِيْمَانَ۔ او حاصل کړے ئے دے ایمان لره۔ نو دا د قبیلے د (عَلَّفْتُهَا تِبْنًا وَمَاءً بَارِدًا) نه دے، یعنی (ما په ښاروو باندے بوس او یخے اُوبه وخوړلے)۔ اُوبه نهٔ خوړلے کیږی بلکه څکلے شی نو دلته فعل پټ دے، اَیْ وَسَقَيْتُهَا مَاءً بَارِدًا۔ ومے څکلے په هغے باندے یخے اُوبه۔

دویم دا چه دلته ئے د ایمان سره تَبَوُّءُ ذکر کړے پدے کښ تمکن ته اشاره ده، یعنی دوئ ایمان داسے مضبوط کړے گویا کـه د هغے نـه ئے کور جوړ کړے، او کور کښ خلق مضبوط وی، نو دوی په ایمان کښ دغه شان مضبوط ناست دی، نو حال ئے په منزله د محل گرځولے دے۔

بعض وائی : تَبَوُّءُ مستلزم دے معنیٰ د لزوم لره۔
وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً : د حاجت نه مراد دلته حسد او بغض او کینه او خفګان دے۔ ځکه چه د حاجت سره دا څیزونه لازم دی، نو دلته په طریقه د کنایه سره ذکر ملزوم دے مراد تربے نه لازم دے۔ رسول الله ﷺ به مهاجرینو له مال ورکولو او انصارو له به ئے نهٔ ورکولو نو د هغوی زړه به نهٔ تنګیدو چه مونږ له څنګه مالونه نهٔ راکوی۔ داسے به ئے نهٔ وئیل چه زمونږ هم حاجتونه دی، مونږ ته دِے هم مالونه راکړے شی۔ نو ځکه دلته د حاجت حاصل معنیٰ په تنګئ سره کیږی۔
یا ضمیر راجع دے انصارو ته۔ یعنی دوی لره چه په مال فئ کښ هر څو مره مال ورکړے شی اګرکه لږ وی لیکن دوی په هغے سره خفګان نهٔ کوی۔
وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ: اَیْ حَاجَةٌ وَفَقْرٌ۔
خصاصه حاجت او غریبئ او لوږے ته وائی۔ په اصل کښ د خَصَاص البیت نه دے، د کور چاودو ته وئیلے شی۔
یعنی په خپلو کورونو کښ د حاجت او لوږے باوجود همیشه دا غواړی چه د دوئ مهاجرین ورونه په آرام اووسیږی، او د هغوئ بال بچ ته تکلیف ونهٔ رسی۔
ایثار دے ته وائی چه انسان خپله برخه پریدی او بل ته ئے ورکړی، دے ته تَفْضِیْلُ الْغَیْرِ عَلَی النَّفْس هم وائی، یعنی بل لره په ځان باندے غوره کول په خوراك، مکان او سورلئ وغیره کښ۔ ددے آیت شان نزول خاص واقعه وه بیا آیت عام دے۔
بخاریؒ او مسلمؒ کښ روایت دے چه ﴿وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾ د ابو طلحه رضی الله عنه په باره کښ نازل شوے وو، یو میلمه راغلو رسول الله ﷺ تولو بیبیانو کره جواب ولیږلو څه شته ؟ هغوی وویل : چه صرف اُوبهٔ دی۔ نو وے فرمایل : څوك به داسے وی چه دے میلمه ته نن شپه میلمستیا ورکړی، الله به پرے رحم وکړی؟۔
نو ابو طلحه انصاری رضی الله عنه وفرمایل : زهٔ به ئے ورکړم اے د الله رسوله !۔ نو کور ته ئے بوتللو ام سُلیم ته ئے وویل چه د رسول الله ﷺ د میلمه اکرام وکړه، څه شته ؟ هغے وویل : صرف د ماشومانو خوراك شته، وے فرمایل : ماشومان اُوده کړه او په څه چل سره ډیوه مړه کړه چه میلمه سره کینو او لاسونه خوزه وو چه میلمه خوراك وکړی، نو دواړو په لوږه شپه تیره کړه، سهار کښ چه رسول الله ﷺ ته راغے نو هغه ورته وفرمایل :

[لَقَدْ عَجِبَ اللّٰهُ مِنْ صَنِيْعِكُمَا]

الله تعالیٰ ستاسو د دواړو د کار نه تعجب وکړو او دا آیت نازل شو۔ (مسلم: ٥٤٨٠)

بیا په ټولو انصارو کښې دا کمال وو چه د مهاجرینو دپاره ئې خپلې ښځې طلاقې کړې او خپلو مالونو کښې ئې شریك کړل۔

وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ: یعنی دوئ ددې اُوچتو صفتونو او اخلاقو د وجه نه د دوئ د زړونو نه د مال غیر شرعي محبت ویستلې شوې دې، دا خلق د الله تعالیٰ په لاره کښې د خرچ کولو نه د ذرې هومره نۀ یریږي، دې وجې نه الله تعالیٰ وعده وکړه چه هغه به دوئ له د دواړو جهانو سعادت او نیك بختي ورکوي۔

د شح مصداقات

[شُح] په عربئ ژبه کښې بُخل ته وائي۔

(١) ابن مسعود ﷺ او ابن جریرؒ وئیلي دي چه دلته ددې نه مقصد دې (اَنْ تَاْكُلَ مَالَ اَخِيْكَ ظُلْمًا) چه تۀ د خپل ورور مسلمان مال په ناحقه وخورې۔

(٢) د سعید بن جبیرؒ وینا ده چه ددې معنیٰ (حرام مال خوړل، او زکاة نۀ ورکول دي)۔

(٣) [اَنْ تَطْمَحَ عَيْنُ الرَّجُلِ اِلٰى مَا لَيْسَ لَهٗ] چه د سړي سترګې هغه شي ته پورته شي چه د هغه نۀ وي۔ یعني پردي مال ته ګوري چه په څه طریقه ئې حاصل کړي۔

(٤) اَلْحِرْصُ الشَّدِيْدُ الَّذِىْ يَحْمِلُهٗ عَلَى الْحَرَامِ۔ یعني سخت حرص چه هغه ئې په حرامو باندې راپورته کړي۔

(٥) طاووسؒ وائي: شح دا دې چه خپل مال نۀ ورکوي او د پردي مالونو حاصلولو کوشش کوي۔

(٦) عَدَمُ اِرَادَةِ الْخَيْرِ لِلْغَيْرِ۔ چا ته د خیر اراده نۀ ساتل او د چا په ترقئ باندې خفه کیدل۔

(٧) ابن زیدؒ وائي چه چا حرام مال وانۀ خستۀ، او الله چه د کوم شئ د ورکولو حکم کړې دې هغه ئې منع نۀ کړو، هغه د [نفس د شح] نه بچ شو۔ او د شح نه د بچاؤ صورتونه په سورة النساء کښې ذکر شویدي۔

عبد الرحمن بن عوف ﷺ به په طواف کښې صرف [اَللّٰهُمَّ قِنِىْ شُحَّ نَفْسِىْ] دعاء کوله۔ چا ورته ووئیل چه دا څنګه صرف یوه دعاء کوې؟ نو هغه وفرمایل: تاسو ته نۀ ده

معلومه چه الله فرمائی څوك چه د شح د نفس نه وساتلے شو نو دے کامیاب شو۔ [فَاِنِّیُ اِذَا وُقِیْتُ شُحَّ نَفْسِیُ لَمُ اَسُرِقُ وَلَا اَزُنِ وَلَا اَقْتُلُ] کله چه زۀ د نفس د بخل نه بچ شم نو غلا به نۀ کوم او زنا او قتل به نۀ کوم۔

او په حدیث کښې دی : [لَایَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْاِیْمَانُ فِیُ قَلْبِ عَبْدٍ اَبَدًا]

ایمان او شح دواړه د یو بنده په زړه کښې نۀ راجمع کیږی۔ (احمد : ۹۶۹۱) صحیح بطرقه والطبرانی فی الکبیر (۱۰۵۷)۔

ځکه چه ایمان د خیر خواهئ نوم دے او شح د بد خواهئ۔

انصار صحابۀ کرام رضوان الله علیهم اجمعین د الله د ګواهئ مطابق ددے ایمانی او اخلاقی بیمارئ نه پاك وو۔

امام بخاریؒ ددے آیت په تفسیر کښې د عمرؓ نه روایت کړے، دا فرمائی چه زۀ د خپل ځان نه روستو راتلونکی خلیفه ته د [اولنو مهاجرینو] د حقونو د حفاظت او د هغوئ د احترام د لحاظ ساتلو وصیت کوم، او د انصارو د خیال ساتلو نصیحت کوم چه دوئ په دار الهجرت (مدینه) کښې د مخکښې نه آباد دی او د مهاجرینو د راتګ نه مخکښې ئے په خپلو زړونو کښې د ایمان شمع روښانه کړے ده۔

وَالَّذِیْنَ جَاؤُوْا مِنْ بَعْدِهِمْ : پدے کښې هم همغه دوه قوله دی، یو دا چه دا مبتداء ده او روستو ئے خبر دے، او پدے کښې د عامو مؤمنانو صفت ذکر دے۔ مګر ظاهر دا ده چه دا عطف دے په اَلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِیْنَ باندے نو دا هم مستحقین د مال فئ دی۔

ددے نه دوه قسمه مؤمنان مراد دی، یو هغه کشران صحابه کرامؓ چه کله د هجرت زمانه ختمه شوه، یعنی د مکے فتح وشوه او اسلام قوی شو نو دوی مدینے ته هجرت وکړو۔ یعنی دوئ د اولنو مهاجرینو نه پس راغلل چه هغوئ د خپلو کورونو نه د اسلام د وجے نه په اُوخکلو باندے مجبوره شوی وو۔

دارنګه ددے نه مراد هغه تمام مومنان دی چه هغه د مکے د مهاجرینو او د مدینے د انصارو نه پس قیامته پورے راځی۔

ددے دویمے رائے مصداق د سورۀ التوبه (۱۰۰) آیت دے، چه په هغے کښې الله تعالیٰ فرمایلی دی : ﴿وَالسَّابِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهَاجِرِیْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِیْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ رَّضِیَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ﴾ (اوکومو مهاجرینو او انصارو چه د ټولو نه مخکښې اسلام ته وړاندے

والے کرے دے، او څومره خلق چه په اخلاص سره د دوئ تابعدار دی، الله ددے تولو نه راضی شو، او دوئ ټول د الله نه راضی شول)۔

شان صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین

يَقُوْلُوْنَ: یعنی د اولنو مهاجرینو او د مدینے د انصارو نه پس د راتلونکو مومنانو دپاره په مال فیء کښ د حقدار کیدو دا شرط دے چه کله دا خلق د خپل رب مخے ته خپل لاسونه غزوی، نو د خپل ځان سره د خپلو تیرو شوو مسلمانانو ورونو دپاره هم دعاء کوی، او دا ددے خبرے دلیل دے چه د ایمان په صفت کښ د شرکت په وجه مومنان د یو بل په کار راځی، یو بل سره محبت کوی، او یو بل له دعاء کوی، او دا سوال کوی چه اے زمونږ ربه! زمونږ په زړونو کښ د مخکنو مؤمنانو دپاره کینه مۀ اچوه، او زمونږ محبت د دوئ سره باقی وساته۔

وَلِاِخْوَانِنَا : ددے نه مراد دینی ورونه دی۔ الله تعالیٰ دوی ته دا حکم وکړو چه دوی دِے خپل ځان دپاره بخنه وغواړی، او دارنګه د مخکنو مهاجرینو او انصارو دپاره۔

کوم خلق چه د صحابهٔ کرامو نه نفرت کوی، د هغوئ په خِلاف په زړهٔ کښ بغض او کینه لری، دوئ نه به الله هیڅ کله راضی کیږی نهٔ، اودوئ به د دنیا او آخرت د نیک بختیا نه محرومه کړے شی، برابره خبره ده که هغه رافضی شیعه ګان وی یا نور مُلحدین چه هغوئ په زړهٔ کښ د صحابهٔ کرامو قدر نهٔ کوی۔

امام مالكؒ ددے آیت نه استدلال کولو سره وئیلی دی [مَنُ كَانَ يُبُغِضُ اَحَدًا مِنُ اَصُحَابِ مُحَمَّدٍ ﷺ اَوُ كَانَ فِيُ قَلُبِهٖ غِلٌّ، فَلَيُسَ لَهٗ حَقٌّ فِيُ فَيُءِ الُمُسُلِمِيُنَ]

چه کوم رافضیان صحابه کرامو سره بغض کوی یا ورته کنځل کوی، هغوئ لپاره په مالِ فیءٔ کښ هیڅ برخه نشته، ځکه چه په دے آیت کښ د مومنانو ذکر شوے هیڅ صفت په دوئ کښ نهٔ موندلے کیږی۔ (قرطبی وابن کثیر والتحریر)

ابن ابی لیلیٰ نه قرطبیؒ نقل کړیدی چه مؤمنان په درے قسمه دی کوم چه پدے درے آیتونو کښ ذکر شویدی، نو تهٔ کوشش کوه چه ددے درے واړو نه ونهٔ وځے۔ (یعنی د صحابه کرامو سره بغض مهٔ کوه، او د هغوی تابعداری کوه، او هغوی دپاره دعاء کوه)۔

او دغه شان خبره د مصعب بن سعدؓ نه هم نقل ده چه دوه ډلے تیرے شویدی او یوه پاتے ده

نو دا به ډيره ښه وي چه ته ئې پدې آخري مرتبه کښې پاتې شې۔

علي بن الحسينؒ يو تن ته وويل چه هغهٔ د عثمان ؓ باره کښې بدې خبرې کولې چه ته نهٔ په مهاجرينو کښې داخل ئې او نهٔ په انصارو کښې [فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ مِنْ اَهْلِ الْآيَةِ الثَّالِثَةِ لَتَخْرُجَنَّ مِنَ الْإِسْلَامِ] نو که په دريمه ډله کښې هم داخل نشوې (والذين جاؤوا من بعدهم) نو خامخا به د اسلام نه وځې۔ (قرطبي والدر المنثور)

عائشه رضي الله عنها فرمائي : [أُمِرْتُمْ بِالْإِسْتِغْفَارِ لِأَصْحَابِ مُحَمَّدٍ ﷺ فَسَبَبْتُمُوْهُمْ] تاسو ته دا حکم شوې وو چه تاسو به صحابه کرامو ؓ له بخنه غواړئ نو تاسو هغوی ته کنځل او رد بد وئيل شروع کړل، ما ستاسو د نبي نه آوريدلي دي چه دا امت به نهٔ ختميږي تردې چه روستني خلق به په مخکنو (نيکانو) باندې لعنتونه ووائي۔

(قرطبي)

مفسر ابن عاشورؒ ليکي : [وَقَدْ دَلَّتِ الْآيَةُ عَلٰى أَنَّ حَقًّا عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ أَنْ يَّذْكُرُوْا سَلَفَهُمْ بِخَيْرٍ، وَأَنَّ حَقًّا عَلَيْهِمْ مَحَبَّةُ الْمُهَاجِرِيْنَ وَالْأَنْصَارِ وَتَعْظِيْمُهُمْ]

دا آيت دلالت کوي چه په مسلمانانو باندې دا حقه او لازمه ده چه دوی به خپل سلف (مشران) په خير سره ذکر کوي، او په دوی باندې حقه او لازمه ده چه د مهاجرينو او انصارو سره به محبت کوي او د هغوی اکرام او تعظيم به کوي۔ (التحرير والتنوير)

امام قرطبيؒ د شعبيؒ نه نقل کړيدي چه يهود او نصارىٰ د شيعه ګانو نه په يو خصلت کښې غوره دي، هغه دا چه د يهوديانو نه تپوس وکړې شو چه ستاسو په ملت کښې څوک غوره دي؟ نو هغوی وائي : اصحاب د موسىٰ عليه السلام۔

او د نصاراؤ نه تپوس وکړې شو چه ستاسو په ملت کښې څوک غوره دي ؟ نو هغوی وائي : اصحاب د عيسىٰ عليه السلام او د روافضو نه تپوس وکړې شو چه ستاسو په ملت کښې شريان څوک دي؟ نو دوی وائي اصحاب محمد ﷺ۔ حال دا چه دوئ ته خو حکم شوې وو چه هغوی دپاره به استغفار غواړي نو دوی ورته کنځل شروع کړل۔

(قرطبي ۱۸/ ۳۳ سورة الحشر)

صاحب د فتح البيان وائي : [فَمَنْ لَّمْ يَسْتَغْفِرْ لِلصَّحَابَةِ عَلَى الْعُمُوْمِ وَيَطْلُبْ رِضْوَانَ اللّٰهِ لَهُمْ فَقَدْ خَالَفَ مَا اَمَرَهُ اللّٰهُ بِهٖ فِيْ هٰذِهِ الْآيَةِ] که چا د صحابه کرامو دپاره په طريقه د عموم باندې بخنه ونهٔ غوښته، او د هغوی دپاره ئې د الله رضا طلب نکړه (يعني رضي الله

عنهم ئے هغوی ته نۀ وئیل) نو دۀ خلاف وکړو د هغه امر نه چه الله تعالیٰ دۀ ته پدے آیت کښې کړیدے۔ پاتے لا دا چه هغوی سره کینه ساتی نو دۀ ته شیطان رسیدل کړیدی او جهنم ته روان دے مګر دا چه الله تعالیٰ ته التجاء او زاری وکړی او هغۀ ته توبه ویاسی۔

نو پدے آیت کښې دا اشاره هم ده چه کوم نیکان سلف تیر شویدی د هغوی بدی وئیل او هغه په بدئ سره ذکر کول سو چه حرام دی۔ البته د هغه چا بدی د فائدے دپاره ذکر کول جائز دی چه هغه غلط خلق تیر شوی وی، مبتدعین او مشرکان وی۔

د امتِ اسلامیه همدا درے قِسمه مومنان دی چه دوئ د مالِ فئ حقدار دی، چه دوئ ته مال ورکول په حقیقت کښې اسلام ته نفع رسول دی۔

الله تعالیٰ نه دعاء ده چه هغه په خپل فضل او کرم سره مونږ هم په دغه خلقو کښې شامل کړی۔ آمین، یا رب العالمین۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نَافَقُوا يَقُولُونَ لِإِخْوَانِهِمُ
آیا تۀ نۀ ګورے هغه کسانو ته چه منافقت ئے کړیدے وائی دوی ورونو خپلو ته
الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ
هغه کسان چه کفرئے کړیدے د اهل کتابو نه که چرته تاسو اُوویستلے شوئ
لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ
خامخا اُوځو به مونږ تاسو سره او تابعداری به نۀ کوو مونږ په باره ستاسو کښې
أَحَدًا أَبَدًا وَإِنْ قُوتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ
د هیچا هیڅکله، او که چرته جنګ اُوکړے شو تاسو سره خامخا مدد به کوو مونږ
وَاللّٰهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿١١﴾ لَئِنْ
ستاسو او الله ګواهی کوی چه یقیناً دوی خامخا دروغژن دی۔ که چرته
أُخْرِجُوا لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ وَلَئِنْ
اُوویستلے شی هغوی، نۀ اُوځی دوی (منافقان) د هغوی سره او که چرته

قُوْتِلُوْا لَا يَنْصُرُوْنَهُمْ وَلَئِنْ

جنگ اُوکړے شي د هغوی سره مدد به ونکړی دوی د هغوی سره او که چرته

نَّصَرُوْهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۲﴾

مدد اُوکړی دوی د هغوی سره خامخا اړوی به شاګانے بیا به مدد نشي کیدے د دوی سره۔

تفسیر: پدے رکوع کښ د منافقانو بدی بیانیږی ځکه چه ددے د بنو نضیرو د محاصرے او بیا د هغوئ د وجلا وطنئ سره تعلق دے۔

کله چه نبی کریم ﷺ د صحابه کرامو په ملګرتیا کښ د هغوئ علاقه محاصره کړه نو د منافقانو سردارانو هغوئ ته پیغام اولیږلو چه تاسو ثابت قدم پاتے شئ، او د خپلو قلعه ګانو نه مۀ را اوځئ، مونږ به تاسو مسلمانانو ته همداسے نۀ پریدو، اوکه چرے د جنګ نمبر راغے نو تاسو سره به اوګه په اوګه جنګیږو، او مونږ به درته وسلے درکوو، اوکه تاسو د مدینے نه لاړئ نو مونږ به هم تاسو سره ځو۔

او دوی ئے پدے طریقه په جنګ باندے راپاڅول ځکه چه د رسول الله ﷺ سره ئے ډیره سخته دشمنی لرله او زړونه ئے خوټ کیدل۔

نو بنی نضیر د منافقانو ددے دروغژنے وعدے په وجه څۀ ورځے خو مضبوط پاتے شول، لیکن کله چه دوئ د هغوئ د طرف نه څۀ عملی اقدام ونۀ لیدلو نو د الله کړو ته اُوګوره چه په دوئ باندے د مسلمانانو سخت رعب او دبدبه پریوته، او فورًا ئے رسول الله ﷺ ته خبر وکړو چه دوئ ډِے ونۀ وژلے شی، بلکه دلته نه ډِے دوئ ته د وتلو اجازت ورکړے شی، په دے شرط چه دوئ به په خپلو اُوښانو باندے د اسلحے نه علاوه څو مره سامانونه چه وړلے شی، وړی به ئے۔

لِإِخْوَانِهِمْ: یعنی دواړه په کفر کښ ملګری دی، نو دا ئے باطل دینی ورونه دی۔ او ددے اهل کتابو نه مراد بنو نضیر دی، لکه چه سورت د هغوی په حق کښ نازل شویدے۔ لیکن د عموم د الفاظو د وجه نه بنو قریظه هم پکښ داخلیدے شی لکه بعض مفسرینو (بغوی، قرطبی وغیره) هغوی ته هم ضمیرونه راجع کړیدی۔ او منافقانو د دواړو ډلو سره دغه شان خبرے کړے وے۔

وَلَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ : یعنی ستاسو په باره کښې د هیچا خبره نۀ منو، د رسول الله ﷺ تابعداری نۀ کوو۔ دومره ښکاره دشمنان وو۔

لَئِنْ اُخْرِجْتُمْ: پدې آیت کښې د منافقانو د دروغ بیانئ، دروغ تړلو او د نفاق او بزدلئ نور وضاحت کوی، فرمائی چه دوئ کله د خپلې وعدې پابندی وکړه چه دوئ د بنی نضیر ملګرتیا کړې وې، د هغوئ سره ئې جنګ کړې وې، اوکه چرې دوئ مجبوراً هغوئ سره په جنګ کښې ملګرتیا هم کړې وې نودوئ به هیڅ کله ثابت قدم نۀ پاتې کیدلې، بلکه دوئ به هغوئ په میدان جنګ کښې تنها پریښودلی وې او دوئ به تښتیدلی وې۔

وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ : یعنی بالفرض که منافقان د بنو نضیرو د مدد دپاره راغلی وې۔

ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ: دا د دواړو سره لګی۔ یعنی بیا به د منافقانو او یهودیانو سره هیڅ مدد نشی کیدې د طرف د الله نه۔ او منافقانو ته به د هغوی نفاق هیڅ فائده ورنکړی بلکه ذلیله به شی۔

لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ
خامخا تاسو سختې یرې والا یئ په سینو د دوئ کښې د الله نه دا پدې وجه چه دوی
قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿۱۳﴾ لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ جَمِيْعًا اِلَّا فِيْ قُرًى
یو قوم دې چه نۀ پو هیږی۔ جنګ نشی کولې دوی تاسو سره په یو ځائې مګر په کلو
مُّحَصَّنَةٍ اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ بَاْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيْدٌ
مضبوطو کښې یا شاته د دیوالونو نه، جنګ د دوی په مینځ خپل کښې سخت دې،
تَحْسَبُهُمْ جَمِيْعًا وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى
ګمان به کوې تۀ په دوی باندې یو ځائې (متفق) او زړونه د دوی یو بل نه جدا دی
ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۴﴾
دا پدې وجه چه دوی یو قوم دې چه عقل نۀ لری۔

تفسیر : پدې آیت کښې مسلمانانو ته د یهودیانو اومنافقانو د بزدلئ او د دوئ د میدان

جنگ پرېښودلو او تښتېدلو سبب دا ښودلے شوے دے چه دوئ د الله تعالیٰ په مقابله کښې ستاسو د تورو د پریکولو نه زیات یریږی،

دوئ د الله مقام د سره پېژندلے نهٔ دے، دے وجے نه د دوئ زړونه د الله په ځای د خلقو د ویرے نه لړزیږی چه دوئ د هیڅ نفع یا نقصان قدرت نهٔ لری۔ ځکه چه د منافقت صفت دا دے چه همیشه د مخلوق جانب غوره کوی په جانب د الله تعالیٰ باندے۔

د الله نه نهٔ یریدل، د الله پرواه نهٔ کول او د مخلوق پرواه ډیره کول۔ حقیقی پوهه خو دا ده چه بنده د خپل خالق مقام او مرتبه اوپیژنی، هم هغهٔ نه یریږی، هم هغهٔ نه امید لری، او د هغهٔ محبت په هر یو کس او په هر یو شئ باندے مخکښې وساتی۔

لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ : په دے آیتِ کریمه کښې د یهودیانو او منافقانو بزدلی او مسلمانانو نه د دوئ د یریدلو حال بیان شوے چه اے مسلمانانو ! په دوئ کښې تاسو سره د مخامخ مخامخ مقابلے کولو جرأت نشته۔ دوئ به په تاسو باندے دیوالونو پورے پناه اخستو سره یا د بندو قلعه ګانو د دننه نه د حملے کولو کوشش کوی۔

لَّا يَفْقَهُوْنَ : فقه د کلام په ظاهری مفهوم او د هغے په اشاراتو او حکمتونو باندے پوهیدل دی، او دا د علم او معرفت او فهم نه اُوچته درجه ده۔ یعنی دوی د الله د احکامو په رازونو او حکمتونو نا پوهه دی۔

لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ : یعنی یهودیان او منافقان به ستاسو جنګ ته ښکاره راونهٔ وځی او نهٔ پدے باندے قدرت لری۔

قُرًى مُّحَصَّنَةٍ : په داسے کلو کښې به درسره جنګ کوی چه د هغے نه دیوالونه تاؤ دی (قلعه بند وی) چه مسلمانان په هغے ننشی آوړیدلے، یا د دیوالونو نه اخوا وی بلکه د هغے نه به غشی راولی۔ او دا خبر د الله تعالیٰ بیخی رشتینی دے چه یهودیان هیڅکله د مسلمانانو مقابلے ته مخامخ نهٔ دی راوتی۔

بَأْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيْدٌ: ددے بأس نه مراد غیظ او عداوت دے۔ او زړونه د دوی مختلف دی او نیتونه ئے جدا جدا دی۔

سُدیؒ وائی : ددے نه مراد اختلاف د زړونو د دوئ دے تر دے چه دوئ په یوه خبره نهٔ متفق کیږی۔

مجاهدؒ وائی : **بَأْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيْدٌ** یعنی په کلام او د دهمکیانو سره۔ یعنی یو بل ته به

سختې خبرې او سختې دهمکیانې ورکوي چه مونږ به خامخا داسې وکړو.
او مطلب دا دې چه کله دوي یواځې شي نو ځانونه سختئ او جنګ او قوت ته منسوب کوي، او کله چه دشمنانو سره ملاؤ شي، نو بیا ذلیله شي او عاجزي وکړي او شکست وخوري.
په بل تعبیر سره: دا چه وئیلې کیږي چه دوئ ډیر قوت او همت والا دي، نو دوئ ددې مظاهره په خپلو کښې د جنګیدلو په وخت کوي، لیکن کله چه د دوئ واسطه د مسلمانانو سره راشي، نو د دوئ تمام قوت ختم شي، ځکه چه څوك د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) خِلاف جنګ کوي، الله تعالىٰ هغه بزدل او ذلیلهٔ جوړوي.
بعض وائي ددې مطلب دا دې چه د دوئ جنګ په نسبت د دوئ همزولو ته سخت وي لیکن اې مسلمانانو! ستاسو په مقابله کښې ضعیف دي ځکه چه الله تعالىٰ د دوئ په زړونو کښې رعب اچولې دې. اولِ مطلب غوره دې.
تَحْسَبُهُمْ جَمِيْعًا وَقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى: یعنی په ظاهره کښې خو دوي متفق ښکاره کیږي لیکن په زړونو کښې د یو بل نه مخالف دي، ځکه چه دوي د عقل او پوهې نه محروم دي ځکه خو ایمان نهٔ راوړي کوم چه د حقیقي محبت او اتحاد او قوت ذریعه ده.
قتادة وائي: [فَاَهْلُ الْبَاطِلِ مُخْتَلِفَةٌ آرَاؤُهُمْ، مُخْتَلِفَةٌ شَهَادَتُهُمْ، مُخْتَلِفَةٌ اَهْوَاؤُهُمْ، وَهُمْ يَجْتَمِعُوْنَ فِيْ عَدَاوَةِ اَهْلِ الْحَقِّ].
د باطل پرستو رائې او مذهبونه مختلف دي، ګواهي ئې مختلفه ده، او خواهشات ئې مختلف دي، (څوك د یو پسې روان او څوك د بل پسې) لیکن د اهل حقو په دشمنئ باندې راجمع دي. حق پرستو ته اتفاق کوي.
صاحب د محاسن التنزیل لیکي چه په پورتنو درې آیتونو کښې مومنان د یهودیانو او منافقانو سره په جنګ کولو باندې راپارولې شوي دي، او دوئ لهٔ زیرې ورکړې شوې چه دوئ هغوئ سره کله هم جهاد کوي، د الله په تائید سره به دوئ ته په هغوئ باندې فتح ملاویږي. (محاسن التنزیل وفتح البیان)

كَمَثَلِ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ
(د دوی حال) پشان د حال د هغه کسانو دے چه مخکښ د دوی نه دی
قَرِيبًا ذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ
په نزدے زمانه کښ، نو اُوڅکله هغوی سزا د کار خپل او هغوی لره عذاب
أَلِيمٌ ﴿١٥﴾ كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنْسَانِ اكْفُرْ
دردناك دے۔ پشان د حال د شیطان دے، کله چه اُووائی انسان ته کفر اُوکړه
فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنْكَ إِنِّي أَخَافُ
نو هرکله چه هغه کافر شی وائی هغه، یقیناً زهٔ جدا یم ستا نه یقیناً زهٔ یریږم
اللهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَا أَنَّهُمَا فِي النَّارِ
د الله نه چه رب د مخلوقاتو دے۔ نو شو انجام د دواړو دا چه دواړه به په اُور کښ وی
خَالِدَيْنِ فِيهَا وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ ﴿١٧﴾
همیشه به وی دواړه په هغے کښ او دا سزا د ظالمانو ده۔

تفسیر : اُوس منافقانو او یهودیانو ته مثال ورکوی او هغوی ته یره ورکوی چه اے منافقانو او یهودیانو ویریږئ، ستاسو حال به داسے شی لکه د هغه کافرانو قریشو چه په نزدے زمانه کښ هغوی د خپل کفر سزا او بد انجام په دنیا کښ وڅکله چه هغه د بدر واقعه ده ځکه چه غزا د بنو نضیرو په ربیع الاول څلورم هجری کښ وشوه، او غزا د بدر په دویم کال په رمضان کښ شوے وه۔ نو تقریباً یو نیم کال مینځ کښ تیر شوے وو۔

یا ددے نه مراد د بنی قینقاع یهودو مثال دے کوم چه اُوس یو څو ورځے مخکښ د دوئ دے لوظئ او شرارتونو د وجے نه د مدینے نه په جلا وطنئ باندے مجبوره شول۔

د بنی قینقاع بے لوظی او بیا د دوئ د جلا وطنئ تفصیل ددے سورت د تفسیر په ابتداء کښ تیر شوے دے۔

یا دلته د منافقانو تشبیه د بنو نضیرو سره ورکړے شویده چه اے منافقانو! د خپلو

شرارتونو نه بند شئ ګنے ستاسو حال به د بنو نضيرو په شان جوړ شي چه اُوس لړ وخت مخکښې ئے د خپل کفر سزا وڅکله۔
ابن جرير وائي چه ظاهر دا ده چه پدے کښې عموم دے، دے ټولو ته اشاره صحيح ده۔
كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ: اُوس د منافقانو او بنو نضيرو مثال د شيطان سره ورکوی۔ يعني کومو منافقانو چه بنی نضير د مسلمانانو په خلاف په جنګ کولو باندے راپاڅول، دوئ سره ئے دروغژنه وعده وکړه چه دوئ به د هغوئ سره ملګرتيا کوی، اوکه د مدينے د پريښودلو موقع راغله نو دوئ به هم د هغوئ سره اوځی، د دوئ مثال د شيطان دے چه هغۀ انسان لـه دهوکه ورکړه او وے وئيل چه تۀ د الله نه انکار وکړه، او زما تابعداری اوکړه، اوکله چه وخت راشي نو زۀ ستا د مدد دپاره تيار يم۔
او کله چه انسان ددۀ په خبرو کښې راشي، او د الله نه انکار وکړی، نو ددے ويرے نه چه هسے نۀ الله دے هم په عذاب کښې شريك نۀ کړی، فوراً د دغه انسان او د هغۀ د کفر نه خپله بيزاری اعلان کړی، او ووائي چه زۀ د الله رب العالمين نه يريږم چه که ما ستاسو مدد وکړو نو هغه به ما را اونيسي، ليکن نۀ شيطان ته د دۀ بيزاری پکار راځی، او نۀ کافر ته د شيطان وعده پکار راځی۔ يعني شيطان د انسان نۀ په ژوند کښې پکار راځی او نۀ ئے په وخت د مرګ کښې پکار راځی، او دواړه هميشه دپاره په جهنم کښې غورزولے کيږی۔ او چونکه دوی په خپلو ځانونو ظلم کړے نو پدے وجه ورته دا سزا ورکولے شي۔
او داسے خبره شيطان د بدر په ورځ مشرکانو ته هم کړے وه۔
د بدر په غزا کښې شيطان د سراقه بن مالك په شکل راغلے وو، نو هلته ئے چه کله جبريل عليه السلام وليدو نو دا ئے وويل چه زۀ د الله نه يريږم۔ نو اول کښې ئے کافران په مسلمانانو راواچول، بيا ئے په عين موقعه کښې خپے ويستلے۔ دا د منافق کار وی۔ او په آخرت کښې به هم شيطان داسے خپے راکاږی لکه سورة ابراهيم (۲۱) آيت کښې راغلی دی۔ ﴿ فَلَا تَلُوْمُوْنِیْ وَلُوْمُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ﴾
(ما مۀ ملامته کوئ او ځانونه ملامته کړئ) يعني ما خو تاسو ته صرف دعوت درکړے نو تاسو زما خبره ولے منله ؟۔
مجاهدؒ وائي : دا مثال د هر هغه انسان دے چه کفر او شرك او نفاق کوی په وسوسه د شيطان انسی يا جنیّ سره، بيا کله چه انسان په کفر کښې کلك شي نو شيطان ترينه براء

ت وکړي۔

حافظ ابن جریرؒ او ابن کثیرؒ او قرطبیؒ لیکلي دي چه دا آیت د برصیصا په باره کښې نازل وو چه دا په بني اسرائیلو کښې یو عابد (نیك) سړے وو، ډیر عبادتونه به ئے کول، چا به نشو خطاء کولے، نو ابلیس خپل ملګري راجمع کړل چه دا شخص به څوك ګمراه کړي، نو یو شیطان چه د ابیض په نوم وو هغه ووئیل چه زهٔ به ئے ګمراه کړم۔

نو اَبیض د یو انسان په شکل ځان نه بزرګ جوړ کړو او ددهٔ د عبادت خانے په خوا کښې دیره شو، او ډیرے عبادتونه ئے شروع کړل، نو برصیصا ولیدل چه دا شخص خو زما نه ډیر عبادتونه کوي، نو مینه ئے ورسره پیدا شوه، نو هغه خپلے عبادتخانے ته ننویستو، ډیره موده پدے حال وو دواړو به عبادتونه کول، نو یوه ورځ ابیض ووئیل چه ډیره موده شوه اُوس زهٔ درنه ځم زما څه کار پیدا شویدے،

او د یارانے دوستانے تقاضا دا ده چه یوه فائده منه خبره درته ښایم، هغه دا چه دا فلانے دم واخله (یو دم ئے ورته وخودو) چه دا په کوم بیمار باندے اچوے نو سمدست به ښهٔ کیږي، او مخلوق ته فائده ورکول پکار دي،

بیا دا ابیض به تللو او په خلقو به کیناستو او بیا به ئے د هغهٔ زړه ته وسوسه واچوله چه فلانے ځای کښې برصیصا بزرګ موجود دے هغه به درباندے دم واچوي، تیك به شے، نو خلق به راتلل او برصیصا به پرے هغه دم اچولو،

نو ابیض به ترے پاځیدو نو خلق به ښهٔ کیدل، (د شیطان د خلقو د ګمراه کولو دا طریقه هم اُوس ډیره روانه ده، کله په یو ماشوم یا زنانه باندے کیني، بیا ورته ووئیل شے چه اصحاب بابا او فلانی بابا له لاړ شه نو چه هلته لاړ شي، شیطان ترے پاځي نو ښهٔ شي نو د خلقو عقیده په بابا باندے جوړه نو مشرك شي)

پدے کښې زنانه پرے راماتے شوے، پدے کښې یوه ښائسته زنانه راغله نو د برصیصا ورسره مینه پیدا شوه، نو د هغے ورونو ته ئے ووئیل چه دا دلته پریدئ دوه درے ورځے به پرے دم واچوم ښه به شي۔ نو بیا ئے د هغے سره زنا وکړه، بیا شیطان ورته دعوت ورکړو دا مړه کړه، ورونه به ئے خبر شي، قتل به دِے کړي نو هغه ئے قتل کړه، ورونه ئے راغلل، جینئ څه شوه؟ دهٔ ووئیل : هغه خو دلته نه وتلے ده، زهٔ ترے نهٔ یم خبر۔ شیطان هغوی ته د انسان په شکل راغے او د دغه جینئ قبرئے ورته وخودو۔

ورونو برصیصا راونیولو او مرئ کښې ئے ورته پرے واچولو چه تا مونږ وژنو، ته قاتل او زانی ئے، نو پدے وخت کښې ورته ابیض راښکاره شو چه زهٔ دِے خلاصولے شم خو ما ته یوه سجده وکړه، نو دے د خپل مرګ نه ویریدو او هغه ته ئے سجده وکړه، نو هغوی پرے راغلل او په توره ئے قتل کړو، او ابیض ورسره په عین موقعه کښې هیڅ مدد ونکړو نو کافر او مرتد د دنیا نه تیر شو۔ دا یوه اسرائیلی قصه ده، کیدے شی چه په دے آیت کښې ورته اشاره وی او ظاهر د قرآن دا دے چه دا د بنو نضیرو سره لګیږی۔

(احمد فی الزهد والبخاری فی تاریخه والحاکم وصححه والبیهقی وابن ابی حاتم (۱۸۸۶۰) وغیرهم بالفاظ متقاربة واللفظ للحاکم) (فتح البیان وابن کثیر وابن جریر الطبری ۳۳/۲۸)

حافظ ابن کثیرؒ وائی : دا قصه ددے آیت یو مثال دے، او دا مطلب نهٔ دے چه ددے مثل نه مراد همدا قصه ده، بلکه دا هم پکښې داخلیږی۔

دے واقعے نه دا معلومیږی چه په پردو زنانو باندے په خلوت کښې دمونه مهٔ اچوه خامخا به په نقصان کښې پریوزے۔ لکه اُوس هم ډیر دمګری په دے نقصان کښې واقع دی۔

فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَا: یعنی د شیطان او د کافر انسان انجام۔

خَالِدَيْنِ فِيهَا: ځکه چه یو داعی دے او بل مدعوّ دے، او دواړه ګمراهان دی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ
اے ایمان والو ! اُویریږئ د الله نه او اُودِے ګوری هر نفس چه څه ئے لیږلی دی
لِغَدٍ وَاتَّقُوا اللهَ إِنَّ اللهَ خَبِيْرٌ بِمَا
مخکښې د صبا دپاره او اُویریږئ د الله نه یقیناً الله خبردار دے په هغه عملونو
تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللهَ
چه تاسو ئے کوئ۔ او مهٔ کیږئ پشان د هغه کسانو چه هیر ئے کړو الله تعالیٰ
فَأَنْسَاهُمْ أَنْفُسَهُمْ أُولٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ ﴿۱۹﴾ لَا يَسْتَوِىْ
نو الله هیر کړل دوی نه نفسونه د دوی، دا کسان هم دوی نافرمان دی۔ برابر نهٔ دی

أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُوْنَ ﴿۲۰﴾ لَوْ أَنْزَلْنَا
اُور والا او جنت والا، جنتیان هم دوی کامیاب دی۔ که چرته مونږ رالیږلے وے
هٰذَا الْقُرْآنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ
دا قرآن په یو غر باندے خامخا لیدلے به وے تا عاجزی کونکے، چاودونکے د ېرے
اللّٰهِ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾
د الله نه او دا مثالونه بیانوو مونږ دپاره د خلقو دے دپاره چه دوی فکر اُوکړی۔

تفسیر : پدے رکوع کښې ایمان والو سره خبرے اترے کول دی۔ دے دپاره چه دوئ د نفاق د صفاتو نه ځان بچ کړی، او پدے کښې درے اوامر او یو نهی ذکر کوی۔

(۱) اول اِتَّقُوا اللّٰهَ : نه مراد تقوی د ایمانیاتو ده، یعنی د هر قسم شرك او کفر نه ځان ساتل دی، او د دویم اِتَّقُوْا نه مراد د اعمالو تقوی ده۔ یعنی د اوامرو پابندی کول او د نواهیو نه ځان بچ کول۔

(۲) یا اوله تقوی د آخرت نه ده، او دویمه تقوی د الله د علم نه۔ یعنی د الله نه ځکه یره وکړه چه هغه ستا د هر عمل نه خبردار دے، حساب به درسره کوی۔

(۳) یا تکرار د تاکید دپاره دے۔ ځکه چه تقوی یو مقصودی شے دے نو ډیر تاکید ته ضرورت لری۔

(٤) یا اوله تقوی په اداء د واجباتو او فرائضو کښې ده ځکه چه دے سره ئے ﴿وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾ وئیلے دے، او صبا دپاره تیاری کول په اعمالو سره کیږی۔ او دویمه تقوی په ترك د محارمو کښې ده ځکه چه دے سره ئے اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ وئیلے دے۔

وَلَا تَكُوْنُوْا: ربط :

اَلْغَفْلَةُ تُضَادُّ التَّقْوٰى شَدِيْدًا۔ د آخرت او د الله نه غفلت کول د تقوی نه سخت خلاف دی۔ ځکه چه متقی دے ته وائی چه الله ورته هر وخت یاد وی۔ لکه موسیٰ عليه السلام الله ته وئیلی وو : (اَیُّ عِبَادِكَ اَتْقٰی؟) ستا کوم بنده ډیرے تقوی والا دے؟ هغه وفرمایل:

(اَلَّذِیْ يَذْكُرُ وَلَا يَنْسٰى) هغه شخص چه الله یادوی او هغه هیڅکله نهٔ هیروی۔

فَأَنْسَاهُمْ أَنْفُسَهُمْ : سوال دادے چه ځان د انسان نه څنګه هیریږی، وږے تږے شی،

ګرمی ئې وشی نو هغه ته خو ځان یاد وی؟
جواب دادے چه دلته مضاف پټ دے، اَیْ اَنْسَاهُمْ حُظُوْظَ اَنْفُسِهِمْ ـ یعنی د دوی نه ئې خپله برخه د فائدے هیره کړه، او هغه فائده ده: (مَعْرِفَةُ دَاءِ النَّفْسِ وَدَوَائِهَا)
یعنی د نفس هلاکونکے بیماری او د هغے دوائی ئې ترے هیره کړه، پدے به نهٔ پو هیږی چه زما هلاکت په څه کښې دے او نجات مې په څه کښې دے، د نفس مثال داسے دے لکه شاړ پتے چه دا به صفاء کول غواړی، که صفا نکړے شی نو هیڅ دانے پکښې نهٔ راخیژی، او دا هله کیږی چه انسان د هغے ګندونه وپیژنی او بیا د هغے صفائی وکړی، ښه ګیاه (ښکلے صفات) باقی پریدی او ګنده او بے فائدے ګیاه (بد صفات) ترے وباسی۔
نو د ځان د جوړولو کوشش پکار دے، نو الله به د دوی نه د ځان جوړولو توفیق واخلی، د ځان جوړولو ته به ئې فکر هم نهٔ وی، شپیته کاله به ئې تیر شی، پدے به خبر نهٔ وی چه زهٔ څنګه ژوند تیروم، او کوم طرفته روان یم۔ او ما د الله دپاره کومه مجاهده او د هغه کومه بندګی وکړه۔
او دا لویه سزا ده چه انسان څومره الله تعالیٰ لره هیره وی نو الله به دهٔ لره د خپل ځان نه هیره وی، د ځان هیڅ فائده به ونکړی۔ او څومره چه الله ډیر یادوی نو بنده به د ځان ډیره اصلاح وکړی۔ د الله یادول په خوله هم وی او په زړه هم وی، هر ځای کښې د الله حکم ته متوجه کیدل، سفر وی او که حضر۔
یواځے سُبْحَانَ اللّٰهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نهٔ دی مراد، منافقانو نه الله څنګه هیر دے، د کافرانو دوستی کوی، داسے نهٔ وائی چه زمونږ په سر باندے بره الله دے، داسے نهٔ وائی چه زهٔ د رسول الله ﷺ خلاف کوم، یادول د الله اصل کښې په زړه باندے وی۔
ددے ځای نه علماؤ وئیلی دی: (اَلْعِلْمُ بِاللّٰهِ اَصْلُ كُلِّ عِلْمٍ) په الله باندے علم راوستل د ټولو علمونو بنیاد دے، ناشنا علمونه په انسان باندے راکولاویږی۔
د نسیان نه مراد دلته قصداً هیره ول دی چه دے ته غفلت وائی۔
اَلْفَاسِقُوْنَ: یعنی دوئ پوره فاسقان دی، او پوره فسق هغه دے چه په عقیده او عمل دواړو کښې د الله د دین نه وتلے وی، نو پدے کښې اشاره ده چه د الله تعالیٰ ذکر هیرول د فسق سبب دے۔
لَا يَسْتَوِىٓ اَصْحَابُ النَّارِ وَاَصْحَابُ الْجَنَّةِ: پدے آیت کښې زیات ترغیب دے هغه

شی اختیارولو ته چه بنده الله ته نزدے کوی، او د هغهٔ د کرامت کور ته ئے داخلوی۔
دارنګه دا د مخکښ دپاره علت دے، یعنی مؤمنان دِے د کافرانو د مشابهت نه ځان وساتی پدے وجه د دویٔ عاقبت کښ پوره فرق دے۔
دا خو هر چا ته معلومه ده چه جهنمیان او جنتیان برابر نهٔ دی نو بیا دلته ولے دا خبر ورکوی؟ جواب دا دے چه پدے آیت کښ تنبیه ده منافقانو او مؤمنانو ته، چه تاسو سخت غافلان یئ چه د جنتی او جهنمی فرق نشئ کولے، که ستاسو په نیز دواړه برابر نهٔ وے نو بیا به تاسو ضرور د جنتیانو صفات اختیارولے او د جهنمیانو د صفاتو نه به مو ځان ساتلے،
ددے مثال داسے دے چه یو تن بل ته ووائی : (اَكْرِمْ زَيْدًا فَاِنَّهٗ اَبُوْكَ) د زید اکرام کوه ځکه چه هغه ستا پلار دے، نو هغهٔ ته خو دا معلومه ده چه زید د هغهٔ دپلار دے خو پدے کښ تنبیه ورکوی چه که هغه تا پلار ګنړلے نو تا به ئے ضرور اکرام کولے۔ نو ګویا که منافقان دومره غافلان شویدی چه دویٔ د اُور او جنت فرق نشی کولے، که دوی فرق کولے شوے نو دوی کښ به تقویٰ او صحیح ایمان راغلے وے۔
لَا يَسْتَوِىْٓ: دا نهٔ برابروالے په درے ځایونو کښ مراد دے : (۱) لَا يَسْتَوِىْ فِى الدُّنْيَا۔
په دنیا کښ دواړه ډلے برابرے نهٔ دی، ځکه چه د جنتیانو صفات جدا او د جهنمیانو جدا دی۔ (۲) لَايَسْتَوِىْ عِنْدَ النَّزْعِ وَفِى الْقَبْرِ۔
یعنی دواړه ډلے په وخت د مرګ او په قبر کښ برابر نهٔ دی چه یوے ډلے ته کوم نعمتونه او مزے ملاویږی او بلے ډلے ته سزاګانے او عذابونه ملاویږی۔
(۳) او په آخرت کښ هم برابر نهٔ دی۔
ددے آیت نه شوافعو استدلال کړیدے چه مسلمان به د کافر په بدله کښ نشی قتل کولے، او کافر په غلبه کولو سره د مسلمان د مال مالك نشی جوړیدے۔
اَصْحَابُ النَّارِ: یعنی نهٔ دی برابر هغه خلق چه هغوی خپل نفسونه کامل کړیدی نو د جنت مستحق شویدی او هغه کسان چه ځانونه ئے په مهنتونو او خواهشاتو کښ ذلیله کړیدی نو د اُور مستحق شویدی۔
فائده : ابو السعودؒ لیکلی دی : اصحاب النار ئے پدے وجه مخکښ ذکر کړو چه سبب د عدم مساوات (یعنی کوتاهی) د دوی د جانب نه ده چه دوی په ځان کښ صفات د جنت

والو نۀ دي پيدا کړي۔ دارنګه اُور والا زيات دي په نسبت د جنتيانو۔
لَوْ أَنْزَلْنَا: غرض د آيت دے (۱) : تَوْبِيْخٌ لِابْنِ آدَمَ عَلَى قَسْوَةِ قَلْبِهِ وَقِلَّةِ خُشُوْعِهِ۔
پدے کښې بنيادم ته د هغۀ د زړه په سختوالي او په کموالي د خشوع د هغۀ باندے زورنه ورکړے کيږي۔ او دا توبيخ اول کښې منافقانو ته دے، او مؤمن پرے الله يره وي۔ (قاسمیؒ)
(۲) او پدے آيت کښې ضمناً عظمت د قرآن کريم دے۔
(۳) او دريم غرض : مَوْعِظَةُ الْمُؤْمِنِيْنَ دے۔ مؤمنانو ته نصيحت ورکول دي۔
هذا القرآن نه مراد دا لفظي قرآن دے کوم چه لوستلے کيږي۔ پدے کښې هم بعض مبتدعينو ليکلي دي چه ددے نه مراد کلام نفسي دے،
جواب دا دے چه هذا اشاره هغے ته نۀ کيږي بلکه لفظي کلام ته اشاره ده۔ او په اسم اشاره قريب سره ئے ذکر کړو اشاره ده چه د قرآن حاصلول او پدے کښې تدبر کول دوی ته ډير نزدے دي چه هيڅ تکليف پکښې نشته۔ (ابن عاشورؒ)
لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا : سوال دا دے چه دا قرآن خو په نبي کريم ﷺ او صحابه کرامو نازل وو نو آيا د هغوی زړونه داسے چاودلي دي؟
جواب دا دے چه دلته مقصد خشوع بيانول دي او دا مثال دے چه غر د الله نه دومره يريږي چه هغه به تق چودلے وے، هغه بيخي صبر نشي کولے، او د انسان چاودل د الله مقصود نۀ دي بلکه هغه لره ځان کښې يره او خشوع پيدا کول دي، مشبه به کښې مبالغه زياته ده په نسبت د مشبه باندے۔
بيا مفسرين ليکي : چه دے آيت کښې ډير زور والے دے، پدے کښې نور هم ډير مقصدونه دي :
(۱) يو دا چه پدے کښې د قرآن کريم ثقل (درندوالے) او په رسول الله ﷺ باندے احسان بيانيږي چه د قرآن کريم بوج او درندوالے خو دومره ډير دے چه غرونه د هغے برداشت نشي کولے ليکن الله تعالیٰ خپل نبي لره دومره قوت ورکړيدے چه هغه د قرآن کريم ثقل د نزول او د هغے د تبليغ بوج برداشت کوي۔
(۲) دويم دا چه پدے کښې عظمت د قرآن ذکر دے، او منکرينو ته زجر دے، يعني که يو غر ته الله تعالیٰ فهم او عقل د انسان په شان ورکړے وے، او په قرآن کريم سره ئے مکلف

کړے وے، او قرآن ئے ورته آورولے وے نو هغه به د خشوع او خشیت د وجے نه ټکړے شوے وے اګر چه د ډیرو سختو ګټو نه ډك دے، لیکن انسان اعراض کونکے دومره سخت زړے دے چه په قرآن سره په دۀ کښې اثر نۀ پیدا کیږی۔

(۳) دریم مطلب: پدے کښې د قرآن کریم ثقل او جواب د سوال ذکر دے، مشرکانو او یهودیانو سوال کړے وو چه دا قرآن په یو ځل باندے ولے نۀ نازلیږی؟

نو الله جواب ورکړو چه که په یو ځل دا قرآن په غر باندے نازل شی نو هم ئے برداشت نشی کولے ځکه چه د غر د جسم قوت ډیر زیات دے نو نبی کریم ﷺ د هغے برداشت څنګه کولے شی؟ ددے وجه نه الله تعالیٰ لږ لږ نازل کړو سره ددے نه چه بیا به هم په نبی کریم ﷺ باندے په سخته یخنئ کښې خولے راتللے۔

او ددے مطلبونو حاصل دا دے چه که کافران او یهودیان او منافقان غواړی چه مونږ د اصحاب النار نه بهر شو او د دوی ګمراهی ختمه شی نو ددے شرط دا دے چه پدے قرآن کښې دِے فکر وکړی او ایمان دِے راوړی او د قرآن په سبب دِے الله تعالیٰ ته خشوع او خشیت وکړی۔

(احسن الکلام والقرطبی ومحاسن التاویل والتحریر وفتح البیان)

خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا: خشوع سر ښکته کولو او عاجزئ ته وائی، یعنی تا به لیدلے وے چه د بره نه به ښکته راغلے وے۔ او تصدع: چاودلو ته وئیلے شی یعنی زلزله به پرے راغلے وے د الله د یرے نه به چاودلے وے۔ (ابن عاشورؒ)

یعنی په قرآن سره اول د الله تعالیٰ نه خشیت پیدا کیږی، بیا د خشیت نه خشوع پیدا کیږی، بیا خشوع چه ترقی وکړی نو تصدع (چاودل) پیدا کیږی۔

فائده: په مؤمنانو کښې ددے مصداق په ترتیب سره دا دے چه په قیام د مانځه کښې قرآن لولی پخپله او د امام نه ئے آوری په خشیت سره، نو د هغے نه روستو خشوع وکړی په رکوع سره لکه په حدیث کښې د خشوع اطلاق په رکوع باندے شویدے، او بیا د خشوع نه روستو تصدع پیدا شی په سجده کولو او په ژړا کولو سره۔ (احسن الکلام)۔

وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ: پدے کښې اشاره ده چه د غر حالت ئے ذکر کړو نو دا بطور مثال دے۔

يَتَفَكَّرُونَ: دے دپاره چه دوی فکر وکړی چه ما کښې څومره خشیت او خشوع ده، او په غر کښې څومره ده، نو نصیحت به واخلی او منع به شی۔ او اشاره ده چه کافران د

جماداتو نه هم بد تر دی چه هیڅ خشوع پکښې نۀ پیدا کیږی، په دومره لوی کتاب ایمان نۀ راوړی۔

هُوَ اللهُ الَّذِیْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ عَالِمُ
خاص الله هغه ذات دے چه نشته حقدار د بندګئ سوئ د هغۀ نه، پو هه دے
الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿۲۲﴾
په هر پټ او ښکاره باندے، هغه بیحده مهربان دے، همیشه رحم کونکے دے۔
هُوَ اللهُ الَّذِیْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ
خاص هغه ذات الله دے چه نشته حقدار د بندګئ سوئ د هغۀ نه، بادشاه دے،
الْقُدُّوْسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ
پاك دے، سلامتیا ورکونکے دے، امن ورکونکے دے، ساتنه کونکے دے، عزتمند دے،
الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۲۳﴾
زورَور دے، لوئی والا دے، پاك دے الله د هغے نه چه دوی ورسره برخه داران جوړوی۔
هُوَ اللهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ
خاص دغه ذات الله دے، پیدا کونکے دے، جدا کونکے د اندامونو دے،
الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنٰى يُسَبِّحُ لَهٗ
شکل ورکونکے دے، خاص هغۀ لره صفتونه دی ښائسته، پاکي وائی هغۀ لره
مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۴﴾
هغه څۀ چه په آسمانونو او زمکه کښې دی او هغه زورور دے، حکمتونو والا دے۔

تفسیر : په راتلونکو درے آیتونو کښې الله تعالىٰ د خپل عظمت او کبریائی صفتونه بیان کړی دی، او انسانانو له ئے نور خبردارے ورکړے چه د دوئ زړونه د الله تعالىٰ د ویرے نه څنګه خالی کیږی، په دوئ باندے لړزان څنګه نۀ راځی، هغه خو هغه حق معبود دے

چه هغهٔ نه سویٰ بل هیڅوك د عبادت لائق نشته، هغه خو غائب او حاضر هر څهٔ پیژندونکے دے، د هغهٔ خاص او عام رحمت خو د تمام جهان مخلوقات پټ کړی دی۔

ربط :

(۱) پدے آیتونو کښ د خشوع د پیدا کیدو طریقه بیانوی، هغه دا چه پدے کتاب کښ د الله د عظمت او کبریاء او د جلال ښکلے صفات ذکر دی۔ او مؤمن باندے ددے اثر کیږی۔

(۲) اَیْ کَیْفَ یُتْرَكُ الْخُشُوْعُ لِمَنْ هٰذِهٖ صِفَتُهٗ۔ یعنی د هغه ذات دپاره خشوع څنګه پریخودلے شی چه د هغهٔ دا ښکلے صفات وی۔

(۳) او پدے کښ په منافقانو رد دے چه منافقان دومره لوی الله تعالیٰ پریدی، د هغهٔ د رسول تابعداری نکوی، او د هغهٔ د دشمنانو سره ملګرتیا کوی۔

او خطیب شربینیؒ لیکی : مخکښ د قرآن عظمت وو چه هغه د الله تعالیٰ صفت دے نو اُوس د موصوف (چه الله تعالیٰ دے) د هغهٔ عظمت بیانیږی ځکه چه عظمت د صفت د وجه د عظمت د موصوف نه دے۔

پدے آیتونو کښ بغیر د تکرار نه د الله تعالیٰ شل صفات ذکر دی۔

هُوَ اللّٰهُ: هُوَ ضمیر راجع دے مخکښ نازلونکی د قرآن ته، یا هغه ذات چه موجود دے په ذهنونو او فکرونو کښ او غائب دے په اعتبار د عظمت شان خپل۔ (فتح البیان)

اللّٰهُ: یعنی هغه معبود دے چه په صفت د عبودیت کښ خاص دے۔ دلیل پرے د الله تعالیٰ علم دے په هر شی باندے۔

عَالِمُ الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ: یعنی کوم څیزونه چه زمونږ د سترګو او حس او علم نه غائب دی په هغے هم پو هه دے، او کوم څیزونه مونږ ته ښکاره او حاضر دی په هغے هم پو هه دے۔

یا ددے نه مَاکَانَ او مَا یَکُوْنُ دی، یا آخرت او دنیا مراد ده۔ یا معدوم او موجود مراد دی۔

هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ : دائے بیا ذکر کړو یا د تاکید او د خبرے د مضبوالی دپاره ځکه چه د الله توحید ډیر اهم شے دے نو د تاکید لائق دے۔

یا پدے کښ ذکر د توحید دے د الله دپاره په دلیل د قدرت او تصرف د هغهٔ سره په هر څیز کښ، په هر جهت سره۔ ددے وجه نه ئے روستو صفتونه د تصرف ذکر کړیدی، نو

معلومه شوه چه د اُلوهیت د اثبات دپاره دوه قسمه صفتونه ضروري دي، یو دا چه عالم دے په هر شي باندے، او دویم دا چه قدرت په هر شي لري. او همدا دواړه د ټولو صفتونو خلاصه ده.

اَلْمَلِكُ: داسے بادشاه دے چه د هغه بادشاهي نهٔ زائله کیږي، او په ټول مخلوق کښې د امر او نهي واکدار او تصرف کونکے دے. ټول کائنات د هغهٔ د بادشاهئ او غلبے نه لاندے دي.

اَلْقُدُّوْسُ : ډیر پاك دے د هر نقصان او عیب نه په ذات او تمامو صفاتو کښې او خصوصًا په بادشاهئ چلولو کښې. یا قدوس هغه ذات دے چه د هغه برکت زیات وي.

اَلسَّلَامُ: (۱) سلامتیا والا دے، یعنی د هر قسم نقصان او عیب نه په ذات او صفاتو کښې بچ او سالم دے.

(۲) یا سلامونه اچونکے دے په بندګانو خپلو په جنت کښې.

(۳) یا سلامتیا ورکونکے دے بندګانو ته کله چه هغوی غواړي.

(٤) یا سلامتیا ورکونکے دے د ظلم کولو نه. یعنی په هیچا ظلم نکوي. (خطابیؒ) او دا قول د اکثرو دے.

په اوله معنیٰ سره د سلام او قدوس فرق دا دے چه قدوس هغه دے چه ذاتي نقصان او عیب هم پکښې نشته، او سلام دا دے چه عارضي نقصان هم پکښې نشته. نو قدوس کښې پاکي د ذات او سلام کښې پاکي د صفاتو ته اشاره ده.

اَلْمُؤْمِنُ: (۱) امن ورکونکے دے دوستانو خپلو ته د عذاب نه، او ټولو خلقو ته د خوف د ظلم کولو نه. نو د مؤمن او د سلام فرق دا شو چه سلام هغه ذات دے چه د هیچا سره د ظلم معامله نکوي، او مؤمن دا دے چه د خوف د ظلم نه ئے امن ورکړیدے.

(۲) یا مؤمن : تصدیق کونکے دے د رسول خپل په اظهار د معجزاتو سره.

اَلْمُهَيْمِنُ: یعنی نګهبان، نګراني او نظر ساتونکے دے په بندګانو خپلو او د هغوی په عملونو. او دا علت د ماقبل دے یعنی سلامتیا او امن ددے وجه نه ورکولے شي چه هغه حافظ او ساتنه کونکے د مخلوق دے.

اَلْعَزِيْزُ : غالب دے، هیڅ کله نشي مغلوب کیدے، او هغه څوك د خپلے ارادے نه نشي منع کولے / بے مثله دے / عزت مند او عزت ورکونکے دے.

اَلْجَبَّارُ : ۱- د جبر یوه معنیٰ ده اصلاح کول۔ یعنی د خپل مخلوق د کمزورئ او د بیمارو اصلاح کوی۔
۲- زورَ آور دے په ټول مخلوق چه په زور سره په مخلوق کښې خپله اراده نافذ کولے شي۔
۳- هُوَ الَّذِیْ لَا یُنَالُ وَلَا یُدَانٰی ۔ اُوچت دے د ټول مخلوق نه چه د چا لاس او طاقت ورته نشي رسیدے۔ (جباره هغه اُوچتے ونے ته وائی چه انسان ورته نشي رسیدلے)
٤- اَلْجَبَّارُ الَّذِیْ لَا تُطَاقُ سَطْوَتُهٗ۔ جبار هغه ذات دے چه د هغه د حملے طاقت څوك نشي لرلے۔
(٥) ابن عباسؓ وائی : اَلْعَظِیْمُ۔ لوی ذات او شانْ والا دے۔
(٦) اَلْعَالِیْ۔ د ټولو نه پورته۔
اَلْمُتَکَبِّرُ: ۱- کبریاء او لوی رانبکاره کونکے دے په عقلي او وحیي دلیلونو سره۔
۲- ډیر لوی دے په ټول مخلوق باندے په ذات او صفتونو سره۔
۳- لوی دے د هر نقصان او د هر هغه شي نه چه د هغهٔ سره لائق نهٔ وی۔ لوئی کول د الله صفت د کمال دے او په مخلوق کښې نقصان دے۔

متکبر او مستکبر فرق

د متکبر او مستکبر فرق دا دے چه استکبار همیشه په ناحقه لوئی کښې استعمالیږی ددے وجه نه دا په صفت د الله تعالیٰ کښې نهٔ راځي، او تکبر کله په حق سره وی لکه په صفت د الله تعالیٰ کښې، او کله په ناحقه سره وی لکه په صفت د مخلوق کښې۔
سُبْحَانَ اللّٰهِ : یعنی په دغه صفتونو او نورو صفتونو د الله تعالیٰ کښې د هغهٔ سره هیڅوك شریك نشته، او نهٔ پدے کښې نقصان شته۔

د خالق او باریٔ او مصور فرقونه

۱- هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ: خلق، معدوم شے وجود ته راوستو ته وئیلے شي، یعنی یو شے د نیشت نه شته کوی۔ او کله په معنیٰ د تقدیر سره استعمالیږی۔ لکه خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَیَاةَ۔ یعنی مقرر کړی ئے دی مرګ او ژوند۔ یا خلق دا دے چه د نطفے نه بدن جوړول۔

اَلْبَارِئُ: اندامونه جدا جدا کونکے، ځکه چه ماده د برء په انفصال او تمیز (جدائی) باندے دلالت کوی۔ نو خلق کښ صرف د غوښتے توته پیدا کول دی، او په باریٔ کښ اشاره ده چه بیا ورله جدا جدا اَندامونه ورکړی۔ او دے فرق ته مقاتل بن سلیمان په خپل تفسیر (۳۴۵/۳) کښ اشاره کړیده۔

اَلْمُصَوِّرُ: بیا په دے جدا کولو کښ هر اندام ته خاص ښکلے شکل ورکوی، او د یو شی مخ لره صورت ورکونکے دے۔

۲- حافظ ابن کثیرؒ داسے فرق کوی : خالق د خلق نه دے، تقدیر یعنی اندازه کولو ته وئیلے شی۔ او باریٔ د برء نه دے، تنفیذ (نافذ کول) او کوم شے ئے چه وجود ته د راوستو دپاره اندازه کړے دے هغه وجود ته راښکاره کړی، او هر څوك چه یو شے اندازه کړی، هغه ئے په نافذ کولو باندے قادر نهٔ وی سویٰ د الله تعالیٰ نه۔ او مصور دا دے چه هغه شے په هغه صورت او صفت باندے پیدا کړی کوم باندے ئے چه اراده کړی وی۔ نو خالق اندازه کونکے او باریٔ وجود ته راوستونکے او مصور شکل ورکونکے دے۔

۳- ابو حیانؒ په البحر المحیط کښ او قرطبیؒ داسے تعبیر کوی :

اَلْبَارِئُ هُوَ الْمُبْدِعُ الْمُحْدِثُ۔ وَالْخَالِقُ : هُوَ الْمُقَدِّرُ النَّاقِلُ مِنْ حَالٍ اِلٰی حَالٍ۔

باریٔ هغه ذات دے چه ناشنا پیدا کونکے وی، بغیر د مخکنیٔ نمونے نه پیدائش کوی۔ او خالق : هغه ذات دے چه اندازه کونکے وی او د یو حال نه بل حال ته نقل کونکے وی۔

(البحر المحیط ۳۳۰/۱)

۳- خالق نفس پیدا کونکے دے، او باریٔ : هُـوَ الَّذِیْ خَلَقَ الْخَلْقَ بَرِیْئًا مِنَ التَّفَاوُتِ ۔ هغه ذات دے چه مخلوق ئے د نقصان او د ګډوډوالی نه جدا پیدا کړیدے۔ لکه چه فرمائی : ﴿مَا تَرٰی فِیْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ﴾ (الملك : ۳) تهٔ به د رحمٰن په پیدائش کښ هیڅ نقصان نهٔ وینے۔ (مفاتیح الغیب ۵۱۶/۳ والکشاف والبحر المحیط)

بیا ئے خالق په باریٔ باندے مقدم ذکر کړو ځکه چه خالقیت راجع دے صفت د ارادے ته، او په باریٔ کښ تاثیر د قدرت ته اشاره ده ځکه چه د باریٔ معنیٰ ده صانع او موجد او مخترع۔ او اراده مقدم وی په تاثیر د قدرت باندے۔ او باریٔ ئے په مصور باندے مقدم کړو ځکه چه ایجاد د ذواتو مقدم وی په ایجاد د صفاتو۔ (مفاتیح الغیب ۵۱٤/۲۹)

٤- ابن عاشورؒ لیکی : کشاف کښ ئے وئیلی دی : اَلْبَارِئُ : اَلْمُمَیِّزُ لِمَا یُوْجِدُهٗ بَعْضَهٗ مِنْ

بَعْضٍ بِالْأَشْكَالِ الْمُخْتَلِفَةِ آه۔ باریٔ هغه ذات دے چه کوم شے موجودوی نو هغه جدا جدا کوی یعنی بعض د بعضو نه په مختلفو شکلونو سره۔ آه۔ نو پدے معنیٰ سره باریٔ خاص دے د خالق نه۔ او په حدیث کښې دی: (مِنْ كُلِّ مَا خَلَقَ وَذَرَأَ وَبَرَأَ) (یعنی زهٔ پناه غواړم (په الله پورے) د هر هغه څیز نه چه الله پیدا کړیدے او هغه موجود کړیدے۔ او مختلفو شکلونو سره ئے پیدا کړیدی۔ او علی ﷺ فرمائی: (لَا وَالَّذِىْ فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ) قسم په هغه ذات چه دانه ئے چولے ده او نفس ئے پیدا کړیدے۔ نو پدے اعتبار سره د بریه لفظ به د انسانانو پورے خاص نهٔ وی۔ کوم چه په ﴿أُولَٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ﴾ کښې راغلے دے۔ او راغبؒ وائی چه: بریه، مخلوق ته وائی۔

او ابن عربیؒ په "العارضه" کښې لیکی: اَلْبَارِئُ: خَالِقُ النَّاسِ مِنَ الْبَرىٰ وَهُوَ التُّرَابُ خَاصًّا بِخَلْقِ النَّاسِ وَعَلَيْهِ يَكُوْنُ اسْمُ الْبَرِيْئَةِ خَاصًّا بِالْبَشَرِ۔ باریٔ هغه ذات دے چه خلق ئے د برىٰ نه یعنی د خاورے نه پیدا کړیدی نو پدے اعتبار سره به بریه لفظ خاص وی د انسانانو د پیدائش پورے۔ ځکه چه صرف هم دوی د خاورے نه پیدا کړے شویدی۔

انتهیٰ ترجمة کلام ابن عاشور فی التحریر والتنویر (۱۱۱/۲۸)

لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنٰى: د اسماء نه مراد صفتی نومونه دی چه دا په قرآن کریم کښې غیر اضافی (۹۲) دی، او اضافی (۲٦) دی، او ددے نه علاوه په صحیح احادیث کښې راغلی دی او د اهل السنة والجماعة په نیز باندے دا ټول نومونه او صفتونه د الله تعالیٰ توقیفی دی، یعنی په قرآن او په صحیح حدیث کښې چه کوم نومونه د الله دپاره ثابت دی یا په هغے کښې سلب شوی وی نو د هغے په ثبوت باندے یا په سلب باندے عقیده ساتل ضروری دی۔ او ددے دپاره یو خاص عدد نشته۔

اوکوم حدیث کښې چه یو کم سل راغلی دی نو د هغے مطلب دا دے چه دغه خاص ثواب (مَنْ اَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ) په یو کم سلو نومونو باندے حاصلیږی۔

او دے اسماء ته حسنیٰ ولے وائی؟ نو ددے وجوهات په تفسیر د سورة الاعراف (۱۸۰) آیت کښې وګورئ۔

او علامه قاسمیؒ لیکی: سید ابن المرتضیؒ په "ایثار الحق" کښې لیکلی دی چه د الله تعالیٰ د توحید د کمال نه دا ده چه د هغهٔ معرفت وکړے شی په صفاتو او کمالاتو او ښکلے نومونو سره۔ ځکه چه د یو ذات کمال د هغهٔ په ښکلے صفاتو سره او مزیدارو

نومونو سره کیږي، او د هغه ذات هیڅ کمال نشته چه د هغهٔ صفت او نوم نهٔ وي۔ ددے وجه نه د ملاحده ؤ مذهب په مدح د رب کښې په نفي د صفاتو سره دے، چه دا د اسلام دپاره د دوی ډیره لویه دسیسه ده۔ ځکه چه دوی هغه شے اُلټه کړیدے کوم چه عقلًا او سمعًا معلوم دے نو دوی د محمود شي بدي بیان کړه او د مذموم مدح ئے وکړه۔ او د الله تعالیٰ د کتاب او د هغهٔ د روښانه نصوصو ضد او خلاف ئے وکړو۔

يُسَبِّحُ لَهٗ: پدے کښې هم د الله تعالیٰ عظیم شان او صفت ذکر دے چه د هغه په پاکی بیانولو باندے ټول کائنات ګویا دي، څوك د وینا په ژبه سره او څوك د حال په ژبه سره۔

نو اے یهود او منافقانو د داسے لوی الله مخالفت مهٔ کوئ ګنے ذلیله به مو کړي۔

ددے آخری درے آیتونو په فضیلت کښې څلور روایات راغلی دي، صاحب د فتح البیان وغیره ذکر کړیدي لیکن د سند په اعتبار سره ټول ضعیف دي۔ وبالله التوفیق۔

د سورت الحشر امتیازات

١– د بني نضیرو واقعه۔
٢– د مال فيء حکم او د مؤمنانو درے ډلے۔
٣– په آخری رکوع کښې د قرآن کریم عظمت ذکر شو۔
٤– د قیامت ورځ ته ئے د غد (صبا ورځ) نوم کیخودو۔
٥– د الله تعالیٰ ښکلے شل صفات ئے ذکر کړل۔

ختم شو تفسیر د سورة الحشر په توفیق د رب العالمین سره په ١١ شعبان ١٤٣٧ هـ
موافق: (١٧/٥/٢٠١٦)



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آياتها (١٣)	(٦٠) سورة الممتحنة مدنية (٩١)	ركوعاتها (٢)

سورة الممتحنه مدنی دے، په دے کښ دیارلس آیتونه او دوه رکوع دی

تفسیر سورة الممتحنه

نوم : (١) دے ته الْمُمْتَحِنَةُ (د حاء په زیر سره) (امتحان اخستونکے) سورت وائی، یعنی دے سورت د هغه نوو مسلمانانو ښځو د ایمان امتحان اخستے چه هغوئ د صُلح حُدیبیه نه پس مدینے ته هجرت کولو سره راغلے وے،

او الْمُمْتَحَنَةُ (د حاء په زور سره) (هغه ښځه چه د هغے امتحان اخستے شوے وی) یعنی د صلح حُدیبیه نه روستو راتلونکے مسلمانه ښځه چه د هغے نوم اُمِّ کلثوم بنت عُقبه بن ابی معیط وه، چه د هغے په باره کښ دغه آیت نازل شوے وو۔

او دا نوم ددے آیت (١٠) ﴿ يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْآ إِذَا جَآءَ كُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ اَللهُ أَعْلَمُ بِإِيْمَانِهِنَّ ﴾ نه اخستے شوے دے۔

(٢) دے ته سورة الْمَوَدَّة. (٣) سورة الامتحان۔ (٤) سورة الْمَرْأَة هم وائی۔

د نازلیدو زمانه : قرطبیؒ لیکلی دی چه دا سورت د ټولو په نیز مدنی دے۔

مناسبت

١ – مخکښ سورت کښ ئے د کافرانو (یهودو او منافقانو) حال بیان کړو، نو دلته وائی چه دوی د الله تعالیٰ دشمنان دی نو ددوئ نه براء ت (بیزاری) اعلان کړئ، دوستانے ورسره مهٔ کوئ۔

٢ – سُبْحَانَ اللهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ سره ئے هم مناسبت دے چه دا مشرکان ستاسو د الله بے ادبی کوی نو دوی پریدئ۔

۳- مخکښې سورت کښې ئې د مؤمنانو اقسام ذکر کړل، نو دے سورت کښې د کافرانو اقسام ذکر کوی۔

٤- مخکښې ئے د مؤمنانو صفات ذکر کړل نو دلته ورته وائی چه د ایمان تقاضا دا ده چه د الله دپاره به دوستی او دشمنی کوئ۔

د سورت موضوع او مقصد

اَلْبَرَاءَةُ مِنْ اَعْدَاءِ اللّٰه ۔ د الله تعالیٰ د دشمنانو نه براءت او بیزاری کول دی۔ د براءت مختلف او زیات صورتونه دی دلته درے ځلور ذکر دی، په ځلورم آیت کښې ذکر ده۔

دے کښې داسے هم وئیلے شی چه ددے سورت موضوع اَلْمُوَالَاةُ وَالْمُعَادَاةُ ده۔ یعنی د الله تعالیٰ دپاره دوستی او د الله تعالیٰ دپاره دشمنی ده۔

ددے وجه نه دے سورت د کافرانو تقسیم هم کړیدے چه یو کافر حربی او بل غیر حربی دے، د کافر حربی سره به هیڅ معامله نشی کولے، او د کافر غیر حربی سره معاملات او احسانات کولے شی۔ او د براءت معنیٰ دا نهٔ ده چه د کافر په خوا به هم نهٔ ورتیریږے بلکه دے کښې تفصیل دے، ددے وجه نه د مؤمنو زنانو د هجرت مسئله به هم بیانوی چه دوئ به کافرانو ته نشی واپس کولے کله چه دوی د کافرانو نه راتښتیدلی وی ځکه چه دا واپس کول هم د کافرانو سره یو قسم موالات دے۔

او د براءت دا شکل به هم بیان کړی چه د کافرانو نه خور لور مهٔ کوئ که تاسو کړی وی نو طلاق ورکړئ او خپله هم خور لور مهٔ ورکوئ

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّی وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ
اے ایمان والو! مهٔ نیسئ دشمن زما او دشمن ستاسو دوستان چه غورزوئ تاسو
إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا
هغوی ته دوستی (پیغام د مینے) (خبرے د دوستانے) او حال دا چه دوی کفر کړیدے
بِمَا جَاءَكُمْ مِنَ الْحَقِّ يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَنْ
په هغه څهٔ چه راغلے دے تاسو ته د حق نه، اوباسی دوی رسول لره او تاسو لره ددے نه

تُؤْمِنُوا بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ
چه تاسو ایمان اُولرئ په الله باندے چه رب ستاسو دے، که چرته تاسو راوتلی یئ
جِهَادًا فِي سَبِيلِي وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِي تُسِرُّونَ إِلَيْهِمْ
دپاره د جهاد کولو په لاره زما کښې او دپاره د لټولو د رضا زما، پټه لیږئ تاسو دوی ته
بِالْمَوَدَّةِ وَأَنَا أَعْلَمُ بِمَا أَخْفَيْتُمْ وَمَا أَعْلَنْتُمْ
دوستی او زهٔ ښه پوهیږم په هغه څهٔ چه تاسو ئے پټوئ او هغه چه تاسو ئے ښکاره کوئ
وَمَنْ يَفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ ﴿۱﴾
او چا چه اُوکړو دا کار ستاسو نه نو یقیناً گمراه شو د نیغے لارے نه۔

تفسیر:

د سورت شان نزول

په دے خبره د تمامو محدثینو او مفسرینو اتفاق دے چه ددے سورت د ابتدائی آیتونو د نازلیدو سبب د حاطب بن ابی بلتعه ﷺ واقعه ده، چه دا د اولنو مهاجرینو او د بدری صحابه کرامو نه دے۔

امام احمدؒ، بخاریؒ او مسلمؒ او محمد بن اسحاقؒ په خپل صحیح سندونو سره په دے باره کښې چه کوم روایتونه د علی بن ابی طالب ﷺ، عروه بن الزبیرؒ او د سیرت او تاریخ د نورو علماؤ نه نقل کړی دی، د هغے خلاصه دا ده چه د صلح حُدیبیه نه پس کله چه مکے والو د معاهدے پابندی ونهٔ کړه په دوه کاله کښې دننه، پدے طریقه چه قریشو د بنو بکر قبیلے سره د خزاعه په مقابله کښې مدد وکړو کوم چه د رسول الله ﷺ حلفاء وو، نو خزاعه راغلل رسول الله ﷺ ته ئے شکایت وکړو نو رسول الله ﷺ اراده وکړه چه په پټه سره په مکه باندے حمله وکړی (ځکه چه دوی وعده ماته کړے وه) نو د الله تعالیٰ نه ئے دعاء طلب کړه چه اے الله ! چه مشرکانو ته زمونږ ددے حملے پته ونهٔ لګی دے دپاره چه مونږ پرے ناڅاپی په غفلت کښې ورشو،

ددے وجه نه رسول الله ﷺ به مدینے ته خلق راپریخودل چه راننوزی لیکن د مدینے نه

بهر به ئې نهٔ پرېخودل دے دپاره چه څوك مشركانو ته خبر يو نهٔ سي۔
ددې نه لرِ مخکښې ابوسفیان راغلے وو دے دپاره چه د رسول الله ﷺ سره دغه وعده بیرته تازه کړی چه غلطی شویده لیکن رسول الله ﷺ هیڅ جواب ورنکړو نو هغه د ډیرے یرے په حالت کښې واپس مکے ته لاړو۔ مکے والو ورته وویل چه څه دې وکړل؟ هغه وویل چه ما له ئې هیڅ جواب رانکړو صرف ما مسجد کښې اعلان وکړو چه ما صلح وکړه، هغوی ورته وویل چه محمد (ﷺ) ئې تائید وکړو؟ هغه وویل نهٔ، غلے پاتے شو، مکے والو ورته وویل چه تهٔ خو ئې شرمولے ئې۔
نو پدے کښې رسول الله ﷺ د ملګرو تیاری شروع کړه، د مختلفو ځایونو نه ئې لس زره مجاهدین راوغوښتل (چه دومره فوج تیارول ګران کار وو) او دا خبره ئې صرف یو څو صحابو ته اوښودله چه د هغهٔ اراده د مکے فتح کول دی۔
پدے کښې یوه زنانه چه ساره نوم ئې وه د بنی عبد المطلب وینزه وه او مشرکه وه، او د نبی کریم ﷺ خواته د مکے نه د مالی مدد طلب کولو دپاره راغلے وه۔
نو حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه هغے له یو خط ورکړو او په هغے کښې ئې دا لیکلی وو چه محمد رسول الله ﷺ په تاسو باندے حمله کوی۔
حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه د مکے اوسیدونکے نهٔ وو، هغه د بل کوم ځای نه راغلے وو، او هلته د عثمان بن عفان رضی الله عنه د حلیف (دوستانه تعلقات لرونکی) په حیثیت سره اوسیدلو۔ دهٔ خو خپله هجرت کړے وو او مدینے ته راغلے وو، لیکن ددهٔ اولاد او ددهٔ ورور او ترهٔ وغیره لا اوسه پورے په مکه کښې وو۔ دهٔ سوچ وکړو چه که مسلمانانو په مکه باندے حمله وکړه نو د نورو مهاجرینو صحابوؓ خاندان هلته موجود دے چه دوئ به په مکه کښې خپل موجوده بال بچ د قتل کیدو نه بچ کړی، ددهٔ خاندان والا هلته موجود نهٔ دی، دے وجے نه که چرے دے د قریشو بعضِ خاص کسان د نبی کَریم ﷺ ددے ارادے نه خبر کړی، نو هغوئ به د ضرورت په وخت ددهٔ بچی او رشته دارِ د قتل نه بچ کړی۔
الله تعالیٰ نبی ﷺ ته د وحی په ذریعه ددے اطلاع ورکړه۔ هغهٔ فورًا علی، ابو مرثد غَنَوی او زبیر بن العوام رضی الله عنهم درے مشهور شهسوارانو لره د هغے نه د خط اخستو دپاره اولیږل، او وے فرمایل چه دغه ښځه به تاسو ته په (روضهٔ خاخ) علاقه کښې ملاؤ شی۔ که هغه تاسو له خط درکړی نو هغه پریدئ، ګنے هغه اُووژنئ۔ هغوئ

هغه په (روضهٔ خاخ) کښې ومونډله،
(ځکه چه دا رشتینی وحی وه، د هغې مطابق راووته) ښځې ته ئې وویل چه خط راکړه، هغې انکار وکړو، بیا ئې ورته زور او زاری سره وویل لیکن هغې انکار کولو، هغوی ورله تالاشی شروع کړه، هغه پوهه شوه نو د بدې نه ئې خط په څه طریقې سره راویستو او په ویښتو کونځئ کښې ئې کیخودو،
(ددې وجه نه حدیث کښې کله د بدې لفظ او کله د ویښتو ذکر کیږی)
بعض ملګرو وویل چه خط به ورسره نهٔ وی نو علی ﷛ ورته په غصه شو چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه خط ورسره دے، او تهٔ وائے نهٔ به وی، نو د هغوی ذهن هم کولاؤ شو (معلومه شوه چه یو شے به د مشاهدې خلاف وی لیکن د الله رسول چه وائی چه شته نو همغه شان به وی) نو دے ته ئې وویل چه یا به خط راوباسې یا به درنه جامې وباسو۔
نو هغه ویریده او خط ئې ورله ورکړو۔ هغه مدینې ته راورسولو، بیا رسول الله ﷺ علی ﷛ ته وفرمایل: چه دا خط ولوله نو هغهٔ ئې چه ولوستو په هغې کښې حاطب د مکې ځینې مشرکانو ته د نبی کریم ﷺ د ارادې خبر ورکړے وو۔
نبی ﷺ حاطب نه تپوس وکړو چه دا کار تا ولې کړے؟ هغهٔ ووئیل: اے د الله رسوله! تهٔ زما په باره کښې په څهٔ فیصلې کولو کښې تادی مهٔ کوه، بیا هغهٔ د خط لیکلو اصل سبب بیان کړو، چه زهٔ یو سړے وم چه په قریشو پورې ملصق (پیوسته شوے یم) او د هغوی د قوم نه نهٔ یم او تا سره چه کوم مهاجرین دی، نو د هغوی په مکه کښې خپلوان شته چه په هغې سره د هغوی اهل او مالونه ساتی نو ما وغوختل چه زهٔ د هغوی سره یو احسان وکړم چه په هغې سره هغوی زما د خپلوانو حفاظت وکړی ځکه چه ما نه د هغوی خپلولی فوت شویده (وَمَا فَعَلْتُ كُفْرًا وَّلَا ارْتِدَادًا وَّلَا رِضًا بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ)
او ما دا کار د کفر او د ارتداد د وجه نه او نهٔ د اسلام نه روستو په کفر باندې د راضی کیدو په وجه نهٔ دے کړے۔ (او الله تعالیٰ خو هسې هم د خپل رسول حفاظت کوی، مشرکان هغه ته هیڅ ضرر نشی ورکولے)
نو رسول الله ﷺ صحابو ته ووئیل چه دا رشتیا وائی۔ نو عمر ﷛ ووئیل: اے د الله رسوله! ماله اجازت راکړه چه ددې منافق څټ اُووهم،
(پدې باندې سوال دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل چه حاطب ﷛ رشتیا وائی او عمر ﷛

وائی چه منافق دے زهٔ ئے څټ وهم؟، ددے دوه وجې دی :
یو دا چه عمر فاروق ﷺ د الله دپاره په دومره غصه کښې وو چه د رسول الله ﷺ خبرے ته ئے توجه پیدا نشوه. دویم دا چه عمر فاروق ﷺ پدے موقعه کښې وړاندې ناست وو؛ د رسول الله ﷺ خبره ئے وانهٔ وریده)
نو نبی ﷺ وفرمایل : [إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا، وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللّٰهَ أَنْ يَّكُوْنَ قَدِ اطَّلَعَ عَلٰى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ].
حاطب د بدر په غزا کښې برخه اخستے ده، او تاته څهٔ معلومه ده چه الله تعالیٰ د بدری صحابو د زړونو نه ښهٔ خبر وو، نو هغه فرمایلی دی چه اے بدری صحابو ! اوس چه تاسو هر څنګه عمل کوئ، ما تاسو ته بخښنه کړے ده). د نبی کریم ﷺ دے خبرے آوریدو سره د عمر ﷺ سترګے د اوښکو نه ډکے شوے، او وے وئیل چه الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پو هیږی. (بخاری باب الجاسوس : رقم : ۳۰۰۷)
(د عمر ﷺ ژړا یو پدے وجه وه چه زهٔ هم بدری یم، الله به ما ته هم جنت راکوی، او دویم دا چه ما د یو مسلمان په باره کښې سخته خبره وکړه)
(بیا دا د جاسوس حکم دے چه کله یو تن د مسلمانانو په خلاف جاسوسی وکړی، نو اسلامی بادشاه به هغهٔ لره وژنی. او هر چه حاطب ﷺ دے نو دهٔ دا کار په اجتهاد سره کړیدے، کفر ئے نهٔ دے کړے، نهٔ ئے کفر خوښ کړیدے بلکه صرف یو راز ترے افشاء شویدے او هغه هم د بدری کیدو په وجه معاف شویدے).

د آیت مطلب :

ددے واقعے نه پس ددے سورت اولنی آیتونه نازل شو، چه په دے کښې الله تعالیٰ وفرمایل چه اے ایمان والو ! تاسو هغه کافران او مشرکان خپل دوستان مهٔ جوړوئ چه هغوئ زما او ستاسو دشمنان دی. تاسو دوئ ته د نبی کریم ﷺ جنګی رازونه ښایئ، حالانکه هغوئ ستاسو د حق دین نه منکر دی، او دوئ رسول الله ﷺ او تاسو لره ستاسو د کورونو نه اوخکلی دی، حال دا چه ستاسو ددے نه سویٰ بل هیڅ قصور نهٔ وو چه تاسو په خپل رب ایمان راوړے وو.
دا ظالمان کافران ددے لائق نهٔ دی چه تاسو دوئ خپل دوستان جوړ کړئ.

که چرې تاسو د مکې نه زما په لاره کښې د جهاد کولو دپاره او زما د رضا تالاش کولو دپاره راوتې یئ نو تاسو به هغه کافران خپل دوستان نهٔ جوړوئ چه هغوئ زما او ستاسو دشمنان دی۔ ځکه چه جهاد دپاره راوتل او د الله رضا لټول او بیا د کافرانو سره دوستي کول دواړو کښې تناقض دے۔

تاسو دوئ سره د دوستئ ښکاره کولو دپاره په پټه باندے د رسول الله ﷺ خبرونه دوئ ته رسوئ، حالانکه زهٔ خو ستاسو پټ او ښکاره هر څهٔ پیژنم۔ او تاسو ولیدل چه ما خپل رسول ته ددے خط اطلاع ورکړه کوم چه تاسو د مکې مشرکانو ته لیږلے وو۔

نو پدے آیت کښې مؤمنان منع کړے شو د دوستانے د کافرانو نه، او د هغوی په دشمنئ باندے راپورته کړے شول، او د هغے دپاره ئے څلور وجے د هغوی د دشمنئ د مؤمنانو سره ذکر کړے، او د مؤمنانو درے صفات ئے ذکر کړل ایمان، جهاد، او طلب د رضا د الله تعالیٰ چه دا صفتونه د کافرانو سره د دوستانے نه منع کونکی دی۔

اَوْلِیَاءَ: د ولایت درے مرتبے دی، اوله مرتبه د کافرانو سره ملګرتیا کول په عقیده او په کار د کفر او شرک کښې، دا خو کفر دے، دویمه مرتبه د هغوی سره په کارونو د کفر کښې مالي یا بدني امداد کول اګرکه په کفر او شرک کښې ورسره شرکت نهٔ کوی، دا کبیره ګناه ده۔ دریمه مرتبه د هغوی توقیر او عزت کول د هغوی نه مشر جوړول او د هغوی د اکرام دپاره اُودریدل وغیره۔ دا هم ګناه ده او دا ټولے مرتبے پدے نهی کښې داخل دی۔

اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ: ددے جزاء پټه ده (فَلَا تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ) نو دوئ ته مینے مهٔ لیږئ۔

تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ: باء زیاتی ده، او مفعول د تُلْقُوْنَ دے، یا باء سببیه ده، او مفعول پټ دے یعنی تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمُ الْاَسْرَارَ۔ (لیږئ تاسو هغوی ته پټ رازونه)۔ په سبب د هغه مینے چه ستاسو او د دوئ ترمینځ ده۔

علامه قرطبیؒ لیکی چه د مودت نه مراد ظاهری تعلق دے ځکه چه د حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه په زړه کښې د هغوی د دوستانے هیڅ خیال هم نهٔ وو، لکه رسول الله ﷺ د هغهٔ تصدیق وکړو۔

يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ: دا بل علت د ماقبل (وَقَدْ كَفَرُوْا) دے، دا د هغوی د کفر تفسیر دے۔

اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللهِ: دلته لام اجلیه پټ دے (اَیْ لِاَجْلِ اِیْمَانِكُمْ) یعنی د وجه د ایمان ستاسو

نه تاسو وباسي۔ یعنی ستاسو بل جرم نهٔ وو سوی ددے نه چه تاسو موحدین یئ، او دا دلیل دے چه څوك یو مؤمن لره د هغهٔ د ایمان او د توحید او د حق پرستئ او د اتباع د سنت د وجه نه د ملك نه شړي، یا ورته څه تکلیف ورکوی نو هغه لوی مجرم دے۔
تُسِرُّوۡنَ إِلَيۡهِم بِالۡمَوَدَّةِ: دویاره ئے راوړو پدے کښ زیات توبیخ او رټنے ته اشاره ده۔ د مودت نه مراد خیرخواهي ده۔
وَمَنۡ يَّفۡعَلۡهُ مِنكُمۡ: صیغه د مضارع راوړو کښ اشاره ده چه چا دا کار ددے وخت نه مخکښ کړے وی لکه حاطب بن ابی بلتعه ﷺ نو هغه ګمراه او ګنهګار نهٔ دے۔ ځکه چه هغه په اجتهاد کښ خطاء شوے وو، او مجتهد اګرکه خطاء شی بیا هم د هغهٔ یو اجر کیږی۔ خو د هغهٔ تابعداری به نشی کیدے۔
علامه قرطبیؒ لیکی: چه دا ټول عتاب دے لکه یو دوست چه ئے بل دوست ته کوی نو پدے کښ د حاطب ﷺ په فضیلت او شرافت باندے دلیل دے۔

إِنۡ يَّثۡقَفُوۡكُمۡ يَكُوۡنُوۡا لَكُمۡ أَعۡدَآءً وَّيَبۡسُطُوۡا ط
که چرته اُومومی دوی تاسو لره کیږی به دوی تاسو لره دشمنان او اُوږدوی دوی
إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ وَأَلۡسِنَتَهُمۡ بِالسُّوۡءِ وَوَدُّوۡا لَوۡ
تاسو ته لاسونه خپل او ژبے خپلے په بدئ سره او خوښوی دوی ارمان
تَكۡفُرُوۡنَ ﴿٢﴾ لَنۡ تَنۡفَعَكُمۡ أَرۡحَامُكُمۡ
چه تاسو کافر شئ۔ هیڅرے فائده به درنکړی تاسو ته خپلولیانے (رشتے) ستاسو
وَلَا أَوۡلَادُكُمۡ يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ يَفۡصِلُ بَيۡنَكُمۡ
او نهٔ اولاد ستاسو په ورځ د قیامت، جدائی به راولی الله په مینځ ستاسو کښ
وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿٣﴾
او الله په هغهٔ عملونو چه تاسو ئے کوئ لیدونکے دے۔

تفسیر: الله تعالیٰ د کافرانو او مشرکانو په حالت باندے نوره رڼرا اچوی، او د هغوی نه د براءت کولو دپاره درے علتونه یعنی د هغوی درے صفات ذکر کوی، مسلمانانو ته

فرمائي چه دا خلق ستاسو زبردست دشمنان دي، که دوئ تاسو په يوه موقعه کښ ومومي او په تاسو باندے کامياب شي، نو تاسو هيڅ کله نۀ پريدي، خپلو ژبو سره هم تاسو ته تکليفونه رسوي، او خپلو لاسونو سره هم، يعني کنځلے کوي، وهل او وژل کوي، د دوئ خو د زړۀ آرزو ده چه تاسو ټول د اسلام نه آوړيدلي وے او دوباره مو کفر قبول کړے وے۔

إِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ : ثقف وائي، موندل په غلبے او کاميابيدو سره۔

أَيْدِيَهُمْ : ئے مخکښ راوړو اشاره ده د دوئ زياتے دشمنئ ته۔

وَوَدُّوْا : يعني دوئ د مخکښ نه په زړه کښ دا آرمانونه کوي او کړي ئے دي چه تاسو هم کافران شئ۔

لَنْ تَنْفَعَكُمْ : تاسو چه د کوم اولاد او رشته دارانو د وجے نه کافرانو سره دوستي کول غوښتلي دي، هغه به د قيامت په ورځ د جهنم د عذاب نه تاسو بچ نۀ کړے شي، په دے ورځ به ټول د يو بل نه جدا شئ، هيڅوک به د هيچا د حال تپوس کونکے نۀ وي، نو بيا د بل چا د وجے نه خپل انجام خرابوئ۔ تاسو دِے په دے خبره پوهه يئ چه د الله د نظر نه ستاسو هيڅ عمل غائب نۀ دے، دے وجے نه د هغۀ نه يريږئ، او هغه کار کوئ چه هغے سره هغه راضي کيږي۔

د مفسر الکيا هراسيؒ نه نقل دي هغه فرمائي : چه ددے آيت نه معلومه شوه چه د مال او د اولاد د خوف د وجه نه د دين فتنه قبلول نشي جائز کيدے۔

أَرْحَامُكُمْ: په اسلام کښ خپلولي پالل شته ليکن د اسلام او د دين په خلاف باندے د هغے پالل هلاکت دے۔

يَوْمَ الْقِيَامَةِ : دا ظرف دے د (لَنْ تَنْفَعَكُمْ) دپاره۔ او يَفْصِلُ مستقل کلام دے۔ يا يَوْمَ الْقِيَامَةِ د يَفْصِلُ دپاره ظرف دے، او ددے نه مستقله جمله شروع شويده۔

يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ : يعني الله به ستا نه اولاد او خپلوان جدا کړي، نيکان به جنت ته داخل کړي او مجرمان به اُور ته۔ يا د جدايئ مطلب دا دے چه هر يو به د بل نه تيخته کوي ځکه چه يره به ډيره سخته وي۔

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيْ إِبْرَاهِيْمَ وَالَّذِيْنَ
یقیناً شته تاسو لره تابعداری ښائسته په ابراهیم (علیه السلام) او په هغه کسانو
مَعَهٗ إِذْ قَالُوْا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءٰٓؤُا
کښ چه د هغهٔ سره وو کله چه اُووئیل هغوی قوم خپل ته یقیناً مونږ جدا یو
مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَفَرْنَا
ستاسو نه او د هغې نه چه بندگی ئے کوئ تاسو سوئ د الله نه، انکار کړے مونږ
بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ
ستاسو (د طریقې) نه او ښکاره شویده په مینځ زمونږ او مینځ ستاسو کښ دشمنی
وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتّٰى تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗٓ إِلَّا قَوْلَ
او کینه همیشه، تردے پورے چه تاسو ایمان راوړئ په الله باندے یواځے مگر وینا
إِبْرَاهِيْمَ لِأَبِيْهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمْلِكُ
د ابراهیم (علیه السلام) خپل پلار ته خامخا زهٔ به بخنه غواړم تا لره او اختیار نهٔ لرم
لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا
زهٔ تا لره د الله نه د هیڅ شی، اے ربه زمونږ! خاص په تا مونږ ځان سپارلے دے
وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿٤﴾
او خاص تا ته مُونږ درګرځو (په بندګئ سره) او خاص تا ته درګرځیدل دی۔ (دپاره د جزا)
رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا
اے ربه زمونږ ! مهٔ ګرځوه مونږ فتنه (امتحان) دپاره د هغه کسانو چه کافران دی
وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٥﴾
او بخنه اُوکړه مونږ ته اے ربه زمونږ ! یقیناً تهٔ زوَرور حکمتونو والا ئے۔

تفسیر : اُوس مثال د ابراهیم عليه السلام راوړی چه هغهٔ د خپل پلار او د خپلوانو د الله په مقابله کښې هیڅ لحاظ نهٔ وو ساتلے نو تاسو به هم د هغهٔ اقتداء کوئ، او د هغهٔ په شان به د مشرکانو نه د بیزارئ اعلان کوئ۔

د ابراهیم عليه السلام او د هغهٔ د مومنانو ملګرو ژوند ستاسو دپاره بهترینه نمونه ده، چه هغوئ د خپل کموالي او کمزورئ او د دشمنانو د ډیروالي او قوت باوجود، د الله د دشمنانو سره د بیزارئ په څرګندولو کښې د ذرے هومره سوچ نه کار نهٔ دے اخستے، او د هیڅ رشته دارئ خیال ئے نهٔ دے کړے،

او د ټول قوم مخامخ ئے اعلان وکړو چه مونږ ستاسو نه او ستاسو د بتانو نه لرے او بے تعلقه یو، مونږ ستاسو د دین او معبودانو نه انکار کوو، او زمونږ او ستاسو ترمینځه اوس ښکاره دشمنی پیدا شوے ده، ځکه چه مونږ موحدین یُو او تاسو مشرکان خلق یئ، او دا دشمنی به هغه وخته پورے باقی پاتے کیږی تر څو پورے چه تاسو په یو الله باندے ایمان رانهٔ وړئ۔

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ: ددے نه مراد یا د هغهٔ تابعداران وو۔ یا ټول رسولان او اولیاء مراد دی ځکه چه ټول رسولان د هغهٔ ملګری دی په دین کښې، او په براء ت کولو کښې د د دین د دشمنانو نه۔

اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنْكُمْ : یعنی مونږ ستاسو نه بیزاره او جدا یو، زمونږ او ستاسو هیڅ تعلق نشته، نهٔ خپلولی او نهٔ دوستانه کول، او نهٔ غم ښادی کول۔ پکار ده چه مؤمن دغه شان د مشرکانو سره غم ښادی پریدی، داسے دینی غیرت د الله تعالیٰ ډیر خوښ وی۔

كَفَرْنَا بِكُمْ: ١ – كَفَرْنَا بِاَوْثَانِكُمْ اَوْ بِدِيْنِكُمْ اَوْ بِاَفْعَالِكُمْ۔

مونږ ستاسو د بتانو او ستاسو د دین او ستاسو د کارونو نه منکر یو۔ یعنی ستاسو سره به هیڅ تعلق نهٔ ساتو۔ دا مونږ ته غلط ښکاره کیږی۔

٢ – لَا نَعْتَدُّ بِشَاْنِكُمْ۔ مونږ ستاسو نه منکر یو، یعنی ستاسو هیڅ شے نهٔ منو، نهٔ درسره محبت کوو، نهٔ ستاسو عزت او شان او شوکت منو۔ دا قول غوره دے۔ ځکه چه کله یو تن د چا نه جدا شی لیکن په زړه کښې ئے ورسره مینه باقی وی، نو د برء اء معنیٰ دا چه د هغوی د اعمالو او د بتانو نه جدا شی، او د كَفَرْنَا معنیٰ دا چه په زړه کښې ورسره مینه هم نهٔ ساتی۔

وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ: دا د براء ت تشریح ده. او بَدَا لفظ راوړو کښې اشاره ده چه د مشرکانو سره د دشمنئ راښکاره کول لازم دی.

ددې وجه نه ئې اَلْعَدَاوَةُ مخکښې راوړو ځکه چه عداوت عملی دشمنئ ته وائی او اَلْبَغْضَاءُ په زړه کښې کینه ساتل دی. او دا بغض فِی الله دې چه دې ته کامل ایمان وائی.

حَتّٰى تُؤْمِنُوْا: پدې کښې اشاره ده چه د براء ت سبب د توحید نه انکار کول دی، نو معلومه شوه چه د موحد سره براء ت کول حرام دی.

إِلَّا قَوْلَ إِبْرَاهِيْمَ: دا استثناء متصل ده د لفظ د (اُسْوَةٌ) نه یا د (اِبْرَاهِیْمَ) نه. یعنی د ابراهیم علیه السلام اقتداء په ټولو اقوالو او افعالو کښې ضروری ده مگر پدې قول کښې تابعداری مهٔ کوئ، یعنی د مشرك دپاره د استغفار وعده مهٔ کوئ، او استغفار ورله مهٔ غواړئ لکه هغه چه ورله غوختلې وو،

او هغه چه استغفار غوختلې وو نو د هغې یوه خاص وجه وه چه هغه مخکښې په سورة توبه (۱۱٤) آیت کښې ذکر شویده چه ابراهیم علیه السلام ته د خپل پلار د شرك پته نهٔ وه نو هغه سره ئې وعده کړې وه چه ستا دپاره به بخنه غواړم. خو کله چه پوهه شو چه هغه د الله دشمن دې نو بیا ئې ترې براء ت وکړو.

علامه قرطبیؒ لیکی چه دا آیت دلیل دې په فضیلت د رسول الله ﷺ په ټولو انبیاؤ علیهم السلام باندې ځکه چه د ابراهیم ﷺ په اتباع کښې استثناء شته او د نبی کریم ﷺ په اتباع کښې استثناء نشته.

وَمَا أَمْلِكُ: دا د مخکښې استغفار سره متعلق دې، یعنی ابراهیم ﷺ خپل پلار ته دا هم وئیلی وو چه زهٔ به درله بخنه غواړم مگر بیا هم که تهٔ شرك کوې، نو زهٔ د الله د عذاب نه ستا دپاره د هیڅ شی اختیار نهٔ لرم.

دا دلیل دې چه انبیاء علیهم السلام هم څوك په زوره د الله تعالیٰ د عذابونو نه نشی بچ کولې، هغوی هم الله ته محتاج بندگان دی.

رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا: سوال پیدا شو چه کله مونږ ددې خلقو نه جدا شو نو بیا به مو مرې څوك خخوی، مصیبتونه او تکلیفونه راځی، نو د خپلوانو نه جدائی خو ډیر گران کار دې، نو الله تعالیٰ دلته طریقه ښائی چه د ابراهیم علیه السلام تابعدارو داسې خبره کړیده تاسو هم دغه شان ووایئ چه اې ربه زمونږ! مونږ خاص تا ته تول کارونه سپارلی دی.

نو الله زمونږ شته، کافرانو ته هیڅ ضرورت نشته۔

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا : دا هم د ابراهیم ﷺ او د هغهٔ د تابعدارو دعاء ده، یا الله تعالیٰ ددے امت مؤمنانو ته حکم کوی چه تاسو داسے ووایئ۔

او ددے دعاء تعلیم ځکه ورکوی چه هسے نهٔ چه یو بنده باندے د هغهٔ د ګناه د وجه نه امتحان راشی نو مشرکان بهانه جوړه کړی چه وګورئ مونږ سره ئے ورانه کړه نو ځنګه مصیبتونه پرے راغلل۔

لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً : د کافرانو دپاره د فتنے (او امتحان) ګرځیدو دوه صورتونه دی، یو دا چه په مونږ مصیبت راشی ستا د طرفنه، یا د کافرانو د طرفنه نو د کافرو دپاره به مونږ امتحان شو، وائی به که دوی په حق وے نو په دوی به مصیبتونه نهٔ راتللے۔

او امتحان د ګناهونو د وجه نه راځی نو ورپسے وائی (وَاغْفِرْ لَنَا) مونږ ته بخنه وکړه او د ګناه اثر رانه زائله کړه۔

دویم صورت : فتنه په معنیٰ د مُعَذَّبْ سره اَیْ مُعَذَّبِیْنَ بِاَیْدِی الْکَافِرِیْنَ ۔ یعنی مونږ ته د کافرانو په لاسونو باندے عذاب مهٔ راکوه) ګنے بیا به دوی وائی چه مونږ په حقه یو ځکه مونږ په مؤمنانو باندے مسلط او غالبه شولو۔ نو د دوئ کفر به نور زیات شی۔

یا مطلب دا دے چه زمونږ نه د کافرانو سره د دوستانے ساتلو کار مهٔ بنکاره کوه ځکه چه دا به سبب جوړ شی د کافرانو د فتنے دپاره یعنی هغوی به وائی چه مونږ په حقه یو ځکه مونږ سره مؤمنان دوستانه ساتی۔

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيهِمْ أُسْوَةٌ
یقیناً تاسو لره شته په دوی کښ (پدغه ذکر شوے ډله کښ) اقتداء (تابعداری)
حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ
ښائسته دپاره د هغه چا چه امید لری د الله او د ورځے روستنئ
وَمَنْ يَتَوَلَّ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٦﴾
او څوک چه مخ اړوی، نو یقیناً الله بے حاجته ستائیلے شویدے۔

تفسیر : لَقَدْ : پدے کښ د ابراهیم ﷺ او د هغهٔ د مؤمنانو ملګرو (ساره او لوط ﷺ

وغیره) په نقش قدم باندے د تللو تاکید ذکر کوی، او دا خبره ښائی چه ددے خلقو اقتداء هغه څوك كولے شی چه څوك د الله او د آخرت امید لری. هر چا ته دا کار آسان نهٔ دے (سعدیؒ)

اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ: دا ئے دوباره راوړو:

(۱) پدے کښں تاکید مقصود دے څکه چه د فسادیانو سره دوستی او تعلق ساتل حق دین ته او ددے منونکو ته نقصان ورکول دی، د کافرانو همیشه دا کوشش دے چه د دین جرړے کمزورے کړی، کمزوری ایمان والا خلق په شکونو او شبهاتو کښں اخته کړی، او د دعوت په لاره کښں خنډونه رامخے ته کړی، او مؤمنان په آزمائش کښں واچوی، نو پدے وجه د مشرکانو نه نفرت کول د ایمان یوه اعلیٰ درجه ده څکه چه ترڅو پورے اهل حق د حق دپاره متعصب (کلك او سخت) نشی او متحد کیدو سره د دشمن مقابله ونکړی نو حق ته قوت نشی ملاویدے.

لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا: دا دلیل دے چه د ابراهیم علیه السلام او د هغهٔ ملګری خپل پیشوا او مقتدیٰ نهٔ جوړول بده عقیده ده، او د خپل ځان نقصان دے څکه روستو وائی چه (وَمَنْ يَتَوَلَّ) څوك چه د دوئ د اقتداء نه واوړی نو هغه هلاك شو، الله تعالیٰ ته د هغهٔ هیڅ ضرورت نشته، خپل نقصان ئے وکړو، الله تعالیٰ خو ددهٔ د ایمان او بندګئ نه بے حاجته او بے نیازه دے.

(۲) او ددے دوباره راوړو کښں بله اشاره ده چه دا اقتداء په صحیح عقیده او نیت سره پکار ده نو هله به فائده ورکوی.

(۳) دریم دا چه مخکښں د اقتداء حکم وو په برائت کولو سره د مشرکانو نه او دلته ترغیب دے اقتداء کولو ته د ټول ملت ابراهیمی چه هغه پوره توحید دے.

(احسن الکلام)

عَسَى اللّٰهُ أَنْ يَّجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ
امید دے چه الله به اُوګرځوی په مینځ ستاسو کښې او په مینځ د هغه کسانو کښې
عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ وَّاللّٰهُ غَفُوْرٌ
چه دشمنی کوئ تاسو د دوی نه دوستانه او الله پوره قدرت لرونکے دے او الله بخونکے
رَّحِيْمٌ ﴿٧﴾ لَا يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ
رحم کونکے دے۔ نۀ منع کوی تاسو لره الله تعالیٰ د هغه کسانو نه
لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ
چه جنګ ئے نۀ دے کړے تاسو سره په دین کښې او نه ئے ویستلی یئ تاسو د
دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْا إِلَيْهِمْ
کورونو ستاسو نه چه احسان اُوکړئ تاسو د دوی سره او انصاف اُوکړئ د دوی سره،
إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴿٨﴾ إِنَّمَا يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ
یقیناً الله مینه کوی د انصاف کونکو سره۔ یقیناً منع کوی تاسو لره الله د هغه کسانو
قٰتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَأَخْرَجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ
نه چه جنګ ئے کړے تاسو سره په دین کښې او ویستلی ئے تاسو د کورونو ستاسو نه
وَظٰهَرُوْا عَلٰى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ
او مدد ئے کړے ستاسو په ویستلو باندے ددے نه چه تاسو دوستی اُوکړئ د دوی سره
وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ
(چه واوړئ تاسو دوی ته) او چا چه دوستی وکړه د دوی سره (او څوک چه واوړیدو دوی ته)
فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٩﴾
نو دغه کسان هم دوی ظالمان دی۔

تفسیر : پدے رکوع کښې تر آخره پورے تسلي او زیرے دے په لرے کولو د دشمنئ د کافرانو، بیا د کافرانو دوه قسمونو ته تقسیم دے اول قسم سره دنیوی تعلق ساتل جائز او د دویم قسم سره مطلق تعلق ساتل منع خودلے شویدی، بیا دوه قانونه دی دپاره د دخول د زنانو په اسلام کښې، اول قانون په وخت د مصالحت پورے خاص دے، او دویم عام دے، او په آخری آیت کښې براء ت دے د کافرانو نه۔

په دے آیتِ کریمه کښې مومنانو له زیرے ورکړے شوے چه نن چه تاسو د کومو کافرو رشته دارانو سره خاص د الله له خاطره د جدایئ اعلان کوئ، په دوئ کښې به ډیر خلق نزدے راتلونکی وخت کښې ایمان راوړی، بیا به ستاسو دشمنی، په دوستئ او محبت بدله شی۔ او کله چه دشمنی ختمه شی نو ژوند آسان شی۔

او همدغسے اوشوه، دا پیشنګوئی رشتینی شوه چه د قریشو کافران د مکے د فتح نه پس د صفا په غونډئ باندے ډلے ډلے راغلل، او د نبی کریم ﷺ په لاس ئے بیعت وکړو او د مومنانو په ډله کښې شامل شول۔

عَسَى اللّٰهُ: یعنی د الله تعالیٰ نه دا امید وساتئ۔

مَّوَدَّةً: اَیۡ بِتَوۡفِیۡقِ الۡاِیۡمَانِ اِیَّاهُمۡ۔ یعنی دوی ته به د ایمان توفیق ورکړی۔

لَا يَنۡهٰكُمۡ: دلته الله تعالیٰ د کافرانو دوه قسمونه بیانوی، وجه دا ده چه هرکله مؤمن د کافرانو سخته دشمنی واوریده، او د هغوی نه د براء ت مسئلے نه خبر شو، بیا د کافر په خوا هم نهٔ ورتیریږی او بل څوك چه د کافر خوا ته ورشی نو هغه ته هم کافر وائی نو په غلو کښې واقع شی، نو الله دلته دغه غلو دفع کوی، چه کافران دوه قسمه دی، د هغوی نه د براء ت بیلا بیل شکلونه دی، د هر کافر نه خپل خپل براء ت دے، یو حربی کافر دے هغه روستو ذکر کیږی، او بل غیر حربی کافر دے چه د مسلمانانو سره په معاشره او چم ګاوند کښې وسیږی نو د دوی حکم دا دے چه د دوئ سره دنیاوی تعلقات، احسان او معاملات ساتل ناروا نهٔ دی۔

أَنۡ تَبَرُّوۡهُمۡ : یعنی غیر حربی کافر ته لاره وښائی چه پدے لاره لاړ شه، د هغه سره بوج اُوچت کړی، هغهٔ باندے خوراك څکاك وکړی، هغه په کرسئ باندے کینوی، د هغهٔ هدیه قبوله کړی، هغه سره راشه درشه وکړی۔

بخاریؒ او مسلمؒ د اسماء بنت ابی بکر صدیق رضی الله عنهما نه نقل کړیدی هغه

فرمائی : زما مور مشرکه وه مگر هغه د اسلام سره مینه کونکے وه، ما کره د صلح د حدیبیه په زمانه کښې راغله کله چه قریشو د رسول الله ﷺ سره معاهده کړے وه،
نو ما د نبی کریم ﷺ نه تپوس وکړو چه آیا زهٔ د مور سره صله رحمی وکړم؟ نو الله تعالیٰ دا آیت (لَا يَنْهَاكُمُ اللهُ) نازل کړو۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل :
(صِلِيُ اُمَّكِ) د مور سره صله رحمی کوه۔
(بخاری فی الجزیة باب ۱۸، والادب باب۷، ۸) ومسلم فی الزکاة حدیث : ۵۰)
وَتُقۡسِطُوۡا اِلَيۡهِمۡ : او انصاف د هغوی سره وکړئ، یعنی د هغوی سره د لوظ حفاظت وکړئ، په هغوی ظلم مهٔ کوئ او کله چه د هغوی سره تجارت او لین دین کوئ نو په هغے کښې ورسره خیانت مهٔ کوئ۔ دا ځکه وائی چه کله نا کله انسان د کافر سره لین دین کوی نو هغه کافر ګنړلو سره د هغهٔ نه غلا کوی، او د هغهٔ په مال کښې خیانت کوی، نو الله فرمائی چه دوئ سره به هم عدل او احسان کوئ۔
مفسرین لیکی کله چه الله تعالیٰ د مشرك په حق کښې انصاف ضروری کړو او د ظلم نه ئے منع وکړه نو د مسلمان د حق په باره کښې دِے څه ګمان دے؟!۔
بعض اهل علم وائی : اِقساط معنیٰ ده هغوی ته د احسان یا صله رحمئ په طور د مال څه حصه ورکول دی۔ او عدل نهٔ دے مراد ځکه چه عدل خو د ټولو کافرانو سره واجب دے۔ مګر دا خو په بر کښې داخل دے۔ نو ظاهر دا ده چه دلته انصاف مراد دے او وجه ئے مخکښې بیان شوه چه د داسے قسم کافرانو سره غالباً خلق انصاف نکوی، په دوی ظلم کوی او مالونه ئے وهی۔
او ددے آیت په حکم کښې اهل ذمه کافران داخل دی، دارنګه هغه زنانه او بوډاګان او بچی د کافرانو چه قتال نشی کولے هغه هم داخل دی۔
کومو علماؤ چه دا خبره کړیده چه دا حکم په ﴿فَاقۡتُلُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ كَآفَّةً﴾ سره منسوخ شویدے نو دا خبره د مخکښې حدیث د اسماء رضی الله عنها د وجه نه ضعیفه ده۔ لکه ابن جریرؒ او قرطبیؒ پدے رد کړیدے۔او د آیت د نازلیدو سبب اګرکه د مکے مشرکان دی، لیکن دا حکم تمامو کافرانو دپاره عام دے۔
ابن جریرؒ او قرطبیؒ وغیره همدے رائے له ترجیح ورکړے ده۔
اِنَّمَا يَنۡهٰكُمُ اللهُ : اُوس دویم قسم یعنی د حربی کافرانو حکم بیانیږی یعنی د قریشو

کومو سردارانو او مشرانو چه د مسلمانانو خِلاف په جنګونو کښې برخه اخستې وه، او دوئ ئې د دوئ د کورونو نه ویستلي وو، نو د دوی سره ئې د تعلق پریکولو حکم وکړو۔
اَنْ تَوَلَّوْهُمْ: دا بدل دے د اَلَّذِيْنَ نه۔
او د تَوَلِّي نه مراد د کافرانو سره محبت ساتل، د هغوی دین اختیارول، د مسلمان په مقابله کښې د هغوی مدد کول، او د هغوی په کفری کارونو راضی کیدل دی۔ او ددے صورتونو په حکم کښې تفصیل شته۔
الظَّالِمُوْنَ: یعنی دوی په خپل حق کښې ظلم کوی، او د الله د غضب حقدار جوړیږی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِذَا جَاءَ كُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ
اے ایمان والو! کله چه راشي تاسو ته مؤمنے ښځے هجرت کونکے نو امتحان اُوکړئ
اللهُ أَعْلَمُ بِإِيْمَانِهِنَّ فَإِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ
په دوی باندے، الله ښهٔ پو هه دے په ایمان د دوی، نو که چرته پته اُولګیده تاسو ته
مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ
چه دوی مؤمنے دی نو مهٔ واپس کوئ دوی کافرانو ته، نهٔ دی دوی حلالے
لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ وَآتُوْهُمْ مَّا
هغوی لره او نهٔ هغوی حلال دی دوی لره، او ورکړئ دوی (کافرو) ته هغه مال
أَنْفَقُوْا وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ
چه خرچ کړیدے دوی او ګناه نشته په تاسو باندے چه تاسو نکاح اُوکړئ د دوی سره
إِذَا آتَيْتُمُوْهُنَّ أُجُوْرَهُنَّ وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ
کله چه تاسو ورکړئ دوی ته مهرونه د دوی او مهٔ ساتئ نکاحونه د کافرو ښځو
وَاسْأَلُوْا مَا أَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْأَلُوْا
او اُوغواړئ هغه مالونه چه خرچ کړی وی تاسو او اُودِے غواړی دوی (کافران)

مَا أَنْفَقُوا ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ يَحْكُمُ
هغه مالونه چه دوی خرچ کړيدی، دا فيصله د الله ده، فيصله کوی
بَيْنَكُمْ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۰﴾
په مينځ ستاسو کښې او الله پوهه حکمتونو والا دے۔

تفسير: مخکښې مونږ ليکلی وو چه د صلح حُديبيه په شرائطو کښې يوه خبره دا وه چه که يو کافر د مکے نه اُوتښتی يعنی مسلمان شی او مدينے ته راشی، نو رسول الله ﷺ به دا واپس مکے ته ليږی، اوکه يو مشرك د مدينے نه مکے ته لاړ شی نو د مکے کافران به دا نۀ واپس کوی، ليکن د الله تعالیٰ حکمت ته اُوګوره چه په دے کښې د هغه مسلمانو ښځو په باره کښې هيڅ خبره نۀ وه شوے کومو چه هجرت وکړو او مدينے ته راغلے۔ لکه اُم کلثوم بنت عقبه بن ابی معيط، سُبَيْعه بنت الحارث اسلميه، او اُميمه بنت بِشر او نورو مسلمانو ښځو چه کله هجرت اوکړو او مدينے ته راغلے، نو (۱۱/۱۰) آيتونه نازل شو، چه ددے مطابق رسول الله ﷺ دوئ لره واپس مکے ته ونۀ ليږلے۔

د اُم کلثوم دوه ورونه عماره او وليد په دے غرض مدينے ته راغلۀ، ليکن نبی ﷺ هغه واپس نۀ کړه۔

امام بغویؒ روايت راوړيدے چه کله سبيعه بنت الحارث اسلميه راغله نو خاوند صيفی بن الراهب چه دغه زمانه کښې مشرك وو وريسے راغے، وے وئيل: [يَا مُحَمَّدُ ! رُدَّ عَلَيَّ امْرَأَتِيْ فَإِنَّكَ قَدْ شَرَطْتَّ أَنْ تَرُدَّ عَلَيْنَا مَنْ أَتَاكَ مِنَّا وَهٰذِهٖ طِيْنَةُ الْكِتَابِ لَمْ تَجِفَّ بَعْدُ] اے محمده (ﷺ) ما ته خپله ښځه راواپس کړه ځکه چه تا مونږ سره شرط لګولے دے چه زمونږ چه څوك تا ته راشی نو مونږ ته به ئے واپس کوے، او دا ده سياهی د خط لا وچه شوے نۀ ده۔ نو الله تعالیٰ دا آيت نازل کړو۔ (بغوی ۹۷/۸)

(چه زنانه ورته مۀ واپس کوئ۔ ددے وجه دا ده چه مؤمنه زنانه د کافر دپاره حلاله نۀ ده ځکه چه اسلام ددے د کافر خاوند سره نکاح ماته کړيده، بله دا چه زنانه نازکے وی، ډير صبر په وهلو ټکولو نشی کولے، په واپس کولو کښې ئے د مرتد کيدو امکان شته۔ او هرچه سړی دی نو هغوی صبر کولے شی او د تيښتے لاره به پيدا کړی)۔

نو رسول الله ﷺ د هغې نـه امتحان واخستو او قسمونه ئې ورکړل چه هغه روستو ذکر کیږي بیا د هغې نه روستو عمر بن الخطاب ﷺ په نکاح واخسته۔

او اُمیمه بنت بشر انصاریه چه د ثابت بن الشَمَرَّاخ یا د حسان بن دَحْداحه ښځه وه کله چه دا مسلمانه شوه او د خپل کافر خاوند د خوا نه اوتښتیده او مدینې ته راغله، نو نبی ﷺ د هغې وادهٔ د سهل بن حنیف ﷺ سره وکړو۔

مُهَاجِرَاتٍ: د یعنی مکې نه ئې هجرت وکړو یا د بل ځای نه۔

فَامْتَحِنُوْهُنَّ: رسول الله ﷺ به د دوئ نه کوم امتحان اخستو؟ نو دې کښې اختلاف دې

(۱) ابـن جریرؒ د ابن عباس ﷺ نـه نقل کړیدی چه : كَـانَتِ الْمَرْاَةُ اِذَا اَتَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ حَلَّفَهَا بِاللّٰهِ مَا خَرَجَتْ مِنْ بُغْضِ زَوْجٍ، وَبِاللّٰهِ مَا خَرَجَتْ رَغْبَةً عَنْ اَرْضٍ اِلَى اَرْضٍ، وَبِاللّٰهِ مَا خَرَجَتْ اِلْتِمَاسَ دُنْيَا، وَبِاللّٰهِ مَا خَرَجَتْ اِلَّا حُبًّا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهٖ۔

چه کله به یوه زنانه رسول الله ﷺ ته راغله نو هغهٔ به ورته په الله تعالیٰ باندې داسې قسم ورکولو چه د خاوند سره د بُغض په وجه یا د یوې زمکې نه بلې زمکې سره د مینې په وجه، یا د دنیا د طلب کولو دپاره نهٔ دی راوتی، او قسم په الله چه صرف د الله او د رسول د محبت په وجه راوتی دی، او د هغهٔ د دین سره ئې مینه ده۔ نو کله چه به یوې زنانه دغه قسم وکړو نو نبی کریم ﷺ بـه د هغې کافر خاوند ته د هغې مهر او هغهٔ چه پرې کومه خرچه کړې وه هغه بیرته ورکړه مګر هغه به ئې ورته نهٔ واپس کوله۔ او دا قسم به عمر بن الخطاب ﷺ ورکولو۔ (رواه ابن جریر والطبرانی وغیرهما وفیه قیس بن الربیع مختلف فیه وقال الشوکانی والسیوطی بسند حسن وضعفه الالبانی)

(۲) بعض وائی : امتحان دا وو چه دا ګواهی وکړي (اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ) نـو کـلـه چـه بـه صحابه کرامؓ پوهه شو چه دائې په رشتینی زړهٔ سره ووئیله نو بیا به ئې کافرانو ته نهٔ واپس کوله۔

او ددې هغه خاوند ته کوم چه په کافرانو کښې به وو هغه ته به ئې د هغهٔ هغه مهر واپس کړو کوم چه به هغه دې ښځې ته ورکړې وو او بیا به ئې دغه زنانه مؤمنانو دپاره حلالې کړې کله چه دوی ورته مهرونه ورکړي۔ (ابن عباس ﷺ)

(۳) عـائـشـه رضی الله عنها وائی : امتحان دا وو چه رسول الله ﷺ پرې روستو آیت ﴿يَا اَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَائَكَ الْمُؤْمِنَاتُ﴾ تـر آخره پورې ولوستو۔ یعنی روستو آیت د بیعت به ئې

ورته ولوستلو۔ او دغه بیعت به ئې ترې واخستو، که چا به پدې اقرار وکړو نو دا به مؤمنه حسابیده۔ (بخاري: ۵۲۸۸) او دا درې واړه طریقې صحیح دي۔

اَللّٰهُ أَعْلَمُ بِإِيْمَانِهِنَّ: یعني پدې امتحان اخستو کښې فائده دا ده چه ستاسو یقین حاصل شي، ورنه الله تعالیٰ خو د هغوی په ایمان باندې د مخکښې نه عالِم دې۔

فَإِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ: دلته بل جانب عبارت پټ دې، یعني که تاسو ته معلومه شي چه د دوئ هجرت د ایمان دپاره نۀ دې، بلکه دنیاوي خواهش دې، نو بیا ئې کافرانو ته واپس کړئ۔ او که درته معلومه شي چه دوئ مؤمنانې دي په ذریعه د قسم یا د شهادت یا د بیعت په اخستو، یا په نورو علاماتو سره چه هغې ته ظن غالب وائي نو بیا ئې کافرانو ته مۀ واپس کوئ۔

فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ: دا دلیل دې چه د کافرانو نه ددې زنانو د جدائي علت ایمان دې، نۀ یواځې هجرت۔ یعني د ایمان د وجه نه دا زنانه کافرانو دپاره حلالې پاتې نشوې۔ الله ته پدې باندې غیرت ورځي چه څنګه یوې پاکې مؤمنې سره ناپاکه کافر نزدیکت وکړي۔

لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ: په ابتداء د اسلام کښې د مشرکانو سره د مؤمنو ښځو نکاح جائز وه پدې وجه د نبي کریم ﷺ بعض لونړه مشرکانو ته وادۀ شوې وې نو په دې آیت سره د هغې حرمت راغې۔

وَآتُوْهُمْ مَّا أَنْفَقُوْا: دا خطاب دې مشرانو او حاکمانو ته، او امر د وجوب دپاره دې، او دا حکم خاص دې په حالت د صلح پورې په مینځ د مؤمنانو او د کافرانو کښې لکه په وخت د صلح حدیبیه کښې یا په باره د زنانو د اهل ذمهٔ کښې دې، او هرچه د حربي کافرانو ښځې دي چه د هغوی سره هیڅ عهد او لوظ او صلح نۀ وي، او ښځې ئې ایمان راوړي نو خاوندانو ته ئې مهرونه واپس کول نۀ واجب دي، او نۀ منسون دي په اتفاق د علماؤ سره او دا قول د قتادهؒ دې او همدا صحیح دې۔ (فتح البیان)

او پدې مهر واپس کولو کښې به دې ته اشاره وي چه مؤمن کافرانو ته وښائي چه زمونږ عقیدې ته ضرورت دې، ستاسو مالونو ته محتاج نۀ یو۔ بلکه عقیدې والا یو جسم والا خلق دې۔

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ: یعني مؤمنانو لره دا جائز دي چه د دوئ سره نکاح وکړي، او پکار ده چه د دوئ سره نکاح وکړي دې دپاره چه هغه معلق ژوند تیر نکړي، او

سكون ورته ملاؤ شي، خو دے سره دا شرط دے چه كله د هغے سره دخول شوے وي، نو د هغے عدت به تير شوے وي. او دا زنانه مسلمانانو له په شرعي نكاح سره جائز كيږي اګركه خاوندانو ورته طلاق نۀ وي وركړے ځكه چه د دوئ دواړو ترمينځ عقد نكاحي په اسلام سره ختم شو.

فائده : دلته دوه قسمه مهرونه دي، يو دا چه د دوئ كافرانو خاوندانو ته د هغوي مهرونه واپس كړي، دا به غالباً بادشاه او امير ادا كوي، يا ځوك ئے چه په نكاح اخلي. او دويم مهر دے په وخت د نكاح كښې ددے ښځے سره.

وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ : (يعني مۀ نيسئ عصمتونه (نكاحونه) د كافرو ښځو).

عِصَم جمع د عِصْمَةٌ ده، ساتنے، بچاؤ او عقد ته وئيلے شي، دلته عصمة د نكاح مراد دے.

يعني كافرانے ښځے په نكاح كښې مۀ ساتئ. مطلب دا چه لكه ځرنګ چه د مؤمنے ښځے د كافرے سره نكاح ماته شوه، نو دغه شان د كافرے ښځے د مؤمن سره هم نكاح ختمه شوه. نو مسئله دا شوه چه كه د يو مؤمن سړي كافره ښځه په دار حرب كښې پاتے شي، او سړے هجرت وكړي يا ددۀ په نكاح كښې روستو د هجرت كولو نه يوه مشركه ښځه وي چه ايمان نۀ راوړي نو نكاح د دوي ختمه شوه.

او ددے حكم نه د اهل كتابو كافرے ښځے بهر دي، دا صرف د مشركو غير كتابيو پورے خاص دے.

ابن جريرؒ د ﴿وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ﴾ د تفسير په ضمن كښې ليكلي دي چه په دے كښې الله تعالىٰ صحابه كرامؓ ته حكم كړے چه اُوس دوئ د خپلو كافرو ښځو سره هر قِسم تعلق ختم كړي، او آينده مشركانو ښځو سره نكاح اونۀ كړي.

دے نه پس ئے د مجاهدؒ قول نقل كړے چه صحابه كرامؓ ته حكم شوے وو چه هغوئ خپلو هغه كافرانو ښځو له طلاق وركړي چه هغوئ په مكه كښې د كافرانو سره پاتے شوے وے.

امام زهريؒ د مسور بن مخرمهؓ او مروانؒ نه نقل كوي چه كله دا آيت نازل شو نو عمر ﷺ خپلو دوه كافرو ښځو له چه په مكه كښې وے او مشركے وے طلاق وركړو، (د يوے نوم قُريبه بنت ابي اميه وه چه) دا معاويه بن ابي سفيان ﷺ په نكاح واخسته (پدے وخت كښې دے لا په اسلام مشرف شوے نۀ وو) او بله (ام كلثوم بنت عمرو الخزاعيه ام

عبد الله بن عمرؓ نو صفوان بن امیه (په حالت د شرك كښ) په نكاح واخسته۔
(صحيح بخاری : ۲۷۳۲ باب اذا اشترط فی المزارعة اذا شئت اخرجتك) او ابن جریر وئیلی دی چه دویمه ابو جهم بن حذافه په نکاح واخسته۔

او طلحه بن عبید الله ﷺ خپلے کافرے ښځے (اَرْوىٰ بنت ربيعة بن الحارث بن عبد المطلب) له طلاق ورکړو چه هغه په مکه کښ پاتے شوے وه۔ بیا په اسلام کښ د طلحه ﷺ نه روستو خالد بن سعید بن العاص رضی الله عنه په نکاح واخسته۔
(تفسیر ابن ابی حاتم : ۱۸۸۶۸ وابن جریر ۳۴۲۹۸)

وَاسْأَلُوْا مَا أَنْفَقْتُمْ: دا حكم د صلح حدیبیه پورے خاص وو، او مطلب دا دے چه مالونه یو بل ته واپس کوئ لیکن د ښځو واپسی نشته۔ دا ددے دپاره چه کافرانو ته پته ولگی چه مسلمانان پیسو والا خلق نهٔ دے بلکه د دوئ ایمان مطلوب دے۔

ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ: یعنی دا پورته چه کوم حکم بیان شو دا د الله تعالیٰ حکم دے، او ددے په تابعدارئ کښ هر چاله خیر او ښیگړه ده۔

وَإِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِّنْ أَزْوَاجِكُمْ إِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ
او كه چرته پاتے شی ستاسو نه څه مال د بیبیانو ستاسو نه کافرانو ته بیا نمبر راشی
فَآتُوا الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ أَزْوَاجُهُمْ مِّثْلَ مَا
ستاسو نو ورکړئ هغه کسانو ته چه تلی دی ښځے د هغوی په شان د هغے
أَنْفَقُوْا وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ أَنْتُمْ بِهٖ
چه دوی خرچ کړیدی او اُویریږئ د هغه الله نه چه تاسو په هغهٔ باندے
مُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ
ایمان لرونکی یئ۔ اے نبی ! کله چه راشی تا ته مؤمنے ښځے بیعت کوی تا سره
عَلٰى أَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا وَّلَا يَسْرِقْنَ
پدے خبره چه دوی به برخه داران نهٔ جوړوی د الله سره هیڅ شے، او نهٔ به غلا کوی

وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَأْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ
او نۀ به زنا کوی او نۀ به وژنی اولاد خپل، او راتلل به نۀ کوی په بهتان سره
يَفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ أَيْدِيْهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ
چه جوړوی ئے په مابین د لاسونو کښې او په مابین د خپو کښې
وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ
او نافرمانی به نۀ کوی ستا په نیکیو کښې نو بیعت اُوکړه د دوی سره
وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾
او بخنه غواړه دوی لره د الله نه، یقیناً الله بخونکے رحم کونکے دے۔

تفسیر : وَإِنْ فَاتَكُمْ : دا بل حکم دے، که د یو مسلمان سړی ښځه کافره شی او کافرانو خواته لاړه شی، او کوم کافر سره وادۀ وکړی، او مسلمان ورپسے جواب ولیږی چه ددے مهر راولیږه او هغه انکار وکړی او مال واپس نۀ کړی، نو الله فرمائی چه که کافر ورنکړو نو اے مسلمانانو! تاسو د غنیمت نه دے مسلمان ته څه برخه ورکړئ، یعنی روسته مسلمانان د دغه کافرانو سره جنګ وکړی، چه په هغے کښې مسلمانانو ته مالِ غنیمت حاصل شی، نو دے مسلمان خاوند له دِے ددے نه هغه مال ورکړے شی کوم چه هغۀ د مهر په توګه ښځے ته ورکړے وو۔

قتادهؒ وائی چه د رسول الله ﷺ د کومو صحابوؓ ښځے چه مرتدے شوے او کافرانو خواته لاړے، او بیا به مالِ غنیمت حاصل شو، نو دے خلقو ته به د مجموعی مالِ غنیمت نه د مهر رقم اداء کولے شو، بیا به باقی مالِ غنیمت تقسیمیدلو۔

امام زهریؒ وائی چه زما ګمان نۀ دے چه د مسلمانانو نه کومه ښځه مرتده شوی وی، او د کافرانو خوا ته تلی وی سوئ د یوے زنانه نه۔

ام الحکم بنت ابی سفیان چه دا مرتده شوه، او خپل خاوند عیاض بن غنم الفهری القرشی ئے پریخودو، بیا بیرته اسلام ته راغله، د ثقیف قبیلے د اسلام سره ئے بیرته اسلام راوړو۔ او په قریشو کښې صرف دے یوه زنانه باندے دا حالت راغلے وو۔

مگر راجح دا ده چه هغے ته ئے طلاق ورکړے وو، او بیا عبد الله بن عثمان ثقفی په نکاح اخستے وه۔ یعنی دا مشرکه وه نو عیاض بن غنم په آیت (وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ) باندے عمل وکړو۔ (بخاری: ٥٢٨٧) وفتح الباری (٤٢٢/٩)

پدے کښې اختلاف دے چه دا حکم اُوس باقی دے او که نهٔ؟

د مجاهدؒ او قتادهؒ رائے ده چه دا حکم عام دے که دغه کافرانو سره عهد وی او که نهٔ وی۔ یعنی اُوس هم دا حکم باقی پاتے دے او منسوخ شوے نهٔ دے۔

او بعض علماء وائی چه دا په وخت د عهد پورے خاص دے۔ لیکن ظاهر د آیتونو نه دا معلومیږی چه دا حکم اُوس هم باقی پاتے دے۔

فَعَاقَبْتُمْ: دا د عِقَاب یا عقوبت نه دے، سزا ورکولو ته وئیلے کیږی، یعنی تاسو سزا ورکړئ هغوی ته ترڅو چه غنیمتونه ترے ونیسئ۔ ددے نه مراد د هغوی جنګ او قتال کول دی کله چه ورسره عهد نهٔ وی کړے، یا عهد مات کړی۔

یا د عُقْبَةٌ نه ماخوذ دے، نوبت او نمبر راتللو ته وئیلے شی، یعنی ستاسو نمبر راشی په هغوی باندے یعنی د دغه کافرانو زنانه تاسو ته راشی، او مهر د ځان سره راوړی نو دغه مهر هغه کافرانو ته واپس مهٔ ورکوئ۔

یا د عَقِبٌ نه دے، روستو راتللو ته وئیلے شی۔ یعنی تاسو ورپسے روستو راشئ۔ او غنیمت ترے ونیسئ۔

(الصحاح فی اللغة وتاج العروس کلمة عقب)

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ: دے آیتِ کریمه ته [بَيْعَةُ النِّسَاءِ] والا آیت وائی (یعنی د ښځو د بیعت آیت) ځکه چه په دے کښې الله تعالیٰ د مکے د فتح په وخت خپل رسول ﷺ ته د ښځو سره د بیعت کولو اجازت کړے، نو نبی ﷺ په صفا غونډئ کیناستهٔ او د هغه ښځو نه ئے بیعت واخستهٔ کومے به چه نبی ﷺ خواته ډلے ډلے راتللے او په اسلام کښې به داخلیدلے۔

بخاریؒ، ترمذیؒ اونورو محدثینو د عائشے رضی الله عنها نه روایت کړے چه مسلمانانے ښځے د مکے نه هجرت وکړو او مدینے ته راغلے وے، نبی ﷺ به د هغوئ د ایمان امتحان اخستلو، او کله به چه نبی ﷺ ته د هغوئ د ایمان د طرف نه اطمینان اوشو، نو هغوئ ته به ئے وئیلے چه ما تاسو نه د خبرو په ذریعه بیعت واخستهٔ۔ قسَم په الله! د نبی ﷺ لاس د هیڅ بیعت کونکے ښځے د لاس سره هیڅ کله لګیدلے نهٔ وو، نبی ﷺ به هغوئ نه

صرف په ژبه بیعت اخستلو او وئیل به ئې چه ما تاسو نه بیعت واخستۀ۔
نسائیؒ، ترمذیؒ اوابن ماجهؒ او نورو د اُمیمه بنت رُقیقه رضی الله عنها نه روایت کړے چه دا د څۀ ښځو سره د رسول الله ﷺ خواته د بیعت لپاره راغله، نو د بیعت کولو په وخت ئې ووئیل : [هَلُمَّ نُبَایِعُكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ !]اے د الله رسوله ! راشئ چه مونږ تا سره بیعت (یعنی مصافحه) وکړو۔ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل :
[اِنِّیْ لَا اُصَافِحُ النِّسَاءَ اِنَّمَا قَوْلِیْ لِمِائَةِ امْرَأَةٍ كَقَوْلِیْ لِامْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ] چه زۀ ښځو سره مصافحه نۀ کوم، زما وینا سلو ښځو سره داسې ده لکه یوې ښځې سره وینا، الحدیث۔
(الموطأ : ۱۷۷۵، نسائی : ٤١٨١) ابن ماجه (٢٨٧٤) صحیح)
او دا بیعت اګرکه اول کښې د زنانو په باره کښې نازل شوے وو لیکن رسول الله ﷺ به د سړو نه هم په دغه څیزونو باندے بیعت اخستو۔
بخاریؒ او مسلمؒ د عباده بن صامت ﷛ نه روایت کړے چه مونږ د نبی کریم ﷺ په خوا کښې وو نو وے فرمایل :[بَایِعُوْنِیْ عَلٰی اَنْ لَّا تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ شَیْئًا وَلَا تَسْرِقُوْا، وَلَا تَزْنُوْا، وَلَا تَقْتُلُوْا اَوْلَادَكُمْ، وَلَا تَاْتُوْا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُوْنَهٗ بَیْنَ اَیْدِیْكُمْ وَاَرْجُلِكُمْ، وَلَا تَعْصُوْا فِیْ مَعْرُوْفٍ]
(ما سره بیعت وکړئ پدے خبره چه د الله سره به هیڅ نۀ شریکوئ او نۀ به غلا کوئ او نۀ به زنا کوئ او نۀ به اولاد وژنئ او نۀ به بهتان جوړه وئ۔ او نۀ به په نیك کار کښې نافرمانی کوئ، (یعنی دا آیت د بیعت د زنانو ئې ولوستو) بیا ئې وفرمایل :
[فَمَنْ وَفٰی مِنْكُمْ فَاَجْرُهٗ عَلَی اللّٰهِ وَمَنْ اَصَابَ مِنْ ذٰلِكَ شَیْئًا فَعُوْقِبَ فِی الدُّنْیَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهٗ وَمَنْ اَصَابَ مِنْ ذٰلِكَ شَیْئًا فَسَتَرَهُ اللّٰهُ فَهُوَ اِلَی اللّٰهِ اِنْ شَاءَ عَذَّبَهٗ وَاِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهٗ، فَبَایَعْنَاهُ عَلٰی ذٰلِكَ] (بخاری فی الاحکام باب٤٩، وتفسیر سورة ٦٠، باب ٣ ومسلم فی الحدیث حدیث ٤١)
چا چه ستاسو نه ددے وفاداری وکړه نو اجرئې په الله دے، او چا چه ددے نه کوم کار وکړو او دنیا کښې ورته سزا ورکړے شوه (سوئ د شرك نه) نو دا به د هغۀ دپاره کفاره (ګناه ختمونکی) شی، او چا چه ددے نه کوم کار وکړو او الله پرے پرده واچوله نو دے الله ته سپارلے شویدے، د هغۀ خوښه ده چه عذاب ورکوی او که بخنه ورته کوی۔ نو مونږ ورسره پدے کارونو بیعت وکړو۔
شوکانیؒ ددے آیت په تفسیر کښې لیکی چه د مکے والو ښځې نبی ﷺ ته د بیعت دپاره راغلې نو الله تعالیٰ هغۀ ته حکم وکړو چه هغه دغه ښځو سره په دے لاندینو خبرو بیعت

اوکړی:

عَلٰى أَنْ لَّا يُشْرِكْنَ: يعنی د الله سره به هيڅوك شريك نۀ جوړوی،

پدے کښې هِنده بنت عُتبه هم راغله چه مخ ئے پټ کړے وو، د نبی کریم ﷺ نه یریدله چه وے نۀ پیژنی ځکه چه دے د اُحُد په ورځ د هغۀ د ترۀ حمزه رضی الله عنه زړه څیری کړے وو۔

کله چه رسول الله ﷺ وفرمایل: شرك به نۀ کوئ۔ نو هغے ووبل: (وَهَلْ اَغْنَتْ عَنَّا شَيْئًا) دے بتانو او باباګانو خو مونږ ته هیڅ فائده رانکړه او زمونږ نه ئے هیڅ تکلیف لرے نکړو۔ (شرك مونږ ته څه فائده راکړه)۔

وَلَا يَسْرِقْنَ: او غلا به نۀ کوئ۔ نو هندے ووبل: ابوسفیان بخیل دے او زۀ د هغۀ د مال نه په پټه د خپل خوراك مطابق مال راخلم۔ نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل:

[خُذِيْ مِنْ مَالِهِ مَا يَكْفِيْكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوْفِ]

د هغۀ د مال نه دومره مال اخله چه ستا او ستا د اولادو کافی کیږی د عرف مطابق۔ دا اخستل به هله جائز وی چه خاوند هیڅ خرچه ښځے ته نۀ ورکوی او د هغوی د خوراك څکاك بندوبست نۀ کوی، (دے ته ظفر بالحق وائی) ددے نه علاوه د خاوند نه غلا کول هم حرام دی۔ (مسلم: ٤٥٧٤)

پدے وخت کښې رسول الله ﷺ وخاندل او هنده ئے وپیژندله ورته ئے ووبل: آیا تۀ هنده ئے؟ هغے ووبل: (عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ) آؤ زۀ هنده یم، خو الله مخکښې ګناهونه معاف کړیدی۔ بیا رسول الله ﷺ وفرمایل:

وَلَا يَزْنِيْنَ: زنا به نۀ کوی۔ نو هندے ووبل: (اَوَ تَزْنِي الْحُرَّةُ)

آیا آزاده (شریفه) ښځه هم چرے زنا کوی؟! یعنی دا تعجب ئے وکړو، وجه دا وه چه په عربو کښې به زنا اکثر وینځو کوله۔

وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ: (اولاد به نۀ وژنی)۔ نو هندے ووبل:

(رَبَّيْنَاهُمْ صِغَارًا وَقَتَلْتُمُوْهُمْ كِبَارًا، فَاَنْتُمْ وَهُمْ اَبْصَرُ)

مونږ خو د هغوی په وړوکوالی تربیت وکړو او تاسو په بدر کښې هغه قتل کړل نو تاسو او هغوی ښه پوهه وئ۔ (مزاحیه خبره ئے وکړه) او په بدر کښې ددے ځوان ځوی حنظله بن ابی سفیان قتل شوے وو۔ پدے کښې عمر رضی الله عنه ولاړ وو هغه په خندا شو۔ (قرطبیؒ)

حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه د وژلو ممانعت، د ماشوم د موجودیدو نه پس، او د ولادت نه

مخکښې کله چه ماشوم د مور په رَحم کښې وي، دواړو حالتونو ته شامل دے۔ انتهىٰ۔
زنانه په نورو قتلونو باندے اکثر قدرت نهٔ لري صرف د خپل اولاد په قتل باندے قادره وي نو ځکه ئے هغه ذکر کړو۔
وَلَا يَأْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ أَيْدِيْهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ: (او خپلو خاوندانو طرفته به د بل چا اولاد نهٔ منسوبٌ کوي)۔ قرآن کريم دے دروغ تړلو ته د هغه بُهتان نوم ورکړے چه هغه ښځه د خپلو دواړو لاسونو او دواړو خپو ترمينځه جوړوي، ځکه چه د هغے خيټه چه په هغے کښې هغه ماشوم باروي د هغے د دواړو لاسونو ترمينځه وي، او هغه شرمګاه د کوم ځاي نه چه ماشوم زيګوي، د هغے د دواړو خپو ترمينځه وي۔
(۱) فراءَ وائي: [كَانَتِ الْمَرْأَةُ تَلْتَقِطُ الْمَوْلُوْدَ فَتَقُوْلُ لِزَوْجِهَا، هٰذَا وَلَدِىْ مِنْكَ]
يوے زنانه به يو ماشوم وموندلو نو بيا به ئے خپل خاوند ته وئيل چه دا زما بچے دے ستا نه۔ نو دا هغه بهتان دے چه د لاسونو او د خپو ترمينځ ئے جوړوي۔ ځکه چه ماشوم په وخت د پيدائش کښې د مور د دواړو لاسونو او خپو ترمينځ پروت وي۔
(۲) يا ددے نه مراد د زنا نه پيدا شوے بچے دے، يعنى زنانه زنا وکړي او د هغے نه چه کوم بچے پيدا کيږي نو د هغے نسبت خپل خاوند ته وکړي چه دا زما د خاوند نه پيدا شويدے۔ نو دا بهتان دے چه ددے د لاسونو او خپو ترمينځ پيدا شويدے ځکه چه بچے په خيټه کښې وي او خيټه د دواړو لاسونو او خپو ترمينځ وي۔ اول قول غوره دے۔ ځکه چه د زنا بچي نسبت کول خاوند ته هغه خو په زنا کښې منع شو۔
(۳) يا ددے بهتان نه مراد په چا باندے د يوے ګناه بدنامه لګول دي چه د ځان نه ئے جوړوي چه هيڅ دليل ورسره نهٔ وي، نو ددے نه تعبير کيږي په (بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ) سره۔ او پدے کښې دروغ، غيبت، چغلي کول، د زنا کنځل کول وغيره ټول داخل دي۔
ظاهر دا ده چه دا کنايه وي د ځان نه جوړولو نه، لکه دا خبره د سړو په باره کښې هم راغلې ده (وَلَا تَأْتُوْنَ بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُوْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَاَرْجُلِكُمْ) تاسو به داسے بهتان نه راتلل نکوئ چه تاسو د ځان نه ايجاد کړے وي او هيڅ حقيقت ئے نهٔ وي۔
وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِىْ مَعْرُوْفٍ: آخري خبره داده چه هغوئ به ستا د امرونو او منع کړو څيزونو نافرماني نهٔ کوي۔ د معروف نه مراد د الله او د رسول طاعت دے، او مخلوق سره احسان کول دي او هر هغه شے چه شريعت په هغے امر کړے وي، او کوم نه ئے چه منع

کړې وي، د هغې نه منع کیدل۔
عطاءٌ وائي : (فِیْ کُلِّ بِرٍّ وَتَقْوىً) په هره نیکۍ او تقویٰ کښې به مخالفت نۀ کوي۔
مقاتلؒ وائي : په معروف کښې دا هم داخلیږي چه په مړو به ژړا نۀ کوي، کپړے به نۀ شیرې کوي، ویښتـه بـه نـۀ خریـوي، ګـریـوانونه به نۀ شوکوي، مخونه به نۀ وهي، او واویلا به نۀ کوي (قتادةؒ، سعید بن المسیبؒ وزید بن اسلمؒ)
فِیْ مَعْرُوْفٍ: لفظ ئې ذکر کړو سره ددے نه چه د رسول الله ﷺ هره خبره معروف وه پدے کښې تنبیـه ده پدے خبره چـه د الله تعالیٰ پـه مخالفت کښې د هیڅ مخلوق طاعت (تابعداري) نشته۔ معروف دلته په بله معنیٰ دے (مَا عُرِفَ فِی الشَّرْعِ حُکْمُهٗ) چه په شریعت کښې د هغې حکم معلوم وي نو پدے کښې ماموراتو او منهیات ټول داخل دي۔
بخاريؒ او مسلمؒ وغیره د ام عطیه رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه مونږ سره رسول الله ﷺ بیعت وکړو نو دا آیت ئې په مونږ ولوستلو (اَنْ لَّا یُشْرِکْنَ) چه مونږ به د الله سره هیڅوک نۀ شریکوو، او مونږه ئې د نیاحت (ژړا) نه منع کړو نو زمونږ نه یوے زنانه لاس راخکلو (یعنی د بیعت نه ئې انکار وکړو) او وے ویل اے د الله رسوله !
(اِنَّ فُلَانَةً اَسْعَدَتْنِیْ وَاَنَا اُرِیْدُ اَنْ اَجْزِیَهَا)
فلانۍ ښځې ما سره په ژړا کښې مدد کړیدے نو زۀ غواړم چه د هغې بدله خلاصه کړم، نو رسول الله ﷺ ورتـه هیڅ ونـۀ وئیـل۔ نـو هغـه لاړه او بیـرتـه راواپس شوه او بیعت ئې وکړو۔
(ددے یـو مطلب دا دے چـه رسول الله ﷺ ورتـه اجازت ورنـکړو، بیا ئې فکر وکړو نو راواپس شوه او بیعت ئې وکړو۔ لـکـه دا د امام بیهقيؒ د عبارت نه معلومیږي، یا ددے مطلب دا دے چـه دا زنانه لاړه د خپلې ملګرے سره ئې په یو مړي باندے په ژړا کښې مدد وکړو بیا راغله او بیعت ئې وکړو، او رسول الله ﷺ ورتـه څـکـه څـه ونۀ وئیل چه دا نوے مسلمانه وه، او همدا مطلب صحیح دے څکه چه په حَسَن روایت د ترمذيؒ کښې دي :
[فَاَبٰی عَلَیَّ فَاَتَیْتُهٗ مِرَارًا فَاَذِنَ لِیْ فِیْ قَضَائِهِنَّ فَلَمْ اَنُحْ بَعْدَ قَضَائِهِنَّ وَلَا عَلٰی غَیْرِهٖ حَتَّی السَّاعَةِ وَلَمْ یَبْقَ مِنَ النِّسْوَةِ امْرَاَةٌ اِلَّا وَقَدْ نَاحَتْ غَیْرِیْ]
هغـه وائي چـه ما ته رسول الله ﷺ انـکار وکـړو نـو زۀ ورتـه بار بار راغلم نو ما ته ئې د هغوی د قرض پـه پوره کولو اجازه راکړه نو ددے نه روستو ما هیڅ کله په هیچا نۀ دي

ژړلی تر نن وخت پورے او زما نه علاوه نورو زنانو ژړا کړیده۔
الترمذی فی تفسیر سورة ٦٠ باب٣ رقم (٣٣٠٧) وحسن اسناده الالبانیؒ)
ام عطیه رضی الله عنها وائی : مونږ کښې ام سلیم او ام العلاء او بنت ابی سبره چه د معاذ بن جبل ﷺ ښځه ده، ددے بیعت وفاداری وکړله۔
بخاری فی تفسیر سورة ٦٠ باب٣، والاحکام باب ٤٩)
فائده ١: قرطبیؒ لیکلی دی چه دلته ئے د منهیاتو ذکر په تفصیل سره وکړو او د معروف تفصیل ئے ونکړو ځکه چه انسانان او خصوصًا زنانو کښې ددے منهیاتو ارتکاب زیات دے په نسبت د ترك د ماموراتو۔
فائده ٢: صاحب د فتح البیان لیکی : په دین اسلام کښې دا دویم بیعت په سنت کښې ثابت دے، او هغه بیعت چه صوفیه او مشائخو او جاهلانو متصوفه ؤ ایجاد کړیدے نو هغه په هیڅ شرعی دلیل سره ثابت نهٔ دے، او نهٔ هغې له هیڅ اعتبار شته بلکه هغه د کتاب او سنت سراسر مخالفت دے لکه دا خبره تا ته واضحه ده۔ (فتح البیان٦١/٧)
فَبَايِعْهُنَّ : دا جواب د (اِذَا جَآءَكَ) دپاره دے۔ یعنی کله چه دا زنانهٔ تا سره پدے خبرو بیعت کوی نو تهٔ ورسره بیعت وکړه، یعنی تهٔ هم ورسره په وعده د ثواب کښې کلك شه ترڅو چه دوئ خپل ځانونه پدے کارونو (طاعتونو) باندے مضبوط ساتی۔
او مبایعه د بیع نه دے، او دے معاهدے (لوظ) ته ئے مبایعه په طریقه د تشبیه سره وئیلے ده، ځکه چه هر یو تن یو شے په بل خرڅ وی، زنانو خپل طاعت خرڅ کړو په اجر د الله تعالیٰ، او الله تعالیٰ اجر ورکړو په مقابله د طاعت کښې۔
ابن الجوزیؒ لیکی چه د بیعت کونکو ټولو زنانو عدد چه شمارلے شویدے نو هغه څلور سوه اوه پنځوس (٤٥٧) ته رسیږی او دے یوے زنانه ته ئے په بیعت کښې لاس نهٔ دے ورکړے بلکه په خبرو سره به ئے پدے آیت باندے بیعت اخستو۔
وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللهَ: یعنی ددے بیعت نه روستو ددے زنانو دپاره د تیرو شوو او د راتلونکو ګناهونو بخنه غواړه۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللهُ
اے ایمان والو! دوستي مۀ کوئ د هغه قوم سره چه غضب کړيدے الله تعالىٰ
عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوْا مِنَ الْآخِرَةِ كَمَا يَئِسَ
په هغوی باندے یقیناً نا امیده دی دوی د آخرت نه لکه څنګه چه نا اُمیده دی
الْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَابِ الْقُبُوْرِ ﴿١٣﴾
کافران د راپورته کیدو د قبرونو والونه۔

تفسیر : اُوس آخر د سورت د اول د سورت سره په مضمون کښې یو ځای کوی لکه دا د قرآن کریم طریقه ده، همغه مضمون بیرته راواپس کوی دے دپاره چه د خلقو په دماغو کښې دا مضمون کلك کړی، نو مومنانو له ئے خبردارے ورکړے چه ستاسو ایمان تاسو نه دا غوښتنه کوی چه تاسو کافران خلق خپل دوستان مۀ جوړوئ چه د هغوئ نه الله د هغوئ د کفر د وجے نه ناراضه دے (په هغوئ باندے ئے غضب کړے دے)۔

بعضِ مفسرینو دا آیت د یهودو سره خاص کړے دے، ځکه چه دلته وئیلے شوی دی چه د الله تعالىٰ غضب په دوئ نازل شوے، او صرف یهود هغه خلق دی چه د قرآن کریم په نورو آیتونو کښې د هغوئ دا صفت بیان شوے دے۔

شوکانیؒ لیکی چه اولنے قول غوره او اولیٰ دے، ځکه چه الله تعالیٰ تمامو کافرانو ته د غضب په حالت کښې وی۔

قَدْ يَئِسُوْا مِنَ الْآخِرَةِ: ددے کافرو قومونو دویم صفت دادے چه دوئ په آخرت باندے د ذرے هومره ایمان نۀ لری، لکه څنګه چه د دوئ نه مخکښې کافرانو په آخرت باندے ایمان نۀ لرلو، ځکه خو د سرکشئ لاره اختیاروی او په زمکه کښې فساد خوروی۔

خلاصه دا چه په چا باندے چه الله غضب کړے وی، او هغوئ د آخرت نه منکر وی، هغوئ سره دوستی کول د مسلمانانو دپاره په هیڅ حال کښې هم جائز نۀ دی، ځکه دوئ به په ظاهره کښې دوستان جوړ شی، او د اسلام او مسلمانانو په خِلاف به ژور سازش کوی، او د دوئ به څومره چه کیدے شی دا کوشش وی چه مسلمانان هم د دوئ پشان کافر او مُلحد شی۔

مِنْ أَصْحَابِ الْقُبُوْرِ : ١- يعنى لكه څنګه چه هغه كافران چه قبرونو ته تلى دى، نو هغوى د سعادت نه نا اميده دى، هيڅكله ئے اصلاح نۀ كيږى اګركه هغوى به اُوس آخرت منى. نو ژوندى كافران د آخرت د منلو نه نا اميده دى، او مشركان مړى په آخرت كښ د سعادت نه نا اميده دى. نو مِنْ اَصْحَابِ الْقُبُوْر بيان دے د (اَلْكُفَّارُ) دپاره.

٢- يا د غَضِبَ اللهُ عَلَيْهِمْ نه مراد يهوديان دى. او قَدْ يَئِسُوْا مِنَ الْآخِرَةِ نه مراد سعادت د آخرت دے، او اَلْكُفَّارُ نه مراد ژوندى كافران مشركان دى،

مِنْ اَصْحَابِ الْقُبُوْر نه مراد مِنْ بَعْثِ اَصْحَابِ الْقُبُوْر دے. (يعنى د راپورته كيدو د قبرونو والو نه)

مطلب دا دے چه مشركان بعث بعد الموت نۀ منى، او يهوديان د آخرت سعادت او نيك بختى نۀ منى، ځكه چه هغوى ته خپل كفر او ګناهونه معلوم دى. ليكن دا تفسير دومره غوره نۀ دے بلكه د واقع خلاف دے، ځكه چه يهوديانو خو ځان ته جنتيان وئيل. وبالله التوفيق.

امتيازات د سورة الممتحنه

١- مسئله د ولاء براء پكښ ذكر ده.
٢- واقعه د حاطب بن ابى بلتعه ﷺ.
٣- د كفارو دوه قسمونه بيان شويدى.
٤- د مهاجرينو زنانو اقسام او د بيعت مسئله پكښ ذكر ده.

ختم شو تفسير د سورة الممتحنه په توفيق د حميد مجيد په ١٣ شعبان ١٤٣٧ هـ موافق (١٩/٥/٢٠١٦). صباح يوم الخميس. پشاور.

او پدے سره اختتام ته ورسيدو يولسم جلد ولله الحمد والمنة .



فهرست تفسير حكمة القرآن جلد (۱۱)

وقت الاخراج: ۱۴۳۸ رجب ۱۹، الموافق: ۲۰۱۷/۴/۱۴ صباح یوم الجمعة

دفتر تمام گشت وبپایان رسید عمر   ماہمچنان دراول وصف تو ماندہ ایم

ارشد سلمان وہاب پرنٹرز لاہور